# شیرشاه سوري



Ketabton.com

## د افغانانو ترمنځ د یووالي هڅونکي

ليکونکې : اسلم راهي ، ایم ، اې

ژباړونکې: قريب الرحمن سعيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ :

ټولو هغو ته چې دخپل خور وور ولس د راغونډولو او د ملي يووالي د ساتلو او په خپلو ولسونو کې دخپلواکې ولسواکۍ د قيام له پاره هلې ځلې کوي ،په ځانګړې توګه د خپل اسلامي انقلاب مشر او دهيواد دا زدۍ د بيرته تر لاسه کولو هغه ويا ړلې لاربنود ته چې دخپل اتل رول او نه ستړيکيدونکو هڅو او هاند له مخې ، تل زمونږ دهيواد او ولس ددښمنانو په سترګو کې اغزي ګرځيدلې ، په ډير درنښت ډالئ کوم.

د زړه په مينه

قريب الرحمن سعيد

نېټه: ۴ /۱۱/ ۱۳۸۹ | 24-01-2011

## د کتاب لنډه پېژندنه:

نوم : شيرشاه سوري د افغانانو تر منځ د يووالي هڅونکې
ليکوال: اسلم راهي ، ايم ، اے
ژباړن: استاد قريب الرحمن سعيد
د خپريدو نېټه: ۱/ ۲/ ۱۳۹۰ | 21-04-2011
انلاين چاري: مختار احمد احسان–Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دليکوال ته څو خبرې:

دا کتاب د شيرشاه سوری په اړه ليکل شوې دې. شيرشاه سوری د نړۍ د هغو ممتازو ، اتلو ، مدبرو عسکري جنرالانو او حکمرانانو څخه دې چې د تاريخ په پاڼو کې ورسره هيڅ وخت د انصافه کار نه دې اخستل شوې. د دې کار تر ټولو ستر علت دا و چې د شيرشاه سوری ځای ناستې د شيرشاه سوری په څير ميړنی ،شجاع او مدبر انسان نه وو او د دې کار حتمي پايلې دا شوې چې د هغه د مړينې وروسته د هغه ټوله کورنۍ او ځواک په لسو کالو کې له منځه ولاړ. بل علت يې دا و چې د شيرشاه سوري څخه وروسته يو ځل بيا مغل د هندوستان په تخت و تاج واکمن شول ، څرنګه چې هغوې د شيرشاه سوری ډير بد دښمنان وو نو په دې اساس يې د شيرشاه سوری په تاريخ کې ګوتې ووهلې او نه يوازې دا چې د شيرشاه سوری تاريخ يې مسخ کړ بلکه د هغه له اړخه جوړ شوي ګڼ شمير يادګارونه يې هم له منځه يوړل...

د شيرشاه سوری د تاريخ په اړه زيات شمير تاريخپوهانو د فارسي ژبو تاريخ ليکونکو څخه په ګټې اخستو سره ليکنې کړې چې په دې ډله کې ( هنري ايليټ بلاک مين ، ډاکټر ډارن ، مسټر بيورج ، اشيوري پرشاد ... او ګڼ شمير نور شامل دي ) خو د دې تاريخونو څخه په سهی توګه هغه وخت ګټه اخستل کيدای شي چې د اټول سره را يوځای او بيا يې ژوره کتنه وشي. خو بيا هم د دې نه مخته د شيرشاه سوری د ناول او داستان په اړه ډيرې کمې ليکنې شوي دي.

ما د شيرشاه سوری په اړه د دې ليکنې نه مخته ډيره ژوره څيړنه وکړه او د هغې وروسته مې دا ناول او په دې ناول کې د هغه تاريخي کرچار را ډاګيزه کړ. ان تر دې چې د دې ناول مرکزي کردار او اتل ( خواص خان ) دې ، او دا لقب هغه ته پخپله د شيرشاه سوری له اړخه ورکړل شوي و نو موړې د شيرشاه سوری د ډيرو باوري ، معتمدو ، مخلصو او اتلو سالارانو څخه و چې په ډيره بد و او خرابو حالاتو کې يې هم د شيرشاه سوری باور د خپله ځانه سره درلود.

په دې ناول کې د شيرشاه سوری د ژوند حالات د هغه د کوچنيوالي څخه ان د هغه تر مړينې پورې را ټول کړل شوی دي او تر څنګ يې د هغه د عسکری سالارانو او قومي مخورو په اړه هم هر اړخيز معلومات شته. شيرشاه سوری ته د هندوستان په حکمرانانو کې ډيره ستره مرتبه ور په برخه شوې ده ځکه هغه لمړنې مسلمان حکمران و چې ډيرې اوږدې لارې او سړکونه يې جوړ کړل او د خلکو او مسافرينو د ارامتيا او سهولتونو له پاره يې د سړکونو او لارو تر څنګ کوهيان وکنل ، تم ځايونه يې جوړ کړل ، خو بدبختانه چې د ابو الفضل په څير تاريخپوهانو د اکبر پادشاه د خوشحالۍ په خاطر د تعصب نه کار اخستې او د شيرشاه سوري په دې ټولو کارونو يې د پردو د را خپرولو هڅې کړې دي.

ما په دې ناول کې هڅه کړې چې د تاريخ د مسخه کيدو پرته د سهسرام د جاګير د ناظم د حيثيت څخه نيولې ان د هندوستان د شهنشاهۍ پورې د شيرشاه سوری د ژوند د حالاتو په اړه ژوره څيړنه وکړم او بيا يې د انصاف سره سم خپلو لوستونکو ته وړاندې کړم.

اسلم راهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمخلوقاتو د پيداکونکي او پالونکي ذات په نامه

۱ –برخه:

دنامالومه وختونو زوړ لمر خپل نُور د تلونکو کاروانونو په څیر د کون ومکان د اسرارونه ډک ، د تیرو د کوم کلي په لور د غروب له پاره را ټیټ کړي و . د افقونو د قافلو شونډې یې تکې سرې کړې وې ، د لمر کوچ کونکو وړانګو نا مالومه منزلونو ته د ټيټيدو سره سم د ټولې سحرا فضا په تیارو کې را نغښتله ، او دغوښتنو لاله زار یې وران ویجاړ او د ژیړو پاڼو په شال کې را نغښتې ونې یې دهغوې د سیورو څخه بې برخې کړې وې. دفضا رڼا خړه پړه شوې وه او د لرې ساحلو څخه یخه هوا را لږیدله.

په همدې وخت کې د کرم ناسته او سون د دریابونو په منځنۍ غرنۍ لړۍ کې د ځنګل څخه دوه کسه د منځنی قدخاوندان په خپلو آسونو سپاره ، په داسې حال کې را څرګند شول چې خپل آسونه یې د جنوب لورې ته ځغلول او هغې اړخ ته ګرځندي روان و . په دوې کې یو سپور عمر تیرې خو بل د نوې عمر او د ښه غړیو خاوند و . دهغه په څیرې کې جوش او خروش لکه په شفق کې د بل شوی اور او په احساساتو کې یې د بریښنا په څیر ټکان د لرې څخه تر سترګو کیده . دهغه په سترګو کې د غوښتنو او ارزوګانو بهیر له ورایه په نښا معلومیده . دخپل اوږود قد و قامت ، د خپل نري او غښتلي جسماني جوړښت اودخپلو مضبوطو غړو له اړخه هغه د جل وهلی دشتی په څیر سخت ځان ، د جنګ د وهل شوی ډول په څیر د جوش او خروش نه ډک ، د تیرو په څیر نه ویریدونکې ، د هنرونود کمال په څیر جرئتمنده ، او دحقایقو د غبار په څیر میړنې ښکاریده .

د جنوب په لور د تللو په وخت کې هغه د زاړه عمر خاوند د کوم څیز په کتلو سره ، خپل ملګرې ته اشاره وکړه او ورته یې وویل چې : صاحب خانه ! زویه ! لږ مخته ته وګوره ، کله چې دغه ځوان چې د صاحب خان په نوم یاد کړل شوی و ، مخته وکتل نو هغه ته دوه ګیدړې تر سترګو شوې. ددې ګیدړو په کتلو سره صاحب خان ډیر زیات خوشحاله شو او بیا یې هغه زوړ ملګری ته وویل:

اې زما پلار جانه ! ته نند اره کوه چې زه دا دواړه ګیدړې څه ډول ښکار کوم. ددې خبرې سره سم صاحب خان خپل آس په ډیره ګړندۍ توګه هغه لورې ته و ځغلاوه ، او د ګیدړو پسې ورغې ، د هغوې لورې ته د آس په ورځغلولو سره ګیدړې وپوهیدې او په تیښته شوې.

په همدې وخت کې صاحب خان د خپلې ملا سره د تړلو غشود بنډل څخه یو غشی را وویست او په اوږې باندې را زوړند کمان کې یې کیښود اوبیا بیا یې ښه و نیوله او کله یې چې غشې ور خوشې کړل نو دواړه ګیدړې را وپرزیدې اوپه زمکه د زخمونو له لاسه رغړیدې را رغړیدې.

ددواړو ګیدړو د ښکار کولو نه وروسته ، دغه ځوان چې صاحب خان یې ورته وایه ، دخپله اسه را کیوت ، ځکه هغه غوښتل چې دواړه ګیدړې را ونیسي، په دې وخت کې هغه زوړ هم را نژدې شوې و ، هغه هم دخپله آسه را کښته شو اودصاحب خان سره یې غاړه ورکړه اوپه ډیره مینه یې دهغه تندې ښکل کړ او بیا یې ورته وویل :

صاحب خانه زویه ! زه ډیر بختور یم چې ستا په څیر یو بهادر او میړنې زوې یې راکړې دې ، ډیر کم خلک به داسې وې چې ستا په څیر یې نښه خطا نه شي. زویه ! تا په څومره ښه توګه دا دواړه ګیدړې ښکار کړې. راځه چې اوس یې ونیسو او بیا بیرته ستانه شو . دواړه پلار او زوې د ښکار شوو ګیدړو لورې ته ور نزدې کیدل چې په همدې وخت کې په ځنګل کې د ننه د یوې ځوانې ښځې ، ښځینه اواز یې تر غوږو شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خان او دهغه پلار د دې ښځينه اواز په اوريدو سره ډير انديښمند شول او د ښکار کړل شو و ګيدړو په لور د تللو په وخت کې يو نا څاپه تم شول ، ځکه په همدې وخت کې دو ې ته يو ځل بيا د هغه ښځې نسوانی اواز تر غوږو شو ، دويم ځل د دې ښځينه اواز او چغو په اوريدو سره د صاحب خان او د هغه د پلار حال نور هم د انديښنو نه ډک شو ، بيا صاحب خان خپل پلار ته مخ کړ او ورته يې وويل:

پلار جانه ! دا سې بريښې چې همد لته نژدې زمونږ تر څنګ په کوم ځای کې کومه نجلۍ په کوم مصيب او غم کې را ګير شوې ده ، يا پرې چا حمله کړې ده او يا يې چا د بې ابرو کولو او بې عصمته کولو هڅه او هاند کړې دې. پلار جانه ! ته همدلته اوسه زه به ولاړ شم او ډاګيزه به کړم چې څه پيښ شوي دي؟ د هغه په دې خبره د صاحب خان پلار چې ملک سکا[1] نوميده ، په ډيره مينه او شفقت سره وويل: ګوره زويه ! زه تا ځانته تللو ته نه پريږدم ، را ځه چې دواړه خپل آسونه هغې لورې ته را وګرځوو د کومې لورې څخه چې دا ښځينه اوازونه را ځي. بيا به ډاګيزه کړو چې څه خبره شوې ده ، د دې خبرې سره سم

«(۱) د تاريخپوهانو له ----------------------------------------------------------------------------------------

مخې صاحب خان د شيرشاه د کورني غلام ، ملک سکا ، زوې و . که څه هم صاحب خان ميراثي غلام و خو د تاريخ پوهانو د وينا په اساس په هغه کې د تاج د په سر کيدو ورتياوې موجودې وې. په هغه کې د يوه ډير ښه سپاهی او د يوه ډير ښه شهزاده ټول صفتونه شته و . ډير مزې ، د ډيرې ښې ځوانۍ خاوند او ښايسته انسان و . تايخپوهان دا هم وايي چې د دې ټولو صفتونو سره صاحب خان د سختو مذهبي فکرونو خاوند او صوفي مزاجه انسان و .»

دواړه په خپلو آسونو باندې کينا ستل او د همغه چيغو او فرياد د ځاې په لور يې خپل آسونه ور ګړندی کړل.

دواړو پلار او زوې خپل آسونه په ډيره ګړندۍ توګه هغه لورې ته ور وستل کله چې هلته ور نژدې شول نو هغوې شپږ سپاره وکتل چې په خپلو آسونو باندې د سپريدو په حال کې دي ، په داسې حال کې چې د هغوې او وم کس لا د مخه په خپل آس سپور شوې و او په خپل مخکې يې يوه نجلۍ په زور را خملولې ده او د هغه سره ډير نژدې په زمکه باندې د پنځه شپږو کسانو جسدونه په وينه کې لت پت پراته و .

کله چې هغو سپرو وکتل چې صاحب خان او د هغه پلار د هغوې په لور را روان دی نو هغوې سمد ستې تم شول او هغه سپور چې نجلۍ يې د خپل ځان سره په اس باندې اچولې وه هغه هم د آسه را کيوت. اوس نو نجلۍ د هغه د لاسو څخه ازاده شوې وه. نجلۍ هم سمد ستی د آسه را ټوپ کړ او په يوه منډه يې ځان د صاحب خان او د هغه د پلار لورې ته ورساوه ،

نجلۍ ته په کتلو سره د صاحب خان پلار ملک سکا په ډيرې انديښنې او حيرانتيا سره خپل زوې ته مخ کړ او ورته يې وويلې:

صاحب خانه زويه ! ته دې نجلۍ ته په غور سره وګوره ، دا خو ماته د رهتاس د راجه هرکشن لور شهزادګۍ ګنګا ښکاريږی. دا چې دې سپرو هغه د کومه ځايه را پورته کړې معلومه نه ده ، خو دغه جسدونه چې د دوې تر څنګ پراته دي نو دا را ته د د ې شهزادګۍ ګنګا د ساتونکو ښکاريږی. ملک سکا تر دې ځايه خبره وکړه او بيا لږ څه غلې شو ځکه چې شهزادګۍ ګنګا په منډو منډو ځان دوې ته را نژدې کړې و . د را رسيدو سره سم هغې د صاحب خان د آس واګې و نيولې او ورته يې وويل:

صاحب خانه ! د بګوان په خاطر چې ما د دې بد قماشو او بد اخلاقو نه خوندی کړه ، دوې ما بې وسه کوی او زما د عصمت او عزت د لوټولو پسې دي.

صاحب خان او ملک سکا دواړو په يوه ځل خپلې تورې د تيکو څخه را وويستلې ، خپل ډالونه يې کلک کړل ، بيا صاحب خان تر څنګ ولاړې شهزادګۍ ګنګا ته وويل: ګنګا ته يوې لورې ته ودريږه اوس به زما په شتون کې تا ته هيڅ څوک ضرر و نه شي رسولې ، او نه به تا را څخه د دې ځايه بلې لورې ته يوسي ، شهزادګۍ ګنګا د صاحب خان خبره و منله او يوې لورې ته و دريد له.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ څه مخته د شهزاګۍ حالت دغمونو او دردونو نه ډک او په بدحالۍ کې و خو د صاحب خان او د هغه د پلار د راتلو وروسته هغه یو دم و غوړیده او بیرته پرې تازه والي او خوشحالۍ را و ګرځیدې. تر دې وخته پورې د هغو سپرو څخه یوه یې چې لږ څه تر مخه یې شهزادګۍ په زروه په آس وراچولې وه د خپلې تورې او ډال په خوزولو سره د صاحب خان او د هغه د پلار لورې ته راغې او په جګ اواز سره یې دوی ته وویل: تاسې څوک یاستئ او د کومه راغلي یاست؟ تاسې خو مسلمان معلومیږئ نو بیا ولې یوه هندوه نجلۍ زمونږ د لاسو څخه ازادوئ، مونږ ته دا څرګنده نه وه چې هغه د کوم راجا لور او شهزادګۍ ده. مونږ ته خو ستاسې د خولې څخه را برسیره شوه چې دا د رهتاس د راجه چندرمل لور شهزادګۍ ګنګا ده. اوس خو به مونږ په صورت چې کیدې شي هغه له ځانه سره وړو، که څه هم مونږ ته په دې لاره کې ستاسې په لاشونو تیریدو ته اړشو.

کله چې هغه غلې شو نو صاحب خان ورته په ځواب کې وویل:

ګوره بداخلاقه! نجلۍ چې د هر قوم او هر مذهب وی د هغې عزت، عصمت او ابرو د عزت او د رنښت وړ دې. او په هرصورت به د هغې عزت او عصمت خوندی ساتل کیږی. ګوره! که چیرې تا په رښتیا سره هم د خپلو ملګرو سره یو ځاې د شهزادګۍ ګنګا د وړلو او تښتولو هوډ کړې وي نو بیا خو د هغې لورې ته، که رښتیا هم نارینه یاست، ورشئ او لاس ور وړئ نو بیا به ووینئ چې څه کیږي.

د هغې د دې ګواښ نه وروسته هغه وګړې مخته ورغې او ویې ویل چې زه یې همدا اوس د لاسه نیسم او ګورم چې ته به زما څه وکړې؟

د هغه په دې حرکت باندې د صاحب خان رنګ د غصې او قهر نه د اور په څیر تک سور شو په داسې حال کې چې په لږ واټن کې ولاړه شهزادګۍ ګنګا د ویرې او خوف نه په لړزه کې وه.

هغه وګړې څو قدمه را مخته شو او غوښتل یې چې شهزادګۍ ګنګا د لاسه ونیسي چې صاحب خان د برق په څیر پرې را غبرګ شو او د خپلې تورې په یوه وار سره یې د هغه څټ له تنه ور پرې کړ. صاحب خان د دې ګذار وروسته تم نه شو بلکه سمدستي یې د خپلو کالیو څخه یو بل خنجر را وویست او د هغه یو بل ملګري یې هم زمکې ته را خملاوه، د هغه زړه یې د خپل خنجر په واسطه دوه ټوټې کړې و. په دې توګه صاحب خان په یوه ځل دوه کسه د زمکې تل ته ورسول، خو هلته پنځه نور لا پاته و. دوې پنځه واړو صاحب خان او د هغه پلار ملک سکا را محاصره کړل، په دې وخت شهزادګۍ ګنګا یو ځل بیا په اندیښنو او غمونو کې ډوبه شوه او د خپله ځایه نوره هم شاته ولاړه.

بیا هغوې پنځه واړو په یوه ځاې او یوه وار د دې پلار او زوې پر خلاف حمله پیل کړه، صاحب خان د هغوې د رې کسان په خپله مخه کې تم کړل په داسې حال کې چې پلار یې د نورو پاته دوو کسانو سره لاس و ګریوان شو. تر ډیره وخته پورې د دوې تر منځ پوره جنګ روان و، په دې وخت کې صاحب خان د هغوې د رې کسانو څخه یو له منځه یوړ او د نورو دواړو سره په مقابله کې و نښت، خو هغه د جنګ په دوران کې وکتل چې د هغه پلار چې د دو کسانو سره په مقابله کې دې د یوه په توره باندې زخمي شوې دې او د مقابلې توان یې له لاسه ورکړې دې. د دې دوو کسانو څخه یوه غوښتل د موقع نه ګټه پورته کړې او د شا له لورې په ملک سکا باندې حمله وکړی خو کله چې د صاحب خان سترګې هغې لورې ته و نښتې نو سمدستي یې پرې حمله وکړه او د هغه څټ یې هم له تنې پرې کړ. خو په دې وخت کې هغه پاته یوه کس په ملک سکا باندې داسې مرګونی ګذار وکړ چې ملک سکا یې تاب را نه وړ او له منځه ولاړ.

اوس نو صاحب خان د درې نورو توره وهونکو د مقابلې له پاره په ډګر کې یواځې ولاړ و. هغه د خپل پلار په مړینه باندې د ډیر بدحال سره مخ شوې و، بیا د همدې غصې، قهر او غضب په وخت کې صاحب خان مخته ورغې او په یوه ځل یې د هغوې درې واړه سره مقابله پیل کړه. تر ډیره وخته پورې صاحب خان د هغوې په مقابل کې په پوره میړانې سره و درید ان تر دې چې د هغې توره په یوه باندې را خلاصه شوه او هغه یې هم د زمکې تل ته ورساوه. اوس نو هلته د مقابلې له پاره یواځې دوه کسان هلته پاته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغوي د يو بل ملګري د له منځه تللو سره سم دهغوي پاته دوه نور ملګري ډير اند يښمن شول ، اوس نو دصاحب خان حوصله دپخوا په نسبت ډيره کلکه او هوډمنه وه ، په دې اساس يې د پخوا په نسبت خپله حمله نوره هم تيزه کړه . يو ځل هغه دهغوي دواړو توري په خپل ډال باندې تم کړې او بيا يې د سترګو په رپ کې خپله توره په يوه باندې را خلاصه کړه او هغه يې هم له منځه يوړ . اوس نو په مقابلې کې يواځې يو کس پاته شوې و ، خو هغه د تيښتې هڅه وکړه اما صاحب خان هغه تيښتې ته پرې نه ښود ، پر هغه يې هم د شا له اړخه حمله وکړه او دوه ځايه يې کړ .

د صاحب خان ددې کړچار په اساس هلته نژدې ولاړې شهزادګۍ ګنګا ډيره زياته خوشحاله وه ، دهغې په مخ کې لکه د ګلونو د پرپر کيو په څير خوشحاليو رقص اونڅا کوله . هغه مخته راغله او دصاحب خان تر څنګ و دريده ، او په خپل نرم او زړه وړونکې اواز سره يې ورته وويل :

صاحب خانه ! ددې بداخلاقو دلاسو څخه دې زما عزت او عصمت خوندی کړ اوبيا دې هغوي ټول له منځه يوړل ، نو په دې ترتيب دې پر ما ډير زيات احسان وکړ . که چيرې زه د ټولې نړۍ شتمنی هم ستا په لمن کې ور واچوم نو بيا به هم ستا ددې احسان بدله پوره نه کړاې شم . صاحب خانه ! تا يواځې زما ځان نه بلکه زما پت ، ابرو او عزت دې هم خوندې کړ. ګوره صاحب خانه ! که چيرې په ژوند کې داسې کوم وخت او فرصت په لاس راشي نو زه به ستا ددې احسان بدله ضرور درکړم.

صاحب خان د شهزادګۍ ګنګا ددې خبرو هيڅ ځواب ورنکړ . د خپل آس په لور ورغې ، هلته يې د زين سره تړلې تبر را پرانست ، زمکه يې پرې و کنله ، د زمکې په کنلو کې ورسره شهزادګۍ ګنګا هم مرسته وکړه ، کله چې زمکه په مناسبه توګه و کنل شوه نو بيا يې د خپل پلار جسد را واخست او په هغې کنل شوې ځاې کې کيښود او همدلته يې خپل شهيد پلار دفن کړ . بيا هغه خپل آس ته راغې او دخپل پلار د آس واګې يې دهغې د زين سره و تړلې اوبيا يې غوښتل په خپل آس کينې خو تم شو او د شهزاګۍ ګنګا په لور يې و کتل او ورڅخه يې و پوښتل :

ګوره ګنګا ! ته څنګه ددې بد اخلاقو خلکو لاسو ته ورغلی ؟ اوس چيرته غواړې ولاړه شې ؟ شهزادګۍ ګنګا ورته په ځواب کې وويل : ګو ره صاحب خانه ! ددې ځايه څو ميله اخوا زما پلار د څو عسکرې ډلګيو سره پړاو کړې دې . په اصل کې مونږ دغه ځاې ته د ښکار له پاره راغلي و . زما پلار همدلته په پړاو کې پاته شوې خو زه د څو کسو ساتونکو سره يو ځاې د ښکار له پاره را ووتلم ، دلته يوه ځنګلي اوزه زمونږ تر سترګو شوه ، ما خپل آس دهغې پسې ور و ځغلاوه ، زما ساتونکې هم له ما سره وو ، زه ددې غرنۍ اوزې پسې ډيره زياته ولاړم ، زما ساتونکې اوزما سره زما نور ملګرې او « زما خدمتګاره مور» ټول زما تر شا ، زما څخه لرې پاته شول. دغه ساتونکې چې دلته له منځه ولاړل زه ددوې سره يو ځاې ددې اوزې د ښکا ر له پاره راغلې و م ، په همدې ځاې کې دې بداخلاقو او بد معاشانو پر مونږ باندې حمله وکړه چې دهمدې حملې په جريان کې تا سې هم را ورسيدئ ، زه ستا د راتلو په اساس د بې عزتۍ او بې عصمتۍ نه خوندی پاته شوم . اوس ته پر ما باندې يو بل احسان هم وکړه چې ما د خپل پلار د پړاو پورې ور ورسوه ، دهغې په دې خبره صاحب خان په خپل اس سپور شو او ورته يې وويل چې : را ځه ، زما سره يو ځاې راځه . شهزادګۍ ګنګا هم سمد ستې حرکت وکړ او په خپل اس سپره شوه او د صاحب خان سره يو ځاې روانه شوه .

هغوې دواړو خپل آسونه په منځنۍ توګه ځغلول ، لا تر اوسه پورې لږ مخته تللي و چې له يوه اړخه څه مسلمان ځوانان او يوه نجلۍ دهغه ځايه را ښکاره شول . دهغوې په کتلو سره شهزادګۍ ګنګا صاحب خان ته وويل چې دا هغه ساتونکې دی چې د همدې غرنۍ اوزې (غرڅه ) د ښکار په وخت کې زما تر شا پاته شوې وو . ددوې سره چې کومه نجلۍ ده هغه زما ذاتی وينځه (داسې اوما ) ده . دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خبره باندې صاحب خان په خندا سره د اوما په لور وکتل او ويې ويل: ګوره شهزاګۍ ګنګا ! تاته دا وما سره زما د ورپيژندلو اړتيا نه شته ، زه هغه ډېره ښه پيژنم. دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا د صاحب خان په لور وکتل او ورڅخه يې وپوښتل:

صاحب خانه ! ته هغه څنګه او څه ډول پيژنې ؟ په همدې وخت کې د ګنګا وينځه اوما نژدې را ورسيده ، او ويې ويل:

زه به ووايم چې صاحب خان څه ډول او دکومه وخته راهيسې ما پيژني. ګوره شهزادګۍ ! کله به چې دګيدړو د پوستکو د پلورلو له پاره صاحب خان د رهتاس ښار ته راته او ستا پلار جان ته به يې پوستکې ورکول او بيا به يې هملته د رهتاس په ښار کې قيام کاوه ، نو ډير وخت داسې کيدل چې ستا پلار به دهغه د راغوښتلو له پاره زه هلته ور استولم. کله به چې هم صاحب خان رهتاس ښار ته راغې نو ده به هلته په يوه سراې کې قيام کاوه ، او ما به دهغه سراې څخه دې ستا پلار ته را وست. نو په دې اساس زه صاحب خان د ډيره وخته راهيسې پيژنم. د اوما د ځواب د اوريدو سره شهزادګۍ ډاډمنه شوه. صاحب خان لږ څه مخته ولاړ او څه فکر يې وکړ او بيا يې په ډيره عجيبه توګه شهزادګۍ ګنګا ته وکتل او ورته يې وويل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! که چيرې ته يې بده و نه ګڼې نو زه غواړم يوه خبره درته وکړم. دهغه په دې خبره شهزادګۍ په ډير غور سره ورته وکتل او بيا يې ورته وويل: څه ويل غواړې ؟ هر څه چې وايې وې وايه. صاحب خان په ډيره نرمه ژبه ورته وويل:

ګوره شهزادګۍ ! زه ويريږم چې هسې نه چې زما د ژوند غمناکه قصه ، زما دغه د غربت او از ستا د قصر د ديوالونو سره ټکر نه شي او د جدايي د بل کړې او ر په څير د سوځيدو بڼه اختيار نه کړي. خو هغه خبره چې زه يې درته د هر لالچ نه پرته کوم دهغې په کولو سره لږ څه ويره احساسوم. دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا دهغه حوصله ورکلکه کړه او ورته يې وويل چې ويريږه مه ، هر څه چې دې په زړه کې دې هغه ووايه. زه پرې نه خفه کيږم. د شهزادګۍ په دې خبره د صاحب خان حوصله ډيره شوه خو ورته يې وويل چې غواړم دا خبره درته په ځانته ځاې کې وکړم. شهزادګۍ ګنګا ورته په تيزو سترګو سره وکتل او بيا يې ترې و پوښتل چې ايا ته غواړې زما د اوما څخه يې هم پټه کړې ؟ صاحب خان ورته وويل چې نه ! اوما کولې شې دا خبرې واورې ، ځکه چې زه پر هغې پوره باور او اعتماد لرم. دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا خپلو ساتونکو ته وويل چې: تاسې همدلته تم شئ زه د صاحب خان خبره اورم او وينم چې هغه څه وايي. په دې خبره يې خپل آس را تاو کړ او بيا يې صاحب خان ته مخ کړ او ورته يې وويلې: صاحب خانه اوس وايه ، ته ما ته څه وايې ؟ صاحب خان ورته وويل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ما دا ويل غوښتل چې تا ته ډاګيزه کړم چې زه د ډيره وخته راهيسې له تا سره مينه او محبت کوم او غواړم له تا سره واده وکړم. د صاحب خان د دې خبرو په واسطه د شهزادګۍ په سترګو او مخ کې د غضب او قهر نښې را څرګندې شوې او د سور اور په څير تکه سره و ګرزيده ، بيا يې حرکت وکړ او خپل ښې لاس يې پورته کړ او په پوره قوت سره يې د صاحب خان مخ ته راخلاص کړ او يوه کلکه څپيړه يې په مخ ور واهه. او بيا يې په خپل همدې قهرجن او از کې وويل:

تا څنګه جرئت کړې چې زما سره د مينې اومحبت اظهار وکړې او يا دې زما سره د واده کولو فکر څنګه په مغزو کې را ګرځيدلې. تا څنګه جسارت وکړ چې ووايې چې زه ستا د وصال غوښتونکې يم. تا خپل حيثيت ته کتلې دي. ته د سپې په پيالۍ کې د اوبو څښونکې يو ککړ او ناولې انسان يې.

صاحب خانه ! هغه څه چې تا وويل ، نو تا دهغې د ويلو نه مخته بايد سل ځله فکر کړې وې چې زه د رهتاس د راجه هرکشن شهزادګۍ يم ، په داسې حال کې چې ته يو معمولي انسان يې. ته د کوچيانو د يوې قبيلې څخه يې ، او بيا دهمدې کوچې قبيلې د سردار غلام يې ، تر څنګ يې په ځنګل کې ګيدړې را نيسي او بيا دهغې پوستکې پلورې او خپل ژوند پرې تيروې. ستا پلار هم همدا کار کاوه ، تاسو په خپلو اوږو باندې پوستکي باروئ او بيا د رهتاس په ښار کې يې پلورئ ، دا چې زما پلار تاته اهميت درکوي هغه په دې خاطر چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له تاسې څخه پوستکې پيري ، ددې اخوا ستا زما سره او يا زما دپلار سره نور څه اړيکې شته ؟ که په راتلونکې کې دې په دې موضوع له ما رسره دداسې کومې خبرې کولو جرئت وکړ نو ياد ساته چې زه به خپلو ساتونکې ته حکم وکړم چې ستا څټ در پرې کړي. اوس نو ددې ځايه ورک شه . نه زه ستا ملګرتوب غواړم او نه ستا شکل کتل . ددې خبرو سره سم شهزادګۍ ګنګا خپل آس را وګرځاوه او دهغه ځايه ولاړه.

کله چې شهزادګۍ ګنګا دهغه ځايه څو قدمه مخته ولاړه نو اوما په ډېر ه پټه توګه صاحب خان ته وويل چې: ګوره صاحب خانه ! زما وروره ! تا ماته خور ويلې دی. او د يوې خور په څير زما احترام او درنښت کوی . که څه هم زه د رهتاس په محل کې وينځه او خدمتګاره يم خوبيا به هم ستا داورېې سره اوږه يو ځاې کوم او ستا له پاره به کار کوم . زه پوهيږم چې ته د ډيره وخته راهيسې شهزادګۍ ګنګا سره مينه کوې نو که بګوان وغواړي داسې يو وخت به راشي چې همدا ګنګا به ستا په پښو کې ولويږي ، صاحب خان ورته وويلې:

زما خورې اوما ! هسې ته يې واوره چې هغه وخت لرې نه دې، زه وړاند وينه کوم چې ډير ژر به هغه وخت راشي چې هغه الفاظ چې شهزادګۍ ګنګا زما پر خلاف وويل زه به هم همداسې الفاظ دهغې پر خلاف دهغې تر مخه ووايم . او کله چې هغه زما پښو ته را وغورزی نو ديوې سپۍ په څير به يې په لغته ووهم ، هغه وخت به ددې حال بيا د کتلو وی. دهغه په دې خبره اوما په ځواب کې وويل: واوره صاحب خانه !زما وروره ! زه اوس در څخه ځم ، هسې نه چې شهزادګۍ پر ما هم شک وکړي، اوس به زه دهغې په ټول کړچار باندې څارنه کوم او دهغې د هر حرکت څخه به د خپل ورور په واسطه تا خبروم. ته مه غمژن کيږه . ددې خبرې سره سم اوما دهغه ځايه ولاړه ، صاحب خان هم په خپل آس باندې پښه واړوله او دهغه ځايه د تللو په حال کې و چې شل پنځه ويشت وسله وال راغلل او صاحب خان ، اوما ، شهزادګۍ ګنګا او دهغوې ساتونکې يې ټول محاصره کړل . ددې حال په کتلو سره صاحب خان هم د اوما تر شا شا د شهزادګۍ ګنګا څنګ ته را نژدې شو ، بيا يې هغه محاصره کونکو وسله والو ځوانانو څخه و پوښتل: چې تاسې څوک ياست او څه غواړئ؟

دهغه په دې خبره د محاصره کونکو څخه يې يو کس وويل: ګوره صاحب خانه ! تا په ځنګل کې زمونږ څو کسه ملګری وژلي دی. ته خو پوهيږې چې د قتل سزا قتل دې . خوهغوې هم يو جرم کړي و نو په دې خاطر مونږ پر تاسې باندې حمله نه کوو. مونږ تاسې نيسو او دخپل اقا شيرشاه سورې دربار ته مو وړو . هغه هلته په جنوب کې له دې ځايه درې ميله لرې د خپلو عسکرو سره پړاو کړې دې. دهغوې په دې خبره صاحب خان وويل چې: دغه مخته په سپينو کاليو کې ملبسه نجلۍ د رهتاس د راجه چندر مل شهزادګۍ ده ، دهغې سره يې ساتونکې او خدمتګاره اوما هم ده. زه به په دې شرط له تاسې سره ځم چې تاسې هغوې ته د خپل منزل په لور د تللو اجازه ورکړئ ، بيا به زه له تاسې سره چيرې چې وغواړئ ولاړ شم. دهغه په دې خبره همغه کس يو ځل بيا وويل چې سهی ده چې هغوې خپل منزل ته تللې شي يواځې ته له مونږه سره ولاړ شه . دهغه ددې خبرې سره سم صاحب خان چپ چاپ دهغوې سره روان شو ، په داسې حال کې چې شهزادګۍ ګنګا د خپلې خدمتګارې او ساتونکو سره يو ځاې دهغه ځايه خپل منزل په لور ولاړه.

۲

دلږ څه واټن وهلو وروسته شهزادګۍ ګنګا هغه ځای ته ورسيده چې دهغې پلا ر راجه هرکشن په کې دخپلو ساتونکو ډلو سره يو ځاې پړاو کړې و. هرکشن د خپل پړاو څخه را ووت او دخپلې لور ښه راغلاست يې وکړ. اوپه ډيره انديښنه يې تر ې و پوښتل:

زما لور جانې ! زما د سترګو تورې ! ته چيرې تللې وې ؟ ما خو څو کسه ساتونکې ستاسې د لټون له پاره در استولی و ، ما ته ډيره انديښنه را پيدا شوې وه ، دهغه په دې خبره ګنګا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دخپلو ساتونکو سره د ښکار له پاره ډيره لرې تللې وم او دا زما ډيره ستره بې عقلي او لويه غلطي وه. ددې وروسته ګنګا خپل پلار ته ټوله هغه قصه وويله چې پرې تيره شوې وه . او ورته يې ډاګيزه کړه چې څنګه او څه ډول په ځنګل کې يو شمير بداخلاقه او بد معاشو خلکو پرې حمله وکړه او بيا صاحب خان را پيدا شو او دهغې ځان ، عزت او ابرو يې خوندي وساتله ، اوبيا يې دخپل هغه سلوک څخه هم خبر کړ چې د صاحب خان سره يې کړې و ، او ټوله خبره يې ورته په ډير تفصيل سره ټکي په ټکي وکړه.

دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا د خبرو د اويدو وروسته راجه هرکشن ډير غمژن معلوميده ، لږ څه فکر يې وکړ او بيا يې خپلې لور ته وويل :

ګنګا لورې !تا د صاحب خان سره ښه رويه نه ده کړې . که چيرې هغه له تا سره د محبت او مينې څرګندونه کړې ده نو دهغه خو دا مطلب نه شو چې هغه کومه بده خبره کړې ده . هر چا ته دبل سره د خپلې مينې او محبت د څرګندولو حق ور په برخه دې. بې له شکه چې صاحب خان د کوچيانو د قبيلې ديوه سردار غلام دې ، دهمغه په خاطر ګيدړې ښکار کوې اوبيا يې پوستکي باسې او په ځاې ځاې کې يې پلورې. ما ورسره هم دهمدې پوستکو په راکړې ورکړې کې پيژندګلوې پيدا کړې ده . ځکه چې زه دهغه څخه ددې پوستکو ستر پيرونکې يم . ددې ټولو خبرو سره سره بيا هم هغه يو ډير ميړنې ، زړه ور او بهادر ځوان دې نو په دې اساس دداسې چا څخه نفرت او کرکه کول نه شی کيداې . لورې !ته پوهيږې چې زه تل دهغه ډير زيات درنښت او عزت کوم.اودهغه سره دخپلو زامنو په څير سلوک کوم ، تا دهغه سره په داسې سلوک کولو هغه توهين او ذليله کړې دې ، تر ټولو ستر ظلم داشوې دې چې هغه ستا عزت ، عصمت او ابرو خوندي کړه او ته يې دهغو بداخلاقو څخه وژغورلې اوپه پايلو کې يې هغه د شيرشاه سورې ساتونکو له ځانه سره يو ړ.او تا دهغه هيڅ مرسته و نه کړاې شوه . په دې وخت کې ته بايد را مخته شوې واې اوهغو خلکو ته به دې ويلې واې چې دې انسان زما عزت ، ابرو او عصمت خوندې ساتلې دې نو تاسې به يې ولې نيسئ . خو ستا دخبرو نه څرګنديږې چې تا يوه خبره هم نه ده کړې اوهغه دې د شيرشاه سورې خلکو ته ورحواله کړ او ته ترې دې لورې ته راستنه شوې. په هر حال ته ارام وکړه ، زه به يې څه چاره وکړم.

ددې خبرو سره سم راجه هرکشن خپل څو ساتونکې را وبلل ، ساتونکې په يوه منډه راغلل ، هرکشن ورته وويل: په آسونو سپاره شئ اوهمدا اوس د صاحب خان د کوچی قبيلی په لورولاړ شئ ، هغوې همدلته نژدې په شرقی سيمو کې پراته دې ، ددې قبيلی سردار ته وواياست چې دهغې غلام صاحب خان د شيرشاه سوری خلکو نيولې دې نو دهغې د مرستې له پاره ورشئ . اوس نو تاسو سمدستی ورځئ او وخت مه ضايع کوئ . ددې خبرې سره سم هغه ساتونکو حرکت وکړ په خپل آس سپاره شول اوهغو ته يی کمچينه ورکړه . په داسې حال کې چې راجه چندرمل دخپلې لور شهزادګۍ سره د خبرو له پاره بيرته خيمی ته ورستون شو .

۳

څه وخت چې د شيرشاه سورې وسله والو ځوانانو صاحب خان له ځانه سره وړ نو صاحب خان خپل آس د يوه عمرتيرې وګړې تر څنګ رانژدې کړ ، داسې معلوميده چې دا وګړې به دددې وسله والو ځوانانو سالاروې. هغه ته په را نزدې کيدو سره صاحب خان وويل:

زما مشره ! زه نه پوهيږم چې تاسې ما په کوم جرم په ګناه د شيرشاه دربار ته بوځئ ، او دا چې ما ته به هغه ددې نامعلومه جرم په اړه څه ډول سزا راکوی ، ماته څرګنده نه ده . خو زما د ډاډ او تسلی په خاطر ته ماته د شيرشاه او دهغه د پلرونو او نيکونو په اړه لږ څه معلومات را کړه . تر څو زه فکر وکړم چې هغه کار چې ما کړې دې دهغه له پاره به شيرشاه زما سره انصاف او عدل وکړی او که نه.

دشيرشاه دغه زوړ عسکر د صاحب خان په لور په ډير غور سره وکتل اوبيا يې ورته وويل:

ګوره دوسته ! زه به ستا دا غوښتنه ومنم او تا ته به د شيرشاه د ژوند دحالاتو په اړه ټوله قصه واوروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوره ! په پخوا وختو کې سلطان بهلول لودي د جونپور د حکمران سره په پرلپسې کشمکشونو کې اخته و په دې اساس هغه د سلیمان دغرونو او سیدونکي افغانان په خپل فوځ کې استخدام کړل او بیا یې دهغوې ډیرې خلک دې لورې ته را واستول ، تر څو دلته د او سیدونکو افغانانو د نورو نسلونو سره ښې اړیکې جوړې کړي. په همدې خلکو کې د سور د قبیلې یو وګړې ابراهیم خان هم موجود و.

دا ابراهیم خان په خپله یو عسکر و خو د خپلو سترو خدمتونو او میړانو په اساس په پرلپسې توګه په انعامونو او سترو رتبو باندې نازول کیده . ددې ابراهیم خان درې زامن و چې د یوه نوم یې حسن و . دې حسن ځلور ودونه کړې و .دهغه لمړۍ ښځه افغانه او اخرى ښځه یې هندوه وه ، دافغانې ښځې څخه حسن دوه زامن درلودل چې د یوه نوم فرید خان او د بل نوم نظام خان و. همدا فرید خان بیا شیرشاه سوری وګرزید. تر څنګ یې دهغې هندوې ښځې څخه هم حسن خان دوه زامن درلودل چې د یوه نوم یې سلیمان او دبل احمد و . حسن خان د دویمې او دریمې ښځې څخه هم څو بچیان درلودل چې په هغې ډله کې علي ، یوسف ، خرم او شادی خان هم شامل دي. خو ددې څلورو واړو څخه یې یو هم د یادونې وړ نه دی.

د حسن خان دغه هندوه ښځه په حقیقت کې یوه وینځه وه او څنګه یې چې غوښتل نو همغسې به یې خپله خبره سرته رسوله. د حسن خان تر ټولو مشر زوې فرید خان به ۱۴۸۸ ز کال هوشیار پور ته نزدې په باجوړه نومې ځآې کې پیدا شوې و .

د فرید خان یعنې دشیرشاه نیکه ابراهیم خان لمړی پنجاب او بیا بنور ته ولیږل شو . په هغه وخت کې په دې سیمه دجمال خان په نامه یو سړې حاکم و. هغه ابراهیم ته د هغه د خدمتونو او میړانو په ویاړ د بنور جاګیر ورکړ. ابراهیم بیا په همدې ځاې کی وفات شو. د سکندر لودي په زمانه کې حسن خان جونپور ته بدل کړل شو ، په هغه وخت کې سکندر لودي خپل باغی ورور باربک ته چې هلته په جونپور کې حاکم و ماتې ورکړه . اوس نو سکندر لودی ته هلته داسې یو وګړې په کار و چې په پوره دیانت سره د باربک څارنه وکړاې شي. په دې خاطر هغه جمال خان د پنجاب په ځاې د جونپور والی و ټاکه. د پنجاب نه د جمال خان د بدلید و وروسته هلته حسن خان و ټاکل شو ، او هغه ته یې د سهسرام ، حاجې پور ، خواص پور او ټانډا سیمو مسؤلیت هم ور وسپاره ، تر څنګ یې هغه ته ستر اعلی منصب هم ورکړ.

د جاګیر د اخستلو وروسته حسن خان د خپلې لمړۍ ښځې اودهغې د دوو زامنو هر یو فرید خان او نظام خان څخه بلکل غافله شو ، ځکه دهغې کم عمره ځوانې اوښایسته هندوې ښځې حسن خان په پوره توګه په خپل موټې کې نیولې و .

په دې سره دحسن خان اړیکې د نورو اولادونو سره د مور میرې په خیر وګرزیدل. ځکه دهغې هندوې ښځې فرید خان دخپلو دوو زامنو سلیمان او احمد خان بدترین دښمن ګاڼه. د میرنۍ مور او دپلار د سخت اوبد سلوک نه په تنګیدو سره فرید خان د سهسرام نه رخصت واخست او په جونپور کې یې د جمال خان څنګ ته پناه یوړه.

دکوره د تیښتې وروسته فرید خان د ډیرو سترو سترو ستونزو او محرومیتونو سره مخ شو. خو خپله حوصله یې له لاسه ور نکړه. هلته په جونپور کې ورته جمال خان پناه ورکړه خو هغه به ورته تل نصیحت کاوه چی بیرته د خپل پلار په لور ور ستون شي. خو فرید خان د بیرته تللو څخه انکار کاوه او غوښتل یې همدلته په جونپور کې خپل تعلیم ته دوام ورکړي.

د فرید خان د کور نه د تللو وروسته ، حسن خان د خپلو خپلوانو او دوستانو له خوا ډیر زیات بې ننګه شو . ټولو به ننګ ورکاوه چې هغه د یوې معمولې وینځې هندوې ښځې د اغیز لاندې راغې او خپل اولادی یې لاسه ورکړ.

حسن خان هم په خپل دغه ګړچار باندې ډیر پښیمانه شوې و ، په همدې خاطر یې د جونپور والی جمال خان ته پیغام ولیږه چې په هغې کې یې ترې نه غوښتنه کړې وه چې فرید بیرته سهسرام ته را ولیږی اوکه نه دلته به یې تعلیم او تعلم نیمګړې پاته شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې جمال خان د حسن خان لیک فرید خان ته و ښود نو فرید خان کورته د بیرته ستیندو څخه انکار وکړ او ورته یې وویل چې دلته په جونپور کې دغه د تعلیم لړۍ د سهسرام نه په ښه توګه مخته روانه ده. همغه و چې فرید خان هملته په جونپور کې د عربي، فارسي، او اسلامی علومو تعلیمات تر لاسه کړل او د خپلو ذهني وړتیاو په اساس ډیر مخته ولاړ.

دغه زوړ عسکر تر دې ځایه د ځرګندونو وروسته لږ څه ساه واخسته، بیا یې تر لږه وخته پورې صاحب خان ته کتل او بیرته یې د خپلو خبرو لړۍ جاري و ساتله او ویې ویل:

و اوره زما دوسته! نه یوازې دا چې د فرید خان ډیر وخت د مذهبی علماو سره په بحثونو او خبرو کې تیر شوې بلکه په همغه وخت کې هغه د حرب د فن په لورې هم خاصه توجه کړې وه. د جونپور ادبي، علمی، او اسلامی ماحول د فرید خان په راتلونکې ژوند باندې پوره پوره اغیز کړې و.

په دغه وخت کې جونپور ته د هند شیرازه ویل کیدل، او د لوی وچې (برې صغیر) زیات شمیر علماء هم دلته په جونپور کې اوسیدل.[۱]

لاتر اوسه پورې فرید خان په ښوونه او روزنه کې مشغول و چې پلار یې د جونپور د والی جمال خان دربار ته راغې، جمال خان حسن خان ډیر ملامت کړ چې د هغه د غفلت په اساس د هغه ډیر زحمت کش زوې د هغه د لاسو څخه ووت. جمال خان د فرید خان په تعریف کې وویل: چې د سور په ټوله قبیله کې به د فرید خان په څیر بل داسې ذهین، زیرکه، او په خبره پوه ځوان پیدا نه شي، د دې څخه به یوه ورځ ډیر ستر شخصیت جوړ یږي.

---

( 1 ) دا هغه ځای و چې د اکبر د نوې ایجاد کړل شوې الهی دین پرخلاف د مخالفت بیروغونه را پورته شول او د همدې ځایه یې د اکبر څخه وغوښتل شوه چې خپل تخت او تاج پریږدي. په پنځلسمه پیړۍ کې د جونپور روزنیزو مرکزونو خاص اهمیت درلود. او د دې ځای نوم به هم په ډیر درنښت سره اخستل کیده. فرید خان هم د ۱۴۹۵ څخه تر ۱۴۹۷ پورې په همدې تعلیمی ماحول کې زده کړې تر سره کړې دی او ډیر ژر یې په علمی کړیو کې نوم را پیدا کړ. همدغه درې کلن روزنیز وختونو د فرید خان په ژوند باندې ډیر ژور اغیز وکړ.

حسن خان نه یوازې د خپل زوې په اړه د غفلت په کولو سره پښیمانتیا ښووله، ترڅنګ یې یو شمیر افغانانو مشرانو هم فرید خان مجبور کړ چې د خپل پلار د عزت او وقار په خاطر بیرته سهسرام ته ستون شي. کله چې د حسن خان او فرید خان تر منځ لیدنه وشوه، نو دواړو پلار او زوې په ډیره مینه یو د بل سره روغبړ وکړ او د هغې وروسته فرید خان د خپل پلار سره د بیرته تللو له پاره راضی شو.

په بیرته را ستنیدو کې حسن خان خپل زوې فرید خان ته د خپل جاګیر د کنټرولولو پوره واک ورکړ، د ۱۴۹۷ نه تر ۱۵۱۸ پورې فرید خان خپله دنده په ډیره ښه توګه تر سره کوله. د هغه د راتلو وروسته نه یوازې د جاګیر مالیه به وصولیده بلکه په هغې کې منظمو الې هم را منځته شو.

فرید خان په دغه یوشتو کالو کې هیڅ ډول ظلم او تیرې و نه کړ، د خلکو سره یې ډیر ښه کړچار او سلوک کاوه، فرید د جاګیر ټولو کار کونکو ته حکم کړې و چې هغوې دې د مالیې د تر لاسه کولو له پاره په دهقانانو باندې د ظلم او تیرې څخه لاس و نیسي، هغه د لمړي ځل له پاره د دهقانانو څخه د مالیې د اخستلو له پاره (په نقدې او یا جنسې توګه) نوې لارې پیدا او قوانین یې ورته وټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماليه د توليداتو د په نظر کې نيولو په اساس ټاکل کيده ، خو کله به يې چې اندازه و ټاکل شوه نو بيا به دهغې په ترلاسه کولو کې هيڅ ډول غيږ نه کيده ، دهغه وخته چې فريد خان د حاجی پور، خواص پور او ډانډا د سيمو ولکه په لاس کې اخستې وه نو هلته په هغو پرګنيو کې يو انقلاب شانته راغلي و. دد هقانانو ډيره شميره د هغه ملاتړي ګرزيدلي و ، ځکه چې هغه د هر وګړي سره انصاف کاوه ، د جاګير نه يې د رشوت اخستونکو او بد سلوکه مامورينو جرړې وويستې ، قانون ماتونکې رشوت خواره او نا اهله مامورينو ته يې داسې سخته سزا و رکړه چې د نورو له پاره يې د عبرت درس و ګرځاوه ، دهمدې کارونو په اساس فريدخان په ولسونو کې ډير زيات دقدر وړ وګرزيد.

داسې ځرګنديده چې دفريدخان ستونزې او مشکلات پای ته نه وی رسيدلي ، ځکه کله چې فريدخان په خلکو ډير زيات منلي وګرزيد نو دهغه ميريزه هندوه مور ورته په اور کې سوځيدله ، هغې د جاګير څخه د فريد خان د بيلتون او دهغه په ځای د خپل زوی سليمان د ټاکلو له پاره په حسن خان باندې ډيرزيات فشار راوست.

حسن خان تر يوه وخته پورې خپله هندوه ښځه په اخوا ديخوا خبرو او وعدو باندې غولوله ، خو هغې ښځې داسې حالات را پيدا کړل چې حسن خان يې مجبور کړ تر څو فريد خان د جاګير د نظام د کنترول څخه بيرون کړي. ددې کار له پاره حسن خان دڅه بهانې دپيدا کيدو په لټه کې شو .

هغه د هرې لوې هڅه وکړه چې د خلکو څخه څوک د فريد پر خلاف کوم شکايت وکړی نو د همغې په بنسټ به هغه فريد د جاګير څخه لرې کړی. خو د جاګير يو کوچنی ماشوم هم د فريد په خلاف دخپلې ژبې پرانستو ته چمتو نه و .

ددې ناکاميو نه وروسته حسن خان دفريد خان محاسبه کول پيل کړل ، خو په دې لړ کې هم هغه د ناکامۍ سره مخ شو . فريدخان يو ذهين وګړی و اود خپل پلار په ارادو باندې ښه خبر و . هغه خپل پلار حسن خان ته يو ليک ورولیږه چې په کې يې ورته ليکلي و :

«ترهغې چې ستا پرما باور او اعتماد و نو ما د جاګير انتظام په ډيره ښه او غوره توګه مخته يوړ. خو اوس زه دا باور پای ته رسيدلې وينم ، نو په دې خاطر زه په خپله غواړم ددې مسؤليت نه ځان په څنګ کړم. ځکه زه نه غواړم چې ته غمژن او خفه واوسې. هر چاته چې ته غواړې دا مسؤليت ورسپارلې شې»

حسن خان د فريدخان ددې سلوک څخه ډير زيات اغيزمن شو. بيا يې ځواب ورکړ چې: زه منم چې ته نه يوازې زما په اولادونو کې بلکه زما په ټوله کورنۍ کې ذهين او د پوره پوهې خاوند او عزتمند يې. زه په دې پوهيږم چې هغه کار چې تا کړې هغه سليمان او احمد دواړه هم نه شي کولې ، بلکه د هغوی په لاسو کې د جاګير د انتظام ورکول ستا په ټولو کارونو د اوبو د تويولو په څير دی. خو زما مجبوری داده چې ستا ميريزې مور ماته زما ژوند د جهنم اور ګرځولې دې. شونې ده چې ستا د بيلتون په اساس به هغه ډاډمنه شی او په پاته ژوند کې به راته د ساه اخستلو فرصت راکړی.

اوس نو فريدخان ته يو ځل بيا د پلار دکوره رخصت اخستل ورپه غاړه شول. په دې اړه د افغان اميرينو او خلکو له اړخه په حسن خان باندې سخت احتجاج وکړل شو خو حسن خان هغوی ته ددې ډاډ ورکاوه چې د هغه د ژوند وروسته به همدا فريد ددې ټول جاګير وارث وی.خو افغان اميران د حسن خان ددې خبرو څخه ډاډمن نه وو.

دغه زوړ عسکر تر دې ځايه خبرې وکړې ، يو ځل يې اوږده ساه واخسته او بيا يې دخبرو لړۍ جارې وساتله او ويې ويل:

ويل کيږی چې دا هندوه ښځه دحسن خان ښځه نه وه بلکه دهغه ساتلې محبوبه وه . او په همدې حيثيت سره يې خپل ټول ژوند دحسن خان تر څنګ تير کړ. د جاګير څخه د ويستلو له پاره يې د فريدخان پر خلاف زياتې نفسياتې حربې استعمال کړې. دهغې هغه اخری

(c) ketabton.com: The Digital Library

حربه چې کارې ثابته شوه هغه داوه چې هغې د حسن خان سره تر هغه وخته پورې د يو ځاې ځملاستو ځخه انکار وکړ تر ځو چې فريدخان د جاګير ځخه بې واکه شوې نه و ، اودهغه په ځاې دهغه دواړه زامن سليمان او احمد نه وټاکل شوى.

فريدخان دد ې حالت ځخه ډير زيات و زوريد ، او يو ځل بيا يى دخپل پلار کورته خداې پاماني وويله ،او اګرې ته ولاړ ، هلته د سلطان ابراهيم لودي دربارته ورغې خو ابراهيم لودى دهغه دا غوښتنه چې د سهسرام جاګير د ې بيرته ورته حواله کړل شي و نه منله ، په اصل کې سلطان ابراهيم لودى فريد خان د خپل پلار نا شکره او نافرمانه زوې ګاڼه نو په د ې خاطر يى د فريدخان د غوښتنې دمنلو ځخه په ډاګه انکار وکړ.

فريد يو ځل بيا په ځانته ځان د خپل راتلونکې دښه کولو له پاره په هلو ځلو کې را ونغښت او د دولت خان په لور يى مخه کړه. دولت خان دد ې نه مخته په اګره کې د يوستر جاګير خاوند او په اعلى منصب باند ې فايز و ، بيا وروسته د پنجاب والى و ټاکل شو. همد ې دولت خان بابر ته په هندوستان د حملى کولو پيغام او بلنه ورکړې وه ، فريدخان د حالاتو د ځرنګوالې وروسته د دولت خان لورې ته روغې اودهغه سره يى خپل اړيکى ټينګ کړل او بيا همدا اړيکى ددو ې تر منځ په خپل منځې دوستۍ باند ې تبديل شول.

دولت خان لودى هم ابراهيم لودى ته مشوره ورکړه چې هغه د ې دفريدخان سره کومک وکړى خو پادشاه د ې لورې ته هيڅ توجه و نه کړه ، نو په د ې خاطر فريد خان هملته په پنجاب کې د دولت خان سره پاته شو.

په **۱۵۲۵** زکال کې دفريدخان پلار حسن خان ومړ ، په همد ې وخت کې دولت خان ابراهيم لود ې ته سپارښتنه وکړه چې فريدخان د حسن خان د جاګير وارث وګرځوي ، هغه هم د فريدخان د وراثت په اړه يو شاهى فرمان جارى کړ او په د ې توګه فريدخان د خپلو ميرنيزو ورونو سليمان او احمد سره دښمن وګرزيد.

کله چې فريدخان دخپل پلار حسن خان د جاګير د ولکې له پاره سهسرام ته روان شو نو دهغه ناسکه ورور سليمان د جنګ جګړې پرته دهغه ځايه و تښتيد او ديوه افغان سردار ، سرادر محمدخان سور خواته ورغې او هملته يى پناه واخسته ، نوموړې د پرګنه جويند خاوند و ، هغه بيا دهمد ې سردار سره يو ځاې شو او د خپل ناسکه ورور فريد پر خلاف يى سازشو نه پيل کړل.

محمد خان سور دد ې وخت نه ډيره ګټه پورته کړه ځکه هغه د پخوا ځخه د فريدخان دپلار حسن خان سره تربګنې درلوده نو په د ې اساس خوشحاله وه چې د حسن خان د زامنو تر منځ دښمنۍ ته نوره هم هوا ورکړې او په د ې توګه دواړه ډلې را کمزورې کړې ، احمدخان په فريدخان باند ې فشار راوست چې دخپل پلار حسن خان جاګير د ورونو تر منځ وويشي ، خو فريد ورته ويل چې هغه خو سليمان او احمد خپل ورونه ګڼې او په جاګيرکې هغوې ته خپله برخه هم ورکوى خو هغوې ته به د جاګير په انتظامى امورو کې د مداخلې حق نه ورکوي ، ځکه چې دټول جاګير نظم ونسق د پادشاه له اړخه همده ته ور سپارل شوې دى. هماغه و چې سردرامحمد خان سليمان را و ګماره تر ځو په فريدخان باند ې حمله وکړي ، فريدخان په د ې پوهيده چې شايد هغه و نه توانيږې په يو اځې ځان دخپل ورور مقابله وکړي نو دخپل ځان د ځواکمن کيدو په خاطر يى د بهار د والى بهار خان ځخه مرسته وغوښتله.

په همد ې وختو کې بابر په هندوستان باند ې ستره حمله وکړه ، او فريد د ابراهيم لودى او بابر تر منځ د جنګ دپايلو په انتظار کې کيناست. په **۱۵۲۵** زکال د پانې پت په ميدان کې د بابر او ابراهيم لودى د عسکرو تر منځ سخت خونړې جنګ وشو ، فريد دد ې حالت په کتلو سره غلى او څارونکې ناست و. په حقيقت کې فريد فکر کاوه چې که چيرې د بابر په مقابله کې ابراهيم لودي برې تر لاسه کړې نو هغه به په ډاډمنه توګه د بهار د والى بهار خان ځخه مرسته واخلى او په د ې ترتيب به خپل ورور سليمان او دخپل پلار پخوانى دښمن سردار محمد خان ته ماتې ورکړې. او که چيرې په جنګ کې بابر بريمند را ووت نو هغه به فريد دخپلو پرګنو دحاکم په ځير و مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې ځایه د خبرو وروسته د شیرشاه سوري هغه زوړ عسکر لږ څه په خبرو کې تم شو ، ساه یې واخسته ، غاړه یې تازه کړه او بیا یې د خبرو لړۍ پیل کړه او ویې ویل :
ګوره صاحب خانه ! د پانې پت په میدان کې ابراهیم لودي د بابر نه ماتې وخوړه او هغه پخپله هم هملته د جنګ په ډګر کې له منځه ولاړ ، د پانی پت په پریکونکې جنګ کې په هندوستان باندې د افغانانود حاکمیت درې نیم سوه کلن دوران پای ته ورسید او ددې لوېې وچې د سلطنت واکمنی مغلو ته تر لاسه شوه. ابراهیم لودي ته د ماتې ورکولو وروسته د بهار والی بهار خان پرته له ځنډه د سلطان لقب ځانته خپل کړ او په خپل نوم یې سیکې جارې کړې او خطبه یې هم په خپل نوم وویله.
په دې ورځو کې فرید خان هملته د بهار د حاکم بهار خان تر څنګ اوسیده ، یوه ورځ هغه د بهار خان سره یو ځای د ښکار کولو په نیت ووت نو فرید خان د یوه زمرې سره مقابله وکړه او هغه یې په خپله توره دوه ټوټې کړ نو د همغې ورځې را هیسې بهار خان هغه ته د شیرخان لقب ورکړ او تر څنګ یې د خپل زوی جلال خان استاد هم وټاکه.
د بهار خان د موافقې سره سم شیرخان د سهسرام په لور وخوزید ، د سهسرام د جاګیر انتظام په دې وخت کې د هغه د خپل حقیقی ورور نظام خان په لاس کې و. خو بیا هم د شیرخان بسپنې ته یې اړتیا درلوده ،
سردار محمد خان چې د فرید خان او د هغه د پلار حسن خان سره یې پخوانۍ دښمنې وه ، د افغانانو د لوهانی قبیلې څخه و. د هغه د همدې قبیلې پورې اړوند و زیاتو افسرانو او درباریانو شیرخان ته د یوه قومی او ولسي ځواکمن شخصیت په څیر د کتلو زغم نه درلود. په دې وختو کې د بهار څخه د فرید خان د تللو وروسته سردار محمد خان د فرید خان په خلاف د بهار د را پورته کولو کار پیل کړ . او د هغه په لاسو یې دا فرمان جاری کړ چې شیرخان دې د خپل پلار جاګیر د خپلو ورونو تر منځ برابر وویشي ، او هغوی ته دې خپله برخه ورکړي. هغه نه یوازې دا فرمان ترې واخست بلکه خپل ځان یې هم د هغوی د منځګړی په څیر وټاکه.
د همدې حالاتو د نزاکت په اساس شیرخان او د هغه ورور نظام خان د مانک پور د صوبدار جنید برلاس سره اړیکی پیدا کړل. جنید برلاس د بابر د ډیرو ښو عسکری قوماندانانو څخه و. شیرخان په خپله هلته ورغې او د هغه سره یې ژمنه وکړه چې د خپلو پرګنیو د تر لاسه کولو وروسته به هغوی ددوې اطاعت کولو ته تیارې کړې. د مانک پور صوبدار د شیرخان دا رایه ومنله ، ځکه چې په دې توګه هغه د بابر سره یوه ځواکمن او په معامله پوه ملګرې ور زیات کړې و.
همغه و چې شیرخان ته یې فوځ ورکړ ، شیرخان هم د ځنډ پرته د جنګ اعلان وکړ او د خپلو پرګنو نه علاوه یې په یو شمیر نورو پرګنو باندې هم د فوځ په کومک سره ولکه وکړه. د هغې وروسته یې په سردار محمد خان سور باندې هم حمله وکړه او ان تر دې چې د هغه د سلطنت مرکز جویند پورې ورسید. سردار محمد خان د رهتاس په غرونو کې پناه واخسته ، کله چې شیرخان په جویند باندې ولکه کلکه کړه نو سردار محمد خان ته یې پیغام ولیږه چې متن یې دا سې و :
« یو وخت ستا او زما د پلار تر منځ ډیرې ښې اړیکې وې په دې خاطر ته زمونږ مشر او سپین ږیرې هم یې. زه هیڅکله هم دا نه شم زغملې چې یو عزتمند افغان سردار دې د پردیو په پناه کې واوسي ، ته بیرته را ستون شه تر څو ستا سیمی بیرته تا ته وسپارم او زه تاته د ډیر نیک سلوک په اړه ډاډ درکوم» د شیرخان په ډاډ ګیرنه سردار محمد خان بیرته را ستون شو ، شیرخان هم په خپله ژمنه وفا وکړه او د هغه ټولې سیمې یې بیرته هغه ته په لاس کړې. د دې وروسته سردار محمد خان هم د شیرخان د دې نیک سلوک څخه ډیر زیات اغیزمن شو او بیا یې هیڅکله هم د هغه پر خلاف سازش ونه کړ او د عمر تر اخره یې ورسره ډیر ښه اړیکی وساتل.
د دې سوبې وروسته شیرخان نه یوازې په مانک پور کې د بابر د والی برلاس وفادار ه پاته شو بلکه په مختلفو وختونو کې به یې یو بل ته تحفی او تحایف هم ور لیږل ، د شیرخان د بریاو په اساس ډیر شمیر افغانانو د هغه په دربار کې ماموریتونه پیل کړل ، د سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدخان سور دبیرته راغوښتلو څخه هم دشیرخان مقصد د افغانانو دخورو ورو ځواکونو را یوځاي کول و. وروسته بیا شیرخان د جنید برلاس شکریه وکړه او اګرې ته ولاړ اوهلته یې د بابر سره وکتل. بابر په همغه لمړۍ لید نه کې د شیرخان دوړتیا و اندازه واخسته او بیا یې خپل سالار جنید ته وویل:

مونږ ددې ځوان افغان په تندي باندې د تاج نښې احساسوو. مونږ ددې نه مخته دهیچا په تندې باندې دا سې نښې نښانې نه دې کتلی. نو په دې خاطر به ددې ځوان کلکه څارنه کوئ،

بابر د شیرخان دنیولو او بندی کولو خواهش هم درلود. خو د جنید برلاس په مشوره یې ددې کاره لاس واخست. ځکه چې د بابر د داسې اقدام څخه نه یوازې د حالاتو د خرابیدو اندیښنه موجوده وه بلکه شاهی اقدار هم تر نیوکو لاندې راتلل. ځکه په دې وخت کې شیرخان د شاهی میلمه په څیر هلته په اګره کې اوسیده.

په هر حال شیرخان په موقتی توګه د بابر ماموریت اختیار کړ. خو په حقیقت کې دهغه مقصد د بابر ملازمت نه و بلکه غوښتل یې د هغه دحکومت د انتظام او انصرام په اړه مطالعه وکړی. ددې تر څنګ شیرخان په داسې وسایلو باندې هم غور کولاې شو چې دهغې په خپلولو سره بابر بیرته دهندوستان څخه وکاږي.

شیرخان ددهلی د فوځی مهم له پاره د بابر سره یو ځاي ولاړ. خو هغه په خپله اړه د بابر په بدل شوې آند باندې ښه پوهیده، په دې اساس هغه دې فکر کولو ته اړشوی و چې دا و انګیرې چې ددې دوستې د بابر او د هغه د والی جنید سره تر کومه ځایه تللې شي. په هر صورت دهغوې سره د دښمنۍ د اخستلو مخته ورته دا اړینه شوه چې دخپل ځان له پاره مخلص ملګری را پیدا کړی تر څو د اړتیاو په وخت کې یې په کار راشی.

په دې توګه شیرخان د جنید برلاس سره د لیدو پرته د بابر څخه ولاړ. خو وروسته یې د یوه لیک په واسطه د جنید څخه بښنه و غوښته. او ورته یې ولیکل چې په جاګیر کې خلکو ته د ستونزو د راپیدا کیدو په خاطر هلته دهغه ورتلل ډیر زیات اړین شوي و. په دې ترتیب شیرخان د دې ځایه ووت او په سهسرام کې خپل جاګیر ته بیرته ورستون شو.

تردې ځایه دغه زوړ سپاهی یو ځل بیا دمه وکړه او بیا یې صاحب خان ته د شیرشاه سوری د حالاتو په اړه وویل:

صاحب خانه واوره ! دلته د بابر دلاسه د شیرشاه سورې د راتښتیدویو علت دا هم ویل شوې چې ویل کیږي چې یوه ورځ په یوې میلمستیا کې د بابر په شتون کې شیرخان ته دخوراک له پاره په طشتری کې ماهی ورکړل شو. شیرخان ددې ډول خوراک سره بلدتیا نه درلوده هغه سمدستې دخپل خنجر په څوکه هغه پرې کړ او ویې خوړ. بابر دا هر څه کتل. هغه خپل وزیر میر خلیفه هم دې لورې ته متوجه کړ او ورته یې وویل چې ما ډیر ستر او عالی مرتبه افغانان کتلې دي خو تر اوسه پورې هیڅ افغان دومره نه یم اغیزمن کړې.

بابر خپل وزیر میرخلیفه ته دا تاکید هم وکړ چې هغه دې شیرخان په پرلپسې توګه د خپلې څارنې لاندې و نیسي، خو میرخلیفه د شیرخان له اړخه بابر ته ډاډ ورکړ چې شیرخان یو ډیر نیک طبعه انسان دي او تر څنګ یې دهغه د ملګرو شمیره هم دومره ډیره نه ده چې دهغه دا ړخه کوم ګواښ را پیدا شي.

شیرخان دغو پس پسکو ته متوجه کیږی او په فکر کې لویږی، بیرته خپلې خیمی ته را ځی او دخپلو ملګرو سره سلا کوي او په پټه خوله دهغه ځایه تښتي. بابر ته په خپلې غونډی کې د شیرخان د نه موجودیت احساس کیږی نو هغه د شیرخان د را بللو له پاره خلک ور استوی خو کله چې ورته څرګند یږی چې شیرخان له دې ځایه وتلې دي نو د خپل وزیر میرخلیفه څخه ناراضه کیږی.

ویل کیږی چې شیرخان بیرته سهسرام ته را ستون شو او د جنید برلاس دربار ته ډیرې قیمتی تحفی او سوغاتونه ور لیږل تر څو د خپلې غیر حاضرۍ له پاره بهانه وړاندې کړی. په همدې وخت کې هغه ته دا خیال او فکر را پیدا کیږی چې: نه خو ماته په مغلو باندې باور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتبار پاته شوي دي او نه زه په دي مغلو باندي اعتمار او باور کولي شم ، اوس نو د وخت او حالاتو غوښتنه داده چي زه بيرته د بهار د حکمران بهار خان په لور ولاړ شم.

تر دي ځايه د شيرخان هغه زوړ عسکر صاحب خان ته قصه وا وروله او بيا يې ورپسي وويل:

صاحب خانه ! شيرخان غوښتل چي يو ځل بيا د بهار خان سره خپل اړيکي ټينګ کړي ، خو هغه ته دا هم څرګنده وه چي د بابر په ملازمت کي د ورګديدو وروسته به بهار خان د هغه مخالف ګرزيدلي وي ، دبله اړخه سردار محمد خان هم هڅه کوله چي د سهسرام څخه د شيرخان د وړور نظام خان د بيرون کولو له پاره د بهار خان څخه اجازه واخلي.

په همدي ستونزمنو حالاتو کي شيرخان د افغانانو د منظمولو هڅي پيل کړي ، ددي مقصد له پاره هغه يو ځل بيا د بهار خان دربار ته ورغي، هغه هم شيرخان ته ښه راغلاست ووايه ، او يو ځل بيا يې د خپل زوي جلال خان استاد و ټاکه ، لږه موده وروسته بهار خان وفات شو خو دهغه زوي جلال خان د کم عمر خاوند وي. نو دهغي مور د جلال خان د نګراني په توګه په کار پيل وکړ او شيرخان يې همغسي د خپل زوي استاد پريښود.

په دي توګه په ۱۵۲۸ د زکال کي شيرخان ته دخپلو ټولو ځواکونو د راټولولو ډيره ښه موقع په لاس ورغله ، د جلال خان د مور د مړيني نه وروسته دشيرخان لاس نور هم غښتلي شو . ځکه چي جلال خان يوازي په نامه حاکم و په داسي حال کي چي د بهار حکمراني عملا د شيرخان په لاسو کي وه . شيرخان د افغانانو د ځواکونو په راټولولو کي خپلي هڅي ګړندۍ کړي خو هغه ته ترټولو لويه ستونزه داوه چي پخپله د شيرخان د ورځ په ورځ ځواکمن کيدو په اساس ډير افغانان د هغه مخالف شوي و . دشيرخان فکر دا و چي تر هغي چي بهار او بنګال د بابر پر خلاف يو متحده محاذ را منځته نه کړي نو د دواړو ژوندي پاته کيدل شونی نه دي .

د بله اړخه په دي ورځو کي د بنګال حاکم سلطان محمود و ، چي سرحدونه يې د بهار سره يو ځاي شوي و . پخپله سلطان محمود شيرخان ته په ښو سترګو نه کتل ، هسي خو د هغه سترګي د بهار په نيولو باندي نښتي وي او غوښتل يې چي د بهار د اصلي حکمران جلال خان د کوچنيوالي څخه ګټه پورته کړي او بهار د خپلي ولکي لاندي راوړي خو هغه د شيرخان او دهغه د وړتياو اندازه نه وه کړي.

په همدي وختو کي د بنګال حکمران سلطان محمود په بهار باندي يرغل وکړ خو د سخت زيان سره مخ شو . شيرخان د يوه ډير ستر ځواک سره دهغه مقابله وکړه او د ډير بد شکست سره يې مخامخ کړ . هغه د بهار د فتحه کولو په ځاي خپل اسونه ، فيلان ، وسلي او ډيري خزانې هم له لاسه ورکړي . د جنګ نه مخته شيرخان د سلطان محمود سپه سالار قطب خان ته همدا مشوره ورکړي وه چي د جنګ په ځاي دي د سولي لاره خپله کړل شي او دشير خان سره يو ځاي دي د مغلو په خلاف يو محاذ پرانيزي. خو قطب خان هغه د شيرخان کمزورتيا و ګڼله ، په پايلو کي يې جنګ را منځته شو او د بنګال حکمران سلطان محمود او د هغه سپه سالار قطب خان د بدي ماتي سره مخ شول .

په همدي وخت کي د بهار د ځوان حکمران جلال په دربار کي هم د شيرخان په خلاف مخالفتونه زيات شول او د سازشونو جال په خپريدو شو ، په دي لړ کي د شيرخان مخالفو افغانانو جلال خان هم د خپله ځانه سره ملګري کړ . جلال خان ته يې شک ورواچاوه چي که چيري شيرخان دخپلي مخي لري نه کړی نو يوه ورځ به هغه په خپله په بهار باندي ولکه وکړي.

همغه و چي جلال خان د ځو کسو سره يو ځاي د شيرخان د وژلو پلان جوړ کړ خو شيرخان ته ددي پلان په اړه لا د مخه خبر ورکړل شوي و ، خو کله چي جلال خان په خپل پلان کي ناکامه شو نو هغه د بنګال د حکمران سلطان محمود سره خبره جوړه کړه ، ان تر دي چي لږه موده وروسته يې د هغه اطاعت هم و مانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بنګال د حکمران له پاره ددې نه بله ښه موقع او فرصت نه شو تر لاسه کیدای. ددې ترڅنګ د شیرخان په دښمنۍ کې جلال خان ددې فکر هم و نه کړ چې هغه د خپلو هغو دښمنانو په خولو کې ورغورزي چې پخوا تردې یې د هغه د حکمرانۍ د ړنګولو له پاره پرې فوځی یرغل هم کړې و.

په حقیقت کې شیرخان د بهار د حاکم د وفادارۍ شعار له ځانه سره درلود، ځکه که هغه غوښتلې نو هغه وخت چې د بهار حاکم جلال خان ډېر کوچنی و او د مور او پلار دواړو د مړینې وروسته د همدې شیرخان تر سیورې لاندې را لویده، نو په همغه وخت کې شیرخان کولې شول چې په ډېره آسانۍ سره په بهار باندې ولکه وکړي. خو جلال خان د خپلو چاپلوسو درباریانو په خبرو کې راګیر شو او د خپلې بې تجربګۍ په اساس یې د شیرخان سره دښمنی راواخسته، شیرخان هم د جلال خان ددې رویې او سلوک څخه سخت خوا بدې شو او دربار یې پرېښود او د سهسرام په لور بیرته ور ستون شو. دشیرخان بدبختي داوه چې د بهار او بنګال دواړو حکمرانانو هغه ته د شک په سترګو کتل او پرته د کومه دلیله دهغه دښمنان ګرزیدلې و.

دشیرخان د بیرته ستنیدو نه وروسته د بهار حکمران ځوان جلال خان خپل فوځونه د بنګال دحکمران سلطان محمود په فوځونو کې ور ګډ کړل. او ترڅنګ یې بنګال او بهار یو ریاست وګرځاوه، او په دې توګه په بهار کې د جلال خان حکمرانی په خپله له منځه ولاړه.

شیرخان په دې کار باندې ډېر خوشحاله و، ځکه هغه فکر کاوه چې ددې اقدام نه وروسته به د بهار او بنګال د فوځونو تر منځ اختلافات په خپله له منځه ولاړشي او اوس به هغه په ډېره ساده توګه د جلال خان په یو شمیر سیمو باندې ولکه پیدا کړي، ددې کار له پاره شیرخان نورکسان هم په خپل فوځ کې را یوځای کړل او د بنګال پر خلاف یې د جنګ تیارې پیل کړ.

د بنګال حکمران هم د شیرخان څخه د پخوانې جنګ د بدلې داخستو په خاطر د شیرخان په خلاف خپل فوځونه ور ولیږل. شیرخان په دې پوهیده چې د بنګال د فوځ په مقابل کې دهغه د فوځونو شمیره ډېره کمه ده. نو په دې خاطر یې په حملې کولو کې د لمړیتوب څخه ځان و ژغوره.

شیرخان غوښتل چې د جنګ د پیلامې نه وروسته په دښمن باندې داسې ګذار وکړی چې د بنګال څخه د نورو تازه فوځونو د راتلو دمخه د هغوې جرړې همدلته وباسي. هغه همداسې هم وکړل. دښمن پرې حمله وکړه نو شیرخان تر ټولو لمړۍ ددښمن پیاده فوځ د هغوې د توپ خانې او فیلانو سره یو ځای شاته و تمباوه، او دهغې وروسته د شیرخان فوځ په هغو خاصو فوځې قطعاتو باندې ور پریوت.

په دې جنګ کې د بنګال د فوځ قومندان ابراهیم هم ووژل شو. او په دې توګه په ۱۵۲۸ زکال کې شیرخان ته د بنګال د حکمران پر خلاف دویمه ستره کامیابي ور په برخه شوه. جلال خان په ډیرو ستونزو سره بنګال ته ورسید خو د بنګال خزانه او د فیلانو توپخانه هر څه دشیرخان په لاسو کې ورغلې وو، په دې ترتیب د بنګال او بهار د متحده فوځ د ماتېدو وروسته شیرخان د بهار حکمران وګرزید.

ددې ستر برې نه څو ورځې وروسته شیرخان د چنار د کلا په لور ور وخوزید، دا کلا د تاج خان د مړینې نه وروسته دهغه د کمرعمره ښځې ملکې لاډو په ملکیت او څارنه کې وه. شیرخان هلته د جنګ کولو په ځای لاډو ته د واده کولو پیغام ور ولیږه او هغې هم دا پیغام و مانه، په دې توګه د چنار کلا او دهغې ځای خزانه دهر څه سره د شیرخان په لاسو کې ورغله، دهمدې دولت او شتمنۍ د تر لاسه کولو وروسته د شیرخان اثر ورسوخ ډېر زیات شو او هم یې په وسایلو کې زبردست ډیرښت راغې.

ددې وروسته شیرخان د هند په لویه وچه کې د افغانانو د ځواک د رایوځای کولو له پاره شپه او ورځ یوه کړه، ترڅنګ یې د خلکو عامه ګټو ته توجه وکړه تر څو ددې لارې د عوامو وفادارۍ ډېره او په راتلونکې کې دهغه له پاره په کار راشي. هغه د ټولو سوبه شوو سیمو انتظام هم ډېر بهتر وګرځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې ځايه د خبرو وروسته دشيرشاه زوړ عسکر خپله سپرلۍ ددمې په خاطر و دروله ، بيا يې دوباره خپل اس ته پونده ورکړه او نور يې هم ګړندي کړ . بيا يې صاحب خان ته وويل :

ګوره صاحب خانه ! ددومره اوږوده جدوجهد نه وروسته شيرخان ته څه ستونزې هم را ولاړې شوې. هغه خو غوښتل چې د خپل سلطنت پولې نورې هم و غځوی ، او لا تر اوسه يې همدا پلان په فکر کې و چې د ابراهيم لودی ورور محمود لودی شيرخان خپل ځان ته ور وغوښت ، د ابراهيم لودی ورور محمود لودی په پانې پت کې د بابر په لاسو دخپل ورور ابراهيم د ماتې وروسته د سنګرام سينګ لورې ته تښتيدلې و. بيا يې هملته پناه واخسته او بيا يې د کنوه په جنګ کې دهغه سره يو ځاې برخه هم واخسته ، دهغې نه وروسته تر يوې مودې پورې په چتوړ کې اوسيده خو دهغې وروسته د لودې دربار د سلاکارانو د سلا په اساس يې راجپوتانه پرېښوده او بيرته را ستون شو او پټنه يې خپل مرکز و ټاکه.

په شيرخان باندې د محمود لودي دومره زيات احسانات و چې شيرخان دهغه د بلنې څخه انکار و نه شو کړاې . همدا را زد محمود لودې د وربللو څخه د نه انکار کولو يو بل علت دا هم و چې محمود خان لودی هم افغان و او شيرخان د افغانانو د را ټولولو او يو ځاې کيدو له پاره شپه او ورځ کار کاوه ، نو که چيرې هغه د محمود لودی د وربللو په خاطر هلته نه وې ورغلې نو بيا خو د افغانانو د اتحاد او يووالی د هغه شعار خلاف کار و چې شيرخان د يوې مودې راهيسې ورته بډې را وهلی وې

کله چې محمود لودی شيرخان د خپل لښکر سره يو ځاې د پانې پت ميدان ته د مغلو سره د جنګ له پاره را وغوښت نو شيرخان ورته پيغام وليږه چې دهغه فوځ لا تر اوسه پورې د جنګ له پاره پوره تياري نه لري . نو په دې خاطر به هغه لږه موده وروسته هلته ور روان شي .

په دې وخت کې د محمود لودی سلاکارانو دا مشهور ه کړه چې څرنګه چې شيرخان د مغلو په ملازمت کې پاته شوې دې نو په دې خاطر دهغوې سره د وفادارۍ په اساس هغه د حيلو او بهانو څخه کار اخلي. همدې افسرانو محمود لودی ته دا مشوره هم ورکړه چې که چيرې ته غواړې په دې جنګ کې شيرخان دخپل ځان سره را يو ځاې کړې نو د «اود» په لور د تللو په وخت کې د سهسرام لاره خپله کړه تر څو شيرخان د خپل لښکر په را ليږلو باندې مجبور کړل شي. محمود لودی دخپلو دغو افسرانو مشوره و منله و او بيا د سهسرام د لارې د «اود» په لور وخوزيد . شيرخان د محمود لودی څخه په شاهانه توګه استقبال وکړ او چپ چاپ دهغه د لښکرو سره يو ځاې روان شو .

په دې وخت کې بابر دخپل زوې همايون د ناروغتيا په اړه انديښمن و ، په دې اساس يې بلې موضوع ته هيڅ توجه نه کوله .محمود لودې د همدې حالت څخه ګټه پورته کړه ، د ګنګا د درياب څخه راتير شو په لکنهو يې ولکه وکړه ، په همدې وخت کې بابر و مړ او په ځاې يې زوې همايون په تخت کيناست.

کله چې همايون ته په اګره کې د لکنهو د لاسه د وتلو خبر ورسيد نو هغه د جونپور په لور وړاندې تګ پيل کړ . په **۱۵۳۲** ز کال کې د محمود لودي او همايون تر منځ سخت جنګ وشو . په دې جنګ کې محمود لودی ماتې وخوړله ، او د بهار په لور و تښتيد . محمود لودی يو ځل بيا فوځ منظم کړ خو بيا هم د ناکامۍ سره مخ شو ، بلاخره د اړيسې په لور ولاړ او لږه موده وروسته هملته ومړ.

ددې جنګ نه وروسته مغلو دا احساس کړې وه چې په دې لويه وچه کې دشيرخان د ځواکونو پرته بل ځواک دهغوې مقابله نه شي کولې ، شيرخان هم دا احساس کړې وه چې تر هغو چې خپل ځواکونه ځواکمن نه کړي او دخپل سلطنت پولو ته پراختيا ورنه کړی نو تر هغې به ارام کښينه نی.

تر دې ځايه د شيرخان زوړ عسکر خپلې خبرې کولې او بيا تم شو ، تر لږه پورې خاموشه و او بيا يې ژبه روانه شوه او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خانه ! ددې حالاتو نه وروسته همايون زمونږ د اقا شيرخان څخه و غوښتل چې هغه دې خپله د چنار کلا دوې ته حواله کړي.خو شيرخان د مغلو دا خبره و نه منله ، نو اوس همايون يو ستر لښکر راخستې او دشيرخان د ځپلو له پاره د اګرې څخه را روان شوې دې. شيرخان هم ددې ځايه څو فرلانګه مخته دخپلو عسکرو سره يو ځاې پړاو کړې دې او دهمايون د راتللو انتظار کوی ، و به ګورو چې د همايون د راتللو وروسته به ددواړو فوځونو تر منځ څومره خطرناک او وينه تويونکې جنګ نښلې ، او اوس مونږتا هم همغه ځاې ته ور وړو چيرې چې شيرخان د خپل فوځ سره پروت دې. تر دې ځايه هغه عسکر خپلې خبرې بس کړې او بيا صاحب خان په خبرو پيل وکړ.

ګوره زما وروره ! زه ستا ممون او شکر کونکې يم چې تا زما د غوښتنې په اساس زه د شيرشاه د ټولو حالاتو څخه خبر کړم او ټوله قصه دې را ته په ښه تفصيل سره وويله ، دشيرشاه د حالاتو د اوريدو نه وروسته زه هيله کوم چې دا وګړې به زما په معامله کې له ماسره انصاف وکړی ، ځکه هغه څوک چې د يوه اعلی مقام د تر لاسه کولو له پاره دومره هلی ځلې وکړې ، دومره ستونزې وګالي ، نو زما په فکر به داسې شخص زما په خير د يوه وګړې سره ظلم او زياتې و نه کړي ، ګوره وروره ! اوس زه د خپل زړه په پوره ډاډ سره له تاسې سره يو ځاې دشيرخان په خدمت کې حاضريږم. ددې خبرو وروسته صاحب خان غلی شو خو د شيرخان هغه زوړ عسکر ورته يو ځل بيا وويل :

ګوره صاحب خانه ! زه به يوه بله خبره هم تاته وکړم. زه فکر کوم چې ته د رهتاس د راجه چندرمل سره ښه اړيکې لرې ، خو اوس په دې نژدې وختو کې په هرکش باندې هم مصيبتونه را روان دي ، دهغه په دې خبره باندې صاحب خان ورته وويل :

ګوره دوسته ! زه نه ددې راجه سره ذاتي اړيکی لرم او نه دومره ژور مراسم ور سره پالم. زه او زما ورور دواړه د يوه کوچي قبيلې د سردار غلامان يو. زما پلار هم همدلته زمونږ سره و. اوس هغه ستاسې د عسکرو په لاسو و مړ. تر هغې چې د راجه هرکشن پورې اړه لري نو زه بايد دا ووايم چې زه د دغه کوچی قبيلی د سردار له پاره په ځنګلونو کې ګيدړې ښکار کوم او بيا دهغې پوستکې باسم او پلورم يې. درهتاس راجه ددې پوستکو ډير ستر پيرونکې دې. بس په همدې لړ کې هغه ما پيژني ، هسې خو هغه پر ما ډير مهربانه دې ، ماته د زوې په نوم باندې غږ کوی خو زما بدبختی په دې کې ده چې زه د هغې په لور ګنګا باندې عاشق يم. او زما نوره ډيره بدبختي دا ده چې زه د ګنګا بدې راځم ، هغه دبل کوم چا سره مينه کوي ، اويا دا چې د يوې هندو نجلۍ په حيث زما په څير د مسلمان نه يې بد راځی اودخپل ځان له پاره مې وړ نه ګڼی ، خو دا را ته ووايه چې شيرخان ولې د رهتاس د راجه هرکشن پر خلاف په حرکت راځی ، دهغه په دې خبره هغه زوړ عسکر ورته وويل:

ګوره صاحب خانه ! هغه وخت چې همايون د شيرخان څخه د چنار کلا و غوښتله اوشيرخان دهغه دا غوښته و نه منله او بيا چې کله شيرخان ته څرګنده شوه چې همايون ددې کلا د تر لاسه کولو له پاره ستر لښکر تيار کړې او غواړې يرغل وکړې نو شيرخان د همايون په خلاف د رهتاس د راجه چندرمل څخه کومک وغوښت خو د رهتاس راجه شيرخان ته دکومک ورکولو څخه انکار کړې. بس شيرخان همدا خبره زړه کې اچولې ده اوکله چې هم ورته موقع او فرصت په لاس ورشی نو هغه به په راجه هرکشن باندې حمله کوی اودرهتاس کلا به ترې نه نيسي ، دهغه په دې خبره صاحب خان وويل چې که چيرې شيرخان داسې وکړی نو دا به ډيره ښه وی. په دې توګه به دهغه په توان او ځواک کې ډيربښت راشي او په خپل سلطنت کې د پراخيدو هيلی به يې هم تر سره شي.

د صاحب خان ددې خبرو په ځواب کې د شيرخان هغه زوړ عسکر خاموشه شو ، خپل آس ته يې نوره هم کمچينه ورکړه او د پخوا په نسبت يې نور هم ګړندې کړ.

۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرخان د ګنګا او کرم ناسته ددریابونو د یوځاي کېدو د ځاي سره نژدې دخپل لښکر سره یو ځاي پړاو کړې و . د هغه مخبرانو هغه لا د پخوا څخه خبر کړې و چې د هغه څو عسکرو هغه ځوان ، چې د شېرشاه د لښکر څو کسان یې وژلي ،نیولي او له ځانه سره یې را روان کړي. په دې اساس کله چې صاحب خان تر مخه د دریدو له پاره راو ستل شو نو هغه وخت شېرخان په یو لوړ ځاي کې د غونډۍ په سر ناست و . د هغه ښي لورې ته د هغه زامن قطب خان ، عادل خان ، او جلال خان ناست و . په داسې حال کې چې چپ لورې ته یې د عسکری سالارانو څخه هر یو اسماعیل سوري ، حبیب خان ککړ ، غازخان سور ، سلطان سرادنی ، هیبت خان نیازي ، حاجي خان برنی او برهمی جیت ټول یو له بله سره اوږه په اوږه ناست و . کله یې چې صاحب خان د شېرخان مخې ته راوست ، نو شیرخان ورته په ډېر غور او دقت سره وکتل ، بیا یې ښی لورې کې ناست خپلو درېواړه زامنو ته مخ کړ او ورته یې وویل:
زما زامنو !دا ځوان چې اوس ستاسې تر مخ ولاړ دې که څه هم په ښکاره توګه ډېر عاجز او مسکین تر سترګو کېږي. خو زه یې په تندې باندې د ځلیدونکو ستورو په څیر رڼا ، او د استقلال ، میړانې او بهادرۍ لیکي وینم . د هغه د سترګو او د هغه د مخ او څیرې څخه ډاګیزه کېږی چې هغه به یوه ورځ په دې تیارو شپو کې د خپل مقدر له پاره لمر ثابتیږي. که چیرې د ې د کوم لښکر سالار و ټاکل شي نو د هوا په څپو کې به د اذان د خپریدونکي نور د څپو په څیر و غځیږی. که څه هم دا وخت هغه د نیول شوې مرغۍ په څیر خاموشه ، دروند او غلې تر سترګو کېږي خو په خپل وخت سره به هغه د ښوویدونکو ، شورکونکو اوازونو په څیر په اوښتو را اوښتو سره د اور د سکروټې په شان راڅرګند شي.
شیرخان تر دې ځایه خبرې وکړی او بیا خاموشه شو اودصاحب خان څخه یې وپوښتل چې:
تا ولې زما دلښکر خلک وژلي دی ؟صاحب خان ورته په ځواب کې وویل:
ګوره فرید خانه !خلک تا ته شیرخان وایی او زه تا ته د شیرشاه په نوم مخاطب یم. ما په ځنګل کې د ګیدړو ښکار کاوه ، په د ې وخت ما او زما پلار چې له ما سره یو ځاې و ، وکتل چې څو کسه وسله وال ځوانان د یوې معصومې نجلۍ عزت او عصمت تر پښو لاندې کوی ، ما هغه نجلۍ و پیژندله ، ځکه هغه زما پیژندګلو وه ، هغه د رهتاس د راجه هرکشن لور شهزادګۍ ګنګا وه. شیرشاه !نجونې نایابه او ډېر ارزښتناکه ګوهر دې ، په دې اساس زه سمدستې دخپل پلار سره یو ځاې د رهتاس درا جه هرکشن د شهزادګۍ ګنګا د خوندې ساتلو په خاطر مخته ورغلم . هغه وسله والو ځوانانو چې هغه یې پورته کړې وه او غوښتل یې و یې تښتوی ، پرما او زما په پلار را کیښودل ، بدقستمۍ سره چې په دې مقابله کې زما پلار له منځه ولاړ . خو ما هم هغوې ټول له منځه یوړل . ما د شهزادګۍ ګنګا عصمت او عزت خوندې وساته او هغه مې د هغه د پلار د پړاو په لور سلامته واستوله. د هغې پلار هملته د ښکار د ځاې سره نژدې پړاو کړې دې. په همدې وخت کې ستا وسله والو ځوانانو زه محاصره کړم او ستا تر مخه یې راوستلم ، بس زما جرم او ګناه همدومره وه. که چیرې د کومې معصومې نجلۍ عزت او عصمت خوندی ساتل ګناه وی نو زه بیا مجرم یم او د هرې سزا له پاره چې تاسې یې راکوئ تیار یم.
دصاحب خان د ټولو خبرو د اوریدلو وروسته شیرخان غوښتل کومه پریکړه وکړي چې دوه اس سپاره په ډېره ګړندۍ توګه هلته را ورسیدل ، هغوې دخپلو آسونو څخه را کښته شول اوپه ډېره بیړه باندې را نژدې شول او د شیرشاه څخه یې د څه ویلو له پاره اجازه وغوښتله . شیرخان ورته د نژدې راتلو حکم وکړ ، بیا دهغوې دواړو څخه یو کس چې عمر یې نسبتا زیات و دشیرخان سره نژدې کیناست او په ډېر راز سره یې ورته په غوږ کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره شیرخان ! زه د کوچي قبیلی سردار یم. زما نوم فدایی خان دې ، دغه خ،ان چې ستا تر مخه ولاړ دې د هغه نوم صاحب خان دې ، دا زما غلام دې. شیرخانه ! ایا ستا په ذهن کې د ملک سکا په نوم د یوه کس نوم راځی ؟ د هغه په دې خبره شیرخان ټکان شانته وخوړ او ویی ویل:

هو ! زه خو ملک سکا ډیر ښه پیژنم ، هغه زمونږ کورني غلام و ، بیا زما د پلار د سختیو په اساس هغه مونږ پریښودو او ولاړ. د هغه په دې خبره فداې خان سمد ستی وویل: و اوره شیرخانه ! هغه ملک سکا چې ستاسې کورنی غلام و او بیا ستاسې څخه و تښتید نو ماته راغې او د خپلو دواړو زامنو مقرب خان او صاحب خان سره یو ځاې زما غلام شو . دا درې واړه پلار او زامن د ګیدړو په ښکار کې ډیر زیات ماهر دي ، د هغه وخته چې دوې دلته راغلی نو زما په لاسته راوړنه کې ډیر زیات زیادښت راغلی دې ، شیر شاه ! دغه ځوان صاحب خان چې همدا اوس ستا تر مخه ولاړ دې د همغه ملک سکا زوې دې ، اودغه ځوان چې له ما سره یو ځاې دلته ستا دربار ته راغلې د هغه ورور مقرب خان نو میږی چې د صاحب خان مشر ورور دې.

د فداې خان د دې څرګندونو په اساس شیرخان د خپله ځایه را پورته شو او د مقرب خان سره یی ډیر ښه روغبړ وکړ او بیا فداې خان ورته وویل: شیرخانه ! زه به تاته دا هم ډاګیزه کړم چې ستا کوم وسله وال ځوانان چې د صاحب خان په لاسو وژل شوی دي ، هغوې هغه خلک و چې غوښتل یی د رهتاس د راجه هرکشن لور شهزادګۍ ګنګا له ځانه سره پورته کړی او بې عصمته او بې ابرو یی کړي ، په دې اساس صاحب خان د شهزادګۍ ابرو او عزت خوندی ساتلې ، او د دې تر څنګ دا باید هم درته ډاګیزه کړم چې صاحب خان د راجه هرکشن د لور شهزادګۍ ګنګا سره ډیره مینه لری او غواړی هغه د خپل ژوند ملګرې و ګرځوي خو بدبختي داده چې شهزادګۍ ګنګا ترې نفرت او کرکه کوي. او صاحب خان نه خوښوی ، کیدې شې چې د دې علت د صاحب خان مسلماني وی یا دا چې صاحب خان یو غلام دې او هغه نه غواړې د یوه غلام سره یو ځاې شپې سبا کړي.

تر دې ځایه د خبرو وروسته فدایی خان خاموشه شو ،نو شیرشاه هغه او مقرب خان نور هم د خپله ځانه سره را نژدې کړل. کله چې هغوې د شیرخان سره نژدې کیناستل نو بیا شیرخان په خپل مخکې ولاړ صاحب خان ته وویل:

صاحب خانه ! دا چې تا د رهتاس د راجه هرکشن د لور شهزادګۍ ګنګا د عصمت او عزت د خوندې ساتلو په خاطر زما عسکر وژلی دی ، په دې اړه به له تا څخه پوښتنه ګرویزنه و نه شي. په اقدس ذات قسم خورم چې که چیرې د یوې نجلۍ د عزت او عصمت د ساتلو په خاطر تا د دې څخه لس وارې زیات کسان هم وژلې واې نو بیا به هم ما ستا په ذات باندې فخر او ویاړ کاوه. و اوره ! هغه کسان چې تا د دې مقدس کار له پاره وژلې دی ، نو که هغوې ستا د لاسو څخه خوندی هم پاته شوې واې نو ما به یی دلته سر له تنو جدا کړې و. زه ډیر افسوس کوم چې د هغو ځوانانو په لاسو ستا پلار ملک سکا هم وژل شوې دې. ملک سکا زما د کورنۍ میراثي غلام و . زه د هغه په مړینه ډیر زیات غمژن شوې یم. اوس زه نه غواړم چې ته پس له دې در په در ژوند تیر کړې. خو اوس را ته همدومره ووایه چې ته یواځې ګیدړې ښکاروې او که په تورې وهلو او د تیغ وهلو په فن کې هم مهارت لرې ؟

دشیرخان د دې پوښتنې په ځواب کې صاحب خان تر ډیره وخته پورې په فکر کې ډوب و ، بیا یی خپله سینه پرانسته او د عزم او استقلال د جذبې نه په ډک اوزا سره یی وویل: ګوره شیرشاه ! که ته غواړې ما په خپل لښکر کې شامل کړې نو زه تا ته ډاډ درکوم چې لکه څنګه مې چې په پخوا وختو کې په ځنګلونو کې ګیدړې ښکار کولې نو له دې وروسته به ستا دښمنان هم ښکار کوم. شیرشاه ! زه نه پوهیږم چې ستا ښی او چپ لورې ته څوک ناست دي نو که چیرې ته یی را وپیژنی نو زه د هغوې تر مخه یو څه ویل غواړم. د هغه په دې خبره د شیرشاه په مخ او څیره کې د خوشحالۍ نښې نښانې را وځلیدې او بیا یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره صاحب خانه ! زما ښي لورې ته زما زامن ناست دي او زما چپ لورې ته زما عسکري جنرالان ناست دي. دغه په دې خبره صاحب خان خپله سینه نوره هم پرانسته او خپله غړۍ یې پورته کړه او په ډېر جرئت سره یې وویل:

شیرشاه ! ستا نه پرته ستا زامنو او ستا سالارانو ټولو ته بلنه ورکوم چې دغګوې له ډلې څخه چې هر څوک غواړې له ما سره دحرب او ضرب په فن کې مقابله وکړي ،نو که چیرې ما دغګوې د هر یوه څخه ماتې وخوړه ، او ناکام شوم نو بیا به ټول ژوند ستا په غلامۍ کې تیروم او که چیرې زه دغګوې په مقابل کې بریمند شوم نو بیا کوم مقام چې ستا خوښه وي ماته یې راکړه.

دصاحب خان ددې خبرو په اوریدو سره شیرخان تر یوه وخته پورې هغه ته په توصیفي سترګو سره وکتل او بیا یې په استفهامیه بڼه خپلو زامنو ته وکتل او ورته یې وویل: ګورئ: ما چې د صاحب خان په اړه کومه اندازه لګولې وه هغه بلکل سهي را ووتله ، زه پوهیږم چې ستاسو څخه یو هم دغه سره د تیغ وهلو مقابله نه شئ کولې. خو تر هغو چې زما د سالارانو پورې اړونده ده نو په دې وخت کې هیبت خان نیازي تر ټولو ستر تیغ وهونکې او ځواکمن انګیرل کیږي ، ددې ترڅنګ برهم جیت هم ددې دعوا لری او وایی چې په دې فن کې هغه ته ،دغه کوم دویمګړې نه تر سترګو کیږي. زه فکر کوم چې ددوې دواړو څخه به یو یې د صاحب خان په مقابله کې ازمینښت کوم ، د شیرشاه ددې وړاندیز په اړه دغه زوې عادل خان په خنداکې وویل چې:

دروندہ پلاره ! ما ته خو دا صاحب خان د خپل وړور په څیر ښکاری. په دې اساس زه نه غواړم چې دغه سره مقابله وکړم. او زما نور ورونه به هم دا کار و نه کړي ، خو دا چې ته غواړې هغه د برهم جیت او یا هیبت خان نیازی سره مقابله وکړي ، نو دا راته ډیره سهی ښکاري ، هسې خو هیبت خان د عمر له اړخه د صاحب خان څخه ډیر مشر دې ، لږ تر لږه دوه هومره توپیر به یې موجود وي ، او برهم جیت هم همداسې درو اخله. په هرصورت و به ګورو چې صاحب خان ددې دواړو په مقابله کې څه ډول را څرګند یږی ، خو پلار جانه زه تاته یوه مشوره درکوم. دغه په دې خبره شیرشاه په ډیره مینه دخپل ځوې عادل خان په لور وکتل او ور څخه یې وپوښتل چې څه ډول مشوره ؟عادل خان ورته وویل:

دورندہ پلاره ! زما په آند زمونږ په ټولو سالارانو کې هیبت خان د جسمانی او فزیکې اړخه ډیر توانمند تر سترګو کیږی.نو په دې خاطر دهمدې هیبت خان نیازي ځواک اوفن د صاحب خان په مقابل کې وازمایه. تر څنګ یې برهم جیت د تورې وهلو او د تیغ وهلو په فن کې دیر عیار او چالاکه ګڼل کیږی ، نو د تورې وهلو له پاره د صاحب خان سره برهم جیت را مخته کړه. شیرخان دغه ددې خبرې سره توافق وکړ او ورته یې وویل چې همداسې به وکړو.

ددې پریکړې وروسته شیرخان خپل سالاران هر یو هیبت خان نیازي او برهم جیت را وبلل. دواړه دشیرخان مخې ته را غلل او و دریدل ، شیرخان اول د هیبت خان نیازي لورې ته وکتل او ورته یې وویل:

هیبت خانه ! خپله وسله دې لرې کړه ، اوپه سر او بازوګانو دې چې کوم او سپنیز خولونه تړلي هغه هم را پرانیزه. هیبت خان د شیرخان دحکم سره سم خپل ټول جنګې سامان له ځانه لرې کړ او لوڅ و درید. شیرخان ورته وویل چې د صاحب خان په لور ورشه او د هغه سره د خپل جسمانی ځواک مقابله وکړه. تر څنګ یې صاحب خان ته مخ کړ او ورته یې وویل:

صاحب خانه !ما ستا سره د مقابلې له پاره خپل دوه کسه سالاران ټاکلي دي ، چې د یوه نوم هیبت خان دې او دبل نوم برهم جیت. هیبت خان به له تاسره د جسمانی ځواک مقابله کوی ، په دې مقابله کې به هیڅ ډول وسله نه استعمالیږي ، او بیا به د تیغ وهلو مقابله وی ، هغه به زما سالار ابراهیم جیت له تاسره کوي ، ایا تاته زما دا خبره قبوله ده ؟دغه په دې خبره صاحب خان وویل چې: شیرشاه !ته حاکم یې او ستا هره پریکړه ماته دمنلو وړ ده. او زه هیله کوم چې زه به ستا د هیلو مطابق عمل وکړم. ددې خبرې سره سم شیرخان هیبت خان نیازی را مخته کړ او د مقابلې د پیلیدو حکم یې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيبت خان د ډيرو اوچتو قدمونو سره مخته راغې . کله چې صاحب خان ته را نژدې شو نو ودريد ، بيا يې په يو ډول سپکوالی او حقارت سره صاحب خان ته مخ کړ او ورته يې وويل : اې د ليوانو او ګيدړو ښکارکونکيه ! واوره ! تا څه فکر کړې چې ته به د لته زما د اقا شيرخان په وړاندې زما سره مقابله وکړې . تا خو په ځنګلونو کې دليوانو او ګيدړو ښکار کاوه او همغه در ته ګټندوې و . د انسانانو ښکارکول ستا په وس کې ندی . ته يو کوچې بنجاره يې . ستا د تيغ وهلو او دا ډول مقابلو سره څه کار دې . دهغه په دې خبرو باندې صاحب خان ځواب ورکړ او ورته را غبرګ شو .

هيبت خانه واوره ! ته ماته يو ګذار راکړه او بيا ووينه چې پاې به يې څه وي ؟ دهغه په پايلو کې به زه تاته و ښايم چې د ګيدړو او ليوانو د ښکار کولو تر څنګ زه خپل مقابل لورې هم ښکار کولې شم . کله چې ته له ما سره په ټکر کې شې نو دهغې نه څو لمحې وروسته به دا ناست پاست خلک ووينې چې زه څنګه ستا د ذهن کوڅې د ژړا او ستا د زړه تندې جزيرې د چغو او واويلاو په زخمونو ډکوم

هيبت خانه واوره ! ما د يوه غلام او کوچې نبجاره په څير په خپل ژوند کې تر اوسه تياره درواز ې تر شا ټکولې . خو نن به ستا بدن ټکوم ، او ستا عزت به د خاورو سره خاورې کړ م ، او ستا د ساګانو شاهراه به ورانه ويجاړه کړم ، مخته راشه او ماته ګذار راکړه ، بيا به زه تا ته خپل ځان در وښايم . بيا به دغه ټول خلک ووينی چې د مقابلې په دې ډګر کې ذليل څوک دې او فاتح څوک .

هيبت خان واوښت را واوښت او بيا را مخته شو او خپل ښې لاس يې پورته کړ او غوښتل يې چې صاحب خان ته يو درو ند ګذ ار ورکړي ، خو صاحب خان په خپل ځاي باندې ارام ولاړ و . څنګه چې هيبت خان خپل سوک په هوا کې پورته کړ نو صاحب خان هم متحرک شو او د هيبت خان په سوک يې سوک ورکړ ،کله چې ددواړو لاسونه په پوره سختۍ يو دبل سره په هوا کې ټکر شول نو هيبت خان د درد له لاسه تاو را تاو شو په داسې حال کې چې صاحب خان ورته خندل .

په ترتيب دوه درې ځلې هيبت خان خپل ښې لاس پورته کړ او هڅه يې وکړه چې صاحب خان باندې ګذار وکړي خو صاحب خان هر ځل دهغه سوک په خپل سوک باندې تم کاوه . ددې وروسته صاحب خان دفاع پريښوده او ديوې بې روحه او بې حرکته ستنې په څير و دريد . دهغه په دې کار باندې د هيبت خان حوصله زياته شوه او يو په بل پسې يې درې څلور درانه ګذارونه د صاحب خان په اوږو ، غاړه او سينې باندې وورول . صاحب خان دا ټول ګذارونه په ډير صبر او زغم سره واخستل ،خو کله چې د صاحب خان له لورې کوم عکس العمل را څرګند نه شو نو بيا هيبت خان په خپل ځاې لږ څه انديښمن شاته شو ، په همدې وخت کې يې هيبت خان ته وويل :

ګوره هيبت خانه ! داسې بريښې چې ستا په ضرب کې کوم ځواک او قوت نه دې پاته . هيبت خانه ! په دې کې شک نه شته چې زه يو کوچې او بنجاره يم خو دهغه وخته چې هوش را پيدا شوې د ځنګلي ځناورو ښکار کوم ، خو هيبت خانه ما ستا نوم مخته کيښود اودا اندازه مې وکړه چې ته به د ځنګلي ځناورو په څير پر ما حمله وکړې او ماته به ستا تر مخه دفاع کول ستونزمنه شي ، خو ته زما تر مخه د ميږي اوپسه په څير ثابت شوې ، تا ماته څلور پنځه درانه ګذارونه راکړل خو تا وکتل چې ما دهيڅ ډول تکليف او اذيت څرګندونه هم و نه کړه . ددې نه دا ثابتيږي چې چې ستا په سوک کې ، ستا په ګذار کې هيڅ ډول روح نه شته . زه به تاته دضرب ورکولو يوه نمونه وښايم ، ددې خبرې سره سم صاحب خان هيبت خان دغاړې لاندې په يوه قوی سوک وواهه ، د هيبت خان پښې په زمکه ولړزيدې او پړمخ په زمکه پريوت .

داسې بريښيده چې په صاحب خان باندې ليونتوب راغلی وی ، هغه په ډيره بيړه ورمخته شو او هيبت خان يې درې څلور لغتې نور هم وواهه ، هيبت خان د لکه د درو ند بار لاندې اوښ په څير د درد او تکليف څخه بړ بړې وهلې . بيا صاحب خان هغه د ويښتانو څخه و نيو ، را پورته يې کړ او څو څپيړې يې په مخ او خوله باندې وواهه ، هيبت خان يو ځل بيا د درد او تکليف په اساس په زمکه باندې پړمخه را پريوت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خان یو ځل بیا په توپانې توګه ورمخته شو ، بیا یې د ویښتانو څخه و نیو او په یوه ټکان سره یې هیبت خان د زمکې څخه را پورته کړ ، یولاس یې د هغه په څټ کې او بل یې د هغه په پښو کې ورکړ او بیا یې په دواړو لاسو پورته کړ او په هوا کې یې را زوړند کړ ، تر ډیره پورې یې په فضا کې دګول دایرې په شکل کې و ځرخاوه او بیا یې هغه د ډیرې بې وسۍ په حال کې د شیرخان په پښو کې ور و غورځاوه.

ددې کار په کولو سره صاحب خان شیر خان ته مخ کړ او ورته یې وویل: زه د ځنګلې ځناورو ښکارکونکی غلام یم خو دهیبت خان په څیر امیر انسان زما یوګذار هم و نه شو زغملای. کله چې دا هیبت خان میدان ته د مقابلې له پاره راغې نو زه دهغه دنوم څخه وویریدم او فکر مې کاوه چې دهغه تر مخه به ماته خپله دفاع کول هم ستونزمنه شي. مګر دا خو بلکل د خاورو او موم په څیر ثابت شو ، ما هغه ته څو ګذارونه ورکړل خودې ظالم خپله دفاع هم ونه شوه کړای ، څرګنده نه ده چې دا څه ډول هیبت خان دې چې دهغه په ضرب کې نه جوش شته ، نه ولوله او نه ځواک او نه قوت.

دصاحب خان ددې خبرو په اوریدو سره شیرشاه په خپل ځای باندې ناست و او تر ډیره پورې په خندا شین و ،تر څنګ یې په ډیره مشفقانه توګه د صاحب خان په لور وکتل او بیا یې ورته وویل:

صاحب خانه ! زما دا سالار د ډیر زیات ځواک او قوت خاوند دې ، خو ما وکتل چې دا ستا تر مخه د وزې په څیر کمزورې شو. ددې څخه زه په دې ورسیدم چې صاحب خانه ته د هیب خان نه هم پورته هیبت خان یې. تا هیبت خان مغلوب کړ اودا دې وښوله چې ته ډیر ستر او عظیم یې.ٓپه لاشریک خدای مې سوګند چې تا د هیبت خان په وهلو سره دا ثابته کړه چې ته د لښکرو د سالارۍ وړتیا لرې.

په ځواب کې ورته صاحب خان وویل: شیرشاه ! زه ستا ددې خبرو شکریه ادا کوم ، تر اوسه خو مقابله نیمایې شوې ده ، د هیبت خان سره خو زما مقابله یوازې جسمی مقابله وه او هیڅ ډول وسله په کې نه استعمالیده ، اوس به زه ستا ددویم جرنیل برهم جیت انتظار کوم ، چې هغه میدان ته را ښکته شي ، زه به دهغه سره وسله واله مقابله کوم او هغه به د تیغ وهلو مقابله وي. د صاحب خان په دې خبرو باندې شیرشاه خپل سالار برهم جیت را وباله ، برهم جیت سمد ستي را پورته شو او د شیرخان مخې ته را غې او ودرید. په همدې وخت کې شیرشاه د لاس په اشارې سره صاحب خان هم را وباله او بیا یې ورته وویل:

صاحب خانه ! هیبت خان ته د ماتې د ورکولو وروسته زه دې پایلو ته رسیدلی یم چې تا دخپل لښکر اعلی سالار و ټاکم ، ګوره ! اوس په سر باندې خول ، په جسم باندې ډال او په اوږو باندې د اوسپنې خولونه را واچوه ، ځکه دا هغه جنګې سامانونه دي چې برهم جیت هم په ځان اچولی دي. تر څو ته د هغه سره د تیغ وهلو مقابله وکړای شې. ما دا ټول هر څه ستا له پاره را غوښتې دي.

دهغه په دې خبره صاحب خان سمد ستي وویل:

درونده شیرشاه ! ماته د دا ډول جنګې سامانونو درا غوښتلو هیڅ اړتیا نه وه ، زه به ددې برهم جیت سره په همدې حالت کې، لکه څنګه چې یم ، د تیغ وهلو مقابله کوم. زما توره او زما ډال همدا ا وس د میدان په منځ کې پراته دي ، اجازه راکړئ چې هغه دهغه ځآیه را واخلم او د برهم جیت مقابلې ته راشم.د صاحب خان ددې ځواب په اړه شیرخان لږ څه فکر وکړ اوبیا یې خپل سالار برهم جیت ته وویل:

برهم جیته ! ته هم خپل ټول جنګې لباس له ځانه ښکته کړه . او د صاحب خان په څیر یوازې خپله توره او ډال له ځانه سره و ساته . دهغه په دې خبره برهم جیت سمد ستي متحرک شو او په خپل ځان اچولی ټول شیان یې له ځانه لرې او هیسته وا چول . هغه دخپلو لاسو څخه او سپنیزې لاس پټونی او د اوږو څخه اوسپنیز خولونه هم لرې کړل . بیا شیرخان دواړو ته د میدان منځته د ورتللو او هلته د تیغ وهلو دمقابلې د پیلولو حکم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میدان ته د ورکیوتلو سره سم دواړو صاحب خان او برهم جیت په یوه ټکان سره خپلې توري د تیکو را وویستلې ، او خپلډالونه یې سنبال کړل ، بیا برهم جیت خپله توره په هوا کې خوځوله او د صاحب خان څنګ ته راغې او ورته یې وویل:

ګوره صاحب خانه ! ته تر اوسه پورې ځوان یې او درته د تجربې ، زغم او تحمل اړتیا ده ، زه دا خبره منم چې تا به جسماني ځواک کې هیبت خان ته په ډېره اسانۍ سره ماته ورکړه خو تیغ وهل یوازې د ځواک او قوت لوبه نه ده ، هغه ته د یرې تجربې ، فن او پوهې اړتیا ده ، ماته ته تر اوسه پورې په دې کار کې خام معلومیږي ، ځکه چې تا تر اوسه پورې یوازې د ګیدړو او لیوانو ښکار کړې دې ، د انسانانو سره دې مقابله نه ده کړې ، او فکر کوم چې ستا په دې لنډ ژوند کې دد ې تجربې وخت درته نه دې تر لاسه شوې . د هغه په دې خبرو باندې صاحب خان ورته وویل:

ګوره برهم جیته ! دا سهی ده چې ما به د یوې کوچی قبیلې د غلام په څیر په ځنګلونو کې یوازې د ګیدړو او لیوانو ښکار کړې وي ، خو ګوره برهم جیته ! ستا په پرتله هیبت خان د یوه لیوه په څیر و ، خو کله چې ما هغه لیوه مات او مغلوب کړ نو ستا حیثیت د هغې په مقابل کې د ګیدړې په څیر دې ،ستا ماتول ماته ډ ې اسانه دی . په کومه غلطه انګیرنه کې ځان مه ور غورځوه ، چې ته ډیر پوه تیغ وهونکې یې . او که نه پښیمانه به شې . برهم جیت د هغه په دې خبرو باندې بیزارې و ښووله او ورته یې وویلې:

ګوره صاحب خانه ! ته ولې د خپل ژوند غوښتنې او ارمانونه کونډوې، ولې خپل ځان د روح او بد ن په اختلاف کې وراچوې ، کله چې زه درباندې حمله وکړم نو ته به خپل ځان د سوزیدلې شپې دخوبونو په څیر درویزه محسوس کړې . ته تر اوسه پورې ځوان یې او تر اوسه د وخت د ګوډو لمحو کې په امصاګانو باندې روان یې . نو په دې اساس دا مقابله په ډېر احتیاط سره وکړه ځکه د تیغ وهلو فن دهر چا په وس کې نه وی او نه پرې هرې سرې پوهیدې شي . د هغه په دې خبره صاحب خان سمدستې وویل :

ګوره برهم جیته ! دا به وخت وو ایې چې څوک د تجربو په امصا ګانو باندې مخته ځی . هسې خو زه تاته داډ درکوم چې کله چې زما او ستا ترمنځ ټکر وشي نو زه به ستا د تجربو په ټولو لمحو کې زهر ورګډ کړم . تا چې د موسمونو په یخوالي کې دپخوالی کوم زوړ څادر له ځانه را تاو کړې دې زه به هغه څادر له تانه را پریباسم . ګوره برهم جیته ! هغه څه چې زه یې درته وایم ، هغه درته په عملی توګه ښایم ، که څه هم هغه زما له پاره زما د وجود ، زما د روح او زما د ژوند په قیمت تمام شي . اوس نو ځنډ مه کوه ، پر ما حمله وکړه تر څو دا مقابله پیل شي ، دهغه به دې خبره برهم جیت سمدستې را مخته شو او په صاحب خان باندې یې دخپلې تورې ګذار وکړ.

صاحب خان د برهم جیت د تورې دا ګذار په ډېره اسانۍ سره په خپل ډال سر ه تم کړ، تر لږه وخته پورې دواړو په سوکه توګه یو په بل باندې یرغلونه او ګذارونه کول ، بیا صاحب خان د سوکه والی دا لوبه ختمه کړه او د برق په څیر او په ډېره ګړندۍ توګه یې په خپل مخکې جنګیدونکې برهم جیت باندې حمله وکړه . برهم جیت تر یوه وخته پورې په پوره میړانې سره مقابله وکړه خو بیا هغه د صاحب خان د تیزو او ګړندیو حملو ترفشار لاندې راغې او ځان یې بې وسه محسوساوه ، برهم جیت اوس د صاحب خان د تیرو حملې لاندې د زغم د نه راوړلو په اساس شاته تګ پیل کړې و .

معامله اومقابله خپل انجام ته رسیدونکې معلومیده ، برهم جیت چې خپل ځان یې بې مثاله تیغ وهونکې ګاڼه ، اوس یې ډېره ستومانتیا احساسوله ، دهغه د ظاهرې حالت څخه هم دا را څرګندیده چې دهغه کیفیت اوس داور سره د اینښول شوو اوبو د پوکنیو په څیر ګر زیدلې دې . ترډېره وخته پورې صاحب خان برهم جیت په میدان کې په شا تګ کې ځغلاو ، ان تر دې چې هغه دا انداز ه وکړه چې اوس نو برهم جیت د سر نه تر پښو پورې په خولو کې ډوب شوې دې . برهم جیت څو ځله هڅه وکړه چې خپل ځان د دفا ع څخه وکاږی او په جارحیت لاس پورې کړې اولکه څنګه چې صاحب خان هغه د میدان څخه په شاته ځغلولو کې مجبور کړې و په همدې توګه هغه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خان سره و کړي خو دصاحب خان په حملو کې دومره تیزوالې ، دومره ځواکمني او دومره پوخوالې و چې دبرهم جیت هره هڅه یې د ناکامۍ سره مخ کوله ،

د لږڅه مقابلې وروسته صاحب خان په زوره د الله اکبر د تکبیر غږ پورته کړ او برهم جیت ته یې وویل : برهم جیته ! ځان کلک کړه زه به اوس تاته خپل رنګ در وښایم ددې خبرې سره سم صاحب خان خپله ښۍ پښه د زمکې څخه پورته کړ ه او په چپه پښه باندې را وڅرخید اویو ځل بیا یې د تکبیر اواز پورته کړ اوخپله توره یې په برهم جیت باندې را پریښوده ، برهم جیت غوښتل د هغه د تورې ګذار په خپله توره باندې تم کړی خو د هغه توره د یوه ګذار سره دوه ټوټې شوه ، یو اځې د تورې لاستې د یوې وړې ټوټې سره د هغه په لاس کې پاته شو. په همدې وخت کې صاحب خان د فاتح په څیر وخندل او بیا یې برهم جیت ته وویل:

برهم جیته ! زما نوم صاحب خان دې ، که څه هم زه د کوچې قبیلی د سردار غلام یم او ما په تیرو وختو کې د ګیدړو او لیوانو ښکار کړې دې خو باید تاته دا هم ډاګیزه کړم چې زما توره نه یو اځې انسانی جسم بلکه اوسپنه هم دوه ټوټې کوي ، برهم جیت د خپلې ماتې ، د خپل ذلت اود خپلې تورې د دوه ټوټې کیدو وروسته ډیر زیات خجله او شرمنده شانته شوې و . بیا یې د هغه ماتې شوې تورې لاستې هم وغورځاوه او ټیټ سر خپل ځاې ته راستون شو او هملته کیناست.

شیرخان د خپله ځایه را پورته شو ، مخته راغې او صاحب خان یې په غیږ کې و نیو ، د هغه تندې یې ښکل کړ او بیا یې ورته په ډیر پلرنی شفقت سره وویل :صاحب خانه ! هغه وخت چې تا هیبت خان د خپل قوت او ځواک په څرګندولو سره مات کړ نو په هماغه وخت کې ما ته د خپل لښکر سالار ټاکلې وې، او اوس چې تا برهم جیت په ډیره اسانه توګه د تیغ وهلو په فن او مقابله کې مات کړ اودهغه توره دې هم دوه ټوټې کړه نو اوس مې ته د خپل زوې په څیر ومنلې ، ته به دلته زما په لښکر کې د اعلی سالار په څیر دنده تر سره کوې او زما په نزد به ته زما د زوې حیثیت لرې . وایه ! دغه دواړه انعامات دې قبول دې او کنه ؟ د هغه په دې خبره ترې صاحب خان په ډیره عاجزۍ سره شکریه وکړه او ورته یې وویل:

شیرشاه ! زه پوهیږم چې زما په ژوند کې یو ستر بدلون او انقلاب راغلې دې ، زما په څیر یو غلام دا فکر او سوچ هم نه شو کولاې چې زه به په ځنګل کې ګیدړې اولیوان ښکار کوم اوبیا به دکوم یو اعلی او بهترین حکمران د فوځ سپه سالار ګرځم. تا چې ماته کوم مقام او عزت را کړې نو د هغې له پاره زه ستا ډیر زیات شکر کونکې یم . شیرخان ورته وویل : ګوره صاحب خانه ! زه له تاسره یو ځاې ستا ورور مقرب خان هم په خپل فوځ کې را شاملوم ، هغه به هم د یوه سالار په حیث په فوځ کې دنده تر سره کوي ، زه ډاډمن یم چې هغه به هم ستا په څیر په توره وهلو کې همداسې تورزن وي. صاحب خانه ! اوس به د فوځ د سپه سالار په څیر ستا خیمه زما دخیمی تر څنګ دریږی او هغه عزت ، وقار ، دبدبه او جلال چې زما زامنو ته په لښکر او ریاست کې ور په برخه دې هغه به وروسته له دې تاته هم در په برخه وي . زه همدا اوس تاته دخپلې خیمی تر څنګ دخیمی د درولو انتظام کوم تر څو ته په هغې کې قیام او ارام وکړې ، دهغه په دې خبره صاحب خان وویل:

شیرشاه ! زما محترمه ! ایا ماته ددې اجازه شته چې زه ولاړشم او د خپلې کوچی قبیلې څخه خپل سامان له ځانه سره راوړم. شیرخان ورته وویلې : هو ! تا ته په دې اړه اجازه شته خو ته به ژر بیرته را ستنیږې. بیا شیرخان د کوچي قبیلی سردار فداې خان ته وکتل او ورڅخه یې وپوښتل:

ګوره فداې خانه ! ته د کوچیانو د قبیلې سردار یې او صاحب خان او مقرب خان هم له تاسره په دې قبیلې کې دغلامانو په څیر ژوند کوي ، یعنې دا دواړه ستا غلامان دي ، اوس وو ایه چې ته دوې دواړه د څومره قیمت په مقابل کې ازادوې ، دهغه دخبرې په ځواب کې فدایی خان په ډیر ادب او احترام سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کرم او عنایت چې تا په دې دواړو ورونو باندې کړی دی د هغې مثال نه تر سترګو کیږي ، ګوره شیرخانه !دوې دواړه زما غلامان وو اوماته دهغوی دپلار ملک سکا د مړینې په اړه ډیر درد را رسیدلی دی ، خو د ګیدړو او لیوانو په ښکار کولو کې دوی درې واړو پلار او زامنو ماته دومره شتمنی را کړې ده چې دوی لا دپخوا څخه د خپلې ازادۍ قیمت ادا کړی دی ، نو په دې خاطر دهغوی د ازادۍ له پاره زه هیڅ هم نه غواړم . زه دا دواړه ورونه دهمدا اوسه ازادوم ،ترڅو هغوی ستا په لښکر کې د سالارانو په څیر کار وکړي. دهغه په ځواب باندې شیرخان د هغه ډیره شکریه وکړه اوبیا صاحب خان، فدایی خان او مقرب خان درې واړه شاته شول.

د لږ څه واټن وهلو وروسته فدایی خان صاحب خان ته مخ کړ او ورته یې وویل :

صاحب خانه زویه !ما ته په دې اړه هیڅ معلومات نه و چې ته د شیرشاه کسانو نیولی یې او دلته یې د شیرشاه دربار ته راوړې یې. ما ته خو دا خبر د رهتاس راجه هرکشن را لیږلی و او تر څنګ یې دا هم راته ویلی و چې زه ستا ساتنه وکړم اود شیرخان څخه دې خلاص کړم. کیدې شی تا په ځنګل کې د راجه کرشن د لور شهزادګۍ ګنګا عزت اوعصمت خوندي ساتلی وی. خو دلته په راتلو سره ، زویه ، یو ستر انقلاب راغی. دلته چې د مقابلې په وخت کې تا دخپل ځواک ، قوت او فن کومه مظاهره وکړه ، نو زویه ، ته همغې د زمکې څخه اسمان ته پورته کړې ، زه تا ته د شیرخان د فوځ دسپه سالارۍ اودهغه د زوې کیدو په اساس د زړه له کومې مبارکې وایم ،صاحب خانه ! زما زویه !هغه وخت چې د رهتاس راجه هرکشن ماته پیغام را ولیږه چې ستا په تعقیب پسې راشم نو هغه دا پیغام هم را لیږلی و چې کله چې د شیرخان څخه صاحب خان را خلاص کړل شي نو ورته ووایه چې له ماسره خامخا یو ځل ووینې ، راجه هرکشن لا تر اوسه هملته پړاو کړی دی ، په دې خاطر ته د هر څه لمړۍ دراجه هرکشن د پړاو په لور ولاړ شه ، اوبیا کله چې دهغه ځایه فارغ شوې نوبیا د قبیلې په لور راستون شه ، تر دې وخته پورې به ما او مقرب خان ستا سامان را ټول کړی وي ،بیا ته دخپل ورور سره یو ځای بیرته دشیرخان پړاو ته راستون شه. صاحب خان دهغه د دې خبرې سره اتفاق وکړ اوبیا درې واړه په خپلو خپلو آسونو باندې سواره شول او په ډیره ګړندۍ توګه یې دخپلو ځایو په لور و ځغلول.

**۵**

په ګړندۍ توګه د خپل آس د راځغلولو لږه شیبه وروسته صاحب خان د راجه هرکشن پړاو ته را ورسید. دهغه پړاو د کرم ناسه او سون ددریابونو تر منځ په یوې غرنۍ لړۍ کې پروت و . هغه ځای کې ګڼ ځنګلونه و او دا دواړه دریابونه د ګنګا د دریاب معاونین ګرزیدلی و . دپړاو په منځ کې صاحب خان خپل آس ځغلاوه اونیغ د راجه هرکشن محل شکله خیمی ته ور سید.

دخپله آسه را ښکته شو او هلته ولاړ ساتونکې ته یې وویل: زه راجه را بللی یم ، کیدې شی تاته په دې اړه هم معلومات وي. ساتونکې ورته وویل: چې که څه هم په دې اړه ماته معلومات نه شته خو ته تللې شې. ځکه چې ستا په تلو راتلو باندې کوم بندیز نه شته .صاحب خان دهغه شکریه ادا کړه اوبیا خیمی ته دننه ور ننوت ، هغه وکتل چې په مخامخ کوټه کې پخپله راجه هرکشن اودهغه لور شهزادګۍ ګنګا هلته ناست دي او په خپلو منځو کې په کومه خبره سره بحث کوي ، څنګه چې صاحب خان هلته ور ننوت نو لمړۍ خو ګنګا خپل مخ ترې وګرځاوه اوبیا دهغه ځایه پورته شوه اوپه ډیره غصه او بیزارۍ سره دهغه ځایه ووتله اودخیمې بلې خونې ته ولاړه .

راجه هرکشن دخپلې لور په دې کرغیړن حرکت سره ډیر په فکر کې ولوید خو خپل ځان یې سره کنترول کړ اودخپل لاس په اشارې سره یې صاحب خان ته د کیناستو ځای ځیګې ور وښود او ورته یې وویل :صاحب خانه ، را څه کینه . ته ولې ولاړ یې. ما خو فدای خان ته پیغام وراستولی و چې تا را ته ضرور را ولیږي ، اوس وایه کله چې ته دشیرخان عسکرو و نیولی نو څه ډول سلوک یې درسره وکړ. په ځواب کې ورته صاحب خان په خندانه خوله وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره راجه ! کيدې شي تا ته دا خبر را رسيدلې وي چې هلته په ځنګل کې ما دشيرشاه سورې د څو وسله والو ځوانانو څخه ستا د لور شهزادګۍ ګنګا عزت او عصمت خوندي کړ ، دهغه ددې خبرې سره سم راجه هرکشن سمد ستې دهغه خبره پرې کړه او ورته يې وويل چې : ګوره صاحب خانه ! زما زويه ! تا ته ددې خبرې کولو اړتيا نه شته چې تا د ګنګا عزت خوندي ساتلې دې اودهغې وروسته د شيرخان کسانو ته د ځنګل څخه له ځانه سره بندې يوړې ، که چيرې ته دلته زما ځاې ته را رسيدلې واې نو په ډاډمنه توګه به مې ستا ساتنه کړې واې. اوس را ته ووايه چې هغوې له تا سره څه ډول سلوک وکړ.

صاحب خان ورته په خندا کې وويل:

ګوره راجه: کله يې چې زه دشيرخان دربار ته ور وستلم ، نوهغه زما سره ډير زيات د انصافه کار واخست ، هغه زما ددې کار څخه ډير خوشحاله شو چې ما د هغه د وسله والو ځوانانو څخه د يوې معصومې نجلۍ عزت او عصمت خوندی ساتلې دې. بيا هغه زه دخپلو دوو سالارانو سره د مقابلې له پاره را وبللم دهغوې نومونه هيبت خان نيا زی او برهم جيت وو. دهيبت خان نيا زی سره ما د جسمي قوت د ازمايلو مقابله درلوده خو ما هيبت خان په ډيره اسانۍ سره لاندې کړ. کله چې ما د هيبت خان څخه د جسمانی ځواک د ازميښت مقابله وګټله نو شيرخان زه د خپل فوځ سالار و ټاکلم ، خو کله مې چې دهغه دبل سالار برهم جيت څخه د تيغ وهلو مقابله هم وګټله نو شيرخان ماته دخپل زويولۍ خطاب هم راکړ. اوس نو زه د شيرخان د زويولۍ تر څنګ دهغه د فوځ سپه سالار هم يم ، دهغه څخه مې اجازه اخستې او راغلی يم تر څو د خپلې کوچې قبيلې څخه خپل سامان را ټول کړ م او بيرته را ستون شم. درا ستنيدو وروسته به په تل پاتې توګه په لښکر کې او سيږم. په لاره کې را ته زمونږ د قبيلې مشر فدا يی خان وويل چې تا خپل ځان ته را بللې يم ، ما فکر وکړ چې کيدې شي له ما سره کوم کار ولري ، دهغه په دې خبره راجه هرکشن دخپله ځايه را پورته شو او صاحب خان ته يې وويل چې ته دلته لږ کينه زه سمد ستی بيرته را ستنيږم ، ددې خبرې سره سم راجه هرکشن هغه کمرې ته ور ننوت چې لږ څه مخته ورته شهزادګۍ ګنګا ور ننوتلې وه ،

هغه خبرې چې د راجه هرکشن او دهغه د لور شهزادګۍ ګنګا تر منځ هلته په خونه کی کيدلې نو صاحب خان په ډيره ښه توګه اوريدلې ، په دې خاطر صاحب خان هملته غلې ناست و او هڅه يې کوله چې خبره په پوره توګه واوري ، په دې وخت کې هرکشن خپلې لور شهزادګۍ ګنګا ته وويلې:

ګنګا لورې ! زه غواړم چې ته د صاحب خان څخه د خپل ناغيره سلوک او بد و الفاظو د استعمال په خاطر بښنه وغواړې ، هغه پر تا ډير احسان کړې دې ، ستا پت ، ستا عزت او ابرو يې خوندی ساتلې ده هغ ستا ژوند او ستا د عصمت ساتنه وکړه او تا ورته په مقابل کې سپکې سپورې وويلې. ګوره لورې !صاحب خان همدا اوس دلته زمونږ په خيمه کې ناست دې ، زه غواړم چې ته د هغه څخه همدا اوس ، دخپل ناوړه سلوک په اړه ، بښنه و غواړې. د خپل پلار په د ې خبرو باندې شهزادګۍ يو زه تروه کړه اوپه ډير قهر او غضب سره يې ورته وويل:

پلار جانه ! ته غواړې زه دهغه صاحب خان په څير د يوه مسلمان ، لالچي ، بنجاره.... څخه د خپلې رويې او سلوک په اړه بښنه وغواړم ، زه د يوه رياست (هيواد ) شهزادګۍ يم او هغه يو معمولې ښکارې ، هغه هم د ګيدړو اوليوانو ښکارې ، ذليله اوپست انسان دې. زه به ولې دهغه څخه بښنه غواړم ، هغه د يوه ذليله ټيټ ذات انسان دې او دپورته ذات د خاوندانو سره نه ښايي چې د ذليله او ټيټ ذات د خلکو څخه بښنه وغواړي ، دهغې په دې خبرو باندې راجه هرکشن سمد ستې غبرګون و ښود او ورته يې وويل:

ګوره لورجانې ! دهرم مونږ ته هيڅکله هم دا اجازه نه راکوي او نه را ته دا ښوونه کوی چې په انسانانو کې دې ښکته او پورته ذات وجود ولري ، دا ټوله لړۍ هغو برهمنو دخپلو ګټو له پاره جوړه کړې ده. دهرم مونږ ته ددې اجازه نه راکوي ، لورې. لورجانې ! هغه ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پت ، ابرو او عزت ساتلې دې او تا ور سره ډېر نا غيره او ناجاړه سلوک کړې دې ، ولې دې په خپله خپل ځان هغه ته مجرم ثابت کړې.
دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا يو ځل بيا وويل:
پلارجانه ! ته ما ته دهغه سره د نامناسبه سلوک په اړه ، د هغه څخه د بښنې د غوښتلو له پاره اصرار کوې ، خو هغه به سبا بيا دا هم درته وو ايي چې زه د شهزادګۍ ګنګا سره مينه کوم ، بيا به ته را ته داهم وايې چې اوس زه دهغه وينځه و ګرځم او ټول عمر دهغه خدمتګاره شم ، زه به هيڅکله هم دا سې و نه کړم ، مونږ په هغوې باندې د پخوا څخه ډېر زيات احسانات کړي دی ، هغه دلته د ګيدړو پوستکي راوړي او مونږ دهغې دخوښې قيمت ورکوو ، هيڅکله مو هم دهغوې سره بد ديانتي او ناروا سلوک نه دې کړې ، په دې خاطر مونږ پر هغې احسان کړې دې او هغه همغه زمونږ پر ورکړل شوي مال او شتمنيو باندې مزې چړچې کوي ، په دې خاطر به زه هيڅکله هم دهغه څخه بښنه و نه غواړم. دهغې په دې خبره راجه هرکشن وويل:
ګوره لورې ! که چيرې د شيرخان عسکرو ته پورته کړې وې او له ځانه سره يې وړې وې ، او ته يې بې عزته او بې عصمته کړې وې نو فکر وکړه چې ستا دپلار ، ستا د کورنۍ او ستا درياست له پاره به څه پاته شوې و ، زه خو وايم چې هغه ستا محسن ، مربی او ساتندوی دې ، دهغه څخه بښنه وغواړه. دخپل پلار په دې اصرار سره ګنګا تنګه شوه او ويې ويل ، ته همدلته اوسه زه به دهغه سره خپل حساب خلاص کړم ، بيا ګنګا د خپلې خيمې څخه د نقدی پيسو يوه کڅوړه را واخسته او هغه خونې ته ورغله چېرې چې صاحب خان ناست و .هغې دا دپيسو کڅوړه د صاحب خان په غيږ کې ور واچوله او بيا يې په ډېره کرکه او نفرت سره ورته وويل: ګوره د ګيدړو ښکار کونکې او دهغو څخه پوستکې ويستونکيه او د کوچې قبيلې د ټيټې ذات غلامه !دا چې تا د شيرخان دوسله والو ځوانانو څخه زما عزت او ابرو ساتلې ده دا دهغې معاوضه او انعام دې ، درواخله.
د شهزادګۍ ګنګا ددې خبرو څخه صاحب خان ډېر نا ارامه شو په ډېره غصه او قهر سره را پاڅيد او د نقدي پيسو هغه کڅوړه چې څو لحظې مخکې ګنګا د هغه په غيږ کې ور اچولې وه ، راواخسته په زوره يې د ګنګا په خوله ور ويشتله. ګنګا هيڅکله هم د صاحب خان څخه دداسې سلوک هيله نه درلوده . دهغې رنګ تک ژير شوې و . په زمکه پرته د پيسو کڅوړه يې را پورته کړه او بيا يې غوښتل د صاحب خان سره نوره هم بد زبانی او نا غيرې وکړی چې په همدې وخت کې راجه هرکشن خونی ته راننوت او ګنګا ته يې وويلې: ګوره لورجانې ! ته ولاړه شه ، اوس به زه د صاحب خان سره خبرې وکړم. ګنګا په ډېرو درنو پښو سره هغه بلې خونې ته بيرته ستنه شوه ، خو راجه هرکشن د صاحب خان سره هملته کيناست او د شهزاګۍ د ناروا سلوک په اړه يې ترې بښنه و غوښتله ، وروسته يې بيا په ډېره رازدانه توګه دصاحب خان سره خبرې پيل کړې ، تر ډېره پورې دواړه هملته ځانته يو ځاې ناست و ، بيا صاحب خان ترې را ووت او ولاړ.

۲

د صاحب خان د تللو وروسته راجه هرکشن دخپله ځايه پورته شو او هغه خونې ته ولاړ چې شهزاګۍ ګنګا په کې لا تر اوسه پورې د غصې نه تکه سره ولاړه وه. هرکشن ورته را نژدې شو او په ډېره مينه او محبت سره يې ګنګا له خپله ځانه سره را و نغاړله ، او بيا يې په خپل پلرنی شفقت سره ورته وويل:
ګنګا لورې !ګوره ، ته خپله غصه هيسته و غورزوه ، ما ستا په اړه يوه ډېره ستره پريکړه کړې ده ، دهغه په دې خبره ګنګا خپل پلار ته وکتل او ور څخه يې و پوښتل چې: پلار جانه ، څه ډول پريکړه ؟ هرکشن ورته وويل: ګوره لورې ددې ځايه د تللو وروسته زه غواړم ستا د سوئمبر انتظام وکړم ، او په ډېره غير معمولې توګه به زه ستا سوئمبر جوړ وم ، هر هغه ځوک چې په سوئمبر کې بريالې شول نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه سره به دې واده کوم. زه به دې سوئمبر ته د شاوخوا د رياستونو شهزادګان هم را بلم او دخپل رياست عام جنګجويانو ته به هم د برخې اخستلو له پاره غږ کوم ، ايا زما دا وړانديز ستا له پاره دمنلو وړ دې ؟

د خپل پلار هرکشن ددې وړانديز څخه شهزادګۍ ګنګا خوشحاله شوه ، او په نرۍ شانته خندا کې يې وويل: پلار جانه ! زه ستا ددې وړانديز سره متفقه يم ، هر هغه څوک چې په دې سوئمبر کې بريالې شي نو زه به هغه دخپل ژوند په ملګرتوب باندې په وياړ سره خپل کړم. دشهزادګۍ ددې ځواب په اوريدو سره راجه هرکشن ډير زيات خوشحاله شو . او بيا يې وويل: اوس نو لورجانې ته ارام وکړه ، زه په پړاو کې قدم ووهم ، دهمدې خبرې سره سم هرکشن دخيمې څخه بيرون ووت ،

دبله اړخه صاحب خان د هرکشن دخيمی څخه د وتلو سمدستې وروسته خپلې کوچيانۍ قبيلې ته راغې ، دهغه ځايه يې خپل ټول سامانونه را ټول کړل ، اودخپل ورور مقرب خان سره يو ځاې دهغه ځايه را ووت او په تل پاتې توګه د شيرخان لښکر ته را ستون شو او په لښکر کې يې د اعلې سالار په توګه خپل کارونه پيل کړل.

۷

شيرخان يعنې شيرشاه سوري چې په دې وخت کې د ګنګا او کرمناسه ددريابونو تر منځ دخپل لښکر سره يو ځاې پړاو کړې و ، هغه په ډيره انديښنه کې ناست او د همايون د فوځونو د راتلو انتظار يې کاوه. همايون هم دخپل يو ستر لښکر سره د شيرشاه سورې د ځپلو له پاره را روان و. او غوښتل يې چې په هرصورت چې شوني وی د شيرشاه سوري څخه د بهار سيمه بيرته په خپله ولکه کې واخلي ، خو په دې وخت کې يو ډير ستر او بې مثاله انقلاب راغې ، چې دهمدې بدلون له مخې همايون د شيرشاه سوري په لور د راتللو پريکړه بدله کړه او د اګرې په لور وګرځيد .

هغه د څو تيرو کلونو راهيسې په همدې توګه غوښتل په ګجرات کې د بهادرشاه مغل حکومت ړنګ کړې او غوښتل يې ريښې يې په هندوستان کې له بيخه و کاږي ، هغه ددې کار له پاره عجيب او غريب پلانونه جوړول. پخپله بهادرشاه د ګجرات په تخت باندې د ۱۵۲۲ ز کال راهيسې ناست و او لمړی هندوستانی حکمران و چې د بابر د پانې پت او کنوه په جنګونو کې يې دحرب د فنونو استعمال زده کړې و.

بيا هغه د خپل ځواک د زيادښت له پاره دترکانو او مغلو په څير يو منظم فوځ جوړ او هغه يې په ډيرې خطرناکې توپخانې باندې سنبال کړ. هغه ددې کار له پاره د قسطنطنيې څخه د ترکانو په لاسو جوړشوی توپونه او دهغوې روزل شوې توپچيان را او غوښتل ، ددې څخه علاوه يې د پرتګاليانو څخه هم توپونه او بارود تر لاسه کړل.

د بهادرشاه دې نوې منظم فوځ په خپلو ټولو هندوستانې مخالفينو باندی برلاسې تر لاسه کړې و. دهمدې نوې منظم جوړشوې فوځونو په شتون کې هغه د اتو کالو په دوران کې يو ډير ستر سلطنت جوړ او د هندوستان کې د شهنشاه بابر او همايون څخه يې د مختنه تللو هڅې پيل کړې.

خو دومره هوښيار و چې خپل دغه مقاصد يې د بابر او همايون څخه پټ و ساتل ، هغه د خپل سياسی تدبر له لارې همايون ته همدومره څرګنده کړه چې هغه غواړې د مغلو د واکمنۍ نه بيرون دخپل سلطنت پولې پراخه کړې.

کله چې همايون د شيرشاه د ځپلو له پاره دخپل فوځ سره دې لورې ته حرکت وکړ نو په همدې وخت کې د ګجرات د پادشاه بهادرشاه فرمان په جنوب کې د خانديش نه تر اجرنګر پورې د اطاعت وړ و . په شمال کې د سيند د ارغون حکمران خليج د پاراس څخه په ويره کې و . او د شرق په لور يې هم د بابر او همايون څخه لوبه بايلودې وه. هغه د مالوه او راجپوتانه به بيابانو او ځنګلو کې هم خپله سکه چلوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په مالوه کې نوي بلکه هوښیاره حکمران منګوخان چې په قادر خان باندې مشهور و ، خپلې لورې ته را واړوه ، او په راجپوتانه کې یې د مختلفو راجاګانو ترمنځ بغض ، کینه او حسد ته وده ورکړه او ددې کار څخه یې پوره پوره ګټه پورته کړه.

په راجپوتانه کې یې د ناګور ، او داجمیربانسواړه ، او ډونګر پور پورې او د الود عبود څخه تربوندي پورې او انتر رنتهمبور پورې هیڅ داسې حکمران نه و چې د بهادرشاه دحکم څخه مخالفت او یا سرغړونه وکړي.

د میواړ خپلواکي د بهادرشاه د جارحانه حملو تر مخه په زنګون شوې وه ، د **۱۵۳۵** ز کال څخه مخته د ګجرات فاتح فوځونه د مالوه څخه تیر شول او هندیل کنډ پورې ورسیدل . لنډه خبره دا چې لکه څنګه چې د پانی پت د جنګ نه وروسته بابر ته راناسانګا ډیره خطرناکه ثابت شو نو دهغې څخه په لسګونو واره زیات د بهادرشاه دغه نوې راټوکیدلې فوځ د مغلو دځواک له پاره ګواښ ګرځیدلې و. خو بیا هم همایون د خپل ساده والی په اساس دا ګمارله چې بهادرشاه د غیرمسلمانو سره جنګونه کوی او په دې توګه د اسلام د اشاعت او خپرولو کار پرمخ بیایی. پخپله د مغلو پادشاهان دا سلام ددین یو اځې نمایندګان ګڼل کیدل .

ددې تر څنګ کله چې همایون د شیرشاه سوري پر خلاف په حرکت راغې او دهغه دځپلو په اړه په فکر کې ډوب و نو بهادرشاه په چتوړ باندې حمله وکړه ، حمله هغه وخت تر سره شوه چې همایون د شیرشاه په لور حرکت کړې و . نو بهادرشاه دهمایون د نه موجودیت نه په ګټې اخستلو سره غوښتل چې د چتوړ ملکه کرم وتي چې د راناسانګا کونډه وه او د مهاراجه بکرم جیت ، چې په دې ورځو کې لا بالغ شوې نه و ، مورو وه په خپله ولکه کې راوړي او دخپل سلطنت پولې نورې هم وغځوي.

هغه وخت چې د ګجرات ځواکونو په راني کرم وتي باندې فشار راوست نو هغې سمدستی همایون ته یو سفیر ور واستوه ،اودهغه څخه یې د کومک غوښتنه وکړه ، خو همایون په دې وخت کې هغه ته کوم ډاډمن ځواب ور نه کړای شو ، ځکه چې هغه په دې ورځو کې دشیر شاه سوري د ځپلو له پاره هغه لورې ته روان و . اوغوښتل یې چې په هر صورت چې شونی وی شیرشاه سوري دخپلې مخې لرې کړي.

دبهادرشاه له پاره دا ټولې پیښې ډیرې ګټورې ثابتې شوې. خو بیا هم پخپله بهادرشاه د مغلو دحکومت او ځواک په مقابل کې ډیر محتاط قدم اخست. همدا راز شیرخان هم و ، ځکه چې په دې دواړو د مغلو د بادشاهۍ رعب او ویره خپره شوې وه.

د چتوړ په راني کرم وتي باندې د یرغل وروسته د ګجرات حاکم بهادرشاه خپل څو کسه سفیران د سوداګرو په لباس کې دشیرشاه سوري په لور ور واستول اوهغه ته یې دا وړاندیز وکړ چې دواړه یو ځای شي او د مغلو دحکومت پر خلاف حمله وکړي ، شیرشاه سوری د شرق له اړخه او د ګجرات فوځ دې د غرب له اړخه په اګرې او دهلی باندې حمله یوسي.

هغه سفیران چې د سوداګرو په لباس کې شیرشاه سوری ته ورلیږل شوی و نو بهادرشاه دهمغوی په لاسو څه ډیر رقم هم شیرشاه سوري ته ورلیږلې و . او هغه ته یې دخپل ځان سره د رایو ځای کولو بلنه ورکړې وه.

شیرشاه سوري ډیر د عقل خاوند او دور اندیشه حکمران و . هغه د بهادرشاه د سفیرانو څخه نقدي روپۍ واخستلې خو د نه ورتللو له پاره یې بهانه وکړه ، او بیا خو دا عام دستور دې چې هغه خلک چې پیسې اخلی د هغو خلکو څخه چې ورکوی یې ډیر عقلمند وی ځکه چې هغوې د نورو د جیبونو څخه پیسې راباسي او خپل جیب پرې ډکوي.

په حقیقت کې په دې وخت کې شیرشاه سوري نه غوښتل د بهادرشاه د سیاست په دام کې ونښلي ، او خامخا دې د مغلو د جنګ ډبره په خپله سینه وو هي ، په اصل کې شیرشاه سوری ددا سې موقع او فرصت په لټه کې و چې د بهادرشاه ددې حرکتونو په واسطه د همایون توجه هغه لورې ته شي او دې ته څه موقع او فرصت تر لاسه شي او په دې جریان کې خپل فوځونه نور هم غښتلي کړ ي ، په دې ترتیب حالات د شیرشاه سوري په حق کې بدلیدل را بدلیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګجرات پادشاه بهادرشاه له یوه اړخه همایون ته قیمتي تحفې او د محبت نه ډک لیکونه ور استول او په دې ترتیب یې هغه ته دهوکه ورکوله ، اودبله اړخه یې د راجپوتانه په پولو باندې خپل فوځونه را ټولول. شونې ده چې دهغه اراده به په چتوړ د حملې کولو وه ، هغه وخت چې د چتوړ رانۍ کرم وتي د همایون څخه د کومک غوښتنه کړې وه او د همایون له اړخه ورته کوم ډاډمن ځواب نه و تر لاسه شوې نو د بهادرشاه حوصله نوره هم زیاته شوه ، نو په دې خاطر یې یو سالار تاتارخان د یوه ستر لښکر سره یو ځای د پنجاب په لور و لیږه ، تر څو هغه د پنجاب له لارې د مغلو د حکومت مرکز دد هلی د ښار پر خلاف سنګرونه و نیسي ،

د نړۍ په تاریخ کې د همایون په څیر ساده انسان چې دوست او دښمن دواړو په اسانۍ سره غولولې شو ، تر اوسه پورې په تخت نه دې ناست . هغه په همدې ستونزمنو حالاتو کې هم دشیرشاه سوري په خلاف بنګال او بهار ته حرکت وکړ او کلکه اراده یې کړې وه چې شیرشاه هملته وځپوي ، خو هغه دګجرات د خطرناک حاکم بهادرشاه په څیر دښمن د پلانونو څخه خبر نه شو .

همایون دخپل دغه ستر لښکر سره یو ځای د شیرشاه سوري په لور په پرلپسې توګه مخته تګ کاوه ، په همدې وخت کې د اسې یو بدلون رامنځته شو چې همایون ته یې یو ټکان ورکړ. ځکه د همایون د نه موجودیت څخه په ګټې اخستلو سره د ګجرات حاکم بهادرشاه چې کوم سالار تاتارخان دخپل لښکر سره یوځای د مغلو د سلطنت د مرکز دهلی د ځپلو له پاره استولې و نو د تاتار خان ګرمې وینې او جوش او جذبې هغه ټوله لوبه خرابه کړه . هغه د سوکه سوکه کار کولو په ځای په ډیره ګرمه توګه په اګره باندې ور پریوت ، څرنګه چې همایون ته په اګره باندې دکوم بیروني ځواک د راختلو ویره نه وه نو په دې خاطر یې هلته ددفاع کولو کوم خاص انتظام هم نه و کړې. هماغه و چې د بهادرشاه سالار تاتار خان دخپل لښکر سره یو ځای د اګرې په شاوخوا سیمو کې د مغلو ځواکونه ښه و ځپل ، تر لرې لرې پورې یې تباهي خپره کړه او د مغلو په سلطنت کې یې یو ډول ویره او خوف را پیدا کړ . همایون ته دا خبر هغه وخت ور ورسید چې هغه د خپل لښکر سره یو ځای د کالپې نومې یو کلې څخه بیرون پړاو کړې و . کله چې هغه ته دا بد خبر ورسید نو هغه د شیرشاه په لور مخته تګ پریښود ، اودخپل لښکر یوه برخه یې را جدا کړه اودخپل ورور عسکری مرزا په قومندانۍ کې یې د تاتارخان د ګوشمالي کولو له پاره ور ولیږله

همایون په دې پوهیده چې بهادرشاه یو ځواکمن حکمران دې نو په دې خاطر هغه ته دګوشمالي ورکولو په اړه همایون هم ډیر محتاط و . هغه نه غوښتل په څرګنده توګه د بهادرشاه سره ټکر وکړي ، همغه و چې هغه د کالپې څخه بهادرشاه ته یو لیک و لیکه چې په هغې کې یې د تاتار خان دحرکت څخه سخته خوابدي ښوولې وه ، تر څنګ یې د اګرې په لور د لیږلو په وخت کې دخپل ورور عسکرمرزا شاته پخپله هم د پاته لښکر سره یو ځای د اګرې په لور حرکت وکړ تر څو د بهادرشاه سره دا ورانه مشوره بیرته جوړه او بیا د شیرشاه پر خلاف د حرکت له پاره تیار شي .

د همایون ورور عسکري مرزا د بهادرشاه د سالار تاتار خان په دې حرکت باندې سخت په قهر او غضب شوې و . نو په دې اساس یې په تاتارخان باندې ناڅاپي حمله وکړه . په دې وخت کې د تاتارخان دلښکرو حالت ډیر بې نظمه و . زیات شمیر افغانان او نور وګړي د هغه په لشکر کې د غنیمت د مالونو په خاطر را یو ځای شوي و . هغه وخت چې د مغلو لښکر و د عسکری مرزا په قومندې باندې په تاتارخان باندې حمله وکړه نو د تاتارخان د کرایه دغه لښکر تارو مار شو او و تښتید. دهغوې دې کار د تاتار خان په اصلي فوځ باندې هم ډیر ناوړه اغیز وکړ.

په هر صورت د مندرائیل په سیمه کې چې د اګرې سره اړونده ده ، د بهادرشاه د سالار تاتار خان او د همایون د ورور عسکری مرزا دلښکرو تر منځ سخت جنګ وشو ، په جنګ کې عسکري مرزا تاتارخان ته ډیره بده ماتې ورکړه او د تاتارخان څټ یې هملته ور پرې کړ . د بله اړخه بهادرشاه هم په همدې ورځو کې د چتوړ سیمه محاصره کړې وه ، کله چې بهادر شاه ته خبر ورسید چې دهغه د فوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالارتاتار خان ماتې خوړلې او تر څنګ يې تاتار خان هم له منځه تللې دې اودا چې همايو ن د شيرخان په لور مخته تګ پرې اينبې او بيرته اګرې ته راستون شوې نو بهادرشاه ډيرې ويرې واخست ، که څه هم هغه د چتوړ محاصرې ته دوام ورکړ خو تر څنګ يې همايون ته هم د هغه د احتجاجي ليک ځواب ووايه ، همايون ته داليک په اګره کې ورسيد. په هغه ليک کې بهادرشاه د تاتارخان ددې ناوړه کار د مسؤليت داخستلو څخه انکار کړې و او دا يې د هغه خپلسري ګڼلې وه. دبهادرشاه دې ليک په همايون باندې ډير زيات اغيز وکړ ، ددې وروسته د همايون او بهادرشاه تر منځ د ليک د ليږلو را ليږلو لړۍ روانه وه ، هر يوه ، يو بل ته درې درې ليکونه و ليکل ، او دهغې ځوابونه يې وويل. بهادرشاه په خپلو ليکونو کې دهمايون خپل ځان پالنه را وپاروله ، هغه ته يې ددين ساتونکې ووايه ، او دمذهب اوشريعت په نامه يې دهغه څخه وغوښتل چې لږتر لږه د چتوړ د مهم په وخت کې ، چې يو ډول جهاد دې ، مداخله نه کوي.
د بله اړخه همايون هم چې غوښتل يې د شيرشاه سورى پر خلاف يو ځل بيا حرکت وکړي ، د بهادرشاه پر خلاف يې دومره توجه و نه کړه ، ددې پايلې دا شوې چې بهادرشاه د خپلو سياسى چالونو په واسطه خپل ځان د همايون د کنترول څخه ازاد کړ. ددګجرات د حاکم بهادرشاه له لورې د ډاډ څخه وروسته همايون د خپل لښکر سره يو ځاې د اګرې نه بيرون د زرفشان په باغ کې قيام وکړ. او بيا يې د شيرشاه پر خلاف د اګرې نه کوچ وکړ. تر څنګ يې دبنګال د حاکم محمود په لور يو قاصد ور وليږه چې هغه دې هم دخپل لښکر سره تيار اوسي تر څو د شيرشاه سورې پر خلاف په عملياتو کې ګډون وکړي.

٨

درهتاس راجه هرکشن د لرې او نژدې ټولو رياستونو څخه راجاګان د خپلې لور شهزادګۍ ګنګا د سوئمبر (ددريمى ورځې دمقابلې دوړونکې) له پاره اعلانونه وکړل. د دې مقابلو له پاره شرط دا و چې د دوه اونيو د وقفې نه وروسته به درې ځلې دا مقابلې صورت نيسي ، اوهر هغه جنګجو يه او ننبه ويشتونکې ځوان چې په پرلپسې توګه درې ځلې دا مقابلې وګټي نو همغه به د شهزادګۍ ګنګا دژوند ملګرې ګرځي.
اوس نو ددې مقابلو لمړۍ ورځ وه ،هلته د رهتاس د کلا نه بيرون د جشن په څير ميلې لګيدلې وې ، بې شميره خلک راټول شوي و ، د رهتاس د رياست د داخل څخه هم زيات شمير جنګجويان او اتلان په دې مقابلو کې دبرخې اخستلو له پاره را ټول شوي و. په داسې حال کې چې د شاوخوا د راجاګانو څخه د راې سين د راجه پورن زوې سانولداس ، د ميواړ د راجه سنګرام سنګ زوې سورج مل او د کالنجر د راجه بيرسنګ بنديله زوې سورداس هم دې مقابلو کې د برخې اخستلو له پاره را غلي و.
د رهتاس د کلا نه بيرون د خلکو ازدحام ډير زيات و ، تر هغه ځايو چې د سترګو نظر رسيده هلته خلک او ګڼه ګوڼه وه. دوې ټول په يوې ګول دايره کې سره را ټول شوى و ، اوبيا ددې ګول دايرې په منځ کې يې شاه نشين جوړ کړې و. دا ځاې د لرګيو د يوې سترې مانۍ په څير ښکاريده ، ددې د پاسه د رهتاس راجه هرکشن دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا سره يو ځاې ناست و او تر څنګ يې خپلې ټولې رانئ ګانې (خپلې ښځې ) په خپلو خپلو ځانګړيو ځايو کې کينولې وې.
د مقابلې تګلاره څه داسې وه چې يو فيل يې د ميدان په منځ کې ډير ښايسته جوړ کړې ، درولې و. د فيل په سر باندې د يوه لرګي اوږده څوکه درول شوې وه. اوبيا ددې لرګې د څوکې په سر د راجه هرکشن انځور ګرانو يوه سترګه جوړه کړې وه ، ددې سترګې شاوخوا ټول په سور رنګ سره کړل شوى و. او دا اعلان يې کړې و چې هر يو ننبه ويشتونکې او جنګجو په دغه سور رنګه ساحه او يا دهغې سره نژدې په ننبه ويشتو کې بريالې شي نو همغه به ددې لمړۍ مقابلې وړونکې ګڼل کيږى
په مقابلې کې ګډون کونکې هر يو ننبه ويشتونکې او راجاګانو ته پنځه پنځه غشى ورکړل شوي و او کله چې ددې پنځو غشو څخه درې يې د ننبې د ځاې سره نژدې ولګيږى نو هغه به کامياب شميرل کيږي. هلته د شاه نشين په سر پخپله راجه هرکشن ، شهزادګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنګا او د راجه نوري ښځې ټولې ناستې وې ، اودهغې نه بلکل لاندې د راجه هرکشن برهمن وزیر چورامن ناست و . هغه ته دا دنده ورکړل شوې وه چې په مقابلې کې ګډون کونکو ته پنځه پنځه غشی تهیه کړي اوتر څنګ یې په مقابلې کې د هر برخه اخستونکې نوم او کوائف درج کړي.

کله چې د راجه هرکشن په حکم مقابله پیل شوه نو تر ټولو لمړی د رای سن د راجه زوې سانول داس ته غشي ورکړل شول . د فیل د سر په سر دولاړ لرګې په سر کې چې کومه سترګه جوړه شوې وه نو دهغې څخه په لږ واټن کې په زمکه باندې ښختې ایښول شوې او چونه یې پرې اچولې وه . دهمدې ځایه به په مقابلې کې برخه اخستونکو خپل غشي دهغې سترګې په لور وارول.

د راې سن د راجه زوې سانول داس دخپلو پنځو غشو سره هملته ناست و . خپل کمان یې نیغ کړ او د سترګې سره ساحه یې په کې په نښه کړه خو دهغه دپنځه واړو تیرانو څخه یې یو هم په نښه و نه لګید . یواځې دوه غشي د سترګې ساحې سره نژدې ولګیدل پاته نور درې هسې خوشې ولاړل . د سانول داس نه وروسته د میواړ د راجه سنګرام سنګ د زوې سورج مل نوبت و هغه ته هم پنځه غشی ور ورسپارل شول ، پنځه واړه غشی یې په نښې وویشتل خو دهغه یو غشی هم د سترګې په سرې برخې باندې و نه نښت .

د سورج مل نه وروسته د کالنجر د راجه بیرسنګ بندیل د زوې سورداس نوبت راغې اوهغه هم دخپلو پنځه غشو سره یو ځای د نښې ویشتو په ځای کې کیناست . هغه هم په ډیر مهارت سره غشی وویشتل خو یو یې هم په نښه باندې و نه نښت ،

اوس نو د ریاست د داخل څخه د راټولو شوو سترو سترو نښه ویشتونکو او جنګجویانو نوبت و .تر څو هغوې هم خپل قسمت و ازمایې. خو د ټولو بدقسمتي داوه چې د یوه غشي هم د سترګې په سرې برخې باندې و نه لګید ، په اخر کې یو سپور هلته جمګټې ته را ننوت . دې سپور تور کالي اغوستې و او خپله څیره یې هم په توره ټوټه کې را نغښتلې وه . کله چې د تورلباس اغوستونکې دغه کس جمګټې ته را ننوت نو په یوه ټکان سره یې خپل آس و دراوه ، خو آس یې عکس العمل وښود او لکه د الف په څیر په هوا کې و درید او شنړار شو. کله چې آس خپل ځای ته راغې نو دغه کس ترې په یوه ټوپ سره را ښکته شو. هغه خپله توره او ډال تر ملا تړلې او را ځوړند کړې و . هغه په اس باندې تړلې کمال را واخست او په اوږه یې کیښود او دهغه لرګو څخه په سر دجوړ کړل شوی شاه نشین په لور ور وخوځید چې د رهتاس راجه هرکشن اودهغه لور شهزادګۍ ګنګا پرې ناست و او ور لاندې یې د راجه وزیر چورامن ناست و چې په مقابله کې د ګډون کونکو له پاره غشي ویشل .

په تور و کالیو کې را نغښتې دغه اجنبی نیغ د برهمن وزیر چورامن په لور ورغې اودهغه څخه یې په مقابلې کې د ګډون له پاره غشی و غوښتل ، خو دغشو د ورکولو د مخه چورامن هغه ته په ډیر غور سره وکتل او ورته یې وویل:

ګوره اجنبي ځوانه ! په مقابلې کې دبرخې اخستلو دمخه دې دغه نقاب د څیرې څخه لرې کړه تر څو چې زه او دغلته ټول موجود خلک په دې و پوهیږي چې ته څوک یې او څنګه ځوان یې او د کومه ځایه راغلې یې. خو هغه ځوان ورته وویل چې ګوره چورامنه ! ته که ماته په دې مقابله کې د ګډون کولو اجازه راکړې او که را یې نه کړې خو زه به د خپل مخ څخه دا نقاب لرې نه کړم. دهغه په دې خبره وزیر چورامن وویل چې که نقاب نه لرې کوې نو خپل کوائف خو دلته ولیکه ، خپل نوم دې وښایه ، خپله پته او ادرس دې ووایه ، تر څو زه په روزنامچه کې ستا دا کوائف درج کړم. دا په دې خاطر چې ماته دهمداسې کولو حکم کړل شوې دې. دهغه په دې خبرو باندې هغه ځوان ورته وویلې ، ګوره چورامنه ! زه خو نه خپل نوم درته ښایم او نه خپله اته پته درته لیکم ، خو چورامن ورته وویل چې که همداسې وی نو ته بیا په دې مقابلو کې برخه نه شې اخستلې. دهغه په دې خبره هغه ځوان را و ګرزید او او ویې ویل: چورامنه !که ته غواړې زه په دې مقابلو کې برخه وانخلم نو همداسې سهی ده زه به بیرته ستون شم. دهغه دد ې خبرې سره سم هلته په شاه نشین باندې ناست راجه هرکشن خپل وزیر ته په حکمي لهجې سره وویل چې چورامنه ! دې ځوان ته غشي ورکړه تر څو په مقابله کې برخه واخلی. که چیرې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان خپل نوم او خپله اته پته نه ښيي نو پراوه نه کوي ، ده ته غشي ورکړه تر څو په مقابله کې برخه واخلي. چورامن د راجه دحکم سره سم پنځه غشي دغه ځوان ته ورمخته کړل ، خو هغه اجنبی لاس ور وانږود کړ او يواځې دري يې ترې را واخستل او پاته دوه نوريې بيرته چورامن ته ورکړل. دهغه په دې کار چورامن وويل چې اې اجنبي ځوانه ، دا پنځه واړه غشي در واخله، ددې څخه به ستا په نښې ويشتو کې ښه والي راشي.

هغه اجنبی ورته وويل: ګوره چورامنه ! نښه ويشتل په دري غشو باندې حسابيږي ، ځکه چې د پنځو غشو څخه بايد دري يې په نښه و لګيږي ،نو همدا دري غشي بريالی شميرل کيږي خو زه به دخپلې نښې له پاره يوآځې همدا دري غشی را اخلم ، او زه ډاډمن يم چې زما يو غشی به هم په دې پنځو باندې درووند تمام شی. په دې وخت کې د پاسه ناست راجه هرکشن وويل: ګوره اجنبی !تا ولې خپل ځان يوا ځې ددې دري غشو پورې را و نغاړه ، نو که چيرې ته خپل قسمت ازمينښتوې اوخپل مقدر دې بهتر کوی نو بيا خو پنځه غشی در واخله ، ددې په واسطه به ستا د غشي ويشتلو اراده غښتلې شی. خو دهغه په دې خبره هغه نقاب اغوستونکې اجنبی وويل. نه راجه ! زه تاته ډاډ درکوم چې زه به دهمدې دري غشو په واسطه دخپل فن ښرګندونه وکړم.

ددې خبرې سره سم هغه نقاب پوشه ځوان يوې خوا ته شو او هغه ځآې ته چې غشی ورڅخه په نښې ويشتل کيدل ورغې ، تر لږه وخته پورې يې د فيل په سر د ولاړ لرګي د پاسه د سترګې جوړکړل شوې نښه يې و کتله ، دخپلې اوږې څخه يې هغه درووند کمان را ښکته کړ. دکمان يو سر يې په يوه ځنګون باندې کيښود اوخپل بل ځنګون يې په زمکه باندې کيښود اوبيا يې لمړی غشي په کمان کې ورکړ ، نښه يې و نيوله ، ساه يې و دروله اوبيا يې غشي په نښې ور خوشې کړ ، د هغه همغه لمړی غشي د سترګې د سرې برخې په منځ کې ور ونښت ،

ددې اجنبي په دې کار باندې په ميدان کې ټولو ناستو خلکو لاسونه و پړکول ،تر ډيره وخته پورې ميدان کې د لاسونو پړکار و ، په شاه نشين د پاسه ناستو چې کله د دغه اجنبي دا نښه ويشتل وکتل نو راجه هرکشن او دهغه دښايسته او حسينی لور شهزاګۍ ګنګا په ځيرو باندې هم خوشحالی را ښرګنده شوه.

ددې وروسته هغه اجنبی ځوان خپل دويم غشې تيار کړ او د پخوا په شان يې نښه و نيوله او دويم غشی يې په نښه وويشت. دويم غشي هم د نښې په منځ کې ورننوت ، په دې کار سره په ميدان کې يو ځل بيا غوغا شوه او دخلکو د لاسونو د پړکولو اوازونه را پورته شول. شهزادګۍ ګنګا دد ې ځو ان ددې نښې ويشتلو څخه ډيره زياته خوشحاله شوه اويو ځل د خوشحالۍ له لاسه دخپله ځايه هم را پورته شوه ، او په ډير شوق سره به يې کله د هغو غشو په لور چې په نښه کې ور ننوتي و کتل او کله به يې دد غه نقاب اغوستونکې ځوان لورې ته کتل.

کله چې د لاسونو پړکار بند شو او په ميدان کې خاموشي خپره شوه نو هغه اجنبي نقاب پوشه ځوان خپل دريم غشي را وويست او دپخوا په ځير يې نښه ونيوله ، ساه يې و دروله او خپل غشې يې د نښې په لور ورخوشې کړ ، دا غشې هم د نورو دوو په ځير د نښې په منځ کې ورننوت. په دې کار سره په ميدان کې ټول خلک د خپلو ځايو څخه پورته شول او په هغه ځاې کې د ګډا ، نڅا او په فضا کې د پګړيو او خوليو دپورته غورځولو ميله او خوشحالي راپيدا شوه. په همدې حال کې راجه هرکشن او شهزاګۍ ګنګا هم د شاه نشين نه لاندې را کيوتل ، هغه ځوان لا تراوسه هم په خپل ځاې ولاړ و دکومه يې چې دغه دري غشي ويشتلی و. راجه په ډيره ګړندی توګه لاندې راغې اودهغه سره يې غاړه ورکړه ، او ورته يې وويل چې ګوره ځوانه زه تاته ستا په دې بريا د زړه له کومې مبارکي وايم. په دې وخت کې شهزادګۍ ګنګا هم مخته راغله او ورته يې وويل: ګوره ځوانه زه نه پوهيږم چې ستا نوم څه دې خو هغه کړچار چې تا دلته تر سره کړ ،هغه ډير بې مثاله او نايابه دې. اوزه تاته ددې فن د ښرګندونې په اساس مبارکي وايم. ايا ته نه غواړې ماته خپل نوم اودرک

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښايي ؟ ځکه تا د نن مقابلې ګټلې دی. دهغې په دې خبره هغه اجنبی په نري شانته اوا ز باندې وويل: زه اوس هيڅ هم نه وايم او نه د خپلو خيالاتو څرګندونه کولې شم. ځکه چې دا د مقابلو لمړۍ ورځ ده. اجنبی ددې څخه اخوا بله کومه خبره و نه کړه ، دهغه ځايه لرې شو اوهلته په خپل نژدې ولاړ اس باندې سپور شو ، آس يې په قمچينه وواهه ، او دجنوب په لوريې په ځغاسته کړ او ډير ژر د ټولو د سترګو پټ شو. شهزادګۍ ګنګا تر ډيره پورې دغه ځوان پسې کتل او بيا يې سر ټيټ کړ او دخپل پلار راجه هرکشن سره روانه شوه.

۹

همايون د ګجرات د حاکم بهادرشاه سره د خپلو اړيکو د بيرته جوړولو وروسته يو ځل بيا د شيرشاه سوری د ځپلو له پاره د اګرې څخه روان شو. خو شايد چې قدرت ته د همايون دا کار ښه نه يست. ځکه کله چې همايون يو ځل بيا دخپل لښکر سره يو ځاې په ډيره ګړندۍ توګه د کالپی تر مقامه پورې ورسيد نو هلته ورته د چتوړ د راني کرم وتی لخوا يو قاصد ورغې.

راني کرم وتي د خپله اړخه دليرل شوی قاصد په لاسو همايون ته لاس بند (راکهي [1]) ور وليږه. (۱)(لاسبند ته په هندې کې راکهي وايي چې خويندې يې ورونو ته په خاصو وختو کې د لاسو څخه تړي.)

ددې ترڅنګ راني کرم وتي د همايون څخه د ګجرات د حاکم سلطان بهادرشاه په خلاف د مرستې غوښتنه هم کړې وه.

کله چې د راني کرم وتي له اړخه قاصد د همايون دربار ته دهغې دپيغام سره يو ځاې را ورسيد نو همايون يو ځل بيا د کالپی په مقام کې خپل لښکر تم کړ ، اودخپل لښکر د مشرانو يوه غونډه يې راوبلله ، اوهغه پيغام چې د چتوړ د راني کرم وتي له اړخه ورته رسيدلې و ،دهغوي تر مخه د مشورې او سلا له پاره کيښود. دهغه ټولو سالارانو او دهمايون نزدې دوستانو اودکورنۍ خلکو تر ډيره پورې په دې پيغام باندې بحث او څيړنه وکړه ، بيا د همايون کاکا ناصر مرزا دخپل آند د ښکاره کولو له پاره د همايون مخې ته راغې او ورته يې وويل:

همايونه زويه ! ښه او غوره داده چې مونږ بيرته ستانه شو .د شيرشاه په خلاف د حرکت کولو نه مخته مونږ بايد د ګجرات د حاکم سلطان بهادرشاه سره خپله معامله پاکه کړو. همايونه ! زما زويه ! هغه وخت چې تا غوښتل د شيرشاه په خلاف د دوييم ځل له پاره حرکت وکړې نو ما په هماغه وخت کې هم ته ددې کار څخه منه کړې وې او درته مې ويلی و چې د ګجرات حاکم بهادرشاه ډير زيات عيار او چالاکه انسان دې ، په ښکاره توګه خو هغه تاته خپل ځان مطيع او فرمانبرداره څرګندوی خو په اصل کې هغه د مغلو د سلطنت د جرړو د پريکولو هڅه اوهاند کوي ، زه به زويه ! په دې وخت کې تا ته دا سلا درکړم چې دهمدې کالپی نه بيرته ستون شه او که چيرې تا داسې ونه کړل نو بيا ياد ساته چې د ګجرات حاکم بهادرشاه به د چتوړ د سوبې نه وروسته د مالوې په لور هم حرکت کوي او په مالوه به هم خپله ولکه کلکه کوی نو که چيرې د چتوړ نه وروسته هغه مالوه هم دخپلې ولکې لاندې راوړی نو بيا به د مغلو د سلطنت مرکز دهلی هم د ګواښ لاندې راځی.

واوره همايونه زويه ! زما سلا داده چې تر هرڅه دمخه د بهادرشاه ځواکونه وځپه ، او مخته له دې چې بهادرشاه په مالوه باندې ولکه وکړې ته په خپله مالوه دخپلې ولکې لاندې راوړه ، نو بيا که چتوړ يو خپل واکه رياست پاته کيږی نو دا به د مغلو د سلطنت له پاره ډيره غوره او ددې سلطنت د ساتنې يوه ښه وي.

که څه هم همايون د خپل کاکا ناصر مرزا ددې فکر تائيد وکړ اودهغه سلا يې غوره و بلله ، خو هغه په دې لړ کې د نورو خلکو سره هم مشورې اوسلاوې کولې. دنورو خلکو په لړ کې د همايون خاص باورې شخص معيد بيګ همايون ته همغسې مشوره ورکړه او تر څنګ يې د همايون دکاکا ناصر مرزا نظر تائيد کړ ددې نه علاوه د همايون مرزا وورور عسکري او مرزا هندال هم همايون ته همغسې وړانديز

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ او ورته يې وويل چې د شيرشاه په لور د تللو تر مخه تر هر څه لمړۍ خپله معامله د بهادرشاه سره پاکه کړه ، د بهادرشاه د مغلو بولو وروسته بيا دشيرشاه وهل مونږ ته دومره ستونزمن نه دي.

په دې وخت کې دهمايون وزير معيد بيګ يوه را پورته کيدونکې ګواښ ته هم اشاره وکړه او ورته يې وويل چې که مونږ په دې وخت کې د شيرخان سره ټکر کوو نو دا شونې ده چې شيرخان او د ګجرات حاکم بهادرشاه په خپلو منځو کې کومه غوټه ګنډه کړي وي او په دې توګه به مونږ د يوه اړخه د بهادرشاه له خوا او دبله اړخه د شيرشاه له خوا تر حملې اويرغل لاندې راشو . او په دې توګه به زمونږ حالت د بد نه بدتر لورې ته ولاړشي ،.ددې حالاتو د په نظر کې نيولو په اساس همايون د شيرشاه په لور خپل وړاندې تګ تم کړ او بيرته د کالپي نوې کلې څخه د ګجرات دحاکم بهادرشاه د ځپلو له پاره راستون شو .

د کالپي څخه بيرته د ګجرات په لور د کوچ کولو نه وروسته همايون د خپل لښکر سره يو ځاې د اوه جزيرو او راې سين څخه را تير او تر سارنګ پور پورې را ورسيد . بيا يې دهغه ځايه د جنوب په لور اجين ته وګرزيد . تر دې وخته پورې د ګجرات حکمران بهادرشاه د چتوړ کلا فتحه کړې وه ، او د چتوړ راني کرم وتي دخپلې کلا د د لاسه ورکولو په اساس د هندوانو د رسم او رواج په مطابق په اور کې ځان سوځولې و.

کله چې بهادرشاه خبر شو چې د همايون لښکر قدم په قدم دهغه د سرکوبۍ له پاره مخته راځي نو هغه د چتوړ څخه ولاړ تر څو د همايون لاره و نيسي او په خپلو مفتوحه سيمو باندې خپله ولکه کلکه کړي ، خو دا به د بهادرشاه بدقسمتي وه چې کله چې هغه د همايونه سره ټکر وکړ نو همايون په ډيرجوش او جذبې سره په هغه سخته حمله وکړه اود بهادرشاه ټول ځواکونه يې تار ومار کړل او د پانړو په څير يې سره وشيندل.

دهغې وروسته دهمايون او بهادرشاه تر منځ په ځاې ځاې کې جنګونه روان و خو په هر جنګ کې همايون د بهادرشاه لښکر پسې زغلاوه، او په ذليله ماتې سره به يې مخ کاوه ، کله چې بهادرشاه په دې ډاډمن شو چې هغه په هيڅ ځاې کې نه شي کولې د همايون سره مقابله وکړي نو هغه نا هيلې ، مايوسه او ماتې خوړلې شو او خپل پاتې ټوټې ټوټې فوځ يې سره راټول او د ګجرات په لور يې خپلې پښې سپکې کړې.

د ګجرات په لور د بهادرشاه د تښتيدو وروسته، همايون د چتوړ په لور راغې ، خو دهغه د راتګ د مخه د چتوړ راني کرم وتي خپل ځان په اور کې په ورغورځولو سره سوځولې و ،خو همايون د راني کرم وتي زوې بکرما جيت ته د چتوړ تاج و تخت ور حواله کړ او په خپله د اګرې په لور وخوځيد. تر څو دخپل لښکر حالات سم کړي اود شيرشاه د ځپلو په لور يې تګ ته تيار کړي.

شيرشاه سورې تر اوسه پورې د ګنګا او کرم ناسه د دريابونو د يو ځاې کيدو په ځاې کې پړاو کړې و . کله چې هغه ته دا خبر ور سيد چې همايون د کالپي تر سيمې پورې د را رسيدو وروسته دخپل لښکر سره بيرته ستون شوې دې تر څو د بهادرشاه سره خپله معامله پاکه کړي نو شيرشاه ډير خوشحاله شو . اوس نو هغه اراده کړې وه چې دهمايون د نه موجوديت نه په ګټې اخستلو سره په بنګال باندې حمله وکړي او په بنګال او بهار باندې خپله ولکه نوره هم ټينګه کړي او بيا د مغلو د مقابلې له پاره يو مستحکم حکومت جوړ کړې تر څو په راتلونکې وختو کې که چيرې مغل و غواړي دهغه سره ټکر وکړي نو هغه د هغوې دحملو ځواب په ښه توګه ورکړاې شي . دخپلو دغو ارادو د تر سره کولو له پاره شيرشاه دخپلو سالارانو غونډه را وبلله.

شير شاه سورې دا غونډه د خپلې خيمې نه بيرون جوړه کړه ، او هلته يې خلکو ته په غونډه يو باندې د کيناستو له پاره درۍ خپرې کړې.
کله چې ټول سالاران هلته را ورسيدل نو شيرشاه د هغوې سره مشوره اوسلا پيل کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرشاه په خپله د غونډې په منځنۍ برخه کې ناست و . د هغه ښي اړخ ته د هغه زامن هر یو عادل خان ، جلال خان او قطب خان ناست و . په چپ اړخ کې تر ټولو لمړی صاحب خان و ، ځکه چې صاحب خان د شیرشاه د لښکر سپه سالار و د هغه وروسته د شیرشاه نور سالاران لکه هیبت خان نیازي ، اسمعیل سوري ، حبیب خان ککړ ، جلال خان جالو ، سرمست خان سرواني ، خان بټني ، او برهم جیت ناست وو. کله چې ټول سالاران کیناستل نو بیا هغوې ته د خپلې وینا په حال کې وویل:

زما زامنو ! زما دوستانو او سالارانو !تاسو ټول به خبر شوی یاست چې همایون چې د برق په څیر زمونږ سره د ټکر کولو له پاره د ې لورې ته را روان و ، د کالپی د سیمی څخه بیرته ستون شوې دې. هغه ته د ګجرات حاکم بهادر خان د خپل ځان او سلطنت له پاره زمونږ څخه ډیر ګواښمن راڅرګند شوې دې. هغه د همدې ګواښ د له منځه وړلو له پاره د کالپي څخه بیرته ستون شوې دې. خو اوس مونږ اراده کړې چې د هغه د نه موجودیت څخه په ګټې اخستلو سره په بنګال باندې حمله وکړو ،او په بنګال او بهار کې یو متحده حکومت جوړ کړو . تر څو په راتلونکې وختونو کې که چیرې همایون زمونږ سره د ټکر کولو هڅه وکړی نو مونږ به ورته په پوره ځواک سره ځواب ورکړې شو .

شیرشاه د لږ څه تم کیدو وروسته یو ځل بیا د خپلو خبرو لړۍ جارې وساتله او ویی ویل:

زما دوستانو ! په یاد ساتئ تر هغې چې مونږ د بهار تر څنګ په بنګال باندې هم ولکه ونه کړو نو تر هغې وخته پورې به زمونږ ځواک نیمایی شانته وي او همایون به هر وخت ددې توان ولری چې زمونږ جرړې را وکاږي او هیسته مو خطا کړي ، ددې تر څنګ د بنګال اوسنې حکمران سلطان محمود هم په تیرو وختو کې زمونږ پر خلاف ډیر ې ناروا اوې تر سره کړې د ي نو په د ې خاطر په مونږ باندې د هغه سرکوبې لازمه ده . که چیرې د بنګال تر ولکې پورې همایون زمونږ پر خلاف کوم حرکت ونه کړ نو مونږ به په بنګال او بهار کې خپل سلطنت مستحکم کړو او بیا به د رهتاس د راجه هرکشن پر خلاف قدم پورته کړو . ځکه چې هغه په خپل ځواک باندې ډیر زیات نازیږی ، هغه د همایون پر خلاف زمونږ سره د مرستې کولو نه په څرګنده توګه انکار کړې و ، اوس تاسو ووایاست چې په دې لړ کې تاسې ما ته څه ډول مشوره راکوئ ؟

دشیرشاه په دې څرګندونو باندې ټول سالاران تر یوه وخته پورې یو دبل سره په مشورو لګیا شول .د هغه وروسته هیبت خان نیازی د خپلې راې د څرګندولو په خاطر وویل: اقا ! ستا خبره بلکل سهی ده . مونږ باید بنګال باندې ولکه وکړو ، تر هغې چې بنګال زمونږ په ولکه کې نه وی راغلې تر هغې پورې مونږ د همایون پر خلاف جنګ نه شو کولې . ددې نه وروسته د صاحب خان نه علاوه نورو ټولو سالارانو خپله رایه څرګنده کړه او دشیرشاه خبره یې تائید کړه . شیرشاه تر یوه وخته پورې غلی ناست و او څه فکر یې کاوه ،بیا یې په خپل څنګ کې ناست صاحب خان ته وکتل او ورته یې وویل:

صاحب خانه زویه ! ته ولې غلی ناست یې ؟ته خو هم لږ څه ووایه. ته خو زمونږ د لښکر و اعلی سالار یې. او ستا مشوره په ټول باندې پورته ده. وایه ، ته په دې لړ کې څه مشوره راکول غواړې ؟ د هغه په دې خبره صاحب خان وویل:

شیرخانه ! په بنګال باندې ستا د حملې کولو وړاندیز ډیر په ځاې او ډیر ګټه ور دې او عملی بڼه هم لری. ځکه چې همایون اوس ددې ځایه ډیر لرې پروت دې. خو په بنګال باندې د حملې کولو نه مخته به په دوو نورو اړخونو باندې هم نظر کول په کار وي . د هغه په دې خبره شیرشاه ټکان وخوړ او د هغه لورې ته یې وکتل او ورڅخه یې وپوښتل: زویه ! ته د کومو اړخونو په اړه خبرې کوې؟ په ځواب کې صاحب خان ورته وویل:

زما ستره اقا ، درونده شیرشاه ! که چیرې مونږ په بنګال باندې حمله کوو نو د بنګال حاکم سلطان محمود به د خپل ټول ځواک سره زمونږ مقابله کوي ، خو زه هیله لرم چې مونږ به په څو ورځو کې ضرب په ضرب وهلو سره سلطان محمود د خپلې مخې لرې او د بدترینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتې سره به يې مخ کړو .او دهغه څخه به د بنګال په ولکه کولو کې بريالی شو . خودهغې وروسته به زمونږ له پاره دوو اړخونو څخه خطرات را پيدا کيږي.

لمړی خطره داده چې که چيرې زمونږ په لاسو د ماتې خوړولو وروسته سلطان محمود په تيښته بريالې کيږی نو هغه به‌ضرور د همايون په لور ور تښتي ، او زمونږ پر خلاف به دهمايون څخه د مرستې د غوښتلو هڅه وکړي.

خو که چيرې همايون د ګجرات د حاکم بهادرشاه پر خلاف په جګړه کې ښتې وي او هغه ته د سلطان محمود سره دکومک له پاره وخت تر لاسه نه شی نو بيا به هم سلطان محمود ددې څخه يو بل ستر قدم اخلي . دهغه په دې خبره شيرشاه يو ځل بيا هغه ته متوجه شو او ورڅخه يې وپوښتل چې: څه ډول قدم ، زويه ؟صاحب خان ورته وويلې:

شيرشاه ، زما محسنه او زما ستر مربي !تاسې ته ښکاره ده چې د بنګال په ساحل باندې دپرتګاليانو فوځونه ولکه لري ، او هلته ګوا ديوه سرحدي ښار نه اخوا يوه مستحکمه نظامی کلا هم ده .اوهغه د پرتګاليانو مرکز دی . د پرتګاليانو سره ډير ستر بحري ځواک شتون لری او ددې نه علاوه د ګوا په کلا کې د پرتګاليانو سره يو ستر منظم لښکر هم شته ، دد ې ترڅنګ يی دهغوی سره ډيره زياته نوې او مدرن وسله هم موجوده ده . همدا راز دوی د پرتګيزی سمندر په داخل کې د بحري غلو (قزاقانو ) دنده هم ترسره کوی ، چې دهمدې لارې يې ډير زيات مال اوشتمنی را ټوله کړې ده ، زه ددې نه ويريږم چې د بنګال حاکم سلطان محمود به زمونږ سره په جنګ کې د ماتې خوړلو وروسته د همايون له لورې د ډاډمن ځواب د نه تر لاسه کيدو وروسته د پرتګاليانو په لور مراجعه کوی او زمونږ پر خلاف به د هغوی څخه د مرستې د تر لاسه کولو هڅه اوهاند کوي . نو په دې خاطر زه وړانديز کوم چې په بنګال باندې دحملې کولو په وخت کې دغه درې واړه محاذونه په نظر کې و نيسئ ، يو د بنګال د حاکم سلطان محمود ، بل د همايون او دريم د پرتګاليانو . داسې هم شونی ده چې سلطان محمود به په يوه وخت کې هم دهمايون څخه او هم د پرتګاليانو څخه زمونږ پر خلاف بسپنه و غواړی اوپه مونږ به يرغل راوړي نو په دې خاطر ددې ټولو ځواکونو سره د مقابلې له پاره مونږ بايد چمتو و اوسو .

کله چې صاحب خان خاموشه شو نو شيرشاه سوري تر لږه وخته پورې مسکې و اوبيا يې صاحب خان ته وکتل او په ډيره مشفقانه توګه يې ورته وويل:

صاحب خانه زويه !دا چې تا مونږ ددې ټولو خطراتو څخه خبر کړو ، نو زه دې پرې خوشحاله کړم. په مهربانه خداې موې سوګند چې تا زما د سالارۍ حق ادا کړ . د يوه سالار نظر بايد همداسې ژور او هر اړخيز وي ، ګوره صاحب خانه ! زما زويه !ته انديښنه مه کوه ، په بنګال باندې دحملې کولو په وخت کې به زه دخپلو مخبرانو او جاسوسانو په ذريعه د همايون نه علاوه په پرتګاليانو هم ژور نظر ساتم .

دهغه په دې خبره صاحب خان وويل:

شير شاه ، زما محسنه !که معامله همدا ډول وی نو بيا خو په بنګال باندې دحملې کولو له پاره ځنډ نه دې په کار . ځکه همايون همدا اوس د د بهادرشاه په ځپلو لګيا دې ،نو دهغه د غير حاضرۍ څخه د ګټې د پورته کولو له پاره مونږ بايد په بنګال باندې ولکه وکړو . او خپل ځانونه مستحکم کړو . شيرخان راپورته شو او ويې ويل: که چيرې همداسې وی نو په لښکر کې د کوچ کولو بګل ووهئ ، همدا اوس او په همدې وخت کې لښکر بايد په بنګال باندې دحملې له پاره کوچ وکړي . دشيرخان دحکم سره سم د ګنګا او کرم ناسه دد ريابونو دخوا او څخه لښکر دشيرشاه تر قومندې لاندې وخوځيد او په بنګال باندې دحملې له پاره يې هغه لورې ته حرکت وکړ.

۱۰

درهتاس راجه هرکشن د خپلې لور شهزادګۍ ګنګا ددويم سوئمبر له پاره پروګرام تيار کړې و . دا ځل بيا هم د پخوا په څير د رهتاس د کلا نه بيرون په ډاګ ميدان کې دخلکو ګڼه ګونه ډيره زياته وه خو د مقابلې کولو طريقه او تګلاره ځانګړې کړل شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لمړۍ مقابله کې د سترګې تر منځ هغه سوروالې دنبنې په څېر غوره کړل شوې و خودا ځل ویل شوی چې په دې مقابله کې به هغه وګړې ګډون کوي چې په لمړۍ مقابله کې یې برخه اخستې وه . اودمقابلې تګلاره او کړچار به دا ډول وی چې په مقابلې کې ګډون کونکې هر وګړي ته به په هوا کې درې کوترې پریښول کیږي ، او دمقابلې هر ګډونکونکي ته به د پخوا په څېر پنځه غشي ورکول کیږی . دغه پنځه غشي به په درې کوترو باندې ویشتل کیږي او هر هغه څوک چې ددې پنځه غشو څخه ډیرې کوترې زمکې ته را وغورځوي نو همغه به بریالې ګڼل کیږي.

دا ځل هم سیل کونکې خلک په دایره شکله توګه سره ناست و. او هغه لوړ شاه نشین چې د لمړي سوئمبر له پاره جوړ کړل شوې و همغسې په خپل ځاې ولاړ و . ددې ځایه دپاسه د رهتاس شهزاده راجه هرکشن اودهغه لور شهزادګۍ ګنګا او تر څنګ یې رانیانی (خپلې ښځې ) ناستې وې. د میدان په منځ کې یې ښختې په دایره شکله ښه ایښودې وې او دهغې په منځ کې یې سپینه چونه اچولې وه. او مقابله کونکو ته ویل شوې و چې د ښختو ددې دایرې څخه به په هوا کې په پریښول شوو کوترو باندې غشی ور پریږدي.

کله چې مقابله پیل شوه نو د لمړۍ مقابلې په څېر تر هر څه لمړۍ د رای سین د راجه پورن مل د زوې سانولداس نوبت راغې . راجه هرکشن د خپلې شهزادګۍ لور ګنګا سره د پخوا په څېر په هماغه شاه نشین باندې په ډیر ویاړ ناست و ، اودهغه د ځاې لاندې د هغه وزیر چورامن ناست و . چورامن په مقابلې کې د ګډون کونکو نومونه لیکل او هغوې ته یې د مقابلې له پاره غشی ورکول. دا ځل هم په مقابلې کې د ګډون کونکو د کوائفو د راټولولو څخه مقصد دا و چې دهغوې د مقابلې وړتیاوې درجه بندي کړي .

کله چې د مقابلې د پیلیدو حکم وشو نو برهمن چورامن تر ټولو دمخه دراې سین دراجه زوې سانول داس ته پنځه غشي ورکړل ، هغه دخلکو تر منځه ور تیر شو او د ښختو څخه جوړې شوې ګول دایرې ته ور ننوت او هلته د نبنې د ویشتلو له پاره و درید. بیا ددغه ستر او دنګ جوړ کړل شوي شاه نشین څخه د راجه هرکشن ساتونکو د یوه ځانګړې ځاې څخه درې کوترې را پریښودې. کله چې دا کوتر ې په هوا کې پورته شوې او د میدان منځنۍ برخې ته را ورسیدلې نو سانول داس پر هغې باندې دغه پنځه غشی یو په بل پسې ور پریښول خو دهغه یو غشي هم په نبنه و نه لګید نو سانول داس ددې ناکامۍ سره سم ټیت سر د میدانه ووت.

دویم نوبت د میواړ د شهزاده سورج مل و . هغه ته هم پنځه غشی ورکړل شول او بیا ورته د ساتونکو له اړخه درې کوترې په هوا کې پریښول شوې. سورج مل ډیر دښه بخت خاوند و چې دهغو د پنځه غشو څخه یې یو په نبنه و نښت او یوه کوتره یې وویشتله. کوتره د لګیدو سره سم په هوا کې اوښته را اوښته او بالاخره په زمکه را پریوتله . د سورج مل په دې نبنه ویشتلو باندې خلکو ډیره زیاته خوشحالي احساس کړه او دهرې لورې د لاسونو پړکارو او هوا د خوشحالۍ د چغو څخه ډکه وه.

دریم نوبت د کالنجر د شهزاده سورداس و . هغه بې چاره هم ډیر زحمت وویست او پنځه واړه غشي یې دهغو کوترو په لور ور ویشتل خو دهغه بدقسمتی وه چې یو یې هم په نبنه ونه نښت.او پنځه واړه غشي هسې ضایع شول. په دې اساس هغه هم ماتې خوړلې او نامراده د میدان څخه ووت. دهغه وروسته د کورنیو نبنه ویشتونکو او جنګجویانو نوبت راغې . ددوې څخه هغوې ته غشی ورکړل شول چې په لمړۍ مقابله کې یې برخه اخستې وه . هغوې هم خپل خپل بخت ازمیښت کړ خو یو یې هم د ډیرو کوترو په را پرځولو کې بریالې نه شو.

کله چې اخری نبنه ویشتونکې میدان ته را ووت نو په همدې وخت کې هغه اجنبی آس سپور ، خپل تور رنګه آس را ځغلاوه او میدان ته را ننوت. هغه خپل اس یوې لورې ته و دراوه ، دا ځل هم دپخوا په څیر یې کله چې دخپل آس واګې را ښکلې نو آس یې په هوا کې د الف په څیر و درید ، اوډیر زیات و شنړید. په همدې وخت کې هغه اجنبی هم دخپله آسه را ښکته شو. آس یې هملته پریښود او د هغه د زین څخه یې کمان را پرانست او په خپله اوږه یې واچاوه ، نیغ دشاه نشین لاندې ناست د چورامن و زیر په لور ورغې اوورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چورامنه ! زه دلمړۍ مقابلې په خیر په دویمه مقابله کې د ګډون له پاره راغلې یم نو ایا د مخکنیو ننبه ویشتونکو په خیر ماته د مقابلې کولو او دخپل قسمت د ازمیښتولو له پاره غشي نه راکول کیږي؟ چورامن هغه ته په ډیر غور او دقت سره وکتل ،خو دا ځل د چورامن په کتلو کې د سختۍ او نامانوسیت په ځای شفقت ا و مهربانۍ را ښکارېدې. هغه دخپلې همدې مهربانۍ له لارې دغه اجنبي ته وکتل او دهغه جایزه یې واخسته ، ویې کتل چې دا ځل یې هم خپل مخ په تور نقاب کې را نغښتلې او وجود یې هم په تورو کالیو کې راپټ کړې دي. چورامن ورڅخه وپوښتل چې ایا دا ځل هم نه غواړې ماته خپل نوم او ادرس و ښيې. او یاد ې خپل کوائف له ما سره ثبت کړې. که ته نور کوائف ثبتول نه غواړې نو لږتر لږه خو خپل نوم او ننبه را ته و ښایه. دهغه په دې خبره هغه اجنبي ځواب ورکړ او ورته یې وویل:

چورامنه !دا دویمه مقابله ده. که چیرې ته ماته غشي را نه کړې نو زه به په مقابله کې د برخې اخستلو پرته بېرته ستون شم. خو په هیڅ صورت به خپل نوم او ننبان تاته و نه ښایم.

هلته په شاه نشین باندې ناستې شهزادګۍ ګنګا د دې اجنبي دا خبرې په ډیر غور او دقت سره اوریدې،د بلې اړخه څرنګه چې دغه ځوان دهغې د لاسته راوړو لمړۍ مقابله ګټلې وه نو په دې خاطر دهغه په لور په مینې سره کتل او یا د هغه په ذات او خبروکې دلچسپي اخستل د شهزادګۍ ګنګا له پاره یو ډول کمزورتیا ګر زیدلې وه.

د شهزادګۍ نه اخوا دهغه دپلار هرکشن په شونډو هم خندا خپره شوې وه ،اوپه ډیره مینه یې د خپل وزیر چورامن او ددغې اجنبي نقاب پوش تر منځ خبرې اوریدې. په دې وخت کې راجه هرکشن غوښتل مداخله وکړي اوخپل وزیر چورامن ته څه ووایي چې دهغه دمخه چورامن په خبرو پیل وکړ او هغه اجنبي نقاب پوش ته یې وویل:

ګوره زما عزتمنده اجنبي میلمه !څرنګه چې تا د شهزادګۍ ګنګا د تر لاسه کولو لمړۍ مقابله ګټلې ده نو په دې اساس په دویمه مقابله کې ستا د نه ګډون کولو پوښتنه هم نه را ولاړیږي. ګوره اجنبي ! ستا تر مخه بیشمیره غشي پراته دی دهغوې څخه د خپل ځان له پاره پنځه را پورته کړه او خپل قسمت پرې و ازمایه. دهغه په دې خبره دغه تور لباس اغوستونکي اجنبي ور مخته شو او دغشو دهغه ډیري څخه یې د پنځو په ځای یو اځې درې غشي را پورته کړل ،په همدې وخت کې ورته چورامن وویل:

ته ولې خپلې اسانتیاوې په زوره له لاسه ورکوې ؟کله چې پنځه غشي ستا حق ګرځي نو ته بیا ولې د پنځو په ځای درې را اخلې. زه تاته مشوره درکوم چې ته دخپلو پنځه واړو غشو څخه ګټه پورته کړه او هغه ټول په فضا کې د الوتونکو کوترو پر ویشتلو باندې استعمال کړه. نو که چیرې ستا کوم غشي خطا لاړ شي نو دهغه بل په واسطه به خپله ننبه وولې. دهغه په ځواب کې دغه ځوان وویل:

ګوره چورامنه !غشي خو به هسې هم همدغه درې را اخلم ، او تاته په ډاډمنه توګه ویلې شم چې زما د دې درې غشو څخه به یو هم خطا کیږي نه ، زما په وړاندې دا پریکنده خبره ده چې زه به پنځه نه ، بلکه درې غشي اخلم اود همدې درې غشو په واسطه به خپله ننبه سهیي کوم او دخپل فن ښکارندونه به کوم. ددې خبرې سر ه سم هغه اجنبي یو اځې درې غشي په موټې کې واخستل او د میدان منځته ، هغه ځاې ته ورغې چیرې چې ښختې په دایروي بڼه ایښول شوې وې. اوبیا هلته د چونې د دایرې تر منځ ودرید.

په همدې وخت کې یو بل آس سپور په ډیره ګړندۍ توګه میدان ته راورسید. او د ښختو څخه د جوړې شوې دایرې منځ کې هغه ځاې ته ورننژدې شو چیرې چې دا نقاب پوشه ځوان ولاړو. هلته د راتلو سره سم هغه آس سپور هم دخپله آسه را ښکته شو او د نقاب پوش سره یې په ډیر راز سره دهغه په غوږ کې څه خبرې وکړې. په شاه نشین باندې ناست راجه چندرمل اودهغه شهزادګۍ ګنګا وکتل چې دغه بل کس د کوچیانو د قبیلې سردار ، سردار فدایي خان دې. فدایې خان تر لږه وخته پورې ددې ځوان سره خبرې وکړې اوبیا بیرته په خپل آس سپور شو او د میدانه ووت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې په شاه نشين باندې ناستې شهزادګۍ ګنګا ته څه فکر پيدا شو او بيا يې دخپل پلار په لور په کتلو سره وويل:

پلارجانه ! د کوچيانې قبيلې دغه سردار ، فدايي خان په دې وخت کې ميدان ته ولې راغلې و ؟ په داسې حال کې چې په تور لباس کې را نغښتې ولاړ ځوا ن دمقابلې له پاره تيار ولاړ دې ، او همدغه ځوان زما د ترلاسه کولو لمړۍ مقابله هم ګټلې وه ، څرګنده نه ده چې فدايي خان به له ده سره څه خبرې کړې وي. ايا دا نقاب اغوستونکې ځوان خو به د کوچيانو د قبيلې د سردار غلام او په ځنګلونو کې ګيدړې ښکارکونکې صاحب خان نه وي ؟ دهغې پلار هرکشن ورته وويل: چې نه لورې ، ستا دا فکر او انګيرنه بلکل غلطه ده ، صاحب خان اوس ګيدړې ښکار کونکې نه دې بلکه هغه اوس د شيرشاه د لښکر سپه سالار دې او شيرشاه په دې وختو کې د خپل لښکر سره يو ځاې د ګنګا د غاړې څخه په بنګال باندې دحملې له پاره د شرق په لور و رغلې دې. په دې خاطر هغه نقاب اغوستونکې چې همدا اوس د مقابلې له پاره تيار ولاړ دې ، صاحب خان نه ، بلکه بل کوم ځوک دې. کيدې شي چې دا د فدايي خان کوم پيژندګلوې وي ، او فدايي خان هغه ته کوم ډير مهم پيغام راوړې وی او هغه يې ورته همدلته او رولې وي ، دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا يوځل بيا و ويل:

پلار جانه ! که چيرې دا هغه ګيدړې ښکارکونکې صاحب خان نه وي ، چې زه ترې د زړه له کومې نفرت اوکرکه کوم نو بيا دا اجنبي ځوان ولې د خپل نوم اوکوائفو د ليکلو نه ډډه کوي ، ولې په ورځپاڼه کې خپل نوم نه ليکي. دهغې په دې خبره هرکشن وويل: شونې ده چې هغه به په دريمه مقابله کې خپل ځان را ښکار ه کړي. خو ګوره لورجانې ! دا د رهتاس د راجه هرکشن د شهزادګۍ ګنګا د ترلاسه کولو مقابلې دي. نو که چيرې په دې مقابلو کې هغه تا وګټي نو ګټونکې چې هر ډول وی نو هغه به ستا په څير ښايسته ، حسينه او شتمنه نجلۍ څه ډول پريږدي. ګوره لورجانې ! زه تاته په ډاډ سره ويلې شم چې کله چې ستا د ګټلو له پاره دريم ځلې مقابلې تر سره کيږي نو دا ځوان به هم خپل نوم را څرګند کړي او تا ته به رانژدې شي او ستا سره به دخپلې مينې ښکارونه وکړي او ستا د لاس د تر لاسه کولو له پاره به خپلې هڅې نورې هم ګړندۍ کړي ، خولورجانې ! يوه خبره راته وکړه.

دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا په ډيره مينه خپل پلار ته وکتل او ورڅخه يې و پوښتل ،پلارجانه ! څه ډول خبره ؟ چندرمل ترې وپوښتل: دغه اجنبي ځوان چې ستا د تر لاسه کولو لمړۍ مقابله يې ګټلې وه نو که چيرې هغه دويمه اوبيا ورپسې دريمه مقابله هم وګټي اودهغې وروسته خپل ځان را څرګند کړي اوبيا هغه دکوم رياست شهزاده نه وی اويا هغه کوم لوې اوستر شخصيت اويا د ښه حيثيت خاوند نه وي نو ايا بيا به هم هغه تاته ستا د ژوند د ملګري په څير د منلو وړ وي اوته به دهغه سره د ژوند کولو له پاره راضي اوسې؟

دهغه په خبره شهزادګۍ ګنګا وويل: پلار جانه ! دا شخص چې په تور رنګ نقاب کې ولاړ دې زه يې نه پيژنم چې څوک دې. دهغه نوم څه دې ، د کومو زمکو څخه دلته راغلې دې ، د کومې قبيلې سره اړيکې لري.. خو ددې سره سره بيا هم که هغه زما د ترلاسه کولو دويمه اودريمه مقابله هم وګټي نو پلار جانه ! که دا سړې هسې د کوڅې خس هم وی ، اويا ډير زيات غريب او اجنبي هم وی ،بيا به هم زه دهغه په راخپلولو باندې فخر او وياړ احساسوم. که چيرې ماته د شتمن او دولتمند ميړه ضرورت وې نو بيا ددې مقابلو د جوړولو له پاره څه اړتيا وه. زه تاته ډاډ درکوم چې هر څوک چې زماد تر لاسه کولو دا درې مقابلې په پرلپسې توګه وګټي او هغه د انسانانو دهرې ډلې پورې اړوند وی نو بيا به هم زه هغه په ډيره خوشحالۍ او فخر سره دخپل ژوند ملګرې وګرځوم. د شهزادګۍ ګنګا ددې ځواب په اوريدلو سره دهغې پلار هرکشن ډير زيات خوشحاله شو اوبيا يې ورته وويل چې: په بګوان سوګند چې ماته ستا له لورې دهمداسې يوه منطقي ځواب هيله وه. اوس نو د مقابلې د پيلولو له پاره هرکشن مخصوصه اشاره وکړه اودهغه د اشارې سره سم دهغه ساتونکو درې کوترې په هوا کې والوزولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې دغه درې واړه کوترې یو دبل تر څنګ په هوا کې روانې د میدان مرکزي برخې ته را ورسیدې نو هغه تور پوشه اجنبی خپله نښه و نیوله او یو په بل پسې یې خپل غشي وویشتل. دهغه په درې واړه غشو باندې کوترې یو په بل پسې ولګیدې او په هوا کې یې اوښتې را اوښتې او په زمکه باندې را پریوتې.

دنښو د ویشتلو سره سم ټول خلک د ډیرې خوشحالۍ نه په دوو پښو و دریدل او ددې نقاب پوشه په سوبه باندې یې نعرې سورې وهلې، تر څنګ یې هر چا خپل کالي په هوا کې خوزول، لاسونه یې پړکول او ددې اجنبي په بریاو یې خوشحالۍ کولې. په دې وخت کې دخپل پلار هرکشن تر څنګ ناستې شهزادګۍ ګنګا حال هم دکتلو وړ و.

ددغه نقاب پوشه ځوان د غشو په ویشتلو او دهغوې په واسطه دکوترو درا غورزولو سوبې دګنګا په مخ او ځیرې باندې دخوشحالۍ نښې نښانې د ورایه ځلولې.

ددغه اجنبی ځوان به بریاو باندې هرکشن دخپلې لور دخوشحالیو سره یو ځای خپله خوشحالي هم نه شوه پټولای. بیا یې د خپلې لور شهزادګۍ ګنګا په لور د کتلو په وخت کې وویل:

ګوره زما لور جانې ! دغه نقاب پوشه ځوان دا دویمه مقابله هم د لمړۍ مقابلې په څیر په پوره میړانې سره وګټله ، زه هیله من یم چې نوموړې به دریمه مقابله هم په همدې شان وګټي. اودهغې وروسته به خپل نوم او کوائف هم را څرګند کړي. نو زما لورې ! که چیرې دا ځوان ستا د تر لاسه کولو دریمه مقابله هم وګټي نو ته څه فکر کوې چې ته به څه وخت او کله هغه د خپل ژوند ملګرې کړې. د هغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا دخوشحالیو نه په ډوب اواز کې وویل:

پلارجانه ! که چیرې دا اجنبی زما د ترلاسه کولو دریمه مقابله هم په همدې توګه وګټي نو زه به دوه میاشتې وروسته دهغه د ښځې او دژوند د ملګرې په څیر د اوسیدو له پاره تیاره یم. ځکه چې دوه میاشتې وروسته زما د نڅا او موسیقي درسونه پای ته رسیږي او دهغې وروسته به زه د واده او د (اوه پهیرو « د اور نه اوه ځلې د ګرزیدو ») له پاره تیاره اوسم. په دې وخت کې هرکشن د خپلې خوشحالۍ د څرګندولو په وخت کې وویل:

ګوره زما لورجانې ! څنګه چې ته غواړې همغسې به وشي ، که چیرې دا اجنبی ځوان ستا د ترلاسه کولو دریمه مقابله هم وګټي نو بیا دوه میاشتې وروسته ، کله چې ستا د نڅا او موسیقی درسونه پای ته ورسیږي زه دهغه سره ستا د واده کولو تیارې وکړم. تر هغه وخته پورې به مونږ په دې پوه شو چې ددې اجنبی نوم څه دي ؟ دکوم ځای دي ؟ دکومه راغلې ؟ او د کومې قبیلې سره اړوند دي؟ او یا دا چې دا د کومه ځایه په دې مقابلو کې د ګډون له پاره راغی ؟ دهغه په دې خبره شهزادګۍ سمدستې وویل:

پلار جانه ! که مونږ ددې شاه نشین څخه ښکته شو او د پخوا په څیر دې اجنبی ځوان ته دا ځل هم د زما د تر لاسه کولو د دویمو مقابلو دګټلو مبارکي ورکړو . هرکشن دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا دا وړاندیز و مانه ،او بیا دواړه پلار او لور په ډیره بیړه د شاه نشین څخه لاندې راغلل.

هغه د تورنقاب اغوستونکي اجنبی ځوان ددې درې واړو کوترو د ویشتلو وروسته ، کرار کرار دخپل آس په لور روان و . کله چې هغه خپل آس ته ور نژدې شو نو هرکشن او شهزادګۍ ګنګا هم په ډیره بیړه هغه لورې ته ور روان و .کله چې هغه ته ور نژدې شول نو بیا شهزادګۍ ګنګا د هغه څنګ ته ورغله او په خپل خوږ اواز او خوږه ژبه یې ورته وویل: ګوره اجنبی ! ز ه تر اوسه هم نه پوهیږم چې ستا نوم څه دي ؟ ته څوک یې او دکومه ځایه دې مقابلو کې د ګډون له پاره راغی؟نو څرنګه چې تا ددې مقابلو دویمه برخه هم وګټله نو په دې خاطر ته زما په سترګو کې اوس ډیر بختور ، او ستر شخصیت ګرزیدلی یې . زه تاته ډاډ درکوم چې ددې مقابلو ددریمې برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګنګلو له پاره به زه ستا ښه راغلاست او خوش امدید کوم. ددې خبرو دکولو وروسته شهزادګۍ ګنګا لږ څه خاموشه شوه او بیا یې هغه اجنبی ته وویل:

ګوره اجنبی ! تر اوسه پورې تا مونږ ته خپل نوم اونښان و نه ښود. او نه دې دا مونږ ته وویل چې ته دکومه ځایه دلته راغلې اونه دې له مونږ سره خپل ټول کوائف ولیکل. ایا ستا له لورې زمونږ سره دا ډول سلوک زما د ذات ، اودهرم له پاره ظلم اوتیرې نه دې. ایا د خپلې دغې دویمې مقابلې د بریا و نه وروسته هم نه غواړې خپل مخ او څیره مونږ ته وښایې ؟ تر څو زه و وینم چې ته څوک یې. او د کومه ځایه راغلې یې. اوڅه ډول ځوان یې ؟ دهغې په دې خبرو باندې هغه ځوان په ډیر نرم اواز سره وویل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ستا ددې ټولو پوښتنو ګرویزونو ځواب به ستا د تر لاسه کولو په دریمو مقابلو کې د بریا وروسته درکوم. ددې خبرې سره سم هغه اجنبی په خپل آس باندې سپور شو او خپل آس یې په نرۍ قمچینه باندې وواهه اوپه یوه منډه د میدان څخه ووت. ددې ځوان په داسې تللو سره شهزادګۍ ګنګا ډیره اندیښمنه ودریده او ددې ځوان پسې یې وروسته کتل ، کله یې چې هغه د سترګو پناه شو نو بیا یې سر ټیټ کړ او خفه خفه دخپل پلار هرکشن سره یو ځای د شاه نشین په لور روانه شوه.

۱۱

سورې شیرشاه د ګنګا د دریاب په غاړه د بنګال د سوبې له پاره د خپل لښکر سره یو ځای په ډیره ګړندۍ توګه هغه لورې ته کوچ وکړ. د ۱۵۳۵ زکال د میې د میاشتې په پیل کې شیرشاه په ډیر ډاډ سره د ګنګا د دریاب د غاړې دواړو لورو ته د بنګال د سوبې دجنګ له پاره د جنګ بیګل (ډول) وواهه.

سورې شیرشاه په ډیره بیړه په بنګال باندې یرغل وروست او د برسات یا باراني موسمونو د پیلامې د مخه یې د بنګال د مونګیر د سیمې ډیر ځایونه په خپله ولکه کې راوستل. دا کاریې ځکه تر هر څه دمخه وکړ چې د باراني موسمونو د پیل په وخت کې په شرقي برخو کې داسیمې ډیرې ژرد اوبو لاندې راتللې اوهلته بیا د فوځونو تګ راتګ ستونزمن ګرځیده.

وروسته بیا شیرشاه د مونګیر د سیمې په ډیرو ځایو د ولکې کولو وروسته ددې ځای د تر ټولو سترې او مستحکمې کلا ولکه کولو ته اړم شو. ددې کلا سوبه دومره څه اسان کار نه و ، ځکه چې ددې ځای ۴/۵ برخې د غرونو او لویو لویو ناونو څخه جوړې شوې دي. د کهړک او ګډو په څیر ستر ستر غرونه هم همدې سیمه کې پراته دي. او همدا غرونو د بیروني یرغلونو په مقابل کې ستر خنډونه پیدا کوي ، د سورج ګړ نه نژدې ۲ میله واټن کې د کادهانه دریاب بهیږې چې پخپله یو ستر خنډ ثابتیږې ، نو د مونګیر کلا باندې دحملې کولو له پاره شیرشاه همنلته د سورج ګړ سره نژدې د خپل فوځ سره یو ځای پړاو وکړ تر څو لښکر یې لږ څه ارام وکړي. د مونګیر کلا د سورج ګړ په شرقي برخه کې نژدې ۱۸ میله واټن کې پرته ده. همدا راز د راج محل په غرونو کې پرته تیلیا ګړهي د مونګیر نه شرق لورې ته نژدې ۲۲ میله واټن لري. د سورج ګړ نه د مونګیر په لور د تللو په وخت کې چې کوم میدانونه مخ ته راځي دهغوې لویوالې او اوږودوالې هم شپږ میله شاوخوا کې جوړیږې. خو ددې میدانو اوږودوالې ان د مونګیر کلا ته نژدې یوائې په دوه نیم میله واټن پورې رسیږې ، د سورجګړ نه تر مونګیر کلا پورې نژدې ۱۸ میله واټن دهر حمله کونکې له پاره چې د ګنګا د دریاب د غربي برخې څخه یرغل کونکې اوسي ملاماتونکې تماميږي. ځکه چې د هغې د سړک دواړو لوریو ته د جنوب شرق په لور د کهړک غرونه پراته دي ، چې د مونګیر تر څنګ د ګنګا د دریاب تر څنګ پورې رسیږي ، خو دهغې په شرقي برخو کې د مونګیر نه تسخیریدونکې کلا ده چې سوبه کول یې دهر یرغلګر له پاره تر هغو شونې نه دي چې درنه او قوي توپخانه ونه لري ، او تر څنګ یې د ګنګا دریاب هم په ولکه کې نه وي اخستې. په تیرو وختونو کې پوهو او زیرکو فوځي سالارانو په داسې خطرناکو ځایو کې دخپلو فوځونو د ورننویستلو کار نه دې ترسره کړې. خو شیرشاه سورې په هرصورت غوښتل د مونګیر کلا تر خپلې ولکې لاندې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بنګال حکمران سلطان محمود ته هم د شیرشاه دد ې حملې په اړه خبر ور رسیدلی و . نو مونګیر ته د شیرشاه سورې د ورسیدو د مخه سلطان محمود د مونګیر د کلا د دفاع نظام مستحکم کړی و . هغه په ډیره بیړه د خپل لښکر سره یو ځای هلته راغی. دلښکر یوه برخه یې هملته د مونګیر دکلا د دفاع له پاره و ټاکله او دبلې برخې سره یو ځای د ګنګا د دریاب په غاړه په سنګر کې کیناست ، تر څو دشیرشاه د لښکر د راتلو سره سم په هغوې باندې ددوا ړو اړخونو څخه حمله وکړي ، یوه ډله د ګنګا د دریاب د شرقی برخو څخه او بله ډله د مونګیر د کلا د داخل څخه . په دې توګه به دوه اړخیزه حمله ترسره شي ، سلطان محمود غوښتل چې په هر قیمت چې کیږي شیرشاه سوري ددې ځایه بیرته و تمبوي.

شیرشاه سوري هم د حالاتو څخه بې خبره نه وې. دهغه جاسوسان هر هر ځای کې خپاره شوی و او دبنګال د حاکم سلطان محمود د هر قدم خبر یې ورکاوه ، په دې حالاتو کې شیرشاه سوري دخپلو سالارانو غونډه را وبلله تر څو د بنګال د حکمران سلطان محمود سره د ټکر کولو له پاره پلان جوړ کړي.

کله چې د شیرشاه سورې تر ټولو سترسالاران دهغه دخیمی نه بیرون په خپرې شوې دری باندې سره را ټول شول نو بیا شیرشاه هغوې ته وویل:

زما دوستانو ! تاسې پوهیږئ چې په دې وخت کې زمونږ موخې د مونګیر دکلا فتحه کول دي ، خودمونګیر د کلا دد فاع له پاره د بنګال حکمران سلطان محمود خپل ځواک په دوو برخو ویشلې دې. په دې توګه هغه غواړي زمونږ ځواک هم په دوو برخو وویشل شي او ځواک مو کمزوري شي. ما دا هم اوریدلي دي چې په تیرو وختو کې هیڅ حکمران دا کلا نه ده ولکه کړې او ویونکې دا هم وایي چې تر څو د یرغل کونکې ځواک سره ځواکمنه او درنه توپخانه نه وي او تر څنګ یې د ګنګا د دریاب د غاړې په شرقي برخو باندې هم ولکه و نه لري نو تر هغې د مونګیر په کلا باندې ولکه نه شی کولې. زه ستاسو څخه دا پوښتنه کول غواړم چې ایا ستاسو په ذهن کې کوم داسې پلان شته چې دهغې له مخې ددې کلا ولکه کول مونږ ته اسانه وګرځی. او که نه ددې وروسته به زه خپل جنګی پلان جوړ کړم.

دشیرشاه سوری د پوښتنې په اساس ، دهغه ټولو سالارانو په خپلو منځو کې سرونه نژدې کړل او سلا مشورې یې وکړې.د دې مشورو نه وروسته صاحب خان شیرشاه سوری ته مخ کړ او ورته یې وویل:

زما اقا ! زما محسنه ! که ته اجازه راکړې زه به یو څه ووایم. دهغه په دې خبره شیرشاه سورې په پلرنې شفقت ورته وویل:

صاحب خانه ! زما زویه ! کله چې ته وغواړې ما ته یو څه ووایې نو دهغې له پاره د اجازې غوښتلو ته اړتیا نه شته. ته زما د لښکرو سپه سالار یې او ستا مشوره او ستا تدبیر دتل له پاره په ټولو پورته والې لري ، ووایه چې ته اوس څه وړاندیز لرې. دهغه د اجازی وروسته صاحب خان وویل:

زما محسنه ! زه ددې کلا د ټول چاپیریال څخه پوره پوره خبر یم او ان تر جنوبه پورې ټوله سیمه ، ان تر هغه ځایه چې د کول دریاب د ګنګا د دریاب سره په کې یو ځای کیږي ، ما کتلې ده. زما مشوره داده چې مونږ خپل لښکر په دوو برخو وویشو ، یوه برخه د جنوب لورې ته ولاړه شي او بله برخه د شمال په لور حرکت وکړي. هغه برخه چې د شمال په لور ورځی نو هغوې دې په سورج ګړ باندې حمله وکړي ، د سورج ګړ د سوبې کولو نه ورسته دې هغوې بیرته را ستانه شي او دګنګا د دریاب په غاړه دې په غرب کې پرتې د مونګیر په کلا باندې حمله یوسي ، هغه لښکر چې د جنوب په لور حرکت کوي نو هغوې دې د کول او ګنګا د دریابونو د یوځای کیدو ځای ته نژدې په منې پور باندې حمله وکړي او بیا دې هملته تم شی. په دې ځای کې د کهړک پور د غرنو لړی پای ته رسیدو ته ور نژدې کیږی. دلته نژدې لس میله اوږود او پراخه میدان دې اوددې میدان څخه په اسانۍ سره تیریدې شي. خو په نورو ځایو کې د کهړک پور د غرونو څخه تیریدل ډیر ستونزمن او د زیانونو نه ډک دي. هغه لښکر چې د جنوب په لور ورځی ،نو هغوې د لس میله واټن د وهلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د ګنګا او دګول ددریابونو د يو ځاي کيدو د ځاې څخه دمخه ددواړو دريابونو څخه تير شي او د ګنګا د درياب د شرق په لورې دې ولاړشي. هلته دې په سنګر کې کينی ، اوبيا دې د بنګال په حکمران سلطان محمود باندې حمله وکړي.

زمونږ يو لښکر به د شمال په لور د سورج ګړ په لور ولاړشي اوبل به د غرنيو لړۍ په منځ کې د کهړک پور تر غرونون پورې جنوب ته وخوځيږې ، نو دبنګال حکمران سلطان محمود به دا فکر وکړي چې د مونګير د کلا د نه تسخيريدونکی حيثيت په اساس شيرشاه سوری د خپل جنګ پلان بدل کړې دې. او اوس هغوې د سورج ګړ او جنوب په لور غواړی ولاړ شي او څه نورې سيمی ولکه کړي او د ګنګا د درياب څخه دتيريد و پرته به بيرته ستا نه شي . تر دې وخته پورې به زمونږ د جنوب لښکر په هغوې په نا څاپی توګه يرغل يوسي اودبدترين حالت سره به يې مخ کړي او په شمال کې په سورج ګړ باندې حمله کونکې لښکر به بيرته را ستون شي اود مونګير کلا باندې به حمله يوسي اودهغې د ولکې کولو له پاره ځان جوړ کړی.

تر دې ځايه دخبرو وروسته صاحب خان غلې شو او بيا شيرشاه خپله پريکړه داسې واوروله.

صاحب خانه ، زما زويه ! په قدوس خداې سوګند چې تا ډير ښه وړانديز وکړ. په همدې پلان باندې دعمل کولو په اساس مونږ توانيدلې شو د مونګير په نه تسخيريدونکې کلا باندې ولکه وکړو . واورئ زما دوستانو او زما عزيزانو ! که چيرې مونږ د مونګير کلا سوبه کړه نو داسې يې وګڼئ چې د بنګال د حاکم سلطان محمود د فوځ ملا مو ورماته کړې ده . دهغې وروسته به دهغه تر مخه دوه لارې وي ، لمړۍ دا چې هغه به په پراخه ميدانو کې زمونږ پر خلاف جنګ ته تيار شي چې په هغې جنګونو کې به د خپل ځان دخوندې کولو له پاره کومې لورې ته تښتي . اودويم دا چې د خپله ځانه د کوم ستر ځواک تر مخه به خپله زولۍ خوره کړې او زمونږ پر خلاف به ترې مرسته وغواړي. په هر حال هغه پلان چې صاحب خان وړاندې کړې په همغه به عمل کوو .

تر دې ځايه د خبرو کولو وروسته شيرشاه لږ څه تم شو او وروسته يې بيا دخبرو لړۍ جاري و ساتله اوويې ويل:

ګوره صاحب خانه ! ستا دهمدې وړانديز په اساس به لښکر په دوو برخو باندې وويشل شي ، دلښکر يوه برخه به له ماسره پاته شي او د بلې برخې قوماندانی به يې ته په خپله کوې. له تاسره به اسماعيل سوری ، حبيب خان ککړ اوهيبت خان نيازي هم ملګری وی ، خو له ماسره به زما د زامنو څخه علاوه سرمست خان سروانی ، حاجې خان بټنی او برهم جيت ملګرې وې.

صاحب خانه واوره ! ته به د خپلې برخې دلښکر سره يو ځاې د کهړک پور د غرونو د پيچ و تاو نه ځان و کاږې او د شمال په لور به حرکت وکړې. سورج ګړ د دغه ځايه چې همدا اوس په کې مونږ پړاو کړې دې نژدې ۱۸ ميله واټن کې پروت دې ، ته به دشپې په تياره کې مخکې تګ کوې او د لمر خاته نه مخته به هلته سورج ګړ کې ځان را خرګند کړې. اوبيا په داسې توګه پرې حمله وکړه چې د بنګال د حاکم سلطان محمود د فاعی فوځ ته د خوزيدو فرصت هم په لاس ور نه شی . په سورج ګړ باندې د حملې کولو نه وروسته هغه په مکمله توګه په خپله ولکه کې واخله اودهغې ځاې د انتظا ماتو د منظمولو وروسته بيا ته د جنوب په لور را وخوځيږه ، او د شپې په تياره کې د مونګير په کلا باندې حمله وکړه. او زه به د پلان په مطابق د جنوب په لور ولاړشم اوبيا به د ګنګا او کول ددريابونو د يو ځاي کيدو د ځايه مخته دمنې پور په سيمه کې د ګنګا د درياب څخه ورتير شم او دشرقی ساحل په لورې به ولاړشم اوهلته به د سلطان محمود په لښکر باندې د حملې کولو هڅه وکړم.

کله چې شيرشاه سوري په دې اړه دخپلو نورو سالارانو آند ځانته معلوم کړ نو ټولو په ډيره خوشحالۍ سره دا وړانديز و مانه ، ددې نه وروسته شيرشاه خپل لښکر په دوو برخو وويشه ، نيمايی برخه يې دخپله ځانه سره و ساتله اوبله نيمايی د صاحب خان په قومندې کې هغه ته و روسپارله. په همدې وخت کې لښکر خپل پړاو ختم کړ ، بيا شيرشاه سورې د خپل لښکر سره يو ځآې د کول د درياب په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه د کهړک پور د غرونو په پيچ وتاب کې د جنوب په لور کوچ وکړ په دا سې حال کې چې صاحب خان دخپل لښکر سره يو ځاې په سورج ګړ باندې دحملې په خاطر د شمال په لور ولاړ.

صاحب خان دخپل لښکر سره يو ځاې د سورج ګړ پورې دغه اتلس ميله واټن د شپې په تيارو کې لکه په سينو د ښويدونکو چينجيو او مارانو او يادښکار پسې د پلټونکو پړانګانو په څير وهلې و. صاحب خان دخپل لښکر سره يوځاې سورج ګړ ته نژدې هغه وخت را ښکاره شو چې په شرق کې د درواغجن سهار نښې نښانې را ښکاره شوې وې ، نو همـلته يې خپل لښکر تم کړ او دهغوې صفونه يې منظم کړل.

ددې کار د پاې ته د رسيد و وروسته صاحب خان خپل ټيټ سالاران چې په هغوې کې هيبت خان نيا زې ، حبيب خان ککړ ، او اسماعيل سورى هم شامل و ، را وبلل. کله چې دا درې واړه هغه ته راغلل نو بيا صاحب خان ورته په ډېره را ز دانه توګه وويل:

زما دوستانو ! د بنګال د حاکم سلطان محمود د سورج ګړ سنګر همدا اوس زمونږ تر مخه پروت دې. هغه جاسوسان چې سلطان محمود زمونږ څخه د خبريدو له پاره خپاره کړې و نو هغوې به خبر ورکړې وې چې زه او زما سره ملګرې تاسو درې واړه د ټول لښکر سره يو ځاې سورجګړ ته رارسيدلې يا ست. نو په دې خاطر به سلطان محمود دا انګيرلې وى چې اوس نو د مونګير کلا بلکل خوندى پاته ده. په دې خاطر به هغه دهغه ځاَيه را وځى او دهغه ټول لښکر به د سورج ګړ د خوندي پاته کيدو او ودفاع له پاره دلته د راتللو هڅه کوي.

زما ورونو واورئ ! ما د جنګ د پلان د بدلون اراده کړې ده. څرنګه چې سورج ګړ د بنګال د حکمران سلطان محمود يو ستر او قوى سنګر دې خو دومره هم نه چې زمونږ په لار کې خنډ شي. په دې خاطر ما پريکړه کړې ده چې يواځې هيبت خان نيا زې او حبيب ککړ به په سورج ګړ حمله کوي. دهغه په دې خبره هيبت خان نيازى يو دم را ټوپ کړ او ترې ويې پوښتل: امير صيب ! ته به چيرې ځې ؟صاحب خان ورته په ډېره نرمه ژبه وويل چې: هيبت خانه ! لمړى خو زما خبره پوره واوره بيا په دې منځ کې خبره کوه ؟په ځواب کې هيبت خان غلى شو او بيا صاحب خان په خبرو پيل وکړ.

ګورئ ورونو ! لښکر به په درې برابرو برخو وويشو. يوه برخه به يې هيبت خانه ستا او د حبيب ککړ په لاسو کې وي بله برخه به يې د اسماعيل سورې په قومنده کې او دريمه برخه به يې زما سره وي.

هيبت خانه ! ته به د حبيب ککړ سره يو ځاې په سورج ګړ باندې حمله کوې او په هر صورت به دهغې د ولکه کولو هڅه وکړې ، کله چې تاسې حمله وکړئ نو سلطان محمود او دهغه سالاران به دا و انګيري چې صاحب خان د خپلو ملګرو سالارانو سره يو ځاې په سورجګړ باندې حمله کړې ده. په دا سې حال کې چې په خپله شيرشاه سورې د ګنګا او کول ددريابونو د يو ځاې کيدو ځاې ته ورغلې دې. خو مونږ به دښمن په تياره کې ساتو او په يوه شپه کې به دوه کاره تر سره کړو.

هيبت خانه ! کله چې ته د حبيب ککړ سره يو ځاې په سورجګړ باندې حمله وکړې نو ياد ساته چې تر دې وخته د مونګير د کلا په داخل کې د سلطان محمود لښکر سلامت پروت دې ، هغوې به خامخا د کلا څخه را وزى او په سورج ګړ کې به د خپلو فوځونو دمرستې او ستاسې پر خلاف د جنګ له پاره دهغه ځاېه راوځي. نو د اسماعيل سورې لښکر به دهمدې لښکر پر خلاف په حرکت راځى ، هغه وخت چې ته او حبيب خان ککړ دواړه په سورج ګړ باندې يرغل وروړئ نو په هماغه وخت کې به اسماعيل سورى دخپل لښکر سره يو ځاې د مونګير د کلا او سورجګړ تر منځ په سنګر کې ناست وي او هر هغه لښکر چې دمونګير څخه را ووزى او د سورجګړ په لور راځى نو پر هغوې به حمله کوي او دهغوې لارې به بندوي.

تر هغه چې پرما او زما د لښکر پورې اړه لرى نو زه به همدا اوس او په همدې وخت کې حرکت کوم او دمونګير د کلا تر څنګ به په کوم مناسب ځاې کې ځاې په ځاې کيږم. هغه وخت چې ته او حبيب ککړ سورج ګړ ولکه کړئ او په دې ځاې کې د دښمن د مزاحمت کونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکر مزاحمت له منځه يو سئ نو ښکاره ده چې ددې ځاې خلک به دخپلو ځانو د خوندي ساتلو په خاطر د مونګير دکلا په لور تيښته کوي. تاسې به هغوې تعقيب کړئ. د سورج ګړ ځخه را تښتيدونکې به يقينا په دې وخت کې د سورج ګړ او مونګير دکلا تر منځ دخپلو هغوې ځواکونو سره يو ځاې کيږي چې د اسماعيل سورې سره په جګړه بوخت وي ،بيا به تاسې دواړه د اسماعيل سوری سره يو ځاې شئ او ددښمن پر خلاف به سخته حمله وکړئ ، خو د مونګير په لور د راتلونکو لاره مه نيسئ ، ځکه کله چې ماتې خوړلې لښکر په تيښته راو تښتي او مونګير کلا ته ورشی نو بيا تاسې درې واړه خپل راتګ ارا م کړئ ، کله چې دا بګيل فوځونه د مونګير کلا ته د شمالې دروازو له لارې ور ننوځی نو په همغه وخت کې به زه د کلا ددروزاې ساتونکې له منځه يوسم . او دهغوې په ځاې به دخپلو لښکرو کسان و ټاکم. او بيا به په خپله دمونګير کلا ته ور ننوځم. زما وروسته به تاسې هم د مونګير کلا ته را ننوځئ ، په دې توګه به په همغه يوه شپه کې مونږ د سورج ګړ سره يو ځاې د مونګير کلا هم خپله ولکه کې راوړو .

زما دوستانو واورئ ! مونګير داسې مستحکمه او ټينګه کلا ده چې هغه تر اوسه پورې نا قابل تسخير انګيرل کيږي . او په ماضي کې هيڅ حکمران په هغې د ګنګا په درياب باندې د ولکې کولو تر مخه ولکه نه ده کړې . په هرصورت مونږ به دا کار همدا نن شپه تر سره کوو . او زه هيله من يم چې هغه پلان چې مونږ تيار کړې دې که چيرې پرې په پاک نيت سره عمل وکړل شی نو سورج ګړ او مونګير به د سهار د لمر د راختلو سره سم زمونږ په ولکه کې راشي . ددې خبرو وروسته صاحب خان خاموشه شو نو هيبت خان نيا زي ، حبيب ککړ او اسماعيل سوري درې واړه په پوره ډاډ سره وخندل . تر لږه وخته پورې هغوې درې واړو په خپلو منځو کې مشورې وکړې او دکومې معاملی دحل کولو هڅې يې کولې ، دهغې وروسته هيبت خان نيا زی په ډيره عاجزی سره صاحب خان ته وويل:

صاحب خانه !هغه پريکړه چې تا کړې ده ،په خداې سوګند چې دهغې نه بله ښه پريکړه نه شي پيدا کيداې. مونږ به په پوره توګه ستا د پلان په عملي کولو کې قدم اخلو ، ستا د مشورې په مطابق به زه او حبيب خان يو ځاې دخپل ټول ځواک سره يو ځاې په سورج ګړ باندې حمله کوو . هغه کار دې چې اسماعيل سوري ته ور سپارلې دې هغه يې په ډيره ښه توګه تر سره کولې شی. ددې وروسته اوس که چير ې ته دخپلې برخې د لښکر سره يو ځاې د مونګير په کلا کې ورداخل شې ، نو بيا به د سهار د راختلو د مخه مونږ په ډاډمنه توګه په سورج ګړ او مونګير کلا باندې خپله ولکه کړې وي. دهغه په دې خبره صاحب خان په پرکونکې توګه وويل:

هيبت خانه !که چيرې ته ، حبيب خان ککړ او اسماعيل سورې زما د پلان په مطابق عمل کوئ ، نو سمدستي لښکر په درې برخو وويشئ ، او دخپلو خپلو منزلونو په لور حرکت وکړئ ، ددې خبرې سره سم هغوې ځلور واړه متحرک شول او لښکريې په درې برخو وويشه ،صاحب خان خپله برخه له ځانه سره واخسته او د مونګير په لور يې حرکت وکړ ، بله برخه اسماعيل سورې له ځانه سره واخسته او دمونګير او سورج ګړ تر منځ دسنګر د نيولو له پاره ولاړ. او دريمه برخه يې هيبت خا ن نيا زی او حبيب خان ککړ له ځانه سره واخسته او د سورج ګړ په لور يې حرکت وکړ.

دصاحب خان او اسماعيل سوري د تللو وروسته هيبت خان نيا زي او حبيب ککړ دواړو دخپلې برخې دلښکرو سره يو ځاې دشپې په تيارو کې د توپا ن په څير سورج ګړ ته ځانونه ورسول او په هغه ځاې يې حمله وکړه . هلته په سورج ګړ کې د سلطان محمود لښکر ته هم خبر رسيدلې و چې صاحب خان پر هغوې د حملې کولو په تکل کې دې لورې ته را روان دې. په دې خاطر دې لښکر دا بې عقلي کړې وه چې د سورج ګړ په ځاې يې دهغې ځاې دښار نه بيرون د صاحب خان د لښکر سره د مقابلې له پاره ځان تيار کړې و . دهيبت خا ن او حبيب ککړ له پاره دې کار ډيره ګټه وکړه ، هغوې د سلطان محمود په دې لښکر سخته حمله وکړه او په څو لمحو کې يې د ټول لښکر حالت ډير ابتر کړ. د سورج ګړ نه بيرون هيبت خان نيا زي او حبيب ککړ د سلطان محمود لښکر ته ډيره بد ه ماتې ورکړه او کله چې د سلطان محمود پاته خوندی کسانو غوښتل د سورج ګړ د جنګ د ميدا ن ځخه و تښتي او ښار ته ور ننوځی نو هيبت خان نيا زي او حبيب ککړ هم د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکرو سره یو ځاې هلته پسې ورغلل او ټول وسله وال ځوانان یې قتل عام کړل ، د شپې په تیارو کې یې هلته په ښار کې یو ستر وینه تویونکې انقلاب راوست ، د ښار دديوالونو دپاسه چې کوم عسکر ټاکل شوی و هغوې هم دديوالونو څخه راښکته شول اود حمله راوړونکی دښمن د مقابلې له پاره راغلل . ددې نه علاوه د ښار دننه ساتونکې فوځ هم دننه ښار ته وتښتید اودخپلو ماتې خوړلو فوځونو سره یو ځاې شول . په دې توګه په ښار کې دننه سخت جنګ ونښت ، خو هیبت خان نیازی او حبیب ککړ د ښه بخت خاوندان و چې هغوې د ښار په داخل کې هم ټول متحده لښکر ته ماته ورکړه او ډیر زیات یې ترې ووژل . دهغوې پاته شوو د سورج ګړ د ښار د جنوبې دروازې څخه د وتلو وروسته د مونګیر د کلا په لور تیښته وکړه .

دلته هیبت خان نیازی یو ډیر ستر کار دا وکړ چې خپل لښکر یې یو ځل بیا په دوو برخو وویشه ، یوه برخه یې حبیب خان ککړ تر قومندې لاندې پریښوله ،اوهغوې ته دنده وسپارله چې د سورج ګړ نظم ونسق سنبال کړي ، اوپه خپله یې یوه برخه له ځانه سره واخستله او دهغو لښکریانو ترشا ولاړ چې د سورج ګړ دماتې وروسته د مونګیر په لور د تیښتې په حال کې و .

دبله اړخه دعسکرو څو ډلې د شپې په تیاره کې د مونګیر څخه ووتلې او د سورج ګړ د فوځ د مرستې له پاره هغه لورې ته ورروان و . خو هلته هغوې ته په لاره کې اسماعیل سورې تیار ولاړ و . په دې اساس د مونګیر او سورج ګړ تر منځ د اسماعیل سوری او دې لښکرو تر منځ ځاې ځاې نښتې روانې وې. اسماعیل سوری دهغوې لاره بنده کړې وه اوپه هیڅ صورت یې هغوې د سورج ګړ په لور تللو ته نه وریرېښوول. تر دې وخته پورې ددوې تر منځ همدا ډول کشمکش روان و چې د سورج ګړ ماتې خوړلې فوځ هم دلته را ورسید . کله چې دمونګیر څخه سورج ګړ ته دمرسته کونکو فوځې ډلګیو ته د سورج ګړ دماتې خبر ور ورسید او په دې وپوهیدل چې په سورج ګړ باندې صاحب خان ولکه وکړه نو دهغوې حالت ډیر خراب شو ځکه چې هغه تښتیدونکو دوې ته دا خبر هم ورکړې و چې دښمن دهغوې ترشا را روان دې ، په دې اساس هغوې د اسماعیل سورې سره خپل جنګ ختم کړ او دمونګیر په لور و تښتیدل. تر دې وخته پورې هیبت خان هم ددوې ترشا را رسیدلې و او ځان یې د اسماعیل سورې سره را یوځاې کړ اوبیا دواړو د مونګیر په لور د تښتیدونکو تر شا ولاړل.

د بله اړخه صاحب خان پخپله لا تر اوسه د مونګیر د کلا تر څنګ په یوه پټ ځاې کې سنګر نیولې و او دحالاتو څارنه یې کوله. کله چې د سورج ګړ څخه د راتښتیدونکو عسکرو لمړۍ ډله دهغه د مخې تیره شوه نو هغه هم یو نا څاپه دخپل پټنځاې څخه را ووت او د سورج ګړ نه تر مونګیز په لور راتلونکې لاره یې دخپل لښکر په واسطه وتړله .

فضا بلکل خاموشه وه ، یوازې د آسونو د ځغاستو اودهغوې دپښو د ټکار اوازونه تر لرې لرې پورې اوریدل کیده . په دې منجمدو او یخو وهلو شپو کې د خړو رڼاو په منځ کې د راتښتیدونکو د آسونو ګردونه په هوا کې لکه د وریځو په څیر پورته کیدل ، کله چې ددې را تښتیدونکو زیاتې ډلې تیرې شوې نوبیا صاحب خان د خپل لښکر سره یو ځاې د وریځو د لمړې ښاځکې په څیر په حرکت راغې . اودهمغه تښتیدونکې پسې دخپل لښکر سره یو ځاې د مونګیر کلا ته ورغې.

صاحب خان دهغه ماتې خوړلې راتښتیدلې لښکر سره یو ځاې د مونګیر کلا ته ورننوت . هغه تر ټولو لمړۍ د کلا د دروازو ساتونکې یو په بل پسې ووژل اوهلته یې خپل عسکر و درول. د سورج ګړ د مونګیر په لور د راتښتیدونکو تر منځ ډیره افراتفری جوړه شوې وه ، نو په دې اساس تر اوسه پورې هیڅوک په دې نه پوهیده چې دهغوې تر منځ صاحب خان هم دخپل لښکر سره یو ځاې را ننوتې دې. اوتر څنګ یې هغه په دروازه باندې خپل کسان هم ټاکلي او دروازه یې په مکمله توګه په خپله ولکه کې اخستې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو لاسو کې د کلا د دروازې د خوندې ساتلو نه وروسته ، صاحب خان د خپلې برخې دلښکر سره یو ځاې دمونګیر په کلا کې د درد د نوبت څیر د یو څپانده ترنګ ښه ځانته نیولې وه. هغه لښکر چې را تښتیدلې و او کلا ته را ننوتی و او یا تر اوسه پورې را تښتیدل اوکلا ته را ننوتل ، په هغوې یې دهر څه اول را کیښودل.

دصاحب خان دا نا څاپې او ځواکمنه حمله داسې ویرونکې او خطرناکه وګرزیده چې هغه په لمحو او ساعتونو کې دغه را تښتیدلی له منځه یوړل او تر څنګ یې په کلا کې دننه موجود ساتونکې هم یو دبل پسې قتل عام کړل . کوم وخت چې صاحب خان د کلا دننه دسلطان محمود دلښکر په عامه وژنه لګیا و نو په همدې وخت کې هیبت خان نیازی او اسماعیل سوری هم دخپلو لښکرو سره یو ځاې کلا ته را ننوتل ، او د لمر د راختلو تر مخه یې دمونګیر په کلا کې د سلطان محمود لښکر د تیغه تیر کړې و . اوپه کلا باندې صاحب خان خپله ولکه کلکه کړې وه . صاحب خان ددې ټول کار د تر سره کولو وروسته حبیب خان ککړ ته پیغام ور ولیږه او ورته یې هدایت وکړ چې هملته د سورج ګړ په ښار کې دې تم شي اودهغه ځاې انتظامات دې سنبال کړي ، هغه د مونګیر په کلا کې اسماعیل خان سوری وټاکه او هغه ته یې حکم وکړ چې د بل حکمه پورې همدلته په کلا کې و اوسیږي او ټول مزاحمتی ځواکونه له منځه یوسي . او په کلا باندې خپله ولکه ټینګه کړي . خو په خپله یې د هیبت خان نیازي سره یو ځاې خپل نیم لښکر واخست اودمونګیر د کلا څخه را ووت او دکول ددریاب په غاړې کې پروت شیرشاه سوری په لور ورغې.

تر دې وخته پورې شیر شاه سوري هم د ګنګا د دریاب څخه پورې وتې و او هلته یې پټ سنګر نیولې و او د سلطان محمود د لښکر د راتلو انتظار یې کاوه.

دبنګال حکمران سلطان محمود یو نرۍ کتونکې انسان و . هغه د خپل عمر په بې شمیره سفرونو کې ډیرې تودې سړې کتلې وې. هغه ته هم خبر ور ورسیدلې و چې شیرشاه سورې په هغه د حملې کولو له پاره په ډیره ګړندۍ توګه مخته را روان دې. خو هغه ته د ا خبر نه و ور رسیدلې چې صاحب خان په یوه شپه د سورج ګړ او مونګیر کلا دواړه ولکه کړې دی ، دشیرشاه سوری دحملې نه مخته د بنګال حاکم سلطان محمود یو بل قدم واخست . هغه خپل لښکر په دوو برخو وویشه ، یوه برخه یې دخپل ځان سره واخسته او اراده یې وکړه چې پخپله به مخامخ د شیرشاه سورې سره ټکر کوی خو بله برخه یې دشپې په تیاره کې د شیرشاه سورې په لښکر باندې د چریکې حملې له پاره هغه لورې ته واستوله.

سلطان محمود غوښتل چې دداسې دوه اړخیزه حملې په واسطه به د ګنګا دې لور ې ته دشیرشاه سورې دلښکر بیخ و تار و کاږی. شیرشاه سوری لا تر اوسه خبر نه و چې سلطان محمود خپل لښکر په دوو برخو ویشلې دې او د هغې یوې برخې ته یې حکم کړې چې پرمونږ د اړخ له خوا ناڅاپې حمله وکړي. هغه دمخامخ لورې د بنګال دحاکم د فوځ د حملې انتظار درلود .

دشپې په تیاره کې د ګنګا د دریاب دې لورې ته سخت وینه تویونکې جنګ و نښت ، دجنګ میدان د چغو ، سورو اود اسونود شړنهار څخه ډک و .تورې او ډالونه یوله بله سره جنګیدل ، د مړه کیدونکو چغې او د زخمیانو اه او زارۍ تر لرې لرې پورې ترغوږو کیدې . په همدې وخت کې چې د جنګ تنور د اور په جوش کې پټ و چې د سلطان محمود دلښکر هغې بلې برخې د شیرشاه سورې په لښکر باندې حمله وکړه.

د اړخ له لورې د نا څاپې حملې په واسطه دشیرشاه سورې دلښکرو په لیکو کې کمزورتیاوې را پیدا شوې و ه، خو شیرشاه سورې یو ډیر ښه منتظم او پوه انسان و . هغه د اړخ له لورې دحملې د تم کولو له پاره دخپل لښکر یوه برخه را بیله کړه خو په همدې وخت کې صاحب خان او هیبت خان نیازې دواړه دسلطان محمود دلښکر په هغه برخه باندې یرغل وکړ چې د شیرشاه د لښکر پر خلاف یې د اړخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لورې حمله کړې وه. شیرشاه سوری ته د صاحب خان د راتلو او حملې کولو خبر ور رسیدلی و. نو په دې اساس هغه خپله ټوله توجه مخامخ د سلطان محمود دلښکر لورې ته کړه.

اوس نو د شیرشاه سورې حوصله او همت نور هم زیات شوی و. او هغه ویره یې چې د اړخ له لارې احساسوله هغه یې هم را کمه شوه. په دې وخت کې دبنګال حاکم سلطان محمود ته هم دا خبر ور رسیدلی و چې د شیرشاه سوری نوموړې سالار صاحب خان د سورج ګړ او مونګیر په کلا باندې د ولکې کولو وروسته دهغه دلښکر په یوې برخې باندې حمله کړې ده. ددې خبر داوریدو سره سم د سلطان محمود همت له منځه ولاړ. خو تر څنګ یې شیرشاه سورې په خپلو حملو کې ډیرښت راوست او دهغه لښکر یې د بې همتۍ او بې زړه توب په دوه لارۍ کې و دراوه. همدا راز صاحب خان هم په هغه اړخ کې د سلطان محمود په لښکر کې یو قیامت رامنځته کړې و او تر ډیره پورې د بنګال دحکمران د فوځ په منځ کې ورننوتې و. او مخته راتلونکې هر فوځی یې له تیغه تیراوه. په دې توګه شیرشاه سورې او صاحب خان دواړو یو ځای د ګنګا د دریاب په غاړه د بنګال دحکمران سلطان محمود لښکر ته ډیره بده ماتې ورکړې وه، او هغه وخت چې لمر را پورته شو نو سلطان محمود خپله ماتې و منله او د میدان څخه په تیښته و تښتید.

۱۲

د رهتاس راجه هرکشن دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا د تر لاسه کولو د دریمې مقابلې له پاره ځان تیار کړی و، د رهتاس دکلا نه بیرون په هغه پراخه میدان کې چې پخوا تر دې په کې دشهزادګۍ د تر لاسه کولو له پاره لمړۍ او دویمی مقابلې تر سره شوې وې همدلته دشهزادګۍ ګنګا د تر لاسه کولو دریمې مقابلې له پاره هم ځای ښایسته کړل شوی و. هلته دپخوا په څیر د خلکو ډیره زیاته ګڼه ګوڼه وه، دخلکو څخه په ډیر لږ واټن کې یې څلور اوږده بانسونه ښخ کړې و، او بیا یې د څلور واړو پورته سرونه سره را ټول او تړلی و، او بیا یې د همدې څلورو بانسونو په سر باندې یو بل ډیر اوږود بانس تړلی و. بیا یې ددې بانس په سر باندې یو بادې مرغ شکله انځور جوکړی و، اوشرط یې دا ایښودی و چې هر هغه برخه اخستونکې چې د امرغ شکله انځور وولې او ویې څرخوي نود همغه بریا به ثابتیږي.

په همدې توګه پریکړه شوې وه چې هر هغه څوک چې په دې مقابله کې برخه اخلی نو هغوې ته به د پنځو په ځای درې غشی ورکول کیږي. دا ځل هم د غشو د ویشلو له پاره د راجه هرکشن وزیر چورامن ټاکل شوی و. او راجه هرکشن د خپلې لور شهزادګۍ ګنګا او دخپلو رانیانو او دوستانو سره همدلته په هغه پورته اودنګ د لرګیو څخه جوړې شاه نشین باندې لکه د پخوا په څیر د کیناستو له پاره ور روان و.

لږ وخت وروسته راجه هرکشن دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا او رانیانو سره یو ځای را څرګند شو. او بیا په نوبت سره په همغه شاه نشین باندې وخوت. په شاه نشین د پاسه شهزادګۍ ګنګا د خپل پلار سره یو ځای کیناسته او بیا یې خپل پلار ته وویل:

پلار جانه! زه نه غواړم په دې شاه نشین باندې کینم، زه غواړم چې هغه نقاب پوشه چې نه یې نوم پیژنم او نه یې په اړه نور څه معلومات را ته شته چې دکومه ځایه راځي، دکومو زمکو پورې اړوند دی، دکومې قبیلې څخه دی، په داسې حال کې چې هغه زما د ترلاسه کولو دوه پخوانۍ مقابلې هم ګټلې دي، نو که چیرې هغه دا مقابله بایلي هم، نو بیا به هم فتح او بریا د همغې وي، نو په دې خاطر که د مقابلې دا برخه جوړه کړل شي او که جوړه نه کړل شي، نو هغه نقاب پوشته زما د ترلاسه کولو مقابلې ګټلې دی. پلار جانه! کیدې شي چې هغه د پخوا په څیر زمونږ سره د خبرو کولو اویا دخپلو کوائفو دلیکلو پرته له دې ځآیه ولاړ شي. نو په دې خاطر زه د هغه سره د خبرو کولو له پاره همدلته لاندې دریږم او په شاه نشین باندې نه کینم. همدلته به دخپل وزیر چورامن تر څنګ و دریږم. تر څو په مقابلې کې د برخې اخستلو وروسته کله چې هغه دخپل ادرس د ښوولو او دخپل مخ او څیرې د ښکاره کولو پرته ځی نو زه به دهغه سره خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړم ، دهغه د آس واګې به و نیسم او ورته به ووایم چې تا زما د ترلاسه کولو د مقابلو دریم پړاو هم ګټلې نو په دې اساس اوس راته خپل ځان را ښکاره کړه .
راجه هرکشن د خپلې لور شهزادګۍ ګنګا د دې خبرو په اوریدو سره ډیر زیات خوشحاله شو او بیا یې خپلې لور ته په ډیره مینه او شفقت سره وویل:
ګوره لور جانې ! تا ته بلکل په دې اړه اجازه ده . دا ځکه چې دا همستا د ترلاسه کولو مقابلې دي. ته اوس هر کار چې و غواړې د خپل طبیعت او خپلې خوښې په مطابق یې کولې شې ، او هو ! ستا دا پریکړه هم سهي ده چې که هغه نقاب پوشه دا دریمه مقابله بایلي هم نو بیا هم هغه ستا د ترلاسه کولو د مقابلو ګټونکې او ستا د ژوند د ملګرتوب حق لري. که چیرې ته غواړې د هغه سره خبرې وکړې او ته په دې ویریږې چې هغه به ستا سره د خبرو کولو پرته بیرته ستون شي نو ته بیا همدلته د چورامن تر څنګ کینه. کله چې هغه په مقابلې کې د برخې اخستونه فارغه شي نو بیا ورسره خبرې وکړه ، د دې خبرو وروسته راجه هرکشن هملته په شاه نشین باندې کیناست خو شهزادګۍ ګنګا ترې را ښکته او د وزیر چورامن تر څنګ کیناسته.
دلږ ځنډ وروسته د شهزادګۍ ګنګا د تر لاسه کولو له پاره د مقابلو د دریم پړاو پیلیدو نکې و . دا ځل بیا هم د مځکې په څیر د راې سین د راجه زوې سانول دا س د نښې په ویشتلو پیل وکړ ، سانول دا س د راجه چندرمل و زیر چورامن ته ورغې ،دهغه څخه یې د رې غشي را واخستل او بیا د بانس په سر کلک کړل شوې انځوریځه مرغه یې په نښه کړ او په هغه ځاې کې چې ورته د نښې ویشتلو له پاره ټاکل شوې و دريد. هغه بیا بیا خپل درې واړه غشي وویشتل خو دهغه یو غشی هم په هغه مرغه و نه نښت .
دویم نوبت د میواړ د راجه د زوې شهزاده سورج مل راغې. هغه هم درې واړه غشي و ازمایل خو یو یې هم په نښه و نه لګید. دریم نوبت د کالنجر د شهزاده سورداس و . هغه هم درې واړه غشي هسې بیکاره کړل ، د دوې وروسته د ځایې خلکو نوبت راغې ، په هغوې کې هم هر یو نښه ویشتونکې خپل بخت و ازمایه خو هیڅ یو یې هم د هغه مرغه په ویشتلو او په هوا کې د هغې په څرخولو بریالی نه شول.
د پخوا په څیر کله چې هغه وروسته نښه ویشتونکې خپل بخت وازمایه ، نو په همدې وخت کې هغه نقاب پوشه د نښې ویشتلو ځاې ته راغې. د خپل تور رنګه آس واګې یې را ښکودې ، اس یې لکه دپخوا په څیر و شنړید او په هوا کې د الف په شکل و درید. نقاب پوشه ځوان ترې په یوه ټوپ را ښکته شو ، آس یې هملته پریښود او پخپله د لرګیو د شاه نشین لاندې ناست وزیر چورامن ته ورغې .
دچورامن سره نژدې ناستې شهزادګۍ ګنګا هغه تور رنګه نقاب پوشه ځوان ته په ډیر غور سره وکتل او تر ډیره وخته پورې د هغه په لیدلو کې ډوبه وه .
کله چې هغه نقاب پوشه نژدې راغې نو وزیر چوران ورته درې غشي ورکړل ، خو هغه نقاب پوشته درې واړه غشي را واخستل ، په خپل لاس کې یې واړول را واړول ، د ټولو غشو جایزه یې واخسته ، بیا یې دهغوې څخه دوه غشي بیرته چورامن ته ورکړل ، دهغه په دې کار چورامن ډیر حیران شو او ورڅخه یې وپوښتل:
ګوره اجنبي ! ته ولې دغه درې واړه غشي نه ازمایې. پخپله خپل ځان د خپلې حقه برخې څخه بې برخې کوې. په مقابله کې برخې اخستونکو ټولو نښه ویشتونکو درې درې غشي استعمال کړي دي. خو دټولو بد قسمتی وه چې یو یې هم هغه بادنما مرغه په غشی و نه ویشت. ګوره اجنبي ځوانه ! دا ډیر ستونزمن کار دې. زه تاته مشوره درکوم چې درې واړه غشي واخله ،ځکه چې دد ې نه مخته دې د شهزادګۍ ګنګا د تر لاسه کولو له پاره دوه مقابلې ګټلې دي او که چیره دریمه مقابله هم وګټې نو بیا به ستا د شجاعت ، ستا د بهادرۍ ، ستا د جرئتمندۍ او نښې ویشتلو ځواب نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه په دې خبره هغه اجنبي نقاب پوشه په حرکت کې راغې ، خپله خوله يې چورامن ته ور نژدې کړه او ورته يې وويل چې ګوره چورامنه ! زه يو قسمت خوړلې انسان يم. درې غشي نه ازمايم ، زه به همدا يو غشي اخلم او تاته ډاډ درکوم چې زما دغه يو غشي به ددغه بادنما مرغه له پاره کافي وي ،خلک چې زما ننبه ويشتل ووينې نو ټول به حيران پاته شي ، هغه ددې خبرې سره سم يو غشې را پورته کړ او دهغه ځايه شاته شو .

په دې وخت کې شهزادګۍ ګنګا د خپله ځايه را پورته شوه او د راجه هرکشن د ساتونکو څخه يوه ته راغله ، هغه يې ځانته را وباله ، ساتونکې هم په يوه منډه هلته راغې. کله چې هغه شهزادګۍ ګنګا ته را ورسيد نو شهزادګۍ ورته وويل:

ګوره ! ددغه نقاب پوشه اجنبي آس د قيضې څخه و نيسه او د شاه نشين په لور يې راوړه. خو ګوره ، که دغه اجنبي زما سره د خبرو کولو پرته او يا دخپل ځان اونوم د ښوولو پرته ددې ځايه ولاړ نو ته دهغه شاته ولاړ شه ، هغه تعقيب کړه او دا را ډاګيزه کړه چې د ې دکومه ځايه راغی ، نوم يې څه دې اوولې ماته خپل ځان را برسيره کوي ، دشهزادګۍ د حکم سره سم هغه ساتونکې هم په حرکت راغې او دهغه نقاب پوشه اجنبي آس يې د شاه نشين لورې ته يوړ .او هملته يې و دراوه.

دغه اجنبي نقاب پوشه يو غشي له ځانه سره و اخيست او هغه ځای کې و دريد چې دبانس دپاسه نښلول شوې بادنما مرغه په کې په ننبه کيده . هغه د خپل غشي د ويشتلو له پاره په زمکه کيناست ، خپل يو زنګون يې په زمکه کيښوده او بل يې نيغ ودراوه ، بيا يې خپل کمان سنبال کړ ، تير يې په کې ننويست ، تر ډيره پورې يې ننبه تر سترګو نيولې وه ، بيا يې خپله ساه و دروله اوخپل غشي يې په ننبه ور پريښود. دهغه غشي په هماغه بادنما مرغه باندې ونښت او هغه يې په ډيره تيزۍ سره و څرخاوه .

د اجنبي د ننبې د لګيدو سره سم خلکو په ميدان کې د خوشحالۍ چغې جوړې کړې. هرې لورې ته خلکو ټوپونه وهل ،خپل کالې يې په هوا کې پورته پورته غورځول او دغه نقاب پوش ته يې مبارکۍ ويلې .

دغه نقاب پوشه ځوان ددې ننبې د ويشتلو وروسته ، خپل کمان په خپله شا و تاړه ، او په ډيره بيړه دهغه ځايه را پورته شو ، دشاه نشين په لور راغې اوخپل آس يې واخست. تر دې وخته پورې شهزادګۍ ګنګا هم دخپله ځايه را پورته شوې وه او ددې اجنبي نقاب پوشه څنګ ته راغلې وه . خو د رهتاس راجه هرکشن اودهغه رانياني تر اوسه هملته په شاه نشين باندې ناست وول . اجنبي هم په ګړنديو قدمونو سره خپل آس ته ورغې او هلته ودريد ،خو کله يې چې د آس واګې واخستې نو په دې وخت کې شهزادګۍ ګنګا په ډيره مينه او نرمه ژبه ورته وويل:

اې اجنبي ! ته خو ډير دښه قسمت خاوند يې چې تا زما د لاسته راوړ و درې واړه مقابلې وګټلې. اوس ته زما حقدار يې. اوس يوازې ته زما په جسم باندې حق لرې. ګوره ! مونږ راجپوتان يو او زمونږ د راجپوتانو روا ج دادې چې هر څوک چې د شهزادګۍ دلاسته راوړ و درې واړه مقابلې وګټي نو هغه څو ورځې بيا په راج محل کې د شهزادګۍ سره پاته کيږي. نو په دې خاطر زما د ترلاسه کولو ددرې واړو مقابلو د ګټلو نه وروسته چې اوس دمقابلو پايلو او حالاتو زه تا ته حواله کړې يم ، نو د راجپوتانو د رسوماتو په مطابق به اوس ته په راج محل کې له ماسره قيام کوې ، ددې قيام تر مخه ، ايا کولې شې ماته خپل نوم را وښايې . او دخپل مخ او ځيرې څخه نقاب پورته کړې تر څو زه ستا په ځير د يوه زړه ور ننبه ويشتونکې مخ او ځيره ووينم. او ستا دښځې کيد و تر مخه لږه تر لږه په دې خبره شم چې زما محبت ، او زما دغوښتنو اوهيلو حقدار څوک دې. تر دې ځايه دخبرو وروسته شهزادګۍ ګنګا غلې شوه ، خود بله اړخه ورته هغه اجنبي نقاب پوشه هم چپه خوله ولاړ و. په دې وخت کې شهزادګۍ ګنګا يو ځل بيا ورته په ډيره خوږه ژبه وويل:

اې مهربانه او فاتحه اجنبي ! تا ماته زما ددې ټولو خبرو هيڅ ځواب را نه کړ ، دهغې په دې خبره هغه اجنبي په ډيره ټيټ اواز سره وويل : ګوره شهزادګۍ ! که زه ستا ددې ټولو خبرو ځواب درنه کړم نو بيا . ددې اجنبي په دې ځواب باندې شهزادګۍ ګنګا په زړه ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لهجې سره وويل: نو ته ولې ماته زما دخبرو ځواب نه راکوې ؟خلک خو د شهزادګيو د ترلاسه کولو د دریمځلې مقابلو دګټلو سره سم د خپلې خوشحالۍ اوخپل نصیب په اړه ډېر پورته خیالات اوفکرونه لري ، او غواړې چې شهزاګۍ ورسره د يوې لمحې له پاره که هم وې خبرې وکړې. ته څه ډول اجنبی يې چې زما د خوړلنی نه ډکو خبرو ځواب هم نه شې راکولې.

اې اجنبي ! زه دومره ښایسته ، حسینه او زړه وړونکې پیغله یم چې هر څوک مې د وصل غوښتونکې دي ، خو څرنګه چې تا زما د ترلاسه کولو د ریمې مقابلې هم ګټلې دی نو زه په ډیره خوشحالۍ خپل وجود ، خپل روح او خپل هر څه له تا ځاروم. اوخپل هر څه تا ته حواله کوم. وایه ته په دې اړه څه وایې ؟ ددې خبرې د اوریدو سره سم هغه اجنبې دخپل اس واګې کلکې کړې او په یوه ټوپ په اس ور سپور شو او بیا د تللو په وخت کې يې شهزادګۍ ته وکتل او دپخوا په نسبت په لږ څه لوړ اواز يې په ډیره غصه او قهر ورته وویل:

شهزاګۍ ګنګا ! زه له تانه کرکه کوم ، زه تا سره مینه نه کوم. ددې خبرو سره سم يې خپل آس ته لغته ورکړه او په ډیره ګړندۍ توګه د هغه ځایه ووت.

د دې اجنبی ځوان د خبرو په اوریدو سره شهزادګۍ ګنګا په ډیره ناخوالۍ او حسرتونو سره ، دغمونو په بهير کې ولاړه پاته شوه . په همدې وخت کې يې د راجه هرکشن ساتونکې ته اشاره وکړه ، د اشارې سره سم هغه ساتونکې د دې نقاب پوش اجنبی تر شا و لاړ تر څو دهغه راز ځانته معلوم کړي ، تر څو وپوهیږي چې هغه څوک دي ، دکومه ځایه راغلې او چیرې درومي ؟ تر دې وخته پورې راجه هرکشن هم دخپل شاه نشین څخه را کیوتې و . هغه دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا څنګ ته راغې ، ودرید او هغې ته يې تسلي او تشفی ورکړه او بیا يې ورڅخه وپوښتل هغه دخپلې لور شهزادګۍ ګنګا څنګ ته راغې ، ودرید او هغې ته يې تسلي او تشفی ورکړه او بیا يې ورڅخه وپوښتل:

ګوره شهزادګۍ لورې ! هغه نقاب پوشه ستا د ترلا سه کولو دریو اړه مقابلې وګټلې ،اوس هغه له تا سره د واده کولو حقداره دې. او د ښځې په خير تا د خپله ځانه سره کول هم دهغې حق دې. دا چې تا دهغه سره خبرې کړی دې نو ماته هم ووایه چې هغه له تا سره څنګه ژمنه وکړه. دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا په ډیره غمژنه لهجه وویل:

پلار جانه ! ما دهغه څخه د هغه دنوم اود هغه د ځای د معلومولو هڅه وکړه خو هغه ډیره حیرانونکې ځواب راکړ ،هغه په خپل آس د سپريدو وروسته همدومره وویل چې هغه ما نه خوښوي ، ددې خبرې سره سم يې خپل اس په ځغاسته کړ او ددې ځایه ولاړ. خو ما ستا يو ساتونکې دهغه پسې وروسته ور ولیږه تر څو هغه پرې ځان خبر کړې چې دا اجنبی دکومه ځایه راغلې ، او دکوم ځای اوسیدونکې دې او اوس چیرې روان دې. دهغې په دې خبره راجه هرکشن په ډیره عجیبه توګه ترې وپوښتل :

ګوره لورې !دا اجنبی خو ډیر عجیب انسان ښکاري ، هغه په دومره ستونزمنه توګه ستا دترلاسه کولو دا دریو اړه مقابلې وګټلې ،خو زه په دې ډیر حیران یم چې هغه ستا دد ریمی مقابلې د ګټلو نه وروسته بیا هم ستا لورې ته کوم رغبت او میلان و نه کړ. خلک خو زما د شهزادګۍ د کتلو ارمان کوي خو دا اجنبی له تا څخه د خپلې ناراضتیا خبره کوی ، خوګوره لورې !تا ډیره ښه وکړل چې یو ساتونکې دهغه تر شا و استاوه تر څو هغه معلومه کړې چې دا نقاب پوشه څوک دې ،دکومه راغلې او چیرته ستنیږي ، اوس راځه لورې چې د راج محل په لور ولاړ شو. هلته ولاړ نور خلک هم خپلو خپلو کورنو ته روان شوي ، په دې اساس راجه هرکشن ، شهزادګۍ ګنګا او رانیانې دخپلو نورو دوستانو سره یو ځای د راج محل په لور ولاړل.

۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

درهتاس دراجه هرکشن د شهزادګۍ ګنګا د ترلاسه کولو دد ریمی مقابلې دګډولو وروسته هغه نقاب پوشه ځوان خپل آس د شرق په لور ځغلاوه خو شهزاګۍ ګنګا هم دخپل پلار د ساتونکو دډلي یو ساتونکي دهغې په تعقیب پسې روا کړې. هغه هم په لږ واټن کې دهغه نقاب پوش پسې روان و .ترڅو هغه وپوهیږي چې دا نقاب پوش څوک دي او دکومه ځایه راغلي دي.

هغه اجنبی نقاب پوش خپل اس په ګړندی توګه ځغلاوه، اوس هغه د رهتاس څخه نزدې اته میله لرې ورانو ویجاړو ته رسیدلي و. هلته د ونو د ځنګلو څخه نا څاپه درې ننبه ویشتونکې او جنګجویان را ووتل ، او دهغه لاره یې و نیوله. دغه نقاب پوش هم دهغو د کتلو سره سم په یوه ټکان سره دخپل آس واګې کش کړې او ویې دراوه.

بیا دې اجنبی نقاب پوشه د هغو لاره نیوکونکو لورې ته ورغې ویې کتل چې هغوې درې واړه ، یو د راې سین شهزاده سانول داس ، بل د میواړ شهزاده سورج مل او دریم هم د کالنجر شهزاده سورداس دې. بیا د راې سین دراجه زوې سانول داس خپل اس لږ را مخته کړ او دغه نقاب پوش ته یې وویل:

ګوره اجنبی ! مونږ نه پوهیږو چې ته څوک یی ، اود کوم ځایه راغلې یی. خو تا د هرتاس د راجه هرکشن د لور شهزادګۍ ګنګا د ترلاسه کولو دریمی مقابلې وګډلې او مونږ درې واړه شهزادګان دې مغلوبه کړو . ، زمونږ لورې ته لږ څه په غور سره ووینه ، زه د راې سین شهزاده سانول داس یم ، زما سره څنګ کې د میواړ شهزاده سورج مل او د کالنجر شهزاده سورداس دي. مونږ درې واړه دلته په دې ورانو ویجاړو کې ستا لاره نیولې ده ترڅو مونږ تاته زمونږ ددې بې عزتۍ په را رسیدو سره سزا درکړو.

دهغوې په دې خبره دغه نقاب پوشه ترې په ډیره یخه ټنډه او نرمې ژبې سره و پوښتل چې نه خو زما او ستاسو دتر منځ کومه دښمنې شته او نه کوم عداوت ، چې تاسې درې واړو زما لاره نیولې ده او زما د وژلو نیت موکړې. دا ځل د میواړ شهزاده سورج مل ورته په ځواب کې وویل:

ګوره اجنبي !تا د هرکشن د شهزادګۍ د ترلاسه کولو دریمه مقابله هم ګټلې او مونږ درې واړه دې نه یوازې مغلوب کړي یو بلکه مونږ درې واړو ته دې بې عزتي راوړې ده. په دې اساس مونږ درې واړه له تا څخه دخپلې بې عزتۍ بدله اخلو . دغه نقاب پوش یو ځل بیا په ډیرې نرمۍ سره دوې درې وا و ته وویل:

زما لاره نیونکو واورئ ! زه تاسو درې واړو شهزادګانو ته ګوابښ کوم چې زما لاره پریږدئ ، زه نه غواړم له تاسې سره ټکر وکړم. او نه غواړم بې دلیله له تاسې سره په جنګ کې را و نغاړم ، یو خبره په غور سره واورئ ، که چیرې تاسې د شهزادګۍ ګنګا دترلاسه کولو دغه درې واړه مقابلې له ما څخه و نه ګټلاې شوې نو بیا په دې ویرانو کې به زما سره څه ډول مقابله وکړئ؟

دهغه په دې خبره دا ځل د میواړ شهزاده سورج مل ورته په ځواب کې وویل:

واوره اجنبی ! دمقابلو ګټل یوه خبره ده او په دې ویرانو کې زمونږ د دریواړو سره ستا دټکر خبره بیله ده . مونږ درې واړه به په تا یو ځاې حمله وکړو او ستا وجود به ټوټه ټوټه کړو . ته خو مونږ ته کوم کمذاته هندو ښکارې. او په همدې خاطر مجبور شوې یې چې خپل مخ اوڅیره پټه و ساتې. که چیرې ته دکوم اعلې ذات هندو وایې او یا دکوم ریاست شهزاده ، نوبیا به دې داسې خپل مخ او څیره په نقابو کې نه را نغاړله. او نه به دې په پټه خوله دې مقابلو کې برخه اخستله بلکه زمونږ په څیر به دې په ښکاره مخ او څرګنده توګه په دې مقابلو کې برخه اخستلې واې. پخوا له دې چې مونږ درې واړه له تا څخه د خپل عزت دبدلې د اخستلو له پاره پرتا خپلې تورې را سپرې کړو نو ووایه چې ته څوک یې ؟دهغوې په دې خبره دغه نقاب اغوستونکې په ډیر قهر سره وویل:

درې واړه بې غیرته شهزادګانو ! واورئ !که چیرې زه ستاسې د دې پوښتنو ځواب درنه کړم نو بیا به ستاسې عکس العمل څه ډول وي؟په ځواب کې یې دا ځل د رای سین شهزاده سانول داس را مخته شو او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوره اجنبي ! هغه څه چې در څخه پوښتل شوي دی که چیرې د هغې ځواب دې را نه کړ نو بیا به ته ووینې چې مونږ پر تا د شاتو د مچیو ، د پاګلو هوا ود تنکي ځوانانو او په غرنو کې د ورکو شویو لیوانو په څیر یرغل دروړو. ستا جسم به ټوټې ټوټې کړو. ای اجنبی ! په دې غرونو کې به مونږ تا بوټې بوټې دمرغانو دخوراک کړو خو د هر څه دمخه درته وایو چې خپل نوم دې را وښیه ، خپل وطن او ځای ځیګې ته را څرګند کړه ، ته ولې خپل نوم پټوې ، ولې د خپله مخه نقاب نه لرې کوې. دهغوی په دې خبرو باندې دا اجنبي نور هم و غرید او دپخوا څخه یې نور هم سخت ځواب ورکړ.

واورئ اې ذلیله انسانانو !تاسې درې واړه ذلیله شهزادګان یوائې وخت لرئ ، چې زه تر درې پورې شمیرم ، که چیرې هغه وخت مو هم زما لاره پرینښوده ، نوبیا یاد ساتئ چې زه به تاسې درې واړه په همدې ورانو ویجاړو کې د خسو خاشاکو په څیر و سوزوم. واورئ ! اوس هم وخت لرئ چې زما لاره پریږدئ او که نه زه به ستاسې پر خلاف انقلابي قدم واخلم.

په همدې وخت کې د رهتاس راجه هرکشن هغه ساتونکې چې شهزادګۍ ګنګا ددې نقاب پوش دتعقیب له پاره دهغه پسې استولې و ، هم دغه ځای ته ورسید . هغه همغسې خپل واټن لږ څه لرې ساته ، د نقاب پوشه او ددری کسو شهزادګانو تر منځ د ترخو خبرو په وخت کې دغه ساتونکې هم هلته د ونو په ګڼه ګونه کې پټ کیناست ، او حالات یې ځارل چې څه پیښیږی. دهغې وروسته د کالنجر شهزاده سورداس را مخته شو او ددې اجنبي خبرو ته یې ځواب وایه ، سورداس هم دغه نقاب پوش ته وویل چې ګوره اجنبی ! داسې څرګندیږی چې تا زمونږ په لاسو د مرګ له پاره ځان تیار کړې دې. که چیرې ستا اراده همداسې وي نو بیا همداسې سهی ده. په همدې وخت کې دغو درې واړو شهزادګانو د کوم عکس العمل د ښوولو له پاره ځانونه جوړول چې یو ناڅاپه دغه اجنبی نقاب پوشه په حرکت راغې اودخپلو کالیو څخه یې یو دروند خیجر را وویست او د راې سین دشهزاده سانولداس په سینه کې یې ورښخ کړ او دهغه کار یې ورتمام کړ.

سانولداس د زخمی کیدو نه وروسته دخپله آسه را پریوت ، دهغه په زخمی کیدو باندې د نورو دواړو شهزادګانو سورداس او سورج مل اندیښنې نورې هم زیاتې شوې. په همدې وخت کې همدې اجنبی نقاب پوش خپل اس ته یو پونده ورکړه اوتوره یې را وویسته او یوځل بیا یې په دوې حمله وکړه ، د میواړ شهزاده سورج مل یوې لورې ته کوږ شو خو د کالنجر د شهزاده سورداس څټ یې دخپلې تورې په دې ګذار سره پرې کړ.

دخپلو دوو ملګرو د مرګ وروسته د میواړ شهزاده سورج داس په اس پښه واړوله ، او د هغه ځایه د تښتیدو هڅه یې وکړه ،ځکه هغه پوه شوې و چې دا ډیر خطرناکه نقاب پوش دې اوشونې ده چې حالت یې ددوو نورو ملګرو په څیر شي. خو اوس ددې نقاب پوش څخه تیښته څه اسانه کار نه و. څه وخت چې د میواړ شهزاده خپل آس ته پونده ورکړه او په تیښته شو نو اجنبی هم دهغه پسې تر شا په خپل آس باندې سپور ور وځغلید.

دغه نقاب پوش د میواړ شهزاده تر ډیره لرې پورې تښتید و ته پرې نه ښود . اوپه هغه باندې د تورې د یوه ګذار سره ، دهغه تنه د سر نه تر پښو پورې دوه ځایه شوه. دغه اجنبی نقاب پوشه په ډیر لږ وخت کې درې واړه شهزادګان دخپلې مخې څخه لرې کړل ،بیا یې خپل آس په ډیره ګړندی توګه بیرته را ستون کړ او د ونو دغې ګڼې ګونې ته، چیرې چې د شهزادګۍ ګنګا ذرې ورته پټ ناست و ، راغې.

دلته د راد سیدو سره سم دغه اجنبی خپل آس و دراوه ، دخپل شا څخه یې کمان را پرانست ، غشې یې په کې کینښود اوبیا په یوه لوړ ځای وخوت ، اوبیا یې په لوړ اواز سره په دې ګڼه ګونه کې پټ ناست کس ته ورغږ کړ او ورته یې وویل:

اې په دې ګڼه ګونه کې ناست اجنبی ! زه نه پوهیږم چې ته څوک یی ، او نوم دې څه دې ؟ اود څه له پاره دلته پټ ناست یی. زه تاته حکم کوم چې سمدستې ددې ګڼې ګونې څخه را ووځه ،او که نه یاد ساته چې زه تر ډیره پورې انتظار نه شم کولې اوپه تا باندې به غشې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروم. ته به ما پیژني ، خو ته دا هم واوره چې زما نښه نه خطا کیږي او زما لمړۍ غشي د زړه په سر و رننبلي. دد ې نقاب پوشه دغه ګوابښ ډیر اغیزمن ثابت شو. ځکه هغه سپور د ونو د ځنګل ځخه را ووت. نقاب پوش هم د دغه اجنبی ځنګ ته راغي او ودرید. په دې وخت کې نقاب پوش خپل کمان بیرته په شا و تاړه ، غشي یی ترې وویست. خپله توره یی په لاس کې واخسته ، په بل لاس کې یی ډال و نیو ، بیا یی دهغه ځخه وپوښتل او ورته یی وویل چې وو ایه !ته څوک یی؟ او د ونو په دې ځنګل کې ولې پټ شوې وې ؟ په دې وخت کې دغه تعقیب کونکي ورته په لړزیدلی اواز سره وویل:

ته د هر څه د مخه له ما سره ژمنه وکړه چې که زه رښتیا ووایم نو ته به راته ښښنه وکړې. دهغه په ځواب کې نقاب پوش ورته وویل: وایه ته څه ویل غواړې ، که چیرې تا رښتیا وویل نو زه درته هیڅ هم نه وایم ، دهغه په ډاډ دغه تعقیب کونکي ورته وویل:

زه د رهتاس د راجه هرکشن د ساتونکو دډلي ځخه یم. څرنګه چې تا د شهزادګۍ ګنګا سوئمبر ګټلې دې ، خو د رواج او کلتور مطابق تا د سویمبر د ګټلو وروسته د شهزادګۍ ګنګا سره خبرې هم و نه کړې او تر څنګ یی د خپل نوم او نښې د ښوولو پرته دهغه ځایه ولاړې نو شهزادګۍ ماته ستا د تعقیب کولو امر وکړ. تر څو زه هغې ته معلومات یو سم چې ته څوک یی ،ا و د کومه ځایه راغلې یی او دکوم ریاست او سیدونکې یی. ددې اجنبی تعقیب کونکي د ځواب په اوریدو سره هغه نقاب پوشه د لږ وخت له پاره خاموشه ولاړ و ، دهغه دحالت څخه څرګندیده چې هغه مسکې مسکې کیږي ، بیا هغه وویل: چې په رښتیا چې تا سهی خبره کړې ده. ګوره ! هغه درې شهزادګانو د شهزادګۍ ګنګا د سویمبر په مقابلو کې ګډون کړې و ،نو هغوې په دې ورانو ویجاړو کې زما لاره نیولې وه. هغوې په دې خفه و چې ما هغوې نه دې پری ایښې چې دشهزادګۍ ګنګا سویمبر وګټي. نو په دې اساس هغوې غوښتل ما ووژني. خو تا وکتل چې ما دهغوې درې واړو کار ور تمام کړ. دهغه په دې خبره هغه تعقیب کونکی وویل چې ما ټول هر څه په خپلو سترګو وکتل. هغوې په رښتیا هم ددې وړ وو چې ووژل شي. دهغه په دې خبره نقاب پوشه ورته وویل: ګوره ! ددې مړو شوو درې واړو شهزادګانو اسونه له خپله ځانه سره یوسه ، او ددې ځایه بیرته ستون شه ، خو که چیرې بیا دې زما تر شا د راتللو هلې ځلې وکړې نو یاد ساته چې دهغو شهزادګانو په څیر به ستا ځې هم له تنې پرې کړم. اوس له ځانه سره دا اسونه واخله او له دې ځایه ورک شه.

ددې نقاب پوش په ګوابښ باندې هغه تعقیب کونکی ددرې واړو وژل شوو شهزادګانو اسونه له ځانه سره واخستل او په ډیره بیړه بیرته ستون شو. خو هغه نقاب پوش هملته ولاړ او د تعقیب کونکي په لور یی د هغه ترشا کتل. ان تر دې چې هغه د هغې د سترګو څخه ورک شو. بیا یی په خپل اس پښه واړوله او پونده یی ورکړه او دجنوب شرق په لور یی په ګړندۍ توګه خپل سفر پیل کړ.

درهتاس راجه هرکشن دخپلې لور شهزادګۍ ګنګاا و د خپلو نورو رانیانو سره په خپل محل کې په خبرو بوخت و. په همدې وخت کې د ساتونکو د ډلې مشر دهغه ځای ته راننوت او راجه هرکشن ته یی وویل چې: هغه ساتونکې چې شهزادګۍ ګنګا د هغه نقاب پوش د تعقیب پسې استولې و هغه هم بیرته راستون شوې او غواړی دشهزادګۍ سره ووینی. د ساتونکې دډلې د مشر ددې خبرې سره سم شهزادګۍ ګنګا دخپله ځایه ټوپ کړ او را پورته شوه ، راجه هم دخپله ځایه راپورته شو او ویی ویل مونږ دواړه پلار اولور به دهغه سره خبره وکړو. ددې خبرې سره سم شهزادګۍ او پلار یی دواړه دهغې خونې څخه بیرون را ووتل.

هغه ساتونکې په لږ واټن کې خپل اس د واګو نیولې و او ولاړ و. دهغه شاته دهغو مړو شوو شهزادګانو درې واړه آسونه هم و ، شهزادګۍ هغه ته را نژدې شوه او په ډیره بې قرارۍ سره یی و رځخه و پوښتل: ایا دهغه نقاب پوش تعقیب دې وکړ ، هغه څوک و او دکومه ځایه راغلې و او اوس چیرې ولاړ. دهغې په دې خبرو هغه ساتونکې خپل سر ټیټ اچولې و او غلې ولاړ و بیا یی شهزادګۍ ته وویل: زه ډیر افسوس کوم چې ما هغه تر اخره پورې تعقیب نه شو کړای. دهغه په دې خبره ترې شهزادګۍ په ډیره حیرانتیا سره و پوښتل چې ولې دې دهغه تعقیب و نه شو کړای؟ هغه ساتونکې ورته په ځواب کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهزادګۍ ! ما دهغه نقاب پوشه تعقيب تر ډيره ځايه وکړ ، ان ددې ځايه اته يا لس ميله لرې واټن کې پسې ولاړم. هغه وخت چې د ې نقاب پوش د شر ق په لورې خپل آس ځغلاوه زه هم ورپسې روان وم. خو هلته د ونو د ځنګل څخه يو ناڅاپه ستا په سويمبر کې برخه اخستونکې درې شهزادګان هريو د راې سن شهزاده سانول داس ، د ميواړ شهزاده سورج مل او د کالنجر شهزاده سورداس را پيدا شول اودهغه اجنبی نقاب پوشه لاره يې ونيوله.

تر دې ځايه ما تعقب وکړاې شو اوهلته په رسيدو سره په ونو کې پټ کيناستم او ددې ټول منظر ننداره مې کوله ، کله چې دې نقاب پوش ددې درې واړو شهزادګانو څخه د خپلې لارې د بندولو پوښتنه وکړه نو هغوې ورته په ځواب کې وويل چې څرنګه چې دوې درې واړو ددې نقاب پوش له لاسه د شهزادګۍ سويمبر نه دې ګټلې ، او د دې شتون ددوې له پاره دماتې اوشرميدلو سبب ګرځيدلې د ې نوپه دې خاطر به اوس هغوې دا نقاب پوش ژوندې نه پريږدې. هغوې درې واړو ددې اجنبی څخه دهغه د نوم او ځاې په اړه وپوښتل خو هغه ورته هيڅ ځواب ور نه کړ خوکله چې دغه درې واړه شهزادګان په دې نقاب پوش باندې را پريوتل نو شهزادګۍ ! هغه اجنبی يو انقلاب را منځته کړ.

هغه ډير زيات تيز ، ډير چالاکه او ښه ماهر تيغ وهونکې دې ، هغه د سترګو په رپ کې دراې سين شهزاده سانول داس په خپل خنجر باندې ووااهه اود آسه يې لاندې را وغورځاوه ، کله چې هغو نورو دواړو شهزادګانو دخپل ملګر ي حالت ته کتل اود څه تصميم نيولو هوډ يې کاوه چې په دې وخت کې هغه نقاب پوشه خپل آس ته پونده ورکړه او د کالنجر شهزاده سورداس يې را چپه کړ. دميواړ شهزاده سورج مل چې کله دا حال وکوت نو د تيښتې لاره يې خپله کړه خو نقاب پوش هغه تعقيب کړ او د شا له اړخه يې په توره داسې وواهه چې وجود يې دوه ټوټې شو اوهملته له منځه ولاړ. او په دې توګه يې دهغوې درې واړو شهزادګانو ژوند ته د پاې ټکې کيښود.

دا زما بدقسمتي وه چې هغه نقاب پوش زه دونو په دې ځنګل کې کتلې وم ، نو هغه بيا زما لورې ته راغې ،خپل کمان يې را وويست او غشې يې په کې کيښود اوماته يې ګواښ وکړ چې زه د ځنګله څخه را ووځم او که نه ما به دخپلو غشو نښه کړې. ما د هغه نښه ويشتل هلته ستا په سويمبر کې کتلي وو چې هغه خطا نه ځی نوپه دې خاطر زه غلې شانته د هغه پټنځاې څخه را ووتلم.

کله چې هغه زما څخه د تعقيب کولو علت و پوښت ، نو ما ورته رښتيا رښتيا وويل ، چې زه شهزادګۍ ګنګا ستا په تعقيب پسې را استولې وم. تر څو هغې ته خبر يوسم چې ستا نوم څه دې ، ته دکومه ځايه راغلې يې او کوم هيواد يارياست اوسيدونکې يې ؟کيد ې شې هغه زما په رښتيا ويلو باندې خوشحاله شوې وې نو ماته يې حکم وکړ چې د مړو شوو درې واړو شهزادګانو دا آسونه له ځانه سره يوسم اوبيرته ستون شم. نو ما دهغې خبره و منله او دادې بيرته ستاسې حضور ته راغلم. اودغه درې اسونه چې زما تر څنګ ولاړ دي دا دهغو درې واړو شهزادګانو اسونه دي. نو شهزادګۍ ما همدومره ويل غوښتل چې ومې ويل:

تر دې ځايه دخبرو وروسته هغه تعقيبونکې ساتونکې خاموشه شو ،بيا شهزادګۍ هلته ډيره ناهيلې او انديښمنه و دريده ، تر لږه وخته پورې يې ځان سنبال کړ اوهغه تعقيب کونکې عسکر ته يې وويل: ته اوس ولاړ شه او ارام وکړه ، انديښمن کيږه مه ، هغه کار چې تا ته در سپارل شوې و هغه دې ترسره کړې دې. د شهزادګۍ ددې عکس العمل دکتلو وروسته هغه ساتونکې په ډيره خوشحالۍ سره دهغه ځايه ولاړ. دهغه د تللو وروسته شهزادګۍ ګنګا د خپل پلار راجه هرکشن په لورې ورغله اوورته يې وويل:

پلار جانه !هيڅ خبر نه شو چې دا نقاب پوشه څه ډول انسان و. هغه ډير ښه تيغ وهونکې ، او بې جوابه غشې ويشتونکې دې ، هغه زما سويمبر هم وګټه او ماته يې کوم اهميت هم را نه کړ. اودتللو په وخت کې يې همدومره وويل چې زه تا نه خوښوم. پلار جانه !د ا به څه ډول انسان وي چې خپل ځان ته دومره ارزښت ورکوي اودخپل ځان په مقابله کې ما دومره بې ارزښته ګڼی. پلارجانه ! زه په دې اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې لاس په لاس نه شم کیناستلې ، زه به په هره توګه چې وي دا ډاګیزه کوم چې دا نقاب پوشه څوک دې ؟ ماته یاد دی چې زما د سویمبر ددویمو مقابلو په ورځ د کوچیانو دقبیلې مشر فدایي خان دهغه سره دخبرو له پاره دلته راغلې و.
پلار جانه ! ته ماته د فدايې خان اته پتّه معلومه کړه . اوهغه ماته را ولیږه تر څو دهغه څخه و پوښتم چې په مخ اوڅیره باندې نقاب اغوستونکې دغه ځوان چې زما سویمبر یې هم ګټلې دې څوک دی . پلارجانه !څرنګه چې هغه درې ځلې زما دتر لاسه کولو مقابلې په ښه شان سره ګټلې دي ، په دې اساس زه به په هرصورت دهغه د تر لاسه کولو هڅې کوم. هسې خو رواج او رسوم دادی چې شهزادګان تل شهزادګۍ ځانته پیدا کوی، خو زما په اړه دا ټوله خبره بلمنګه ښکاري ، زما دسویمبر د ګټلو نه وروسته هغه زما څخه خپله ناخوښي څرګنده کړې ده خو اوس به زه دخپل ضد په واسطه هغه پری نږدم. زه به په هره توګه چې شونې وی هغه پیدا کوم اود خپل ژوند ملګرې به یې ګرځوم.
تر دې ځایه دخبرو وروسته شهزادګۍ ګنګا خاموشه شوه ، راجه هرکشن په ډیره نرمۍ او محبت ورته وویلې ،ګوره لورجانې ! ته په دې اړه اندیښنه مه کوه او مه ناهیلې کیږه ، زه به دهمدا اوسه د کوچیانو دقبیلې دسردار فدایي خان په لټه کې شم ، که هغه زما لاسته راغې نو زه به یې ستا تر مخه حاضر کړم. ته به دهغه څخه وپوښتې چې ستا د لاسته راوړو د مقابلو دغه نقاب پوشه ځوان څوک دې ؟ د خپل پلار راجه هرکشن دځواب په اوریدو سره شهزادګۍ ډیره خوشحاله شوه ، اوبیرته دواړه پلار اولور دمحل په لور روان شول او همغه ځای ته ورغلل چیرې چې پخوا ناست و.

۱۴

دشیرشاه سوري په لاسو د ماتې خوړولو وروسته ، د بنګال حاکم سلطان محمود دخپل مرکزي ښار ګوډ په لور وتښتید . هلته ګوډ ته د وررسیدو سره سم هغه ته دا خبر تر لاسه شو چې د ګنګا د دریاب په غاړه دده د ماتې څخه وروسته شیرشاه سوری اوس غواړې د هغه یوه بله مستحکمه کلا تیلیا ګړهی هم فتحه کړي. خو سلطان محمود په هر صورت او هر حال اراده درلوده چې د تیلیاګړهی څخه دفاع وکړی ، ځکه که د تیلیاګړهی سیمه او د اګر کلا د شیرشاه سوری لاس ته ورځی نو بیا خو په بنګال کې د سلطان محمود قدم ټینګید ل شونې نه دي.
دګنګا د دریاب په غاړه د شیرشاه سوری په لاسو دماتې خوړلو وروسته د بنګال حاکم ته دا څرګنده شوې وه چې هغه نه په یوا ځې ځان د شیرشاه سورې مقابله کولې شي او نه ورڅخه بنګال خوندي ساتلې شي . نو په دې خاطر دشیرشاه سورې د یلغار د مخنیوی په خاطر هغه باید د چا څخه مرسته وغواړي ، اویا څوک دخپل ځان سره متحد وګرځوي . اوس نو سلطان محمود ته دخپلو دغو موخو د لاسته راوړو له پاره دوه لارې موجودې وې
لمړۍ دا چې هغه د شیرشاه سوري په مقابل کې دهندوستان د شهنشاه همایون بابر څخه مرسته وغواړي ،خو څرنګه چې همایون په دې وختو کې دخپل ټول ځواک سره د ګجرات د حاکم بهارخان په خلاف په جنګ نښتې و اوپه ځای ځای ددواړو د فوځونو تر منځ خونړي جنګونه روان و .نو په دې خاطر د بنګال حاکم دا وګڼل چې که په دې حال کې د همایون څخه مرسته هم وغواړی نو همایون به دهغه څه مرسته و نه شی کولای. ځکه همایون به هیڅکله هم د ګجرات د حاکم پر خلاف خپل کار نیمایي پری نږدی اودشیرشاه په خلاف به دده کومک ته را ونه دانګي ،نوپه دې خاطر سلطان محمود د همایون څخه د مرستې د غوښتلو پلان له نظره وویست.
دویم ځواک چې سلطان محمود د شیرشاه په خلاف د خپل ځان سره را یوځای کولې شو ، هغوې د ګوا پرتګالی فوځونه و. په همدې وختو کې دې پرتګالی فوځونوپه هندوستان کې پوره ځواک درلود. نو د شیرشاه سوري پرخلاف سلطان محمود دپرتګالیانو د ملګرتیا له پاره د ګوا د والي «نونوډا» سره اړیکې ټینګول پیل کړل. او ددې کار له پاره یې د پرتګالي بحري بیړۍ دقذاقانو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان و ټاکه . دغه قومندان د سلطان محمود سره دهغه په مرکزی ښار ګوډ کې بندی و . دبحري قذاقانو ددې قومندان نوم میلوجسارتې و. دا چې میلو جسارتې څه ډول د سلطان محمود په لاسو بندی شو دهغه قصه څه دا ډول ده.

په ګوا کې میشت پرتګالیان ډېره وخته راهیسې د بنګال د زمکې لاندې طبیعې سرچینو د راویستلو له پاره په کار بوخت ول. هغوې غوښتل چې د شرقی بنګال د اوو سیمو تر څنګ د هګلی او چټګانګ په موجوده سیمو او بندرګاه باندې ولکه وکړي. خو تر اوه سیمو پورې ورتګ اسانه نه و ځکه هغه ډېرې لرې او په داخل کې پرتې وې. په دا سې حال کې چې چټه ګانګ د سمندر په غاړه پروت و.

دخپلو دغو موخو د ترلاسه کولو له پاره دګوا پرتګالی والې نونوډا د خپلو بحري قداقانو قومندان میلوجسارتې دهمدې کار له پاره هغه لورې ته ور استولې و. اوهغه ته یې ویلی و چې هغه د ې د چټه ګانګ د بندر ګاه په لور ولاړ شي اوپه بنګال کې دخپلو ګټو د تر لاسه کولو له پاره هڅې وکړی. دګوا والی نونوډا د بحری قذ اقانو دې قومندان ته ډېره ستره او قوې بحرې بېړه هم تیاره کړې وه. خو دا به د میلوجسارتې بدقسمتې وه ځکه هغه وخت چې هغه ددې کار دتر سره کولو له پاره روان شو نو د هغه ټولو بېړه د یو سمندرې توپان سره مخ شوه ، بېړه یې غرقه او خلک یې تیت و پرک شول خود هغه خپل بحری جها ز د اراکان د سمندر غاړې ته ورغې. میلو جسارتې په یوه کوچنی شانته بحری جهاز کې د چټاګانګ تر غاړو پورې ورسید خو هغه د کرن چالی دریاب په غاړه پرته بندرګاه و نه پیژندله ، ددې یو علت دا و چې د بنګال په خلیج کې نژدې پنځوس میله واټن کې دا ډول درې دریابونه را یوځاې کیږي. چې دهغې ډلې څخه یو کرن چالی ، بل یې سانپ کها او دریم یې مت مهری دې.

د بحری غلو دغه کپتان میلوجسارتې اودهغه یو څو نور پرتګالی ملګری هلته په سمندر کې د څو کسه ماهی نیونکو لخوا و نیول شول. دې ماهی نیونکو هلته په خپلو سیمو کې ماهیان نیول چې ددوې بحرې جهازونه ور ورسیدل. خو هغوې ددوې د نیولو وروسته دجهازونو سره یو ځاې د چټاګانګ د بندر په لور یوړل. ماهی نیونکو د میلوجسارتې جهاز د مت مهرې د دریاب غاړې ته راوست ، دپرتګالیانو جهاز تر چکریا پورې ورسید. دا یو وړوکې شانته کلې و چې په هغه وخت کې د مسلمانانو د راتلو د مخه د ارکان دراجه ملکیت و.

دمت مهری دریاب تنګ او کم عرضه و. کله چې ددریاب د جزر وخت راغې نو دپرتګالیانو جهاز په کې و نښت ، د چکریا والي خدابخش ، میلو جسارتې اودهغه نور ملګرې ټول ونیول او د بحرې غلو تر نامه لاندې یې په زندان کې واچول.

پرتګالیانو یو ځل دوه د همدې میلو جسارتې تر مشرۍ لاندې د تیښتې هڅه هم کړې وه خو دهغوې هڅې شنډې کړل شوې وې. دهغې پایلې دا شوې چې هغه یې نور هم دننه یوړ او هلته یې په زندان کې واچوه ، په همدې وخت کې میلو جسارتې ته یوه پیښه را منځته شوه دهغه یو ډیر ښایسته وراره چې د هغه سره ملګرې و ، د وهم پرسته هندوانو له اړخه دریاب ته د نذرانې په شکل ور واچول شو. ځکه هغوې د سپین خنزیر قربانۍ ته اړتیا درلوده او دا ځوان هم سور سپین او ښه ښایسته کړل شوې نو په دې خاطر هندو بامبړانو همدې قربانې کړ ، د چکریا والی خدابخش خان څه موده وروسته میلو جسارتې دخپله ځانه سره و ساته ، بیا یې په ۱۵۳۰ ز کال کې پنځلس سوه پونډه جرمانه کړ او په دې ترتیب یې میلو جسارتې اودهغه ملګرې د زندانه ازاد کړل. په دې توګه د قید اوبند څخه د خوشې کید و وروسته میلوجسارتې نیغ ګوا ته ولاړ.

په ۱۵۳۳ ز کال کې د ګوا پرتګالی والی نونوډا کنها یو ځل بیا میلو جسارتې دخپل نماینده په توګه چټاګانګ ته ورولیږه ، تر څو هغه هلته د بنګال دحاکم سلطان محمود څخه دهغه په مرکزې ښار ګوډ کې دیوې کارخانې د جوړولو له پاره داجازې او اسانتیاو د تر لاسه کولو له پاره خبرې وکړي. او تر څنګ یې دهغه سره د پرامنه تجارت د پیلولو له پاره هم اجازه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلو جسارتي د خپل والي د حکم سره سم یوه بحري بیړه را واخسته او دهغه ځآیه را روان شو ، دا ځل د چټاګانګ مسلمان والي هغه ته ډیر ښه راغلاست وو ایه ، خو څرنګه چې میلو جسارتي یو ډیر ذلیله اوبد اخلاقه انسان و ، ددغه استقبال څخه یې غلطه ګټه پورته کړه او خپل ذلت یې هملته را ښکاره کړ. هغه خپل مال د چونګې د ورکولو پرته ښارته دننه په غلا راوست. او دخپل جارحانه سلوک په اساس یې دچټاګانګ خلک دخپل ځان په خلاف را وپارول. په همدې وخت کې د میلو جسارتي یوه بله بدبختي هم پیښ شوه او هغه داسې چې د بنګال دحاکم دخوشحالولو له پاره یې هغه ته ډیر قیمتي تحایف ور ولیږل. په دې تحایفو کې یوڅه خوشبو لرونکې بوتلونه هم و. خو د خشبو دغه بوتلونه دې بحري غلو دهمدې کپتان میلو جسارتي په قومندې د مسلمانانو د یوه بحري جهاز څخه لوټ کړي و او په هغو بوتلونو چې د مسلمانانو مارکه پرې نښتې وه همغسې پرې ایښې وه.

کله چې دا تحایف د بنګال حاکم سلطان محمود ته وړاندې کړل شول نو هغه ته را څرګنده شوه چې دا مال ټول د مسلمانانو د جهاز څخه لوټ کړل شوي دي. د بنګال حاکم په دې خبره ډیر نا خوښه شو او هغه د میلو جسارتي د سفیر او ورسره د راغلیو نمایندګانو د وژلو حکم وکړ. خو وروسته یې د یوه شخص په مشوره او سپارښتنه هغوې د وژلو څخه معاف کړل خو په زندان کې یې واچول.

ددې کار سره یو ځاې د بنګال حاکم سلطان محمود د چټه ګانګ والي خدابخش ته هم حکم ولیږه چې میلو جسارتي دې د خپلو ټولو انډیوالانو سره یو ځاې ونیسی ، نو هماغه و چې د چټه ګانګ مسلمان والي خدابخش ، میلو جسارتي او دهغه ملګري یوه دعوت ته را وبلل.

ددعوت په وخت کې میلو جسارتي او دهغه ملګرو ته دا خبر وررسید چې هغه نیول کیږي. نو په دې اساس هغه جنګ ته ملا وتړله ، په دې جنګ کې د میلو جسارتي لس کسه ملګري ووژل شول او پاته یې ژوندي ونیول شول. د میلو جسارتي په ګډون ټول بندیان دچټه ګانګ د والي خدابخش له اړخه لاس تړلي د سلطان محمود مرکز په لور واستول شول.

کله چې میلو جسارتي ګوډ ته ورسید نو سلطان محمود هغه په زندان کې ور و غورځاوه. کله چې د میلو جسارتي او دهغه د ملګرو د نیولو خبر د ګوا پرتګالي والي نونوډا کنها ته ورسید نو هغه یو ځل دوه خپلې بحري بیړۍ دهغوې د ازادولو له پاره هغه لورې ته واستولې خو دهغه بحري بیړه هر ځل د نکامۍ سره مخ شوه ، نو په دې اساس میلو جسارتي همداسې د بنګال دحاکم سلطان محمود په بندیخانه کې قید پاته شو. خو اوس سلطان محمود دهمدې میلوجسارتي له لارې غوښتل دګوا پرتګالي والي نونوډا کنها سره خبره وکړي تر څو هغه د شیرشاه سوري پر خلاف دخپل ځان سره را یو ځاې کړي.

دخپلو دغو موخو د تر لاسه کولو له پاره کله چې د بنګال حاکم سلطان محمود د ګنګا د دریاب په غاړه د شیرشاه سوري څخه ماتې وخوړله او بیرته خپل مرکز د ګوډښار ته را ستون شو ، نو هلته د راتلو سمدستي وروسته په هماغه دویمه ورځ یې دپرتګالي قذاقانو او غلو قومندان میلوجسارتي را وغوښت. هغه وخت چې میلو جسارتي د سطان دربار ته راغې نو سلطان محمود دخپله ځایه پورته شو او په ډیره ګرمه توګه یې دهغه استقبال وکړ ، او بیا یې د خپل ځان تر څنګ کیناوه.

تر یوه وخته پورې سلطان محمود خاموشه ناست و او د میلوجسارتي په لور یې کتل ، او بیا یې ورته وویل: ګوره جسارتي ! ته پوهیږې چې دلته مې د څه له پاره را بللې یې. دهغه په دې خبره جسارتي په حیرانتیا اود هیلې په سترګو سلطان محمود ته وکتل او ځواب یې ورکړ. زه نه پوهیږم چې د بنګال حاکم زه د څه له پاره د بندی خانې څخه را ویستلې یم او دلته یې دخپل ځان سره کینولې یم. خو بیا هم زه تاسو ته ډاډ درکوم چې که چیرې تاسې زما څخه دکوم خدمت د اخستلو اړتیا لرئ نو زه به تاسو ناهیلی نه کړم. د میلو جسارتي ددې ځواب په اوریدو سره د سلطان محمود په څیره کې خوښې را څرګنده شوه. او بیا یې دخپل مقصد خبره را واخسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره جسارتې ! ما پريکړه کړې چې تا د زندان څخه ازاد کړم. اوستا سره نور ملګري هم ازادوم. خو ته به هم زما يو کار ترسره کوې. دهغه په دې خبره ميلو جسارتې ډير خوشحاله شو اوپه ډيره نا قرارۍ سره يې خپل اړخ بدل کړ او ويې ويل: ترهر څه دمخه زه د بنګال دحاکم شکريه کوم چې هغه زما او زما دملګرو دپريښنولو اراده يې کړې ده .ددې نه اخوا به زه وپوښتم چې ته زمونږ دخوشې کولو په بدل کې څه ډول شرايط غواړې پر مونږ کيږدې. دهغه په دې خبره سلطان محمود وويل:

ګوره جسارتې !کيدې شې هلته په زندان کې تاته دا خبرونه در رسيدلي وي چې شيرشاه سوري په بهار باندې د ولکې کولو نه وروسته اوس غواړې په بنګال باندې هم حمله وکړي ، هغه يوځل ماته د ګنګا د درياب په غاړه ماتې ر اکړې ده او زما په ښار سورج ګړ او ترڅنګ يې د هغه ځاې په مستحکمه کلا مونګير باندې هم ولکه کړې ده . اوس چې کوم خبرونه را ځې دهغې په مطابق شيرشاه سوري ترڅو ورځو پورې غواړی زما يو بل ستر سنګر تيلياګړهی هم تر پښنو لاندې کړي ، نوکه چيرې شيرشاه تيلياګړهی هم سوبه کړي او په هغه ځاې خپله ولکه کلکه کړي نوبيا خو به زه فکر وکړم چې هغه به په بنګال باندې هم را خپور شی ، اوهيڅوک اوهيڅ ځواک به دهغه مخنيوی ونه کړاې شی. زه غواړم چې تاسې پرتګاليان زما سره د شيرشاه په مقابل کې ودريږئ،

تر دې ځايه دخبرو وروسته سلطان محمود غلې شو او بيا د بحری غلو پرتګالي قومندان ميلو جسارتې په خبرو پيل وکړ.

زه د بنګال حاکم ته ډاډ ورکوم ، چې له تاسره به زمونږ په يو ځاې کيدو باندې په ډاډمنه توګه د شيرشاه سوری مخه و نيول شی. دبنګال حاکمه ! زه تاته دا ډاډ هم درکول غواړم چې هلته په ګوا کې دومره ستره بحری بيړه او دومره ستر پرتګالی فوځ موجود دې چې که چيرې هغوې ټول د شيرشاه سوري پر خلاف استعمال کړل شي نو په څو ورځو کې به شيرشاه سوری نه يواځې د بنګاله بلکه د بهاره به هم تيښتې ته اړ شی . اوپه دې لړ کې به زه ستا سره هرډول مرسته وکړم. ته اوس همدومره وکړه چې زما ملګري بيرته ګوا ته وليږه ، زه به هغوې په ټوله خبره و پوهوم ، او په دې لړ کې به زه دګوا پرتګالی والی نونوډا کنها ته يو ليک هم واستوم. زه تاته ډاډ درکوم چې ددې ليک د ورسيدو سره سم به دهغه ځاې والی نونوډا کنها نه يواځې بحری بيړه را وليږي بلکه هلته شته فوځ به هم دې لورې ته را و استوي. دهمدې لښکر په کومک سره به مونږ د شيرشاه سوری په مخنيوی کې بريالی شو.

دميلو جسارتې ددې خوږو خبرو په اساس سلطان محمود خوشحاله شو اوبيا يې وويل:

ګوره جسارتې !تا ماته داسې ځواب راکړ چې زما د ډاډ او خوشحالۍ سبب وګرځيد. د نن څخه نه ،بلکه د همدا اوسه ته زما ګوجی مشاور يې. په هر ځاې چې زه حمله کوم نو له تا به مشوره اخلم. زما په لښکر کې به ته زما د يوه سالار په څير اوسې. ستا د اوسيدو ټولې اړتياوې به تاته هلته په مرکزي ښار ګوډ کې تياريږي. هلته به تاته د اوسيدو له پاره ډيره ښه حويلۍ درکول شی.اوس ته همدومره وکړه چې زما څو کسان به له تاسره هلته بندې خانې ته ولاړ شی دهغه ځايه ټول پرتګاليان ازاد کړئ ، ته هغوې بيرته دخپل والی نونوډا کنها لورې ته و ليږه او خپل ليک هم همغوې ته ورکړه .تر څو دشيرشاه سوري سره د مقابلې کولو له پاره دګوا پرتګالی والی خپله بحری بيړه او خپل لښکر دې لورې ته راوليږي. ددې خبرې سره سم ميلو جسارتې دخپله ځايه را پورته شو ، سلطان محمود خپل څو کسان دهغه سره يو ځاې زندان ته وليږل ، او هلته په ګوډ کې چې څومره پرتګاليان بنديان و هغوی يې ټول ازاد کړل ، ميلو جسارتې دهغوې په لاسو يو ليک هم د ګوا پرتګالی والی نونوډا کنها ته وليږه . دې ليک ډيرې ښې پايلې درلودې ځکه د ليک په ځواب کې د ګوا والی نه يواځې خپله بحری بيړه د بنګال دخليج په لور را وليږله بلکه د خپلو پرتګاليانو څخه جوړ شوې ستر لښکر يې هم د بنګال مرکزی ښار ګوډ ته ور وليږه.

۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګنګا د دریاب په غاړه سلطان محمود ته دماتې ورکولو وروسته شیرشاه سوری همغسې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ. په حقیقت کې هغه دهمایون د فراغت دمخه غوښتل په بنګال باندې ولکه وکړی او خپل ځآن مستحکم کړي.

په هغه وخت کې د بهار څخه د بنګال په لور تر ټولو لنډه لار دمونګیر ، بهاګل پور او کول ګونګ څخه تیریده او د تیلیاګړهی پورې رسیده ، ددې درّې د ساتنې له پاره ان د بهار تر پولو پورې دغه دتیلیاګړهی مستحکمه کلا پرته وه .. د بهار د پولو څخه دا لاره د شرقی بنګال سکری ګلی ته رسیدله. اوبیا د سکرې ګلی څخه دا لاره د ګنګا په غاړه غاړه دشرق نه تر غربه پورې بیرته را څر خیدله. اوبیا د ګنګا په غربي غاړو کې مخته تلله او د تیلیاګړهی کلا چې ددرّې په غربی څنډ و کې پرته وه ، او اوس یې هم کنډرې تر سترګو کیږی ، د سرکونو ټولې لارې پرې را څرخیدلې وې .ددې کلا یوې لورې ته د راج محل غرنۍ سلسله پرته ده ، چې ډیر سخت او ناهمواره غرونه دي ، ستر ستر ګونګونه لری. خو دجنوب په لور تر اتیا و میلو پورې د بنګال د بهیړ بوګ د سیمې تر بیرونیو پولو پورې پراخه پرته ده.

دهمدې سترې ، غرنۍ درّې لاندې د ګنګا دریاب د شرق لورې ته ډیر تیز ګرداب جوړ کړې و ، چې دهغې په اساس د تیلیاګړهی په شمال کې یو ستره کنده جوړه شوې وه.

دګنګا په هغه بله غاړه د ګړهی د درې تر څنګ د بنګال حکمرانانو او رئیسانو ان تر پوانتې پورې ډیرې زیاتې مورچې او سنګرونه جوړ کړې و. د بوانتی نه تر بنګاله پورې د ګوډ د مرکزي ښاره پورې په هغه وخت کې یوازې یو شاهی سړک جوړ شوې و.

دحرب د فنونو له آنده دا درّه داسې ګرزیدلې وه چې نه خو پرې حمله کیدای شوه او نه یې محاصره کول شونې و. ځکه په هغه وختو کې د حملې په مقابل کې ددفاع وسایل ډیر قوی او ځواکمن و. دا هماغه ځای دی چې په ۱۲۰۰م کال کې دبنګال مهاراجه لکشمن سینګ د بختیار خلجي د لارې دنیولو هڅه کړې وه. خو بختیار خلجې ورته دوکه ورکړه او په بله لاره ولاړ. دهغې پیښې نه اوس نژدې ۳۳۲ کاله وروسته شیرشاه سوري هم د بنګال د حاکم سلطان محمود سره د بختیاخلجي په څیر لوبه کول غوښتل.

په هر حال شیرشاه سوري د تیلیا ګړهي په لور کوچ وکړ. نو په هغه وخت کې دهغه دکوچ کولو نه داسې ډاګیزه کیده چې هغه غواړی تیلیاګړهي په مستقیمه توګه په خپله ولکه کې واخلي. خو د بنګال حکمران سلطان محمود ددې درې د خوندي ساتلو په خاطر ، چې د بنګال دروازه هم ورته ویل کیږي ، خپل او دخپلو پرتګالی ملګرو فوځونه ځای په ځای کړل. خو د بنګال حاکم سلطان محمود دشیرشاه سوری ژور جنګې چالونه درک نه شو کړای.

د بنګال دحاکم سلطان محمود او پرتګالیانو آند داو چې څرنګه چې د شیرشاه سوری سره بحری بیړه نه شته او یواځې بحري کشتۍ وروسره دی نو په دې اساس به هغه دګنګا دریاب استعمال نه شي کړای او نه به دبنګال مرکزی ښار ګوډ ته را و رسیږي. ځکه چې هغه به په تیلیا ګړهی کې دمتحده ځواکونو سره ټکر کوي او د تیلیاګړهي کلا او هغه ته ورتلونکې لاره به چې د ګوډ دښار په لور ورځی په ځای ځای د سنګرونو په ځای داسې مضبوطه او مستحکمه کړل شوې وه چې سلطان محمود او پرتګالیا ن پوره هیله من و چې شیرشاه سوری به په هیڅ توګه په تیلیاګړهی باندې ولکه و نه کړای شي. او نه به د تیلیا ګړهی څخه د ګوډ په لور د تلونکې شاهراه څخه په خوندي توګه را تیر شي.

شیرشاه سوري هم په یوه وخت کې ددوو معرکو د سرکولو هڅه کوله ، هغه غوښتل چې د بنګال مرکزي ښار ګوډ او د تیلیاګړهی کلا دواړه په یوه وخت کې تر لاسه کړي ، هغه د همدې مقصد له پاره خپل لښکر د تیلیاګړهی څخه په لږ واټن کې و دراوه. بیا یې د لښکر یوه برخه دخپل زوې جلال خان په مشرۍ کې ورکړه او دصاحب خان ورور مقرب خان یې ورته معاون و ټاکه ، او هغوې ته یې حکم وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغوی دې په تیلیاګړهی باندې حمله وکړي ، او د پرتګالیانو څخه علاوه د سلطان محمود لښکر دې هم په جنګ کې را ښکیل کړي ، په دې وخت کې شیرشاه سوري غوښتل یوه بله معرکه هم سرته ورسوي ، او هغه د بنګال په مرکزی ښار ګوډ باندې یرغل و .

دشیرشاه سورې زوې جلال خان اومعاون یې مقرب خان دواړه چې کله مخته راغلل او په تیلیاګړهی باندې یې حمله وکړه اودبنګال لښکر او پرتګالیان یې د خپله ځانه سره په جنګ کې مصروف کړل، نوبیا شیرشاه سوري خپل کار پیل کړ . هغه د ګنګا په درياب کې ولاړو کشتیو باندې ولکه وکړه ، دا هسې ساده کیشتۍ وې چې د بنګال او سیدونکو د کهلویا او رهوار په نوم باندې یادولې . شیرشاه سورې دهمدې کشتیو په واسطه دخپل لښکر سره یو ځاې متحرک شو . هغه جنګې او د خوراک سامانونه دهمدې کشتیو په واسطه ولیږل ، اوپه خپله د خپل لښکر سره یو ځاې د راج محل دغرونو څخه راتیر او د جنوب د نوم ورکو سیمو په لور ورغې . دا ځایونه د غرنیو لړیو یوه برخه وه . شیرشاه سوري تر ډیره ځایه پورې په همدغه نوم ورکو ځایو کې د غرنیو لړیو تر منځ سفر وکړ ، بیا د جنوب شرق لورې ته را و ګرزید ، اود چهارکنډ ځنګلونو ته ورسید. په هغه وختو کې دا دومره ورانه ویجاړه سیمه وه چې یا په کې لاره وهونکې او لارشوکونکې بدکاران اوسیدل او یا پرې د اړیسه څخه راتلونکې مسافرو سفر کاوه . په دې سیمه کې سړک نه و . یوازې وړې وړې لارې وې چې د یخنۍ په وخت کې د انسانانو او حیواناتو له پاره د استعمال وړ وې. ځکه دد ې سیمې څخه د تیریدو په وخت کې به دې ته اړتیا وه چې شاوخوا په لاره کې ولاړ اغزی ، اوبوټې پرې کړل شي تر څو لاره جوړه راښکاره شی ، تر څنګ یې تیز اوبه بهیدونکې ویالې هم په دې ورځو کې وچیدې .

د بله اړخه د شیرشاه سوری زوې جلال خان او د هغه معاون مقرب خان دواړه یو ځاې د پرتګالیانو او سلطان محمود لښکرې په جنګ کې سر ه را نغاړلې وې . دبلې لورې د کشتیو په واسطه د شیرشاه سورې له اړخه را لیږل شوې د جنګ سامان او دخوراک وسایل هم هغه ځاې ته را رسیدلی و چیرې چې هغه غوښتل . بیا شیرشاه سوري دخپل لښکر سره یو ځاې د پوانتې څخه د ګوډ په لور تلونکې سړک باندې د هوا په څیر را خپور شوې و.

په هغو وختو کې د بنګال مرکزي ښار همدا د ګوډ ښار و . چې د مهانند ددرياب په شمال کې نژدې شپیته میله واټن کې پروت و . د مهانند درياب د ګنګا د درياب معاون درياب ګڼل کیږي . اوس نو دشیرشاه سوری تر مخه تر ټولو لمړی د فرندوز ښار و . شیرشاه سوري غوښتل په ګوډ باندې دیرغل دمخه دفرندوز ښار تر خپلې ولکې لاندې راولې. ځکه چې که چیرې هغه ددې ښاره همدا سې تیر شي او دګوډ ښار محاصره کړی نوبیا به د بنګال حاکم سلطان محمود د فرندوز څخه نظامې اوخوراکې کومکونه تر لاسه کړي اوده ته به نه تلافی کیدونکې زیانوړ ورسوي.

دخپلو دغو موخو د ترلاسه کولو له پاره شیرشاه سوری یو ځل بیا خپل لښکر په دوو برخو وویشه ، یوه برخه یې دخپله ځانه سره و ساتله او بله برخه یې د صاحب خان تر قومندې لاندې هغه ته ورحواله کړه . اوهغه یې په پوانیتې یعنې د فرندوز په ښار د حملې له پاره و لیږه . خو په خپله شیرشاه دخپلې برخې د لښکرو سره د پوانیتې او تیلیاګړه تر منځ په لویه لار سنګر و نیوه ، هغه غوښتل چې که چیرې د تیلیاګړه څخه د سلطان محمود اویا د هغه اتحادي فوځونه د ښار په لور را وخوزیږي نو دهغوې لاره به و نیسي .

صاحب خان د خپل لښکر سره یو ځاې د شپې په دا سې وخت کې په ښار باندې یرغل وروست چې ټول خلک په خواږه خوب ویده و . د پوانیتې (فرندوز ) ښار ته صاحب خان اودهغه ملګري لکه د میږو په څیر ورغلل او هلته دښار په کوڅو اولارو کې د دیمک د چینجو په څیر خپاره شول . صاحب خان اودهغه ملګری په ډیره اسانۍ سره د پوانیتې ښار ته ور ننوتل . او هلته په ښار کې چې هر څومره بنګالی او پرتګالی فوځونو ډلې موجودې وې هغوې ټول یې په همغه لمړی حمله کې له تیغه تیر کړل. او د پوانیتی په ښار یې پرته له ځنډه په ډیره اسانۍ سره ولکه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ښار باندې د ولکې کولو وروسته صاحب خان د ښار نظم ونسق سنبال کړ ، دلته یې خپل والی و ټاکه او یو کوچنې لښکر یې هم دلته په پوا ینتې کې دخپل والې د مرستې له پاره پرېښود. ددې کار دتر سره کولو وروسته یې خپل پاته لښکر له ځانه سره واخست او بیرته د شیرشاه سوري په لور ورغې. کله چې صاحب خان د پوا ینتې په ښار باندې دولکې کولو وروسته بیرته د شیرشاه سوری سره یو ځاې شو نو بیا شیرشاه سورې د بنګال د مرکزی ښار ګوډ په لور په ډیره ګړندی توګه مخکې تګ وکړ. او دخپل لښکر سره یو ځاې هلته د ګوډ دښار په څنډو کې را ښرګند شو.

کله چې شیرشاه سورې دخپل لښکر سره یو ځاې د ګوډ ښار ته را نژدې شو نو ویی کتل چې د ګوډ ښار په ډیره مستحکمه توګه کلا بند شوې دې. دښار په څلورو اړخونو کې ستر ستر خندقونه کنل شوې دي ، اوکلا ډیر ستر ستر دیوالونه لری چې عرض یې په هیڅ ځاې کې د لسو ګزو څخه لږ نه دې. هغه وکتل چې دهغه سواره دد غو خندقونو څخه تیریدلې نه شي . اودهغه پیاده فوځ ددې خندقونو او دیوالونو څخه د میړو په څیر معلومیږي . خوشیرشاه سوري په هر صورت د بنګال د حاکم سلطان محمود د ماتولو هوډ درلود او پریکړه یې کړې وه چې د ګوډ په ښار به خپله ولکه تر سره کوي.

په همدې وخت کې دبنګال حاکم او پرتګالیانو ته هملته په تیلیا ګړه کې خبر ورسید چې شیرشاه سوري دوې دخپل ځوې جلال خان سره په جنګ کې اخته کړي دی ، په داسې حال کې چې په خپله شیرشاه سوری په ګوډ دحملې له پاره هغه لورې ته تللې دې اودګوډ ښار یې محاصره کړې دې.

ددې خبر د اوریدو سره سم د سلطان محمود تر پښو لاندې زمکه وښویده ، نو په دې خاطر یې تیلیا ګړهی هملته په خپل حال پریښود او دخپل لښکر او د پرتګالیانو د لښکرو سره یو ځاې په ډیره بیړه د ګوډ په لور را وخوزید. دشیرشاه زوې جلال خان او دهغه معاون مقرب خان ددوې د نه موجودیت نه په ګټې اخستلو سره د تیلیاګړهي ستره جنګی کلا د خپلې ولکې لاندې راوسته.

هغه وخت چې د بنګال حاکم سلطان محمود دخپل لښکر او پرتګالیانو سره یو ځاې د ګوډ مرکزی ښار ته را نژدې شو نو هغه ته خبر ورکړل شو چې ښار د شیرشاه سوري په محاصره کې دې. اوهغه هوډ کړې چې ښار به حتما ترخپلې ولکې لاندې روا ړي. نو په دې اساس هغه د شیرشاه سوري سره د سولې کولو له پاره وړاندیز وکړ او هغه ته یې خپل قاصد ور ولیږه ، او د سولې او امن غوښتنه یې ترې وکړه. شونې ده چې شیرشاه سورې هم د سولې له پاره تیار و نو دهغه د سولې وړاندیز یې و مانه ، اوپه دې ترتیب د شیرشاه سوری او سلطان محمود تر منځ د سولې شرایط ولیکل شول . دهمدې شرایطو په اساس د بنګال حاکم سلطان محمود شیرشاه سوری ته د جرمانې یا نذرانې په توګه د ۱۳ لکه طلایی سکو د ورکولو وعده وکړه . او تر څنګ یې د ګوډ نه تر سکري ګري پورې ټوله سیمه چې نژدې ۹۰ مایله کیږی اوعرض یې هم نژدې ۳۰ مایله کیږې دشیرشاه سوري په ولکه کې ورکړه.

اخر دهمدې شرایطو په بدل کې سوله وشوه اوپه دې ترتیب د سلطان محمود په مقابل کې شیرشاه سوری ته ډیره ښه سوبه ور په برخه شوه . ددې سوبې څخه شیرشاه سوري ته نه یوازې مالې ګټې تر لاسه شوې بلکه هغه ته سیاسی علویت هم ور په برخه شو ، ددې نه علاوه دتیلیاګړهي دره هم دشیرشاه سوري په لاسو کې ور پریوته ،او داسې څرګندیده چې د بنګال حاکم سلطان محمود شیرشاه سوری ته په دې امتیازاتو ورکولو سره په خپلو لاسو د بنګال سوبه ولیکله ، اوس نو شیرشاه سوري ته په مکمله توګه ازادي ور په برخه شوې وه چې هغه ددې درّو څخه هر وخت چې وغواړې د سلطان محمود څخه خراج واخلی او کله چې وغواړی د هغه په تخت و تاج باندې ولکه وکړي.

۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رهتاس په راج محل کې ښایسته او حسینه شهزادګۍ ګنګا په سپینه رنګه فرش باندې د نڅا او رقص تر څنګ ډیره خوندوره او زړه را ښکونکې سندره ویله. څرنګه چې دهغې د موزیک ښوونه سر ته رسیدلې وه نو دهغې د تعلیم د پوره کیدو په خاطر هلته په راج محل کې دخوشحالیو ستر جشن لمانځل کیده .

راجه هرکشن د خپلو رانیانو سره یو ځای هملته په ډیر لوړ اودنګ جوړ کړل شوي شاه نشین باندې ناست و. دهغه ښې او چپ لورې ته دهغه مشیران او وزیران او د ریاست نور لوړ پوړې چارواکې سره راټول شوي و . ددې خلکو علاوه پنډت پروهیت هم په خپلو ټاکل شو ځایو باندې ځای په ځای شوی و. ددوی تر څنګ د راجه هرکشن ترشا په لړ واټن کې دشهزادګۍ ګنګا د موزیک ښوونکې پنډت هم په خپل ناست ځای کې د ورایه څرګندیده.

۱۲

د رهتاس په راج محل کې ښایسته او حسینه شهزادګۍ ګنګا په سپینه رنګه فرش باندې د نڅا او رقص تر څنګ ډیره خوندوره او زړه را ښکونکې سندره هم ویله. څرنګه چې دهغې د موزیک ښوونه سر ته رسیدلې وه نو دهغې د تعلیم د پوره کیدو په خاطر هلته په راج محل کې د هغې خوشحالیو د لمانځلو له پاره ستر جشن جوړ شوی و.

راجه هرکشن د خپلو رانیانو سره یو ځای هملته په ډیر لوړ اودنګ جوړ کړل شوي شاه نشین باندې ناست و. دهغه ښې او چپ لورې ته دهغه سلاکاران ، وزیران او د ریاست نور لوړ پوړې چارواکې راټول شوې و . ددې خلکو علاوه پروهیت پنډتان هم په خپلو ټاکل شو ځایو باندې ځای په ځای شوی و. ددوی تر څنګ د راجه هرکشن ترشا په لړ واټن کې دشهزادګۍ ګنګا د موزیک ښوونکې پنډت هم په خپل ناست ځای کې د ورایه څرګندیده.

ګنګا په سپین و زمه فرش باندې نڅا کوله او د نڅا په وخت کې دهغې د سپینو وریښمینو کالیو څخه دهغې د جسم ټولې زاویې په ډیره څرګنده توګه تر سترګو کیدې. دې ننداري په کتونکو کې یو هیجان را پورته کړې و . په سازونو کې یو خوند او په سترګو کې مستۍ لیدل کیدې اودهغې د ژبې څخه د سندرې هر لفظ په اوریدونکو باندې خپل خاص اغیز شینده .ددې د نڅا او سندرو د اغیز نه هر یو نندارچې په لیونتوب اخته شوې و.

تر لږ څه وخته پورې هغې په همدې توګه نڅا وکړه اوبیا یې د لاس په اشاره خپلو ډمانو ته دتوقف اشاره وکړه ، دهغې په اشارې سره ډمانو خپل ساز او سرود بند کړ . بیا ګنګا په ډیره خوشحالۍ هلته شاه نشین ته دخپل پلار څنګ ته ورغله او ورڅخه یې وپوښتل چې پلار جانه !تاته زما نڅا او سندرې څه ډول ښکاره شوې. راجه هرکشن په صفتی توګه خپلې لور شهزادګۍ ګنګا ته مخ کړ او ورته یې وویل:

ګنګا لور جانې !دغه نڅا چې تا نن د نندارچیانو تر مخ د لته په راج محل کې ترسره کړه نو ددې تر مخه ما دهیڅ یو نڅیدونکې ډمې د اسې نڅا نه وه کتلې. بګوان دې زما خبره درواغ کوی نه چې ووایم ستا استاذانو تاته د نڅا او موزیک داسې ښوونه اوروزنه درکړې ده چې ته یې د تیرې څخه یو نایابه ملغلره و ګرځولې. په همدې وخت کې شهزادګۍ دخپل پلار راجه هرکشن په غوږ کې یو څه پټ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلارجانه !دا خلک ته ددې ځای رخصت کړه ځکه زه غواړم له تا سره یوه ډیره مهمه خبره وکړم. دهغې په دې خبره راجه هرکشن د لاس په اشارې سره خلک دهغه ځآیه رخصت کړل او ټول وزیران ، سلاکاران او پنډتان له دې خونې څخه ووتل اوخونه یې تخلیه کړه. ددې ټولو خلکو د تللو وروسته ،بیا راجه هرکشن خپلې لور شهزادګۍ ته مخ کړ او ورڅخه یې و پوښتل:

ګنګا لورې !تا ماته څه ویل غوښتل ، اوس یې ووایه. دهغه په دې خبره ګنګا وویل: پلارجانه ! ما ددې نه مخته تا ته دا خبره نه وه کړې خو اوس یې درته کول لازمی ګڼم ، ما ستا د ساتونکې ډلې سالار ته حکم کړې و چې هغه دې خپل دوه یا درې کسه ځوانان د کوچیانو دقبیلې دسردار فدایی خان د پیدا کیدو په خاطر و استوي ، پلارجانه !دې فدا اې خان به هرو مرو په کوم ځاې کې د خپلې قبیلې سره پړاو کړې و ي. زه غواړم ددې فدا اې خان سره ووینم اودهغه څخه وپوښتم چې هغه ځوان چې زما د ترلاسه کولو درې واړه مقابلې یې ګټلې دي نو دهغه سره د خبرو له پاره یو ځل فدایی خان هلته راغلې و او پتې خبرې یې ورسره کړې وې.اودا ددې خبرې ثبوت دې چې فدایی خان هغه ښه پیژني. نوپه دې خاطر زه غواړم فدایی خان را پیدا کړم. او ورڅخه وپوښتم چې هغه ځوان څوک و چې زما سویمبر یې وګاټه.

پلارجانه ! زما په برخه کې حالاتو حیرانونکې بدلون موندلې دی، په داسې حال کې چې دلته شهزادګان د شهزادګیو په لټه کې منډې تړرې وهي ، دلته ځوانان دخپلې خوښې د نجونو پسې د زمکې او اسمان تر منځ څرخکونه خوري ، خو زما حال دادې چې زه دهغه ځوان په لټه کې یم چې زما سویمبر یې ګټلې دې. اوبیا یې زما پریښودم اورا څخه همداسې ولاړ. پلارجانه ! په هر قیمت چې کیږی زه به دا ځوان پیدا کوم او ژوند به ورسره پیلوم. دا په دې خاطر چې هغه زما سویمبر ګټلې دې او دا پرې زما حق ګرزیدلې دې. پلارجانه !که څه هم په اخری ځل مقابله کې هغه ماته په څرګنده توګه وویلې چې ، «زما نه خوښیږې» خو زه غواړم چې هغه را پیدا کړم او ور سره و او سیږم اودهغه ناخوښې په خوښیو باندې بدله کړم. پلارجانه !ما په خپل ژوند کې تر اوسه پورې داسې ځوان نه دې کتلې چې هغه دې دکومې شهزادګۍ د ترلاسه کولو مقابلې داسې ګټلې وي چې د پنځه غشو په ځاې درې واخلي اوبیا ددرې غشو په ځاې یو واخلي او هغه بادنما مرغه پرې وولی او په یو وار یې و څرخوي.

تر دې ځایه دخبرو وروسته چې کله شهزادګۍ خاموشه شوه نوبیا راجه هرکشن د لږ څه سوچ اوفکر وروسته وویل:

ګوره ګنګاجانې لورې ! زه په پوره توګه ستا تر اړخه ولاړ یم. که چیرې تا زما د ساتونکې ډلې سالار ته د فدایی خان د پیدا کیدو حکم کړې وي او هغه څوکسه ځوانان دهغه د لټون له پاره هغه لورې ته استولی وی نو زه بلکل دا خبره منم چې تا ډیر ښه کار کړې دې. ګوره لورجانې !ته چې هر کار کوې نو زما تایید او ملاتړ به درته په برخه وي. که چیرې ته د سویمبر ګټونکې ځوان د لټون له پاره هوډمنه یې ، نو زه ایشور ته دعا کوم چې هغه ستا دد ې هڅو په اړه بریاوې در په برخه کړي دد ې خبرو سره سم راجه هرکشن دخپله ځایه پورته شو ،دهغه د پورته کیدو سره سم شهزادګۍ ګنګا اودنورې رانیانې هم را پورته شوې او ټول یو ځاې د راج محل هغه بلې برخې ته روان شول.

۱۷

دبنګال د مرکز د ګوډ په ښار کې د بنګال د حاکم سلطان محمود سره د سولې کولو نه وروسته شیرشاه سوری بیرته د چنار کلې ته راستون شوې و ، په همدې وخت کې ورته خبرونه را ورسیدل چې د بنګال حاکم سلطان محمود د شیرشاه سوری د ماتولو له پاره د شهنشاه همایون سره سازشونه پیل کړې دي ، او تر څنګ یې د ګوا پرتګالی والی ته هم قاصد استولې دې چې هغه دې خپل تکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ځواکمن لښکر هلته ګوډ ته را ولیږي ، تر څو په ګوډ باندې د شیرشاه سوری د حملې په وخت کې هغه ته ماتې ورکړي او د بنګال څخه یې بیرون کړي ،

کله چې هغه ته د چنار په کلې کې د سلطان محمود د سازشونو په اړه خبرونه ور ورسیدل نو ډیر اندیښمن شو ، نو په دې خاطر یې پریکړه وکړه چې دا ځل به حتما په بنګال حمله کوي او هغه ځاې به د تل له پاره په خپله ولکه کي اخلي. د چنار څخه د بنګال په لور د حرکت کولو نه مخته شیرشاه سوری خپل تیز اوګړندی مخبران د همایون د لښکر د نقل و حرکت د معلومولو په خاطر هغه لورې ته واستول تر څو د همایون اودهغه د فوځ د حرکت په اړه چې کوم معلومات تر لاسه کړي او سمدستې یې د شیرشاه لورې ته را ولیږي او بیا دهمغې معلوماتو په رڼا کې خپله راتلونکې تګلاره جوړه کړي.

خو همایون په خپله دګجرات د حکمران بهادرشاه لښکر ته د ماتې ورکولو وروسته د خپل هیواد د دنظم و نسق د جوړولو نه نوي نوي فارغ شوې و چې په یوه بل مصیبت کې را ګیر شو. په هغو ورځو کې چې شیرشاه سوري دا ښار محاصره کړې و نو په هماغه ورځو کې د مغلو یو باغی سردار سلطان مرزا د همایون او دهغه د سلطنت په مقابل کې بغاوت وکړ. هغه د قنوج څخه را ووت او د بلګرام لورې ته راغې .او بلګران یې خپل مرکز و ټاکه ، دهغې وروسته یې خپل مشر زوې الغ مرزا جونپور ته ولیږه . هلته جونپور کې جنید برلاس د مغلو حاکم و . نوموړې ددې نه علاوه چې یو ډیر ښه سپه سالار و ، ډیر زیات شجاع او زړه ور انسان هم و . الغ مرزا نیغ په نیغه د جنید برلاس سره ټکر و نه کړ خو د جونپور په یوه سیمه کې یې ډیره تباهی خپره کړه .

باغي سردار سلطان مرزا خپل بل زوې شاه مرزا هم د مغلو یوې بلې سیمی امانت پورې ته د هغه ځاې د نیولو له پاره ور و استوه . الغ مرزا ډیر زیات زړه ور کارونه وکړل. هغه هلته په جونپور کې د لوټ او چپاول نه وروسته ، د «اود» او «بنارس» د ولکې کولو له پاره اراده وکړه اودخپلې دې ارادې د تکمیل له پاره یې دا سې لاره خپله کړه چې تر مخه یې د جونپور مستحکمه کلا چې جنید برلاس په کې موجود دهغه تر مخې ځنډ نه شي ، شیرشاه سوری ته د سلطان مرزا اودهغه د زامنو دا فعالیتونه هغه وخت څرګند شول چې هغه هم د ګوډ ښار محاصره کړې و . هغه ته دا اندیښنه پیدا شوې وه چې کیداې شي سلطان مرزا اودهغه باغي زامن د همایون په لاسو د ماتې خوړولو نه وروسته دهغه سلطنت ته را ننوځی او هلته تباهي او لوټ پیل کړي. نو په همدې خاطر هغه د بنګال د حکمران سلطان محمود سره سوله وکړه او په خپله بیرته چنار کلې ته را ستون شو.

همایون د سلطان مرزا اودهغه د باغي زامنو د ځپلو له پاره خپل ورور هندال مراز و ټاکه ، هندال هم دا باغیان په ډیره ښه توګه وځپل اودبدې ماتې سره یې مخ کړل. هغوې ددې ماتې وروسته د مغلو د سیمو څخه ووتل او نورو سیمو ته و تښتیدل .

همایون چې څنګه ددې بغاوت څخه فارغه شو نو خپل ورور مرزا عسکری یې په خلاف بغاوت وکړ . په دې وخت کې همایون د خپل لښکر سره یو ځاې د ماڼډو په سیمه کې پړاو کړې و ، په دې خاطر هغه ډیر مشوش و . مرزا عسکری په احمد اباد کې د بغاوت د بیرغ د پورته کولو نه وروسته کوچ وکړ او د همایون د یوه سالار تا زی بیګ سره یې د ټکر کولو هڅه وکړه . اودخپلې پادشاهی د اعلانولو په خاطر د اګرې په لور ولاړ. همایون ددې بغاوت د ماتولو له پاره سمدستې په خپله هغه لورې ته ورغې . دا د همایون خوش قسمتی وه چې هغه دا بغاوت مات کړ ، خپل ورور مرزا عسکری ته یې ښښنه وکړه او دهغه سالار هندو بیګ یې د خپله ځانه سره اګرې ته راوست. په همدې ورځو کې د مغلو ډیر ستر او زړه ور سالار جنید برلاس په جونپور کې و مړ. په دې اساس همایون دهغه په ځاې هندو بیګ هلته د جونپور والی و ټاکه .

هندو بیګ د شیرشاه سورې له پاره دجنید برلاس څخه ډیر ګټه ور وخوت ، هندو بیګ دشیرشاه سوری سره خاصه مینه وه ، په همدې وخت کې شیرشاه سوری دخپل یوه قاصد په لاسو هندو بیګ ته یو پیغام ور ولیږه چې په هغه کې راغلی و :

(c) ketabton.com: The Digital Library

«پادشاه: ما چې کومه ژمنه کړې وه ما دهغې څخه لږ مخالفت هم نه دې کړې ، ما تر اوسه ستا په سيمه کې هيڅ ډول مداخله نه ده کړې ، ايا ته به دخپلې مهربانۍ او لطف له مخې زما د وفادارۍ دا خبر تر شاه پورې و نه رسوې ؟ او هغه به په دې خبره راضي نه کړې چې هغه دې دې لورې ته مخ نه را اړوي ، زه خو ستا سې فرمانبرداره او وفاداره يم.»

هندوبيګ د شيرشاه سوري دا ليکنه ډيره و ستايله ، هغه هسې هم د شيرشاه سوری سره مينه درلوده نو سمد ستی يی خپل يو قاصد د همايون په لور ور واستوه او هغه ته يی يو ليک ور وليږه چې په کې راغلی و :

« شيرشاه سوري ستا وفادار دې . هغه ستا په نوم سيکې جوړوی او ستا په نوم خطبه وايی . هغه تر نن ورځی پورې زمونږ په پولو کې هيڅ ډول مداخله نه ده کړې او نه يی دخپلې کومې وينا او کړچار له لارې مونږ ته تکليف راکړې دې. نو په دې اساس زما وړانديز دا دې چې شيرشاه سوری بايد په خپل حال پاته شي.»

شونی ده چې همايون به دخپل والی هندوبيګ په دې ليک سره لږ څه ډاډمن شوې وې نو په دې اساس يی د شيرشاه سوري پرخلاف د سمد ستې قدم پورته کولو څخه ډه ډه وکړه .

شيرشاه سوري د همدې حالاتو څخه په ګټه پورته کولو سره په بنګال باندې د حملې کولو تکل وکړ . ځکه دا حالات دهغه له پاره ډير مناسب و . اوس نو دهغه ځواک او قوت هم ډيرښت موندلې و ، سترو ستر و افغان سردارانو چې تر اوسه يی شيرشاه سوري دخپل حاکم په څير نه مانه ، په بنګال او بهار کې د شيرشاه سوري په فتحو اوولکو باندې دهغوې په آندونو کې هم بدلون راغلې و .

اوس نو شيرشاه سوری د افغان سردارانو د توجه مرکز ګرزيدلې و . هغو خپل پالو او مغرورو افغان سردرانو چې د شيرشاه سورې د قيادت منلو ته تيار نه و ، اوس دې ته اړ شوې و چې هغه د خپل مشر په څير و مني. هغوې په دې ډاډمن شوې و چې د بنګال په ګوډ ښار باندې به د شيرشاه سوري ولکه کلکيږي او هغوې په دې هم پوه شوی و چې په هندوستان کې اوس يو اځې شيرشاه سوري د مغلو په مقابل کې د افغانانو د ګټو نه دفاع کولی شي .

د افغان قوم په ټولو مشرانو او سردارانو کې دشيرشاه سورې مقبوليت ډير زيات شوې او دا مقبوليت دې حد ته رسيدلی و چې زياتو هغه ته د اعليحضرت په نامه غږ کاوه .

همايون اودهغه والی هندوبيګ ته د ډاډ ورکولو وروسته شيرشاه سوری د خپل لښکر سره يو ځای د برق په څير په ګړندۍ توګه د بنګال د مرکزی ښار ګوډ په لور مخته تګ وکړ . هغه خپل لښکر په دوو برخو وويشه ، يوه برخه يی خپل زوې جلال خان او د صاحب خان مشرورور مقرب خان ته ورکړه او هغوې ته يی حکم وکړ چې هغوې دې د ګوډ د ښار د شاوخوا سيمو په لور مخته ولاړ شی . هغه خپل پاته لښکر يو ځل بيا په دوو برخو وويشه ،دهغوې يوه برخه يی دخپل ځآن سره و ساتله ، اوبله برخه يی صاحب خان ته ورکړه . اوبيا يی د لښکر دد ې دواړو برخو سره يو ځای د بنګال د مرکزي ښار ګوډ په لور روان شو .

دشيرشاه د چنار د کلی څخه د بنګال مرکزی ښار ګوډ نزدې څلورسوه څلورشپيته ميله واټن کې پروت و . شير شاه سورې دا واټن په درې اونيو کې وواهه ، او ګوډ ته د رسيدو سره سم يی هغه ښار محاصره کړ . ددې ترڅنګ دهغه زوې جلال خان او مقرب خان هم د غرب له لورې د هغه ځای د سيمو د چورو چپاول کولو نه وروسته ګوډ ته را رسيدلی و . او په دې ترتيب يی د ګوډ محاصره کلکه کړه .

د بله اړخه د ګجرات حاکم بهادرشاه ، د همايون په لاسو د ماتې خوړولو وروسته په شپږو مياشتو کې خپل ځان بيرته راټول کړ او خپل ځواک يی غښتلې کړ . دخپل ځواک د غښتلتيا وروسته بهادرشاه په ډيره بيړه د خپلو د لاسه وتلو سيمو لکه مالوه او ګجرات د ولکه کولو له پاره را ووت او په دير لږ وخت کې يی دا سيمې بيرته تر خپلې ولکې لاندې راوستې. ترڅنګ يی هغه دا سې هم وښوول چې هغه به په غربی هند کې دخپلې واکمنۍ اغيز د پخوا په څير بيرته قايم کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرشاه سوری ته د مغلو پر خلاف د بهادرشاه د متحرک کیدو خبر هغه وخت ورسید چې هغه د ګوړ ښار تر خپلې محاصرې لاندې نیولې و. هغه ته ددې خبر په را رسیدو سره څه ارامتیا تر لاسه شوه. اودا هیله ورته پیدا شوه چې اوس به همایون ددې په لور د توجه کولو په ځای د ګجرات دحاکم بهادرشاه سره لاس و پنجه شي، خو پخوا له دې شیرشاه سوری ددې نه ویریده چې که چیرې همایون ته خبر ورسیږی چې شیرشاه سورې د ګوړ ښار محاصره کړې دې نو هغه به ضرور د هغه په خلاف خپل فوځونه متحرک کړي ځکه ددې نه مخته هم د بنګال حاکم سلطان محمود د همایون څخه دشیرشاه سوری پر خلاف د مرستې غوښتنه کړی وه. خو کله چې شیرشاه سوری ته د همایون او بهادرشاه تر منځ د نښتو او دلاسه ورکړل شوو سیمو د بیرته تر لاسه کولو له پاره ددواړو خوا تر منځ د جنګ جګړو خبر را غې نو هغه پرې د ډاډ او سکون ساه واخسته.

دګجرات حاکم بهادرشاه د خپلو سیمو د ولکه کولو وروسته په دې ویره کې و چې همایون به په هرصورت چې وې دهغه پر خلاف ستر فوځی یرغل کوي، نو دخپلې دفاع په خاطر یی دهمایون پر خلاف په ګوا کې د پرتګال والی له ځانه سره یو ځای کول غوښتل. ددې موخې د ترلاسه کولو له پاره هغه په خپله د ګوا په لور وخوزید اودهمایون پر خلاف یی د ګوا د والی سره خبرې اترې وکړې. کله چې ددې خبرو اترو وروسته دګجرات حاکم بهادرشاه دخپل بحرې جهاز سره بیرته را ستنیده نو د پرتګالي بحری غلو(قزاقانو) تر حملې لاندې راغې. دهغه جهاز یی په سمندر کې ډوب کړ اوپه دې ترتیب د ګجرات حاکم د خپلو پلانونو د تطبیقولو تر مخه د نړۍ څخه وکوچید.

دبنګال د حاکم بهادرشاه د مړینی وروسته همایون ته دوه لارې تر مخه وې، لمړۍ دا چې هغه د ګجرات دحاکم ټولې سیمې بیرته په خپله ولکه کې واخلي او دویمه دا چې په ګجرات د ولکې تر مخه د شیرشاه سورې، چې ورځ په ورځ ځواکمن کیده او دده د سلطنت له پاره د خطر زنګ ګرزیدلې، یو فوځی حرکت وکړي. هغه دخپلو سلاکارانو سره د مشورې اوسلا وروسته دا پریکړه وکړه چې په اوسنی حال کې د ګجرات موضوع شاته پریږدي او د شیرشاه سوري پر خلاف حرکت وکړي، ځکه د ګجرات موضوع دومره ګواښمنه نه وه لکه څومره چې دشیرشاه سوری موضوع وه، هغه ته خپلو مشاورینو دا سلا هم ورکړې وه چې که چیرې شیرشاه سورې ددې نه زیات پریښول شي نو په راتلونکو وختو کې به دده سلطنت ته سخت ستر ګواښ و ګرځي. ددې سلا اومشورو وروسته همایو ن د ګجرات موضوع شاته پریښوله، اودخپل لښکر سره یو ځای د بنګال په لور وخوزید، تر څو هلته د ګوړ ښار ته ورسیږی او دبنګال دحاکم سلطان محمود سره یو ځای دشیرشاه سوري مقابله وکړي

خو بنګال ته د ګوړ دښار په لور د حرکت اود شیرشاه سوري پر خلاف د سلطان محمود سره د یو ځآې کیدو د تګ په وخت کې هغه دلارې په نیمایی کې خپله اراده بدله کړه. اویو ځل بیایی د خپلو سلاکارانو سره مشوره وکړه، ددې وروسته یی دا پریکړه وکړه چې بنګال ته د تللو اوهلته د شیرشاه سوری پر خلاف د جنګ کولو په ځای دا غوره ګڼي چې د شیرشاه سوري په نشتوالی کې دهغه په مرکزي کلا چنار باندې ولکه وکړي، ددې ولکې په اساس به شیرشاه سوري په هیڅ ځای کې خپل قدم مستحکم نه کړای شي.

همایون هیله من و چې شیرشاه سوری به دومره ژر د بنګال په مرکزی ښار ګوړ باندې ولکه و نه کړای شي. ځکه چې دګوړ ښار ډیر زیات امنیتي تدابیر درلودل، تر څنګ یی د ښار چا رچاپیر یو ستر خندق هم کنل شوی و. همایون غوښتل چې د شیرشاه سوری مرکزی کلا، چنار، د خپلې ولکې لاندې کړي او په دې توګه د شیرشاه سوري بنسټ له بیخه و کاږي، اوبیا د چنار په کلا د ولکې نه وروسته د شیرشاه سورې په خلا ف د بنګال په لور حرکت وکړي، هغه دا هیله هم درلوده چې تر هغې وخته پورې به د چنار د کلا د دلاسه ورکولو خبر هم شیرشاه سوری ته ور رسیدلې وي، په دې اساس به هغه ته یو ډول اندیښنه او زړه بداوې را پیدا شوې وي اوپه دې توګه به همایون په اسانۍ سره شیرشاه سوري ته ماته ورکړی. او دخپلو موخو په تر لاسه کولو کې به بریالی و ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدې ارادو د پوره کولو له پاره همايون د بنګال په لور د تللو تر مخه د چنار د کلا په لور وخوزيد. دبله اړخه دشيرشاه سوری جاسوسانو هم دهمايو ن د لښکر کلکه څارنه کوله ،هغوې سمدستې شيرشاه سوری ته خبر ورکړ چې همايون غواړي د بنګال په ځاې د چنار د کلا د سوبې له پاره هغه لورې ته ولاړشي . ددې خبر د ترلاسه کولو سره سم شيرشاه سوري ډير انديښمن شو او خپل زوې جلال خان او د صاحب خان مشر ورور مقرب خان يې د ګوډ د کلا د محاصرې له پاره پريښوول او په خپله يې د صاحب خان سره يو ځاې لښکر واخست او د چنار کلا د ساتنې له پاره يې د ګوډ څخه هغه لورې ته کوچ وکړ.

شيرشاه سوری د ګوډ څخه د چنار کلا په لور په دومره ګړندی توګه او دومره سرعت سره ولاړ چې هلته دهمايون د لښکر د و رسيدو تر مخه دوې ورځې ورسيدل ، هغه د کلا څخه د بارودو يو ستره ذخيره اودخپلې کورنۍ ښځې اوکوچنيان وويستل او هغوې يې هلته په غرونو کې پرتې د وندياچل بلې کوچنۍ کلا ته منتقل کړل . ددې ټولو کارونو د تکميل نه وروسته شيرشاه سوری دهمايون د راتلو تر مخه دچنار کلا دخوندي ساتلو په خاطر خپل دوه کسه سالاران هر يو جرنيل غازي سور او سلطان سرواني و ټاکل ، هغوې ته يې خپل نيمايې لښکر ورکړ او په خپله د صاحب خان سره يو ځاې دکوهستان په وندياچل کې د بهار کنډ د کلا په چار چاپير کی کينا ستل ترڅو په مناسب وخت کې دهمايون په لښکر باندې ګذار وکولی شي .

همايون هم د خپل لښکر سره يو ځاې د شيرشاه سوری مرکزی کلا چنار ته ور ورسيد . دچنار کلا د غره په يوه لوړه څوکه پرته ده ، دغرونو دا لړۍ نږدې ۱۵۰ فټه لوړه ده . دا کلا د مرزا پور نه د ګنګا دجنوبی غاړو پورې رسيږی ، او بنارس چې د ګنګا په غربی څنډه کې نژد ې ۱۸ ميله لرې واټن کې پروت دې ، تر دې ځايه د چنار د کلا سره يو ځاې د دايرې شکل جوړوی او بيا تر شمال پورې غځيږي.

ددې کلا اوږدوالې ، که دغره هغه څنډه هم ورسره را ونيسو نو يو نيم ميل تشکيلوي ،ددې کلا عرض په ځينو ځايو کې ۱۰۰ ګزه او په ځينو ځايو کې تر ۳۰۰ ګزو پورې رسيږي . ددې کلا درې اړخونو ته دګنګا درياب په پوره تيزۍ سره بهيږي . په جنوب کې ددې کلا څوکه په پخوانيو وختونو کې د عامی شاهراه او د غرونو سره يو ځاې کيده .

دا کلا په ډير زيات ستراتيژيک اهميت کې پرته وه او دحربی اهميت له لورې دا ځاې ډير زيات وزن درلود . که چيرې همايون په هماغه لمړيو پنځلسو ورځو کې دې ځای ته د شيرشاه سورې د راتګ د مخه را رسيدلې واې نو په ډاډمنه توګه به يې کلا نيوله او دشيرشاه سوری ملا به يې ورماتوله . که چيرې همايون په خپلو راتلو کې لږ څه ګړنديتوب کړې واې نو همايون به چنار ته د شيرشاه څخه دمخه را رسيدلې واې نو په هغه وخت کې به نه شيرشاه خپلې ښځې او کوچنيان د کلا څخه ويستلې واې او نه به يې دهغې له پاره نوره مرسته را استولې شوه ، او نه به يې د جنګ سامانونه د کلا څخه بيرون د کوهستان وندياچل ته منتقل کړې واې او نه به يې د بهار کنډ په کلا کې ځان ځاې په ځاې کړې وای.

خو اوس وخت له لاسه وتلې و ، همايون د خپل غفلت په اساس د شيرشاه سوری په دام کې ننښتې و. شيرشاه غوښتل چې دبنګال د سوبې د مخه دهغه هيڅ دښمن دهغه مزاحمت ونه کړي خو په چنار باندې د حملې کولو په اساس همايون دهغه دا غوښتنه پوره کيد و ته پری نه ښوده .

همايون نږدې درې مياشتې د چنار کلا په خپله محاصره کې واخسته ، په دې وخت کې د شيرشاه سوري جرنيلانو هر يو جرنيل غازي سور او سلطان سروانی د کلا څخه دفاع کوله ، په داسې حال کې چې په خپله شيرشاه سوری همله په وندياچل کې په سنګر کې ناست و . شيرشاه سوری ډاډمن و چې د هغه د چنار کلا لښکر به همايون په مقابله کې خپلې دفاع ته دوام ورکړي او همايون به د محاصرې د اوږدوالې څخه ستومانه شي او بيرته به ستون شي . خو داسې و نه شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همايون په همدې وختو کې په کلا باندې د توپونو خولې ورخلاصې کړې وې، خو د هغه ډېرې حملې ناکامې وې بر عکس د مغلو مالې اوځانی تاوانونه ورځ په ورځ زیاتیدل. په اصل کې د چنار دکلا د سوبې کولو ټول مسؤلیت ، همایون د خپلې توپخانې د مشر رومی خان په غاړه وراچولې و. رومی خان په خپل ترک توکمه و ، د قسطنطنیی او سیدونکې و ، پخوا د ګجرات دحاکم بهادرشاه د توپخانې مشر و ،بیا یې هغه پرېښوده او دهمایون لښکر ته راغې اوهمایون هم هغه ته په خپل لښکر کې د توپخانی قومندانې ور کړه. او د لښکر اعلې قومندان یې و ټاکه.

حالات داډول وو چې د غرونو د لمنو څخه نيولې ان د مغل سراې پورې د همايون د فوځ خيمې ولاړې وې او کيدې شي چې دهمدې په اساس به دهغه ځاې نوم هم مغل سراې ګرزيدلې وي ،ځکه دمغلو فوځ هملته يو ستر ښارګوټې جوړ کړې و.

د همایون قواو د وچې له لارې د چنار کلې ددرې اړخونو څخه را تاو کړې و ، تر څنګ يې د سمندر له لارې هم دهمايون د بحري کشتيو بيړۍ چنار کلي ته د وسايلو د ور رسولو لارې بندې کړې وې.

خو د رومي خان توپخانې دخپل ښکتني خراب موقعيت په خاطر اغيزمنه بمباري نه شوه کولاې. نو په دې توګه د وخت د زياتيدو او د ناکامه بمباريو له مخې رومي خان هم سربداله شوې و . هغه د چنار د کلا د ولکې کولو له پاره يو بل پلان جوړ کړ ، هغه دخپل خلالت نومې غلام سره سلا مشوره وکړه او ددې مشورې نه وروسته هغه د چنار دکلا تر مخه په خپل غلام باندې د وهلو بريد وکړ.د غلام د وهلو دغه حال د شيرشاه سوري لښکر د کلا د ديوالو څخه نندارہ کاوه . کله چې هغه غلام د وهلو څخه تنګ شو نو د پخوا څخه دجوړ شوي پلان په مطابق يې دخپل ځان د خلاصون په خاطر د چنار د کلا په لور منډه کړه. کله چې هغه ساده فکره افغانانو وکتل چې د مرګ نه د خلاصون په خاطر هغه بيچاره غلام دوې ته د پناه اخستلو په خاطر د کلا دروازو ته را رسيدلې دې نو هغه ته يې د پناه د ورکولو په خاطر د ښار کوچنۍ دروازه لږ څه پرانسته او هغه ته يې کلا ته د ورننوتلو اجازه ورکړه. دې غلام هم د لږ وخت په تيريدو سره دغه افغانان په خپل ځان باوري کړل. د شيرشاه سوري عسکرو پخپله غوښتل ددې غلام څخه دا معلومه کړي چې د رومي دتوپخانې سره په څه ډول مقابله شونې ده. په همدې خاطر هغوې دې غلام ته د کلا ټول پټ ځايونه ور وښوول او دخپله ځانه د جوړشوې دفاعي پلان په اړه يې هم ورته پوره معلومات ورکړل.

په دې ټولو هر څه د پوهيدو وروسته غلام يوه ورځ په پټه توګه ووت او و تښتيد. او خپل بادار رومي خان يې دټولو هغو رازونو څخه چې د کلا په دننه کې يې تر لاسه کړي و خبر کړ ، رومي خان ددې ټولو معلوماتو د تر لاسه کولو وروسته د همايون خان څخه د کشتيو د منار د جوړولو اجازه و غوښته ، تر څو ددې لارې و توانيږي د شيرشاه سورې د لښکرو د موادو د ترسيل لارې چارې بندی کړاې شي. همايون ورته فرمان ورکړ چې هغه هر هغه څه چې ددفاع له پاره اړين ګڼي تر سره کولاې يې شي.

ددومره زياتو اختياراتو د ترلاسه کولو وروسته، رومي خان په څو مياشتو کې دکشتيو د پاسه داسې يو مينار جوړ کړ چې د چنار کلې هر يو کونج ترې د ورايه ښکاريده. دمينار د تياريدو وروسته رومي خان دهمايون څخه اجازه و غوښته چې د کشتيو دا مينار کلاته را نژدې کړي ، او ترڅنګ يې دا غوښتنه هم وکړه چې همايون دې خپلو لښکرو ته په دې کلا باندې د هره اړخه ديرغل کولو حکم و کړي او تر هغې دې جنګ ته دوام ورکړي تر څو کلا په مکمله توګه فتحه شوي نه وي.

همايون همداسې وکړل ، اخر جنګ پيل شو او تر نيمي شپې پورې يې په پوره ځواک سره دوام وکړ. په دې جګړه کې نژدې اوه سوه مغل عسکر له منځه ولاړل ، او د ډېرو سختو هڅو سره سره بيا هم کلا فتحه نه کړل شوه. ددې يو علت دا و چې د شيرشاه سوري عسکرو دخپلو مورچلو څخه د کشتيو دا مينار تر اور لاندې و نيو او ددې مينار يوه برخه يې له منځه يوړه ، خو په دويمه ورځ تر سهاره پورې رومي خان هغه بيرته ترميم کړ. کله چې هلته په کلا کې د شيرشاه سوري عسکرو وکتل چې د مغلو عسکرو هوډ ځواکمن دې او يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ نه یوه ورځ به دوې په دې کلا باندې ولکه کوي نو هغوې ددې ویرې څخه همایونه ته د سولې پیغام و لیږه او د کلا دپرېښولو له پاره یې ورته شرط وړاندې کړ چې دهغې په مقابل کې به دوې ته سلامتیٔ او امن ورکوي.

همایون هم د شیرشاه سوري دلښکر سالارانو ته د هغوې دځانو د سلامتیٔ ډاډ ورکړ او په دې ترتیب یې په کلا باندې ولکه وکړه. د چنار په کلا باندې د قبضی کولو وروسته مغلو د وینو په تویولو لښتې وبیول. که څه هم هغه رومې خان ته د دې وعدې د پوره کولو حکم کړې وخو دهغې یو باوري سالار «موويد بیگ» چې ددربار یو اعلې افسر و په هغې حکم کې ردوبدل وکړ. او دا یې په کی و لیکل چې د افغانانو لاسونه دې پرې کړل شي. ددې پایلې دا شوې چې رومي خان دشیرشاه سوري ددوه زره توپچې عسکرو له ډلې څخه د اوه سوه کسانو لاسونه پرې کړل اوپه دې ترتیب د چنار په کلا باندې همایون ولکه وکړه.

دبله اړخه شیرشاه سوری هلته د چنار په کلاکې د خوراک ځښاک او فوځې مواد زیاتې ذخیرې ځاې په ځاې کړې وې او د دې شیانو دخوندی ساتنې له پاره یې پوره ساتونکې ټاکلې وو او دا هیله یې درلوده چې د برسات د موسم د پیل کیدو پورې به دوې په کلا کې ددې د عسکرو او دکلا خوندې ساتنې د نده تر سره کوې. ترڅنگ یې شیرشاه سورې دا هیله هم درلوده چې که چیرې د برسات د موسم دپیل کید و پورې ددې عسکر هملته محاصره او د یرغلگرو مقابله وکولاې شي نو تر هغه وخته پورې به هغه هم د بنگال څخه خپل عسکر را باسي او په دې ترتیب به دخپلو عسکرو ځواک هم ورزیات کړې او دهمایون په مقابل کې به یې حالت نور هم غښتلې شي او کلا به د سقوط نه و ساتي.

خو د چنار کلا ساتونکو دهغه دا هیله پوره نه کړه، په درې میاشتو کې په کلا کې د هغه سالارانو دهمایون په مقابل کې گونډې ووهلې ، دا په داسې حال کې چې دبرسات موسم ته لا تر اوسه دوه میاشتې پاتې وې. اوس شیرشاه سورې په دې فکر کې و چې د چنار د کلا وروسته به همایون دهغه پر خلاف حرکت وکړې. د چنار د کلا د دلاسه ورکولو وروسته په څو ورځو کې شیرشاه سورې ته یو بل بد خبر ورسید چې دهغه زوې جلال خان او د صاحب خان مشر ورور مقرب خان چې د بنگال د گوډ ښار یې محاصره کړې و نو دمحاصرې په وخت کې مقرب خان په ډیرې میړانې سره د کلا د دیوالونو په لور حرکت کړې و خو هغه په هغه خندق کې چې د کلا چارچاپیر کنل شوي ډوب او هلاک شو. دمقرب خان د مړینې خبر صاحب خان ته لکه د برق د ټکان په څیر وگرزید. د بله اړخه شیرشاه سورې هم د مقرب خان په مړینه او د گوډ دجنگې مهم په نیمایی کې په پرېښولو باندې ډیر اندیښمن شو، خو بیا هم د شیرشاه سورې زوې جلال خان دگوډ د کلا د نیولو دې پلان ته دپخوا په څیر دوام ورکړ. ترڅنگ یې شیرشاه سورې دهمایون په خلاف د رهتاس د شهزاده را جه هرکشن سره له یوه اړخه خپل اړیکې ښه کړل او د بله اړخه یې د هغه څخه کومک هم وغوښت خو راجه هرکشن دهمایون پر خلاف د جنگ څخه انکار وکړ، هماغه و چې د راجه هرکشن پر خلاف د شیرشاه سوری غصه او قهر دپخوا په نسبت نور هم زیات شو.

۱۸

درهتاس راجه هرکشن د خپل راج محل په یوه خونه کې ځانته ناست و چې دهغې لور شهزادگۍ گنگا دغې خونې ته ورننوتله، دخپلې لور په کتلو سره راجه هرکشن ډیرزیات خوشحاله شو او په خپل څنگ کې یې ورته دکیناستو اشاره وکړه. شهزادگۍ مخکې راغله او دخپل پلار تر څنگ کیناسته. تر یوه وخته پورې دواړه پټه خوله ناست وو، بیا راجه په ډیر غور سره خپلې لور شهزادگۍ ته وکتل او ترې و یې پوښتل:

گوره لورجانې! ایا د کوم ضرورې خبرې په خاطر دلته راغلې یې. او یا دې غوښتل چې هسې زما تر څنگ څو لحظې کینې. دهغه په خبره شهزادگۍ گنگا مسکۍ شوه او ویې ویل: نه پلار جانه! زه د یوې ډیرې ضرورې خبرې له پاره ستا څنگ ته راغلې یم. هرکشن ورته په ډیره مهربانۍ سره وویل چې اوس نو ووایه لورې! ته څه ویل غواړې؟ دهغه په ځواب کې شهزادگۍ گنگا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلارجانه ! ستا د ساتونکې ډلې هغه ځوان چې ما د کوچي قبيلې د سرادر فدايي خان د پلټنې له پاره استولې و ، هغه بيرته را ستون شوې دې. هغه نه فدايي خان پيدا کړې او نه يې د کوچيانو د قبيلې کوم درک خرک معلوم کړې دې. په دې اساس زه غواړم له تا څخه اجازه واخلم. دهغې په دې خبره راجه هرکشن ټکان شانته وخوړ او ويې ويل چې لورې څه ډول اجازه ؟ په ځواب کې ورته شهزادګۍ ګنګا وويل:

پلارجانه ! ماته هغو ناکامه راستنو شوو عسکرو هم وويل چې صاحب خان چې څه موده مخته د کوچيانو د قبيلې د سردارفدايي خان غلام و او ګيدړې به يې ښکارولې او پوستکي به يې ترې ويستل او پلورل به يې. هغه نن سبا د شيرشاه سوري په لښکر کې شامل شوې دې او په دې ورځو کې د «وندهياچل» په غرنيو سيمو کې ميشت دې. شيرشاه سوري هم دخپلو لښکرو سره يو ځای په همدې ځای کې پړاو کړې دې،او اوس ورته خبر راغلې چې همايون د شيرشاه سوري څخه د چنار کلا نيولې ده ، زه غواړم چې د خپلې «داسې اوما» سره يو ځای د نارينه و عسکری کالي وا غوندم او د وندهياچل د غرنيو سيمو په لور ولاړه شم. هلته د صاحب خان سره ووينم ، اودهغه څخه د فدايي خان په اړه معلومات تر لاسه کړم. نو که چيرې زه د فدايي خان سره ووينم نو بيا به ماته معلومه شي چې هغه ځوان څوک و چې زما درې واړه «سوئمبرونه» يې ګټلي و . پلارجانه ! تاته خو معلومه ده چې د وندهياچل غرونيزه سيمه دد ې ځايه ډير لرې نه ده او زه به دهغه ځايه ډير ژر بيرته را ستنه شم.

کله چې شهزادګۍ ګنګا خاموشه شوه نو پلار يې راجه هرکشن ورته وويل: لورجانې ! زه تا هلته د ورتلو څخه نه منه کوم. خو په يوه شرط تاته د تللو اجازه درکوم چې ته به دخپله ځانه سره څو کسه ساتونکې هم وړې. د خپل پلار په دې خبره شهزادګۍ په يوه درنګ سره وويل چې: هو ، پلارجانه ! زه او اوما به دخپله ځانه سره څو کسه ساتونکي هم اخلو. راجه هرکشن ورته وويل:

خو ګوره لورجانې ! تا پخوا هم د يوه ځل څخه زيات د صاحب خان سره بد سلوکي کړې ده ، ايا هغه به له تا سره خبرې کولو ته غاړه کيږدي ؟او ايا هغه به ستا دپوښتنې په اساس تاته دفدايي خان په اړه معلومات درکړي ؟دهغه په دې خبره شهزادګۍ وويل:

پلارجانه ! ستا انديښنې په ځای دي ، خو ته پوهيږې چې صاحب خان له ما سره ډيره زياته مينه کوي ، زه به دهغه سره داسې نرمې او د مينی نه ډکې خبرې وکړم چې دهغې څخه به هغه ته ډيره خوشحالي ور په برخه شي.او زما د پوښتنې سره سم به ماته د فدايي خان په اړه معلومات راکړي په دې ترتيب سره به زه د خپل مصنوعي حرکاتو له مخې دهغه څخه خپلې موخې تر لاسه کړم . دهغې په دې خبرو باندې راجه هرکشن ځواب ورکړ او ورته يې وويل:لورې ته دا کار هم وکړه او پايلې يې ووينه ! ما خو تاته ويلي چې ستا په هره معامله کې به زه له تا سره ملګرې اوسم ، دخپل پلار هرکشن د دې ځواب په اوريدو سره شهزادګۍ خوشحاله شوه ، بيا دواړه پلار او لور دهغې خونې څخه را ووتل. هرکشن دخپلې لور د سفر له پاره تياري پيل کړ ، هغې ته يې دخپلو ساتونکو څخه يوه ډله ورکړه. او په دې ترتيب ګنګا دخپلې اوما سره يو ځای د دندهياچل د غرنيو سيمو په لور و خوزيده.

۱۹

د کوهستان په «وندهياچل» کې ميشت صاحب خان يوه ورځ په خپله خيمه کې يواځې ناست و چې شهزادګۍ ګنګا او دهغې داسي اوما دواړه يو ځای ور ننوتلې. دواړو دنارينه و جنګي کالي په ځان کړي و او خپل مخونه يې په کې را نغاړلي وو ، ددوې د کتلو سره سم صاحب خان دخپله ځايه په يوه ټکان را پورته شو او په يوه درنګ يې خپله توره د تيکې رااوويسته او دوې ته يې وويل چې څوک ياست ؟ او څه ډول مو جرءت کړې چې زما خيمې ته را ننوتئ. ددې خبرې سره سم صاحب خان خپل دواړه لاسونه و پړکول ، دخيمې بيرون ولاړو افغان ساتونکو څخه يې يوه په منډه ځان را ورساوه.صاحب خان ترې په ډيره غضبناکه توګه و پوښتل: دا دواړه څنګه په خپل سره زما خيمې ته را ننوتي دي؟ دهغه ددې پوښتنې په ځواب کې افغان ساتونکی په داسې حال کې چې سريې ټيټ کړې و وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیرصیب ! دا دواړه نجوني دي، له تاسره یې کتل غوښتل. په دې خاطر ما هغوې ته ستا سره دکتلو له پاره د درتلو اجازه ورکړه ، ددوې سره څو ساتونکې هم مل دي ، هغوې مو هلته بیرون تم کړي دي ، ددې دواړو نجونو څخه یوه د راجه هرکشن لور شهزادګۍ ګنګا ده او بله یې دهغې داسي اوما ده. اوما ویل چې هغه تا خپل ورور ګڼي. نو که چیرې هغه له تاسره ویني نو ناراضه کیږي به نه. کله چې دوې خیمې ته را ننوتلې نو ما او زما ملګرو پر هغوې ځارنه کوله چې هسې نه چې په دوکې اوفریب سره پرتا باندې حمله وکړي.

هغه ساتونکې تر دې ځایه خبرې وکړې ، دهغه په دې خبرو صاحب خان مسکې شانته شو ، ساتونکې ته یې وویل چې ته اوس تللې شې. زه به ددوې سره په خپله خبرې وکړم. دد ې خبرې سره سم شهزادګۍ ګنګا او دهغې داسې اوما دواړو دخپلو مخونو څخه نقاب لرې کړ. صاحب خان شهزادګۍ ګنګا ته د کتلو پرته اوما ته مخ کړ او ورڅخه یې و پوښتل:

اوما خورجانې ! ته څنګه یې ! ایا څه داسې ضروري خبره وه چې ته یې د شهزادګۍ سره یو ځای تر دې ځایه زما خیمې ته په را تللو مجبوره کړې یې ؟دهغه ددې پوښتنې په ځواب کې د اوما په ځای شهزادګۍ ګنګا په خبرو پیل وکړ او ویې ویل:

صاحب خانه ! که ماته دخبرو کولو اجازه وي نو زه څه ویل غواړم. زه پوهیږم چې ته اوس هغه پخوانې صاحب خان نه یې. بلکه د شیرشاه سورې د لښکرو اعلې سالار یې. ته د ډیر زیات عزت او مرتبې خاوند یې. نو په دې خاطر مې د څه ویلو تر مخه له تا څخه اجازه اخستل غوښتل. ددې خبرې وروسته شهزادګۍ په ډیر غور سره د صاحب خان مخ ته کتل او بیا یې په نرم او مینه ناک اواز سره وویل:

صاحب خانه ! بې شکه چې ته به ما خپله دښمنه ګڼې. خو اوس چې ستا خیمې ته را ننوتې یم نو ته ما ته د کیناستو ست هم نه کوې. دهغې په دې خبره صاحب خان ورته وویل چې نه ! هیڅکله هم ! زه تاته دکیناستو ست نه کوم. هر هغه څه چې ته یې ویل غواړې په ولاړه ولاړه یې ووایه ، زه به یې ځواب درکړم او بیا زما دخیمې څخه وځه. د صاحب خان په دې وچ ځواب سره شهزاګۍ اندیښمنه او غمګینه شوه ، او په نیغه یې ترې وپوښتل:

ګوره صاحب خانه ! د شیرشاه سوري په لښکر کې د را ننوتلو مخته ته د کوچي قبیلی د سردار غلام وې. دهغې قبیلی د سردار نوم فدایې خان و. ما ددې فدایې خان ډیره پلټنه وکړه ،خو تر اوسه مې دهغې په اړه هیڅ ډول معلومات نه دې تر لاسه کړې. زه او اوما د څو کسو ساتونکو سره یو ځای ستا دربار ته راغلو چې که ته وکولې شې او ما ته د فدایې خان په اړه څه معلومات راکړې. صاحب خان ورته په ډیر غور سره د کتلو وروسته وویل:

ستا د کوچي قبیلې د سردار فدایې خان سره څه کار ؟او څه درپیښ شوي چې دهغې د پیدا کیدو په خاطر ان زما د خیمې پورې را ورسیدې؟ دهغه په دې خبره شهزادګۍ په ډیره غمژنه توګه وویل چې:

ګوره صاحب خانه ! زما پلار زما د واده کولو په خاطر هلته په خپل ریاست کې درې سختې مقابلې پیل کړې وې او دا درې واړه مقابلې په درې پړاونو کې تر سره شوې. په دې مقابلو کې د راې سین ، میواړ او کالنجر شهزادګانو او تر څنګ یې ځایي اتلانو هم ګډون درلود. خو هیڅ یو یې ددې درې واړو مقابلو په ګټلو بریالې نه شو. خو دا مقابلې یو نقاب پوښه کس و ګټلې ، چې تل به د مقابلې په اخري وختو کې را څرګندیده ، په تور رنګه اسپ به سپور و او ځان او مخ به یې هم تور رنګه کالو پوښلې و ، اوس نو زه یوائې دهماغه نقاب پوښه په لټون پسې یم. ځکه چې هغه زما درې واړه مقابلې «سوئمبر» ګټلې دې او دا دهغې حق دې چې ما دخپل ژوند تل پاتې ملګرې کړې. خو د مقابلو ددریم او اخري پړاو د ګټلو وروسته هغه ماته همدومره وویل چې « هغه ما نه خوښوي» ، او بیا ولاړ. بس صاحب خانه ! زه غواړم د فدایې خان څخه دهمدې کس په اړه معلومات تر لاسه کړم ، او په دې ځان و پوهوم چې هغه څوک دې ؟دکوم ځای اوسیدونکې دې ؟او اوس چیرې اوسیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغې ددې خبرو دکولو وروسته صاحب خان ترې په ډېرې کرکې سره وپوښتل او ورته يې وويل: ګوره د رهتاس شهزادګۍ ! فدايي خان ته به څه معلومه وي چې هغه نقاب پوښ چې ستا سوئمبر يې ګټلي هغه څوک دې ؟دکومه ځايه راغلي او بيا چيرې ولاړ؟دهغه په دې خبره شهزادګۍ يو دم وويل: ګوره صاحب خانه ! هغه وخت چې د سويمبر دويمه مقابله روانه وه نو هغه وخت فدايي خان دهغه نقاب پوښ سره د څه خبرې له پاره راغلي و. دلږ وخت له پاره يې دهغه سره خبرې وکړې او بيا ترې ولاړ. نو دهمغې څخه ماته دا ډاګيزه شوه چې فدايي خان به دا نقاب پوښه پيژني. صاحب خانه ! زه پوهيږم چې ته زما څخه کرکه کوې. دا ځکه چې ما له تاسره ښه سلوک نه دې کړې خو د انسانيت له مخې زه له تا څخه هيله کوم چې ته ماته د فدايي خان دځاې ځيګې په اړه معلومات راکړې.

شهزادګۍ چې کله چپ شوه نو صاحب خان هم د څه اوږدې خاموشۍ وروسته څه فکر وکړ او بيا يې شهزادګۍ ته وويل:

ګوره ګنګا ! څو مياشتې کيږي چې ما د فدايي خان قبيله پرې ايښې ده ، اوس نه پوهيږم چې فداې خان به چيرې وي او په کومو زمکو کې به دخپلې قبيلې سره يو ځاې قدم ږدي. ته هسې دې لورې ته راغلې يې. زه تاته د فدايي خان د ځاې ځيګې په اړه هيڅ هم نه شم ويلې. اوس ته زما دخيمې څخه تللې شې. خو اوما خورې ! ترهغې چې تا پورې اړه لري، نو ته چې هر څومره وخت وغواړې دلته په ډېر عزت او درنښت سره زما دخور په څير زما سره اوسيدلې شې.دهغه په دې خبره اوما وويل:

زما درونده او قدرمنه وروره !ستا ددې وړانديز ډيره ډيره مننه ! زه به ستا په لښکر کې ځکه تم نه شم چې زه د شهزاګۍ ګنګا سره يو ځاې راغلې يم اودهمدې سره بيرته تلل غوره ګڼم. دهغې په دې خبره صاحب خان د اوما څخه سترګې را وګرځولې او په شهزادګۍ يې ورونښلولې او ورته يې وويل: شهزادګۍ ګنګا !ته اوس له دې ځايه تللې شې. تا چې څه له ما څخه پوښتل ، دهغې ځواب دې واوريد. دصاحب خان ددې وچ ځواب په اوريدو سره شهزادګۍ ګنګا د ډيره قهره خپلې پښې په زمکه و دربولې او د خپلې داسې اوما سره يو ځاې دهغه د خيمې څخه بيرونه ووتله. اوبيا دخپلو ساتونکو سره يو د رهتاس په لور روانه شوه

۲۰

شيرشاه سوري په خپله خيمه کې يواځې ناست وچې صاحب خان يې په ناڅاپه توګه په دروازه کې ودريد . په دروازه کې د دريدو سره سم يې په ډېره عاجزانه توګه د ورننوتلو اجازه و غوښته. په ځواب کې ورته شيرشاه سوري په ډېره مهربانۍ او پلرني شفقت سره وويل . دلته راشه او زما تر څنګ کينه ،زويه ! زه غواړم له تاسره په يوې ډېرې مهمې موضوع باندې خبرې وکړم. صاحب خان ور وړاندې شواو دشيرشاه سوري تر څنګ کيناست. دهغه دکيناستو وروسته شيرشاه سوري هغه ته مخ کړ او ورته يې وويل:

صاحب خانه زويه !دهر څه دمخه بايد تاته وواېم چې زه تاته د خواص خان لقب درکوم ،ما لښکر ته هم اعلانونکې ور ليږلې دي تر څو اعلان وکړي چې له دې وروسته به تاته د صاحب خان په ځاې د خواص خان په نامه غږ کوي.

خواص خانه، زما زويه ، واوره !دويم دا چې زه ستا دورور مقرب خان په مړينه ډېر زيات غمګين شوې يم. داسې ونه ګڼې چې ته به په دې غم کې يواځې يې. په خداې سوګند چې زه په دې غم کې له تاسره شريک يم .

خواص خانه !دريمه خبره داده چې: ته پوهيږې چې زما زوې جلال خان د بنګال ښار تر اوسه پورې په خپله محاصره کې ساتلې دې خو تر اوسه يې کومه بريا نه ده په برخه شوې. دهمدې کشمکش په جريان کې ستا ورور مقرب خان هم له منځه ولاړ. زما زويه ! زه پوهيږم چې ستا د موجوديت نه پرته دا کلا نه شي سوبه کيدې. که ستا خوښه وي نو زه به همدا اوس دخپل لښکر نيمايي برخه ستا په واک کې درکړم ترڅو ته همدا نن د ګوډ په لور روان شې. اوپه ګوډ باندې حمله وکړې او هغه ژر تر ژره سوبه کړئ ، زه هيله لرم چې په ګوډ به ستا دحملې په صورت کې تاسې بريا تر لاسه کړئ. خواص خانه !ما هلته همدا نن سهار څو کسه قاصدان ور استولي دي.خپل زوې جلال خان ته مې پيغام ور ليږلې دې چې خواص خان د يوه غښتلي لښکر سره يو ځاې هلته ګوډ ته در رسيدونکې دې نو په دې خاطر ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندې لاندې چې کوم عسکر دې او کوم چې د خواص خان سره درځي د ټولو ستر قومندان به خواص خان وي او جلال خان به ستا د قومندې لاندې وي. دهمدې قاصدانو په لاسو ما جلال خان او د ګوډ محاصره کونکي لښکر ته هم دا پیغام ور استولې دې چې ما صاحب خان ته اوس د خواص خان لقب ورکړې دې په دې اساس ددې وروسته به صاحب خان د خواص خان په نامه یادوئ. وایه زویه ! زما ددې وړاندیزونو په اړه ته څه ویل غواړې؟

په ځواب کې خواص خان وویل:

زما محسنه ، زما پالونکیه ! زه به په ځواب کې څه ووایم ! ته چې هر څه ماته وایی نو هغه به ماته د حکم درجه لري ،ستا د وینا په مطابق به زه همدا نن د ګوډ د ښار په لور حرکت وکړم او هلته د ور رسیدو سره سم به انشاءالله تاته ډیر ښه خبرونه را ولیږم. زه به د بنګال حاکم سلطان محمود ته د ساه اخستلو وخت هم ور نه کړم. تر هغه وخته پورې به پرې حملې کوم تر څو چې د ګوډ کلا نه وي سوبه شوي.

د خواص خان ددې ځواب په اوریدو باندې شیرشاه سوري ډیر زیات خوشحاله شو او بیا یې ورته وویلې:

خواص خانه واوره ! زه به هم ستا په نه موجودیت کې ارام نه کینم. بلکه د رهتاس په راجه هرکشن باندې حمله کوم او په هرصورت به په رهتاس د ولکې کولو کوشش وکړم. ددې کار د ترسره کولو وروسته به خپل لښکر د وندهیاچل دغرنیو سیمو اود بهارکنډ د کلا څخه ، چې هلته زمونږ ښځې او خوراکي توکي د نورو اړوندو شیانو سره یو ځای ځای په ځای شوي دي ، ټول د هغه ځایه د رهتاس کلا ته منتقل کړم. په دې اړه ستا آند څه دې؟

خواص خان ورته وویل: زما درونده شیرشاه !دا ډیر غوره نظر دې د چنار د کلا د دلاسه ورکولو وروسته مونږ ته د یوې بلې سترې کلا د پیدا کیدو اړتیا ده. د بهارکنډ کلا زمونږ اړتیاوې نه شي پوره کولی ، د سهسرام کلا هم کوچنۍ ده او زمونږ اړتیاوې نه پوره کوي ، خو په مقابل کې یې د رهتاس کلا ډیره ستره او مستحکمه ده. که چیرې په دې کلا کې مونږ محصور و اوسو او د بیرون څخه کوم یرغل ګر پر مونږ باندې حمله وکړي نو زما په آند چې د هغې کلا سوبه کول به ورته دومره اسانه نه وي. شیرشاه سوري ورته وویل: خواص خانه زویه ! ستا په نه موجودیت کې به زه د رهتاس کلا سوبه کوم او په خپله ولکه کې به یې اخلم. زما په آند چې اوس به زه ستا د تللو له پاره ځان تیار کړم. له ماسره را ځه ، ددې خبرې سره سم شیرشاه سوري خواص خان له لاسه و نیو او د خیمې څخه بیرون ووتل او دهغې د کوچ کولو ټول انتظامات یې مکمل کړل. لږه شیبه وروسته خواص خان د یوه درون لښکر سره یو ځای د وندهیاچل دغرنیو سیمو څخه د ګوډ د ښار په لور کوچ وکړ.

۲۱

یوه ورځ په داسې حال کې چې جلال خان د ګوډ د ښار په چارچاپیر کې د خپل لښکر تر منځ د ماسختن د لمانځه څخه فارغ شو ، یوه ساتونکي ورته په غوږ کې وویل چې:

محترمه جلال خانه !صاحب خان چې زمونږ اقا شیرشاه سوري ورته د خواص خان لقب ورکړې دلته زمونږ پړاو ته را رسیدلی او دلږ ځنډ وروسته به له تاسره ویني. ددې خبر په اوریدو سره جلال خان سمدستي د مصلې څخه پورته شو ، مصله یې خپل یوه ساتونکي ته ورکړه او بیا یې د هغه څخه پوښتنه وکړه چې تا ته چا خبر درکړ چې خواص خان زمونږ پړاو ته را داخل شوې دې.

د هغه د خبرې په ځواب کې دغه ساتونکي وویل چې همدا اوس اوس یو عسکر په منډه منډه راغي او هغه ماته خبر راکړ چې خواص خان زمونږ پړاو ته را ننوتې دې. جلال خان ترې د هغه د لښکر په اړه و پوښتل هغه ورته وویل: چې نه خواص خان په یو اځې ځان دلته را رسیدونکې دې. دوې لا په همدې خبرو کې مصروف وو ، چې خواص خان آس باندې سپور را ورسید او د جلال خان تر مخ په یو ټوپ د اسه را کیوت. جلال خان په ډیره بیړه ورمخته شو ، دواړو لاسونه خلاص کړل او یو بل ته ور غاړې وتل. بیا جلال خان جدا شو او ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی وویل: خواص خانه ، زما مشره او زما دوسته ! زه ستا د ورور مقرب خان په مړینه ډیر زیات غمګین شوې یم،را ځه چې زه دې دهغې قبر ته یوسم. خواص خان ور سره په پټه خوله روان شو ، جلال خان هغه د پړاو یوې برخې ته یوړ ،هلته یو قبر جوړ کړل شوې و ، جلال خان ورته وویل چې دا ستا د ورور قبر دې. دلته په دریدو سره د خواص خان سترګې د اوښکو ډکې شوې ، لږه شیبه هلته ودریدل او فاتحه یی ولوسته ، او بیا بیرته شاته شو . تر لږه ځنډه پورې هلته خاموشي خپره وه، بیا یی جلال خان ته وویل زما سره راځه. جلال خان هم چپ چاپ دهغه سره یو ځای روان شو بیا دواړه د جلال خان خیمې ته راغلل او هلته کیناستل. خواص خان غوښتل څه ووایی خو جلال خان پرې را مخته شو او ترې وپی وپوښتل :خواص خانه وروره !ته ځانته یی که لښکر هم درسره دې. خواص خان ورته په ډیر راز سره وویل:

ګوره جلال خانه وروره ! زه د ګوډ د ښار په شاوخوا فوځی استحکاماتو باندې ډیر ښه خبریم. زه ځانته نه یم له ما سره یو غښتلې لښکر هم شته. خو ما خپل لښکر دوه میله لرې پرې ایښې دې. لښکر هملته پړاو کړې دې ، ګوره جلاله وروره ! له ما سره وخت نه شته ، ډیرې لرې ورځې دلته پاته کیږم. کیدای شې د قاصدانو په لاس تاته دشیرشاه پیغامونه را رسیدلي وي. ددې ترڅنګ تاسې ته به دا خبر هم راغلې وي چې همایون خان پر مونږ باندې یرغل کړې او زمونږ څخه یی د چنار کلا نیولې ده ، اوس زه په ګوډ باندې د ولکې په خاطر دلته راغلې یم ، زما په نه موجودیت کې به شیرشاه د رهتاس په کلا باندې برید کوي او د هغې د نیولو هڅه به کوی.

جلال خانه ! د چنار د کلا د دلاسه ورکولو وروسته له مونږه سره بله داسې مستحکمه کلا نه وه چې مونږ هلته په کې محاصره پاته شو او دهمایون خان د فوځونو مقابله وکړو . په دې اساس په رهتاس باندې ولکه کول ډیر اړین دي . خو تر هغو چې شیرشاه سوري په رهتاس باندې ولکه کوي نو تر هغې باید مونږ د ګوډ کلا هم سوبه کړې وي. دهغه په دې خبره باندې جلال خان ورته وویلې :

خواص خانه وروره ! ما په ګوډ باندې په پرلپسې توګه حملې کړې دي ، ستا مرحوم ورور هم همداسې کړی و . ما ددې کلا د سوبې له پاره هره هڅه او هرکوشش کړې دې خو هر ځل د ماتې سره مخ شوي یم. ددې یو علت دادې چې دګوډ د ښار کلابندي ډیره مستحکمه ده، دښار څلورو اړخونو ته خندقونه کیندل شوي دي او د کلا ستر ستر دیوالونه چې په زیاتو ځایو کې یی پلنوالې تر لسو مترو پورې رسیږي. دهغوې پیاده فوځ د خندق او دیوالونو څخه د میږیو په څیر معلومیږي. خو دخندق څخه تیریدل او تر دیوالونو پورې رسیدل ډیر ملاماتونکې کار دې.اول خو د خندق نه تیریدل اسانه نه دي. او که چیرې څوک ترې تیر هم شي نو بیا د کلا په دیوالونو باندې ورختل شونې نه ښکاری، په دې اساس زه ناهیلې شوی یم چې مونږ دې ګوډ سوبه کړو .

د جلال خان په دې خبرو باندې خواص خان خندونې شو او ویی ویل : ګوره جلال خانه ! نا هیلې ګناه ده . زه د ګوډ د شاوخوا د استحکاماتو او ددې کلا د دیوالونو څخه ښه خبر یم. دا هر څه ما په خپلو سترګو کتلي دي ، ته اندیښنه مه کوه ، زه تاته ډاډ درکوم چې همدا نن شپه به مونږ دګوډ ښار فتحه کوو. دهغه په دې خبره جلال خان حیران شو او ترې وپی پوښتل :دا به څنګه شوني وی؟ خواص خان ورته وویل:

جلال خانه ماته غوږ شه ! زه همدا لږه شیبه وروسته له دې ځایه ځم او خپل فوځ ته ځان رسوم. زما د تلو وروسته به ته د خپل پړاو په لور مخته ولاړ شې ، دښار په دیوالونو د بمونو د ورولو تر څنګ دخندق څخه هم د تیریدو مصنوعي هڅه وکړه ، ستا په دې حرکت به د ګوډ د محصورو عسکرو سترګې ستا لورې ته متوجه شي. کله چې ته دا ډول فعالیت پیل کړې نو زه به د ګوډ پر خلاف حرکت وکړم.

جلاله خانه ! دکومې لورې څخه چې ته حمله کوې نو زه به دخپل لښکر سره یو ځای بلکل دهغې مخالف لورې ته ورځم ، هلته به زه دښارد شاوخوا د کندل شوي خندق څخه چې د اوبو ډک دې، تیریږم اوبیا به دخپل لښکر سره یو ځای دښار د دیوالو لورې ته ځان ور نژدې کوم ترڅو په دیوال باندې د رسیو پاتخې جوړې او پرې به د ورختلو هڅه کوم ، په دیوال د ورختلو وروسته چې د ګوډ هر عسکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې مخته راځي وژنم به يې. په ديوالونو باندې د ولکې کولو وروسته به زه ستا په لور د راتللو هڅه وکړم ، کله چې د ديوالونو له اړخه ستا پر خلاف مقاومت ختم شي نو ته به پوه شې چې په ديوالو باندې ما ولکه کړې ده ، نو ته به سمدستي او پرته له کومه خطره د خندق څخه را تير شې. دخندق نه د تيريدو له پاره ته د همدا شيبې نه وروسته ځان تيار کړه ، دلښکرو څخه څو تنه و ټاکه تر څو د لرګيو پل جوړ کړي تر څو د خندق په دواړو خواو کې د رسيو په ترلو سره ستا د عسکرو د تيريدو له پاره اسانتياوې برابرې کړي ، تر دې وخته پورې به ما د ښار په ديوالونو خپله ولکه پوره کړې وي او ستا لورې ته به د ښار دروازې ته ځان ور رسوم او دروازه به درته پرانيزم. بيا به مونږ دواړه د متحده لښکر سره يو ځاې د ګوډ په ښار کې خپله دنده تر سره کړو ، زه هيله من يم چې همدا نن شپه به مونږ د ګوډ ښار په مکمله توګه تر ولکې لاندې راوړو.

کله چې خواص خان خاموش شو نو جلال خان ورته په ډيرې حيرانتيا سره وکتل او ور څخه يې و پوښتل:

خواص خانه وروره ! ستا دا مشوره خو ډيره اړينه او مهمه ده ، خو ما ته د پلې کولو وړ نه برېښي. تر هر څه لمړی ما ته ووايه چې ته به د خندق څخه څه ډول تير شې. د هغه په دې خبره خواص خان مسکې شو او ورته يې وويل چې ګوره جلال خانه ! دخندق څخه تيريدل دا زما کار دې ، دا چې زه ترې څنګه تيريږم دا به بيا وروسته درته ووايم ، تا ته به په خپله معلومه شي چې هغه څه چې ما ويلي ته به هم همغسې کوې. د دې خبرې سره سم خواص خان د خيمې څخه را ووت ، په خپل آس سپور شو او آس ته يې قمچينه ورکړه او په تيزۍ سره د هغه ځايه ولاړ.

د خواص خان د تللو څخه سمدستي وروسته دشيرشاه سوري زوې جلال خان هم په حرکت راغې. خپل لښکر يې تيارسئ کړ ، بيا دخندق تر غاړې پورې راغې او دهمغه ځايه يې د ګوډ په ديوالونو باندې بمباري پيل کړه او تر څنګ يې د خندق څخه د ښار په لور د تيريدو مصنوعې هڅې هم پيل کړې.

د ښار د ديوالونو د پاسه او د برجونو په داخل کې د بنګال دحاکم سلطان محمود لښکر چې کله وکتل چې جلال خان د معمول پر خلاف د شپې د جنګ کولو پيل کړې دې نو هغوې ډير انديښمند شول. هغوې دا فکر کاوه چې کيدې شي جلال خان د محاصرې د اوږديدو څخه په تنګ راغلې وي او کوم نوې چال چلوي. هغه به د شپې په وخت خپل لښکر د خندق څخه را تير او د کلا په ديوالونو د ورختلو هڅې به وکړي، په دې خاطر څومره عسکر چې دديوالو د پاسه ناست و هغوې ټولو هغې لورې ته ورمنډې کړې دکومې لورې چې جلال خان بمباري کوله او غوښتل يې خپل عسکر په ديوالونو ور وخيژوي.

په همدې وخت کې چې جلال خان د ګوډ په ښار باندې بمباری پيل کړه نو خواص خان هم د خپل لښکر سره يو ځاې په حرکت راغې ، هغه دخپل لښکر سره يو ځاې اوږود چکروواهه. او دګوډ دښار دهغه لورې څخه راښکاره شو چې د جلال خان مخالف لورې يې جوړ اوه. خپل لښکر او اسونه يې دخندق څخه لږ څه لرې و درول او څو ډلې يې دخپلو آسونو د خوندي ساتنې له پاره و ټاکلې. بيا د خپلو عسکرو سره يو ځاې په سينه خويدونکې د خندق په لور روان شو ، دهغه ملګرو له ځانو سره د خندق څخه د تيريدو وسايل او په ديوالونو باندې د ورختلو له پاره د رسيو پاتخې را خستې وې.

دخندق غاړې ته د رارسيدو سره سم خواص خان يو بل ستر مهم قدم پورته کړ ، تر ټولو لمړی يې دخپلو کوچنيو سالارانو سره سلا او مشوره وکړه او بيا په خپله د اواز پيدا کيدو پرته خندق ته ورکيوت ، هغه له ځانه سره د رسۍ يو سر و نيو تر څو دخندق هغه بلې لورې ته د رسيدو سره سم يې هلته و نښلوي. په دې توګه خواص خان د خندق دواړو غاړو ته دوره درې ځلې لاړ او راغې. هغه په خندق کې درې رسۍ وتړلې، بيا هغه د خندق څخه تير شو او هغه بل اړخ کې ځملاست او خپلو لښکرو ته يې د دې رسيو په وکومک سره دخندق څخه د تيريدو حکم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خواص خان له اړخه د حکم سره سم دهغه لښکر هم د کوم شور و زوګ د پیدا کیدو پرته په سینو و خویدل او تر خندق پورې یې ځانونه ورسول او بیا یې دهمغو رسیو په کومک سره د خندق نه تیرشول او د ګوډ دمحاصره شوې ښار دیوالونو ته یې ځانونه ورسول او هملته په زمکه څملاستل.

دشپې په تیاره کې دخندق څخه تیریدل او دګوډ د ښار دیوالونو ته ځان رسول دکامیابۍ په لور دخواص خان لمړۍ قدم و. هغه ددې قدم وروسته د بل قدم د اخستوله پاره ځان تیارول پیل کړل. هغه دخپل لښکر سره یو ځاې د ښار ددیوالونو څنګ ته ورغې اوخپل عسکرو ته یې په دیوالونو باندې د رسیو د وراچولو حکم وکړ، دهغه د حکم سره سم دهغه عسکرو د ښار په دیوالونو باندې رسۍ ور وغورزولې او خواص خان د خپل لښکر سره یو ځاې په ډیره بیړه په هغو رسیو باندې په دیوال ور وخوت. په دیوال د ورختلو وروسته خواص خان همهلته د دیوال د پاسه څملاست دهغه سره نور و ملګرو هم همداسې وکړل. کله چې خواص خان وکتل چې اوس دهغه دملګرو پوره شمیره په دیوالو را ختلې ده نو په خپلې حملې یې پیل وکړ. تر ټولو لمړۍ د برج په لور ورغې اوپه هغې یې دومره ځواکمنه حمله وکړه چې په برج کې ناست ساتونکې یې ټول له منځه یوړل او په برج یې په خپله ولکه وکړه. کله چې خواص خان وکتل چې اوس نو دهغه ټول لښکر په دیوالو راختلې دې نو هغه په خپل یلغار باندې پیل وکړ، هغه په ټوپونو، ټوپونو باندې د یوه برج نه بل ته او د بل نه بل ته ځان ورساوه او ټول یې په خپله ولکه کې راوړل، دهغه دحملې څخه یو اځې هغه برخه خوندي پاته وه چې د جلال خان سره په جنګ کې را ګیر وه. کله چې د سلطان محمود هغه لښکریانو ته چې د شیرشاه د زوې جلال خان سره په جنګ کې را ګیر وې خبر ورسید چې دهغوې تر شا دښمن په دیوالونو را ختلې او په ښار یې حمله کړې ده، نو دهغوې دپښو لاندې زمکه و ښویده، اوبیا کله چې دا خبر ور ورسید چې د شیرشاه سورې ستر سالار خواص خان پرې حمله کړې ده او دخپلې برخې دلښکر سره یو ځاې په دیوالو را ختلې دې نو د سلطان محمود په لښکر و کې هغه لږ څه پاته همت او غیرت دواړه سره وخویدل. اوس هغوې د نوې حالاتو سره مخ شوې و. د سلطان محمود هغو لښکرو چې لږ دمخه یې د شیرشاه سورې دلښکرو پر خلاف بمونه او غشې ورول، هغوې دهغې څخه را وګرزیدل اودخواص خان په لور متوجه شول. کله چې د دیوال ددې برخې څخه د جلال خان په مقابل کې مقاومت ختم شو نو هغه وپوهیده چې خواص خان په دیوال د ورختلو وروسته د شا له اړخه په دښمن باندې حمله کړې ده.

ددې سره سم جلال خان د برق په څیر په تیزۍ سره نوې حرکت پیل کړ. او هغه پل چې خواص خان ورته دهغه د تیاریدو حکم کړې و، دهغه د لښکر نجارانو هغه په یوه د رنګ کې تیار کړ، هغه کوچنې شانته پل و چې د خندق د پاسه یې ور وغورزاوه، د پل دواړه سرونه یې د خندق په دواړو غاړو کې میخ کړل اوبیا د جلال خان په ګډون دهغه ټول لښکر پرې په ډیره بیړه تیر شول او دښار د دیوالونو لورې ته ورغلل.

کله چې جلال خان د خپل لښکرسره یو ځاې دا ټول عملیات تر سره کول نو د دیوالو څخه دهغه پر خلاف هیڅ ډول مخالفانه حرکت تر سره نه شو. په دې کار سره د جلال خان او دهغه دعسکرو حوصلې ډیرې پورته او قوي شوې. هغوې په چټکۍ سره مخ ته ولاړل او لکه څنګه چې خواص خان په دیوالو باندې د رسیو د ورغورزولو او په دیوالو باندې د ورختلو عمل اجرا کړې و په همغه توګه جلال خان هم د رسیو دپاتخو په کومک سره دخپل لښکر سره یو ځاې په دیوالونو ور وخوت. او د ګوډ د ښار ساتونکې چې په دې وخت کې د خواص خان سره په جګړه کې مصروف و دهغوې تر شا یې پرې حمله وکړه.

اوس نو حالات دا ډول و چې د بنګال د سلطان محمود لښکر باندې د دیوالونو دپاسه ددوو اړخونو څخه حمله شوې وه. دمخې له اړخه خواص خان د اور د بڅرکي په څیر پرې را پریوتې و او د شا له خوا پرې جلال خان د نوې جلال او قهر و غضب سره یو ځاې دنیا سور اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځولې وه. په دې ترتیب یې د ګوډ د ښار د دیوالو د ساتونکو شپه نوره هم تیاره او یو په بل پسې یې له منځه یوړل او شمیره یې ورته را کمه کړه.

د ګوډ لښکر د خپله اړخه ډېرې هڅې وکړې چې خواص خان او جلال خان بیرته د دیوالو څخه کیوتو ته اړ باسي خو دهغوې هره هڅه د ناکامۍ سره مخ شوه ، خواص خان د خپلې حملې په وخت کې یو خونړۍ انقلاب را وستې و ، کله چې دهغه د تیزو حملو څخه د ښار ساتونکې په شا شول نو دشا له اړخه پرې جلال خان را پریوت اودهغوې عامه وژنه یې پیل کړه . په دې ترتیب په دیوالونو ناست ټول ساتونکي دخواص خان اوجلال خان د لښکرو په لاسو له منځه ولاړل اوبیا خواص خان او جلال خان دواړه دښار ددیوالونو څخه را کیوتل.

ددیوالونو څخه د را کیوتلو وروسته خواص خان او جلال خان د خاص مقاومت سره مخ نه شول ،ځکه د ګوډ د ښار د ساتونکو ډیره برخه هملته په دیوال ختلې وه او هغوې ټول دخواص خان او جلال خان په لاسو باندې له منځه تللي و ، اوس نو د ښار په منځ کې چې څومره لښکر و هغوې لږ څه اخوا دیخوا مقاومت وکړ خو خواص خان او جلال خان هغوې هم یو په بل پسې په ډیره اسانۍ سره له منځه یوړل ، او په دې ترتیب کله چې دشرق څخه دبلې ورځې لمر را خوت ، خواص خان د ګوډ په ښار باندې ولکه پوره کړې وه.

د خواص خان له لورې دګوډ د ښار سوبه ډیره ستره سوبه وه چې هغه دخپلې ارادې ، عزم او هوډ په اساس تر لاسه کړه. بیا ه غه د لمر د راختو وروسته د ښار ټولو برخو کې و ګرزید او د ګوډ دښار د نظم ونسق د جوړولو کار یې پیل کړ . د ګوډ دښار د سوبې وروسته خواص خان یوا ځې څو ورځې هلته پاته شو اوبیا یې ښار د شیرشاه سوري زوې جلال خان ته حواله کړ اوپخپله بیرته دخپل لښکر سره یو ځای د وندهیاچل غرنیو سیمو ته دشیرشاه سوری سره دیو ځای کیدو په خاطر را ستون شو .

۲۲

که له یوه اړخه په بنګال کې خواص خان په زړه پورې بریالیتوب تر لاسه کړې و خو د بله اړخه شیرشاه سوری هم بیکاره نه و ناست . د بنګال په لور د خواص خان دا ستولو وروسته ، د شیرشاه سوري تر مخه تر ټولو مهمه مسئله دخپلو ښځو ، اولادونو او خزانې خوندي ځایو ته منتقلول وو . په دې ورځو کې شیرشاه سوری خپله ښځه ، خپل اولادونه ، خزانې او جنګې سامانونه ټول هملته د بهارکنډ په کلا کې ځاې په ځاې کړې و . خو له یوه اړخه دا کلا ډیره کوچنۍ وه او دبله اړخه شیرشاه سوري ته دا خبرونه هم رسیدل چې د چنار د کلا د فتحې وروسته همایون خان د بهارکنډ په کلا باندې د ولکې کولو په فکر کې دې. دبهارکنډ نه علاوه د شیرشاه سوری په ولکه کې یوه بله کلا هم وه ، چې شیر ګړ نومیده او د رهتاس د کلا په شمال کې د سهسرام څخه نژدې شل میله لرې جنوب غرب لورې ته پرته وه. خو دا کلا هم د اوږدې محاصرې له پاره مناسبه نه بریښیده. هغه د کوچنیوالې تر څنګ د ډیرې مودې له پاره دخوراکې او جنګې موادو د ذخیرو له پاره هم ځاې نه درلود.

څرنګه چې شیرشاه سوري ته د په پرلپسې توګه د همایون له اړخه د بهارکنډ په کلا باندې دحملې اویرغل ویره او اندیښنه وه نو په دې خاطر یې ، خپل اولادونه ، ښځې ، خزانې او نور ټول وسایل ددې کلا څخه ویستل پیل کړي و . خو دا کار یې په ډیره پټه توګه تر سره کړ تر څو مغلو ته په دې اړه معلومات تر لاسه نه شي. هغه ددې کار د تر سره کولو له پاره دډیرو سختو لارو څخه چې د کرم ناسه او د سون ددریابونو تر منځ پرته وه کار واخست . ددې تر څنګ یې د رهتاس په راجه هرکشن باندې د حملې اودهغې کلا ولکه کول یې هم په سترګو کې و. رهتاس ډیره ستره کلا وه چې هلته د محاصره کیدو په صورت کې شیرشاه سوري په ښه توګه د مغلو دهمایون خان مقابله کولې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه رهتاس نومې کلا د بهار د ولایت د شااباد په سیمه کې پرته وه ، د رهتاس بله کلا په پنجاب کې پرته وه چې د شرق نه تر غرب به پورې نژدې څلور میله او د شمال نه تر جنوب به پورې نژدې پنځه میله پراخه پرته وه . دلته زمکه ډېره زیاته غریزه او د سترو سترو غونډیو څخه ډکه ده . دهغې په جنوب کې د سون د دریاب د غاړې مرکزي مورچل دې چې ددې لارې په اسانۍ سره کولې شی دې کلاته ور ننوځي خو دا ډېره سخته او عمودی لاره ده . په دې لاره کې دپاتخو په جوړولو سره بیا لږ څه اساني را پیدا کیږی. ددې کلا دیوالونه ډېر مستحکم او تر ډیره پورې د عبور وړ نه دی او خواشا کې غرنۍ غونډۍ او سترګړنګونه دی ، په دې اساس دهغې دیوالونه د لاندې څخه کنتل کید اې نه شي. نو په دې خاطر د توپ ګولۍ ددې کلا په دیوالونو باندې هیڅ ډول اغیز نه شیندي.

شیرشاه سوري ددې رهتاس نومې کلا د ځای ځیرې څخه په ښه توګه خبر و . هغه په دې پوهیده چې ددې کلا سوبه د سون د دریاب دغاړې څخه د حملې په صورت کې شونې ده او دهمدې لارې بریا تر لاسه کیدې شي. په دې خاطر هغه خپل ټول لښکر له ځانه سره یو ځای کړ او دشپې په تیاره کې یې د سون د دریاب دغاړې څخه د رهتاس د کلا په لور حرکت وکړ.

تر نیمې شپې پورې شیرشاه سوري دخپل لښکر سره یو ځای د سون ددریاب د غاړې څخه درهتاس د کلا دیوالو ته ور نژدې شو . د رهتاس شهزاده راجه هرکشن او دهغه عسکرو هیڅ هیله نه درلوده چې شیرشاه سوري به پرې په دې توګه یرغل راوړي، هغه په دې فکر کې و چې څرنګه چې همایون په شیرشاه سوري باندې حمله کړې ده او دهغه څخه یې دهغه د چنار کلا هم نیولې ده،او شیرشاه سوري د همایون څخه د پټیدو په خاطر د وندهیاچل په غرنیو سیمو کې پټ شوې دی، نو په دې خاطر هرکشن ته نه دهمایون له اړخه خطر موجود و او نه د شیرشاه له اړخه یې په دې اړه فکر کاوه.

شیرشاه سوري دهمداسې موقع نه ډېره ګټه پورته کړه او د شپې له اړخه د سون د دریاب د سترې مورچې له لورې یې د غرنیولړیو د پاسه د رسیو په کومک سره خپل فوځونه د رهتاس د کلا دیوالونو ته ورسول هغه دا کار په ډېره پټه توګه تر سره کړ، ان تر دې چې د رهتاس د کلا په دیوالونو او برجونو چې کوم ساتونکې ویده وو هغوې هم ددوې په راختلو باندې خبر نه شول.

د رهتاس دیوالونو ته د ورنژدې کید و په وخت کې شیرشاه سوری خپل فوځونه په ډېره پرده کې دیوالو ته نور هم ورنزدې کړل او بیا یې ددو برجونو تر منځ د رسیو پاتخې و غځولې ، بیا د شیرشاه سوري په مشرۍ د هغه ټول لښکر پرته له کومې ستونزې ، اویا خنډ څخه په دیوالونو ور ختلي و.د ښار دیوال څو فټه پراخه و او ان تر دې چې آسونو پرې ځغاسته کولې شوه . د رسیو په پاتخو باندې دخپلو فوځونو د ورختلو وروسته شیرشاه سوري خپل فوځونه په دوو برخو وویشل. دهغوې یوه برخه یې دخپله ځانه سره و ساتله ،او بله برخه یې د هیبت خان نیازی په قومنده کې ورکړه. بیا دواړو یو ځای دا پریکړه و کړه چې شیرشاه سوري به د دیوال د پاسه په ښي لورې برجونو باندې یرغل وروړي او هیبت خان به چپ لورې ته ، او ددې برجونو ټول ساتونکې به له منځه وړي. بیا به دواړه لښکرې یو ځل بیا یو ځای کیږي اوبیا به ښار ته د ورکیوتلو هڅه کوي. ددې پریکړې سره سم شیرشاه سوري ښي لورې ته او هیبت خان نیازي چپ لورې ته یرغل پیل کړ.

شیرشاه سوري او هیبت خان نیازي دواړو په ډېر راز سره د رهتاس د راجه ټول ساتونکې له منځه یوړل ، تر اوسه لا ښار ددې حالت نه خبر نه و اونه په کې کومه غوغا او هنګامه پیدا شوې وه. ددې وروسته شیرشاه سوري دخپل متحده لښکر سره یو ځای د دیوالو څخه لاندې کیوت او د سون ددریاب په لور چې په هغه ځای کې د کلا پادشاهي دروازه وه ولاړ او دهغې ځای په ساتونکو یې حمله وکړه. ددېځای د ساتونکو د له منځه وړلو وروسته شیرشاه سوري دکلا دروازه پرانسته ، او دخپلو ساتونکو په ولکه کی یې ورکړه. په همدې وخت کې دښار دننه د راجه هرکشن لښکرو ته ددې سترې حملې په اړه معلومات ور په برخه شوې و. خو اوس وخت له وخته تیر شوې و ځکه چې د دیوالو دپاسه چې دهغوې څومره لښکر و هغه شیرشاه سورې له منځه وړې و . اوس نو شیرشاه سوری د سون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددریاب په لور د دروازې د نیولو وروسته خپل استحکامات نور هم ځواکمن کړي و . خو په دې وخت کې د رهتاس راجه هرکشن هم په ډېره بیړه دخپلو لښکرو قومندانې کوله او د هغې دروازې په لور ور روان و چې شیرشاه سوري پرې ولکه کړې وه . کله چې شیرشاه سوری ته د راجه هرکشن د راتلو خبر ورسید نو هغه یوځل بیا خپل لښکر په دوو برخو وویشه ، یوه برخه یې دخپله ځانه سره و ساتله اوبله برخه یې هیبت خان نیازي ته ورحواله کړه . د هیبت خان نیازې برخه لښکر یې د دروازې چپ اړخ ته په سنګر کې کیناوه اوحکم یې ورته وکړ چې کله هغه د راجه هرکشن سره په ټکر کې شي نو هیبت خان نیازي دې دخپل لښکر سره یو ځای د راجه هرکشن په لښکر باندې د اړخ له لورې یرغل راوړي،ترڅو جنګ ډېر اوږود نه شي او راجه هرکشن ته په اسانۍ سره ماتې ورکړل شي.

ددې پریکړې په وخت کې شیرشاه سوري د مرکزی دروازې تر څنګ پاته شو خو هیبت خان نیازي یې چپ لورې کې ورښوول شوي ځای ته ولیږه . هیبت خان نیازی هملته په مورچه کې پټ کیناست. په همدې وخت کې راجه هرکشن هم دغې مرکزی دروازې ته را نژدې شوې و. پخوا له دې چې هغه د شیرشاه سوري په عسکرو باندې برید وکړی ، شیرشاه سوری پر ې په داسې حال کې چې دخپلو عسکرو حوصلې یې کلکې اوپورته وې ، پرې حمله وکړه .

دشیرشاه سوري دا حمله دومره ستره او ځواکمنه وه چې د هرکشن دلښکرو مخکینیو صفونو د هغې تاب را نه شو وړای.شیرشاه سوري دهغود لمړي لیکو حالت ډېر خراب کړ ، په همدې وخت کې د دیوال د سیوري څخه پټ ناست هیبت خا ن هم دخپل لښکر سره یو ځای را ښکاره شواود هرکشن د لښکر په یوه اړخ یې حمله راوړه . دهیبت خان نیازي حمله دومره ځواکمنه وه چې د هرکشن دلښکر موورال یې له منځه یوړ . ددې دوه اړخیزه حملو په واسطه د راجه هرکشن د لښکر حالات اوس دکنټلو نه و ، هغوې د چینجو وهلو لړګیو په څیر ګرزیدلي و. تر لږه وخته پورې د رهتاس د دروازې تر څنګ ددواړو دښمنو اړخونو تر منځ سخته جګړه وشوه، هر ې لورې ته د وینو سیلابونه روان وو ، هره ګړۍ د زړونو ټکان زیاتیده ، او د هیلو او غوښتنو د وینو سمندر د توپان په څیر بیرون راوت.

ددې سخت جنګ وروسته د رهتاس شهزاده په داسې حال کې چې په تیښته کې و ، ووژل شو ، تر څنګ یې شیرشاه سوري د هغه پاته لښکر هم له منځه یوړ. لاتر اوسه شپه همغسې په خپلو تیارو کې ډوبه وه چې شیرشاه سوري د رهتاس ټول ساتونکې له منځه یوړل او کلا یې په مکمله توګه په خپله ولکه کې واخسته.

د رهتاس د راجه هرکشن سره د جنګ د فارغیدو سمدستي وروسته شیرشاه سوري هملته ولاړ و چې یو قاصد ، په داسې حال کې چې خپل آس یې په ډېره ګړندۍ توګه را ځغلاوه ، ښار ته را ننوت ، په دې وخت کې شیرشاه سوري دخپلو عسکرو تر منځ موجود و ، هغه قاصد په خپل اس سپور د شیرشاه سورې مخې ته راغې . شیرشاه سورې اودهغه ټولو لښکریانو هغه قاصد ډیر ښه پیژاند. ځکه کله چې دشپې په تیاره کې هغه قاصد د شیرشاه سوري مخې ته را غې اودخپله اسه را کوز شو نو شیرشاه سورې هغه و پیژاند. په ډېره چټکۍ سره دهغه لورې ته ورنژدې شو او غوښتل یې دهغه څخه څه و پوښتي، خو هغه قاصد را نژدې شو اوپه ډیره خوشحالۍ سره یې وویل:

اقا !ماتاته یو ډیر ښه خبر راوړې دي. دهغه په دې خبره ترې شیرشاه و پوښتل چې ته خو د خواص خان سره یو ځای د بنګال په لور تللې وې، وایه دهغه څخه دې کوم خبر راوړي ؟دهغه په دې خبره قاصد وویل: اقا ! خواص خان یو اځې په یوه شپه کې د ګوډ کلا و نیوله او هلته د څو ورځو د تم کیدو وروسته اوس بیرته ستا لورې ته را روان دې.

اقا !تر نن سهاره پورې به هغه ستا دلښکر سره یو ځای شي. شیرشاه سوري ددې خبرې په اوریدو سره ډیر زیات خوشحاله شو .تر څنګ یې دلښکرو اوسالارانو خولې هم دخوشحالۍ نه نه راټولیدې . ددې نه وروسته شیرشاه سوري خپل لښکر ته د رهتاس د کلا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرون د خیمو د درولو حکم وکړ . هغه د هرکشن ټوله شاهي کورنۍ بندیان کړې و او دهغوې په ځاې یې د خپلې کورنۍ غړي هلته منتقل کړي و . د هرکشن د وزیر چورامن محل یې د خواص خان له پاره مختص کړې و.

د رهتاس د سوبې په اړه یو شمیر تاریخپوهان وایي چې شیرشاه سوري رهتاس ته د هغه د برهمن وزیر چورامن په لاسو یو لیک ور استولې و چې دهمایون په لاسو د چنار کلا د دلاسه ورکولو وروسته اوس دهغه سره کوم خاص ځاې نه شته . په دې خاطر څو کسو افغاني مستوراتو ته هلته په عارضي توګه ځاې ورکړه ، ویل کیږي چې رهتاس ددې سره موافقه کړې وه . په همدې اساس افغاني میرمنې په ډولیو کې ناستې هلته ور ننوتې . راجه په دې خاطر چې د افغانانو ښځې د پردې لحاظ ساتي نو د ډولیو لټون یې لازم و نه ګاڼه او هغوې یې همداسې پریښول.

خو شیرشاه سوري ددې کلا د سوبې له پاره دپخوا څخه دا پلان درلود چې څنګه چې دا په ډولیو کې سپاره سپاهیان کلا ته ور ننوځي نو سمدستي دې خپلې توري را وباسي او دډولیو څخه دې بیرون را ودانګي . هغه د ښار په دروازه باندې حمله وکړه ، او هغه یې په خپل کنترول کې راوړه ، دروازه یې پرانسته ، اود هغې وروسته یې خپل ټول فوځ کلاته ور ننویست او په دې ترتیب یې راجه هرکشن ته ماتې ورکړي ، په هر صورت ، دا چې حقیقت څه دې بیله خبره ده . شیرشاه سوري هرکشن ته ډیره بده ماتې ورکړه او د رهتاس په کلا یې خپله ولکه ټینګه کړه ، اوس شیرشاه سوری ته دهمایون په مقابل کې یو ډیر ستر او مستحکم سنګر لاسه شوې و .

بل سهار شیرشاه سوري د راجه هرکشن د کورنۍ ټول بندي غړي خپل ځان ته را وغوښتل . دشیرشاه د حکم سره سم دهرکشن د کورنۍ ټول غړي د شهزادګۍ ګنګا په ګډون دهغه د خیمې تر مخه کتار و دریدل. شیرشاه سوري د راجه د کورنۍ ټولو نارینه و او ښځینه غړو ته په ډیر غور سره وکتل ، بیا یې وویل چې ستاسې څخه دې یواځې شهزادګۍ ګنګادلته په خیمه کې پاته شي او نور ټول ازاد یاست .دوې ټول کولې شي چې د پخوا په شان په رهتاس کې په پوره امن سره ژوند وکړي . د شیرشاه سوري ددې حکم سره سم ټول خلک په پوره خوشحالۍ سره د خیمې څخه ووتل خو شهزادګۍ ګنګا او دهغې اوما دواړه هملته په خیمې کې ولاړې پاته شول.

د ټولو خلکو د تللو وروسته شیرشاه سوري د اوما په لور مخ کړ او ورته یې وویل چې ګوره لوري ! ستا تر څنګ ولاړه نجلۍ په شکل او صورت کې د راجه هرکشن شهزادګۍ ګنګا معلومیږي ، نو ته څوک یې؟ دهغه په دې خبره اوما وویل چې: زه د ګنګا داسې یم ، او ستا سالار صاحب خان ما په ښه توګه پیژني . هغه ما ته خپله خور ویلې دې. دهغې دد ې خبرې وروسته شیرشاه سوري نیغ په نیغه ګنګا ته مخ کړ او ورته یې وویل :

ګوره ګنګا لورې ! بې شکه چې ته زما تر مخه د یوې بندۍ په څیر را وړل شوې یې . خو ته ما ته دخپلې لور په څیر یې . خو ددې هر څه سره سره زه د یوې بندۍ په توګه تا خپل سالار خواص خان ته ور سپارم. ته به دهغې سره د یوې وینځې په توګه ژوند کوې ، دا به دهغه پورې اړونده وی چې هغه تا د وینځې په څیر ساتي او که ازادوي دې. دا ټول دهغې دخوښې او غوښتنې پورې اړه لري. دهغه په دې خبره ګنګا په احتجاجي توګه وویل:

زه نه پوهیږم چې تا ما څه ډول وګڼي ته ورسپارې ،هغه څوک دې ؟ او ته ولې ما هغه ته ورسپارې؟ او ولې ما هغه ته د وینځې او خدمتګارې په څیر ور سپارې ؟ اوس خو تا ماته خپله لور ویلې دې ایا د یوې لور په څیر ته ما د خپلې کورنۍ د ښځو سره یو ځاې نه شې ساتلاې؟ ترڅو زه دخپل پلار د مړینې وروسته په ډاډمنه توګه خپل ژوند ته دوام ورکړم . دهغې په دې خبره شیرشاه سوری ورته وویل: ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ما د پخوا څخه په دې اړه پریکړه کړې وه چې زه به تا خواص خان ته د وینځې په څیر ورسپارم. اوس به ستا د قسمت په اړه همغه پریکړه کوي. په ځواب کې ورته شهزادګۍ وویل چې زه خواص خان پیژنم نه ، چې څوک دې ؟نو زه به بیا ولې دهغه سره د وینځې په څیر ژوند کوم . په ځواب کې ورته شیرشاه سوري څه ویل غوښتل چې په همدې وخت کې خواص خان هم دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيمې ته را ننوت. شهزادګۍ ګنګا يوځل خواص خان ته په ډير غور سره وکتل او ما يي هم به کتلو سره خوشحاله شوه. هغه وخت چې خواص خان خيمې ته را ننوت نو شيرشاه سوري ور پورته شو او مخې ته ورغې او ښه راغلاست يي ورته وو ايه ، هغه ته يي غاړه ورکړه او د هغه تندې يي ښکل کړ. ورته يي وويل:

خواص خانه زويه ! زه تاته د بنګال د ګوډ ډښار د سوبې په اړه د زړه له کومي مبارکي وايم. خواص خان ورته وويل چې:

زما محسنه شيرشاه سوری صاحب ! زه هم تاته د رهتاس د کلا د سوبې په اړه مبارکي وايم. ددې خبرو وروسته شيرشاه سوري خواص خان له لاسه و نيوه او خپل څنګ کې يې کيناوه او ورته يې وويل:

ګوره خواص خانه زويه ! ما ستا د راتلو تر مخه د شهزداګۍ ګنګا او اوما سره ستا په اړه خبرې کولې. ما د هرکشن ټولې کورنۍ ته ښنه کړې او ازاد کړي مې دي ، خو د شهزادګۍ ګنګا په اړه مې پريکړه کړې چې هغه به تاته د وينځي په څير در سپارم. اوس دا ستا په لاسو کې ده ، ستا خوښه چې له ځانه سره يې ساتې او که ازادوې يې. بيا شيرشاه سوري د ګنګا په لور وکتل او ورته يې وويل:

شهزادګۍ ! دا خواص خان دې چې زه دې ورته د وينځي په څير ور سپارم. ددې پخواني نوم صاحب خان دې خو ما صاحب خان ته يو نوې لقب ورکړې او خواص خان مې ترې جوړ کړې دې. اوس دې يوازې زما د فوځ ستر سالار نه دې زما زوې هم دې. دا د رهتاس په جنګ کې شامل نه و ، همدا اوس اوس د بنګال څخه را ستون شوې دې او د بنګال مرکزي ښار ګوډ يي سوبه کړې دې. ددې وروسته شيرشاه سوري خواص خان ته وکتل او ورته يي وويل:

خواص خانه زويه ! ما ستا خيمه دخپلې خيمې تر څنګ درولې ده. شهزادګۍ ګنګا تاته د يوې وينځي په څير در سپارم.ته اوس ستړې ستومانه يې، خپلې خيمې ته ولاړ شه او ارام وکړه ، زه به بيا وروسته درسره تفصيلي خبرې وکړم. شهزادګۍ ګنګا اودهغې اوما هم له ځانه سره يوسه. ځکه چې ګنګا اوس ستا وينځه ده او څرنګه چې اوما د ګنګا وينځه ده نو هغه به هم هملته ورسره وي. اوس ولاړ شئ او ارام وکړئ

ددې خبرې سره سم خواص خان دخپله ځايه پورته شو او دخپلې خيمې په لور روان شو ،ګنګا دخپلې خولې څخه يو لفظ هم و نه ويست او د خپلې اوما سره يو ځاې په پټه خوله د خواص خان تر شا روانه شوه.

۲۳

د خواص خان خيمه د شيرشاه سوري د خيمې تر څنګ درول شوې وه ، د هغې پراخوالي او جوړښت بلکل دشيرشاه سوري د خيمې په څيرو ، ترڅنګ يې کوم ضروري شيان چې دشيرشاه سوري په خيمه کې ايښودل شوي و په دې خيمه کې هم موجود وو. کله چې خواص خان خپلې خيمې ته راننوت نو شهزادګۍ ګنګا او اوما دواړه د خيمې په دروازه کې تم شوې، خواص خان دخپلې خيمې تر نيمايي پورې رسيدلې و چې تر شا يې وکتل چې شهزادګۍ ګنګا او اوما دواړه همټلته په دروازه کې ولاړې دي. خواص خان دوې دواړو ته په ډيره عجيبه توګه کتل او بيا يې ورته وويل چې ګوره ګنګا دا زما خيمه ده او ته ماته شيرشاه د وينځې په څير را کړې يې. اوس نو ته د خيمې په دروازې کې ولې ولاړه يې ؟را ننوځه ، دا خيمه پر تا حق لري. شهزادګۍ ګنګا ورته همټلته په دريدو سره وويل:

ګوره خواص خانه ! اوس چې وخت او حالاتو زه ستا په لمن کې د رغورځولې يم او شيرشاه سوري هم زه تا ته د وينځې په توګه در کړې يم نو ما ته وو ايه چې زه به په دې خيمه کې په کومه توګه او څه ډول ژوند تيروم.

خواص خان تريوه وخته پورې د شهزاګۍ ګنګا ځواب ور نه کړ خو په ډير غور سره يې ورته کتل ، هغه وکتل چې ګنګا بې چاره اوس داسې ورانه ويجاړه او حيرانه ده لکه يوه مرغۍ چې د نيمې شپې په تيارو کې باران وهلې او لاره ورکه سرګردانه ناسته وي او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږی چې کومې لورې ته والوزي. دهغې د هوسۍ په څېر سترګې اوس د زمکې د خړ بدن په څېر ګرزېدلې وې. د وجود غوړوالي یې له منځه تللي او په یوې ژیړې لوید ونکې پاڼې باندې بدل شوې و.

خواص خان دا هم وکتل چې شهزادګۍ ګنګا د یوې بې وزرو مرغۍ په څېر چې جاله او د جالې ډکې یې ټول له منځه تللي وی او په نرۍ لښته باندې ځانته ناسته او ویرکوي، بدله شوې ده. داسې بریښېده چې دهغې د ژوندانه دمستیو ټول هغه وختونه د ورانو ویجاړو او غمونو، حسرتونو او دربدریو باندې بدل شوي دي. هغې به کله کله په ډېره عجیبه توګه د خواص خان لورې ته کتل، داسې څرګندېده چې هغه په پټه ژبه خواص خان ته ډېر څه ویل غواړي. خو د مناسبو الفاظو نه پیدا کېدو دهغې ژبه د دې کار نه منه کوله.

خواص خان تر ډېره وخته پورې شهزادګۍ په همدې توګه ولاړه کتله، نو شهزادګۍ ګنګا هم دخواص خان په لور وکتل او بیا یې ورته وویل: زه پوهیږم چې ته اوس زما ډېر بد دښمن یې. خو زه په دې هم پوهیږم چې یو وخت تا له ما سره د زړه له کومې مینه او محبت کاوه خو اوس ته له ما سره دهغه خوبرابره زیاته کرکه او نفرت کوې. خو بیا هم ما چې له تا څخه کومه پوښتنه کړې ده دهغې ځواب زما حق دې چې را یې کړې. دهغې په دې خبره خواص خان وویل: ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ته د اوما سره یو ځاې همدلته په خیمه کې کینه، زه ځم اوبیرته د راستنیدو وروسته به تاته ددې خبرې ځواب ووایم، او په دې به دې پوه کړم چې ته زما په خیمه کې زما د وینځې په څېر څه ډول ژوند باید تر سره کړې. ددې خبرې وروسته خواص خان دخپلې خیمې څخه ووت. دهغه د وتلو وروسته شهزاګۍ ګنګا په حرکت راغله او دخپلې اوما سره یو ځاې دخیمې منځنۍ برخې ته ولاړه او همدلته په ګدۍ باندې کیناسته.

په خیمې کې د کیناستو نه وروسته شهزادګۍ ګنګا او اما دواړو تر ډېره پورې د خواص خان انتظار وکړ. شهزادګۍ به هره ګړۍ د دروازې په لور کتل ځکه هغه د خواص خان له لورې دخپلې پوښتنې د ځواب او یا دهغه د عکس العمل منتظره وه. خواص خان خیمې ته راغې، دهغه په کتلو سره شهزادګۍ ګنګا او اوما دواړه د خپلو ځایو څخه پورته شوې. خواص خان هغوې ته رانژدې شو او په ډېره نرمه ژبه یې ورته وویل:

ګورئ شهزادګۍ او اوما ! تاسو دواړه کینئ، زما د راتلو په خاطر تاسو ته دد رېدو اړتیا نه شته. اوما، ما خو تاته د پخوا څخه خپله خور ویلې دي او اوس هم ته زماد خور په څېر یې، پرتا هیڅ بندیز نه شته، ته ازاده یې، هر چېرې چې دې زړه غواړي تللې شې. او که چیرې ته د شهزادګۍ ګنګا سره یو ځاې اوسیدل غواړې نو هم ستا خوښه ! دهغه په دې خبره اوما سمد ستی ور ټوپ کړ او ورته یې وویلې:

خواص خانه وروره ! تر ټولو لمړۍ خو زه تاته ددې مبارکې درکوم چې ته د شیرشاه سورې دلښکر ستر سالار یې، دهغه زوې یې، او تا ته یې د صاحب خان په ځاې د خواص خان لقب درکړې دې، اوستا د کړچار په مقابل کې یې ته ډېر ښه ستایلې یې. خو زه دخپل ژوند په اړه تا ته باید ووایم چې زه به د ژوند تر اخري ګړۍ پورې د شهزادګۍ ګنګا تر څنګ واوسیږم. چیرې چې هغه اوسي نو همدلته به زما ځاې هم وي.

دهغې په دې خبره خواص خان مسکې شو او ورته یې وویل:

ګوره اوما ! ما هم دستا په څېر د ځان ځارونکې او میړنۍ پیغلې څخه دهمدا سې ځواب هیله درلوده. ته کولې شې په پوره خوشحالۍ سره د شهزادګۍ ګنګا تر څنګ و اوسیږې. ددې خبرو وروسته خواص خان تر لږه دمه خاموشه پاته شو او بیا یې په ډېره نرمه ژبه شهزادګۍ ګنګا ته مخ کړ او ورته یې وویل:

ګوره ګنګا ! زه پوهیږم چې ته شهزادګۍ وې او ته اوس هم زما په سترګو کې همغسې شهزادګۍ یې. په دې کې شک نه شته چې لږه شیبه مخکې شیرشاه سورې ته ما ته د یوې وینځې په څېر را حواله کړې یې. خو زه به تاته دا ډاګیزه کړم چې څرنګه چې زه پخپله یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت غلام و م نو په دې خاطر د وینځې او غلام د په احساساتو ښه پوهیږم. ګوره شهزادګۍ ګنګا ! لمړی خبره داده چې ما ته ازاده کړې یې. اوس ته زما وینځه نه یې ، ته د پخوا په ځیر شهزادګۍ ګنګا ، او یوه ازاده پیغله یې. ته دخپلې خوښې مالکه یې ، چیرې چې غواړې ولاړه شې اویا و اوسیږې ، دا ټول هرڅه په تا پورې اړه لري. په تا باندې به هیڅ ډول بندیز نه وي.

دخواص خان دې خبرو ښایسته او ښکلې شهزادګۍ دخوبونو د خوشحالیو د ډوب سمندر په څپو کې ور وغورځوله. دخواص خان خبرو دهغې د سرو شونډو هغه سوروالې یو ځل بیا د تازه ا وبو ډک کړ او دهغې په ښایست او حسن کې یې تلپاتې والې راوست.

تر ډیره پورې یې د ستورو په رڼا کې درا نغاړلي راز په ځیر په خندانه توګه د خواص خان په لور کتل ، ځکه دخواص خانددې نیک سلوک په خاطر دهغې دښکلې ځیرې حسن کې نوره هم ځلا راټوکیدلې وه ، او داسې بریښیدله لکه د ګلابو کالي یې چې په ځان کړې وي او یا یې د لمر وړانګې ترخپل ځان را چاپیره کړې وي.

تر لږه وخته پورې شهزادګۍ ګنګا دخوشحالیو په څپو کې ډوبه روانه وه لکه د هغې په لاس کې چې د کیمیا کوم کتاب ورغلې وي. او یا دا چې دخپلې شوق د سجدې له پاره یې کومه استانه موندلې وي. لږڅه وړاندې دهغې حالت مړاوې او د یخ مړکړل شوي نغری په ځیر بې اوره او بې نوره وخو اوس د خواص خان خبرو هغه د سهار د سلام کونکو مرغانو او د وریښمو د نرمو تارونو په ځیر ښایسته او نرم ګرځولې و.

تر ډیره پورې شهزداګۍ ګنګا په همدې خوشحالیو او خوبونه کې مسته او ډوبه وه او بیا یې دهمدې خوشحالیو نه په ډک اواز خواص خان ته وویل : خواص خانه ! زما مهربانه ، زما مربي ، زما محسنه او زما پالونکیه، تا پخوا هم زما د عزت د ساتلو په خاطر پر ما احسان کړې دې ،او نن دې یو ځل بیا پر ما دویم ځل احسان وکړ او زه دې د وینځېتوب څخه خلاصه کړم او ازادي دې راکړه او بیرته دې همغسې شهزادګۍ وګرځولم. په دې خاطر زه ستا ددې احساناتو د زړه له کومې مننه او شکریه کوم. تر دې ځایه د خبرو کولو وروسته شهزادګۍ ګنګا خاموشه شوه ،نو خواص خان په خبرو پیل وکړ او ورته یې وویل :

ګوره شهزادګۍ ! بله خبره چې ما غوښتل تا ته یې وکړم هغه داده چې ته که غواړې چې ددې ځایه ولاړه شې نو درهتاس په ښار کې به ستا د اوسیدو له پاره ډیر ښه انتظام وکړل شي. په همغه ستا د پلار په محل کې به ستا د اوسیدو له پاره ډیر مناسب او اعلې ځای درکول شي خو که چیرې د رهتاس دکلا نه بیرون تلل غواړې او هیله لرې چې په بل کوم ځای کې و اوسیږې نو هلته به هم ستا دخوښې په ځای کې ستا له پاره مناسب او اعلې انتظام وکړل شي. خو که چیرې ته دخطر احساس کوې او فکر کوې چې څرنګه چې ته پخوا شهزادګۍ وې او یو شمیر خلک به ستا عزت ته زیان ورسوي نو ته دلته زما په لښکر کې تر هغې چې ستا زړه غواړي اوسیدې شې ، ستا د ځان ، عزت او ابرو دخوندي ساتنې له پاره به هر ډول امکانات برابر کړل شي. زه چې همدا اوس د خیمې څخه ووتلم او ولاړم نو هغه په همدې خاطر و چې ستا د اوسیدو له پاره ټول امکانات برابر کړم او بیا له تا سره په دې موضوع باندې خبرې وکړم

کله چې خواص خان غلې شو نو شهزادګۍ یو ځل بیا په پوره خوښۍ سره په خبرو پیل وکړ او ورته یې وویل:

ګوره خواص خانه ! زه یو ځل بیا ستا ډیره مننه کوم او ستا نه هیله او غوښتنه کوم چې ایا داسې به شونې نه وي چې زه همدلته ستا د خیمو په ښار کې و اوسیږم او ته زما دلته د تم کیدو په وخت کې زما سره یو بل کومک هم وکړې ، دهغې په دې خبره خواص خان ټکان وخوړ او تري وېې وپوښتل چې څه ډول کومک؟ شهزادګۍ ګنګا ورته وویل:

زما درونده خواص خانه ! زه یو ځل مخته هم دخپلې اوما سره ستا حضور ته راغلې وم او یوه غوښتنه مې درڅخه کړې وه او زه هغه غوښتنه یو ځل بیا تکراروم. ما تاته ویلي و چې یو چا زما د خپلولو درې واړه مقابلې ګټلي دي اوس همغه زما د ځان ، زما دجسم او زما دمینې خاوند دې او زه غواړم خپل هرڅه همغې ته ورحواله کړم ، هغه زه همداسې پریښې یم. خو ما په هرصورت دهغه د لاسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړلو عزم کړې دې. هغه زما د خپلولو په مقابلو کې پټ مخ برخه اخستې وه نو ځکه یې زه نه پیژنم چې هغه څوک دې ، دکومه ځایه راغلې او اوس چیرې دې. خود کوچیانو د قبیلي سردارد فدایي خان چې ته یې هم ډیر ښه پیژنې ، هغه اجنبي نقاب اغوستونکې ډیر ښه پیژني. زه له تا دا هیله لرم چې په اوسني وخت کې ته ماته په خپل لښکر کې یو خیمه را کړې ، زه به په همغې کې د خپلې اوما سره اوسیږم. تر څنګ یې پر ما دا احسان هم وکړه چې زما له پاره د فدایي خان لټه وکړه او څنګه یې چې درک درته معلوم شي نو را وبې ښایه ترڅو دهغه څخه دا وپوښتم چې زما دخپلولو په مقابلو کې هغه نقاب اغوستونکې برخه اخستونکې ځوان څوک و ؟ که ماته معلومه شي نو زه به په همغه وخت ستا دلښکر د خیمې څخه ووزم اودهغه ځوان په لوري به ورشم. دهغې وروسته به ستا له پاره د زحمت ، ستونزو اومشکلاتو سبب نه ګرزم. ځواب کې ورته خواص خان وویل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا: ترهغو چې دلته ستا د اوسیدو پوري اړونده ده ، نو تر هغو چې ته غواړې زما د لښکرو په خیمه کې اوسیدلې شې ، خو تر هغې چې دفدای خان د لټون پوري اړه لري نو زه له تاسره ژمنه کوم چې زه به په هر صورت هغه راپیدا کړم او تاته به یې په اړه معلومات درکړم. بیا ته دهغه څخه دخپل ځان د ګټونکې په اړه معلومات تر لاسه کولې شې، اوس ته او اوما دواړه له ماسره یو ځاې راځئ تر څو ستاسې د اوسیدو ځاې ځیرې درته په ګوته کړم. د خواص خان ددې خبرې سره سم شهزادګۍ ګنګا او اوما دواړه په ډیره خوشحالۍ سره د خواص خان ترشا روانې شوې.

خپلې خیمې سره نژدې خواص خان هغوې د یوې خیمې مخې ته ودرولې ، بیا دخیمې د دروازې ترڅنګ خواص خان ودرید او دخیمې ددننۍ برخې په لور یې اشاره وکړه او ویې ویل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا او اوما ! دا خیمه ستاسو د دواړو له پاره درول شوې ده ، په دې کې به تاسو دواړه اوسیږئ ، په دې خیمه کې ستاسې د اړتیاو هر څه ایښول شوي دي او لکه څنګه چې د شیرشاه سوري اوزما دخیمې تر مخه پیره ولاړه وي نو په همدې توګه به ستاسې دخیمې تر مخه هم پیره ولاړه وي. اوهیڅوک به هم ستاسو اوستاسو د ساتونکو د اجازې پرته ستاسو خیمې ته نه ننوځي. دا ساتونکې به ستاسو د ځانو او مالو پوره پوره خوندي ساتنه کوي خو شهزادګۍ !په دې خیمه کې د اوسیدو په وخت کې به دوه خبرې یادې ساتۍ. لمړۍ دا چې هیڅکله به هم زما خیمې ته د راتللو هڅه نه کوئ ، ځکه اوس ما ته ازاده کړې یې اوزما اوستا تر منځ هیڅ ډول اړیکې نه شته. ته اوس دخپلې خوښې خاونده یې ، چیرې دې چې زړه غواړي تللې شې. زه تا خپلې خیمې ته د راتللو څخه په دې خاطر منه کوم چې خلکوته زمونږ د اړیکو په اړه بدګماني را پیدا نه شي.ځکه زه نه غواړم په داسې بدګمانیو کې ځان را لتاړ کړم. شهزادګۍ ګنګا ! زما دویمه خبره داده چې مونږ د رهتاس کلا نیولې ده نو که چیرې دلته د اوسیدو په وخت کې ته د بدلې اخستلو هڅه وکړې ، پرما یا شیرشاه سوري باندې برید وکړې نو یاد ساته چې داسې کارکول به ستا حماقت او بې عقلي وي. که چیرې دې کله هم دداسې کولو هڅه وکړه نو خپل ځان به له لاسه ورکړې. بس همدا دوه خبرې وې چې ما غوښتل تاته یې وکړم ، اوس که ته پخپله د عقل او فکر خاونده یې نو خپله ښیګڼه به په خپله احساس کړې.

تر دې ځایه دخبرو وروسته ، خواص خان دلږ څه تم کیدو وروسته بیا وویل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ته اوس د خپلې اوما سره یو ځاې دې خیمې ته ورننوځه ،او په همدې خیمې کې و اوسیږئ ، ددې خبرې سره یو ځاې خواص د خپل جیب څخه د نغدو پیسو یوه کڅوړه را وویسته او د شهزادګۍ په لاس کې یې کیښوده او ورته یې وویل: ګنګا ! اوس به ستا لاسو کې څه نه وي ، او له تاسره به همدا کالي چې په غاړه کې دې دي نور کالي هم نه وي.دا نغدې پیسې دراخله ، په دې کڅوړه کې ما دومره پیسې اچولي دی چې ته د خپلې اوما سره یوځاې پرې خپل ژوند ښه جوړولې شې. د نغدو پیسو کڅوړې د اخستلو سره سم شهزادګۍ ګنګا لږ څه و ریږدیده اوپه ډیره عجیبه توګه یې خواص خان ته وکتل ، ځکه خواص خان هغې ته د نغدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسو دا کڅوړه په زوره په لاسو کې ایښې وه ، ددې وروسته خواص را وګرزید او دخپلې خیمې په لور روان شو . بې چاره او غمژنې شهزادګۍ هم د نغدې پیسو هغه کڅوړه له ځانه سره واخستله او د خپلې اوما سره یو ځای ټیټ سر خپلې خیمې ته ورننوتله .

۲۴

شیرشاه سوري دا فکر کاوه چې همایون خان به د چنار د کلا د نیولو څخه وروسته دهغه نورې سترې سترې کلاګانې لکه بهارکنډ ، شیرګړه اویا سهسرام باندې هم دیرغل کولو هڅې کوي ، هغه دهمدې ویرې په اساس د رهتاس دکلا د نیولو څخه وروسته د خپل لښکر یوه برخه هملته په رهتاس کې پریښوده او پاته لښکر یې د وندهیاچل غرنیزې سیمې کې پرتې د بهارکنډ د کلا په لور راولیږه. خود شیرشاه سوري د هیلو او امیدونو پرخلاف همایون د چنار کلا د سوبې څخه وروسته یو څو ورځې هلته تم شو او بیرته د بنارس په لور راستون شو .

بنارس ته د رارسیدو سره سم همایون هملته د خپل لښکر سره قیام وکړ اودهغې سیمې په شاوخوا کې یې خپلې خیمې و درولې ، او د پخواني بادشاه «اشوک » په یادګاریې غونډۍ یې یو چوتره جوړه کړه . تر دې وخته پورې شیرشاه سوري دخپل لښکر سره یو ځای هملته د بهارکنډ دکلا تر څنګ موجود و. هغه هلته په دې خاطر تم شوې و ترڅو ووینې چې دهغه په اړه د همایون اراده څه ډول ده .

بنارس ته په ور رسیدو سره همایون ته خبر ورسید چې د شیرشاه سوري ډیر ستر سالار خواص خان بنګال سوبه کړې دې . او اوس په بنګال باندې دشیرشاه سوري بیرغ رپیږي. حکمراني یې هم د شیرشاه سوري د زوی جلال خان په لاسو کې ده . ددې خبرې د اوریدو سره سم همایون ډیر په غضب شو او په دوو پښو و درید چې اوس به نو د شیرشاه سوري په بهارکنډ ، شیرګړه او رهتاس کلاګانو باندې هم یرغل وروړی او ترې نیسي به یې. اوددې کلاګانو د نیولو وروسته به د بنګال په لور ځي او هغه به هم ترې په خپله ولکه کې اخلي .

د بنارس څخه د وندهیاچل دغرنیزو سیمو اوهلته د بهارکنډ د کلا د سوبې په لور د حرکت کولو تر مخه همایون دخپلو سالارانو سره سلا او مشوره وکړه او ددې مشورې وروسته یې خپل یو باوري کس فضل خان د شیرشاه سوري په لورې د قاصد په توګه را و استاوه ، ترڅو دجنګ نوبت را و نه رسیږي او دوې په خپلو منځو کې په سولې سره پریکړه وکړي.

فضل خان د بهارکنډ د کلا سره نژدې د شیرشاه سوری دربار ته حاضر شو او دهمایون دا پیغام یې ورته و رکړ چې هغه شاهې خزانه او نور شاهې لوازمات چې شیرشاه سوری هلته په بنګال کې په خپلې ولکې کې اخستي دې هغه دې پرته له ځنډه د همایون په لور ور ولیږي ، ددې په بدل کې به همایو نه شیرشاه سوري ته دهغه د خوښې کومې کلا ، چنار اویابلې کلا ، د پریښولو ژمنه کوي.

فضل خان شیرشاه سوري ته دا وړاندیز وکړ خو شیرشاه سوری ورته په ځواب کې وویل چې هغه نه غواړی بنګال د خپلې ولکې څخه و کاږي. ځکه چې هغه د بنګال د نیولو له پاره پنځه شپږ کاله هڅې کړې دي او دهغه زیات شمیر عسکر ددې سیمې په نیولو کې له منځه تللي دي، نو اوس به هغه ولې بنګال پریږدي.

شیرشاه سوري دهمایون سفیر ته وویل چې :

که چیرې پادشاه د بنګال د نیولو اراده پریږدي نوزه به ورته په بدل کې د بهار کلا ور وسپارم ، او همایون چې په دې اړه هر چاته حکم وکړی نو د بهار کلا به همغه ته ورحواله کړم . ددې ترڅنګ به د بهار او بنګال پولې هم همغه وي چې ددې نه مخته د سلطان سنکندر د حکومت په دوران کې وې .

شیرشاه سورې وویل چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې نه علاوه به زه ټول شاهي نښې لکه چتر ، تخت او ...نور ټول شيان د همايون دربار ته ور وليږم او همدا راز د بنګال څخه هر کال لس لکه روپۍ ورکوم. خو دا ټول په دې شرط چې همايون بيرته اګرې ته ستون شي، له ما سره جنګ و نه کړي او تر څنګ يې په بنګال باندې د حملې د نه کولو ژمنه وکړي.

فضل خان د شيرشاه سوري پيغام دهمايون مخې ته راوړ او هغه ته يې په دربار کې واوراوه. همايون ددې پيغام په اوريدو سره تر يوه حده پورې خوښي ښکاره کړه اوفضل خان يې بيرته د شيرشاه سوری لورې ته و استاوه ، ترڅنګ يې شيرشاه سورې ته دخپله اړخه يو آس او خاص خلعت هم ور وليږه . دغه سفير ته يې دا لارښوونه هم وکړه چې دهغه ټول شرايط مونږ منلي دي نو په دې اساس دې شيرشاه ژر تر ژره په دې عمل وکړي. فضل خان د همايون بابر دا پيغام واخست او يو ځل بيا د وندهيا چل غرنيزې سيمې کې پرتې د بهارکنډ کلا ته ور روان شو.

د سفير د تللو نه څو ورځې وروسته د بنګال حاکم سلطان محمود د خپل لښکر سره يو ځاې په بنارس کې د همايون دربار ته ورغې. هغه ډير سخت زخمې و او د وجود په ځاې ځاې يې پټۍ تړلې وې . د همايون په دربار کې د حاضريدو سره سم هغه دا عرض وکړ چې د شيرشاه سوري اعلې سالار خواص خان د هغه څخه د بنګال د ګوډ ښار ولکه کړې دې خو پاته سيمه لا تر اوسه پورې هم دهغه په ولکه کې ده . هغه همايون ته دا هم وويل چې د شيرشاه سوري په هيڅ ژمنه باندې باور و نه کړي بلکه فوځ ته پر هغې دحملې کولو له پاره د کوچ حکم وکړئ ، او پخوا له دې چې شيرشاه سوري په ټول بنګال باندې ولکه وکړي دهغه دغه لړ پاته فوځ بايد بيرته د بنګاله را وويستل شي ، او که نه شيرشاه به دهمايون پر خلاف داسې بغاوت وکړي چې بيا به يې ماتول دهمايون له پاره شوني نه وي.

دبنګال حاکم سلطان محمود همايون ته دا ډاډ هم ورکړ چې که چيرې همايون د شيرشاه سوري پر خلاف باندې په بنګال يرغل وکړي نو پخپله سلطان محمود به هم د خپل ټول لښکر سره يو ځاې دهمايون تر څنګ وي او په دې توګه به دواړه يو ځاې شيرشاه سوری د بنګاله تيښتې ته مجبور کړو. دبنګال د حاکم سلطان محمود ددې حال په کتلو او سلاګانو سره همايون سمد ستې ، د نه څه کتلې نه ليدلې په څير ، دوه حکمه صادر کړل.

لمړی دا چې خپل لښکر ته يې د بنګال په لور د کوچ کولو حکم وکړ او دويم دا چې هغه خپل سالار خان خانان يوسف خيل او څه نورو برلاسي سردارانو ته حکم وکړ چې هغوې دې د يوه لښکر سره يو ځاې د بهارکنډ په لور وخوزيږي، هلته دې په شيرشاه سوري باندې حمله وکړي او هغه د ماتې وروسته يا ووژني او يا دې بندي له ځانه سره راوړي.

دهمايون ددې ارادو په اړه شيرشاه سوري ته هم خبر ورکړل شوې و نو په دې خاطر يې دهمايون په ژمنو باندې باور له منځه ولاړ. هغه د همايون سفيرته دخداې پامانۍ سوغاتونه او تحفې ورکړې او رخصت يې کړ او د راتلونکو خرابو حالاتود رامنځته کيدو په اړه يې په ډيره انديښنه کې انتظار پيل کړ.

همايون د بنګال دحاکم سلطان محمود د وينا په اساس په بنګال باندې په داسې وخت کې ديرغل اراده وکړه چې دخپل باوري سفير له لارې يې دشيرخان سره د پيل شوې خط وکتابت پايلې هم ځانته معلومې نه کړې. نو په دې اساس د بنګال په لور د فوځونو د کوچ کولو دحکم په وخت کې هغه ته دا ډاګيزه شوې نه وه چې شيرشاه سوري به دهغه شرايط منلې وي او که نه. خو همايون يو ځل مخالفانه قدم پورته کړې و نو که بيا يې دشيرشاه سوری د معقوليت د حدودو څخه د اوښتو شرايطو تصديق هم کړې و نوبيا هم په کې د سولې ځاې نه پاته کيده.

دهمايون دارادو په بدلون کې د شيرشاه سوري له اړخه انکار او نه منل مطرح نه و ، بلکه د سولې دپلان د شنډيدو په اړه ټول مسؤليت د همايون خان په غاړه پريوځي. دهمايون په دربار کې لا تر اوسه پورې هم دا وړانديز تر غور لاندې و چې شيرشاه سورى ته کوم کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایونه ورکړل شي، خو بیا هم د سلطان محمود په سلا هغه خپل فوځ ته د کوچ کولو حکم وکړ ، په دې اساس اوس هغه د شیرشاه سوري له اړخه پر هر وړاندیز باندې د غور د نه کولو هوډ کړې و.

ډاګیزه ده چې همایون په خپل شیرشاه سوری د جنګ له پاره را وګماره. او په خپله یې د خپلې بې عقلۍ په اساس د باعزته سولې تړولې شونتیاوې له منځه یوړې. دا په داسې حال کې چې هغه په تیرو وختو کې د شیر شاه سوری همت او وړتیاوې په ښه توګه کتلې وې، او هغه وخت چې هغه د شیرشاه سوري ځخه د چنار کلا سوبه کړه نو شیرشاه سوري ددې کلانه ډیره ستر او مستحکمه ، د رهتاس کلا سوبه کړه ،ددې نه علاوه همایون په هیڅ توګه شیرشاه سوري نه شو مجبورلاې چې هغه دې پراخه میدان ته د جنګ له پاره راودانګې او د همایون په مقابل کې دې خپل زور ازمیښت کړي. او نه د شیرشاه سوری سره داسې کوم فوځي مرکزیت موجود و چې د هغې ځاې د نیولو وروسته دهغه فوځي ځواک له منځه ولاړ شي ، دهغه د نقل وحرکت ځخه داسې ډاګیزه کیده چې هغه په ډیره سختو لارو اوغرنیزو سیمو کې شاتلو ته تیار دې چې دهند تر نیمایی برخې پورې خپرې شوې دي، دهغه دلاسه د چنار د کلا د وتلو سره سره بیا هم شیرشاه سوري ته په همایون باندې د څو اړخونو ځخه برلاسې ور په برخه و.

په اصل کې هرد علم اوپوهې خاوند ته د شیرشاه سوری په معتدل مزاجۍ او د مطیعې رویې باندې افرین ورکول په کار دي ، دهغه د خط و کتابت ځخه دا ډاګیزه کیده چې هغه دهمایون تړول شرایط منلې دي،خو یو اځې د بنګال د ولکې د پریښولو ځخه یې انکار کړې و ، هغه په دې خبره هم راضی شوې وچې د بنګال د سلطان شاهی نشان ، چتر او تخت د څو نورو مهمو شیانو سره یو ځاې همایون ته تسلیم کړي، هغه د بهار سیمه هم چې د رهتاس نوې سوبه شوې کلا هم په کې شامله وه ،همایون ته د ورتسلیمولو له پاره تیار و ، اودا تړول هغه څه و چې همایون په خپلو سوله لیک کې یاد کړي و. ددې نه اخوا د بنګال په اړه هم د هغه شرایط معقول و، هغه د همایون د باج ورکونکي په څیر ، هغه ته د لس لکو روپیو ورکړې ته هم تیار و ، لنډه دا چې هغه دهمایون د سلطنت ځخه ډیر لرې په یوه کونج کې اوسیدو ته تیارشوې وا وهلته هم د خپلوا که په څیر نه بلکه د همایون د لاس لاندې او دهغه د باج ورکونکي په څیر. ان تر دې چې هغه د همایون سره هیڅ ډول جنګ ته تیار نه و.

همایون د بنګال په لور خپل فوځونه و خوځول ،نو د شیرشاه اوهمایون ترمنځ جنګ یو بل شکل و نیوه ، تر هغو چې د همایون اراده د شیرشاه د ځواک ترځپلو پورې وه نوپه دې اراده کې هغه په حقه ښکاریده. ځکه چې د مغلو سلطنت د خوندي ساتلو له پاره دا ډول قدم اړین ګڼل کیده خو دهمایون دا مقصد هغه وخت پوره کیداې شو چې شیرشاه سوری دهغه اطاعت کړې وې ، او د زمکې لویشت لویشت ، چې همایون دخپل سلطنت برخه ګڼله هغه ته د بیرته ورکولو له پاره تیار وې.

نو که چیرې شیرشاه سوری په بنګال کې یو ا زاد اوخپلواکه حکومت جوړ کړې هم واې نو بیا به هم همایون ته دهغه پر خلاف د فوځ د وراستولواو دبنګال ځخه دهغه د ویستل به یوه بانه او عذر واې ، خو دهمایون د تړولو شرایطو د منلو سره سره دهغه پرخلاف د فوځ ورلیږل ددې خبرې دلیل دې چې همایون غوښتل په هر قیمت چې شونې وی هغه وځپوی او له منځه یې یوسي.

یا په بل ډول دا سې هم ویل کیدې شي چې هغه جنګ چې شیر شاه سوری د همایون په مقابل کې و کړ په هغې کې نه دهغې مقصد د ا زاد حکومت جوړول و او نه خپل سلطنت ته پراختیا ورکول ،بلکه هغه په پوره توګه دخپلې سلامتیا او خوندی ساتلو په خاطر باندې و جنګید اودا تړول د همایون د رویې په اساس وشول ، هغه بې صبرې چې همایون دخپل سفیر د خبرو اترو دپایلو د معلومولو تر مخه و ښوله نو دهغې ځخه ډاګیزه کیږي چې هغې خپل شرابط منل نه غوښتل بلکه هغه نه غوښتل چې دچنار یا جون پور کومه سیمه شیرشاه سوری ته پریږدي. که چیرې همایون په بنګال باندې یرغل نه واې کړې نوشیرشاه سوري به دهغه مطیع اوفرمانبرداره واې او ددې نه اخوا دا چې شیر شاه سوری نه غوښتل چې دخپل ژوند تر اخره پورې د دهلي پادشاه و اوسي. هغه یو اځې او یو اځې غوښتل د بنګال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیم واکې حکمران و اوسي او په همدې باندې قناعت وکړي ، خو کله چې هغه یوځل د همایون پر خلاف د جنګ میدان ته را کیوتو ته مجبور کړل شو نو دهغه وړتیا په خپله مخته راغلې ، او کله چې هغه په دې و پوهیده چې دهغې وړتیا د همایون بابر څخه زیاته ده نو بیا هغه دخپلې دې وړتیا څخه پوره پوره ګټه پورته کولو پریکړه وکړه.

**۲۵**

دبندهیاچل د غرنیزې سیمې د بهارکنډ په کلا کې چې کله شیرشاه سوري ته خبر ورسید چې همایون د بنګال د نیولو له پاره یو ستر لښکر اخوا وراستولې دې نو هغه سمدستي دخپلو سالارانو غونډه را وبلله ، هغه په دې غونډه کې پریکړه وکړه چې پخپله به دخواص خان سره یو ځای د سپرو د څو ډلګیو سره د بنګال دمرکزي ښار ګوډ په لور حرکت کوي ، خو نور لښکر دې همدلته د بندهیاچل په غرنیزو سیمو کې د یوڅو ورځو له پاره تم شي ، په دې وخت کې دې دوې د همایون د لښکرو د حرکاتو څارنه کوي ، خو کله چې دا خبره پخه شي چې دهمایون ټول لښکر د بنګال په لور خوزیدلي دې نو د لښکر پاته برخه دې هم د بندهیاچل څخه ووځي او د رهتاس په کلا کې ځانونه محصور کړي ، ځکه که چیرې د بنګال نه وروسته همایون د رهتاس دکلا په لور را وخوزیږي نو دوې دې ټول ددې کلا څخه دفاع وکړي.

شیرشاه سوري د خپل ځان نه وروسته هیبت خان د لښکرو سالار و ټاکه او هغه ته یې د شهزادګۍ ګنګا اودهغې د اوما د خاصې پاملرنې په اړه تاکیدوکړ . شیرشاه سوري هیبت خان نیازی ته دا حکم کړې و چې کله چې هغه دخپل فوځ سره درهتاس کلا ته ور داخلیږی نو د شهزادګۍ ګنګا څخه دې وپوښتي چې ایا هغه غواړي د شاهي محل په هغې برخه کې و اوسیږي چې یو وخت په کې د خپل پلار سره یو ځای اوسیدله او یا بل کوم ځای کې اوسیدل غوره ګڼي .

هیبت خان نیازي ته ددې ټولو لارښوونو وروسته شیرشاه سوری او خواص خان دواړه د پنځه سوه سپرو سره یوځای د وندهیاچل د غرنیزو سیمو څخه دشپې په تیاره کې ووت.

همایون ته هم دشیرشاه سوری په اړه دا خبر راغلې و چې هغه د پنځه سوه سپرو او خپل سالار خواص خان سره یو ځای د بنګال د مرکزی ښار ګوډ په لور روان شوي دي نو په دې خاطر هغه دخپل لښکر یوه برخه دشیرشاه سوري د تعقیبولو په خاطر ور ولیږله ، خو شیرشاه سوري د خپل عقل اوپوهې په اساس د همایون له اړخه ددوې پسې د ورلیږل شوي فوځ شاته ولاړ اوبیا د هغه ځایه د سهسرام غرنیو لړیو کې ور ننوت. دهمایون له اړخه د تعقیبونکې فوځیانو دا فکر وکړ چې شیرشاه سوري دهغوې نه مخته په منډو دې نو هغوې هم خپل حرکت ګړندې کړ او د سون ددریاب دغاړې یوه کلي منیز ته ورسیدل. هغوې همدلته پړاو وکړ او دشیرشاه سوري د لښکر د رارسیدو په انتظار کې کیناستل.

څو ورځې وروسته همایون پخپله هم دخپل پاته لښکر سره یو ځای د منیز سیمې ته ورغې. دلته د بنګال حاک سلطان محمود یو ځل بیا د همایون په دربار کې حاضر شو ، همایون یو ځل بیا ددغه بدنصیبه سلطان سره په ډیره ښه توګه او خوشحالۍ سره دهغه د بنګال د تخت د بیرته اخستلو وعده وکړه.

دهمایون لښکر د منیز ددې سیمې د شرقې برخو سره پوره نابلده و. ددې نه علاوه هغوې ته د شیرشاه سوري دځای ځیګې او درک په اړه هم معلومات نه و نو په دې خاطر د مخته تللو په وخت کې یې د ډیرې هوښیارتیا څخه کار واخست. همایون خپل څو کسه باوري سرداران چې په دې ډله کې معیدبیګ او جهانګیر بیګ هم شامل و د خپل لښکر د یوې ډلې سره د لمړنۍ عسکری ډلې په څیر ور ولیږل او هغوې ته یې دا تأکید وکړ چې هغوې دې د پاته لښکر څخه لس اته میله لرې اوسي او دشیرشاه سوری د لښکر څارنه دې کوي .ددې ترڅنګ همایون خپل ورور مرزا بندال ته حکم وکړ چې هغه دې دخپل لښکر سره یو ځای د منیز د سیمې څخه دګنګا ددریاب څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیر اوددې دریاب په بله غاړه دې د پټنې په لور ولاړ شي . دلښکر ددې ویش څخه د همایون اراده دا وه چې ددوې له اړخه په بنګال باندې د حملې په پایلو کې به د ګوډ څخه د شیرشاه سورې دلښکر وګړې حتما تیښته کوي ،نو په دې خاطر باید دهغوې د تیښتې ټولې لارې بندې کړل شي او ترڅنګ یې د شیرشاه سوری په دې پاته لښکر هم حمله وکړل شي او له منځه دې یوړل شي ترڅو په راتلونکې کې شیرشاه سوري ددې جوګه نه وي چې دهمایون په مقابل کې د جنګ له پاره ځان و ښندي .

دشیرشاه سوری مخبرانو به د همایون دلښکر د هر قدم خبر شیرشاه سوري ته ور رساوه ، په دې خاطر شیرشاه سوري یوځل بیا د سهسرام دغرنیو سیمو څخه راووت اودهمایون د لښکر تر شا روان شو . شیرشاه سوري غوښتل چې دهمایون دلښکر څخه دمخه بنګال ته ځان ورسوي او په دې توګه هلته خپل میشت فوځ د مشکلاتو په وخت کې یاري کړي.

دبنګال د ښار ګوډ په لور د تللو له پاره هغه داسې یوه لاره ونیوله چې د مغلو دلښکر تر څنګ تیریده خو مغل ددې لارې څخه خبر نه و. په دې لارې د تللو په اساس شیرشاه سوری یوځل بیا دهمایون دلښکر د لمړنیو ډلګیو څخه مخته ووت. اوبیا خبره دې ځای ته راغله چې دهمایون دغه لمړنیو ډلګیو ته خبر ورسید چې شیرشاه سوري همدلته چیرې نژدې دې اوددوې تر مخه روان دې. کله چې همایون دخپل لښکر سره یو ځای پټنې ته ورسید نو هغه دخپلو لمړنیو ډلګیو څخه نژدې اته میله لرې و او لا تر اوسه خپل ټاکل شوي ځای ته نه و رسیدلې چې د هغه یو خبررسونکې یوه کلي ته راغې ، هلته یې وکتل چې یو څو اسونه په ونو پورې تړلي دي ، کله یې چې ددې آسونو په اړه د کلي دخلکو څخه وپوښتل نو هغوې ورته وویل چې په دې باغ کې شیرشاه سوری اودهغه سالار خواص خان دخپل لښکر سره یو ځای پړاو کړي و .

کله چې د همایون د لښکرو دغو لمړنیو ډلو دشیرشاه سوری په اړه دا خبر واورید نوهغوې حیران دریان شول او په دې اړه ورسره اندیښنې را پیدا شوې خو هغوې ددې پوښتنه هم ونه کړه چې اوس به دشیرشاه سوری اودهغه د سالار خواص خان سره څومره لښکر شتون ولري. هغوې وویریدل اودویرې په خاطر بیرته راستانه شول اوپه دې اړه یې خپل سالار معید بیګ ته اطلاع ورکړه.

معید بیګ فکر وکړ چې شیرشاه سوری د جنګ کولو په خاطر دلته پړاو کړې دې نو په دې خاطر یې خپل یو کس دهمایون په لور ور ولیږه تر څو دهغه څخه هدایت واخلي خو پخپله چې په کوم ځای کې وه هملته تم شو . هغه د شیرشاه د درک د معلومولو له پاره خپل جاسوسان ور ولیږل. خو تر دې وخته پورې شیرشاه سوری هغه ځای پرې ایښې و او دمونګیر په لور روان شوې و .

شیرشاه سوری د خپل پلان په مطابق د همایون د لښکر د لمړنیو ډلګیو تر مخه د بنګال د ګوډ ښار ته ور ورسید. هلته د ور رسیدو سره سم هغه خپل زوې جلال خان دخپلو کوچنیو سالارنو حاجې خان پټنې او نورو سردارانو سره یو ځای دخپل ټول هغه لښکر سره یو ځای چې هلته په بنګال کې مقیم و د تیلیاګړهي د درې د خوندي ساتنې په لور ور ولیږه . هغه خپل زوې جلال خان او ورسره نورو سردارانو ته حکم وکړ چې درې ته ورغلې ټولې لارې دې بندې کړي او خپل توپونه په دومره پورته ځایو باندې نصب کړئ چې دهمایون په لښکر کې ویره او ترهه را پیدا کړي ، ددې ترڅنګ هغه ددې خبرې تأکید هم وکړ چې په هیڅ قمیت نه د درې نه شاته ولاړشئ او نه همایون ته د جنګ کولو فرصت ورکړئ.

همایون هم په ډیره ګړندی توګه د خپل لښکر سره یو ځای سفر کاوه ، او دګنګا جنوبي برخې ته دتیلیاګړهي څخه دیرش میله لرې ورسید. بیا هغه دجهانګیر قلي بیګ په مشرۍ یو لښکر و لیږه اوهغوې ته یې لارښوونه وکړه چې د تیلیاګړهي په درې باندې ولکه وکړي ترڅو دهمایون فوځ ددې درې څخه خوندي تیر شي او د بنګال د مرکزي ښار ګوډ لورې ته ځان ورسوي.

خو کله چې دمغلو لښکر وکتل چې ددوې نه مخته په دې ځای دشیرشاه سوری زوې جلال الدین د خپل لښکر په مټو ولکه کړې ده ، او په ټولو لوړو او پورته ځایو باندې یې توپونه نصب کړي دي ، نو دهمایون دې لښکر په ډیره ناخوالۍ سر دشیرشاه په دې لښکر یرغل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروست خو په دې جنګ کې د شیرشاه سوری زوې جلال خان د همایون دې لښکرو ته ډیره بده ماتې ورکړه او په دې ترتیب د همایون دا لښکر د تیلیاګړهي څخه بیرته په تیښته و تښتید.

دهمایون دې ماتې خوړلي لښکر د دري څخه لږ څه شاته په تیښتې سره هملته خپلې خیمې و درولې او هملته یې پړاو وکړ ، د بله اړخه جلال خان هم اراده وکړه تر څو دهمایون په دې لښکر باندې یرغل وکړي، خو نورو سالارانو هغه په دې خاطر ددې کار نه منعه کاوه چې هغه د شیرشاه سوري له اړخه ددې درې د خوندي ساتنې له پاره ټاکل شوې دې نه د جنګ او یرغل له پاره. خو جلال خان دهغوې خبره و نه منله ، هغه زرکسه سواره ددرې د ساتنې له پاره پریښوول او نور پاته لښکر یې له ځانه سره واخست او دهمایون په دغه لښکر باندې یې یرغل ور ووست. ددرې نه بیرون ددواړو لښکرو تر منځ سخت جنګ و نښت خو په دې جنګ کې جلال خان دهمایون لښکر ته ډیره بده ماتې ورکړه. کله چې همایون ته دخپل لښکر د ماتې په اړه معلومات ورسید ، نو هغه ددې لښکر د ملاتړ له پاره څه نور تازه عسکر راولیږل چې بله ورځ سهار وختي هغه ځاې ته را ورسیدل چې جلال خان په کې جنګ پیل کړې و .دغه نوې راغلي لښکر دخپل لښکر اسونه وتړل ، خپل زرې کالی یې راپرانستل ، داسونو څخه یې زینونه هم را ښکته کړل ځکه هغوې د سفر په خاطر پوره ستومانه شوي و ، نو په پوره بې خبرۍ سره په خواره خوب ویده شول. خو ددې برعکس جلال خان ماسپښین یو ځل بیا ددرې څخه راووت او دهمایون په دغه نوي راغلي لښکر باندې یې یرغل راوست ، دهمایون څو کسه عسکرو چې دخپلو اسونو سره نژدې و خپل ځانونه د جنګ له پاره تیار کړل خو ډیرو یې ددې ناڅاپې جنګ دویرې په تیښته لاس پورې کړ ، جلال خان په دې جنګ کې هم د همایون لښکر ته ډیره سخته ماتې ورکړه او ددې لښکر ټولې خیمې ، آسونه ، جنګي وسایل ،خوراکې مواد ، فیلان او هر څه چې ترې پاته شوې وو هغه یې له ځانه سره راوړل. په دې جنګ کې جلال خان د یو څو تښتیدلو عسکرو نه پرته پاته نور ټول د تیغه تیر کړل.

که څه هم جلال خان ته دهمایون په لښکر باندې سوبه د خپل پلار شیرشاه سوري د حکم دخلاف ورزې په خاطر تر لاسه شوې وه ،خو په اخلاقي توګه یې ډیر زیات اغیز شیندلې و . دشیرشاه سوري دلښکرو دغه لمړني بریالیتوب دهغوې همت او میړانې کې نور هم زیادښت راوست. اوس نو دهغوې په سترګو کې نه یواځې دا چې د همایون د فوځ غلبه له منځه تللې وه بلکه دهمایون ویره یې هم دزړونو څخه وتلې وه .

**۲۲**

هغه ورځ چې شیرشاه سوري او خواص خان د وندهیاچل دغرنیو سیمو څخه د بنګال د مرکزي ښار ګوډ په لور حرکت وکړ ، دهمدې ورځې په سهار شهزادګۍ ګنګا او د هغې اوما دواړو د سهار چاې خوړ چې دخیمې بیرون د ساتونکو ډلې څخه یو ساتونکې د خیمې ددروازې لورې ته راغې ، شهزادګۍ ګنګا په ډیر غور سره د هغه په لور وکتل او ورته یې وویل چې ایا زمونږ سره څه کار لرې ؟دهغې ددې پوښتنې په مقابل کې ساتونکې وویل چې یو کس غواړې د شهزادګۍ ګنګا سره ووینې ، هغه وایي چې نوم یې فدایی خان دې. د فدایی خان د نوم د اوریدو سره سم شهزادګۍ دخپله ځایه راپورته شوه او دهغه ساتونکې په لور یې وکتل او ورته یې وویل: فدایی خان هلته مه تم کوئ سمدستي یې دلته زما خیمې ته را ولیږئ. ددې خبرې سره سم هغه ساتونکې ولاړ او د لږ ځنډ وروسته د کوچیانو د قبیلې مشر فدایی خان د خیمې په دروازې کې راښکاره شو ، هغه خپل سر د درنښت له پاره ښکته کړ او ویې ویل چې: شهزادګۍ ماته اجازه شته چې خیمې ته در ننوځم. شهزداګۍ ګنګا او دهغې اوما دواړو چې کله د فدایی خان غږ واورید نو دواړه را پورته شوې او ودریدې. شهزادګۍ په خندا سره دفدایی خان په لور وکتل او ورته یې وویل: زما درونده فدایی خانه ! ته هلته په دروازې کې ولې ولاړ یې ! دلته راشه او زما تر مخ کینه. زه غواړم له تا څخه ډیر څه وپوښتم ، دهغې په دې خبره فدایی خان ور مخته شو ، شهزادګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنګا او اوما دواړه بیرته په خپلو ځایو کې کیناستې ، فدایی خان هم دهغوې تر مخه کیناست. بیا نو فدایی خان په خپله د خبرو پیل وکړ.

شهزداګۍ ګنګا ! دخواص خان دعسکرو یوه ډله ماته راغلې وه اوماته یې دا پیغام راوړې و چې شهزداګۍ ګنګا د خواص خان په لښکرو کې ده او غواړي په کومه ډیره مهمه موضوع له ما سره خبرې وکړي .په دې خاطر زه دلته حاضر شوې یم . دهغه ددې خبرو وروسته شهزداګۍ ګنګا ورڅخه و پوښتل چې:

فدایی خانه !ته پوهیږې چې زما دتر لاسه کولو له پاره درې مقابلې شوې دي. دهغې په دې خبره فدایی خان وویل چې: هو ! شهزادګۍ ماته معلومه ده چې ستا د ترلاسه کولو له پاره درې مقابلې شوي دي. شهزادګۍ ترې بیا وپوښتل چې ته پوهیږې چې زما د ترلاسه کولو په دې مقابلو کې یو نقاب پوښه انسان هم ګډون کاوه ، فدایې خان په ډیر غور سره د شهزادګۍ په لور وکتل او ورته یې وویل: هو ! شهزادګۍ ، ماته پوره پوره معلومه ده او شونې ته چې ته به له ما داپوښتنه هم کوې چې هغه نقاب پوښه انسان څوک و چې ستا د ترلاسه کولو درې واړه مقابلې یې په ډیره ښه توګه وګټلې ؟ اوددریمې مقابلې د ګټلو وروسته چې ترې تا د نوم ، ادرس او د اوسیدو د ځای په اړه پوښتنه وکړه نو هغه ددې خبرې په ویلو سره له تا نه رخصت شو چې « زه دې نه خوښوم » ایا همدا خبره ده ؟دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا اودهغې اوما دواړه ډیرې غمژنې شانته شوې او ویې ویل چې هو ، همدا سې ده. فدایی خانه خبره همدا سې ده او ته به په دې هم خبر یې چې ته زما دتر لاسه کولو د مقابلو په دویمه ورځ هلته پنډال ته راغلې اودهغه نقاب پوښ سره دې پټې خبر ې وکړې. فدایی خان ورته وویل چې هو ! بلکل مې ورسره خبرې کړې دي ، نو اوس تاسو له ماڅخه څه غواړئ ؟دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا ورته وویل:

فدایی خانه ! زه نه پوهیږم چې هغه نقاب اغوستونکې څوک و چې درې ځلې یې زما دترلاسه کولو مقابلې(سویمبر) وګاټه. ما دهغه دنوم د پیدا کولو او د هغه ددرک د لګولو له پاره ډیرې هڅې وکړې خو هغه ماته هیڅ ونه ویل اونه یې راته کوم معلومات راکړ ، خو ددریمې مقابلې دګټلو وروسته یې د تللو په وخت کې همدومره راته وویل « چې زه دهغې نه خوښیږم » . نو فدایی خانه !څرنګه چې ته زما د تر لاسه کولو د مقابلې دغه نقاب پوشه ګډون کونکې پیژنې نوپه دې خاطر ما غوښتل ستا څخه معلومات تر لاسه کړم چې هغه څوک دې ؟دهغې په دې خبره سمدستې فدایی خان ځواب ورکړ چې شهزادګۍ ! ستا دتر لاسه کولو ددرې واړو مقابلو ګټونکې همدا صاحب خان دې .چې اوس د خواص خان په نامه یادیږي. صاحب خان چې یو وخت زما غلام و او زما د کوچیانۍ قبیلې غړې و ، هغه خواص خان چې یو وخت یې ګیدړې وژلې او دهغوې څخه به یې څرمنې ویستلې او خپله ګیده به یې پرې پاللــــه ، شهزادګۍ دا هغه خواص خان دې چې یو وخت یې له تاسره ډیره زیاته مینه کوله. خو تا دهغې مینه مسترد کړه اوهغه دې بلې لورې ته ورټیل واهه. هغه دې په خوله په څپیړه وواهه اودیو انسان په څیر دې هغه ددې وړ و نه ګاڼه چې هغه هم تا ته د رانژدیکیدو وړتیا لري.

شهزادګۍ ګنګا ! ته خو دا خبره منې چې خواص خان ستا د تر لاسه کولو له پاره درې واړه مقابلې په پوره میړانه و ګټلې ، ستر ستر ښښه ویشتونکې او ماهرین یې په ډګر کې په ډیره اسانۍ سره مات کړل، ستا د ترلاسه کولو د مقابلو له پاره برخه اخستونکو د راې سین شهزاده ، د میواړ شهزاده او دکالنجر شهزاده ، درې واړو خواص خان په خپل مخکې یو خنډ ګاڼه ، نوپه دې خاطر د خواص خان په لاسو د ماتې وروسته کله چې خواص خان بیرته خپل ځای ته ستنیده ،نو هغوې درې واړو دهغه مخه ونیوله اوغوښتل یې خواص خان له منځه یوسي. خو خواص خان په ځانته ځان دهغوې درې واړه مقابله وکړه او درې واړه یې د مرګ کندې ته ورکیوستل. دهغه په دې خبره شهزادګۍ وویل چې: فدایی خانه ! زه ددې ټول حال څخه خبره شوې یم ځکه چې ما د خواص خان تر شا څوکسه ساتونکې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

استولي و ترڅو هغوې ماته خبر راکړي چې دا څوک دې او دکومه ځایه راغلې دې. خو په ناهیلۍ سره باید ووایم چې زما د سویمبر ددرې وا ړو مقابلو ددغه نقاب پوشه انسان په اړه هغوې هم ماته سهي معلومات را نه کړای شول.

فدایی خان په پریکنده توګه وویل: ګوره شهزادګۍ ګنګا ! اوس چې ته په ډیره ښه توګه په دې پوه شوې یې چې ستا سویمبر کوم شهزاده نه دې ګټلې بلکه خواص خان په څېر یو معمولي وګړي تر لاسه کړی دې ، نو زه اوس نه پوهیږم چې ستا آند او ستا احساسات به په دې اړه څه ډول وي خو شهزادګۍ زه تاته همدومره ویل غواړم چې د خواص خان په څېر یو میړني ، بهادر ، مخلص او ځان ځارونکې ځوان کله کله پیدا کیږي. شهزادګۍ ! ایا ته له ماڅخه نور څه معلومات هم غواړې و پوښتې او که څنګه ؟ شهزادګۍ ورته په ډیره غمژنه او اندیښمنه توګه وویل: نه ! هغه څه چې ما غوښتل په اړه یې معلومات تر لاسه کړم هغه مې تر لاسه کړل. دهغې دد ې خبرې سره سم فدایی خان را پورته شو او ویې ویل چې زه به ولاړ شم ، ددې خبرې سره سم را پورته شو اودخیمې څخه را بیرون شو.

د فدایی خان د تللو وروسته په خیمه کې یو ډول چپه چپتیا خپره شوه ،خو وروسته بیا اوما دا چپتیا ماته کړه او شهزادګۍ ګنګا ته یې وویل: ګوره شهزادګۍ ! اوس چې تا ته معلومه شوه چې ستا د سویمبر درې واړه برخې خواص خان ګټلې دي ، دا همغه خواص خان دې چې ستا بدې راځې او کرکه ترې لرې. خودا همغه خواص خان هم دې چې ته یې یو وخت د زړه له کومې د ځان له پاره غوښتلې خو اوس دزړه له کومې له تا څخه کرکه لري اوس ووایه چې ددې هر څه د ډاګیزه کید و وروسته ستا احساسات څه ډول دي ؟ ایا اوس هم ته خواص خان یو ذلیل او حقیر انسان ګڼې؟ ایا ته اوس هم په خپلې هغې خبرې باندې ولاړه یې چې ته یوه شهزادګۍ یې او هغه د ګیدړو ښکارکونکې یو معمولي انسان دې چې له تا سره د محبت او مینې کولو هیڅ ډول حق او وړتیا نه لري.

تر دې ځایه دخبرو کولو وروسته اوما د لږ څه وخت له پاره تم شوه ، خو د لږ ځنډ وروسته یې بیا دخبرو لړۍ واخسته او ویې ویل: ګوره شهزادګۍ ګنګا ! زه غواړم په دې وپوهیږم چې اوس ته دخواص خان په اړه څه فکر لرې !ته ترې اوس هم نفرت او کرکه کوې ،اوس هم ته هغه ددې وړ نه ګڼې چې هغه له تا سره محبت وکړي ، ستا سره دخپلې مینې څرګندونه وکړي ، شهزادګۍ ورته په ځواب کې وویل:

ګوره اوما ! اوس حالات بدل شوي دي ،اوس خواص خان یو معمولي انسان نه دې. په دې کې هیڅ شک نه شته چې یو وخت هغه ګیدړې ښکارولې او خپل ژوند یې ددې لارې تمویلاوه ، په دې کې هم هیڅ شک نه شته چې ما دهغه څخه نفرت او کرکه کوله.هغه مې بې عزته کړې و او هغه مې په خوله په څپېړه وهلې و. خو اوس دا ټول هر څه بدل شوي دي ، اوس خواص خان ګیدړې نه ښکاروي بلکه هغه د شیرشاه سوري دلښکر ستر سالار دې بلکه دا سې یې وګڼه چې هغه ته اوس شیرشاه سوری خپل زوی ویلې دې. اوس نو هغه په هیڅ ډول یو معمولي او کمتر انسان نشي تصور کیدې.

دهغې ددې خبرو وروسته اوما یو ځل بیا په خبرو پیل وکړ او ویې ویل:

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ما له تاڅخه دا نه دې پوښتلې چې هغه کمتر انسان دې او که برتر. ته به خبره شوې یې چې ستا د سویمبر درې واړه برخې خواص خان ګټلې دي ، او له دې هم خبره شوې یې چې خواص خان ستا د سویمبر په ګټلو کې ډیرو سترو سترو نښه ویشتونکو ، ځواکمنو پهلوانانو ته ماتې ورکړه ، نو اوس د همدې خواص خان په اړه ستا آند ، احساسات ، او جذبات څه ډول دي ؟

دهغې ددې پوښتنو په مقابل کې شهزادګۍ تر لږه ځنډه پورې چپه خوله وه خو وروسته یې بیا په خبرو پیل وکړ او ویې ویل:

ګوره اوما !تر ټولو لمړۍ خبره داده چې ته اوس زما وینځه نه یې بلکه زما خور یې. اوخواص خان هم تاته خپله خور ویلې دې. په همدې خاطر زه هم تاته خپله خور وایم ، خو تر هغې چې ستا د پوښتنې پورې اړه لري ، دا چې زما احساسات اوجذبات څه ډول دي؟ نو زه به همدومره درته ووایم چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کې هيڅ شک نه شته چې زما د سويمبر د ګټلو نه مخته خواص خان چې هغه وخت صاحب خان و ما نا غوره انسان ګاڼه. هغه وخت چې هغه د شيرشاه سوري د وسله والو ځوانانو څخه زما عزت خوندي وساته ، نو په هغه وخت کې که څه هم هغه پر ما ډير زيات احسان کړې و اوزه دهغې ددې احسان ممنونه او شکر کونکې وم خو کله يې چې زه ځانته ځاې ته يوړم او له ما سره يې دخپلې مينې څرګندونه وکړه نو زه ډيره و قهريدم او دهغه سره مې ډير ناروا سلوک وکړ، هغه وخت ما په رينښتيا سره دهغه څخه کرکه کوله ،ځکه چې هغه وخت هغه هيڅ حيثيت نه درلود ، هغه ګيدړې ښکارولې اوخپل ژوند يې پرې تيراوه او هغه وخت ما هغه ډير کمتر انسان ګاڼه. هغه وخت د يوې شهزادګۍ په توګه زما تصور او خيالات تر ډيره حده پورې بې لارې شوې و.

خو ګوره اوما خورجانې ! اوس نو معامله بدله ده .اوس د صاحب خان څخه خواص خان جوړ شوې دې او دشيرشاه سور ي د لښکرو اعلې سالار اوقومندان دې ، يواځې دانه بلکه شيرشاه سوری هغه د خپل زوې په څير منلې دې . اوددې ټولو څخه اخوا هغه زما د ترلاسه کولو درې واړه مقابلې هم د يوه نقاب پوشه انسان په بڼه کې په پوره ميړانه ګټلې دی. زه پخپله دهمدې نقاب پوشه انسان د پيدا کولو په لټون کې وم. که څه هم هغه زه ځوځلې دخپلې مخې څخه ايسته و غورزولم خو دهغه دبرياليتوب په اساس ما په غايبانه توګه هغه دخپل ځان له پاره خوښ کړې دې ، دهغه په مينه کې را نښتې يم ، خو ګوره ددې معلوماتو وروسته هم چې زه په دې پوه شوم چې زما د سويمبر ددرې واړو مقابلو ګټونکې خواص خان دې ، بيا هم زما په مينه او محبت کې کوم کمښت نه دې راغلې ، ګوره او ما خورې ! اوس نو زما د مينې او محبت مرکز پخپله همدا خواص خان ګرزيدلې دې.

اوما خورې ! زه به تا ته په ډاګيزه توګه ووايم چې خواص خان زما د سويمبر د درې واړه مقابلو په ګټلو سره زما د کبر او لويې ټول بتان مات کړې دي، اوس همغه ګيدړې ښکارونکې صاحب خان د انساني عظمتونود امين په څير د عزت خاوند دې.

اوما خورجانې ! اوس نو خواص خان زما دپيغلتوب خوشبوې ، زما د وجود سيورې ،اوزما ادراک او وجدان ګرزيدلې دی ، هغه زما دعمر روان سمندر دې ، اوس هغه زما د بندو شونډو نطق ، زما دمحبت څخه ډک راز ، اوزما د ځان د رګونو وينه ده . اوس به نو ماته دهغه پرته ژوند کول داسې وي لکه د ګلابو څخه محروم فصل ، لکه دکتاب څخه بې برخې فکر او فن ، لکه د سهراب څخه بې برخې صحرا ،لکه د خوب څخه بې برخې سترګې ،لکه د ځواب پرته کوم ليک ، لکه دحجاب څخه دبې برخې کومې پيغلې حيا . اوس نو زما د آندونو پيمانې بدلې شوي دي ، زما د احساساتو د لمس لذتونه اوخوندونه بدل شوي دي. ما د درواغژنې خپل غرضۍ ګنډې را سپړودې دي ،اوس زه په دې پوهيږم چې خواص خان زما د جذبو دبې وسيو او د غمونو دلرې کولو يواځنې مسيحا دې او زما په تيارو کې د يوه روښانه چراغ په څير دې .

تردې ځايه د خبرو کولو وروسته شهزادګۍ ګنګا خاموشه شوه . اوما ورته په ډيره خوشحالونکې توګه کتل ،اوما دا وانګيرله چې ددې ټولو خبرو کولو وروسته شهزادګۍ خپل رنګونه لکه د تيتليو ، دخاصو او نه پيداکيدونکو ليکنو ، دخوشحاليو په نوې خپرې شوې لمن کې سره را ګنډل. په دې وخت کې اوما دخبرو لړۍ بلې لورې ته يوړه اوشهزادګۍ ګنګا ته يې وويل:

ګوره ! زما درنې ګنګا خورجانې ! زه په دې خبره ډيره زياته خوشحاله شوې يم چې ته اوس زما د ورور خواص خان څخه کرکه نه کوې بلکه برعکس دهغه محبت ستا په زړه کې ناست دې ، او په دې دې هم اقرار کړې دې چې دهغې محبت او مينه ستا د جذباتو په سمندر کې داسې ور ننوتې چې دهغه په واسطه ستا د خپل غرضۍ او کبر بت ورمات شوې دې. خو ګوره خورې ! يو وخت حال داسې و چې صاحب خان يعنې اوسنې خواص خان له تاسره د ليونتوب تر پولو مينه کوله ،خو تا دهغه په مخ څپيړه ورکړه اودهغه څخه دې خپله کرکه ډاګيزه کړه ، اوس ماته داسې برېښې چې دهغه دغه انتهايې محبت په انتهايې نفرت اوکرکې بدل شوې دې ، اوس نو چې ته دهغه مخې ته ورځې اودهغه تر مخ د خپلې مينې څرګندونه کوې نو زه ويريږم او انديښمنده يم چې هغه به ستا دمينې ځواب درنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوما ددې خبرو او انديښنو په اساس شهزادګۍ ګنګا د لږ څه وخته پورې ددود کونکی اور په ځير، د انديښنو په تور سيورې او د يو اځيتوب په دښتو کې ، د بيګانه کوهيانو په څير ورانه ويجاړه شوې وه. خو هغه په خپل ځان باندې کنترول وموند ، ځادر يې په سر کړ او د خپلې ځيرې څخه يې د انديښنو دغه تور سيورې لرې او په ځای يې خندا او خوشحالي را وړه او بيا يې وويل:

اوما ! زه پوهيږم چې اوس به زه د خواص خان له اړخه د همغه ډول سلوک سره مخ کيږم ،خو زه به خپله حوصله له لاسه نه ورکوم.اوس خو به زه په هر صورت خواص دخپل ځان له پاره ترلاسه کوم. ځکه چې هغه زما دمحبت او مينې مرکز دی ، زه به دهغه سره د نژدې او سيدو هڅه وکړم او دهغه خدمت کې به ځان مصروف کړم او دهغه په زړه کې به دخپل محبت او مينې ولولې بيرته ځپانده کړم ، دهغه په زړه کې به دخپل محبت ګلونه کيږدم ، زه هيلمنه يم چې په دې خپل مقصد کې به بريالۍ شم.

تر دې ځايه د خبرو کولو وروسته ،شهزادګۍ ګنګا د خپله ځايه راپورته شوه او د اوما په لور د کتلو سره يې وويل:

ګوره اوما جانې ! ته همدلته اوسه ، زه يواځې د خواص خان خيمې ته ورځم او دهغه د پخلا کولو هڅه کوم.زه به د خواص خان په پښو کې پريوځم او دهغه څخه به ښښنه وغواړم او دهغه تر مخه به لاسونه ورغځوم ، په هره توګه چې زه وتوانيږم دهغه دراضي کولو هڅه به وکړم. په دې خاطر ته همدلته اوسيږه ، له ماسره مه ځه ، ځکه ستا په خاطر به زه د شرم او حجاب په اساس دهغه څخه په سهي توګه ښښنه و نه شم غوښتلې. او نه به ترې په سهي توګه التجا وکړای شم. دشهزادګۍ د دې خبرو په کولو سره اوما دخندا نه شنه شوه. او ورته يې وويل چې ته بلکل سهي خبره کوې ،ورځه ورشه ، وخت له لاسه مه ورکوه ، ځکه هيڅ ځرګنده نه ده چې ددې وروسته به حالات کوم لورې ته اوړي. زه له تاسره په دې آند کې شريکه يم چې ته سمدستې او په همدې وخت کې د خواص خان نژدېوالې تر لاسه کړې. کله چې شهزادګۍ ګنګا ددروازې په لور ور روانه شوه نو ددروازې تر څنګ دخيمې ساتونکې را ځرګند شو ورته يې وويل چې شهزادګۍ ګنګا !د لښکرو سالار هيبت خان غواړي له تاسره ووينې.

ددې ساتونکې دخبرو سره سم شهزادګۍ د خپلې اوما په لور په حيرانتيا سره وکتل او ورڅخه يې وپوښتل چې اوما خورې ! ددې هيبت خان به له ماسره څه کاروي؟دا ولې غواړي چې له ماسره ووينې؟ نه هغه ما پيژني او نه زه دهغې په اړه څه معلومات لرم. نو بيا ولې له ماسره کتل غواړي ؟ په همدې وخت کې د خيمې څخه بيرون يو اواز راغې. « شهزاګۍ ګنګا ! زما خورې ! زه هيبت خان ستا دخيمې نه بيرون ددروازې تر څنګ د پردې ترشا ولاړ يم. او غواړم له تاسره خبرې وکړم. کله چې هيبت خان شهزداګۍ ګنګا ته دخور په نوم غږ کړ نو دهغه په دې خبره شهزاګۍ ډيره خوشحاله شوه ،رامخته شوه او دخيمې دپردې ترشا ودريده ،او ما يې هم تر څنګ په لږ څه واټن کې ودريده. بيا شهزداګۍ ګنګا وويلې: هيبت خانه وروره ته څه ويل غواړې ؟هيبت خان ورته وويل:

زما ګنګا خورې !لږ څه وروسته به زمونږ لښکر له دې ځايه کوچ کوي ،مونږ به درهتاس د ښار په لور ورځو. ما غوښتل له تانه و پوښتم چې رهتاس ته درسيدو وروسته به ته همدلته په خپل قصر کې قيام کوې او که بل کوم چيرې د قيام کولو نيت لرې. دهيبت خان ددې خبرو څخه ګنګا ته يوډول انديښنه راپيدا شوه ، هغې په حيرانونکې توګه اوما ته يو ځل بيا وکتل بيا يې ددروازې تر څنګ د دريدو سره سم وپوښتل:

هيبت خانه وروره ! ايا ته ماته ويلې شې چې په خپله خواص خان چيرې دی او ايا زه دهغه سره کتلای شم. دهغې په دې خبره هيبت خان ورته وويلې چې: شهزادګۍ ګنګا ،زما خورجانې ! شيرشاه سوري او خواص خان دواړه دخپلو لښکرو سره يو ځای دشپې په تياره کې د بنګال دمرکزي ښار ګوډ په لور تللي دي ، ايا دتللو په وخت کې امير خواص خان له تاسره نه و کتلي ؟دهغه په دې خبره شهزادګۍ ګنګا په ډيره بې وسۍ سره وويلې چې نه ! هيبت خان يوډول وضاحت وکړ او ورته يې وويل چې خورجانې ، کيدای شي هغوی په بيړه کې و چې له تاسره يې نه دي کتلي. او که چيرې له تاسره يې کتلي وای نو کيدای شي چې تا هم دهغه سره يو ځای د تللو اراده کړې وای او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې توګه هغه په يوه ستونزه کې را نښتې واې. ګنګا خورجانې ! زه پوهېږم چې امير خواص خان له تاسره د هغه وخته مينه کوي چې هغه زمونږ فوځ کې نه وراشامل شوې.

ګوره ګنګا خورې !ددې ځايه د بنګال د مرکزي ښار ګوړ په لور د کوچ کولو نه مخته شيرشاه سوري ماته ستا په اړوند څه حکمونه کړي دي. اوس چې دلته کوم لښکر پړاو کړې دې ددې لښکر عمومي قومندان زه په خپله يم. اقا شيرشاه سوري د بنګال په لور د کوچ کولو نه مخته ماته حکم کړې چې زه ستا او د اوما دواړو ډير ښه خدمت وکړم. ماته اقا د څو ورځو له پاره دلته د تم کيد و حکم کړې د ې ، بيا يې ويلي دي چې زه د رهتاس په لور ولاړ شم. اوس نو زه غواړم د خپل لښکر سره يو ځاې همدا ګړۍ کوچ وکړم نو په دې خاطر ما غوښتل له تاسې نه وپوښتم چې ته به هلته چيرې اوسيدل غواړې ، ځکه چې اقاشيرشاه سوري دتللو په وخت کې ماته ويلي و چې که چيرې شهزادګۍ ګنګا په خپل پخواني قصر کې قيام کوي نو د محل په کومه برخه کې چې هغه قيام کول غواړې همغه برخه ورته خالي کړئ او که چيرې هغه په بل کوم ځاې کې اوسيدل غواړي نو هملته ورته د اوسيدو له پاره ډير ښه انتظام وکړئ.

د هيبت خان ددې خبرو په اساس شهزادګۍ ګنګا تر يوه وخته پورې په فکرونو کې ډوبه وه ، بيا يې د هيبت خان څخه وپوښتل:

هيبت خانه وروره ! زه دا منم چې خواص خان د کوچيانو د قبيلي څخه راووت او په لښکر کې شامل شو ، هغه ددې مخته هيڅ معلوم ځاې ځيګې نه درلود خو اوس هغه د شيرشاه سوري په لښکر کې سپه سالاردې. نو هغه خو به خپل ټول ژوند په خيمه کې نه تيروي ، د هغه له پاره به هم کوم خپلواک ځاې ورکول شوي وي ، د هغې په دې خبره هيبت خان وويلې :

ګنګا خورې ! ستا دا خبره سهي ده ، شيرشاه سوري د خواص خان له پاره دا وسيد و د ډير ښه ځاې د ورکړې انتظام کړې دې. ګنګا ترې په ډيره بې صبرۍ سره وپوښتل چې: شيرشاه سوري د خواص له پاره د اوسيدو دڅه ډول ځاې انتظام کړې دې ؟هيبت خان ځواب ورکړ او ويې ويل:

ګنګا خورې ! ستا دپلار د براهمن وزير چورامن محل شيرشاه سوري اوس خواص خان ته ورکړې دې ، نو خواص خان به د امن په وخت کې همدلته اوسيږي ، ګنګا سمدستي ځواب ورکړ او ورته يې وويل:

هيبت خانه وروره ! که چيرې شيرشاه سوري خواص خان د براهمن وزير چورامن محل ورکړې وي نو بيا به زه هملته د چورامن په محل کې و اوسيږم ، ځکه چې هغه ځاې اوس د خواص په ملکيت کې دې او شيرشاه سوري زه په خپله خواص خان ته ور تسليم کړې يم. هيبت خان يو ځل بيا ځواب ورکړ چې ګوره خورې ! ته چې څنګه وايې همغسې به کيږي. اوس زه ځم ، لږه شيبه وروسته به لښکر ددې ځايه کوچ کوي ، تا او اوما ته به هملته د چورامن په محل کې د اوسيدو له پاره بهترين انتظام کيږي. ددې خبرې سره سم هيبت خان د هغه ځايه ولاړ، شهزادګۍ ګنګا او اوما دواړه بيرته د خيمې منځنۍ برخې ته ورغلې او هملته کيناستې ، شهزادګۍ ګنګا ډيره انديښمنه او په غمونو کې ډوبه معلوميده ، اوما ته يې مخ کړ او ورته يې وويلې :

اوما خورې !ما هيڅ فکر نه کاوه چې د شپې په تياره کې به شيرشاه سوري او خواص خان د بنګال د مرکزي ښار ګوړ په لور کوچ وکړي ، اوس څرګنده نه ده چې خواص خان به د بنګال څخه بيرته څه وخت را ستنيږي او نور به تر څه وخته پورې زه د هغه په محبت او مينه کې سوزيږم. معلومه نه ده چې حالات کومې لورې ته درومي ، دا هم څرګنده نه ده چې خواص خان به زما مينې ته دومره ارزښت ورکړي او که نه. اوما ورته ډاډ او تسکين ورکاوه او ورته يې وويل چې: خورجانې !ته انديښنه مه کوه ستا په دې کار کې به زه ستا پوره پوره ملاتړ کوم او زه هيلمنده يم چې زه به وتوانيږم چې خواص خان له تاسره بيرته راضي کړاې شم. د اوما دځواب په اوريدو سره شهزادګۍ ګنګا لږ څه ډاډمنه شانتې شوه ، بيا دلږې شيبې وروسته لښکر د هغه ځايه خپل پړاو پورته کړ او د رهتاس په لور يې کوچ وکړ.

۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

همايون تر اوسه پورې دخپل لښکر سره هملته د تيلياګړهى درې سره نژدې پړاو کړې و. ځکه چې د درې لاره د شيرشاه سوري زوې جلال خان بنده کړې وه نو په دې خاطر همايون نه شو کولاې په اسانۍ سره د بنګال مرکزى ښار ګوړ ته ځان ورسوي.

د بله اړخه شيرشاه سوري چې د ۱۵۳۸ ز کال د مئې د مياشتې په شاوخوا کې د بنګال د مرکز ګوړ ښار ته رسيدلې و په خپلو کارونو کې مصروف و. هغه د ګوړ په ښار کې د اوسيدو په وخت د خپلې تاج پوشۍ مراسم تر سره کړل او لکه څنګه يې چې په خپلې سيکې باندې ليکلې شوې عبارت ډاګيزه کوي ، د تاج د په سرکولو د مراسمو نه وروسته يې خپل ځان د فريد الدين ابو المظفر شيرشاه سوري په لقب و ناموه.

د دهلې سره د بنګال د وسلولو پخوانې يو اځنې پادشاه سلطان التمش و او د هغه د وخت نه پوره درې سوه کاله وروسته شيرشاه سوري ته لمړۍ او اخردا امتيا زور په برخه شو چې هغه په عربى او هندې دواړو ژبو باندې خپل نوم په خپله سيکه وليکه. څرنګه چې شيرشاه سوري د همايون د لښکر د رارسيدو تر مخه غوښتل د ګوړ ښار خالي کړي نو په دې خاطر يې د تاج د په سرکولو مراسم هم مختنه تر مختنه ترسره کړل.

دتاج د په سرکولو موضوع د سياسې اړخه ډيره اړينه ګڼل کيده . ځکه دتاج د په سرکولو څخه دا ډاګيزيده چې په بنګال کې د سلطان محمود حکومت عملا له منځه تللې دې ، او دهغې د له منځه تللو څخه چې کومه سياسې خلا را منځته شوې وه هغه د شيرشاه سورې د همدې عمل له مخې له منځه ولاړه. ترڅنګ يې د بنګال اوسيدونکې د دې کار سره عادي شوي و چې د تخت د ترلاسه کولو له پاره چې هر څومره خلک وو ژل شي ، يا کورنې انقلاب راشي خو په هيڅ صورت بايد د ګوړ تخت خالي پرى نه ښول شي. د په تخت د کيناستو په هماغه دويمه ورځ شيرشاه سوري د ښار د خالي کولو حکم وکړ او ترڅنګ يې د خپل لښکر ټول حربي الات ، مالونه او وسايل سره را ټول کړل.

د ګوړ په ښار کې يې د خپلې وړتيا د ټولو شيانو د راټولو اورا غونډولو وروسته شيرشاه سوري د خواص خان سره يو ځاې د ښاره ووت. د ښار څخه د وتلو سمدستي وروسته شيرشاه سورى اوخواص خان دواړو د شيرپور په لور حرکت وکړ ، شيرپور د بنګال د اوسنې قاسم بازار څخه نژدې شپاړس ميله غرب لورې ته پروت . د شيرپور په لور د خوځيدو سره سم شيرشاه سوري خپل زوې جلال خان ته هم يو پيغام ور واستوه ،چې هغه دې هم د تيلياګړهې څخه را ووزي او دشيرپور په لور دې ځان را ورسوي . دشيرشاه سوري د دې حکم سره سم جلال خان د تيلياګړهي دره خالي کړه او دخپل پلار سره د يو ځاې کيدو له پاره شيرپور ته ورسيد .

کله چې همايون ته خبر راغې چې شيرشاه سورى د ګوړ ښار خالي کړې دې او د هغه زوې جلال خان هم د تيلياګړهي د درې څخه وتلې دې نو بيا يې خپل لښکر ته حکم وکړ چې د تيلياګړهې د درې څخه دې په چټکۍ سره ووځې او د بنګال مرکزي ښار ګوړ ته ځانونه ورسوي. شيرشاه سوري د خپل زوې جلال خان او خواص خان سره يو ځاې تر څو ورځو پورې هملته په شيرپور کې پاته شو او د حالاتو څارنه يې کوله. کله چې د هغه جاسوسانو هغه ته دا خبر ورکړ چې همايون د خپل لښکر سره يو ځاې ګوړ ته را رسيدلې دې نو بيا شيرشاه سوري د جلال خان او خواص خان سره يو ځاې د شيرپور څخه را ووت او د بهارکنډ د لارې څخه يې بيرته خپل ځان د رهتاس کلا ته ورساوه.

۲۸

اوما په منډه منډه باندې هغه محل ته ورننوته چې يو وخت د برهمن وزير چوران دا وسيدو ځاې و ،خو اوس هغه د خواص خان ملکيت ګرزيدلې و . د هغې د غه حال ته په کتلو سره ګنګا د يوې کمرې څخه په بيړه راووتله او د محل څخه بيرون باغچه کې يې د اوما لاره و نيوله . په دې وخت کې شهزادګۍ ګنګا دا هم وکتل چې د محل نه بيرون د ساتونکو سالار پخوانې ساتونکې لرې کول او په ځاې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي کسان ګمارل ، خو د اوما دې ستومانه منډو شهزادګۍ ورخطا کړې وه ، شهزادګۍ ګنګا غوښتل د هغه څخه څه وپوښتي چې اوما په خپله په خپلي ساه اخستو کنترول پیدا کړ او په ډيرې زياتې خوشحالۍ سره يې وويل:

ګنګا ګنګا ! خورجانې ! ماتاته د خوشحالۍ يو ډير ښه خبر راوړې دې ، شهزادګۍ ګنګا ور ته وويلې چې: ګوره اوما خورې ! ما ته ددې پرته د خوشحالۍ بل خبر نه شي پيدا کيدې چې خواص خان له ما څخه راضي شي ، له ما سره د خپلې مينې او دخپلې غوښتنې څرګندونه وکړي ، که چيرې کله هم هغه دا سې وکړي نو زه به وپوهيږم چې زه هم په خپل ژوند کې د ښه نصيب خاونده شوې يم. دهغې په دې خبره ور ته اوما وويلې: زه تا ته همدا سې يو خوشحاله ونکې خبر د ځانه سره لرم.او هغه دا چې اقاشيرشاه سوري او خواص خان دواړه د بنګال څخه بيرته را ستانه شوي دي ، ما په خپلو سترګو شيرشاه سوري او د هغه بدرګه فوځ ښار ته د راننوتلو او شاهي محل ته د ورتللو په وخت کې وکوت. ګنګا ترې سمد ستي په ډيرې نا ارامۍ او ډيرې بيړې سره وپوښتل چې: خواص خان چيرې دې ؟ دهغې په دې خبره ورته اوما په غوږ کې وويل چې:

ګوره ګنګا ! زه هسې دلته نه يم راغلې ، کله مې چې وکتل چې شيرشاه سوري دخپلو ساتونکو سره يو ځاې د شاهي محل په لور ولاړ نو ما دخواص خان پلټنه هم پيل کړه . ما د يوه عسکر څخه وپوښتل چې خواص خان چيرې دې ؟ هغه راته وويل چې هغه لښکر چې دشيرشاه سوري او خواص خان سره يو ځاې د بنګال په لور تللې و هغوې دښاره بيرون پړاو کړې دې ،شيرشاه سوري ترې دخپلو ساتونکو سره يو ځاې د شاهي محل په لور ولاړ او خواص خان همدلته د لښکر تر منځ په خپله خيمه کې تم شوې دې.

دهغې په دې خبره ګنګا په ډيره غمجنه او اعتراض کونکې توګه وويل: ګوره اوما خورې ! کله چې شيرشاه سوری خواص خان ته دغه محل ورسپارلې دې او اوس دا ځاې دهغه ملکيت دې نو بيا خو هغه ته همدلته دې محل کې تم کيدل په کار و ، هغه ولې د بيګانه او اجنبيانو په څير د ښار نه بيرون په خيمه کې قيام وکړ. دهغې د دې خبرې په ځواب کې اوما د ډيرې بې وسۍ څرګندونه وکړه او ورته يې وويل چې خورجانې په دې اړه به زه تا ته څه ووايم. دا د خواص خان خوښه ده چې په خيمه کې او سيدل غواړي او يا بل ځاې ، دلته په راتلو خو دهغه څخه څوک پوښتلې هم نه شي. دهغې د دې خبرې په اړه ګنګا په ډيره پريکونکې توګه ځواب ورکړ چې:

اوما ! ته همدلته او سه. زه همدا اوس او په همدې وخت کې د رهتاس څخه بيرون دلښکر ترتمځايه ځم او د خواص خان سره وينم، تر څو هغه همدلته له ځانه سره راوړم. دهغې د دې خبرې کولو سره سم ترې اوما په ډيره عجيبه توګه وپوښتل چې:که چيرې خواص خان له تا سره يو ځاې دلته د راتلو څخه ځان وژغورې نو بيا ؟ ګنګا په ډير هوډ سره وويل چې: ګوره اوما جانې ! دا وروستۍ خبره ده . لمړۍ خو زه غواړم په هره توګه چې شونې وې خواص خان ته ورځم ، هغه له ځانه سره پخلا کوم او دخپله ځانه سره يې يو ځاې دلته راوړم. ددې خبرې وروسته ګنګا د اوما سره بله خبره و نه وکړه. خپلې خونې ته ولاړه ، دلږ ځنډ وروسته را ووتلله او د نارينه و جنګي لباس يې په غاړه کړې و ، د آسونو د تم ځاې په لور ورغله ،هلته يې په يوه آس باندې زين کيښود ، بيا پرې سپره شوه او په آس سپره دمحل څخه ووتله او آس يې د ښار د مرکزي دروازې په لور په ځغاسته کړ.

په آس سپره شهزادګۍ د لږ واټن د وهلو وروسته د فوځ تمځاې ته ورسيده او بيا د خيمو نه په تيريد و سره د پړاو په منځنۍ برخه کې د يوې خيمې خوا ته راغله ، دخپل آس واګې يې را ښکودې او آس يې و دراوه . د آس نه د کيوتلو سمد ستي وروسته دخيمې دروازې ته راغله ، هلته د دروازې دواړو غاړو ته ساتونکې ولاړ وو ، شهزادګۍ يوه ساتونکې ته را نژدې شوه او ترې وي يې پوښتل چې: ايا امير خواص خان په خيمې که شته ؟ زه غواړم دهغه سره ووينم. کيدې شي چې تا زه پيژندلې او سم. ساتونکې ورته وويل:

شهزادګۍ ګنګا ! بې شکه چې تا د نارينه و جنګې لباس په تن کړې دې خو د دې سره بيا هم ما ته و پيژندلې. امير خواص خان په خيمه کې شته خو ارام کوي ، که ته يې بده نه ګڼې نو زه به ورشم او ترې به وپوښتم چې په دې وخت کې هغه له تا سره کتل غواړي او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه په دې خبره ګنګا لږ څه فکر وکړ او بیا یې وویل :ته ورشه او ترې وپوښته ، که هغه له ما سره کتل غواړي او که نه ،خو زه غواړم ورسره ووینم، ځکه زه د هغه سره ډیر ضروری کار لرم. ددې خبرې سره سم هغه ساتونکې دننه ولاړ او شهزادګۍ بیرون په ډیره نا ارامۍ سره منتظره ولاړه وه. لږه شیبه وروسته هغه ساتونکې بیرته راستون شو ، سربې ټیټ کړې و اوشهزادګۍ ګنګا ته یې وویلې. ګوره شهزادګۍ ! امیرخواص خان خو اوس ویده دې اونه غواړې اوس له تا سره ووینې. امیر خواص خان وایې چې که چیرې ګنګا له ما سره کوم ډیرضروري کار لري نو ولاړه دې شي اوخپلې اوما ته دې یې وو ایې ، امیر خواص خان به دهغې څخه وپوښتي. په دې خبره ګنګا په ډیره نا ارامۍ سره هغه ساتونکي ته وکتل او ورته یې وویل :

ګوره وروره !له ما سره اوس هیڅ وسیله نه شته. کومه وسله هم نه لرم. او تاته معلومه ده چې زه اقا شیرشاه سوري خواص خان ته د یوې وینځې په څیر ورسپارلې یم اوس خو زه د امیر خواص خان خدمتګاره او وینځه یم ،دهغه څه له پاره چې زه اوس دامیر خواص خان سره کتل غواړم ،هغه دومره مهم دې چې زه باید همدا اوس او په همدې وخت کې دهغه سره ووینم ، زه خیمې ته ننوځم ،امیرخواص خان به له تا نه خفه کیږي ، که هغه خفه کیږي نو له ما څخه به خفه کیږي. که چیرې له ما څخه خفه هم شي نو زه به یې د زغملو له پاره تیاره یم. تاته به کوم زیان نه در رسیږي. زه به ورته وایم چې ساتونکې زه منه کولم خو زه پخپله دلته دننه را ننوتم. ددې خبرو سره سم ، د ساتونکې دعکس العمل دکتلو پرته ، هغه خیمې ته ور ننوتله.

کیدې شی چې خواص خان د خیمې نه بیرون د ساتونکي او شهزادګۍ تر منځ دغه خبرې اترې اوریدلې وي،کله چې ګنګا دننه ور ننوتله نو ساتونکې د خیمې دننه یو نظر و ځغلاوه، ویې کتل چې خیمې ته د ورننوتلو سمدستې وروسته خواص خان دخپله ځایه راپورته شو اوکیناست ، نو ساتونکې ډاډه شو او یوې لورې ته څنګ و درید.

ګنګا په کلاره کلاره روانه وه اوکله چې دخواص خان خواته ور ورسیده نو خواص خان په ډیرې غصې او غضب سره ګنګا ته مخ کړ او ورته یې وویل :ګوره ګنګا ! کله چې ما نه غوښتل تا ووینم نو بیا ته ولې زما خیمې ته را ننوتلې ، ایا زما دساتونکې خبرو په تا هیڅ اغیز و نه شنیده. که چیرې تا دکوم ډیرضرورې کار په لړ کې له ما سره لیدل غوښتل نو هغه خبرې چې ته یې کول غواړې ، ته ولې به دې اوما ته کړې وې نو اوما به په خپله راغلې وه او ماته به یې ویلې و. دهغه په دې خبره ګنګا په ډیرې بې وسۍ سره په ژړا کې وویل: ایا تا ته له ما څخه اوما ډیره مهمه او اغلې ده ؟ خواص خان ورته وویلې چې هو ! اوما زما خور ده او ته زما ډیره بده دښمنه. ددې خبرې په اوریدو سره د ګنګا رنګ تک ژیړ شو اوبیا یې په ژړا کې په ډوب شوی اواز سره وویل: راځه همدا سې لکه ته یې چې وایې سهي ده. خو ددې هر څه سره بیا هم زما له تا سره کتل ډیر اړین و. ځکه چې ما غوښتل له تا سره په ډیره یوه مهمه موضوع باندې ځانته خبرې وکړم .خواص خان ورته په ډیره ناخوالې سره وویل چې:

ګوره ګنګا ! زما اوستا تر منځ هیڅ مهمه او خاص معامله نه شته. اونه زما او ستا تر منځ کوم اړیکې شته. ګنګا ورته وویل چې: هر څه چې ته وایې همغسې سهي دي. خو ما تاته دا ویل غوښتل چې کوم کسان چې تا د فدایی خان د پیدا کولو له پاره استولي و نو دهغوې په کومک باندې فدایی خان راغې او له ما سره یې وکتل ،تر هر څه دمخه زه ستا ډیره زیاته ممنونه او مشکوره یم چې زما د وینا په اساس دې فدایی خان را پیدا کړ ،خو فداېې خان ماته هغه کس و ښود چې زما د ګټلو د سویمبر مقابلې یې ګټلې وې. ددې خبرې په اوریدو سره خواص خان یو ځل بیا خپله ناخوالې وښوده. او ورته یې وویل:

د فداېې خان په اړه تا ته ددې ضرورت نه شته چې زما څخه ممنونیت څرګند کړې. هغه ستا کار و او ما درته وکړ. دا چې ته وایې چې ماته معلومه شوه چې ستا سویمبر چا ګټلې دې نو دا له ماپورې هیڅ اړه نه لری. هر هغه چا چې ستا سویمبر ګټلې دې ورځه همغې پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړه شه ، دلته دې د راتلو څه اړتیا وه ؟ دهغه په دې خبره ګنګا په خپل اواز کې لږ څه ځواک پیدا کړ او وېې ویل : زه خو اوس همغې کس ته چې زما سویمبر یې ګټلې راغلې یم.

خواص خان په دې خبره ډېر په غصه شو او ویې ویل :

ګوره ګنګا ! زه ددې سره هیڅ سرو کار نه لرم چې ستا سویمبر چا ګټلې و او ته اوس دچا پسې راغلې یې. اویا د چاپسې ورځې.خو زه درته همدومره ویل غواړم چې په راتلونکې کې زما خیمې ته په خپل سر اوددا سې را ننوتلو هڅه ونه کړې. ګنګا سمدستې د خواص خان خبره پرې کړه او ورته یې په لږ څه تیز غږ کې وویل: څنګه د راتلو هڅه ونه کړم. زه خو تېرولو رواجونو ستا په لمن کې را غورځولې یم ،ځکه چې تا زما د سویمبر درې واړه مقابلې ګټلې دي. زه وخت تا ته حواله کړې یم.د رهتاس دکلا د سوبې وروسته شیرشاه سوري زه تاته د وینځې په څیر درکړې یم...په دې وخت کې خواص خان سخت په قهر شو او ورته یې وویل چې: ډېرو خبرو کولو ته اړتیا نه شته، تا ته معلومه ده چې ته ما د وینځیتوب څخه ازاده کړې یې. ګنګا هم په همدې وخت کې ورته وویل : خو زه نه غواړم چې ستا د وینځیتوب څخه ازاده شم. زه غواړم همستا د وینځې په څیر له تا سره ژوند وکړم. او د یوې وینځې په څیر ستا خدمت وکړم.ځکه زما سویمبر هم همتا ګټلې دې نو د هغې د ګټلو وروسته که ته نه غواړې ما دخپل ژوند تلپاتې ملګرې کړې او له ما سره مینه اومحبت نه لرې ، نو لږ تر لږه خو ما د وینځې اوخدمتګارې په څیر ومنه. په دې توګه به زه ستا په پښو کې پرته اوسم ،په دې به تاته څه زیان در ورسیږي ؟

دګنګا په دې خبرو باندې خواص خان نور هم قهرېدلې شو او په ډېره بده لهجه یې ګنګا ته وویلې چې :ګنګا ! ته څومره پسته او ذلیله ښځه یې ، ما خو ته نه وې پیژندلې چې ته به دخپل مطلب په خاطر زما په پښو کې تر پریوتو پورې ځان سپک او ذلیله کړې ، ایا تاته ستا هغه خبرې در په یاد نه دي چې تا زما تر مخه کړې وې ، تا ته به یاد وې چې هغه وخت چې ما د ځنګل په منځ کې ستا عزت خوندي و ساته او ستا د عزت د خوندي ساتلو په خاطر زما پلار له منځه ولاړ. خو کله چې ما ستا تر مخ ستا د مینې دترلاسه کولو غوښتنه وکړه نو تا په ډېر قهر اوغضب سره زه په څپېړه ووهلم اوودې ویل چې تا څنګه جرأت کړې چې زما سره د مینې اومحبت څرګندونه کوې او دا دې هم وویلې چې تا څنګه فکر کړې چې زما د وصلت له پاره زما سره د رانژدې کیدو هڅې وکړې ! خواص خان تر دې ځایه دخبرو وروسته لږ څه تم شو خو وروسته یې بیا خپلې خبرې پیل کړې او ویې ویل :

ګوره ګنګا !تاته به په ډاډمنه توګه خپلې خبرې در په یاد وي ، تا ماته په چیغو چیغو وویل چې :ته د سپیو په لوښو کې او به څښونکې او په خاورو اوایرو ککړ انسان یې، زما اوستا تر منځ دومره توپیر موجود دې لکه د شنو لمحو د بدن او په سوزیدونکې اور کې نڅاکونکې خوشبو او بې عکسه خدو خال ، او یا لکه د شبنم د اوربښت او د عذاب او درپه دری حالت.

ګوره ګنګا ! تا ماته د شهزادګۍ په صفت دا هم وویلې چې : زه د یوه کوچي قبیلې سره تړاو لرم اوترڅنګ یې زه دهمدې کوچیانۍ قبیلې د سردار غلام هم یم ، په ځنګلونو کې دګیدړو د ښکار اودهغوې دپوستکو دپلورلو په واسطه خپل ورځنې ژوند تیروم. زما پلار هم همدا کار کاوه ، په خپلو اوږو به یې ناولې پوستکې اچولې و اوستاسو په ښار کې به یې پلورل. تا دا هم ویلې و چې که په راتلونکې کې دې زما سره په دې موضوع باندې دخبرو کولو هڅې وکړې نو په یاد ساته چې خپلو ساتونکو ته به وو ایم چې ستا څټ د ر مات کړې. او اخر کې دې راته د «ددې ځایه ورک شه» الفاظ وویل او دا دې راته هم وویل چې نه دې دلته اوسیدل غواړم او نه دې بیا شکل کتل.

ګنګا ددې الفاظو په اړه هیڅ هم ونه ویل. دهغې بې چاره څټ د شرم او خجالت نه ټیټ شوې و. بیا یې په نرې ژړغونې شانته اواز کې وویل: خواص خانه ! زما اقا ! ایا ته ماته د لته د کیناستو بلنه نه راکوې ؟ ترڅو دهغو خبرو په اړه چې تا همدا اوس وکړې زه لږ څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثرگندونه وکړم. دهغې په دې خبره خواص خان سمدستي وويل چې: نه ! زه تاته دلته د کيناستو بلنه نه درکوم. او نه زه له تا څخه د کومې خبرې وضاحت غواړم. ستا له پاره به ډيره غوره داوې چې سمدستي او په همدې شيبه کې له دې ځايه ولاړه شې، او په راتلونکې کې نه له ما سره د کتلو هڅه وکړې او نه په دې موضوع د بحث له پاره زما لورې ته بيا راشې.

دخواص خان دد ې خبرو په اوريدو سره ګنګا بې چاره د لږ وخت له پاره د قبر دتيرو شوو لمحو ،په قبر باندې د ورشنيدل شوو مړاو ګلانو په څير مړاوې اود اخرې شپې د را غورزيدلو پاڼو په څير نښتې نښتې او خوره وره ولاړه وه. بيا يو ناڅاپه ور مخته شوه ،او ورښکته شوه اودخواص خان پښې يې و نيولې او ورته يې وويل: د رب ، بګوان او ايشور په خاطر ماته بښنه وکړه . دخپل خداې اودخپل رسول په خاطر ماته زما دهغو خطاګانو په اړه چې له ما څخه شوي دي بښنه وکړه. زه له تا څخه د بښنې غوښتنه کوم. زه له تاسره مينه اومحبت کوم ،تا غواړم او له تاسره مينه کوم. غواړم ټول عمر ستا دمينې اومحبت د وينځې په څير دلته له تاسره و اوسيږم . که چيرې ته له ماڅخه مخ اړوې ، که له ماڅخه دکرکې ثرګندونه وکړې خو بيا به هم زه د يوې يخې چينې ، وچ غملړلې درياب ، او يا په تالابونوکې دمنجمد عکس په څير دلته و اوسيږم.

دګنګا په دې حرکت سره خواص خان خپلې پښې کش کړې او هغه يې لرې وغورځوله ،ګنګا په زمکه پريوته اوبيا يې ځان راټول کړ اوبيرته را پورته شوه ، دهغې بې چاره څټ يو ځل بيا ټيټ شو اودخواص خان تر مخ د سو زيدونکې لمر دتور سيورې په څير وچه کلکه و دريده. خواص خان ورته تر لږه وخته کتل اوبيا يې ورته وويل:

ګوره ګنګا ! ته خبره هسې اوږدوې ، په ياد ساته چې ته دخپلې رويې اوسلوک ،دخپل کبر او خپل وياړ ، اود خپلې کبر نه ډکې پورته غړانګې په واسطه زما له پاره دګرد توپان ، د اورد شغلولمبې ، د اور ديوال ،د تيږو اورونکې لمحه او دصليب وينه ثابته شوې يې. تا زما سره ډيره بده وضعه کړې ده او زه دې يوه کرکجن انسان وګرځولم. هغه وخت چې ما ګيدړې ويشتلې اوخپل ژوند مې د دې لارې تر سره کاوه او ته يوه شهزادګۍ وې نو هغه وخت را ياد کړه چې ما ستا عزت خوندي وساته ، ستا ژوند مې له خطره خوندي کړ ، زه دا منم چې ما دهمغه وخته له تاسره مينه کوله چې تا د کوچنيوالي څخه بلوغ ته ټوپ کړ. هغه وخت ورځ چې ما ستا عزت او ستا ژوند وساته نو په همغه ورځ ماته له تاسره په ځانته ځاې کې دخبرو کولو موقع تر لاسه شوه ، او ما په پوره جرءت سره ستا تر مخه دخپلې مينه ثرګندونه وکړه. دا په داسې حال کې چې زه دمحبت په معامله کې ډير کمزورې ثابت شوې يم. دد ې په ځاې چې تا زه دمحبت دد ې ثرګندونو په اړه لږ څه په ځنډ کې غورزولې وې اوزما سره دې نيکه رويه او ښه سلوک تر سره کړې وې اوبيا دې زما دمحبت مخ بلې کومې لورې ته ګرځولې وې او راته دې ويلې وې چې ته د بل کوم چاسره مينه لرې. که چيرې همداسې نه و نو بيا خوبه تا دمحبت ځواب راکړې و، خو ګنګا ! واوره چې: دد ې هر څه په ځاې دې زه په خوله په څپيړه ووهلم اوداسې الفاظ دې راته ويلي دي چې د يوه درونډ اوشريف انسان له پاره د زغم وړ نه و.

ګنګا واوره ! زه اوس ستا دهمغې سلوک په خاطر يو کرکجن انسان ګر زيدلې يم. ما ستا تر مخ د خپل زړه دښار دمينې اومحبت ټولې دروازې بندې کړې دي ، ستا د ناروا کړچار ، ستا دکبر اولويې او ستا دخراب فعل په اساس ، ګنګا ! ، اوس ته ماته د بدلو لاروغبار ،دخزان تياره شپه ، او د زيړې پاڼې په څير ګرزيدلې يې ، ورځه اوددې ځايه وځه. ته اوس د غم نه ډک يو داستان يې. زه نه غواړم له تاسره کوم ډول اړيکې وساتم ، ګنګا ! ما ته د غمژنو وختونو کيسه ، زړه ازارونکې غوښتنه ، او خزان وهلې ميوه ګڼلې يې او هيسته مې غورزولې يې. واوره ! که چيرې ته زما د زړه خبره اوريدل غواړې نو له ځانه سره يې وليکه:

ته يوه ډيره غليظه ، پسته ، او ذليله پيغله يې. او زه په هيڅ صورت نه غواړم چې دخپل وجود برخه دې وګرځوم. زما سره د بدکړچار دکولو تر مخه ته زما په سترګو کې ډيره عزتمنده د وقار او درنښت خاونده وې ، خو اوس ته زما په سترګو کې د زمکې د ټغر نه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپکه او ذلیله یی. گوره گنگا ! پخوا له دې چې زما له خولې څخه ددې نه هم زیاتې غلیظې خبرې واورې له دې ځایه دې قواره ورکه کړه. اوکه نه زما غصه ددې نه زیاته شوه نوویریږم چې زما لاس به ستا په خلاف پورته شي ، په دې خاطر ته همدا اوس او همدا شیبه زما دخیمې څخه بیرون شه ،که چیرې ته داسې ونه کړې نو زه به ساتونکې ته حکم وکړم چې تا په راښکودو سره دخیمې څخه بیرون کړي

گنگا ورته په ژړا اوسلگیو سره وویل چې: خواص خانه ! تا ته به دهغې اړتیا پیښه نه شي زه پخپله ستا دحکم په مطابق ستا دخیمې څخه وځم خو د تللو څخه دمخه زه یوه غوښتنه لرم. داسې وګڼه چې دا به اخری غوښتنه وي.ددې وروسته به زه تا ته دهیڅ ډول تکلیف د پیدا کیدو سبب و نه گرځم ، خواص خان ورته په ډیره ناخواله توګه وویل چې: وایه ، څه ویل غواړې. په ځواب کې ورته گنگا وویل:
هغه وخت چې تا دخپل لښکر سره یو ځای د وندهیاچل په غرنیو سیمو کې پړاو کړې و اوبیا دهغه ځایه د شپې په تیاره کې د بنگال دمرکزي ښار گوډ په لور روان شوې ،نو ستاسو د تګ نه وروسته لښکر هلته څو ورځې نور هم قیام وکړ. خوکله چې لښکر د گوډ د ښار په لور حرکت وکړ ، نو هیبت خان نیازي زما خواته راغې او له ماڅخه یی و پوښتل چې ایا زه د رهتاس د محل په هغه برخې کې قیام کول غواړم چې پخوا په کې اوسیدم او یا په بل کوم ځای کې د اوسید و له پاره تیاره یم. خو ما د هیبت خان څخه ستا د اوسیدو د ځای په اړه پوښتنه وکړه. هغه ماته ډاګیزه کړه چې اقا شیرشاه سوری تاته زمونږ د چورامن وزیر براهمن محل درکړې دې. نوما هیبت خان نیازي ته وویل چې زه غواړم په همغه محل کې چې خواص خان ته ورکړل شوي قیام وکړم. اوس زه ستا دمحل په یوې څنډې کې د خپلې اوما سره یو ځای اوسیږم، زه له تا نه همدومره غواړم چې ما ته دخپلې اوما سره یو ځای په همدې محل کې د اوسیدو اجازه راکړې. زه ژمنه کوم چې ستا له پاره به د هیڅ ډول ستونزې د راپیدا کیدو سبب نه گرځم. خواص خان ورته وویل چې: ورځه ، ته هملته په همدې محل کې اوسیږه ، هیڅوک به له تا څخه په دې اړه ونه پوښتي. دخواص خان په دې خبره گنگا بې چاره خپلې اوښکې وچولې اودخیمې څخه را بیرون شوه.

۲۹

لږه شیبه وروسته گنگا د رهتاس دپخواني وزیر چورامن محل ته ورننوتله ،آس یی په تبیله کې و تړه ، د آس د پښو د اواز په اوریدو سره اوما هم بیرون را وتلله. هغې وکتل چې گنگا ډیره خفه او غمگینه دآسونو دتبیلې څخه بیرون را وځي،کله چې هغه را نژدې شوه نو اوما ترې په ډیره مینه و پوښتل چې: گنگا خورې خواص خان درته څه وویل: دهغې ددې خبرې په ځواب کې گنگا بې چاره په ژبه څه و نه شو ویلای خو مخته ورغله او د اوما سره ورغاړې وته ، او د کوچنیانو په څیر یی په زوره زوره و ژړل. اوما د لاسو څخه و نیوله او خپلې کمرې ته یی یوړه. تر لږه وخته پورې یی ورته ډاډ ورکاوه کله چې گنگا ځان سنبال کړ نوبیا ترې اوما یو ځل بیا وپوښتل.
گوره گنگا ! ته ولې داسې ژاړې. ماته خو ریښتیا خبره وکړه چې څه درپیښ شوي دي ، ایا خواص خان ته ورغلې وې. ایا هغه درته څه بد رد ویلي دي ؟دهغې په دې خبره گنگا ورته وویل چې: اوما خورجانې ! ستا خبرې سهي دي ، زه خواص خان ته روغلم ، اول خو یی زما سره کتل نه غوښتل ، خپل ساتونکې ته یی وویل چې هغې ته ووایه چې زه ورسره کتلې نه شم. خوبیا زه په زوره خیمې ته ورننوتلم ،هغه زما په دې کار سخت نا راضه شو او په خبرو خبرو کې یی زه ډیره سپکه کړم ،ماته یی بیا بیا هغه خبرې را یادولې چې ما هغه ته د څیپړې ورکولو په وخت کې کړې وې،خو هغه وخت زه شهزادګۍ وم او هغه له ما سره د محبت او مینې څرګندونه کړې وه. گوره اوما ! زه دا منم چې هغه زما ستره غلطي وه او ما د خپل غرور او لویی په اساس د خواص خان سره دومره ناروا سلوک کړې و نواوس زما همغه بد سلوک زما د بدقسمتۍ او بد فالۍ سبب وګرزیدلې دې. گوره اوما خورې ! خواص خان هم په دې اړه ملامته نه دې ، ځکه ماته د یوې شهزادګۍ په څیر نه و په کار چې دهغه سره داسې بده وضعه وکړم. هغه زما عزت خوندی کړې و ، هغه زما د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکي ګرزیدلي و نو که په دې وخت کې هغه زما څخه د مینې او محبت غوښتنه کوله نو بايد چې هغه مې زغملې وې خو ما هغه ته بدې طعنې ورکړې ، هغه ته مې د ګیدړو ښکارکونکي وو ایه ،بیا په یوه بل وخت کې هغه زمونږ خیمې ته راغې ، زما پلار ماته وویل چې د هغه څخه ښښنه وغواړم خو زما څټ د کبر څخه دومره لوړ شوی و چې ما هیڅ هم تر لاسه نه کړای شول .نن هغه زما ټول هغه خواره واره الفاظ اوزما له اړخه د هغه سره شوې بد سلوکۍ یو ناڅاپه زما تر مخ و درول .

ګوره اوما جانې !خواص خان هم زما سره یو وخت محبت کاوه ، خو اوس هغه له ما څخه ډیره سخته کرکه کوي ، هغه ماته ډیره پسته او ذلیله نجلۍ وویله .ان تردې ځایه راغې چې زه یې تهدید کړم چې د خیمې څخه ووځم او که نه ساتونکې به ما په راښکودو سره د خیمې څخه بیرون کړي ، خو ګوره اوما ! ما د هغه څخه دا اجازه راخستې او راغلې یم چې ماته به د اوما سره یو ځای په دې محل کې د اوسیدو اجازه راکوي او هغه دلته د اوسیدو اجازه راکړه.

تر دې ځایه د خبرو وروسته شهزادګۍ لږ څه غلې شانته شوه او بیا یې په ډیره بې وسۍ سره د اوما په لور وکتل او په خبرو یې پیل وکړ او ویې ویل:

اوما جانې خورې ! زه به یو ځل دوه بیا هم د خواص خان د خوشحاله کولو هڅې کوم، اوما زه به تاته دا ډاګیزه کړم چې اوس زه خواص خان د خپل ځان څخه هم زیات عزیز ګڼم ، او د هغه سره محبت او مینه کوم ،د هغه پرته د ژوند کولو په اړه فکر هم نه شم کولې .خو که چیرې د دې سره سره بیا هم هغه ماته ښښنه و نه کړه نو بیا به زه دا محل پریږدم ، د هغې په دې خبره اوما پرې ورټوپ کړ او ورته یې وویل چې: ته به چیرې ځې ؟ګنګا ورته وویل چې:

ګوره اوما جانې !درهتاس په ښار کې یو زیارت دې ، زه به هملته ورشم او د ژوند پاته شپې او ورځې به د بیلتون په سوزیدونکو لمحو کې راتاوې تیرې کړم. اوما ورته سمد ستي وویل:

زه هم د هغه زیارت څخه خبره یم. هلته به ته څه ډول ژوند وکړې ، ځکه هلته ټولې کونډې ښځې اوسیږي. په داسې حال کې چې ته کونډه شوې نه یې .ګنګا ورته وویل چې : زما څخه به بله ستره کونډه څوک وي ،ګوره خواص خان زما سویمبر وګټه ، نو د روایاتو او رواج په مطابق باید زما واده د خواص خان سره تر سره شوې وې. اوس چې خواص خان زه و شړلم ، په کار خو دا و چې هغه اوس زما میړه وای ، نو هغه د میړه کیدو په ځای زه رټلم او ویې شړلم ، نو زه چې اوس کونډه نه او سم نو څه به یم ؟

ګوره اوما جانې ! زه هملته د غه زیارت ته ورځم . او خپل پاته ژوند به هملته د بیلتون د اور په لمبو کې تیروم ، د هغې د دې خبرې په اړه اوما وویل:

اوس خو د هغې زیارت حالت ډیر زیات خراب شوې دې ،څومره کونډې چې هلته اوسیږي هغوې ټولې هلته په ښار او نږدې کلیو او کورونو کې خیر خیرات را ټولوي او په همدې توګه خپلې شپې سبا کوي . د دې زیارت دربار هم په همدې خیر خیرات باندې چلیږي. ګنګا ورته د ډیرې بې وسۍ او بې چارګۍ په حال کې وویل چې :

ګوره اوما !که چیرې هلته اوسیدونکې ټولې کونډې خیر خیرات را ټولوي او خپل ژوند پرې سبا کوي نو زه خو د هغوې نه کمه نه یم زه به د هغوې سره یو ځای خیر خیرات را ټولوم او شپې به پرې سبا کوم، زه خو د اسمان څخه را ښکته شوې فرښته نه یم ، په دې خاطر لکه څنګه چې نورې کونډې په دې زیارت کې شپې سبا کوي نو د همغوې په څیر به زه هم د خپل ژوند پاته برخه دلته تیروم .

د ګنګا د دې خبرو د اوریدو وروسته اوما لږ څه په فکر کې ډوبه شوه بیا یې د ګنګا په لور وکتل او رته یې وویل:

ګوره ګنګا خورې !که چیرې ته غواړې نو زه به په دې لړ کې د خواص خان سره خبره وکړم. ګنګا سمد ستې د هغې په لور وکتل او ورته یې وویل چې: ګوره اوما ! هیڅکله هم داسې کار و نه کړې. ما ته ډاګیزه شوه چې خواص خان له ما څخه ډیره زیاته کرکه کوي ، ان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې چې هغه زما د مخ د کتلو حوصله هم نه لري ،بس دا سې يې وګڼه چې هغه ما د يوې ذليلې ،پستې او کبرجنې نجلۍ په څير پيژني ، که چيرې ته د هغه سره زما د سپارښتنې له پاره خبرې وکړې نو زه ويريږم چې زما په څير به له تا څخه هم خواص خان کرکه وکړي ، تر نن پورې خو هغه تا ته خور وايي خو بيا به هغه تا هم زما په څير د خپل ځان دښمنه ، پسته او ذليله ګڼي. خو زه نه غواړم داسې څه ترسره شي ، او اوما جانې ! بيا به زمونږ د دواړو ژوند دلته په دې محل کې ستونزمن وګرځي. په دې خاطر زه له تا څخه هيله لرم چې په هيڅ وخت کې هم د خواص خان سره زما په اړه کومه خبره اتره و نه کړې.

کله چې ګنګا چپ شوه نو اوما ورته وويل:

ګوره ګنګا خورې ! ما د خپل ژوند يوه برخه له تا سره تيره کړې ده ،نو که چيرې حالات دومره زيات خراب شول نو زه به په هر صورت ستا ملګرتيا کوم. که چيرې خواص خان ستا د ټولو هڅو سره بيا هم تا ته ښښنه ونه کړي نو بيا به دد ې ځايه ووځو او همل ته هغه زيارت ته به ولاړې شو، خو واوره چې زه به هم له تا سره همغه زيارت کې او سيږم او ستا خدمت به کوم.

د اوما ددې خبرو د اوريدو سره ګنګا بې چاره لږ څه شاته شوه ، يوځل بيا د اوما سره ور غاړې وتله ، ښه يې د زړه د خلاصه وژړل ، د اوما سترګې هم د اوښکو ډکې وې ، دواړه تر يوه وخته پورې يو بل ته ور غاړې وتلې وې او ژړل يې. بيا يې ځانونه سنبال کړل ،بيا هغوې دواړو بې چارګانو د خپلې ډوډۍ له پاره تيارې پيل کړ.

٣٠

يوه ورځ ماښام په داسې حال کې چې ګنګا د خواص خان د حويلۍ په پخلنځاې کې دډوډۍ په تيارولو کې مشغوله وه ويې کتل چې له يوه اړخه اوما په منډه منډه ددې لورې ته را ځغلي ، هغه ډيره خندانه او خوشحاله وه، ګنګا د هغې څخه ددې خوشحالۍ په اړه وپوښتل او ورته يې وويل چې:

اوما خورې ! ايا کومه غير معمولې پيښه شوې چې داسې خوشحاله يې . اوما ورته ځواب کې وويل چې هو ! ګنګا خورې ! ته يې غيرمعمولې خبره وګڼه. ګنګا ورته په ژورو سترګو وکتل او ورڅخه يې وپوښتل: نو بيا يې ماته ولې نه وايې ؟ اوما ورته مخ کړ او ويې ويل چې: د خوشحالۍ خبره خو داده چې خواص خان د لښکر د خيمو د منځ څخه خپله خيمه لرې کړه او دلته حويلۍ ته راغلې دې. هغه د حويلۍ د ښې لورې د کوټو څخه په يوه کې ميشت شوې دې. ما پخپله هغه خپلې کوټې ته د ورننوتلو په وخت کې وکوت. د هغه سره يې ساتونکې هم ملګري دي. د هغه د کوټې تر مخه اوس د هغه ساتونکې په پهره ولاړ دي. د هغې په دې خبره ګنګا يو ځل بيا د ناهيلۍ په ښه وويل چې:

ګوره اوما خورې ! په دې کې د خوشحاليدو څه دي. که چيرې ته په دې خوشحاله يې چې خواص خان دلته حويلۍ ته راغلې دې نو دا خبره زمونږ له پاره څه نوې نه ده. هغه خو زمونږ له پاره دلته نه دې راغلې، شيرشاه سورې دا حويلۍ او محل هغه ته ورکړې دې نو په دې ځاې ته د هغه راتګ د هغه خپل حق دې. د هغې په خبره اوما وويلې:

ګوره ګنګا خورې ! زه تا ته يوه ډيره مخلصانه مشوره درکوم. د ډوډۍ د پخولو نه وروسته ته خواص خان ته ډوډۍ تياره کړه او دا ډوډۍ هغه ته پخپله يوسه ، هغه ته ډوډۍ کيږده ،په دې ترتيب زه هيلمنه يم چې که چيرې د هغه په زړه کې تا ته لږ څه مينه هم پاتې وي نو هغه به ستا د لاسو څخه دا ډوډۍ واخلي او وبه يې خوري ، تر څنګ به يې له تا سره چې کوم خفګان راغلې هغه به هم له منځه يوسي او راضي به شي.

د اوما په دې مشورې سره ګنګا لږ څه فکر وکړ او بيا يې ځواب ورکړ چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره اوما ! زه به ستا د وینا په مطابق خواص خان ته ډوډۍ یو سم خو که چیرې هغه یو ځل بیا زما سره د پخوا په څیر سلوک وکړي او یا یې زما د لاسو ښخه ډوډۍ وانه خسته ، اویا یې زه د خپلې کمرې ښخه راوویستلم ..دهغې په دې خبرو ورته اوما په پریکنده توګه وویل چې :

واوره ګنګا ! که چیرې دا ځلې هم خواص خان ستا سره همغسې رویه او سلوک وکړ او ستا سره یې د مصالحت هڅه ونه کړه ، او ستا د لاسو ډوډۍ یې هم ونه خوړله نو بیا واوره !چې د راتلونکې سهار د مخه په تیارې کې به مونږ د دې ځایه وځو او د رهتاس همغه زیارت ته به ورځو ، هیڅوک به په دې خبره نه خبریږی چې مونږ دواړه چیرې تللې یو. داوما د دې ځواب په اوریدو سره د ګنګا رنګ تک ژیړ شو او ویې ویل:

اوما خورې ! ستا دا وړاندیز په ځای دې خو دخواص خان ښخه به زما لرې والې ماته د زغم وړ نه وي او زما د مرګ سبب به وګرځي . اوما ورته یې په زیږه توګه وویل چې ولې به د زغم وړ نه وي. کله چې خواص خان له تا سره مینه نه کوي ، تا نه خوښوي ، د خپل زړه ښخه یې ستا مینه ، محبت او غوښتنه لرې کړې او تا په خپله مینه کې له ځانه سره نه شریکوي نو بیا به دهغه ښخه لرې والې تاته ولې د زغم وړ نه ګرځی او یا به تا د اندیښنو په دریاب کې لاهو کړي.

ګوره ګنګا خورې !ته همغه یې چې یو وخت دې د خواص خان ښخه د زړه له کومې کرکه کوله ، زه پوهیږم چې که چیرې خواص خان ستا خپلول و نه غواړې نو په خپل زړه کې دې همغه د نفرت د جهنم اور را تازه کړه چې پخوا دې دخواص خان سره درلوده. دهغې په دې خبرو ګنګا بې چاره د ډیرې بې وسۍ څرګندونه وکړه او ورته یې وویل چې :

اوما خورې !کاشکې ما داسې کولاې شول ، کاشکې ما هغه کرکه او نفرت بیرته راوستلاې شوې چې دخواص خان په اړه مې درلودل، هغه وختو چې هغه صاحب خان و او ګید ړې یې ښکار کولې. خو اوس زما په ژوند کې یو انقلاب راغلې دې.

اوما جانې !غوږ شه ! په دې کې هیڅ شک نه شته چې ما دصاحب خان ښخه ډیره زیاته کرکه درلوده ، او تا ته معلومه ده چې ما دهغې کرکې څرګندونه هم کړې وه ، اوهغه وخت مې خواص خان په خوله په څپیړه هم وهلې و ،خو هغه وخت هغه صاحب خان و . هغه هم په داسې حال کې چې هغه په ما احسان کړې و او زما د ځان او ابرو ساتنه یې کړې وه. خو د دې هر څه سره بیا هم ما دهغه ښخه ډیره سخته کرکه درلوده ، ان تر دې چې ما دهغه احسان هم له یاده وویست اودهغه پر خلاف مې لاس پورته کړ خو دهغې وروسته زما په ژوند کې یو انقلاب راغې.

ګوره اوما خورې !کله چې زما د ترلاسه کولو له پاره د سویمبر تر نامه لاندې مقابلې پیل شوې او خواص خان د یوه نقاب پوشه په لباس کې زما د دې سویمبر درې واړه مقابلې په پوره میړانه وګټلې نو په هغه وخت کې هم ما د صاحب خان ښخه کرکه کوله ، دهغه له پاره زما په زړه کې هیڅ ډول مینه او محبت ځای نه درلود ،خو څه وخت چې د دې نقاب پوشه زما د سویمبر درې واړه مقابلې وګټلې نو دهغه بریا ، دهغه میړانه ، دهغه ښنه ویشتل او دهغه د توري د وهلو هنر زه په خپله دهغه لورې ته را ښکودم. خو زه نه پوهیدم چې د دې نقاب پوشه په لباس کې خواص خان را نغښتې دې.

بیا د سویمبر د دریمې برخې د ګټلو نه وروسته چې کله دغه نقاب پوشه زما دخپلو لو په ځای ماته ډاګیزه کړه چې هغه له ما ښخه نفرت لري ، اوبیا ولاړ. دهغې وروسته چې کله هغه د سویمبر د درې واړو مقابلو د ګټونکو شهزادګانو سرونه ورپرې کړل نو بیا زه نوره هم د دې په مینې کې ور ونښتم په دې اساس مې ژمنه وکړه چې زه به په هرصورت دغه نقاب پوشه پیدا کوم او دخپل ځان له پاره به یې تر لاسه کوم، دا ځکه چې همدغه نقاب پوشه زما د مینې او محبت اخري پولې ته را رسیدلې و ،هغه زما د ژوندانه تر ټولو لویه کمزورې ګرزیدلې ده نو په دې خاطر ما دهغه د ترلاسه کولو له پاره هڅې پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره اوما ! دلته دراتلو وروسته چې فدایي خان ماته خبر راکړ چې هغه نقاب پوشه په اصل کې همدغه خواص خان دی نو ګوره خورجاني ! دخواص خان له پاره چې زما په زړه کې کومه کرکه موجوده وه هغه له منځه ولاړه ، اوځومره مینه او محبت مې چې د سویمبر د مقابلو اخري ګټونکې ته په زړه کې را پیدا شوې و هغه ټوله مینه ، ټول محبت او ټوله غوښتنه دخواص خان د ذات په لور باندې منتقله شوه . اوس همغه خواص خان چې یو وخت زما له پاره د ډیرزیات دنفرت وړ و ، اوس راته ډیر زیات نادر او نایابه ګرزیدلې دې. واوره !ځومره چې ترې ما کرکه کوله ، اوس ورسره دهغې ځخه په سلونو واره زیات محبت او مینه کوم. اوما خورې ، زه فکر کوم چې دخواص خان پرته به زما ژوند د جهنم د اور په څیر وي ، داسې فکر کوم چې د خواص خان پرته به هلته په هغه (اشرم ) زیارت کې زما ژوند څه ډول تیریږي. ما خو غوښتل چې په همدې حویلۍ کې و اوسیږم ،او کله کله په پټه توګه خواص خان ووینم ، اودخپل زړه دمینې اور دهغه په کتلو سره مړ کړم. خو کله چې زه ددې ځایه ولاړه شم او په هغه زیارت کې و اوسیږم نو اوما خورې ، زما ژوند خو به دخاورو سره خاورې شي .

ددې خبرو ځخه وروسته چې کله شهزادګۍ ګنګا خاموشه شوه نو اوما ددې ټولو خبرو ځواب ورکړاو ورته یې وویل:

ګوره زما ګنګا خورجانې ! زه ستا د مینې او محبت انقلاب په ډاګیزه توګه کتلې شم . که چیرې ته په ریښتنې توګه د خواص خان نه پرته ژوند نه شې کولاې اودهغه ځخه د لرې پاته کید و زغم هم نه لرې. نوبیا خو هغه دخپل ځان په لور د مایل کولو له پاره یوه بله طریقه هم شته. ګنګا ترې سمد ستي وپوښتل چې ، هغه کومه یوه ده. اوما ورته وویل:

واوره ګنګا !اوس خو ته دخواص خان له پاره ډوډۍ له ځانه سره واخله او ورشه ، که چیرې هغه ستا دلاسو ډوډۍ وخوړه اوستا سره یې په ښه توګه خبرې اترې وکړې نوبیا خو به ټولې ستونزې په خپله هوارې شي ، خو که چیرې داسې ونه شول نوبیا راځه اوسهار وختي به دهمغه زیارت په لور ورځو ، ما تاته مخکې هم ویلي و چې په اوسنیو حالاتو کې د هغه زیارت د لنګر اقتصادي حالات ښه نه دي ، په دې خاطر هلته چې ځومره کونډې ښځې اوسیږي هغوې د خیر خیرات د راټولولو له پاره بیرون را وځي اوپه همدې توګه هغوې هملته په هغه زیارت کې خپلې شپې سبا کوي ، ګوره ګنګا خورجانې !ته هم دهمغو ښځو سره د خیرخیرات له پاره را وځه ، زه به هم درسره په همغو کونډو ښځو کې اوسیږم او دخیر خیرات د راټولولو له پاره به دلته دخواص خان حویلۍ مخې ته را ځو. دخیر غوښتنې په وخت کې به ته خپل بدن په ډیره ښه توګه پټ ساتې اوپه خپل مخ به هم نقاب اچوې ، زه پوهیږم چې خواص خان ډیر همدرده او ځان ځارونکې انسان دې ، هغه به هیڅ کله هم له تاڅخه نفرت نه وې کړې خو هغه سلوک چې تا دهغه سره کړې دې نو دهمغې په اساس له تا سره دهغه محبت په ډیره زیاته کرکه اونفرت باندې بدل شو .

ګوره ګنګا ! ته به یې منې اوکه نه ،هغه وخت چې هغه ګیدړې ښکار کولې نو هغه وخت هغه ته د زړه له کومې د خپل ځان له پاره غوښتلې ، هغه نه غوښتل ستا نه پرته ژوند وکړي خو کله چې تا هغه په خوله په څپیړه وواهه ، هغه دې بې عزته کړ ، اوبیا چې کله ستا پلار هغه خپلې خیمې ته راوباله اوهلته هم تا هغه توهین کړ. نوبیا هغه له تاسره خپل محبت په نفرت او کرکې باندې بدل کړ. اوس به ستا کار دا وي چې هغه نفرت بیرته په محبت او مینې باندې را واړوې

ګوره ګنګا !لکه څنګه چې خواص خان په نقاب کې ستا د سویمبر مقابلې وګټلې اوستا له پاره یې خپل نفرت په محبت اومینه باندې واړاوه ، اوس به ته هم دخواص خان دخپلولو له پاره همدا ډول طریقه استعمالوې ،ته به هم خپل جسم را ونغاړې اوپه مخ به نقاب راخپور کړې او دخیر خیرات د غوښتلو له پاره به دلته راځې ، په ځانګړې توګه هغه وخت چې خواص خان بهر ووینې. ته به دخپل سلوک او رویې اوخبرو په واسطه خواص خان دخپل ځان په لور را مات کړې ،ماتاته ویلي دی چې هغه ډیر د خدایه ویریدونکې ،نیک اوهمدرده انسان دې ، زما په فکر که چیرې ته دشهزادګۍ په توګه هغه دخپل ځان له پاره نه شې را ماتولې نو دیوې کنډې په څیر خو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخا تر اغیز لاندې راوړې شي اوهغه په خپله مینه کې را نغاړلې شي ،که چیرې ته داسې وکړای شې نو زه به په دې پوه شم چې تا دخپل ژوند ډیره ستره معرکه تر سره کړې ده .

داوما په دې مشورې د ګنګا په مخ کې د خوښۍ نښې را وځلیدې ،تر لږه وخته پورې یې په شوخو سترګو د اوما په لور کتل اوبیا یې ورته وویل: اوما خورجانې ! ستا د امشوره ډیره غوره ده اوزما په فکر چې عملې کیدای هم شي . که چیرې په رینښتیاتوګه خواص خان زما څخه راضي نه شو او له ما سره یې دشهزادګۍ په توګه دخپلو اړیکو د سمولو هڅه و نه کړه نو زه به د کونډې په څیر دهغه دمینې د تر لاسه کولو هڅې وکړم. اوما جانې ! خواص خان زما سویمبر ګټلې دې ،اوس په نړۍ کې همدا یوا ځنې ځوان دې چې زما د تن ، روح اوعزت مالک ګرزیدلې دې ، زه په دې پوهیږم چې تر هغې چې خواص خان ماته تر لاسه نه شی نو زما روح ، او زما د وجود هره برخه به نیمګړې وي ، زه به د یوې کونډې په څیر د خواص خان دخپلولو هرډول هڅې وکړم ،اوس به زه ستا دمشورې په مطابق دخواص خان له پاره خوارک ځښاک له ځانه سره یوسم . بیا به ووینم چې دهغه عکس العمل څه ډول دې . دد ې خبرې سره سم ګنګا پورته شوه ، او دخوراک ځښاک ټول شیان یې په لوښو کې سره را یوځای کړل ، هر څه یې راواخستل اودهغې کمرې په لور ور وخوزیده چې خواص خان په کې میشت و .

۳۱

دخواص خان دې مانۍ ته د راتلو وروسته ،ښایسته او زړه وړونکې شهزداګۍ ګنګا د ستورو په څیر ځلیدونکې دخواص خان خونې ته را ننوتله ، هغو ساتونکو چې دکمرې نه بهر یې پهره کوله هغوې هم شهزداګۍ ګنګا د دننه د ورتلو څخه منه نه کړه ، ځکه ټول په دې خبرو چې هغه د شیرشاه سورې له اړخه خواص خان ته د وینځې په توګه ورکړل شوې وه.

کله چې دخوراک ځښاک د سامان سره یوځای شهزداګۍ ګنګا د خواص خان خونې ته ور ننوتله نو ویې کتل چې د خونې په یوه برخه کې خواص خان سترګې پټې کړې وې او ناست و ، دګنګا په ور ننوتلو هغه یو ټکان وخوړ ، سترګې یې پرانستې او کله یې چې وکتل نو ګنګا دد رننبت په خاطر دښه راغلاست له پاره خپل ځان ټیټ کړ اوبیا یې په خپل خواږه اواز سره د حقیقت نه ډک الفاظ دملغلرو په څیر خپاره کړل اوویې ویل:

زه تاته دې مانۍ ته په راتلو سره مباکي وایم. ما ستا له پاره خوراک راوړې دې ، زه هیله لرم چې ته به پخوانې خفګانونه او نارضایتونه یوه اړخ ته کړې ، ځکه چې شیرشاه سورې زه تاته د یوې وینځې په څیر درکړې یم اوددې نه اخوا تا زما د سویمبر په ګټلو سره هم زما د ترلاسه کولو حق ثابت کړې دې.

خواص خان تر یوه وخته پورې شهزداګۍ ګنګا ته په ډیر غور او دقت سره کتل . خو شهزادګۍ د خوراک لوښې په خپلو لاسو کې نیولې و اوهملته ځای په ځای ولاړه وه. دلږځنډ وروسته د خواص خان دقهر او غصې نه ډک اواز را پورته شو او ویې ویل:

ګوره ګنګا ! ایا ته ما د یوه تور ، له منځه تللې او پخوا ای چینجووهلې لرګې په څیر انسان ګڼې ،کوم چې هرې لورې ته وغواړې و ځرخوې. واوره !زما له تاسره هیڅ ډول اړیکې نه شته ، همدا اوس او په همدې شیبه کې زما دخونې څخه بیرون شه. اوکه په راتلونکې کې دې زما له پاره د خوړو د راوړو هڅه وکړه اویا زما خونې ته دې د راننوتلو هڅه وکړه نو یاد ساته چې زه به تا ډیره بې عزته کړم ، ستا ښکینه په همدې کې ده چې تر هغې چې ته د اوما سره یو ځای دلته اوسیدل غواړې په پټه خوله و اوسیږې اوکله چې هم دد ې مانۍ څخه تلل غواړې نو هیڅوک به هم ستا لاره و نه نیسي، بس ، زه دد ې نه اخوا نور څه درته نه وایم.

دخواص خان دد ې خبرو څخه داسې بریښیده چې د شهزادګۍ بې چاره پښې د زمکې څخه ښویدلې دي ، هغه دومره مړژواندې شوه چې پښو یې حرکت نه شو کولای ،دهغې ددې حالت په کتلو سره ورته خواص خان یوځل بیا وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره ګنګا ! ته اوس زما له پاره يو تياره ښارګوټي ، د ګرد او غبار نه ډکه شپه او د خيرن زړه د افق په څير ګرزيدلې يې . يو وخت ته ماته زما د غوښتنو سمندروې ، خو اوس ته ماته زما د غوښتنو دعذاب څخه هم بدتره يې . ورځه او په آينده کې د ې لورې ته د راتلو هڅه مه کوه .

دخواص خان په دې خبرو شهزاداګۍ بې چاره د غمژنو لمحو قصه او د تيرو شوو وختو د ويجاړو په څير و ګرزيدله . دهغې د وصل ګمان د هجر او بيلتون په يقين بدل شوې و . تر لږه وخته پورې هغه بې چاره چپ چاپ په درانه خوب ويده او د منجمد و ساعتو په څير ولاړه وه ، دهغې دحالت څخه داسې بريښيده لکه چې دهغې د بدن څخه د عمر تپ وتلې وي اويا پرې چا دهغې ساه اخستل بند کړې وي ، په خپل ځاې ولاړې شهزداګۍ تر يوه وخته پورې خپلې شونډې چيچلې ،دهغې سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې وې اوبيا يې د سترګو څخه د اوښکو سيلاب را روان شو ،ددې نه وروسته هغه په ډيره بيړه را وګرزيده او د خوراک سامان يې له ځانه سره را واخست او په منډه د هغه ځايه را ووتله .

هغه بيرته هغې خونې ته ور ننوتله چې اوما يې ورته په کې په ډيره بې صبرۍ سره انتظار کاوه ، شهزادګۍ ګنګا ، د خوراک لوښې يو ې لورې ته کيښودل اوبيا په يوه ځاې کې کيناسته او دکوچنيانو په څير يې په ژړا لاس پورې کړ ، په چغو چغو يې وژړل ، اوما ور مخته شوه او دهغې سره ور غاړې وتله او ورڅخه يې وپوښتل چې ګنګا خورې ! څه در پيښ شوي دي ، ايا خواص يو ځل بيا له تاسره بدتميزي کړې ده ، دهغې په دې خبره ګنګا خپل ځان سنبال کړ اوپه ژړغونې اواز سره يې وويل چې:

اوما خورجانې ! خواص خان زه را وشړلم ، ماته يې سپکې سپورې وويلې اودخپلې خونې څخه يې راته د تللو حکم وکړ . اوما ! دخواص خان د کرکې په اساس خو اوس زه دخپل ځان له پاره هم سراب ګرزيدلې يم ،اوس زه بې حسه او خالي لاس اودهغه ډال په څير يم چې نه شاخونه لرې او نه لمن ، اوما دخواص خان پرته زه د توری تيارې شپې دهغه توپان په څير ګرزيږم چې په مقدر کې يې غم او له منځه تلل ليکل شوي دي . اوما خورجانې !ما خو خواص خان د کلونو کلونو د پانګې قطره قطره ګټلې او محبت مې ورسره کړې دې ، خورجانې ! زه خو خپل محبت او مينې د مار په څير چيچلې يم . خو اوس هم زما په زړه کې دخواص خان محبت د بې لمسه ځيرې په څير روان دې . خو اوما خورجانې !داسې بريښي چې د خواص خان سره زما د محبت لمر نور په ډوبيدو دې . ويريږم ، او زړه مې لړزيږي چې دخواص خان پرته اودهغه په بيلتون کې به د پيرېو په څير دا اوږدې شپې او دکلونو په څير دا ورځې به څه ډول تيروم .

د شهزادګۍ ګنګا د دې خبرو په ځواب کې اوما تر څو لمحو پورې چپه ناسته وه ،بيا د يوه هوډ سره راپورته شوه او ويې ويل چې: ګنګا خورې ! سمدستې راپورته شه ،مونږ دواړه خوينديې به همدا اوس اوپه همدې ګړۍ کې د هغه زيارت په لور ورځو ، که چيرې خواص خان ته را شړلې يې نو دهغه د ترلاسه کولو له پاره به مونږ هغه لاره نيسو چې پخوا مو پرې خبرې کړې دي . د اوما په دې خبرو باندې شهزادګۍ ګنګا په ډيره عجيبه توګه د هغې لورې ته وکتل ، لږ څه مسکۍ شوه اوبيا يې ورته وويل چې: را پورته شه خورجانې ! زه تاته ډاډ درکوم چې اخر به بريا زمونږ په برخه کيږي ، ددې خبرې سره سم دواړو خپل سامانونه را ټول کړل او دخپلې خونې څخه را ووتلې .

۳۲

بله ورځ چې خواص خان دخپلې خونې څخه را ووت نو دماښې نه بيرون ساتونکې ورته را نژدې شو او ورته يې وويل چې : امير خواص خانه !دلته په ماڼۍ کې اوسيدونکې شهزاداګۍ ګنګا او دهغې اوما دواړه دشپې وختي ددې ځايه څخه ووتلې ، ته هغه وخت ويده وې اومونږ نه غوښتل تا دخوبه بيدار کړو نو ځکه مو خبر درنکړاې شو ، خواص خان دهغه خبره په ډيره بې پروايي سره واخستله اوبيا يې ترې وپوښتل چې هغوې چيرې ولاړې ؟ ساتونکې ورته وويل چې : کله چې هغوې د ماڼۍ څخه ووتلې نو ماترې وپوښتل چې هغوې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې شپه کې چیرې ځي ؟ شهزادګۍ ګنګا راته وویل چې هغه له اوما سره یو ځای دیوه دوست او خپلوان کورته ورځي، نوپه دې خاطر یې ما لاره و نه نیوله اوهغوې دواړه ولاړې. خواص خان ورته وویل چې ډیرښه شول چې تا دهغوې لاره نه ده بنده کړې ،ددې خبرې سره سم خواص خان د ساتونکې خبرته دکوم اهمیت د ورکولو پرته د آسونو د تبیلې خواته ورغې.

## ۳۳

شهزادګۍ ګنګا او دهغې اوما دواړو هملته درهتاس دښارد (ودهوا اشرم ) د زیارت په لنګرځای کې ځانته د اوسیدو ځایونه پیدا کړي و او هملته اوسیدې. دواړو په همغه دویمه ورځ په خپل فعالیت پیل وکړ اود دې لنګرخانې دنورو کونډو ښځو سره یو ځای یې درهتاس په ښار کې د خیر خیرات غوښتل پیل کړي و . هغوې نورې ښځې هم له ځانه سره راواخستې ا و د خواص خان دحویلۍ په لور یې د سوال کولو له پاره له ځانه سره راوړې. خو په دې ورځ هغوې د خواص خان سره و نه شو کتلای. هغوې د ماڼۍ نه بیرون د سوال کولو له پاره غږ پورته کړ ، ساتونکو لږ څه ورکړل او دهغې ځایه یې بیرته لرې کړې. په همدې توګه به هره ورځ شهزادګۍ ګنګا او دهغې اوما د نورو کونډو ښځو سره یو ځای ددې ماڼۍ شاوخوا دخیر خیرات دغوښتلو په بهانه چکر واهه. خو ددوې به دخواص خان سره لیده کاته نه کیدل او همغه پهره دارانو به لږ څه ورکول اودوې به بیرته ناکامه او نا مراده ستنیدې.

یوه ورځ هغه وخت چې شهزادګۍ ګنګا اودهغې اوما د نورو کونډو سره یو ځای دخواص خان حویلۍ ته راغلې نو اوما وکتل چې خواص خان په خپل آس سپور او د آسونو دتبیلې څخه بیرون را وتلې اوتر بیرونۍ دروازې پورې را رسیدلې دې. دهغه د لیدلو سره سم یې تر خپل څنګ روانې شهزادګۍ ته مخ کړ او ورته یې وویل چې: زما خورې ! داسې بریښې چې ستا برخلیک را ویښ شوې دې ، وګوره هغه دې خواص خان د آسونو دتبیلې څخه په آس سپور د ماڼۍ مرکزي دروازې ته را روان دې ، ته په منډه دروازې ته ولاړه شه او دخیرغوښتلو له پاره غږ وکړه. داوما په دې خبره ګنګا خوشحاله شوه خو اوما ته یې هیڅ ځواب ورنه کړ ، ډیره په چټکۍ سره مخته ورغله ، اوما هم د نورو کونډو سره یو ځای دهغې تر شا په بیړه هغه لورې ته ور روانه وه. اوما او ګنګا دواړو د نورو خیر غوښتونکو کونډو ښځو په څیر سپین کالي په غاړه کړي و ، یوائنې توپیر یې داو چې ډیره کئ ښځو کومه ځانګړې پرده نه درلوده مګر دوې دخپل ځان تر څنګ خپل مخونه هم را نغاړلي و. دوې دواړو په خپلو مخونو باندې سپین نقاب راخپور کړې و ، اوما د نورو ښځو تر منځ پاتې شوه خو ګنګا مخته راغله او دخواص خان د حویلۍ په دروازه کې و دریده او دخیر غوښتلو غږ یې وکړ. دآسونو د تبیلې څخه را روان خواص خان دهغې دا غږ هم اوریدلې و ، تر دې دمه نورې ښځې هم هلته ور ورسیدې اوهغوې هم د شاوخوا کورونو څخه د خیر غوښتلو اوازونه پورته کول.

د لمړنۍ غږ وروسته چې کله ګنګا دخیر غوښتنو له پاره دویم ځل خپل اواز پورته کړ نو هغه وخت خواص خان مرکزي دروازې ته را رسیدلې و ، دګنګا په لور په کتلو سره هغه دخپله آسه را ښکته شو اوپه ډیره نرمه او مینه ناکه توګه یې د ګنګا څخه وپوښتل چې: ته څوک یې او ولې خیر غواړې ؟ اودا چې ستا په څیر په لباس کې را نغاړلې نورې ښځې خیر غواړي هغوې څوک دي ؟ دهغه دخبرو په ځواب کې ورته ګنګا وویل چې: مونږ ټول د هغه زیارت د لنګر اوسیدونکي یو ،ځکه چې هغه د کونډو ښځو د اوسیدو او پناه ځای دې ، دا کونډې ټولې هملته اوسیږي ، او هره ورځ دخیر غوښتنو له پاره بیرون راوځي او په دې توګه خپل ژوند سبا کوي ، دخیر غوښتل زمونږ د کونډو ورځنې ژوند دې. دهغې په دې خبرو ترې خواص خان په یوه ډول مرغوبیت او پلټنې سره و پوښتل چې:

ته خو همدا اوس دخپل اواز او دخپل جسماني جوړښت څخه ځوانه معلومیږې ، نو ته څنګه کونډه شوې یې او چا کونډه کړې یې ؟ ګنګا ورته وویل چې زما نوم ګیتا دې ، داسې وګڼه چې د غمونو ګیتا ، زما مور اوپلار مړه شوي دي او دیوه کس سره زما کوژده وشوه ، لا تر اوسه پورې زما رخصتي نه وه شوې چې هغه زه پریښودم ، هغه ډیر بدمعاش او اوباشه انسان و ، د کوڅه ډبو نجونو سره به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرزیده را ګرزیده نو په دې خاطر ما هم د هغه سره د یوځاې ژوند د تیرولو څخه انکار وکړ. څرنګه چې زما هیڅ بل د اوسیدو ځاې نه و نو دلته مې په دې لنګرخانې کې د پناه غوښتنه وکړه ، بس اوس خیر خیرات غواړم اوخپل ژوند پرې سبا کوم. ددې سره سم د غمنواو مصیبتونو په اساس د ګنګا بې چاره په سترګو کې اوښکې راغلې ، هغه نقاب یې چې په مخ را خپور کړې و په اوښکو لوند خیشت شو ، د هغې د حالت په کتلو سره خواص خان ویلې ویلې شو .

تر لږ ځنډه پورې خواص خان همغلته خاموشه ولاړ و خوبیا یې په ډیره مینه ترې وپوښتل چې : ایا تاته کوم تکلیف دې اویا دې هلته په لنګر ځاې کې څوک تنګوی؟ ګنګا ورته په ژړغوني اواز کې وویل چې : غم خو زمونږ د کونډو مقدر ګرزیدلې دې. څرنګه چې زه اوس هم ډیره ځوانه او تنکۍ یم نو په دې خاطر هر څوک راته په غلطو سترګو ویني ، زما د ژړا علت د کوم چا له اړخه د تکلیف ، غم او یا ګوابښ د راپیدا کیدو په خاطر نه دې، بلکه ستا د دغو دوو درې خوږو جملو په ویلو سره زما زړه ویلې شو او ما ته ژړا راغله، تر اوسه هیچا له ما څخه د همدردۍ په توګه نه دې پوښتلې چې نوم دې څه دې ؟ ته څنګه دلته لنګر ځاې ته راغلې یې اویا پر تا څه تیر شوي دي ؟ د ګنګا په دې خبرو سره خواص خان ډیر زیات اغیزمن شو ، ان تر دې چې تر ډیره یې خپل څټ ټیټ کړې و اوبیا یې وویل :

ګیتا ! که زه تاته یو څه ووایم نو ته به یې ومنې ، ګنګا ورته سمد ستي وویل چې : حتما یې منم ، ولی به یې نه منم. ته وایه ما ته څه ویل غواړې. ددې خبرې سره سم خواص خان د خپلو کالیو څخه څو سیکې را وویستلې او د ګنګا په لور یې لاس ور وغځاوه ، ګنګا د خپل اړخ د څپتې پلو ورته را واړاوه او خواص خان په هغې کې دغه سیکې ور واچولې. بیا ورته خواص خان وویلې چې : ګوره ګیتا ! ته به سبا همدا وخت دلته د دروازې ته راشې او د خیر غوښتلو غږ به وکړې زه به ستا انتظار کوم ، زه به دومره څه در کړم چې ته پرې خپل ژوند په ښه توګه سبا کړې.

اوس ته ورځه. ستا نورې خیر غوښتونکې ملګرې در څخه لرې ولاړې هسې نه چې ځانته پاته شې. ددې خبرې سره سم خواص خان په خپل آس سپور شو. د خواص خان سره د خبرو نه ګنګا ډیره ډاډمنه او خوشحاله وه ، بیا بیرته ستنه شوه او په ډیرې بیړې سره د نورو ښځو سره یو ځاې شوه ، خواص خان هم په خپل آس سپور او په کومې لارې ولاړ.

کله چې ګنګا د نورو کونډو تر څنګ را ورسیده نو اوما په ډیره بیړه ور وړاندې شوه او ترې ویې پوښتل چې : ګنګا جانې ! ته ډیره بختوره وې چې نن دې د خواص خان سره وکتل ، تا له هغه سره څه وویل : ګنګا ورته په ډیره پټه توګه ټوله قصه وکړه ، اوما د هغې په خبرو باندې ډیره خوشحاله شوه اوبیا یې ورته وویل: ګنګا خورې ! داسې برینښې چې ستا د برخلیک او ستا د نیک بختۍ ټولې دروازې پرانستل کیږي او هغه مقصد او منزل چې دې د شهزادګۍ په توګه نه شو تر لاسه کولې اوس یې د یوې نقاب پوښته پیغلې په توګه تر لاسه کوې. څرنګه چې خواص خان ته سبا بیا را بللې یې نو ته به سبا خامخا په همغه وخت راځې ،بیا به زه ووینم چې هغه تاته څه ویل غواړي. ددې خبرو وروسته دواړه چپه خوله روانې شوې او د نورو کونډو سره یو ځاې د خپل لنګر ځاې په لور مخته ورتللې.

بله ورځ ، د تیرې ورځې په څیر ، ګنګا په خپل وخت خیرخیرات غوښتنې له پاره د خواص خان د حویلۍ دروازې ته روغله او د خیر غوښتو اواز یې وکړ. د هغې د لمړي غږ سره سم خواص خان د خپل میلمستون څخه نژدې په منډه منډه راغې او د ګنګا په لور په کتلو سره یې وویل ، ګیتا ! ما هلته په میلمستون کې په ډیره بې صبرانه توګه ستا انتظار کاوه ، د هغه په دې خبره ګنګا په ډیره مړژواندې توګه وویل چې : تا په همدې وخت کې را بللې وم ،نو دادې زه راغلم. خواص خان تر لږه وخته پورې هغې ته په ډیر غور سره وکتل ، همغه پروني لباس د هغې په تن و ،بلکل سپین د شیدو په څیر کالي ، هغې د همدې کالیو په واسطه خپل جسم او خپل مخ را نغاړلې و ، د تیرې ورځې په څیر نورې کونډې هم د شاوخوا کورنو ته د خیر غوښتنې له پاره ورغلې وې. د خواص خان په خاموشه پاته کیدو سره ګنګا ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په راغوښتلو زه دادې راغلی یم ،خو زما ځخه یوه بې عقلي شوې ده ، چې پرون ما له تاسره ډیرې خبرې وکړې خو ما ستا ځخه ستا نوم ونه پوښته ،دهغې په دې خبره خواص خان ورته مسکې شو او ویې ویل چې ګیتا ! زما نوم خواص خان دې او د شیرشاه سوری دلښکرو ستر سالار یم ، ګوره ګیتا ! ما ته پرون دد ې له پاره را بللې وې چې ما ستا له پاره څه شیان اخستې دي،که چیرې ته یې بده و نه ګڼې،نو هغه د خپله ځانه سره یوسه او د خپلو اړتیاو له پاره یې وکاروه. ګنګا ترې سمدستې وپوښتل چې: څه ډول شیان دې مهاراجه ! خواص خان ځواب ورکړ ،کوم خاص څه نه دي بلکه ستا د ژوندانه دورځني اړتیاو دپوره کولو له پاره دي ،که ته یې بد ه نه ګڼې نو ولاړه شه او زما په میلمستون کې کینه ،خو که چیرې ته نه غواړې زما حویلۍ ته ورننوځې نو زه به ټول شیان دلته را وغواړم ،ګنګا بې چاره په ډیره بې وسۍ اویو ډول مړژواندې اواز کې وویل چې: ګوره مهاراجه !دننه په تللو کې کومه ستونزه نه شته ځکه ته ما ته د شکل او صورت له اړخه ډیره شریف النفسه انسان ښکارې ،خو زه له تا سره حویلۍ ته دننه ولاړه شم او هلته په میلمستون کې کینم نو زما سره د راغلیو کونډو ته به شک پیدا شي چې زه د څه له پاره حویلۍ ته تللې وم ،هغوې به زما په کرچار باندې هم شکمنې شي او زما په اړه به ډول ډول خبرې پیل کړي او ستا په نامه به ما خلک بدنامه کړي ، دهغې په دې خبره خواص خان ورته سمدستې وویل چې نه ، هرګز نه ، ته همدلته اوسه ، زه تا همدلته پریږدم ، ما ته ستا عزت تر هر څه زیات معتبر دې. په حقیقت کې چې پرون تا ماته خپله کومه زړه ماتې قصه وکړه، هغې پرما ډیر زیات اغیز وکړ ، ته همدلته ولاړه اوسه ،کوم شیان مې چې ستا له پاره راوړي دي هغه به درته همدلته را وغواړم، ددې خبرې سره خواص خان خپل یوه ساتونکې ته ورغږ کړ، هغه په منډه منډه راغې ، خواص خان ورته وویل چې:
دننه حویلۍ ته ولاړ شه ، هلته چې څومره ساتونکې دي ټولو ته ووایه چې دلته مرکزي دروازې کې راټول شي. او هغه بوجۍ چې هلته په میلمستون کې پرته د ه هغه هم له ځانه سره ماته راوړه ، هو ! اول هغه بوجۍ راوړه بیا ساتونکو ته ووایه چې دلته راټول شي . هغه ساتونکې منډه کړه او دمیلمستون ځخه یې هغه بوجۍ راواخسته او خواص خان ته یې را ورسوله ، خواص خان هغه راپورته کړه اودګنګا په لور یې ور اوږده کړه او ورته یې وویل چې: د رواخله یې. په دې بوجۍ کې ستا د وړتیا وړ سامانونه دي ، ګنګا ورته وویل چې ایا زه دا پرانستې شم تر څو ووینم چې په دې کې څه شیان دي. خواص خان ورته وویل چې: هو ته دا کتلې شې ، ګنګا په دا سې حال کې په زمکه کیناسته چې د خواص خان په لور یې شا را اړولې وه ، هغه بوجۍ یې پرانسته ، ویې کتل چې په هغې کې ډیر زیات قیمتي کالي دي ، دسرو زرو اوسپینو زرو بنګړي او ګوتې په کې دي او دښایست او زینت هر ډول سامانونه په کې پراته دي. ګنګا دا بوجۍ همدا سې پرانستې په زمکه پریښوده اوبیا یې دخواص خان په لور په کتلو سره وویل چې:
تاخو پر ما دومره بوج را بار کړې دې چې زه یې دپورته کولو جوګه نه یم. تر هغوې چې دکالیو پورې اړه لري زه به هغه له ځانه سره یوسم او هلته په لنګرځاې کې به یې استعمالوم. د سپینو زرو بنګړي به هم زه له ځانه سره یوسم. خو د سرو زرو بنګړي له ځانه سره نه شم وړې ، خواص خان ترې سمدستې وپوښتل چې: هغه ولې ؟ګنګا بې چاره په لړزیدلي او ژړغوني اواز سره وویل چې: مهاراجه ! زه په خپل کور کې نه بلکه د زیارت په لنګر خانې کې اوسم . او هلته د غل غدو ویره هم شته ، نو کله چې زه دومره قیمتي شیانو استعمالوم نو په دې به هم هغه خلک زما په اړه ډول ډول خبرې کوي او وایې به چې معلوم نه ده چې زه دخیر غوښتلو په وخت کې د کومو خلکو ځایو ته ورځم. د سپینوزرو بنګړي د زغم وړ دي ځکه زیاتې کونډې یې په لاسو کې اچوي ، د کالیو ځخه به هم زه څه ډیرې ساده شانته جامې له ځانه سره واخلم خو کوم چې ډیر قیمتي دی هغه له ځانه سره نه شم وړلې ، په حقیقت کې زما دا ستان د غمونو نه ډک دې ، زه د خپل ذات اونامه سره نور الزامات نه شم اخستلاې. په ځواب کې یې خواص خان غوښتل څه ووایې چې دحویلۍ ټول ساتونکې هلته را ټول شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خان هغوي ټولو ته وويل چې : دې کونډې ته په غور سره ووينئ ، کله چې هم دا دلته زما دحويلۍ دروازې ته راشي اود خير غوښتلو اواز وکړي نوخالي لاس يې مه ليږئ ،که چيرې زه په خپله په حويلۍ کې وم نو زه به په خپله هغې ته يو څه ورکوم اوکه په حويلۍ کې نه وم اودې اواز وکړي نو واورئ چې: دا به خالي نه پريږدئ. که چيرې داسې مو وکړل نو ستاسو څخه به يو هم و نه بښم.

بله خبره داده چې داکونډه چې د رهتاس د زيارت په لنګر خانې کې اوسيږي که کله هم دکوم فرياد سره دلته راشي او يا ورته کومه ستونزه پيدا شي اويا د چا پر خلاف کوم شکايت وکړي نو په همغه وخت کې يې شکايت رفعه او اړتياوې پوره کړئ ،په دې کار کې به لږ څه ځنډون هم نه کوئ، ددې کونډې نوم ګيتا دې ،دا ډيره محتاجه ده ، اوس تاسې ټول ورځئ ، اوپه خپلو خپلو کارونوکې مصروف شئ ، ددې حکم سره سم ټول ساتونکې دهغه ځايه ولاړل ، خواص خان يو ځل بيا ګنګا ته وويل چې :

ګيتا !ددې بوجۍ څخه چې هر شې ستا خوښه يې او له ځانه سره يې وړل غواړې جدا يې کړه او له ځانه سره يوسه يې. پاته شيان به دلته په حويلۍ کې ستا د امانت په څير ايښې وي ، کله چې هم ورته احتياج پيدا کړې نو يا يې له ماڅخه اويا که زه نه اوسم نو د کوم ساتونکې څخه يې وغواړه. زه به هغوې ته په دې اړه تفصيلي خبره وکړم. ګنګا ترې سمدستي وپوښتل چې: مهاراجه ! ايا ته کومې لورې ته ځې؟ دهغې په دې خبره خواص خان په خندا کې وويل چې: ګوره ګيتا ! ماتاته پخوا هم ويلي دي چې زه د شيرشاه سوري دلښکر ستر سالار يم ، د تيرې په څير خو په يوه ځاې کې نه شم پريوتلې ، زه نن دلته يم ، کيداې شي سبا بلې کومې لورې ته ولاړشم. کوم محاذ ته د جنګ په لور ولاړ شم. هسې هم کيداې شي چې څو ورځې وروسته زه ددې ځايه کوچ وکړم. دا چې زه به کومې لورې ته ولاړ شم را ته معلومه نه ده او نه زه اوس تاته په دې اړه څه ويلې شم ، په هر صورت زه به ساتونکو ته ووايم چې هر کله چې ستا دکوم شي له پاره اړتيا وي ، دلته حويلۍ ته راځه نو تا ته به ستا د اړتيا وړ هر شې تر لاسه کيږي. اوس ته ولاړه شه. ستا نورې ملګرې ښځې به تاته انتظار کوي.

ګنګا د اړتيا وړ شيان له ځانه سره واخستل ، او نور شيان يې هملته پريښول اودهغه ځايه ولاړه ، خواص خان تر لږه وخته پورې همل‍ته په دروازې کې ولاړ و ، ګنګابه هم بيا بيا شاته راکتل ، دهغې په دې کار باندې خواص خان هم خندوني اومسکې ولاړ و ،کله چې ګنګا ولاړه او دنورو کونډو ښځو سره يو ځاې شوه نوبيا هغه پاته سامان خواص خان له ځانه سره واخست او دننه حويلۍ ته ولاړ.

## ۳۴

هغه وخت چې شيرشاه سوري اوخواص خان د بنګال مرکزي ښار ګوډ خالي کړ نو همغه وخت (۱۵۳۸زکال د جولاې مياشت کې ) همايون دبنګال دې ښار ته ورننوت. هلته د ګوډ په ښار کې همايون تر ټولو لمړۍ کار دا وکړ چې دښار د بيا جوړولو اوپاکيدو حکم يې وکړ تر څو د جنګ د تباهيو ټولې نښې نښانې له منځه ولاړې شي. افيون خوړونکې همايون ته د ګوډ ښار دومره ښايسته ښکاره شو چې ددې ښار نوم يې بدل کړ او د جنت اباد په نامه يې و نوماوه. هغه هلته دخپلو تم کيدو په وخت کې دبنګال ولايت دخپلو اميرانو او سالارانو په منځ کې وويشه ، هغه هلته نژدې نهه مياشتې په ډير عيش اوعشرت کې تيرې کړې او داسې به په نشې کې ډوب و چې په مياشتو به يې هم دخلکو سره دکتلو فرصت نه شو تر لاسه کولې.

شيرشاه سوري همل‍ته درهتاس په کلا کې اډانه اچولې وه. کله چې هغه وکتل چې همايون دخپل فوځ سره يو ځاې هلته د بنګال د ښار په ګوډ کې تم شوې دې او همل‍ته يې د اوږدې مودې د تيرولو هوډ کړې دې نو هغه د همايون په ولکه شوو سيمو باندې د بيرته ولکې کولو له پاره پلان جوړ کړ. هغه دبرسات په موسم کې د رهتاس او سهسرام اونور کلا ګانو څخه د فوځونو د برتې کولو له پاره کار پيل کړ، هغه په خپل ځواک او فوځ کې ډير زيات ډيرښت راوست ، دبرسات د موسم د پاې ته درسيدو سره سم هغه خپل فوځونه همل‍ته درهتاس د کلا تر مخ را ټول کړل تر څو دهمايون پر خلاف عسکري عمليات پيل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مغلو په خلاف د عملیاتو د پیل کیدو له پاره شیرشاه سوري خپل لښکر په دوو برخو باندې وویشه ، یوه برخه یې دخواص خان تر قومندې لاندې پرېښوده ، په داسې حال کې چې هیبت خان نیازي ، جلال خان جالو او سرمست خان سرواني یې د خواص خان معاونین و ټاکل ، د فوځ بله برخه شیرشاه سوري دخپله ځانه سره وساتله او دخپلو زامنو نه علاوه یې حاجي خان پټني ، اوبرهم جیت هم له ځانه سره واخستل. شیرشاه سوري خواص خان ته دا کار وسپاره چې هغه به د ټول بهار دڅارنې مسؤلیت په غاړه لري. خو هغه به پخپله دهمایون په سلطنت باندې یرغل وروړي ، داخبرونه به خامخا هلته ګوډ کې پروت همایون ته ور رسیږي ،نو همایون به سمدستي دخپل لښکر سره یوځای د ګوډ دښار څخه رابیرون شي اودبهار دلارې به دشیرشاه سوري سره د ټکر دکولو هڅه وکړي ، شیرشاه سوري غوښتل چې په بهار کې خواص خان دخپل لښکر سره یوځای دهمایون سره ټکر وکړي اودهغه لاره ونیسي او پری یې نږدې چې دشیرشاه سوری په لور ور مخته شي. په دې ترتیب به شیرشاه سوري ته دهمایون په سیمو باندې د ولکې کولو فرصت تر لاسه شي اودا ډیر غوره پلان و چې شیرشاه سوری د همایون د ماتولو له پاره جوړ کړي و.

ددې ټول پلان د جوړولو نه وروسته شیرشاه سوری د همایون د سیمو د ولکې کولو له پاره ورووت. په همدې وخت کې خواص خان هم د همایون د خطر څخه د مخنیوی په خاطر د رهتاس د کلا څخه کوچ وکړ.

د رهتاس د کلا څخه د وتلو وروسته شیرشاه سوری د بحر د سطحې د لوړزانده امواجو په نڅا کې دهمایون د سیمو په لور ور مخته شو او هر هغه ځواک به یې چې مخې ته راته هغه به یې د مخې سره لکه د سیلاب په څیر له منځه یوړ.

شیرشاه سوری دخپل لښکر سره یو ځای تر ټولو لمړی د بنارس په لور مخه وکړه ، که څه هم تر دې وخته پورې د شیرشاه سوری ټینګه او قوي دچنار کلاد همایون د لښکرو په واک کې وه . خو په دې چنار کلا باندې مغلو ډیره ځواکمنه ولکه کړې وه. دچنار دکلا د محاصره کولو سره سم ، شیرشاه سوري نه غوښتل خپل ډیر وخت په محاصرې باندې له لاسه ورکړي ، په دې اساس یې فکر کاوه چې که د چنار د کلا تر څنګ اوشاوخوا نورې سیمې د مغلو د ولکې څخه بیرون کړي نو دچنار کلا به په خپله دهغه په منګولو کې پریوزي. هغه دهمدې فکر په اساس د چنار کلا دلمړی حملې څخه شاته پرېښوده اودبنارس په لور و خوزید.

بنارس په دې ورځو کې د مغلو د ځواک ځانګړې مرکزو . هغوې ددې ښار ددفاع له پاره یو ځواکمن لښکر هم ځای په ځای کړی و . خو دمغلو دا ځواک دشیرشاه سوري دیرغل په مقابل کې تم نه شو ، شیرشاه سوري په بنارس باندې داسې یرغل وروست چې دمغلو موجود لښکر یې د ډیرې بدې ماتې سره مخ کړ. په دې ترتیب شیرشاه سوری په بنارس باندې ولکه وکړه ، دهغه ځای مغلی والي میرفضلي یې د جنګ په وخت کې وواژه ،دهغه تر قومندې لاندې چې دمغلو څومره لښکر و هغه یې ټول له تیغه تیر کړ، په بنارس د ولکې کولو او په هغه ځای باندې دخپل ځواک د ټینګولو نه وروسته شیرشاه سوری دجونپور په لور مخه کړه ، جونپور یې محاصره کړ ، دلته دهمایون د اړخه بابا بیګ جالیر چې دجونپور حاکم و او ددې ځای دجنګې کلا د ساتنې له پاره یې هم ډیره ښه انتظام درلود ،د شیرشاه سوري سره کلکه مقابله وکړه. په همدې وخت کې د جونپور د لښکرو د کومک له پاره د بهرایج څخه هم فوځ را ورسید. بهرایج په «اوده» کې یو مشهور ځای دې چې د فیض اباد څخه اویا میله شمال لورې ته پروت دې ،کله چې د جونپور ته د بهرایج څخه د مغلو ځواکونو ته فوځې کومک او خوارکې توکې را ورسیدل نو د جونپور محاصره اوږده شوه. شیرشاه سورې ددې حالت په کتلو سره لږ څه اندېښمند شو ،په دې خاطر یې دخواص خان په لور قاصد و استوه تر څو هغه د خپل لښکر سره یو ځای په بهرایج باندې یرغل یوسي. ترڅو دهغه ځایه نور نوي فوځونه د جونپور د کومک له پاره را نشي. دشیرشاه سوری دحکم د ورسیدو سره سم خواص خان په پوره میړانې سره د بهرایج په لور وروخوزید اودشپې په تیاره کې یې په دې سیمې باندې حمله وکړه ، او هلته میشت د مغلو لښکر یې لکه د بارودو د دود په څیر د خپلې مخې څخه لرې کړ. او په بهرایج باندې یې ولکه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې شیرشاه سوري وکتل چې د جونپور محاصره اوږدیږي او دجونپور مغلي فوځونو ته دیوې لورې او بلې لورې بسپنه ور رسیږي، نو هغه د دې محاصرې د پاې ته رسید و له پاره انتظار کول بې ځایه وګڼل ، هغه د جونپور نه اخوا د قنوح په سیمه کې چې هر څه وو هغه یې په خپله ولکه کې واخستل.

دجونپور د سیمې تر جنګ پورې چې دهمایون هر یو والي یا دجنګ کولو هڅه کړې اویا یې د مزاحمت کولو له پاره پیښې را بړ وهلې وی هغوې ټول د شیرشاه سوری له اړخه له منځه یوړل شول، اویا هغوې په خپله خپلې سیمې پرېښودې او دهغو څخه یې پښې په تیښته سپکې کړې. که څه هم په ځینو ځینو ځایو کې د مغلو جنرالانو پوره پوره مقابله وکړه خو د محاصرې په واسطه به هغوې خامخا د ناکامی سره مخکیدل. په دې ترتیب شیرشاه سوری دجونپور نه علاوه په شاوخوا نورې ټولې سیمې باندې خپله ولکه کلکه کړه.

شیرشاه سورې د قنوج په سیمه کې د غارت او چور کولو مخه و نیوله اوهلته یې د یوه خپلواک پادشاه په څیر عمل وکړ، په هره سیمه کې یې خپل افسران و ټاکل او دهمغوې په واسطه یې د مني او ژمې د فصلونو د حاصلاتو محصول تر لاسه کاوه.

په دې ټولو جنګونو کې د حیرانولو خبره داوه چې شیرشاه سوري هیڅ ښار ګوټې تباه او برباد نه کړ ، هغه خپلو لښکریانو ته په کلکه حکم کړې و چې دهقانانو او ښاریانو ته هیڅ ډول زیان ور ونه رسیږي. دشیرشاه سوري قهر او غصه تر مغلو پورې وه ، هغه د دهقانانو اوښاریانو سره څه سرو کار نه درلود ، ځکه دې خلکو په زور او جبر سره د مغلو اطاعت منلې و. شیرشاه سوري به ویل چې دهقانان بې قصوره دي ،ځکه هغوې د واکمنو اطاعت کوي.

خواص خان د بهار په سیمه کې خپریده او ځارنه یې کوله چې که چیرې د بنګال څخه کوم لښکر په شیرشاه سوری د حملې له پاره راشي نو دهغوې لاره تم کړي ، ترڅنګ یې شیرشاه سوری هم خپلو فتوحاتو ته دوام ورکاوه، اوس نو دهغه تر مخه دوه ځایونه پاته و چې د چنار کلا او دجونپور سیمه و. شیرشاه سوري ددې ځایو د نیولو او ولکه کولو له پاره هم عسکری پلانونه جوړ کړي و.

هلته په بنګال کې چې کله همایون ته د شیرشاه سوری او خواص خان د فتوحاتو په اړه خبرونه ور ورسیدل نو هغه لمړی په دغو خبرونو باندې دومره باور ونه کړ ، خو کله چې ورته سوکه معلومات ورکړل شو او باور یې پرې راغې نو په قهر او غصې سره یې وویل چې شیرشاه سوري دداسې کولو جرءت څنګه کړې دی. په هر صورت همایون سمدستې د بنګال څخه د اګرې په لور د کوچ کولو پریکړه وکړه.

همایون ددې مقصد له پاره د خپلو سالارانو یوه غونډه راوبلله ، اوپه دې اړه یې غور وفکر وکړ چې ددې وروسته د بنګال مسؤلیت چاته پریږدي . دهمدې خبرو په جریان کې زاهد بیګ دهمایون له اړخه د بنګال حاکم و ټاکل شو. زاهد بیګ دهمایون دملکې بیګا بیګام دخور میړه و. کله چې زاهد بیګ ته په دې اړه معلومات ورکړل شو نو د زړه حمله پرې راغله او بې هوشه پریوت. اود بیرت د هوش کیدو په وخت کې یې همایون ته وویل:

ایا د شهنشاه په فکر دلته په بنګال کې زما دذبح کولو وخت را رسیدلې دې ؟ په حقیقت کې د زاهدبیګ ددې خبرې څخه مقصد داو چې همایون غواړي په خپلو لاسو هغه د مرګ کندی ته وروړغورځوي.ځکه زاهدبیګ په دې پوهیده چې د بنګال څخه د همایون د فوځ دکوچ سره سم به شیرشاه سوري اویا دهغه سپه سالار خواص خان په بنګال باندې حمله کوي اودده لښکر به ټول له منځه وړي په دې خاطر هغه نه غوښتل د بنګال د حاکم په څیر و ټاکل شي.

هغه وخت چې همایون زاهدبیګ د بنګال د حاکم په څیر را وړاندې کړ ،نو زاهدبیګ د بنګال دحاکمیت څخه انکار وکړ ، همایون د زاهدبیګ ددې کاره دومره په غصه شو نو زاهدبیګ ته یې ددې کار په خاطر دسختې سزا د ورکولو هوډ وکړ. خو ددې کار په تر سره کولو سره به حالات نور هم د ویجاړیدو په لور تللې. نو همایون د چپ پاته کیدو پریکړه وکړه. زاهدبیګ هم دهمایون ددې فکر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت په ویره کې و. هغه دهمایون ددوه سالارانو حاجي محمد او جهاندار بیګ دخپل ځان سره ملګري کړل او هغوې یې بغاوت ته را وپارول. بیا هغوې درې واړه یو ځای شول او د بنګال څخه اګرې ته وتښتیدل.

اګرې ته په وررسید و سره هغوې درې واړو د همایون وروړ مرزا هندال هم له ځانه سره ملګري کړ او ورته یې وویل چې هغه دې پخپله دخپلې پادشاهۍ اعلان وکړي، دهمایون وروړ مرزا هندال هم ددې درې کسانو د اغیز لاندې راغې.

هلته په اګره کې دهمایون یو ډیر نژدې دوست او خیر غوښتونکې شیخ بهلول حاکم و . هغه د همایون د وروړ مرزا هندال او دهغه دملګرو لخوا ووژل شو ، د زاهدبیګ په ترغیب باندې میرزا هندال هم دبغاوت بوې واخست او په دې توګه یې دخپلې پادشاهۍ اعلان وکړ. په خپل نوم یې خطبه ولوسته او جونپور ته یې چې د شیرشاه سوري له اړخه تر محاصرې لاندې و، دنورو ځواکونو د ور استولو په ځای یې د دهلي په لور کوچ وکړ او ښار یې کلابند کړ.

۳۵

بله ورځ د زیارت دلنګرځای د نورو کونډو ښځو سره یو ځای ګنګا د خواص خان د حویلۍ په لور ورغله ، هغه حویلۍ ته یو اځې ورننوته ، په داسې حال کې چې اوما اود هغې سره نورې ښځې د پخوا په څیر هملته په نژدې ځای یو کې دخیر غوښتلو په تمه ولاړې وې. ګنګا د حویلۍ دروازې ته د رارسیدو سره سم دخیر غوښتلو اواز وکړ ، دهغې په لمړي غږ څوک را معلوم نه شو خو دهغې په دویم او دریم غږ باندې دخواص خان په ځای دهغه یو ساتونکې بیرون راووت. د ساتونکې په کتلو سره ګنګا داسې وګماڼله چې شونې ده چې خواص خان به چیرې تللې وي. ددې فکر سره سم هغه داسې وګرزیده لکه د چا د هیلو او غوښتنو سپوږمۍ چې ډوبه شوې وي ، د وجود هر رګ اوریشه یې د وچیدو په درشل کې شوه ، او دبدن هډوکې یې ماتیدل. خو کله چې هغه ساتونکې را نژدې شو نو ګنګا خپل ځان سنبال کړ او دهغه څخه یې غوښتل وپوښتي چې په دې وخت کې هغه ساتونکې په خپله را وړاندې شو او څو سیکې یې دهغې په پلو کې ورواچولې ، ګنګا د نقاب لاندې خپلې سترګې هغو سیکو ته متوجه کړې او بیا یې د ساتونکې په لور وکتل او ورته یې وویل چې:

داسې څرګندیږي چې نن مهاراج خواص خان دلته په حویلۍ کې نه شته. ساتونکې ځواب ورکړ چې:

ګوره خورې ! ستا آند سهي دې ، خواص خان تیربه ورځ د خپل فوځ سره یو ځای د بهار په لور کوچ کړې دې. پخپله شیرشاه سوری هم دبنارس په لور ولاړ ، د رهتاس دکلا څخه دتللو په وخت کې شیرشاه سوري خپل لښکر په دوو برخو وویشه ، یوه برخه یې په خپله له ځانه سره دبنارس په لور یوړه او بله برخه یې دخواص تر قومندې لاندې ورکړه او هغه یې د بهار په لور ولیږه. که چیرې ستا کومه اړتیا وي نو ماته یې ووایه ، ځکه چې ستا په اړوند امیر خواص خان مونږ ته سخت تاکید کړې دې او ویلي یې دي چې دهغه په نه موجودیت کې هم تا ته کوم تکلیف یا ستونزه پیدا نه شي.

دبهار د منځنۍ برخې په لور د خواص خان د کوچ د خبر د اوریدو سره سم ګنګا بې چاره ورانه ویجاړه شوې وه. تر لږه وخته پورې هغه هملته بې هوشه شانته ولاړه وه. خو بیا یې ډیر ژر خپل فکر ځای ته راوست او د هغه ساتونکې څخه یې وپوښتل.

ګوره وروره ! ستا څخه ډیره ډیره مننه ، چې تا زما دغسې خدمت وکړ. خو ایا ته ماته ویلې شې چې مهاراج خواص خان به کله د جنګه بیرته راستون شي، دهغې په دې خبره ورته هغه ساتونکې وویل چې ګوره خورجانې ! زه په مشخصه توګه په دې اړه څه نه شم ویلې. شونې ده چې جنګ په لږ وخت کې پای ته ورسیږي او یا دوام و مومي ، نو زه به څه ډول وړاند وینه وکړم چې خواص خان به دغه یا هغه وخت بیرته حویلۍ ته راستون شي. خو خورې یوه خبره به درته وکړم چې کله چې هغه بیرته راستون شي نو زمونږ له اړخه ورته شکایت و نه کړې ، او که نه هغه به زمونږ پوستکې را وباسي. ګنګا ورته په ډیره نرمه ژبه وویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره وروره ! زه به ولې ستا سو څخه شکایت کوم ، په داسې حال کې چې د مهاراج په نه موجودیت کې هم تا سې زما د یوې خور په څیر پالنه وکړه. نو ولې به هغه ته شکایت کوم. ساتونکې ورته وویل چې: خورجانې ! ستا ډیر ممنون یم. د دې خبرو څخه وروسته ګنګا بیرته شاته ستنه شوه. د هغه ځایه په بیړه بیړه ولاړه ،اود نورو کونډو سره یو ځاې اوما تـه را غله ، اوما وکتل چې هغه ډیره اند یښمنه ، غمژنه او په فکرونو کې ډوبه ده. اوما ترې په ډیره نرمۍ سره وپوښتل چې:

ګنګا خورې ! څه خبره شوې ده ، نن ته ډیره غمژنه او اند یښمنه یې. ایا خواص خان وپیژندلې ؟ او له تا سره یې ناروا سلوک وکړ ؟ګنګا ورته وویلې چې:

اوما خورې ، هیڅ داسې خبره نه ده شوې هغه بې چاره خو هلته په حویلۍ کې هم نه و. کله چې ما دخیر غوښتو له پاره اواز وکړ نو دحویلۍ یو ساتونکې بیرون را ووت او ماته یې دا څو سیکې راکړې ،کله چې ما دهغه سره خبرې وکړې نو ما ته ډاګیزه شوه چې خواص خان دخپل لښکر دبرخې سره یو ځاې دبهار منځنیو برخو ته کوچ کړې دې ،اوشیرشاه سورې پخپله هم د خپلې برخې د لښکر سره یو ځاې د بنارس په لور ور غلې دې.

اوما یو ځل بیا د ګنګا په لور په ډیر غور اود قت سره وکتل ، بیا یې وویل چې: ښه شول چې اوس دې په غمژن کیدو او اند یښنو باندې و پوهیدم. ګوره ګنګا جانې ! ته اند یښنه مه کوه ، بس اوس به ته د ګیتا په نامه دخواص خان سره قدم په قدم ور نزدې کیږې. هیله ده چې یوه ورځ به داسې هم راشي چې خواص خان به تا د ګیتا په څیر خپله دمینې محبوبه وګرځوي ، اوکله چې مونږ ووینو چې خواص خان په رښتیا هم له تا سره د ګیتا تر نامه لاندې مینه او محبت کوي نو بیا به په کوم مناسب وخت کې ته دخپل اصلي څیرې سره د هغه تر مخه ځان را ډاګیزه کړې اوزه هیلمنه یم چې دهغه دغه مینه اومحبت به د ګیتا نه بیرته ګنګا ته ور واوړي. هغه ورځ به ستا د بریالیتوبونو او خوشحالیو ورځ وی، ګنګا ورته په مسکا سره وویل چې: بګوان دې وکړي چې همداسې هم پیښ شي. د دې خبرې سره سم هغوې د نورو کونډو سره یو ځاې مخته ولاړې

**۳۲**

دقنوج په پراخه سیمه باندې د ولکې کولو وروسته شیرشاه سوري داګرې په لور کوچ کړې و. خو کله چې هغه ته خبر ورسید چې همایون د بنګال د مرکزي ښار ګوډ څخه را وتلې او د اګرې په لور روان شوې دې نو شیرشاه سوري خپل مخکې تګ تم کړ.

خو کله چې همایون ته دخپل ورور میرزا هنډال د بغاوت او د خپل خاص سلاکار شیربهاول د وژلو خبر ور ورسید نو هغه دځنډه پرته دبنګال په لور کوچ وکړ. دا پیښه په ۱۵۳۹ زکال کې را منځته شوه. د مغلو لښکر چې هلته په بنګال کې په خپلو تمځایو کې نور د ارام کولو نه ستړې شوي و او خپل ځانونه یې درانه شمیرل ، په دې خوشحاله و چې اوس به چې کله هم د دشمن سره د ټکر کولو فرصت راځي نو دغنیمت د مالونو څخه به ښه ډیر تر لاسه کوي.

هلته په بنګال کې هیڅوک هم دې حاضر نه و چې دهغې ځاې د والي په څیر کار وکړي ، نو په د ې خاطر همایون خپل ډیر میړنې ، وفاداره او نمک حلاله سالار جهانګیر قلي د بنګال د حاکم په څیر و ټاکه ، تر څنګ یې هلته په ګوډ کې دهغه د قومندې لاندې یو لښکر هم ورکړ. خو دشیرشاه سوري د پرلپسې یرغلونو له امله همایون ډیر محتاط معلومیده ، هغه د بنګال څخه د راستنیدو په وخت کې د ګنګا د شمال د لارې دخوندي توب له پاره ډیر ښه انتظام کړې و ځکه شیرشاه سوري ددې ځایه خپل خواره واره فوځونه را ټول او د بهار په لور یې سوق کړي وو. هغه دوه ډوله اقدامات وکړل.

لمړۍ دا چې خپل ورور میرزا عسکري یې د بهاګلپور سیمې کې د کول کانګ د ولکې کولو له پاره و استاوه ، هغه ته یې ددې کار د ترسره کولو له پاره یو دروند لښکر هم ورکړ ترڅو میرزا عسکري په کول ګانګ باندې د ولکې کولو نه وروسته دشیرشاه سوري په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرونه هم تر لاسه کړي ، او دا ډاګیزه کړي چې هغه اوس چیرې دې او څه پلانونه لري. او تر څنګ یې د مونګیر څخه د په شا شوو لښکرو باندې د شیرشاه سوري یرغل ته هم ځای پاته نه شی.

همایون یو بل قدم هم واخست او هغه دا چې خپل ځانګړې باوري سلاکار خان خانان ته یې د مونګیر په لور د ورلیږلو حکم وکړ. او هغوې ته یې دا تأکید وکړ چې د همایون د لښکر د ور رسیدو پورې دې خان خانان هملته به مونګیر کې میشت وي.

د فوځي ستراتیژۍ له مخې مونګیر د ځانګړي اهمیت خاوند ه سیمه وه. او د دې سیمې د لاسه ورکولو سره ډیر زیات خطرات مخته را تلل.

لمړۍ دا چې د دې ځای د میرزا عسکری په خلاف د کول کانګ د لویو لارو څخه یرغل کول شوني و. دویم دا چې د ګنګا څخه د تیرید و په وخت کې همایون ته د بیرته را تللو په لاره کې خنډونه را پیدا کیدای شول. په دې خاطر میرزا عسکري همایون ته خبر ورکړ چې شیرشاه چې تر اوسه پورې یې د جونپور او چنار کلابندی جاري ساتلې ده او تر څنګ یې د قنوج ټوله سیمه په خپله ولکه کې اخستې ده اوبیا یې د اګرې په لور وراندې تګ کړې و، اوس خپل ټول لښکر بیرته په شا کړي ، هغه خپل ټول لښکري ځواکونه بیرته د رهتاس د کلا تر څنګ را ټولول پیل کړي دي.

د میرزا عسکري له اړخه د دې خبرو په را رسیدو سره همایون ته لږ څه ډاډ را پیدا شو ، هغه مطمئن شو چې د ګنګا په شمالي غاړه دد ښمن ځواکونه په هیڅ ځای کې شتون نه لري. نو په دې خاطر یې خپلو ځواکونو ته د وړاندې تګ حکم وکړ او د مونګیر د سیمې پورې را ورسید. اوس حالات دا سې وو چې د ګنګا په یوه اړخ کې د مونګیر سیمه پرته وه او بلې لورې ته همایون د خپلو لښکرو په لور ور رسیدلی و.

میرزا عسکري د هغه بلې لورې راغې او د همایون سره یې لیده کاته وکړل. هلته د میرزا عسکري د را رسیدو سره سم ، او د دې خبر سره چې لارې ټولې خوندي دي ، همایون ډیر خوشحاله شو او خپل ټول سلاکاران او وزیران یې را وبلل تر څو سلا ورکړي چې د بیرته ستنیدو له پاره د ګنګا د دریاب څخه په کوم ځای کې تیرشي.

د همایون د دې پوښتنې په ځواب کې د هغه ټول سرداران په دې باندې متفق شول چې لښکر د ګنګا د شمالي غاړې تر څنګ وړاندې ولاړ شي او بیا د ګنګا څخه تیر شي. یواځې د همایون یو ډیر ځانګړې سلاکار موید بیګ د دې آند سره مخالفت وکړ او همدا د همایون په آند باندې اغیز کونکې و. هغه د همایون د ټولو سلاکارانو او وزیرانو د راې سره مخالفت وکړ او همایون ته یې وویل چې:

«ته د هند شاهنشاه او د عظیم الشان مرتبې خاوند یې. تا ته په کار دي چې د کومې لارې څخه را غلې یې د همغې لارې څخه بیرته ستون شې او که نه بیا به شیرشاه سوري وایي چې همایون د هغه له ویرې اصل لاره پریښوده او د تیښتې او پښو سپکولو لاره یې و نیوله او د خپل فوځ سره یو ځای وتښتید»

په همایون کې یوه کمزوري دا وه چې ډیر وخت به یې خپلې پریکړې نورو ته پریښودې ، هغه د موید بیګ دا سلا و منله ، او پا یلې یې دا شوې چې د مغلو لښکر د مونګیر په سیمه کې د ګنګا څخه پورې وت. په دې دوران کې نه کومه پیښه را منځته شوه او نه د شیرشاه سوري د فوځ او لښکر کوم څرک را څرګند شو. د بله اړخه خان خانان هملته په مونګیر کې د خپل لښکر سره یو ځای د همایون د ور رسیدو منتظر و. خو همایون د خپل ځانګړی سلاکار موید بیګ په مشوره بله لاره نیولې وه.

د ګنګا د دریاب څخه د تیریدو وروسته همایون د خپل لښکر سره یو ځای د اګرې په لور مخته ولاړ، د بله اړخه تر هغې چې د همایون لښکر د ګنګا د دریاب د شمالي خنډو څخه د اګرې په لور مخته روان و نو شیرشاه سوری نه غوښتل چې یا د هغوې سره ټکر وکړي او یا د هغوې په لاره کې بندیزونه را پیدا کړي. د همایون لښکر په درې برخو باندې ویشل شوې و ، یوه برخه یې د همایون په لاسو کې وه بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د ورور ميرزا عسکري ترقومندې لاندې او دريمه يې په مونګير کې د خان خانان ترقومندې لاندې وه. ترڅنګ يې د همايون د حرب سامان او خوراکي توکي د ګنګا د درياب په غاړه په کشتيو کې بار کړل شوي و او دا کشتۍ هم د ګنګا د درياب په غاړه په همغې لارې تللې چې همايون پرې د خپل لښکر سره روان و . د ګنګا د درياب په غاړه د سفر کولو په دوران کې همايون د پټنې ښار ګوټې ته رو سيد خو خان خانان د خپل لښکر سره يو ځای همله په مونګير کې منتظر پاته و ، هغه لا تر او سه په دې خبر شوې نه و چې همايون د بلې لاې د ګنګا د درياب څخه تير شوې او د پټنې په لور يې د خپل فوځ سره يو ځای کوچ کړې دې. او يا دا هم شونې وه چې همايون په خپله نه وې غوښتې هغه ته په دې اړه اطلاع ورکړي،د هغه آند دا و چې خان خانان همله د مونګير په کلا کې پاته شي تر څو د بنګال په لور د شيرشاه سوري د لښکرو د وړاندې تګ مخنيوي وکړي.

همايون په ډيره چټکۍ سره د خپلو لښکرو سره يو ځای د پټنې په لور وړاندې تګ وکړ ، هغه د خپلو کشتيو د سامانونو ،د جنګي بيړيو ، او د لښکر د مستوراتو ټولو سره يو ځای پټنې ته نږدې ور ورسيد. ټول سامانونه او مستورات يې د کشتيو څخه را ښکته کړل او د درياب په غاړه يې ميشت کړل ، همايون همتله د فوځ له پاره خيمې هم ولګولې . په دې توګه يې هر شي خيمو ته منتقل کړ ، همايون د خپلو لښکرو او جنګي سامانو نو او مستوراتو سره يو ځای په ډيره خوندې توګه د داناپور هغه سيمې ته ور رسيدلې و چې د سون د درياب د ګنګا سره په کې را يو ځای کيږي.

شيرشاه سوري په دې ويره کې و چې هسې نه چې همايون د خپل فوځ سره يو ځای د رهتاس په کلا باندې يرغل را نه وړي نو په دې خاطر يې خپل ټول فوځ د سون د درياب په پورتنۍ غاړه د بهار په لور سره راټول کړ. خو کله چې هغه خبر شو چې همايون د خپل لښکر سره يو ځای وړاندې را روان دې او اوس د چنار او غازي پور په لور را خوزيدلې دې نو د شيرشاه سوري حوصله زياته شوه او په مغلو يې د يرغل پلان جوړ کړ .

شيرشاه سوري د دې حالاتو په کتلو سره د خپلو سالارانو او سردارانو غونډه را وبلله ، دې غونډې ته د وينا په وخت کې شيرشاه سوری وويل چې :

د همايون لښکر په دې وخت کې ډير وارخطا او نا هيلې شوې دې، هلته په اګرې کې هم د بغاوت نښې نښانې را ولاړې شوې دي که چيرې دا سې نه وې نو همايون به د بنګال څخه د راوتلو سمدستي وروسته پرمونږ باندې يرغل راوړې وې خو په اګره کې د بغاوت په اساس همايون ماته شا را ګرځولې ده.

زما زامنو ، زما ملګرو او زما ورونو ! د الله تعالې په فضل سره زما حال د پخوا په نسبت ډير مستحکم او پايداره دې. که چيرې تاسې ټول دوستان ، زامن ، او ملګري له ما سره لاس يو کړئ نو زه د مغلو په خلاف خپل قسمت ازمويلې شم.

زما دوستانو واورئ ! ددې نه مخته ما دلته په هندوستانو کې پوره زخمونه خوړلي ، بنګال ته د همايون د ورتللو د مخه ما هغه ته د کلنې خراج د ورکولو ژمنه هم وکړه ، شرط دا و چې هغه به بنګال ماته را سپاري ، همايون له ما سره ژمنه هم وکړه خو د بنګال د سلطان د سفير د ور رسيدو نه وروسته يې خپله وعده ماته کړه اوس ما د بهار او جونپور څخه د همايون لښکرې ويستلې دي او په دې اساس زما او د همايون ترمنځ د سولې دروازې بندې شوې دې. اوس زه په دې حال کې يم چې زه د همايون پر خلاف فوځې يرغل پيل کړم.

تر دې ځايه د خبرو ، شيرشاه سوري لږ څه تم شو ، فکر يې وکړ او يو ځل بيا يې خپلو سالارانو او سردارانو ته په وينا کې وويل چې: په دې وخت کې ماته ستاسو د مشورو اړتيا ده ، وواياست ، تاسې څه مشوره راکوئ ؟ په ځواب کې ټولو سالارانو او سردارانو په خپلو منځو کې سلا مشورې پيل کړې.ټولو خپل خپل نظر خواص خان ته وواېه ، او بيا خواص خان شيرشاه سوري ته مخ کړ او ورته يې وويل چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ درونده مشره ، زمونږ لارښوده ! هغه آند چې تاسې څرګند کړې دې ، زه او زما ټول سالاران او سرداران ورسره په پوره توګه موافق دي. په يقين سره چې همايون زمونږ سره د سولې ټول چانسونه له لاسه ورکړي او زمونږ او د هغوی ترمنځ د سولې ټولې لارې يې پخپله تړلي دي، هغه وخت همايون په داسې حال کې و چې زمونږ پر خلاف يې عمليات کولې شول او مونږ يې تابع کولو ته مجبورولې هم شو ،خو اوس به مونږ همايون دغه حالت ته راوړو ، او ډير ژر به هغه وخت راځې چې مونږ به يې تعقيبوو او همايون به د خپلو فوځونو سره يو ځاې د هندوستان څخه په تيښته تښتې.

شيرشاه ! زمونږه مشره ! هره پريکړه چې ته وکړې نو مونږ ټول به په ډيرو خرابو حالاتو کې هم د خپل ځان څنګ کې ووينې. د خواص خان دځواب په اوريدو سره شيرشاه سوري ډير ډاډمن او خوشحاله شو او بيا يې وويل چې:

واورئ زما دوستانو او ملګرو ! اوس چې زمونږ او ستاسو ترمنځ د آندونو يو والې موجود دې نو زه غواړم چې يو دوه ورځې همدلته د خپلو فوځونو سره قيام وکړم ، د هغې نه وروسته به دد ې ځايه خپل پړاو پورته کړو او د همايون د لښکر تعقيب به پيلوو . مونږ به د ټولو ترمخه د همايون په فوځ باندې شپيني وينه تويونکې عمليات کوو ، ددې موخې د ترلاسه کولو له پاره فوځ په دوو برخو باندې ويشو ، يوه برخه به يې زما سره وي او بله برخه به يې د خواص تر قومندې لاندې خپل کار پيلوي .

خواص خان به د همايون د فوځ په اړخ باندې يرغل کوي ،اوکله چې همايون او د هغه سالاران د اړخ د حملې په لور متوجه کيږي نو زه به پرې د شا له اړخه حمله کوم ،په دې توګه به مونږ د مغلو دلښکرو ځواک په څو برخو باندې وويشو او نه جبران کيدونکې زيان به ور واړوو. او زه هيلمن يم چې ددې شپيني وينه تويونکې عملياتو له مخې به مونږ ډير ستر بريا ليتوب ترلاسه کړو. د لښکر ټولو سالارانو يو ځل بيا د شيرشاه ددې آند سره توافق څرګند کړ. ددې وروسته شيرشاه سوري غوښتل د غونډې د پاې ته د رسيدو اعلان وکړي چې دخيمې بيرون پهره کونکې سپاهې د ننه خيمې ته راننوت او شيرشاه سوري ته يې وويل:

اقا ! بيرون يو مخبر راغلې او غواړي يو ډير مهم خبر تاسې ته درکړي. ددې خبر سره سم شيرشاه سوري او د هغې ټولو سالارانو په ډيرې انديښنې سره د دروازې په لورې په کتلو شول ، شيرشاه هغه ساتونکې ته وويل چې مخبر د ننه را وليږه ، ساتونکې ولاړ او د لږ ځنډ وروسته هغه مخبر د ننه راننوت، د هغه په کتلو سره ،شيرشاه سوري ترې وپوښتل چې :

څه خبر دې له ځانه سره راوړې دې ؟ ايا د همايون په اړه دې کوم ښه يا بد خبر له ځانه سره راوړې ؟ مخبر په ځواب کې ورته وويل چې :

اقا ! له ما سره د همايون په اړه هيڅ خبر نه شته ، ځکه چې همايون د ګنګا د درياب څخه د تيريدو وروسته د پټنې په لور وړاندې روان دې ، خو اقا ما يو بل بد خبر له ځانه سره راوړې دې، د شيرشاه سوري ټول سالاران ډير په انديښنه کې ولاړ و ، شيرشاه سوری هم ترې په ډيره انديښنه کې و پوښتل چې : څه ډول خبر دې راوړې ؟ مخبر ورته وويل چې:

اقا ! په تيرو وختو کې يو کس د بهار او بنګال د پولو سره دغلا ، لوټ او غارت کولو يو توپان جوړ کړې و ، هغه کس مهارت نوميده ، يو وخت هغه د بنګال د سلطان محمود له پاره هم سردرد ګرزيدلې و ،سلطان محمود د هغه د نيولو او د له منځه وړلو ډيرې هڅې کړې وې خو دغه مهارت د هغې په ولکه کې ورنه غې. خو په بهار او بنګال باندې زمونږ د يرغل څخه لږ څه مخته دغه مهارت په نوم ورکې کې پروت و او خلکو فکر کاوه چې هغه به په کومه پيښه کې له منځه تللې وي، خو حقيقت داسې نه و.

حقيقت دا و چې په دغو وختو کې دغه مهارت هلته په غرنيو لړيو کې چيرې د خپل ځان له پاره ديوه مضبوط سنګر په جوړولو کې مصروف و. هغه د وخت نه په ګټې اخستلو سره خپل ملګري ډير زيات کړي دی ، اوس او ريدل کيږي چې هغه د يوه ستر لښکر خاوند دې. اودهمدې لښکر سره يو ځاې هغه زمونږ په سيمو باندې بريد کړې او هلته يې په اوسيدونکو کې ډيره ويره او دهشت پيدا کړې دې، اقا ! ما تاته همدا بد خبر له ځانه سره درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخبر ددې خبرې په اوريدو سره شيرشاه سوری د لږ څه وخت له پاره په فکر کې ډوب شو اوبيا يې مخبر ته مخ کړ او ورڅخه يې وپوښتل:

څه فکرکوې چې د مهارت سره به ټول څومره کسان ملګري وي؟ مخبر ورته وويل چې تر هغې چې ماته څرګنده شوې ده، دهغه سره يو ستر لښکر دې اودهغې لښکر سره ټکر کول څه اسانه کار نه بريښي. هغه خلک چې مهارت اودهغه ملګري پيژني نو هغوي وايي چې مهارت اوس د يوه نوي ځواک او لښکر سره راوتلې دې ، دخلکو خبره دا هم ده چې مهارت اوس خپل ځان نه تسخيريدونکې ګڼي ، اوهغه اراده لري چې په بنګال اوبهار دواړو باندې ولکه وکړي او په دې ترتيب هلته خپل سلطنت جوړ کړی.

مخبر ددې خبرو وروسته غلې شو ، شيرشاه سوری ورته وويل چې:

مخبره ! ستا ډيره مننه چې ما ته دې دا خبر را ورساوه ،ته ولاړ شه ارام وکړه اوبيا دوباره په همدې کار پسې شه ،دمخبر د تللو وروسته شيرشاه سوري خواص خان ته وکتل او ورته يې وويل چې:

خواص خانه زويه ! داسې بريښي چې قدرت يو ځل بيا تا ازمايي . ددې نه مخته ما غوښتل چې خپل ټول لښکر دوه ځايه کړم اودهمايون پر خلاف فوځي عمليات پيل کړم خوداسې بريښي چې قدرت ته داسې منظور نه وي په دې خاطر زويه ! زه غواړم په خپلې پريکړې کې بدلون راوړم.

شيرشاه ددې خبرې وروسته بيا لږ څه غلې شانته شو ، څه فکر يې وکړ اوبيا يې خپله پريکړه وا وروله.

خواص خانه زويه ! لښکر به د پخوا په څير په دوو برخو ويشل کيږي. هيبت خان نيازي ، جلال خان جالو او سرمست خان سرواني به له تاسره اوسي ، ترڅنګ به يې د لښکر نيمايي برخه ستا تر قوماندې لاندې وي ، خو بله برخه به يې زما تر لاس لاندې وي، زه به دخپلې نيمايي برخې سره يو ځاې سبا يا بل سبا ددې ځايه کوچ کوم ،اودهمايون تر شا به ورځم. زما زويه ! هغه وخت چې زه له دې ځايه کوچ وکړم نو په همغه وخت کې ته هم زما سره يو ځاې ددې ځايه کوچ وکړه خو ته به دهمايون په لور نه بلکه د مهارت په لور به کوچ کوې. زه ډاډه من يم چې که يواځې ته په مهارت باندې يرغل يوسې اود ميړانې ، بهادري او جرأت سره دهغه مقابله وکړې نو هغه ته ماتې ورکولې شې. ګوره خواص خانه ! زه پوهيږم چې دهغه مهارت حوصله به اوس ډيره پورته وي ځکه چې هغه په خپل ځواک او قوت کې ډيرښت راوستې دې او ددې ترڅنګ به دهغه په ذهن کې دا خيال هم وي چې څرنګه چې زما اود همايون تر منځ اوس جنګ پيليدونکې دې نو په دې خاطر به هغه دخپلې خوښې د پادشاهۍ د جوړولو جوګه اوسي. خو زويه ! مونږ به هغه خپلې دې خوښې ته هيڅکله هم پرې نه ږدو. زه هيلمن يم چې ته به ډير ژر ددې مهارت کار ورختم کړې اوبيرته به دهمايون پر خلاف زما کومک ته را ورسيږې

دشيرشاه سورې د خاموشۍ سره سم خواص خان ورته په ډير خلوص او مينه ځواب ورکړ او ورته يې وويل چې:

شيرشاه ! زما درونده مشره ! ته په دې اړه هيڅ انديښنه مه کوه ، ډير ژر به واورې چې ما مهارت ته هغه درس ورکړې دې چې ددې نه مخته يې داسې درس نه و زده کړې. کله چې زه دهغه سره مخ شم نو زه به هغه ته د بغاوت کولو ټولې سزا وې ور وښيم او تر څنګ به يې ملګري ټول د تيغه تير کړم. دخواص خان د ځواب په اوريدو سره د شيرشاه سوری په مخ کې خوشحالي را څرګنده شوه. اويو ځل بيا يې وويل:

ګوره خواص خانه زويه ! زه به نن نور مخبران هم ور واستوم تر څو دا ډاګيزه کړې چې مهارت په دې ورځو کې د خپل لښکر سره يو ځاې چيرې پروت دې. همدا مخبران به تاته خبر درکړي چې دمهارت د پړاو ځاې چيرې دې ، په دې اساس به تاته په هغې د حملې کولو له پاره اسانتياوې برابرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې خبرې سره يو ځاې شيرشاه سوری هغه غونډه پاې ته ورسوله، دوه ورځې وروسته شيرشاه سوری د خپل نيمايي فوځ سره يو ځاې دهمايون د فوځ په تعقيب ورووت ، او خواص خان د نور نيمايي فوځ سره يو ځاې د مهارت د ځپلو له پاره د شمال غرب په لورې ولاړ.

۳۷

سخته باراني شپه وه ، ماښام د ډکو ويالو د امواجو په ځير دشپې په تياره کې ځان ورکاوه. تيارو اوبارانونو د زمکې په ختو کې هر شې د خپله ځانه سره را لتاړ کړې و . هلته د زيارت په لنگر ځای اودهغې په شاوخوا سيمو کې شونډې د دعاوو له پاره پرانستې وې ،هرې لورې ته د يخ وهلي ويالې په ځير خاموشې خپره وه. او د لوټ کړل شوې خيمه ځاې او دمفلس د وينو په څاڅکو باندې د رنگين شوي لمن په ځير سکوت حاکم و.

دلنگرځاې هغه کوچنۍ شانته خونه ، چې شهزادگۍ گنگا اودهغې اوما په کې ميشت شوې وو ، په هغې کې گنگا او اوما د ماښامي د تيارولو اوخوړلو وروسته په خپلو خپلو بسترو کې پرتې وې ، چې چا دهغوې درواز ه ور وټکوله. اوما د گنگا په لور په سواليه توگه وکتل اوله ځانه سره يې وويل چې په دې وخت کې څوک دي چې زمونږ د کمرې دروازه را ټکوي. ددې سره سم اوما پورته شوه ، دروازه يې پرانسته ويې کتل چې ددروازې تر شا دپوخ عمر يوه ښځه ولاړه وه ، يو ځرمنيز څادر يې په سر اچولې و ، شونې ده چې دا به د باران څخه دخوندي پاته کيدو په خاطر و . خودا سې ځرگنديده چې هغه لنگرځاې ته د بيرون څخه راغلې ده. هغې په خپلو لاسو کې له ځانه سره د ځرمنې يو بل اضافي څادر هم درلود ، کله چې اوما ورته دروازه پرانسته نو هغې عمر تيرې ښځې په ډير محبت او نرمۍ سره ترې وپوښتل چې: گوره لورجانې !د گيتا نومې يوې کونډې سره غواړم ډيره مهمه خبره وکړم. ما دلته په لنگرځاې کې پوښتنه وکړه او راته وويل شو چې هغه په همدې کمرې کې اوسيږي ، ايا زه دننه کوټې ته در ننوتلاې شم.

ددې ښځې په دې خبرو باندې گنگا دخپله ځايه راپورته شوه اود اوما د ځواب تر مخه يې وويل چې هو !دننه را ځه ، همدا زه گيتا يم ، ته له ما سره څه کار لرې ؟ دگيتا د نوم د ويلو سره سم د گنگا زهن د خواص خان په لور ولاړ ، هغه ښځه دننه را ننوتله ، اوما دپخوا په ځير دروازه بيرته و تړله. د ځرمنې هغه څادر چې دې ښځې په سر اچولې و هغه لوند شوې و ، هغه يې هملته ددروازې سره يو ځاې را ځوړند کړ خو د ځرمنې هغه څادر يې چې په لاسو کې نيولې و هغه يې د گنگا په بستره باندې کيښود ، اوبيا د گنگا تر مخه کيناسته او ويې ويل چې:

گوره گيتاجانې لورې !زه د يوې ډيرې مهمې خبرې له پاره ستا خواته راغلې يم. که د شيرشاه سوری ستر سالار خواص خان تاته د څه کار کولو په اړه ووايي نو ته پرې باور کولې شې. دهغې په دې خبره گنگا سمدستې وويل چې:

گوره ترورجانې ! زه نه پوهيږم چې ته څوک يې ؟خو زه به تاته يوه خبره وکړم چې خواص خان هغه موجود دې چې که چيرې ما ته سترگې پټې کړې او په اور کې مې هم ور واچوي نوبيا به هم زه دهغه دحکم په اساس په اور کې ځان ور وغورزوم. ايا تا ماته د خواص خان له لورې کوم پيغام راوړې دې ؟هغه زړې ښځې ورته وويل چې:

گوره گيتا لورې !ستا آند سهي دی ، زه به تاته په تفصيل سره ووايم چې زه دخواص خان په حويلۍ کې کار کوم ، زه يې څو اونۍ مخته هملته له ځانه سره دکار له پاره ملازمه کړې يم. زما لورجانې ! زه همدا اوس خواص خان په تاپسې را استولې يم او دا پيغام يې راکړې چې زه تا له ځانه سره راوړم . که چيرې ته پر ما او خواص خان باندې باور کولې شې نو همدا اوس پورته شه اوزما سره روانه شه. اودخواص خان حويلۍ ته را سره ولاړه شه. هغه ته غوښتې يې اوپه ډيره بې صبرۍ سره ستا انتظار کوي. گنگا ورته په اصرار سره و ويلې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره تروري ! خواص خان خو دشيرشاه سوري سره يو ځاې دهمايون پر خلاف د جنګ کولو له پاره د ګنګا ددرياب په لور ورغلې دې. دهغې په دې خبره هغه ښځې وويل چې ستا اندازه سهي ده ، شيرشاه سوری پخپله دهمايون سره د ټکر له پاره ور روان دې. خو خواص خان يی د بلې کومې دندې د اجرا له پاره بلې لورې ته استولې دې. خو دتللو دمخه خواص خان هلته رهتاس ته راغې ،هغه ددې ځايه دخپل فوځ له پاره خوراکې او فوځې توکې له ځانه سره اخستل غوښتل ، زه فکر کوم چې سبا يا بل سبا به هغه ددې ځايه دخپل فوځ سره يو ځاې کوچ کوي خو دکوچ کولو نه مخته ګيتا هغه له تاسره يو ځل کتل غواړي. ګوره لورجانې ! په دې کې زور زياتې نه شته. که چيرې ته زما سره تللو ته تياره يی نو ما دا د څرمنې څادر تا ته له ځانه سره راوړې دې ، دا په سر واچوه او له ماسره روانه شه ، ځکه بيرون سخت باران اوري ، خو که چيرې ته اوس له ماسره تللو ته تياره نه اوسې نو زه به بيرته ولاړه شم اوخواص خان ته به ووايم چې ګيتا را تللو ته تياره نه وه. دهغې په دې خبره ګيتا سمد ستې وويل چې نه ! زه له تاسره تللو ته تياره يم ، که دشپې په دې وخت کې خو پريږده ، که خواص خان ماد سيليو اوتوپانو او يا اوريدونکي اور په څپو کې هم دځان له پاره وغواړي نو زه به ضرور هغه ته ورشم. ددې خبرې سره سم ګيتا دخپله ځايه پورته شوه او د اوما څنګ ته راغله او هغې ته يی په غوږ کې څه وويل:

اوما ته همدلته اوسه ، زه به د ګيتاودهوا په بڼه دخواص خان په لورې ورشم او دپخوا په څير به خپل وجود او مخ را ونغاړم خو که چيرې ته له ماسره ولاړه شې نوخواص خان به تا و پيژني نو زما ټوله ډرامه به دناکامۍ سره مخ شي اوبيا به زه يو ځل بيا دخواص خان د کرکې او نفرت سره مخ شم. په دې خاطر به زه يوائې ددې ترور جانې سره هلته ورشم ، اوما ورسره په دې خبره اتفاق وکړ. ګنګا سمد ستې پورته شوه ،خپل کالي اولباس يی تبديل کړ ،دهغې دپاسه يی سپين رنګې څادر رواغوست ، مخ يی په سپين رنګه نقاب کې را پټ کړ ،بيا په خپلې بسترې پروت هغه څادر چې دې عمر تيرې ښځې ورته له ځانه سره راوړې و په سر را واچاوه او ويی ويل چې : ترور جانې ! اوس نو درځه چې ځو. زه له تاسره تللو ته تياره يم. ددې خبرې سرم سم ګنګا او هغه زړه ښځه دواړه د کمرې څخه را ووتلې ، کرارکرارد لنګرځاې څخه مخته راغلې او دخپل منزل په لور روانې شوې.

دهغه زړې ښځې سره ګنګا بېچاره لږ واټن وهلې و چې يو نا څاپه پرې دوه ځوانانو حمله وکړه، يوه دهغه خوله بنده کړه او بل په بيړه بيړه دهغه لاسونه تر شا وتړل ، دهغې پښې يی هم ور وتړلې ،بيا يی په ډيره چټکۍ سره ګنګا پورته کړه او لږ څه ښې لورې ته ولاړل ، هلته يوه بګۍ ولاړه وه ، ګنګا يی پورته کړه اوپه هغه بګۍ کې يی ور واچوله ، دبګۍ پردې يی را پريښودې ، دهغوې څخه يو د بګۍ په داخل کې کيناست تر څو ګنګا د کنترول لاندې ونيسي ، په داسې حال کې چې هغه بل مخته ورغې او د آسونو په زغلولو يی پيل وکړ. هغوې لږه شيبه کې د ښاره ووتل او د غرنيو لړيو په لور يی ګاډۍ ور ځغلوله.

۳۸

دغه بګۍ چې ګنګا بې چاره يی په کې بار کړې وه ټوله شپه مزل وکړ، بې وسې او بيچاره ګنګا هملته په بګۍ کې اوده شوه ، کله يی چې سترګې و غوړيدې نو ويی کتل چې د بګۍ دپردو په خوزيدو سره د رڼا څرک دننه را ځي ددې نه دا ډاګيزه کيده چې شپه پاې ته رسيدلې او ورځ شوې ده ، لمر راختلې دې او باران دريدلې دې. هغې هڅه وکړه چې دخپله ځايه را پورته شي او په خپله ځاې کې کيني . نو و نه توانيده ځکه د بګۍ په يوې برخې پورې يی ددې لاسونه اوپښې تړلي و ، شونې ده چې دهغې تښتونکې به ويريدل چې هسې نه چې دشپې په تياره کې ګنګا د بګۍ څخه و نه تښتي. هغې سترګې را پورته کړې او مخته يی وکتل ، ويی کتل چې دهغې د تښتونکو څخه يو د بګۍ اسونه ځغلوي او هغه بل يی دهغه تر څنګ په خواږه خوب ويده شوې دې. څرنګه چې دد ې خوله يی په ټوټه تړلې وه نو په دې اساس يی خبرې نه شوې کولې. نو په دې خاطر هغې خپلې پښې او لاسونه په زوره وخوځول اوپه دې ترتيب يی بګۍ ټوله و خوځوله ، هغه کس چې بګۍ يی ځغلوله هغه شاته و کتل اوبيا يی په خپل لاس کې لښته باندې خپل ويده ملګرې وواهه اودخوبه يی را ويښ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

. کله چې هغه را وبېنن شو نو بګې ځغلونکې وویل چې: شهزادګۍ ګنګا ته ووینه ، هغه لاسونه اوپښې خوځوي چې څه غواړي ؟ دهغه په دې خبره هغه خوبې ملګري وويل چې: هغه به لوږې اخستې وي . که ته وايې نو زه به يې لاس اوپښې پرانځم . دخولې څخه به يې هم هغه ټوټه لرې کړم او دخوراک څښاک څه به ورکړم . دهغې وروسته به يې بيا پښې اولاسونه سره وتړو ، دهغه دې خبرې سره د بګې ځغلونکې توافق وکړ ، هغه دخوبه را وبېنن شوې دخپله ځايه پاڅېد اودبګۍ دیوې برخې څخه يې داوبو مشکيزه را واخسته ،بيا يې دهغې څخه لږ څه اوبه راواخستې اوخپله خوله او مخ يې پرې پريمنځه ، بيا يې مشکيزه دبګۍ يوې برخې کې را زوړنده کړه او خپل لاس او مخ يې وچ کړل بيا يې دلمړې دشهزادګۍ ګنګا لاسونه پرانستل اوبيا يې دهغې دخولې څخه هغه ټوټه هم لرې کړه .

ګنګابيچاره تر لږه وخته پورې خپل لاسونه سره خوځول او خپله خوله يې ښوروله ، په دې وخت کې هغه هلته ټيټ سره ناسته وه ، بيا يې په خپل مخکې ناست کس څخه وپوښتل چې: تاسې څوک ياست او ولې مو ما ته فريب راکړ او را ومو تښتولم، هغه ښځه څوک وه چې ماته يې درواغ وويل او زه يې د لنګرځاې څخه په درواغو را وويستم،دهغې ددې خبرو سره سم هغه کس يوځل بيا دخپله ځايه پورته شو د اوبو مشکيزه يې را واخسته او دګنګا په لور يې ور اوږده کړه او بيا يې ورته وويل چې: ګوره شهزادګۍ ګنګا !ته زمونږ له پاره د ډير زيات عزت او درنښت خاونده يې . ته لمړۍ خپل خوله اولاسونه پريمنځه بيا به درته ووايم چې مونږ څوک يو او ته مو ولې له ځانه سره راوړې يې او ولې مو د زيارت د لنګرځاې څخه را وويستلې . دهغه په دې خبرو باندې ګنګا خاموشه ناسته وه ، هغه کس ورته د مشکيزې څخه اوبه ور تويولې ، تر څو ګنګا پرې خپل مخ اولاسونه پريمنځي، اوبيا يې په همغه لباس باندې ځان وچ کړ چې د مخکې څخه يې په کې ځان رانغاړلې و. بيا يې هغه کس ته وويل چې : اوس راته ووایاست چې تاسې څوک ياست چې زه مو د زيارت د لنګرځاې څخه را پورته کړې يم او چيرې مو له ځانه سره بوځئ.

هغه شخص ورته وويلې چې : ګوره ګنګا ! ستا خبره سهي ده ، په ريښتيا هم مونږ له تاسره دوکه کړې ده، خو دا پخپله زمونږه مجبوريت و ، هغې ښځې چې ته يې د زيارت د لنګرځاې څخه را وويستلې هغه زمونږ يوه پيژندګلوې وه چې مونږ دهمدې کار له پاره استعمال کړه. زه غواړم تا د مهارت له پاره يوسم. اوتا به خامخا دا نوم اوريدلې وی؟ دهغې په دې خبره ګنګا بې چاره ورته وويلې چې: هغه مهارت چې څو کاله مخته يې د بنګال او بهار په پولو کې لوټمار او غلاکوله اوهلته يې تباهي خپره کړې وه. دهغې په دې خبره هغه کس ورته وويل چې هو ګنګا ! ستا آند سهي دې. مونږ تا همغه مهارت ته له ځانه سره بوځو. دهغوې په دې کار باندې ګنګا سخت احتجاج وکړ ، چې ولې ، هغه بيرته ځواب ورکړ چې:

ګوره ګنګا ! خبره داده چې مهارت په تا مېين دې، هغه له تاسره په ړانده محبت او مينه کې راښکيل شوې دې، هغه ستا دلاسته راوړو په خاطر ستا په سويمبر کې هم برخه اخستې وه خو دهغه بختې داوه چې هغه دا مقابله ونه ګټله. برعکس ستا هغه سويمبر يو نقاب پوشه وګټلې ، دبهار او بنګال حکمرانان مهارت يو باغي سرکشه انسان ګڼي ، څرنګه چې هيڅوک هم هغه د مخ له رويه نه پيژني نو په دې اساس به دغه مهارت کله کله ستا دکتلو له پاره دخپلو څو نورو دوستانو سره هلته ستاسې راج محل ته درته. هغه ورځ چې تا د غزلو او نڅا کورس سر ته ورساوه ، اوته هلته په راج محل کې ښه و نڅيدې نو په هغه ورځ هم مهارت د يوه پنډت سره يو ځاې موجود و . هغه ستا د نڅا د کتلو وروسته دا هوډ کړې و چې هغه به په هرصورت تا دخپل ځان له پاره تر لاسه کوي. همدا علت و چې هغه مونږ دواړو ته دا دنده را وسپارله چې مونږ چې په هر ډول کيږي تا دهغه لورې ته يوسو . مونږ دواړه د مهارت کسان يو ، او مونږ دهماغه مهارت د وينا په اساس په رهتاس کې قيام وکړ خو دا زمونږه بده برخه وه چې په همدې وخت کې شيرشاه سورى په رهتاس باندې يرغل راوست او دغه کلا يې په خپله ولکه کې راوسته ، په دې يرغل کې ستا پلار اود رهتاس راجه هم ووژل شول اوته شيرشاه سورى و نيولې او خپل لښکر ته يې بوتلې اوهلته يې دخپل لښکر د سپه سالار خواص خان وينځه وګرځولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خان داسې بې پروا ، داسې بې شوقه او بې ذوقه انسان دې چې هغه ته د وينځې په څير هم دخپل ځان له پاره و نه منلې. زه پوهيږم چې دا دخواص خان له لورې له تاسره دپوره بې عزتۍ او سپکوالي نه نور څه نه و. بلکه داسې يې وګڼه چې دا د يوې شهزادګۍ سپکوالې اوتوهين و چې هغه يې د يوې وينځې په څير هم و نه منله. دهغه په دې خبره باندې ګنګا سمدستې را ټوپ کړ او ورته يې وويلې:

دخواص خان په اړه نور څه و نه وايې. دا چې خواص خان زه ولې دخپلې وينځې په څير و نه منلم ،دا زما اودهغه تر منځ ذاتي معامله ده. دهغې په دې خبره دغه کس يو ځل بيا وويل چې: زه پوهيږم چې هغه څه ډول او څنګه معامله ده. دهغه په دې خبره باندې ګنګا هغه ته په ډير غضبناکه توګه وکتل او ورځخه يې وپوښتل چې ته په څه پوهيږې ؟ هغه ورته په ځواب کې وويل چې:

ګوره ګنګا جانې ! ما تاته وويل چې مهارت ته دخپل سويمبر دمقابلو څخه د مخه د خپل ځان له پاره غوښتلې ، له تاسره يې مينه کوله ،په همدې خاطر هغه ستا د سويمبر په مقابلو کې برخه واخستله. دا دهغه بدقسمتې وه چې هغه په دې مقابلو کې بريالې نه شو ،بيا هغه مونږ دواړه ستا د ښارلو په خاطر او په کوم مناسب وخت کې ستا د تښتولو له پاره وګمارلو. په دې خاطر دلته په رهتاس کې د اوسيدو په وخت کې مونږ ستا هر قدم ښارلې دې ، په دې دوران کې مونږ وکتل چې ته په ډيره بيړه سره دهغه نقاب پوشته په لټون پسې يې چې ستا د سويمبر مقابلې يې ګټلې دي. اود مقابلو دګټلو وروسته يې د تللو په وخت کې درته وويل چې « زما نه خوښيږې».

بيا يې کله چې ته د وينځې په څير د خواص خان تر مخ وړاندې کړې نو تا دخواص خان څخه د کوچيانۍ قبيلې د سردار فدايي خان د را پيدا کيدو غوښتنه وکړه ، فدايي خان له تاسره وکتل اودهغه له اړخه تاته دا معلومات درکړل شو چې ستا د سويمبر دمقابلو اصلي ګټونکي همدغه خواص خان دې چې ددې نه مخته يې نوم صاحب خان و . هغه به هغه وخت ګيدړې ښکار کولې او خپل ژوند به يې پرې تيراوه او له تاڅخه يې سخته کرکه اونفرت کاوه. دا ستا بدقسمتي ده چې ته د خواص خان سره د زړه له کومې مينه کوې ، ځکه هغه وخت چې خواص خان له تاسره محبت او مينه کوله نو هغه وخت تا د خواص خان سره د مينې په ځاې د کرکې څرګندونه وکړه نو هغه هم ستا د منلو څخه مخ واړاوه ، بيا تا د درواغو څخه کار واخست او د زيارت په لنګر ځاې کې دې ديره ځاې جوړ کړ. په داسې حال کې چې د رهتاس په ښار کې د راجه هرکشن دوژلو وروسته دهغه ډير زيات خپلوان اودوستان اوسيږي او تا کولې شول د هغوې سره يو ځاې واوسيږې. خو ستا له پاره ډيره سخته او اړينه داوه چې دخواص خان محبت او مينه دې په هيڅ توګه دخپل زړه څخه نه شوه ويستلې.

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! د رهتاس په ښار کې مونږ دواړو ستا ډيره کلکه ښارنه کړې ده. اومونږ به ټول وخت ستا په تعقيب او ښارنه کې وو . هلته د زيارت په لنګر ځاې کې د اوسيدو وروسته تا يو بل ستر قدم واخست اود يوې کونډې په څير دې دخواص خان د بيرته خپلولو هڅې پيل کړې. هغه وخت چې ته دلنګرځاې د نورو کونډو ښځو سره يو ځاې را ووتلې نو تا خپل لمړنې د خير غوښتلو غږ دخواص خان د حويلۍ تر مخه پورته کړ ، تر يو څو ورځو پورې ته ناهيلې معلوميدې ،خو يوه ورځ ته هغه وخت په خپلې موخې کې بريالۍ شوې چې خواص خان په خپله ستاته غږ ته ځواب ووايه. بيا هغه له تاسره د زړه خواله پيدا کړه ، ځکه چې تا هغه ته خپل حالات واورول ، دهغه په مخکې دې و ژړل او په مصنوعي توګه دې دهغه په مخکې خپله بې وسي ډاګيزه کړه، ستا ددې خبرو څخه خواص خان ډير زيات اغيزمن شو، دهغې وروسته بيا تا په پرلپسې توګه د خواص خان د حويلۍ تر مخه د خير خيرات د غوښتلو غږ پورته کاوه اودهغه زړه له تاسره نور هم را نژدې کيده ان تر دې چې کله دويمځلې ته هلته ورغلې نو هغه تاته دا اړتيا و ډير وسايل هم درکړل او ترڅنګ يې خپلو ساتونکو ته وويل چې کله هم چې کوم شې ته ستا اړتيا پيښيږي نو ستا هغه اړتيا به پوره کوي او ستا د شکايت په اړه به پوښتنه کوي، داسې وګڼه چې دخواص خان هغه مينه اومحبت چې د يوې شهزادګۍ په توګه تا تر لاسه نه شو کړې اوس يې ته د يوې کونډې په څير غواړې ددې لارې تر لاسه کړې ، خو اوس دغه ټول له لوبه بې کاره ده ،ځکه چې مونږ اوس تا له ځانه سره د مهارت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور وروړو او هغه به تا د خپلې میرمنې په څیر خپله کړي. ګنګا ډیره په غصه شوه او ورته یې وویل چې: تاسو هسې چټیات وایی، زه د مهارت سره هیڅ سروکار نه لرم. واورئ! زه نه پوهیږم چې تاسو څوک یاست او یا مو نومونه څه دي؟ خو دا خبره په یاد لرئ چې شهزادګۍ ګنګا د خواص خان له پاره پیدا شوې او د همغه له پاره ځان ځار کړي، دغه کس په طنزي توګه وویل چې: ایا د هغه خواص خان له پاره چې یو وخت د صاحب خان په نامه یې ګیدړې ښکار کولې او تا ورڅخه ډیره زیاته کرکه کوله. ګنګا ورته ترکې په ترکي ځواب ورکړ او ورته یې وویل چې:

ګوره انسانه! تا ته زما په کورني ژوند کې د مداخلې کولو هیڅ ضرورت نه شته، دا چې ما په کومه مرحله کې د صاحب خان یا خواص خان سره محبت کاوه او یا مې ترې کرکه کوله، دا زما شخصي کار دي، خو اوس هغه زما د ژوند انه منزل دې او زما د جسم روح دې، په دې اړه زه د دې څخه نور زیات څه نه وایم. داځل هغه سړي موضوع بدله کړه او ترې و یې پوښتل چې ایا ډوډۍ خورې؟ په ځواب کې ورته ګنګا په ډیرې کرکې سره وویل چې: نه، زه ستاسو ډوډۍ نه خورم.

که چیرې ته ډوډۍ نه خورې نو بیا به زه ستا خوله پرانستې پریږدم خولاسونه به دې ترم او یوه خبره په یاد ساته چې ستا د لاسونو د تړلو وروسته زه بیرته خپل ملګري ته ورځم او د همغه سره کینم، که چیرې تا د شور کولو هڅه وکړه او یا دې د کومک له پاره اواز پورته کړ نو زه به دې خټ در پرې کړم، او دا هم په یاد ساته چې په کومې غریزې لړۍ کې چې مونږ همدا اوس ور داخلیږو دلته به هیڅوک هم ستا د کومک له پاره لاس را اوږود نه کړي ځکه چې په دې غرنۍ لړیو باندې زمونږ د سردار مهارت ولکه ده.

ګنګا د دې سړې د خبرو هیڅ ځواب ور نه کړ. بیا هغه د پخوا په څیر د ګنګا دواړه لاسونه د شا څخه وتړل او پخپله ولاړ او د خپل آس ځغلونکي ملګري تر څنګ کیناست. بګۍ په دغو غرنیو لړیو کې په پرلپسې توګه سفر کاوه، ان تر دې چې د دې غرنیو لړیو د ورانو ویجاړو څخه د تیریدو وروسته د یوې سترې دروازې تر مخ ورسیده. بګۍ د غې دروازې کې ور ننوتله چې د غرنۍ لړۍ څخه تراشل شوې او جوړې کړل شوې وه، ګنګا وکتل چې په دې غرنیو لړیو کې ډیر ښه کلا شکله هستوګنځایونه جوړ کړل شوي دي، د ننه تر ډیره پورې د اوسیدو کورونه دي او تر څنګ یې یو بازار هم شته، د دې کورنو او بازار څخه د تیریدو بګۍ د یوه پخواني جوړ شوي محل تر مخه ودریده.

د بګۍ د دریدو سره سم هغه وګړي چې پخوا تر دې یې د ګنګا سره خبرې کړې وې په حرکت راغې، د ګنګا لاس وپښې یې ور پرانستې او بیا یې ګنګا ته د بګۍ څخه د راښکته کیدو له پاره وویل. ګنګا هم چپ چاپ د بګۍ څخه را کیوتله، دغه سړي یو ځل بیا ګنګا ته مخ کړ او ورته یې وویل چې: ګوره ګنګا! زه یو ځل بیا تا ته ګواښ کوم چې دلته د شور او غوغا جوړولو هڅې و نه کړې او که نه زیانمنه به شې. دا زما د سردار مهارت حکم دی، راځه چې زه دې اوس هملته وروړم، هر هغه څه چې ته غواړې وو ایی د همغه په مخکې یې وو ایه. ګنګا ورته په ځواب کې هیڅ هم و نه ویل، د همغه وګړي سره چپ چپ روانه شوه، هغه د همدې کلا شکله محل د مختلفو برخو څخه تیریده او بیا د یوې داسې کمرې تر مخه ودریده چې یوه کس یې پهره کوله، دغه سړې ور مخته شو او د هغه پهره دار په غوږ کې یې څه وویل، د خبرې په اوریدو سره هغه ساتونکې هم ډیر خوشحاله شو او بیا په یوه منډه هغه کمرې ته ور ننوت.

دلږ ځند وروسته هغه ساتونکې د کمرې څخه بیرته راووت او هغه کس چې ګنګا یې له ځانه سره راوړې وه ته وویل: ورځه چې سردار غوښتې یې. د دې خبرې سره سم دې شخص د ګنګا په لور وکتل او ورته یې وویل چې: زما سره را ځه، ګنګا په خوله هیڅ هم و نه ویل، بس چپ چاپ د هغه سره روانه شوه. هغه کس هم ګنګا له ځانه سره یو ځای د خپل سردار مخې ته ور ننویستله.

ګنګا وکتل چې د دې کمرې په مخکینۍ برخه کې د پادشاه د کیناستو له پاره یو تخت جوړ کړل شوی دی. په همدې تخت یو کس چې ډیر پرقیدلې او ذرقیدلې کالي یې په غاړه و ناست و، عمر یې هم د څلویښتو کالو په شاوخوا کې و، مخ یې زخمي شوې و، چې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې ګواهي يې ورکوله چې هغه ډير جنګجويانه ژوند تر سره کوي. کمرې ته د ور ننوتلو وروسته دغه کس ګنګا ته په غوږ کې وويل چې: ګوره ګنګا ! دغه مخامخ ناست کس زمونږ سردار مهارت دي، ته به د هغه سره په احتياط او ادب سره خبرې کوې. بيا هغه شخص په کمرې کې په تخت ناست سردار مهارت ته په ډير ادب سره وويل چې: سرادره ! هغه پيغله چې له ما سره راغلې ده هغه ته د پخوا څخه پيژنې، د هغه د خبرې په ځواب کې مهارت په ډير بد غږ سره وويل چې هو ! زه يې د کلونو کلونو راهيسې پيژنم. دا د رهتاس شهزادګۍ ګنګا ده، دا به څوک و نه پيژني ! اوس ته ولاړ شه او زما د خوني دباندې ودريږه او زما د عکس العمل انتظار کوه. ددې حکم سره سم هغه کس بيرون ووت، خو کله چې ګنګا هم بيرون ته د وتلو له پاره روانه شوه نو مهارت پرې غږ کړ چې: «ته مه ځه، همدلته ودريږه» د هغه په دې خبره ګنګا و دريده او په ډيره بې وسۍ سره يې د مهارت په لور مخ را واړاوه. ددې کس د وتلو نه وروسته چې کله د کمرې دروازه بنده کړله شوه نو بيا مهارت ګنګا ته مخ کړ او ورته يې وويل چې:

ګوره ګنګا ! زما کسانو به تا ته ويلي وي چې ته يې ولې دلته راوستې يې. ګوره ګنګا ! ما د يوه اجنبي او نا څرګنده وګړي په توګه ستا د سويمبر په مقابلو کې هم برخه اخستې وه. خو دا زما بد قسمتي وه چې ما هغه سويمبر بايلود. که څه هم زما ملګرو به تا ته ويلي وي خو زه يو ځل بيا خپله خبره تکراروم چې ما ستا په سويمبر کې د برخې اخستلو څخه ډيره مخکې له تا سره مينه کوله، بس يو ځل مې هلته د رهتاس په ماڼۍ کې ستا مخ کتلې و او د هغې وروسته داسې يې وګڼه چې زه همستا شوم. زه اوس خپل ځان ډير خوش قسمته ګڼم چې ته زما تر مخه ولاړه يې. واوره ګنګا ! زه غواړم چې ته همزما اوسې، او ددې له پاره زه غواړم ستا د خولې څخه يو ځواب واورم

.

کله چې مهارت خاموشه شو نو ګنګا لږ څه فکر وکړ او بيا يې وويل چې:

ګوره مهارته ! ستا له اړخه د يوې لورې د محبت او غوښتنې څخه څه نه جوړيږي او بيا داسې وګڼه چې هغه مال چې يو ځل پلورل شوي وي او يا نيلام شوي وي او د هغې وروسته د هغه له پاره يو ډير ښه بل اخستونکې پيدا کيږي نو د هغه څخه به څه تر لاسه شي، نو مهارته ! د دنړۍ په بازار کې هم داسې وګڼه چې زه هغه شې يم چې يو ځل پلورل شوې يم او دويم ځلي نه شم پلورل کيدې. داسې وګڼه چې زه د زمانې له اړخه د يوه چاپه ځولۍ کې ور اچول شوې يم او زه غواړم په همغه ځولۍ کې پاته شم. شونې ده چې ته به زما د جسم، زما دشتمنۍ او يا زما ښکلا په محبت او مينې کې را لتاړ شوې يې خو تا ته زما د تيرشوې تاريخ په اړه هيڅ ډول معلومات نه دي درکول شوي.

دګنګا ددې خبرو سره د مهارت په خوله باندې د طنز نه ډکه خندا راغله او بيا يې په لوړ اواز وويل چې: ګوره ګنګا ! زه ستا د تيرو حالاتو په اړه پوره پوره معلومات لرم، دا چې ته ځانته يو پلورل شوې يا ليلام شوې شې وابې، دا په دې خاطر چې ته د شيرشاه سورۍ د سالار خواص خان سره مينه کوې، واوره ! زه په دې هم خبر يم چې خواص خان پخواني صاحب خان دي چې ګيدړې به يې ښکار کولې، او له تا سره يې مينه او محبت کاوه، خو تا د هغه مينه او محبت له يوې مخې مسترد کړل، چې زما په فکر اوس هغه په همدې اساس له تا څخه کرکه کوي، هغه نقاب په مخ کړ او ستا د سويمبر په مقابلو کې يې ګډون وکړ، هغه ظالم د سويمبر ټولې برخې وګټلې، او کله چې تا د سويمبر د برى شوې کس په اړه لټون وکړ نو هغه خواص خان وخوت. او بيا هغه ته مسترد کړې، ستا څخه يې د کرکې څرګندونه وکړه، وو ايه چې زه سهي خبره کوم؟ د همدې کرکې په اساس ته د شهزادګۍ ګنګا څخه د يوې کونډې په بڼه ولاړې او د زيارت په لنګر ځاى کې دې پناه واخسته. زما مخبرانو په دې ټولو حالاتو کې ستا پوره څارنه کړې ده، ما هغوې د همغه لمړۍ ورځې څخه ستا د څارنې له پاره ګمارلي و او ورته مې لارښوونه کړې وه چې په کوم مناسب وخت کې تا د ځانه سره را پورته کړي او دلته دې راولي. نو نن زما دا مخبران بريالي شول او ته نن زما تر مخه ولاړه يې. ګنګا ورته وويلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره مهارته ! خپله دا بريا هم خپله ناکامي وګڼه ، ځکه چې تاته به زما د ذات څخه څه ګټه تر لاسه نه شی. که چيرې تا په زور زما دخپلولو هڅه وکړه نوبيا ياد ساته چې ته به يوائې زما لاش وموموې. زما روح به له تا سره نه وي. دګنګا ددې ځواب څخه مهارت لږ څه انديښمن شو ،فکر يې وکړ او بيا يې په ډيره همدردۍ اومينې سره ورته وويل چې:

ګوره ګنګا ! اوس خو خواص خان هم تا نه خوښوي اونه درسره مينه اومحبت کوي ، نو ته بيا ولې دهغه په ياد کې د تيرشوي پسرلي د مړاو شوو غنچو په څير مړژوانده ژوند تيرول غواړې. ګوره ګنګا ! يو هغه خواص خان دی چې ته يې هيسته غورځولې يې او نه درته کوم اهميت درکوي اوبل زه يم چې د شپې دخوب په ځای ستا په خيالونو او فکرونو کې لږ په اغزنو بوټو خپل ژوند تيروم. زه خو تا د غمونو او انديښنو د نا ارامو خوندونو څخه را باسم او منزل ته د ورسيدو اود محبت او مينی دڅپو د سمندر په لور دې له ځانه سره وړم.

مهارت د لږ څه وخت له پاره ځنډ وکړ او د لږ څه فکر کولو وروسته يې يوځل بيا يې په خبرو پيل وکړ:

ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ترڅو به ته د کونډې په بڼه د سترو او ناکامو ستورو په څير دغمونو نه ډک اود مسخه شوي منزل په څير ژوند سبا کوې. تا ولې د خپله ځانه خامخا کونډه جوړه کړې ده ؟ په داسې حال کې چې تا له هيڅا سره ( اور نه اوه ځلې دګرزيدو ) پيرې هم نه دې تر سره کړې ، دهغه په دې خبره ګنګا ځواب ورکړ او ورته يې وويل چې:

ګوره مهارته ! ته به دا څرګنده نه وي چې زه دخواص خان څومره ژوره مينه کوم ، دخواص خان پرته زه خپل شتون نه شتون ګڼم.

مهارت د لږ څه وخت له پاره په فکر کې ډوب و او بيا يې وويل چې: ګوره ګنګا ! ته ولې بې لارې لارې روانه يې. زه خو تاته عزت ، توقير او ترڅنګ يې ستا خوندي ساتنه او درننبت درکوم. خو ته په خپله خپل ځان په زمکه باندې پريباسې او دپستۍ او ذلت په لور منډې وهې ، دهغه چا سره چې ته مينه کوې هغه ته هيسته غورځولې يې. ته اوس داسې يو فصل يې چې مالک نه لري ، داسې فصل چې هر څوک چې و غواړي ريبلې يې شي. دا سې د ګلاب ګل ، چې هر څوک يې بويولې شي. دهغه په دې خبره ګنګا وويل چې: ګوره مهارته ! دا ستا ذاتي فکر اوخيال دې. نه خو زه بې مالکه فصل يم او نه دبيابان د ګلاب ګل. ياد ساته چې تر اوسه پورې داسې څوک شته چې زما دمحبت او مينې په خاطر نا ارامه دې. دهغې په دې خبره مهارت ورته وويلې چې: هو ! زه پوهيږم چې ته د خواص خان په لورې اشاره کوې ،ځکه چې د يوې کونډې په څير به تا په ډاډ منه توګه د خواص خان محبت او مينه تر لاسه کړې وي خو کله خواص خان ته دا څرګنده شي چې د هغې کونډې په لباس کې ته همغه ګنګا يې ، نوستا پر خلاف به دهغه همغه لمړنۍ کرکه به بيرته را ستنه شي. هغه به تاته هيڅ هم درنه کړي او ستا په لمن کې به د کرکې او نفرتونو نه اخوا نور څه در زيات نه کړي. ګنګا ورته وويلې چې: نه ! داسې نه ده ، مهارته ! ته چې څه ډول آند کوې همغسې يې کوه ، خو زه به دخواص خان پرته بل څوک د ژوند ملګرې و نه ګرځوم. دا زما اخري پريکړه ده ،که څه هم ته زما څټ را پرې کړې ، خو زه به د خپلې دې پريکړې څخه و انه وړم.

دګنګا ددې ځواب څخه مهارت تر يوه وخته پورې خاموشه و ، اوپه فکر کې ډوب شوې و. بيا يې په زوره لاسونه و پړکول، دهغې د لاسونو دپړکار په واسطه دهغه همغه دوه کسه ملګري ، چې ګنګا يې را تښتولې وه ،دننه خوني ته را ننوتل. بيا هغوې دواړو ته مهارت مخ کړ او ورته يې وويل چې: تاسو يو کس ګنګا ددې کمرې څخه بيرون وباسئ ، اوبل دلته پاته شئ اوزما خبره په غور سره واورئ ، ددې خبرې سره سم دهغوې څخه يو کس ګنګا د کمرې څخه بيرون وويستله ،کله چې ګنګا بيرون کړل شوه نو مهارت خپل هغه بل ملګري ته وويل چې: زما نژدې دوسته ، واوره ! ما ډيره هڅه وکړه چې ګنګا دې خبرې ته راوړم چې خواص خان هير کړي او زما سره د واده کولوله پاره تياره شي خو هغه ددې هر څه سره بيا هم دې کار ته غاړه نه ږدي ، داسې بريښې چې هغه دخواص خان سره د ړند و سترګو محبت کې رالتاړه شوې ده. ګورئ چې په هغې باندې کوم زور زياتې و نه کړل شي، زه غواړم چې دهغې سره ډيره ښه اونيک

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلوک وکړل شي تر څو د نیک سلوک له لارې دهغې محبت را خپل کړم اوبیایې خپل ځانته واده کړم. تاسې په دې اړه څه وایاست؟
دمهارت ددې پوښتنې په ځواب کې دهغه ملګرې وویل چې:
ګوره کلو ! ستا خبره سهي ده ، که چیرې مونږ پر ګنګا باندې زور زیاتې وکړو نو زما ذاتي تجربه او خیال دادې چې ګنګا به مرګ ته غاړه کیږدي خو تا به دخپل ژوند ملګرې و نه ګرځوي ، خو که چیرې هغه همدلته وساتل شي او د احساناتو او میلمستیاو د بار لاندې راشي نو زما په آند چې هغه به ممنونه او شکر کونکې اوسي او بیا به تا هم دخپل میړه په څیر و مني. مهارت په دې خبره ډیر خوشحاله شو او ویې ویل چې: ګوره دوسته ، زه هم همدا سې غواړم. اوس ته ولاړ شه او زما ددې کمرې تر څنګ چې کومه کمره ده ، هغه دپخوا څخه ښایسته کړل شوې ده ، ما غوښتل دا کمره د واده نه وروسته دګنګا سره یو ځای استعمال کړم خو اوس ګنګا په دې کمره کې ځانته ور واچوئ، هغه به همدلته میشت وي ، دهغه د اړتیا و د پوره کولو هڅه وکړئ او نیرمل نومې ښځه چې دد ې کمرې په پاکولو اوښایسته کولو دنده په غاړه لري ، دګنګا دخدمت له پاره و ټاکئ او ورته ووایاست چې نوموړې هر وخت دهغې سره یو ځای واوسیږي. هغې ته دا هم ووایاست چې هڅه وکړي چې ګنګا زما سره په واده کولو باندې و هڅوي. اوس ته ورشه ، اوما چې درته څه وویل همغسې اقدام وکړه. ددې خبرې سره سم د مهارت هغه ملګرې دهغه ځایه ووت.
کله چې دمهارت دا ملګرې بیرون را ووت نو ویې کتل چې هغه کس چې ګنګا یې له ځانه سره بیرون را ویستلې وه د ګنګا سره یو ځای همله ته ولاړ دې، خپل ملګری ته یې خاصه اشاره وکړه ، هغوې دواړو ګنګا له ځانه سره واخسته او هغه تر څنګ کمرې ته یې یوړه ،بیا دهغوې څخه یوه یې ګنګا ته وویل چې: ګوره شهزادګۍ دا ستا د اوسیدو خونه ده. اوس که ته نه غواړې چې مهارت دخپل ژوند ملګرې کړې نو مه یې کوه. څو ورځې همدلته په دې خونه کې واوسه ، دهغې وروسته به مونږ لکه څنګه چې ته په خوندي توګه د رهتاس څخه راوستې یې بیرته به دې په همغه توګه رهتاس ته یوسو اوهلته به دې د زیارت په لنګر ځای کې ورخوشې کړو. ددې خبرې سره سم یې ګنګا همله په هغه خونه کې یواځې پریښوده اودوې دواړه ترې په شا ولاړل.
ګنګا مخته ولاړه ، په همدې خونه کې کیناسته ، هغه بې چاره په ژورو فکرونوکې ډوبه وه ، هغه ډیره بدحاله ، اندیښنو کې ډوبه او سرګردانه وه، هغه تر اوسه پورې همداسې ناسته وه چې یو نیم عمر خوړلې ښځه یې خونې ته ور ننوتله. دهغې د کتلو سره سم ګنګا د خپله ځایه را پورته شوه ، هغه ښځه ور مخته شوه اوګنګا ته یې وویلې چې: ګوره ګرانې ! ته ولې زما د راتګ سره سم ماته د خپله ځایه پورته شوې. زه خویوه وینځه یم ، ماته حکم وکړه چې زه ستا څه خدمت وکړم. ددې ښځې د وینا وروسته ګنګا بیرته په خپل ځای کیناسته،دا ښځه نوره هم مخته ورغله اودګنګا په پښو کې کیناسته ، دهغې په را نژدې کیدو سره ګنګا سمدستي دخپله ځایه پورته شوه، هغه یې د لاسو څخه ونیوله اوپورته یې کړه اوپه خپل څنګ کې یې کینوله او ورته یې وویلې: لاندې مه کینه ، بښکه چې ته به وینځه یې خو زه دمالک او وینځې تر منځ کوم توپیر نه محسوسوم. ته همدلته له ماسره یو ځای کینه ، او دا راته ووایه چې ته د کوم غرض په خاطر دلته زما خواته راغلې یې.
دګنګا په دې خبرو باندې هغه ښځه حیرانه شانته شوه ، وارخطا شوه ،خوبیا هم دګنګا تر څنګ کیناسته او ورته یې وویلې چې: زه یې ستا دخدمت له پاره ټاکلې یم ،اوس به زه هر وخت ستا تر څنګ اوسم ،ستا خدمت به کوم او ستا د اړتیاو د پوره کولو هڅې به کوم.
ګنګا ترې وپوښتل چې دوې زما په اړه تاته څه ویلې دي؟ هغې ښځې ورته وویل چې ګوره درنې ! ماته یې ستا نوم ګیتا ښوولې دې ، خو زما نوم هم واوره ، زما نوم نیرمل دې. زه یې هم د کوم ځایه را پورته کړې یم او دلته یې په زور راوړې یم، په دې اساس اوس زما د اوسیدو بل کوم ځای ماته نه دې پاته. په دې خاطر زه دلته په اوسید و مجبوره یم. ماته یې ستا په اړه دا هم ویلې دي چې ته یوه کونډه یې اود رهتاس د زیارت په لنګر ځای کې اوسیدې، مهارت له تا سره مینه کوله نو ته یې دهغه ځایه په زور را وستې اودلته یې ځای د ر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ ،اوس چې ته دهغه سره واده کول نه غواړې نو هغوې تا بیرته رهتاس ته استوي ، نو ترڅو چې ته دلته اوسیږي زه به ستا په خدمت باندې ماموره یم.

کله چې نیرمل خاموشه شوه نو ګنګا تر یوه وخته پورې د فکرونو په ټالونو کې ځنګل، دهغې وروسته یې په ډیر غور او دقت سره نیرمل ته وکتل او ورته یې وویل چې :

ګوره نیرملې ! ته خو زما د مور په ځای یې. زه ضرور کونډه یم خو ما تر اوسه د چا سره واده نه دې کړې. دهغه چا سره چې زما کوژدن شوې وه نو داسې یې وګڼه چې هغه زه پریښې یم ،څرنګه چې ما دهغه سره مینه کوله نو په دې اساس ما خپل ځان کونډه وګڼه او هلته د زیارت په لنګر ځای کې د کونډو په پناه ځای کې دیره شوم ،ګوره نیرمل ! زه یو غمژنه پیغله یم او ته زما د مور په ځای یې. زه له تا څخه هیله لرم چې له ماسره به دروا غ نه وایې. هره هغه خبره چې زه یې کوم دهغې سهي ځواب راکړه ، ځکه چې ته پخپله هم غمژنه یې او د یوې غمژنې پیغلې په غم او مصیبت باندې ډیره ښه پوهیږې،دهغې په دې خبره نیرمل دخپله ځایه پورته شوه، خونې دروا زه یې وتړله ، اوبیرته راغله او دګنګا تر څنګ کیناسته اور ته یې وویلې چې: ګوره ګیتاجانې زمالورې ! اوس راته ووایه چې ته څه ماته څه ویل غواړې ؟ګنګا ورته یو ځل بیا وویل چې :

ګوره نیرمل ! زه دې خلکو په زوره د رهتاس د زیارت د لنګر ځای څخه را تښتولې یم، زه دشیرشاه سوري د یوه سالار خواص خان سره ډیره مینه کوم، هغه هم ماخوښوی،خو دې خلکو زه په زور سره دلته راوستې یم ، دوې زما اود خواص خان تر منځ بیلتون غواړې،ریښتیا راته ووایه چې دلته د اوسیدو په صورت کې به زما د ژوندان پایلې څه ډول وي؟

دګنګا ددې پوښتنې په ځواب کې ورته نیرمل په ډیر راز سره وویل چې:ګوره پیغلې ! ستا په اړه ماته دا لارښوونه هم شوې ده چې زه هره ورځ له تاسره خبرې وکړم او په خبرو خبرو کې تا ته د مهارت په لور مایله کړم. ترڅو ته دهغه سره واده ته تیاره شې. دهغوې آند دا هم دې چې دلته د قیام په دوران کې له تاسره ډیره ښه سلوک او کړچار وکړل شي ،پرتا باندې د مهربانیو او خوږلنیو باران وکړل شي تر څو ته تراغیز لاندې راشې اودمهارت سره واده ته تیاره شې. دهغې په دې خبرو باندې ګنګا په ډیره غصه شوه او ویې ویل چې: که چیرې دا خلک ټول عمر همداسې وکړي بیا به هم دوې ما د مهارت سره د واده کولو له پاره تیاره نه کړای شي، نیرمل ورته په ویره ویره او راز سره وویل چې:

ګوره ګیتا ! زه اوس تا دخپلې لور ، دخپلې بچۍ په څیر ګڼم ، زه پوهیږم چې ته په غمونو کې ډوبه یې. او ته یې په زور دلته را تښتولې یې. زه به دیوې مور په څیر ستا خدمت کوم. او واوره ! ماته چې هر خدمت وي نو حتما یې ماته ووایه. ته اوس همدلته کینه ، زه به ولاړه شم اوتا ته به خوراک ښباک غم وکړم. ګنګا همدلته کیناسته ، نیرمل ورته خوراک ښباک راوست، ګنګا هغه هم له ځانه کینوله او ډوډۍ یې سره یوځای وخوړله. نیرمل دګنګا څخه ډیره خوشحاله شوه ، په همدې توګه به ورځې تیریدې اوګنګا به ورځ په ورځ دنیرمل محبت او مینه ځانته را ماتوله.

یو وخت نا څاپه ګنګا بې چاره د شپې خوب کې وویریده او را کیناسته. خپل شاوخوا ته یې وکتل ، هغه زړه نیرمل چې هر وخت به په همدې کمره کې ویده کیده ،په خپله بستره کې نشته ، حال دا چې هغه به د ماښام په وخت کې په خونه کې څملاسته خو اوس یې بستر خالي پروت و.

ګنګا دبیرون څخه راتلونکې دوحشت اوویرې غږونه اوریدل ، هغه داسې احساسول چې بیرون اورلګیدلې او هر څه د ځنګله د اور په څیر په خپل ځان کې را نغاړي ، ګنګا بې چاره ددې ټولو وحشي اوازونو او شورو غل سره په پوره ویره کې همدلته په خپله خونه کې ناسته وه. هغه هیڅ په دې نه پوهیده چې په دې شپه د مهاراج په دې فوځي تمځای باندې څه توپان رانازل شوې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنګا دپلټنې او دځان دخبرولو په خاطر دخپلې بسترې څخه راپورته شوه ،خپل کالي یې درست کړل ،دکمرې د دروازې په لور ولاړه ، دروازه یې لږ شانته پرانسته اوبیرون یې وکتل ، هغه ډیره حیرانه شوه چې وسله وال ځوانان اخوا دیخوا منډې او چیغې سورې وهي ، ګنګا ډیره وارخطا شوه ، اود وارخطایی او ویرې له لاسه یې دروازه بنده کړه او بیرته خپلې بسترې ته را ستنه شوه اوهملته کیناسته.

لږه شیبه وروسته هغه زړه نیرمل هم په منډه او ساه نیونکې هغې کمرې ته را ننوتله اود ګنګا څنګ ته راغله او په پوره بدحواسۍ کې کیناسته ، او بیا یې په یوه ساه ګنګا ته مخ کړ او ورته یې وویلې چې : ګوره ګیتا لورې ! دلته اوس یو ډول انقلاب راغلی دې ، داسې برېښې چې ددې مهارت اودهغه دملګرو شپې نورې شمیرل شوې دي ، ګنګا ترې په ډیره نا ارامۍ سره وپوښتل چې : نیرمل ته څه وایی ، ژر یې راته ووایه. نیرمل ورته په ځواب کې وویل چې :

ګوره ګیتا لورې ! په مهارت باندې حمله شوې ده ،ګنګا ترې سمدستې وپوښتل چې حمله چا کړې ده ؟ نیرما خپله ساه کلکه کړه اود ګنګا په لور یې په غور سره وکتل او ورته یې وویل چې : ګوره ګیتا لورې ! دا حمله ستا هغه کړې ده . نیرما په دې خبرو باندې ګنګا بیچاره لږ څه وخندل او بیا یې ورته وویل چې ووایه نیرما ، ته څه ویل غواړې ؟زما چا دلته یرغل راوړې دی ؟ نیرمل بیا ځواب ورکړ چې :

ګوره ګیتا لورې ! دشیرشاه سوري سپه سالار خواص خان د مهارت په دې ځاله باندې یرغل راوستې دې، لږ څه دمخه د مهارت مخبرانو هغه ته خبر ورکړ چې چې دشیرشا ه سوری ستر سالار خواص خان دخپل لښکر سره یو ځای په ډیره بیړه دمهارت په دې ځاله باندې یرغل کونکې دي ،مهارت دخپلې دې ځایه بیرون ولاړ او هلته یې د خواص خان سره د ټکر کولو اراده وکړه ،مهارت داسې ګمان کوي چې د خواص خان سره به لږ فوځ وي، په داسې حال کې چې دهغه په دې تم ځای کې چې دهغه څومره ملګري موجود دي یواځې دهغوې شمیره دخواص خان د فوځ دوه هومره کیږي ،په دې خاطر مهارت دخپل تم ځای څخه دشپې په تیاره کې دخواص خان سره د جنګ له پاره ووت او همته بیرون د جنګ کولو اراده لري. اوس به ووینو چې ددې جنګ پایلې به څه وي ، ګوره لورې ! ته څه فکر کوې؟ ایا خواص خان به ددومره کم لښکر سره ددومره سترو لښکرو لرونکي کنترول کړای شي . ګنګا ددعا په شکل خپل دواړه لاسونه پورته کړل او ویې ویل چې : ګوره نیرما ! که بګوان وغواړي نوزما خواص خان به په دې مهارت باندې بریالې کړي،ګوره نیرملې ! خواص خان ددې څخه مخته هم ډیر داسې میدانونه سوبه کړي دي اوتل د خپلو دښمنانو په مقابل کې بریمند راوتلې دې ، اودلته هم زه تاته ډاډ درکوم چې که چیرې دشپې په تیاره کې مهارت دخواص خان سره دټکر کولو هڅه وکړه نو زما زړه وایی چې دشپې په همدې تیاره کې مهارت د خواص خان په لاسو نیست اونابود شي . ګوره نیرملې ! زه تاته یوه خبره کوم چې په هغې به خامخا عمل کوې ،نیرمل ورته وویل چې لورې ته څه وایی ژر یې راته ووایه. ګنګا ورته وویلې چې :

ګوره نیرملې ! زه ډاډه یم چې مهارت به دخواص خان په لاسو د ماتې او شکست سره مخامخ کیږي خو که چیرې د ماتې خوړلو وروسته مهارت چیرې د تیښتې هڅه وکړي نو زه په خپله هلته دخواص خان څنګ ته ورځم اوکه چیرې مهارت بیرته خپل تمځای ته راستون شو او زه یې هم له ځانه سره چیرې بوتلل غوښتل نو په دې حال کې نیرملې ، خامخا خواص خان ته ورشه اوهغه ته ووایه چې درهتاس د زیارت دلنګرځای یوه کونډه چې ګیتانومېده ، او هلته به ستا د کور مخې ته کله کله د سوال له پاره را تلله ، هغه کونډه دمهارت دوه کسو بدمعاشانو له ځانه سره را و تښتوله او دلته یې راوړې ده او اوس مهارت په زور ورسره واده کول غواړي، خو هغه ګیتا نومې ښځه وایی چې هغه یواځې اویواځې خواص خان خوښوي اودمهارت سره نه غواړي چې واده وکړي ، خو دماتې خوړلو وروسته مهارت یو ځل بیا هغه له ځانه سره په زوره بوتله ، نیرملې ،زه تا ته ډاډ درکوم چې په داسې وخت کې به خواص خان ضرور دمهارت پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ولاړشي او ما به دهغه دلاسو څخه را خلاصه کړي. که چیرې همدا سې د ې وکړل نو زه به ستا احسان په ټول ژوند کې هم هیر نه کړم.

نیرمل ورته په ډیره مینه او شفقت سره وویل چې: ګیتا لوري ، ته فکر مه کوه که چیرې حالات همدا سې شول لکه ته یې چې وایې نو زه به ستا پیغام حتما خواص خان ته ورسوم او هغه ته به ووایم چې هغه تا ته د مهارت د لاسو څخه نجات درکړي ، د نیرمل دد ې ځواب د اوریدو سره ګنګا ډیره خوشحاله شوه او بیا دواړه هر یوه په خپله خپله بستره کیناستې او د حالاتو څارنه یې پیل کړه.

٣٩

خواص خان تر او سه پورې د مهارت دد ې تمځای څخه لرې و چې د مهارت مخبرانو مهارت ته خبر ورکړ چې دشیرشاه سوري ستر سالار خواص خان د هغه په دې عسکري تمځای باندې یرغل کونکې دې. او دخپل لښکر سره یو ځای په ډیره بیړه د ې لورې ته را روان دې. دد ې اطلاع سره سم مهارت هم و خوزید او خپل لښکر یې دخپلو تمځایو څخه بیرون راوویست او دشپې په تیاره کې یې خپل ټول لښکر په پټو مورچو کې ځای په ځای کړ ترڅو دخواص خان د لښکر د راتلو سره سم دخپلو همد ې پټو سنګرونو څخه په هغوې یرغل یوسي او هغوې مات او بیرته شاتللو ته و هڅوي.

دبله اړخه خواص خان هم په ډیره بیړه مخته روان و ،هغه هم خپل مخبران تر لرې لرې پورې خپاره کړي و خو دهغه مخبران په دې نه و توانیدلي چې دمهارت دپټنځایو په اړه ژور معلومات تر لاسه کړي ،په دې خاطر کله چې خواص خان د مهارت تر پټنځایو پورې را ورسید نو مهارت یو ناڅاپه دخپل سنګر څخه راووت او د یوه توپان په څیر یې دخواص خان په لښکر باندې را باندې کړل. د خواص خان لښکر دد ې ناڅاپي یرغل څخه د پوره ستونزو سره مخ شو دهغوې لمړنۍ لیکې ګډوډې شوې ، او عسکر یې خواره واره شول خو خواص خان په ډیره بیړه او تدبر سره بیرته خپل عسکر سره را ټول او دمهارت د عسکرو د مقابلې له پاره یې په داسې حال کې چې خونړې جنګ روان و بیرته منظم کړل.

خواص خا پخوا تر دې هم د ژوند ډیرې سرې تودې تیرې کړې وې ، په دې اساس که د مهارت نا څاپي یرغل دهغوې دلښکرو لمړنۍ لیکې له منځه وړې وې، خو بیا یې هم خپل ځان ډیر ژر سنبال کړ. مهارت دا و انګیرله چې خواص خان ماتې وخوړه او اوس د تیښتې په فکر کې دې نو په دې خاطر یې خپلې حملې نورې هم تیزې کړې خو اوس خواص خان هم خپل ځان تیار کړې و ، دشپې په تیارو کې سخت خونړې جنګ و نښت ، خواص خا ن دخپلو فوځونو حوصلې ور کلکولې او دهغوې دلیکو د ټینګښت له پاره یې دفاعي جنګ پیل کړې و.

خو دد ې وروسته خواص خان خپل اصلي ځواک را څرګند کړ ، هغه خپله ماتې په ډیر ځواکمن بری باندې بدلول غوښتل ، هغه د غلیم د لښکرو د ماتولو له پاره د خپل هوډ ښکارونه کوله ، هغه د همد ې احساساتو سره یو ځای د تکبیر اواز پورته کړ ، دهغه د تکبیر د اواز سره دهغه لښکر هم د تکبیر نارې پورته کړې ، دد ې تکبیرونو څخه داسې ډاګیزه ده چې د سهار د اذانو لړۍ پیل شوې وې، دهمد ې عمل په واسطه خواص خان د دفاعي حالت څخه ووت او د جارحیت په پړاو کې ور ننوت او د مهارت په لښکرو کې لکه د تیزو غوځونکو اوسپنیزو اغزیو ، د تیزو توپاني څپو په بڼه کې ور ننوت.

مهارت چې څو لمحې مخته یې خپله سوبه ډاډمنه ګڼله دخواص خان دد ې حملې څخه ډ یر وارخطا شو او شاته تګ یې پیل کړ ، دخواص خان دې نا څاپي یرغل هغه ته دا ډاګیزه کړې و چې دهغه د پښو لاند ې ځمکه چا را ښکودې ده. د لږ څه ځنډ وروسته د سخت جنګ په جریان کې خواص خان مهارت ته د اښوولې و چې نه هغه او نه دهغه لښکر د هغه سره په دې مقابله کې دپښو د تم کیدو توان لري ، اوس نو خواص خان چپ او ښې لورې ته او هم مخامخ خپلې حملې ته دوام ورکړ ، خو مهارت کرار کرار شاته روان و ، شونې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه به غوښتل خپل عسکري تمځای ته ور ننوځی او هلته خپله دفاع وکړي خو خواص خان هم د هغه د مکارۍ څخه پوره پوره خبر و په دې خاطر یې خپلې حملې نورې هم ګړندۍ کړې، تر هغه وخته پورې چې مهارت خپل عسکري تمځای ته په شا روان نو خواص خان د جنګ د ځایه څخه تر د مهارت د دې ځایه پورې د هغه لښکر د نیمایی څخه هم زیات را کم کړې و. مهارت چې کله دا حال وکوت نو مخ یې وا ړاوه او د تیښتې لار یې خپله کړه. خو خواص خان هغه پسې واخست، کله چې مهارت خپل د اوسیدو ځای ته ورسید نو خواص خان یوځل بیا خپل اصلي رنګ کې را څرګند شو او د مهارت هغه پاته لښکر یې هم د نیمایی څخه زیات د تیغه تیر کړ. مهارت د خپلو ساتونکو سره یوځای به ډیره ستونز منه توګه د غرنیو لړیو دغې هستونګنځې ته ور ننوت خو خواص خان خپل لښکر د هغه د همدې تمځای څخه بیرون تم کړ. خو خپل عسکر یې د ناڅاپي یرغل په خاطر تیار و ساته، تر څو د مهارت د بیرته را وتلو په وخت کې د هغه د ناڅاپي یرغل په مقابل کې ښه مقابله و کړای شي. اوس خواص خان غوښتل چې دورځې په رڼا کې دغه هستوګنځای ته ور ننوځي او مهارت باندې خپل اخری مرګوني ګذار وکړي.

خواص خان د خپل لښکر سره یو ځای د مهارت د هستوګنځي نه بیرون پړاو کې و چې د هغه یو عسکر ورته په منډه منډه راغې او ورته یې وویل چې: امیره! یوه زړه بوډۍ ښځه غواړي له تاسره ووینې. د هغه په دې خبره خواص خان هغه خبر راوړونکې ته په غور سره وکتل او ور څخه یې وپوښتل چې ایا هغه ښځه خو به جاسوسه نه وي او یا دا چې د مهارت له پاره خو به کار نه کوی، هغه عسکر ورته وویل چې نه، امیره! مونږ هغه ښکته پورته وکتله، هغه بیچاره وایی چې غواړي له تاسره یوه خبره شریکه کړي، خواص خان ورته وویل چې که داسې وي نو هغه سمدستې ما ته را ورسوئ. ددې خبرې سره سم هغه عسکر د هغه ځایه ولاړ او د لږ ځنډ وروسته یې دغه هندوه نیرمل نومې زړه ښځه له ځانه سره راوړه کومه چې د مهارت له اړخه د ګنګا د خدمت له پاره مقرره شوې وه. خواص خان ترې په ډیر د رنښت سره وپوښتل چې:

ګوره ادې! زما نوم خواص خان دې، ما ته خبر راغې چې ته ما ته کومه خاصه خبره کول غواړې؟ نیرمل ورته په ډیره منیه او شفقت سره وویل چې: ګوره زویه! زه تاته یوه ډیره مهمه خبره کول غواړم، ایا ته کومه داسې کونډه پیژنې چې د رهتاس د زیارت په لنګرځای کې اوسیدله او نوم یې ګیتا و. د نیرمل په دې خبره خواص خان ټکان وخوړ او ترې ویې پوښتل چې ادې! ته یې څنګه پیژنې؟ هو! زه د رهتاس د زیارت د لنګرځای ګیتا ډیره ښه پیژنم. او هغه هم ما پیژني، نیرمل ورته وویل چې: ګوره زویه! ګیتا همدا اوس ستا کومک ته اړتیا لري، خواص خان ترې په ډیر بیړه وپوښتل چې:

ادې! ته څه ډول خبرې کوې، ګیتا ما ته څه اړتیا لری؟ هغه خو د رهتاس د زیارت په لنګرځای کې ده، ددې خبرې سره سم نیرمل خواص خان ته د رهتاس د زیارت د لنګر ځای څخه د مهارت د دوو کسانو په لاسو د ګیتا د راتښتولو پیښه بیان کړه او دا یې هم ورته ډاګیزه کړه چې هغه څه ډول دلته د مهارت هستونګنځای ته راوستل شوه او بیا دلته مهارت څومره هڅه وکړه چې هغه د خپل ځان سره واده کړي خو ګیتا ترې څه ډول انکار وکړ او دا چې هغه یوائې او یوائې د خواص خان سره د مینې څرګندونه کوله او... دا ټولې خبرې یې ورته په ډیر تفصیل سره بیان کړې.

دشیرشاه سوري دکتاب دریمه برخه

۳۹

تر او سه پورې خواص خان د مهارت د دې تمځای څخه لرې و چې مهارت ته د هغه مخبرانو خبر ورکړ چې د شیرشاه سوری ستر سالار خواص خان پر هغه د یرغل له پاره په ډیره چټکه توګه مخته را روان دې. ددې خبر سره سم مهارت هم لاس و پښې و هل پیل کړل او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول فوځونه يې د فوځ دتمځاې څخه بیرون وويستل ،پخپله هم د شپې په تیاره کې دخپلو فوځونو سره يو ځاې ووت او هلته په يو سنګر کې پټ کیناست. هغه په دې آند و چې کله چې خواص خان هغه ځاې ته راورسیږي نو مهارت به د خپل ټول ځواک سره پرې پټکۍ حمله وکړي او په دې توګه به هغه بیرته وځغلوي.

خو د بله اړخه خواص خان هم په ډيره بیړه د مهارت پر فوځې تمځاې باندې دحملې کولو له پاره را روان و. هغه خپل مخبران هرې لورې ته خپاره کړي و خو دهغه مخبران د مهارت د پټنځاېو د معلومولو په اړه ناکام شوي وو . په دې اساس کله چې خواص خان د مهارت دغه پټنځاې ته را نژدې شو نو مهارت په ناڅاپي توګه د خپله سنګر څخه راووت او د توپان په څیر مخته راغې او دخواص خان په لښکر باندې را پریوت. دهغه دغه نا څاپې حملې د خواص خان د لښکرو لمړنۍ لیکې د ستونزو سره مخ کړې، داسې څرګندیده چې د مهارت دغه ناڅاپې یرغل دخواص خان لښکر ته نه تلافي کیدونکې زيان ور اړولې دې.

خو خواص خان هم داسې ژر ناهیلې کیدونکې نه و . هغه د ژوند تودې سړې ډيرې کتلې وې،که څه هم دغې ناڅاپې یرغل دهغه د لښکرو لمړنې لیکې د ستونزو سره مخ کړې وې خو هغه ډير ژر بیرته خپل ځان را جوړ کړ اوبیا دخپل لښکر سره یو ځاې لړ څه شاته ولاړ ، دهغه د شاته تګ څخه مهارت داسې و انګیرله چې خواص خان ماتې و خوړه او اوس د تیښتې په هڅه کې دې نوپه دې خاطر هغه خپله حمله نوره هم چټکه کړه خو تر دې وخته خواص خان بیرته خپل لښکر سره را یوځاې او منظم کړې و . اوپه پوره توګه دخپلې دفاع له پاره تیار شوې و. دشپې په دې تیاره کې یو ځل بیا ددواړو فوځونو تر منځ خونړې جنګ و نښت ، مهارت هم په پوره ځواک سره خپلو حملو ته دوام ورکړ. خو خواص خان دخپل فوځ او لښکر د حوصلو د پورته کولو اودهغوې په منظمولو کې په پوره چټکتیا سره مصروف و ، اما تر څنګ يې دخپلې دفاع جنګ هم جاري ساتلې و.

د لښکرو د نظم و نسق نه وروسته خواص خان دخپل ځان دښوولو پریکړه وکړه او هوډ يې وکړ چې خپله دغه لمړنۍ نا څاپي ماتې په بريا باندې بدله کړي

مهارت چې لږ ترمخه يې خپل بريا حتمي ګاڼه ، دخواص خان دد ې حملې څخه ډير زړه خوړينې شو او د شاته تلو هڅه يې پیل کړه ، دخواص خان ددې ناڅاپې یرغل څخه هغه داسې شو لکه چا يې چې د پښو لاندې خپور فرش را کش کړې وي. تر لږه وخته پورې د جنګ اړخ بدل شو او خواص خان د مهارت لښکرې د ډير بد او ويجاړونکې حالت سره مخ کړې وې، خواص خان مخته ور روان وپه داسې حال کې چې مهارت دخپلو لښکرو سره یو ځاې شاته دخلاصون لاره لټوله. کیدې شې چې هغه به غوښتل خپل سنګر ته تر شا شي او بيا دهغه ځايه خپله دفاع وکړي. خو خواص خان هم دهغې دغه مکاري درک کړې وه په دې خاطر يې په خپلو حملو کې ډيرښت راوست،کله چې مهارت د شاتلو په وخت کې خپل سنګر ته ورسید نو د جنګ د میدان څخه ان د هغه تر سنګره پورې دهغه دلښکر د عسکرو لاشونه هرې لورې ته خپاره پراته وو ، کله يې چې دا حال وکوت ، نو سمد ستي يا شاته منډه کړه او و تښتید . خو خواص خان هم دهغه تر شا ولاړ اودهغه دلښکر د پاته برخې څخه يې نیمایې د تیغه تیر کړل. مهارت دخپلو ساتونکو سره یو ځاې په ډيره ستونزمنه توګه کوهستانې درو ته ځان ورساوه ، په داسې حال کې چې خواص خان دهغه پسې ان تر هغه ځايه ولاړ او هلته دهغه مخې ته ودريد. اما تر څنګ يې خپل فوځ ته دناڅاپې یرغل په مقابل کې د تیارسي حکم کړې و . ځکه ګمان کیده چې مهارت به یو ځل بيا د رامخته کیدو او يا د خواص خان په لښکرو باندې د شبخون دکولو لپاره ځان چمتو کوي. خواص خان اراده درلوده چې د ورځې په رڼا کې دمهارت پر خلاف پريکنده حمله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خان لا همدلته ولاړ و چې په دې وخت کې دهغه يو ساتونکې په ډيره بيړه دهغه خواته راغې او ورته يې وويل چې: اميره !دلته يوه زړه ښځه ده اوغواړي له تاسره سمد ستي ووينې. خواص خان دهغه ساتونکې لورې ته په عجيبه توګه وکتل اوبيا يې په ډوب شوې اوازوويل چې: هسې نه چې دا ښځه د مهارت جاسوسه وي؟ هغه ساتونکې ورته وويل چې: نه !اميره !مونږ هغه و چيړله، خو بيچاره وايې چې له تاسره کومه ضروري خبره لري. خواص خان ورته وويل چې که خبره همداسې وي نو سمد ستي يې دلته راوړئ ددې خبرې سره سم هغه ساتونکې ولاړ اوبيا يې دخپله ځانه سره د خواص خان دربار ته يوه نيرمل نومې هندوه ښځه راوړه. دا همغه ښځه وه چې مهارت د ګنګا دخدمت له پاره ټاکلې وه. کله چې نيرمل دخواص خان مخې ته راوړل شوه نو خواص خان دهغې د درنښت په خاطر د ځايه پورته شو اوبيا يې ورته وويل چې:

ګوره ميرمنې !زما نوم خواص خان دی او ماته دا ډاګيزه شوې ده چې ته ما ته څه ويل غواړې. نيرمل ورته په ډيره مينه او شفقت سره وويل چې: ګوره زويه ! زه تاته يوه ډيره مهمه خبره کول غواړم. اياته داسې کومه کونډه ښځه پيژنې چې د رهتاس د زيارت په لنګر خانې کې يې ژوند کاوه، اوهغه ګيتا نوميده. دنيرمل په دې خبره باندې خواص خان ټکان وخوړ او ورته يې وويل چې: ميرمنې !ته يې څنګه پيژنې؟ هو !تر هغې چې ما پورې اړه لرې زه درهتاس د زيارت په لنګر ځاې کې او سيدونکې ګيتا ډيره ښه پيژنم. اوهغه هم ما پيژنې. نيرمل ورته وويل چې: ګوره زويه ! همغه ګيتا ستا کومک ته اړتيا لري. خواص خان ترې په ډيره بې قرارۍ سره وپوښتل: ميرمنې ! دا ته څنګه خبرې کوې؟ ګيتا ماته څه اړتيا لري؟ هغه خو هلته درهتاس د زيارت په لنګرځاې کې ده. بيا ورته نيرمل په ټول تفصيل سره هغه قصه وکړه چې څه ډول ګيتا د مهارت د دوو کسانو لخوا دهغه ځايه را تښول شوې اوبيا دلته د مهارت د اوسيدو ځاې ته راوړل شوې او بيا ترې مهارت د واده غوښتنه وکړه چې ګيتا يې غوښتنه و نه منله اود مهارت تر مخه يې دخواص خان سره د خپلې مينې څرګندونه کړې ده.

کله چې نيرمل خبرې خلاصې کړې نو خواص خان دهغې د خبرو سره علاقه پيدا کړه او ورڅخه يې وپوښتل چې: ګوره ادې جانې !دا ستا ډيره مهرباني ده چې تا ماته د ګيتا په اړه په پوره تفصيل سره خبره وکړه، تا ددې خبرې په کولو سره زما په ځولۍ کې د خوښيو انبار وا چاوه. زه ددې نه مخته په دې نه پوهيدم چې ګيتا هم ما خوښوي خو ستا د اوسنيو خبرو څخه زما زړه ډير خوشحاله او ډاډمن شو ،په رېښتيا هم ګيتا ددې وړ ده چې هغه د خپل ژوند ملګرې وګرځوم. هغه يوه غمژنه او غم وهلې پيغله ده. خو دا را ته ووايه چې ولې مهارت هغه د رهتاس د زيارت د لنګرځاې څخه دلته را وتښتوله. دهغه په دې خبره نيرمل ورته وويل چې:

ګوره خواص خانه !دګيتا بيچاره ګۍ بدقسمتي دا ده چې هغه ډيره زيات ښايسته او ښکلې ده، دهغې وجود دومره د راښکود نه ډک دی چې اندازه لګول يې شونې نه دي، مهارت هغه دغه زيارت کې د پناه اخستو تر مخه چيرې کتلې وه، او هغه پرې دهمغه وخته راهيسې ځان ځاروي، هغه غوښتل دهغې سره واده وکړي خو ګيتا نه غوښتل دهغه سره واده وکړي، ګوره زويه ! زه غواړم تاته دا ووايم چې: دمهارت دخلکو په واسطه د ګيتا د راتښتولو وروسته هغوې ګيتا همدلته بندي کړې ده، او غوښتل يې چې هغه په هر صورت چې کيدې شي واده ته تياره کړي. خو ګيتا ورته په ډاګه ددې کار څخه انکار کړې دی. او ورته يې ويلي دي چې هغه به يوائې او يوائې دشيرشاه سورې د سپه سالار خواص خان سره واده کوي او بس. ځکه چې هغه د خواص خان سره د ژوند د اخري سلګيو پورې مينه کوي او که چا په زور ور سره د واده کولو هڅه وکړه نو بيا به د هغه لاش ووينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره زویه ! زه تاته په دې خاطر مبارکي درکوم چې دشپې په تیاره کې تا مهارت ته ډیره بده ماتې ورکړه .اودهغه لښکر دې له منځه یووړ. اوس نو مهارت دخپلو پاته څو کسانو سره د شرق په لور تښتیدلی دې اوهغه غواړې د شرق له لورې د غرنۍ لړیو څخه بیرون شي اوخپل بل کوم ځاې کې ځاې په ځاې شی. زویه !د شرق په لور د تیښتې په وخت کې هغه له ځانه سره ګیتا هم وتښتوله ، اوس زه له تا غواړم چې د مهارت د لاسو څخه ګیتا ازاده کړې. تر دې ځایه دخبرو کولو وروسته نیرمل خاموشه شوه ، نو خواص خان خپله پریکړه اعلان کړه چې:

ګوره ادې جانې ! هغه څه چې تا وویل ، ماته هغه ټول رینښتیا ښکاریږي، ستا دعمر څخه هم دا سې ګرګندیږي چې ته به دروا غ نه وایې. هغه تفصیل چې تا ماته د ګیتا په اړه ووایه هغه ټول حقیقت ته نژدې دې ، خو دد ې سره به زه د احتیاط څخه کار اخلم تاته به انعام درکوم خو که چیرې له ما سره دې دوکه اوفریب کړې و نو ښځ به دې در پرې کړم. ددې خبرې پریکړې سره سم یې هغه ساتونکې ته چې نیرمل یې خواص خان ته له ځانه سره راوړې وه حکم وکړ چې نیرمل همدلته په فوځ کې له ځانه سره وساتي ،او ښه پالنه یې وکړي ، دد ې خبرې وروسته خواص خان خپل لښکر په دوو برخو باندې وویشه ، یوه برخه یې همدلته پریښوده اوبله برخه یې له ځانه سره واخستله دهمغه غرنۍ لړۍ شرقي برخې ته روان شو کومې لور ې ته چې مهارت دخپلو عسکرو سره تښتیدلی و.

خواص خان په دې ټوله سیمه کې ډیره ښه بلد و .ددې غرنۍ لړۍ شرقی برخې کې ، یعنې هغه ځاې کې چې دا غرنۍ لړۍ پاې ته رسیږې او میدانی سیمه پیلیږي ، هلته یو ځل بیا خواص خان خپل فوځ په دریو برخو باندې وویشه دهغوې دوه برخې یې د درې په ښي اړخه کې و ټاکلې او هغه پاته بله برخه یې له ځانه سره واخسته او د درې مخکینې برخې کې ځاې په ځاې شو.

بله ورځ هغه وخت چې لمر دشرق نه سر را پورته کړ او دتیارو په څپو دلمر وړانګې را خپرې شوې نو مهارت دخپلو پاته شوو لښکرو سره یو ځاې د درې څخه د راوتلو وروسته میدانې سیمو ته ور ننوت، نوخواص خان دخپلې برخې د لښکر سره یو ځاې دهغه مخه و نیوله. مهارت خپلو عسکرو ته د تم کیدو اشاره وکړه اوخپل یو کس یې مخته ور ولیږه تر څو معلومه کړي چې دا خلک څوک دي او ولی یې ددوې مخه و نیوله. دهغه یو عسکر په منډه منډه راغې او د لږ ځنډ وروسته بیرته را ستون شو اومهارت ته یې خبر ورکړ چې لاره بندونکې پخپله خواص خان دې او هغه دجنګ له پاره تیار ولاړ دې. په دې وخت کې مهارت ګیتا هم دخپل ځان سره یو ځاې په آس کینولې وه ،کله چې هغه عسکر مهارت ته دخواص خان په اړه خبر ورکړ نو د ګیتا سر د خوشحالیو نه را بورته شو ، هغه مسکۍ وه. په همدې وخت کې مهارت خپلو ملګرو ته وویل چې:

ګورئ زما ملګرو ! زه په دې ډاډمن یم چې دشیرشاه سوری سالار خواص خان خپل مرګ تر دې ځایه راوړې دې. هغه د خپلو څو کسو ساتونکو سره زما لاره بنده کړې ده ، کیدا ې شي چې هغه دا انګیرې لی وې چې هغه زما ټول فوځی ځواک له منځه وړې دې او زه د یو څو ملګرو سره یو ځاې خپل ځاې ته ورغلې وم ، زما سره همدا اوس هم دهغه لس هومره زیات وسلوال ملګري موجود دي. په د ې اساس به دهمدې درې تر څنګ زه خواص خان ته ډیر ه بده ماتې ورکوم اودهغه ښځ به پرې کوم. په دې ترتیب به دخواص خان دو ژلو وروسته زه خپله دغه ناکامي په بریا بدله کړم.

ددې خبرو وروسته مهارت شاته وکتل او دخپل آس په شا سپره ګنګا ته یې مخ ور واړوه او ورته یې وویل چې:ګنګا !ته ښکته شه او په کوم خوندي ځاې کې کینه ، زه به ددې خواص خان کار ور ختم کړم ،خو ګوره که په دې غرنۍ دره کې خواص خان پر ما غالب شو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا خو به ستا برخلیک د خواص خان سره تړلې وي خو که چیرې ما ددې جنګ په جریان کې د خواص خان څټ ور پرې کړ نوبیا به ته د تل له پاره زما دژوندانه ملګرې اوسې. اوس ته زما د آسه ښکته شه ، ګنګا د مهارت دغه سلا د خپل زما له پاره ښه فرصت و ګاڼه او سمدستي یې دآسه لاندې راټوپ کړ او منډه یې کړه او په ښې لورې کې په یوه ستره تیږه کیناسته.

مهارت د خپل ټول ځواک سره یو ځای په خواص خان باندې د حملې له پاره مخته راغې. ګنګا هم د احتیاط څخه کار واخست او خپل ځای یې بدل کړ اود مهارت د سترګو څخه دپټیدو په خاطر د غرنۍ لړۍ د یوې غونډۍ په سر وخته او هلته کیناسته ، هغه نه غوښتل چې دهغې د ناستې د ځای په اړه مهارت ته معلومات تر لاسه شي ، هغې همدا راز غوښتل دهغه پورته ځای څخه ددواړو لښکرو تر منځ د ټکر ننداره هم په خپلو سترګو ووینې.

مهارت ددې آند سره چې دهغه د ملګرو شمیره ډیره ده ، په داسې حال کې چې د خواص خان چې وسلوال ځوانان دي دهغوې شمیر ه ددې د ځواکونو د شمیرې څخه لس هومره لږه ده نو د ډیر فخر او تکبر سره یې خپل لښکر ته د مخکې تللو حکم وکړ او د وینې تږیونکو لیوانو په څیر یې په خواص خان باندې حمله وکړه.

تر اوسه دد ې جنګ دپیلامې څخه لږ څه وخت نه و تیرشوې چې ددرې په ښي لورې کې چې خواص خان کوم عسکر ځای په ځای کړي و ، ناڅاپه را پیدا شول او د تکبیر د اواز دپورته کولو سره یې د مهارت په لښکر رودانګل.

مهارت ددې حالاتو په کتلو سره ډیر اندیښمن شوې و ، هغه دا فکر هم نه شو کولای چې خواص خان دې دهغه د ماتولو له پاره ددرې په ښي او چپ لورې کې خپل عسکر ځای په ځای کړي وي. تر اوسه هغه په دې هڅه کې و چې دخواص خان ددې لښکر له پاره دخپلو ځواکونو یو ډله بیله کړي چې دخواص خان د لښکر هغه دریمه پټه ناسته ډله هم دخپلو سنګرو څخه را ووتله او دمهار ت په ځواکونو لکه د اسماني تندر را پریوتل. اوس نو دمهارت له پاره ددرې واړو اړخونو څخه یو وینه تویونکې توپان را پورته شوې و.

دهغه تر مخه په خپله خواص خان په پوره ځواک سره جنګیده او د ښي او چپ لورې هم دخواص خان تازه ځواکونو د مهارت په لښکر رڼا ورځ توره تیاره کړې وه. په دې درې کې جنګ څه ډیر وخت دوام و نه کړ ، خواص خان دخپل لښکر ددرې واړو برخو سره مهارت او دهغه ملګرو ته د شنه اسمان ستورې ور وښول او دډیر لږ وخت وروسته یې دهغه او دهغه دلښکر کار پای ته ورساوه. دهغه په ګډون یې دهغه ټول ملګري یو په بل پسې له منځه یوړل ، او په دې توګه یې مهارت چې د شیرشاه سوري تر لاس لاندې سیمو کې د چور و چپاول او بغاوت او سرکشۍ اساس ګرزیدلې و په مکمله توګه د سیمې څخه پاک کړ او سیمې ته یې امن و امان را ګرځاوه.

دمهارت او دهغه د لښکر د له منځه وړلو وروسته اوس خواص خان د ګنګا په فکر کې ډوب و. هغه خپل لښکر ته هملته د تم کیدو امر وکړ اوپخپله په خپل آس باندې سپور شو او مخته ورغې تر څو دګنګا لټون وکړي. هغه په خپل ځغلنده آس باندې سپور مخته روان و چې د غونډۍ دپاسه ناسته ګنګا دخپله ځایه را پورته شوه. خواص خان هغه وکتله ، هغې همغسې خپل ځان په سپین پړونې کې را نغښتلې و او سپین کالي یې په ځان کې و. همدا راز یې خپل مخ هم په سپین رنګه نقاب کې راپوښلې و. دغونډۍ د سر څخه ګنګا په بیړه لاندې را کیوته او دخواص خان په لور را روانه شوه. خواص خان هم دهغې په کتلو سره د آسه را ښکته شو. کله چې ګنګا ورته را نژدې شوه نو خواص خان غوښتل هغې ته د زړه له اخلاصه څه ووایي خو ګنګا پرې را مخته شوه او ورته یې وویلې چې: زما ډیر درونده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خانه ! زه ستا ډېره زیاته ممنونه او شکر کونکې یم چې تا زه د مهارت په څیر د یوه شیطان څخه وژغورلم. او که نه معلوم نه ده چې هغه به له ماسره څه کول. خواص خان ورته په ډېر نرم او د مینې نه ډک غږ سره وویل چې:

ګوره ګیتا ! هغه ښځه چې د مهارت په هستونګنځې کې له تاسره یو ځای وه او نیرمل نومیده ،همغې ماته ستا په اړه به بوره تفصیل سره خبره کړې ده ، او دا یې راته هم ویلي و چې ته د زیارت په لنګرځای کې د پناه اخستو دمخه هغه چیرې کتلې وې او ډېره یې خوښه شوې وې. په دې خاطر یې دخپلو خلکو په لاسو ته دهغه ځایه را و تښتولې او دلته خپل هستونګنځې ته یې راوړې یې. ګوره ګیتا ! زه په دې خاطر ستا ممنون یم چې...ګیتا یې خبره پرې کړه او ورته یې وویل چې: په کومه خبره خواص خان؟ خواص خان لږ څه تم شو او بیا یې وویل چې:

ګوره ګیتا ! نه به دروا غ وایې او نه به را څخه څه پټوې. ماته خو نیرمل وویل چې ته ما سره مینه کوې او ما غواړې. ایا دا حقیقت دې ؟ ګنګا سرټیټ کړ ، او تر ډېره وخته پورې یې څه فکر کاوه او بیا یې سر را پورته کړ او خواص خان ته یې مخ کړ او ورته یې وویل چې: که چیرې دا خبره ریښتیا او حقیقت وي نو ستا عکس العمل به پرې څه ډول وي ؟ خواص خان سمدستي ځواب ورکړ چې:

واوره ګیتا ! که دا خبره ریښتیا او حقیقت وي نو بیا به زما عکس العمل هم همدا ډول وي چې زه هم تا د زړه له کومې خوښوم او دخپل ژوند د تلپاتې ملګرې کیدو اراده دې لرم. اوس وو ایه چې ایا دا حقیقت دې او که زما د ژوندانه خوب او سراب دې ؟ ګیتا ورته وویل چې: نه زما محترما ! زا یو حقیقت دې. ته لمړنې شخصیت یې چې ما ور سره په خپل زوند کې دزړه له کومې مینه کړې ده. ته لمړنې ځوان یې چې ما درسره د زړه په پیوند ونو کې خپل محبت را نغاړلې دې. که ته ما خپلوې او که نه مې خپلوې ، زه به دخپله زړه له کومې ستا بندګې کوم، خواص خان خپل دواړه لاسونه ور اوږده کړل او د ګنګا نرم او ملایم لاس یې په خپلو لاسونو کې و نیوه او بیا یې ورته وویل چې:

واوره ګیتا ! د نن نه وروسته ته هم زما یې. ګوره ګیتا ! اوس چې مونږ دواړه یو دبل شو او یوبل مو خوښ کړل نو اوس خو دخپل مخ څخه دا نقاب لرې کړه ، ترڅو زه ستا دغه ښایسته مخ او څیره ووینم او ستا د ښایست ، ستا دجمال او ستا ښکلتیا څخه زړه خوشحاله کړم. ګنګا لږ څه لړزیده او د شرم نه یې سرټیټ کړې و ، خواص خان ته وویل چې:

زما محبوبه ، خواص خانه ! په دې کې هیڅ شک نه شته چې زه همستا یم او ټول ژوند به همستا اوسم.او له تاسره ژمنه کوم چې زه به تا دخپل ژوند د سفر ملګرې کوم. خو ما د یوه کار په لړ کې سوګند کړې دې ، نو کله چې هم زما هغه کار تر سره شي او زما هغه سوګند او قسم په ځای شي نو بیا به زه دخپله مخه دغه نقاب لرې کوم ، او دا مې هم سوګند کړې دې چې ترڅو چې زما هغه کار نه وې شوې زه به دخپل مخ نه دا نقاب نه لرې کوم. نو په دې خاطر زه هیله لرم چې ته به ما زما ددې کار د پوره کولو پورې دخپل قسم ماتولو ته اړ نه کړې. کله چې زما هغه کار تر سره شي نو زه به ستا مخې ته راځم او دخپل مخ نه به دا نقاب لرې کوم، زه هیله لرم چې هغه وخت به ته زما دخپلولو څخه مخ و انه ړوې. خواص خان ورته په ډېره نرمه ژبه ځواب ورکړ چې:

ګوره ګیتا ! که اوس نه غواړې دخپل مخ څخه نقاب لرې کړې ، اویا دې د کومې خبر ې په لړ کې ددې نقاب دنه لرې کولو سوګند کړې وي نو زه له تاسره ملګرې یم ،خو دومره را ته وو ایه چې ته چیرې او سیدل غواړې ، خو یو خبره درته کوم چې ګیتا : زه نه غواړم ته بیرته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهتاس د مندر په لنګرځای کې و اوسیږې. هلته په رهتاس کې زما یو کور شته ، نو که ته غواړې زه به دې هملته د اوسیدو انتظام وکړم. ګیتا ورته د ویرې څخه وویل چې:

زه به هلته ستا په نه موجودیت کې څنګه خپلې شپې سبا کوم . ځکه چې ته خو اوس په جنګونو کې مصروفه یې ، نو که چیرې هلته ځانته اوسیږم نو لکه څنګه چې د مهارت ملګرو زه د هغه لنګرځای څخه را وتښتولم،نو په دې توګه به مې ستا د حویلی څخه څوک و تښتوي او زه به د خپله ځانه هیڅ دفاع و نه شم کولې . اوس خو دلته ته په ډیر ښه وخت کې زما د کومک له پاره را ورسیدې، همدا علت و چې مهارت ماته هیڅ ډول زیان و نه شو را رسولې او که نه هغه بدبخته او شیطان خو زما د عصمت او عفت پسې را خستې وه. خواص خان تر یوه وخته به فکر کې ډوب و او بیا یې ترې وپوښتل چې:

ګیتا ! که ته نه غواړې هلته په رهتاس کې زما په حویلی کې و اوسیږې نو بیا ته ماته ووایه چې ته چیرې غواړې و اوسیږې ؟ګنګا ورته وویل چې: ما په داسې ځای کې وساته چې زه ستا د مټو لاندې خوندي و اوسم .امیر خواص خان ورته وویل چې: نو بیا خو د جنګ په وخت کې داسې ځای زما خیمه ده . که ته غواړې په هغې کې اوسیدې شې . د هغه په دې خبره ګنګا خپل سر ټیټ کړ او ورته یې وویلې چې:

ستا خیمه زما د پاره ډیره غوره او ښه خوندي ځای دې خو اوس او په دې وخت کې زه ستا په خیمه کې هم ځانته نه شم اوسیدلې. دا کار زما او ستا دواړو د پاره نه وروسته شوني دې. که چیرې په همدې حال کې زه ستا په خیمه کې پاته شم نو بیا خلک زما او ستا تر منځ د اړیکو په اړه ډول ډول خبرې کوي او زه نه غواړم چې زما په خاطر ستا په ذات باندې کوم داغ ولګیږي ، خواص خان ترې په ډیره اندیښنه توګه و پوښتل چې: ددې نه اخوا به زه ستا د خوندي ساتلو او هستونګنځې په اړه څه ډول اقدام و کولې شم. ګنګا ورته مشوره ورکړه چې:

دجنګ په وخت کې شیرشاه سوري هم دخپل حرم ښځې دخپل ځان تر څنګ ساتلې او د نورو سالارانو ښځې به هم دهغوی سره وې. خواص خان ورته وویل چې هو همدا سې وه . بلکه د شیرشاه سوري ښځې به دجنګ په دوران کې هم دهغه سره یو ځای اوسیدلې ،دهغوی له پاره به پړاو کې څو خیمې ځانګړې کیدې ، دهغه په دې خبره ګنګا سمدستې ورته وویل چې: ایا دا شوني نه ده چې د پړاو په وخت کې زه هم دهمغو ښځو سره یو ځای و اوسیږم. هغه زړه ښځه چې نیرمل نومیږي او زما په اړه یې تاته پوره تفصیلی معلومات هم درکړې و هغه به هم په همغه زنانه خیمو کې له ما سره یو ځای اوسیږي هغه به زما ډیره ښه دوسته او ښه خدمت کونکې اوسي. همدا راز به د اړتیا او په وخت کې زما او ستا تر منځه د قاصد رول هم ادا کوي. ځکه د ښځو په خیمو کې د اوسیدو په وخت کې به کله چې هم زما زړه وغواړی له تا سرهووینم نو دهمدې لارې به درسره کتلای شم. خواص خان خپله پریکړه وکړه او ویې ویل چې: ماته ستا دا سلا منظور ده. زه به د ښځو په خیمو کې ستا او د نیرمل د اوسیدو له پاره انتظام وکړم. اوس را ځه چې ددې ځای نه ولاړ شو ، ددې خبرې سره سم خواص خان د مهارت د وژل شوو ملګرو په یوه اس باندې ګنګا سپره کړه او ددښمن نور آسونه یې دخپله ځانه سره را مخته کړل او دخپل لښکر دهغه دویمې ډلې په لور ور روان شو.

دغې ډلې ته هم دخواص خان د عملیاتو په اړه پوره پوره خبر ور رسیدلې و ، هغوی ددې څخه هم خبر شوي چې خواص خان د مهارت مخه نیولې او هغه ته یې سخته ماتې ورکړې ده. په دې خاطر کله چې خواص خان دخپل لښکر دغې دویمې برخې ته ورستون شو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي د تکبير او الله اکبر په چغو هغه بدرګه کړ. هغوي په ډېره توګه د خواص خان او د هغه د ملګرو ښه راغلاست وکړ. کله چې خواص خان د خپل لښکر دغې ډلې ته را ورسيد نو حکم يې وکړ چې هغه زړه نيرمل راوړئ. هغوي هم نيرمل د خواص خان مخې ته راوړه ، د نيرمل په کتلو سره خواص خان وويل چې :

ګوره ادې ! زه ستا ډېر زيات ممنون او شکر کونکې يم چې تا ماته د ګيتا په اړه په سهي وخت کې خبر راکړ . او س زه غواړم ګيتا په خپل لښکر کې له ځانه سره يوسم . ګيتا به هلته د ښځو به خيمه کې قيام کوي ، ايا ته هم د ګيتا سره يو ځاې تلل غواړې ؟ او يا دهغې سره يو ځاې او سيدل غواړې ؟ ګيتا غواړي چې ته ور سره يو ځاې و اوسيږې ، نيرمل سمد ستي وويل چې : که چېرې دا سې وي نو دا خو به زه خپله نيک بختي وګڼم

د نيرمل په دې ځواب سره نه يوازې ګيتا بلکه خواص خان هم خوشحاله شو ،بيا خواص خان د خپل لښکر سره يو ځاې د مهارت دغه د غرنيو لړيو په هستونګنځې کې ور ننوت، د هغې ځاې هر څه يې سره را ټول کړل او بيا د خپل لښکر سره يو ځاې د شيرشاه سوري سره د يو ځاې کيدو په خاطر را روان شو .

۴۰

د مهارت په لور د خواص خان د کوچ څخه وروسته شيرشاه سوري هم د خپلې برخې د لښکر سره يو ځاې د همايون سره د ټکر په لور و خوځيد. د شپې په تورو تيارو کې هغه وخت چې د همايون لښکر په دغو ورانو ويجاړو سيمو کې پرمختګ کاوه ،شيرشاه سوري په ناڅاپي توګه د همايون د لښکر تر شاه را څرګند شو ، په دې وخت کې شپه پوره تياره شوې وه . ټوله فضا د پوره خاموشۍ سره مخ وه ، هر څو په خپل ځاې بې حرکته ولاړ و ، په همدې وخت کې شيرشاه د خپلو لښکرو سره يو ځاې د همايون د لښکرو په وروستنۍ برخه باندې د شپې د تيارو په دې توپانکې حمله وکړه . د شيرشاه سوري دا حمله دومره ځواکمنه ، او وينه تويونکې وه چې د همايون د لښکر د وروستۍ برخې ليکې يې سره ګډې وډې کړې ، د هغوي بې شميره عسکر يې له تيغه تير کړل ، د شپې د دې تيارو په لړيو کې د همايون د لښکر شاتنۍ برخه د دود د سيورې په څير د تباهۍ سره مخ شوې وه .

د شا له اړخه د حملې په واسطه نه يوازې شيرشاه سوری د همايون لښکر د عامې وژنې سره مخ کړ بلکه د هغوي خوراکي سامانونه او جنګي وسايل يې هم ترې په ولکه کې واخستل ، تر څنګ يې هغه توپونه او نور عسکري مواد چې په کشتيو کې بار د همايون د لښکر سره روان و په هغوي هم شيرشاه سوري ولکه وکړه . په دې توپونو کې هغه توپونه هم شامل و چې د هغې په کومک سره شيرشاه سوری د چنار کلا سوبه کړې وه.

د همايون په لښکر د شپينې وينه تويونکې عملياتو نه وروسته ، شيرشاه سوري د شپې په تياره کې ځان يو نامعلوم ځاې ته وويست. بله ورځ چې د چوسه په سيمه کې همايون د خپل لښکر سره يو ځاې پړاو وکړ نو هلته هغه ته خبر ورسيد چې د شپې په تياره کې شيرشاه سوری د لښکر په شاته برخه باندې خونړې يرغل راوستې دې ، هغه د خبر د تر لاسه کولو سره سم حکم وکړ چې د لښکر يوه برخه د شيرشاه سوري د تعقيبولو پسې و ليږئ. دوې لا تر اوسه پورې په همدې خبرو او سلاو کې مصروف وول چې د شرق له لورې يې پورته کيدونکې خاورې او بادونه تر سترګو شول. همايون سمد ستې خپلو مخبرانو ته حکم وکړ تر څو ډاګيزه کړي چې د خاورو او بادونو دغه وريځې د چا د لښکرو په واسطه را پورته شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلږځنډ وروسته دهمايون مخبرانو هغه ته خبر ورکړ چې شيرشاه سوري د يوه پريکنده جنګ سره دلته را رسيدونکې دې. هغوې ورته دا هم وويل چې د خاورو او دوړو دغه وريځې چې د غرب له لورې پورته کيدې هغه په دې خاطر وې چې هغه وخت د شيرشاه سوري لښکر د چوسه په غرب کې د توراندې د غاړې څخه راتيريدل. د ګردونو او خاورو د پورته کيدو د وريځو په کتلو سره همايون ته يو ډول تذبذب او انديښنه را پيدا شوې وه. هغه ته خو يوازې دا ډاګيزه شوې وه چې شيرشاه سوری دهغه د لښکر تر شا يرغل راوړې و، ځکه چې هغه برخه د کرم ناسه ددرياب په لور و، نو که چيرې د کرم ناسه د لورې د خاورو او دوړو د پورته کيدو نښې موجودې واې نو بيا به همايون دومره په انديښنه کې نه پريوته. ځکه هغه ته دا ډاګيزه شوې وه چې شيرشاه سوری د هغه د لښکر تر شا يرغلونه کوي، خو اوس داسې ډاګيزه کيده چې شيرشاه سوری د چوسې په لور چې د کرم ناسه شرق لورې ته را روان دې.

په دې خاطر هغه دد ې هڅه کوله چې ځانته ډاګيزه کړي چې دغه د وريځو په څير پورته کيدونکې ګرد د چا دلښکر د ي، همايون په د ې شک او شبه کې ککړ و چې شونې ده چې د شيرشاه سوري د لښکرو ستر سالار خواص خان د شيرشاه د بسپنې له پاره دهغه سره را يوځاې شوې وی. ځکه همايون ته دا ډاګيزه شوې وه چې شيرشاه سوری خواص خان د مهارت د ځپلو له پاره هغه لورې ته استولې و، ددې ترڅنګ همايون په دې شک کې هم پريوتې و چې شونې ده چې دهغه د ورونو څخه به کوم يو دهغه دبسپنې له پاره د جونپور څخه دې لورې ته راغلې وي. په هرصورت دهمايون مخبرانو هغه ته دا خبر ورکړ چې شيرشاه سوري دهغه د لښکر شاتنۍ برخه پری ايښې ده او اوس د غرب په لور د خپل ټول ځواک سره د تورانومې دلدل د غاړې څخه را تيريږې او دهمايون دلښکر ترمخه د خيمې وهلو اراده لري.

دشيرشاه سوری د راتلو دخبر سره سم همايون خپل ټول فوځې سلاکاران را وبلل اودهغوې ترمخه يې داپوښتنه کيښووله، چې اوس په داسې حال کې چې شيرشاه سوری خپله سينه ډال کړې او غواړی دهمايون دلښکر سره د جنګ له پاره تيارې ښيی، نو دهمايون له اړخه بايد څه ډول عکس العمل وښوول شی. دهغه په دې خبره دهمايون دلښکرو د سالارانو څخه يو سالار قاسم حسين سليمان ورته وويل چې:

دروندە شاهنشاه! شيرشاه سوری زمونږ دلښکرو د تعقيب پسې دومره ستومانه سفر کړې دې او اوس دلته رارسيدونکې دې، په دې اساس به دهغوې آسونه ستړې شوی وې او د سپرلۍ حيوانات به يې د جنګ کولو قدرت نه لری، په دې اساس زمونږ له پاره به دحکمت نه ډکه لاره داوی چې مونږ په همداسې وخت کې د شيرشاه سوری په لښکرو باندې يرغل وکړو. ددښمن د ستومانتيا څخه به مونږ ته په اسانه توګه برې را په برخه شي او شيرشاه سوری به دماتې سره مخ شي.

همايون د خپل سالار قاسم حسين سليمان له اړخه دغه مشوره ډيره خوښه کړه خو په دې وخت کې دهمايون ډير دوست او ملګري سلاکار مويدبيګ را ټوپ کړ، هغه همايون ته مشوره ورکړه چې په جنګ کې بيړه ښه کار نه دې، ځکه شونې ده چې مونږ دماتې سره مخ شو، مونږ ته په کار دې چې په ډيره ښه توګه د خپل فوځ ليکې سمې کړو اوبيا د شيرشاه سوري په خلاف باندې حرکت وکړو. همداسې وشول، شيرشاه سوری هم را ورسيد اودخپل لښکر سره يو ځاې يې هملته پړاو وکړ، هغه سمدستې يو تيز تلونکې قاصد د خواص خان په لور ور وليږه، اوهغه ته يې دا پيغام ور وليږه چې د همايون سره د يوه پريکنده جنګ کولو له پاره دې ژر تر ژره دلته زما خواته ځان را ورسوی. ددې نه وروسته شيرشاه سوري په ډيره پټه توګه خپل لښکر متحرک کړ او د کرم ناسه ددرياب څخه اخوا ورتير

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو . اوس نو هغه خپل لښکر د کرم ناسه او ګنګا د دریابونو تر منځ تم کړ او په دې ترتیب یې د همایون د لښکرو له پاره د کومک رسولو ټولې لارې بندې کړې.

دلته د شیرشاه سوری د پړاو ځو ورځې لا تیرې شوې نه وې چې خواص خان هم د خپل لښکر سره یو ځای د هغه سره را یوځای شو . د هغه په را رسیدو شیرشاه سوري ډیر زیات خوشحاله او ډاډمن شو ، اوس نو په یوه ډول سره د هغه ټول ځواک را یوځای شوې و . او کولې یې شول چې هر وخت چې وغواړي د همایون په لښکرو باندې مرګوني یرغل وکړي. کله چې شیرشاه سوری ته د خواص خان د ور رسیدو خبرورکړل شو نو هغه د خپلو ساتونکو سره یو ځای د خپل پړاو څخه را ووت او د خواص خان د ښه راغلاست له پاره بیرون راغې.

شیرشاه سوری او خواص خان دواړه د خپلو خپلو آسونو څخه را ښکته شول ، یوبل ته ورغاړې وتل ، په همدې وخت کې شیرشاه سوری وکتل چې د خواص خان تر شاه یو نجلۍ هم په آس سپره ده چې خپل مخ او ټول وجود یې په سپینو کالیو کې را نغاړلې و ، شیرشاه سوري دغه نجلۍ او د هغې سره ملګرې هغه زړې ښځې ته وکتل ،او بیا یې په پوښتنه کونکې توګه خواص خان ته وکتل او ورڅخه یې وپوښتل چې:

خواص خانه زویه !دغه پیغله او ورسره دغه زړه ښځه دا څوک دي؟ د هغه ددې پوښتنې په ځواب کې ورته خواص خان د ګنګا او نیرمل په اړه تفصیلي معلومات ورکړل. شیرشاه سوري د هغه د ځواب د اوریدو نه وروسته خاموشه و درید او بیا یې په مسکا سره وویل چې خواص خانه زویه !د خدای شکر دې چې تا خو ځانته کومه پیغله خوښه کړه. خو که دا نجلۍ د خپلې کومې غوښتنې په لړ کې له تاسره سمدستي واده کول نه غواړي او د خپل مخ څخه نقاب هم نه لرې کوي نو سهي ده ، هغه د ښځو خیمو ته ورواستوئ، تر هغو چې دوې وغواړي هملته دې او سیږي او کله یې چې وکتل چې سوګند یې پوره شوې دې او تر څنګ یې ستا تر مخ د خپل مخ څخه د نقاب د لرې کولو اراده وکړي نو بیا به زه ستاسو د دواړو د واده کولو پروګرام جوړ کړم. وروسته بیا په تلو تلو کې شیرشاه سوری د ګنګا څنګ ته را نزدې شو او په پلرني شفقت سره یې ورڅخه وپوښتل چې:

ګوره ګیتا لوري ! زه له تا څخه ډیره ممنون یم چې تا زما زوې خواص خان د خپل ځان له پاره خوښ کړې دې ، زه تاته او له تاسره یو ځای دغه زړې نیرمل ته دلته په راتلو باندې ښه راغلاست وایم. ددې خبرې سره سم شیرشاه سوري خپلو ساتونکو ته حکم وکړ چې ګیتا او نیرمل دواړه په پړاو کې د ښځو خیمه ځای ته یوسې او ددې دواړو له پاره ډیرې غوره او ښه خیمې ولګوي ، ګیتا او نیرمل د همدې ساتونکو سره یو ځای روانې شوې ، د هغوې د تللو وروسته شیرشاه سوری د خواص خان په لور وکتل او رته یې وویل چې:

خواص خانه زویه ! اوس وخت راغلې چې مونږ د همایون پر خلاف اخري او پریکنده حمله وکړو ، همایون همدا اوس د چوسې په سیمه کې د خپل لښکر سره پړاو کړې دې ، ددې نه مخته ما د تورا د ویالې څخه د تیریدو وروسته د ګنګا په غاړه پړاو کړې و خو همایون د هغه ځایه خپل پړاو پورته کړ او د چوسه سیمې ته ولاړ. اوس ما دلته د کرم ناسه او ګنګا تر منځه ځکه پړاو کړې دې چې د همایون د لښکر له پاره د کومک ټولې لارې و ترم. او بیا په هغه دا سې خونړۍ حمله وکړم چې هغه زما تر مخه بې وسه شي ، ایا ستا په آند ما دا کارونه په ښه توګه کړي او که نه ؟ خواص خان ورته په خندا کې وویل چې:

درونده شیرشاه سوری ! زه پوهیږم چې کرم ناسه او ګنګا دواړه هغه ځایونه دي چې په دې ځایو کې د پړاو په واسطه مونږ د همایون په مقابل کې ډیر په ګټه کې یو. د هغه په دې خبره شیرشاه سوری ډیر خوښ شو او ورته یې وویل چې: زویه !که خبره همدا سې وي نو ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدلته دخپل لښکر سره یو ځای پړاو وکړه . پرېږده چې لښکر لږ څه دمه شي او بیا دهغې وروسته په همایون باندې دپریکنده ګذار له پاره ځان تیار کړو . ما ته خو مخبر خبر راوړي چې تا مهارت ته ډیره بد ه ماتې ورکړې ده او دهغه ټول هستونګنځي دې له ځانه سره راوړي دي ، په ځواب کې ورته خواص خان وویل چې : دهغه د هستونګنځي څخه ماته ډیره څه تر لاسه شوي دي ، په هغې کې خوراکې توکې او جنګي سامان هم شته . او دا به ټول دهمایون پرخلاف په جنګ کې استعمالوم . شیرشاه سوري خواص خان ته د مهارت په ماتولو او ځپلو باندې مبارکي ورکړه ، بیا دواړو لښکر له ځانه سره واخست او د پړاو په لور روان شول او دخواص خان د برخې لښکر هم هملته دکرم ناسه او ګنګا تر منځ د شیرشاه سوري دلښکر سره یو ځای پړاو وکړ.

۴۱

د سنګم او ګنګا د دریابونو تر منځ د پړاو په وخت کې د شیرشاه سوري او خواص خان مدافعانه سلوک خپل کړې و ، هغوې خپل لښکر او خپل ټول ځواک په دې باندې باوري کړې وچې په دې وخت کې دې د همایون د فوځونو لاربنده کړې تر څو دکرم ناسه ددریاب څخه تیر نه شي. دبله اړخه دوې دهمایون د لښکر د بسپنې د وررسیدو ټولې لارې بندې کړې وې او هغوې ته هیڅ ډول دخوراک څښاک او فوځې سامان نه وررسیده . همایون هم ددې حالاتو څخه په تنګ راغې او دڅوسه څخه یې دبلې کومې لورې په لور د کوچ کولو اراده وکړه . هغه غوښتل چې یا خو اګرې ته ولاړ شي او یا هم د چنار کلا ته مخه کړي . خو په هر حال هغه باید د کرم ناسه ددریاب څخه دخپل لښکر سره یو ځای واوړي ، ډاګیزه وه چې شیرشاه سوري په یوه ډول همایون دخپلې کلابندۍ لاندې راوستې و . دهغه تر مخه بله کومه داسې ستره لاره او یا ګودر نه و چې دهغې په واسطه شیرشاه سوري ته دوکه ورکړې او دهغې لارې خپل ځان د شیرشاه د کلابندۍ څخه بیرون کړې. تر څنګ یې د باران موسم هم مخته را روان وچې په طبیعي توګه یې همایون د سترو سترو ستونزو سره مخ کاوه.

دبله اړخه کله چې همایون دا محسوس کړه چې هغه د شیرشاه سوري له اړخه یو ډول کلابند شوې دې نو د شیرشاه سوري په پړاو یې سپکې او وړې حملې پیل کړې تر څو شیرشاه سوری د سنګم او ګنګا د دریابونو تر منځ دپړاو څخه شاته تللو ته و هڅوي ، او په دې توګه همایون د خپل لښکرسره یو ځای د څوسې څخه ځان وکاږي.

شیرشاه سوري هم دهمایون څخه کم نه و ، هغه خپل لښکر دهمایون د حملو څخه خوندي ساتلو په خاطر هر وخت تیار ساته ، بلاخره جنګ داسې بڼه خپله کړه چې د همایون لښکرو به بیا بیا د کرم ناسه ددریاب څخه د تیریدو هڅې کولې ، چې په دې هڅو کې به هغوې ته کله کله ډیر زیات زیان هم ور رسیده . ځکه کله به چې هم هغوې دا ډول هڅې کولې نو د شیرشاه سوري په حکم به خواص خان په هغوې وینه تویونکې حمله کوله او هغوې به یې دماتې خوړلو وروسته تر ډیره پورې تعقیبول . په دې ترتیب دهمایون دغه یرغل کونکي فوځ ته ډیر زیات زیان ورسید.

دبیا بیا زیانونو د پورته کولو په اساس دهمایون د فوځ حوصلې نورې پاې ته رسیدلې وې ، نژدې یوه میاشت دغسې وړې غتې پیښې روانې وې. او ددواړو اړخونو څخه به یو شمیر عسکر له منځه تلل . خو په دې جنګونو کې همایون ته تر شیرشاه ډیر زیان رسیده . ځکه چې شیرشاه سوري تر ډیره ځایه دفاعي جنګ ته ملاتړلې وه . بیا یو بل افت راغې او د برسات د موسم سخت بارانونه پیل شول ، او به دومره زیاتې شوې او ددریاب دغاړو څخه را ووتلې چې دشیرشاه سوري د پړاو ځایونه یې هم لاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د شیرشاه سوري سره د ګنګا د دریاب په دغه لاندینیو زمکو کې د پړاو نه پرته بله لاره هم نه وه. شیرشاه سوري هلته په دوو علتونو په پړاو کولو مجبور و. لمړی دا چې هغه ددې ځایه د کرم ناسه څارنه کولای شوه، ځکه د همایون لښکرو بیا بیا ددې ځایه د تیرید و هڅې کولې، دویم دا چې د غازي پور او بنارس څخه د همایون د لښکرو له پاره د راتلونکې کومکونو څارنه یې هم کولای شوه، ځکه د همایون د فوځونو له پاره د کومک د رسولو یوا ځنۍ لاره همدا پاته وه.

د سیلاب د راتلو په خاطر شیرشاه سوری د هغه ځایه خپل پړاو پورته کړ او لږ څه لوړې سیمې ته یې منتقل کړ. ترڅو د هماغه ځایه د همایون د لښکر خوزښتونو تر څارنې لاندې ونیسي. د ګنګا او سنګم د دریابونو تر منځ چې څومره په تیزۍ سره سیلاب راته نو همغومره په تیزۍ سره به بیرته کیناسته. هغه وخت چې شیرشاه سوری خپل لمړی پړاو واخست او لوړې سیمې ته یې منتقل کړ نو د همایون د فوځونو له پاره د دریاب غاړو ته د راتلو له پاره څه اساني پیدا شوې وه. هغوی ته دا هیله هم را پیدا شوې وه چې که چیرې په پرلپسې توګه د شیرشاه سوری سره همدغسې کوچنیو حملو ته دوام ورکړي نو په دې به و توانیږي چې د دریاب د ګودر څخه به د تیرید و له پاره ورته لاره هموار ه شي.

دڅو ورځو را پدیخوا همایون ته د اګرې او دهلي څخه چې کوم خبرونه رارسیدل، هغه د ډیرې ناهیلۍ او اندیښنو وړ وو، هغه وخت چې همایون د بنګال څخه کوچ کړې و نو په همغو ورځو کې د هغه کوچنی ورور بهندال د هغه پر خلاف بغاوت کړې و، په داسې حال کې چې هغه خپل بل ورور مرزا عسکري د بهندال د بغاوت د ځپلو له پاره هغه لورې ته ور استولې و. خو اوس حالات بل منګه شوې و. مرزا بهندال د خپل لښکر سره یو ځای دهلی ته راغلې و په داسې حال کې چې مرزا عسکري د خپلې برخې د لښکرو سره یو ځای هلته په اګره کې پړاو کړې و.

کله چې دې دواړو ورونو ته خبر ورسید چې شیرشاه سوري د همایون د لښکرو لارې بندې کړې او هغه یې تر کلابندۍ لاندې راوستې دې او اوس د همایون پر خلاف د یوه پریکنده جنګ له پاره ځان تیاروي نو دې دواړو ورونو هم خپل ځانونه وڅنډل.

مرزا بهندال همله په دهلي کې پاته شو او هیله یې کوله چې همایون به د شیرشاه سوري په لاسو مات شي، نو که چیرې ددې ماتې په پایلو کې همایون له منځه ولاړ نو د هغه د مړینې وروسته به هغه هملته په دهلي کې خپله شهنشهاهي اعلان کړي.

د بله اړخه د هغه هغه بل ورور مرزا عسکري ته چې کله د مرزا بهندال د فکرونو او هیلو خبر ور ورسید او دا چې شیرشاه سوری غواړې د همایون پر خلاف خپله اخري حمله وکړي نو سمدستي د خپل لښکر سره یو ځای د دهلي په لور را وخوزید او د دهلي څخه بیرون یې د خپل لښکر سره یوځای پړاو وکړ. ترڅنګ یې د حالاتو څارنه هم کوله. مرزا عسکري هم هیله درلوده چې د همایون په برخه کې د هر بدخبر د اوریدو سره سم به په دهلی حمله کوي، مرزا بندال به له منځه وړي او د همایون په ځای به د هندوستان پادشاه ګرځي. په هر صورت په دې سخت وخت کې د همایون دواړه ورونه مرزا عسکري او مرزا بهندال د همایون مرګ ته تږي او د هغه د ځای ناستې له پاره منتظر پاته شول.

په چوسه کې میشت همایون او د هغه لښکر ته دا ډول خبرونه په پرلپسې توګه ور رسیدل. همایون او د هغه لښکر ته دداسې ناامیده کونکو خبرونو د ور رسیدو طبیعې پایلې دا وې چې د هغوی تر منځ هم یو ډول زړه بداوې را پیدا شو، په همدې خاطر همایون یو ګړندې قاصد دهلي ته ولیږه او خپلو دواړو ورونو مرزا بهندال او مرزا عسکري ته یې پیغام ولیږه چې هغوې دې د خپلو لښکرو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوځاې دهرې لارې چې شونې وې دلته چوسې ته ځانونه راورسوي تر څو په یو ځاې د شیرشاه سوری د لښکرو مقابله وکړای شو . په دې توگه به هغه و توانیږې چې د دریابونو د منځه د شیرشاه سوری پړاو ختم کړي، په دې لړ کې به په خپله همایون د شیرشاه سوری پر خلاف یرغل وروړي او هغه به د گنگا او سنگم د دریابونو دمنځنۍ سیمې څخه بیرونه کاږي او تر هغې به یې تعقیبوي تر څو شیرشاه سوري د هندوستان پریښوولو ته اړ شي.

کله چې دهمایون داپیغام دهغه د قاصدانو په واسطه مرزا بهندال او مرزا عسکري ته ورسید نو دواړه ورونه سمدستې دهمایون د بسپنې له پاره تیار شول ، ددواړو ورونو تر منځ دخبرو اترو وروسته دا سې پریکړه وشوه چې مرزا بهندال دې دخپلو لښکرو سره یوځاې همدلته ددهلی څخه دد فاع په خاطر پاته شي او مرزا عسکري دی دخپلو لښکرو سره یوځاې د گنگا او سنگم د دریابونو دمنځنیو سیمو په لور ولاړشي او د شا له لورې دې په شیرشاه باندې یر غل یوسي . هغوې به دخپلو قاصدانو په لاسو همایون ته داپیغام ولیږي تر څو همایون د هغې لورې دشیرشاه په لښکر یرغل راوړي او په دې ترتیب د شیرشاه سوري کار د تل له پاره پاې ته ورسوي

هغه وخت چې د اگرې او دهلی خلک په دې خبر شول چې مرزا عسکري دخپل ورور همایون د کومک له پاره تیار شوې دې نو خلک ډیر زیات خوشحاله شول او حوصلی یې لوړې شوې ، ددې نه علاوه د مرزا عسکري او مرزا بهندال په لشکرو کې چې کوم پخوانی تجربه لرونکې فوځیان موجود وو هغوې هم ددې کاره ډیره راضي شول او بیړه یې کوله چې ډیر ژر باید د همایون مرستې ته ورودانگي، خو یو شمیر نمک حرامه او بد مستو سلاکارانو یو بل ډول سلا ورکړه ، هغوې په پټه پټه د مرزا عسکری غوږونه ور ډکول ، هغوې ورته وویل چې چوسې ته په ورتللو سره او هلته د همایون سره د کومک کولو معنې داده چې پادشاه ازاد شي ، دښمن برباد شي او مونږ ټول په یوه دام کې را ونښلوي. هغوې مرزا عسکري ته دا سلا ورکړه چې که چیرې د شیرشاه سوري په مقابل کې یې داخل دپادشاه سره مرسته وکړه او همایون لاس برې را ووت نو دشیرشاه سورې د ځپلو وروسته به هغه حتما د مرزا عسکري د ځپلو له پاره ملا تړي. هغه به مرزا عسکري ته هلته چوسې ته د ناوخته ور رسیدو سزا ورکوي او بهندال ته به د بغاوت په اړه ناوړه سزا ټاکي .

د همایون ورور دخپلې بېعقلۍ او بې تجربگۍ په اساس په جال کې را ونښت او ددغې غدارانو او نمک حرامو مشوره یې مناسبه وگڼله او دهمایون د کومک له پاره د وتللو څخه یې د ډې کولو له پاره بهانې لټولې

د بله اړخه کله چې همایون ته خبر ورسید چې دهغه ورونه دهغه د کومک له پاره را تللو ته تیا ر نه د ي ، نو مجبورا یې د شیرشاه سوري سره د سولې کولو له پاره تیارې و ښود.ددې کار له پاره همایون د خپل لښکر یو مشر ، شیخ خلیل د شیرشاه سوري په لور واستاوه او هغه ته یې سپارښتنه وکړه چې شیرشاه سوري سولې ته تیار کړي . شیخ خلیل د شیخ فرید شکر گنج د کورنۍ څخه و او خلکو یې ډیر زیات عزت او درنښت کاوه.

شیخ خلیل د شیرشاه سوري په لور ورغې او دهغه سره یې دهمایون او دده تر منځ د سولې خبرې پیل کړې. په پیلامه کې شیرشاه سوری هم نه غوښتل د همایون سره په جنگ کې را لتاړ شي. هغه هم دا غوښتل چې که دهمایون سره د سولې کومه لاره پیدا شي نو همغه به ښه وي ، په دې خاطر شیرشاه سوری شیخ خلیل ته وویل چې هغه په دې شرط سولې ته حاضر دې چې د چنار کلا او دهغې شاوخوا ټولې سیمې همایون بیرته هغه ته حواله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشیرشاه سوري ددې ځواب په اوریدو سره شیخ خلیل ډیر زیات خوشحاله شو ، هغه ته دا هیله را پیدا شوې وه چې همایون به د چنار کلا اودهغې شاوخوا سیمې بیرته شیرشاه سوری ته ور پریږدي ،په دې اساس هغه په ډیره خوشحالۍ سره د شیرشاه سوري د لښکر څخه را ووت او د همایون د لښکر په لور راغې. هلته یې همایون ته هغه شرط ووایه چې د شیرشاه سوري له اړخه ورته د سولې دکولو په خاطر ویل شوې و. خو دهمایون په شاوخوا کې چې کوم نالایقه او بدمسته نمک حرامه سلاکاران را ټول شوي و هغوي ټولو همایون ته په یوه خوله وویل چې شیرشاه سوری ته د چنارکلا ور حواله کول مناسب نه دي ، ځکه شیرشاه سوري به هلته په چنارکلا کې خپل ځان نور هم ځواکمن کړي او به راتلونکې کې به دهمایون له پاره د سر درد وګرځي. دخپلو دغو نا اهلو سلاکارانو د سلا وروسته همایون د شیرشاه سوري دغه شرط و نه مانه او په دې توګه ددواړو اړخونو تر منځ د سولې په ځای جنګ ته لاره هواره شوه.

۴۲

زړه نیرمل په خپلې خیمې کې دیوه سره تر بله پورې تله را تله ، دهغه دحالاتو څخه داسې انګیرل کیده چې هغه ډیره اندیښمنه ده، په همدې وخت کې ګنګا هم خیمې ته را ننوتله ، دهغې په کتلو سره سم نیرمل دهغې لورې ته ورغله او ورته یې وویل چې: ګیتا لورې !ته چیرې تللې وې زه د ډیره وخته ستا په انتظار کې وم ، ماته اندیښنې را پیدا شوې وې چې هسې نه چې ته بیا په کوم مصیبت کې را لتاړه نه شې. دهغې په دې خبرو ګیتا د خیمې په یوه کنج کې کیناسته او ویې ویل چې: نیرمل ! دلته دخواص خان تر څارنې لاندې به څنګه زه په کوم مصیبت کې را لتاړه شم ، په ځواب کې ترې نیرمل و پوښتل چې :

خو ګوره ګیتا لورې !ته اوس چیرې تللې وې ، زه د ډیره وخته راهیسې په خیمه کې ځانته ناسته وم اوستا انتظار مې کاوه ، زه خو هسې د لږ ځنډ له پاره بیرون تللې وم اوبیا ته زما په غیاب کې له دې ځایه پسې ډیره اوږده ولاړې. ایا ته دخواص خان خواته ورغلې وې؟ګنګا ورته وویلې چې: نه زه خو د خواص خان لورې ته نه وم ورغلې، نیرمل ترې بیا وپوښتل چې بیا نو ته چیرې ورکه وې ؟ د لږڅه فکر او غور وروسته ورته ګنګا په ډیره مینه وویل چې :

ګوره نیرمل !زه غواړم تاته خپل یو راز وو ایم. زه همدا اوس د شیرشاه سوري اودهغې د حرم د ښځو سره دکتلو وروسته دلته راغلم. ما هغوي ټول دخپل راز ملګري ګرځولې دي. نیرمل په ډیره عجیبه توګه ګنګا ته وکتل اوبیا یې ترې و پوښتل چې: لورې څه ډول راز ؟ ګنګا ورته وویل چې :

ګوره نیرمل ! زما اصلی نوم ګیتا نه دې بلکه ګنګا دې .ددې وروسته ورته ګنګا خپله ټوله تیره شوې قصه په تفصیل سره وکړه ،کله چې ګنګا خپله ټوله قصه خلاصه کړه نو نیرمل ورته په شکایت کونکې توګه وویل چې :

ګوره ګنګا لورې ! تا ماته د همغه لمړۍ ورځې څخه ولې دا ټول حال نه وایه ، چې ته د رهتاس د راجه چندرمل شهزادګۍ ګنګا یې. ما خو ته تر اوسه پورې ته د رهتاس د زیارت په لنګر ځای کې اوسیدونکې ګیتا ګڼلې. دا داسې انګیرله چې دکونډتون نه مختته ته مهارت کتلې وې ، هغه غوښتل تا خپله کړي نو په دې خاطر یې دهغه ځآیه ستا د راتښتولو له پاره خپل کسان در ولیږل. ګوره لورې ! ما فکر هم نه کاوه چې ته به یوه شهزادګۍ یې. په هر صورت ستا شکل و صورت ، ستا ښکلا اوښایست او ستا جسماني جوړښت ماته ویل چې ته به حتما دکومې سترې کورنۍ پورې اړونده یې. ځکه ستا په څیر ښایسته پیغلې ما ډیرې کمې کتلې دي. اوس چې زه ستا ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال څخه خبره شوم چې ته ګیتا نه یې بلکه شهزادګۍ ګنګا یې. نو اوس را ته ووایه چې تا شیرشاه سوري او دهغه دکورنۍ غړي د کوم راز په اړه دخپل ځان ملګری کړي دي. ګنګا ورته وویل چې:

ګوره نیرمل !ته هیڅکله هم د خواص خان تر مخ دا خبره نه ډاګیزه کوې چې زه شهزادګۍ ګنګا یم. ددې ټول راز د پوهیدو نه وروسته هم ته دا وګڼه چې زه همغه ګیتا یم او یوه پاته شوې کونډه یم. بس نیرمل لکه څنګه مې چې تاته خپل ټول احوال بیان کړل نو دګنګا به نوم را څخه خواص خان کرکه کوی خو دیوې کونډې په څیر زه دهغه دمینې په لاسته راوړو کې بریالې شوې یم. اوس به زه دهغه تر مخه دګنګا په ځاې همدا ګیتا اوسم. ددې تر څنګ به زه دګنګا سره دهغه دغه نفرت او کرکه هم په مینه بدلوم. نیرمل پرې اعتراض وکړ او ترې ویې پوښتل چې:

دا به څه ډول شوني وي ؟ګنګا ورته په خندا کې وویل چې: اوس خو دا ډاګیزه شوې ده چې ما دیوې کونډې په څیر د خواص خان مینه او محبت تر لاسه کړې دې خو زه ویریږم چې هسې نه چې دا سې کوم وخت راشي او خواص خان ته دا ځرګنده شي چې زه ګیتا نه یم بلکه ګنګا یم نو زه ویریږم چې دهغه کرکه به بیا را وپاریږي، ځکه چې ما د ګیتا په لباس کې هغه ته دوکه ورکړې ده. ګوره نیرمل ! خواص خان ډیر پاک زړې او نرم مزاجه انسان دې ،نو زه غواړم چې تر هغو چې هغه د ګیتا سره مینه کوي د ګنګا سره هم خپله کرکه را کمه کړي ، او که چیرې هغه سمدستې دهغې سره مینه و نه کړ ي نو لږ تر لږه خو دهغه کرکه په همدردۍ او مینه باندې بدله کړل شي. که چیرې همدومره وشي نو زه به بیا دخپل مخ څخه نقاب لرې کوم او دخواص خان تر مخه به را ځرګند یږم او بیا به هغه دخپل اصلیت څخه خبر کړم .بیا خو به زما هیله وي چې هغه به زما څخه دګنګا به بڼه کې کرکه و نه کړي. او کله چې هغه ته دا خبره ورسیږي چې ما دګیتا په بڼه کې نه یوازې دهغه مینه تر لاسه کړې بلکه هغه به ما د ګیتا او ګنګا دواړو په بڼه کې خپله کړي. ګوره نیرمل !کله چې هم دا سې موقع او فرصت تر لاسه شي نو بیا به زه ووایم چې دا زما د ژوندانه طلایي وخت دې.

دګنګا په خاموشه کیدو سره نیرمل په خبرو پیل وکړ او ویې ویل چې:

ګوره ګنګا لوري !ستا ډیره مهرباني ده او زه ستا شکریه ادا کوم چې تا ماته خپل زړه را وسپړود او زه دې دخپلو رازونو څخه خبره کړم .خودا راته ووایه چې د شیرشاه سوري او دهغې د کورنۍ سره دې څه خبرې کړې دي؟ګنګا ورته په ځواب کې وویل چې:

ګوره نیرمل !ما هغوې ته دا ډاګیزه کړه چې زه په اصل کې ګیتا نه یم بلکه همغه شهزادګۍ ګنګا یم، شیرشاه سوري خو ما د پخوا څخه پیژني ، ځکه کله چې هغه د رهتاس ښار سوبه کړ نو زه هم دیوې بندۍ په توګه د هغه تر مخ را وړل شوې وم او بیا هغه زه د یوې وینځې په څیر خواص خان ته ور حواله کړم ،خو خواص خان زه ازاده کړم ، هغه زما څخه دومره زیاته کرکه کوله چې زه یې د وینځې په څیر هم له ځانه سره قبوله نه کړم.

دشیرشاه سوري او دهغه دکورنۍ دخپل دغه راز د را ښکاره کولو وروسته ،ما هغوې ته دا هم ویلي دي چې زه به د ګتیا د بڼې تر څنګ د ګنګا په بڼه کې هم دخواص خان مینه او محبت تر لاسه کوم او د همدا ډول بڼې په بدلون سره به زه په خواص خان باندې برې تر لاسه کوم. او که نه زما له پاره به ستونزې نورې هم زیاتې شي. ځکه که دخواص خان په زړه کې د ګنګا له پاره همغسې نفرت او کرکه پاته وي، نو کومه ورځ چې زه دهغه تر مخه د خپل مخ څخه نقاب لرې کړم نو زه ویریږم چې هسې نه چې په هغه ورځ دګیتا محبت د ګنګا سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکې باندې بدل نه شي او که چیرې ، نیرمل ، داسې وشول نو بیا به هغه ورځ زما د ژوند انه اخري ورځ ثابته شي او دهغې وروسته به زه د خپل ځان ژوندي پاته کیدل غوره و نه ګڼم .

ما دشیرشاه سره او هم دهغه دکورنۍ سره دا خبره غبرګه کړې ده چې زه به دخواص خان د زړه څخه دګنګا په اړه کرکه لرې کوم او هغه به په مینه اومحبت باندې بدلوم. ځکه چې ما خپله پخوانۍ خدمتګاره چې اوس زما خورلڼه ده او هلته په رهتاس کې او سیږي دهغه ځایه دلته را بللې ده . زما د وینا سره سم شیرشاه سوري خپل دوه کسه استازي هلته د رهتاس د زیارت لنګرځاې ته استولي دی او هغه قاصدان به له خپله ځانه سره اوما هم دلته را وړي ، ما هغو استاذو ته دا ټوله قصه کړې ده تر څو هغوې اوما ته زما په اړه وو ایی او بیا اوما زما د داستان په مطابق دلته راشي او دخواص خان دربار ته وړاندې شي. هغه به خواص خان ته دا وو ایی چې د خواص خان دحویلۍ څخه د وتلو وروسته اوما او ګنګا د ګنګا د یوه خپلوان کره تللې وو. هلته یوڅو کسه بدمعاشانو ګنګا تنګوله ، دا بدمعاشان د ګنګا پیژندونکې او دهغې لرې خپلوان وو . اوما به خواص خان ته دا هم وو ایی چې ګنګا د زړه له کومې دهغه سره مینه لري او په همدې خاطر هغې د ټول عمر له پاره د واده د نه کولو اراده کړې ده. اوما به خواص خان ته دا هم وو ایی چې کله چې د رهتاس په ښار ګوتې کې دغو بدمعاشانو ګنګا ډیره تنګه کړه نو یوه شپه د اوما په مشوره ګنګا دخواص خان حویلۍ ته بیرته راستنه شوه ترڅو دهغو بدمعاشانو د شر نه ځان خوندي کړی او تر څنګ د خواص خان مینه او محبت هم بیرته تر لاسه کړي، او که نه بیا به خپل ځان له لاسه ورکړي. همداسې ډیرې نورې خبرې به هم اوما د خواص خان تر مخ بیان کړي ، زه هیله لرم چې اوما به د رهتاس څخه په راتلو دلته لمړۍ ما ووینې ، او زه به هغه نوره هم په ټولو خبرو پوهه کړم. هغه به په دې توګه کله کله دخواص خان سره وینې او د ګنګا په اړه به یې په فکر کې د بدلون هڅې کوي ، هغه به خواص خان ددې خبرې له پاره هم تیار کړي چې هغه دې همدلته په لښکر کې زما او ستا سره یو ځاې پاته شي . په دې توګه زه هیلمنه یم چې اوما به دخواص خان په آند کې بدلون راوړي او دګنګا له باره به یې په زړه کې دمحبت او مینې له پاره ځاې را پیدا کړي. خواص خان په اوما ډیر باوري دې او هغې ته یې خپله خورویلې ده . اوس راته نیرمل ته وو ایه چې زما دا ټول پلان څه ډول وینې ؟ نیرمل په خوشحالۍ سره ورته وویل چې :

ګوره ګنګا لورې ! زه تاته ډاډ درکوم چې که چیرې اوما ستا ددې پلان په مطابق عمل وکړي نو بیا خو هغه ورځ لرې نه ده چې خواص خان به د ګیتا تر څنګ د ګنګا سره هم محبت او مینه پیدا کړي. ګنګا لورجانې ! دا به زما په ژوند کې ډیره ستره او دخوشحالۍ ورځ وي ، چې ته دخواص خان تر مخه دخپل مخ نه دغه نقاب لرې کړې او خواص خان تا د ګیتا او ګنګا دواړو په بڼه کې قبوله کړي.

دنیرمل ددې خبرو په ځواب کې ګنګا څه نور ویل غوښتل چې بیرون ساتونکې د خیمې دروازه را وټکوله ، کله چې ګیتا هغه ته د راننوتلو حکم وکړ نو هغه دننه راغې ، ساتونکې د دې دواړو له پاره خوراک څښاک له ځانه سره راوړې و . هغه دغه غذا هملته ددوې تر مخ کیښوده او بیرته ووت. ددې ساتونکې د تللو وروسته ګنګا نیرمل ته مخ کړ او ورته یې وویل چې :

ګوره نیرمل ! له ما څخه ډیره غټه خبره ، چې باید پخوا مې تاته کړې وې ، هیره شوې وه . نیرمل په حیرانتیا سره ګنګا ته وکتل او ورته یې وویل چې : هغه څه ډول خبره ده ، تا خو ماته د شیرشاه سوري اودهغه دکورنۍ سره ټولې پټې خبرې بیان کړې دی ، اوس څه ترې پاته دي ؟ ګنګا ورته وویل چې : هغه خبره چې زه یې اوس تاته کول غواړم هغه ددې ټولو څخه ستره ده . اوهغه دا چې ما اسلام قبول کړې دې . اوس زه هندوه نه بلکه مسلمانه یم . شیرشاه سوري اودهغه کورنۍ زما په مسلمانیدو باندې ډیر زیات خوشحاله شوي دي. هغوې په همدې مناسبت زما له پاره دیو ډیر ستر دعوت د تیارولو پلان درلود ،خو ما ددې کار څخه منه کړل. خو همدومره مې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل چې خواص خان په دې خبر کړي چې ګيتا اسلام قبول کړي دې او اوس مسلمانه ده. زه هيلمنه يم چې خواص خان به ددې خبرې دخبريدو سره سم دلته زمونږ خيمې ته راځي، دګنګا په دې څرګندونې باندې نيرمل تر يوه وخته پورې خاموشه ناسته وه او څه فکر يې کاوه، بيا يې ګنګا ته مخ کړ او ورته يې وويلې چې: ګوره ګنګا! اوس چې ته د اسلام په دايره کې را ننوتې يې نو بيا خو زه هم ستا په لاره قدم ږدم. ګنګا! زه هم ستا په څير اسلام قبلوم، اوله تا څخه غواړم چې ماته هم ددې نوي دين په اړه معلومات راکړې. دهغې په دې خبره ګنګا ډيره زياته خوشحاله شوه او ورته يې وويل چې: ګوره نيرمل! د اسلام د منلو وروسته اوس زه هره ورځ د شيرشاه سوري د کورنۍ لورې ته ورځم او دهغوې څخه دخپل دغه نوي دين په اړه ضروري معلومات تر لاسه کوم، ته هم زما سره ځه، نو ددې ټول تفصيل څخه به خبرېږې، نيرمل ورسره اتفاق وکړ او بيا دواړو يو ځاې د ډوډۍ په خوړلو شروع وکړه.

۴۳

د سولې هغه خبرې چې د شيخ خليل په واسطه د شيرشاه سورى او همايون تر منځ پيل شوې وې هغه د همايون د غلطيو او د شيرشاه سوري ته د چنار دکلا د نه ورکولو په اساس په خپل ځاې ټپې و دريدې. شيرشاه سورى هم ژمنه کړې وه چې اوس نو دهغه تر مخه دهمايون پر خلاف د پريکنده جنګ پرته بله لار نه شته. هغه هوډ کړې و چې په هرصورت به د جنګ پايلې دهمايون د لاسو څخه باسي او په خپله ولکه کې به يې راوړي. شيرشاه سوري دخپلو همدغو موخو د تر لاسه کولو له پاره هڅه وکړه چې همايون او دهغه لښکر په يو ډول دوکه کې واچوي. شيرشاه سوري ددې مقصد له پاره تبليغاتي جنګ پيل کړ اودا يې خپره کړه چې د مهارت د ځپلو له پاره خواص خان ورغلې و خو مهارت د خواص خان لاسو ته نه دې ورغلې، ځکه مهارت د خپل لښکر سره کوم داسې ځاې ته تښتيدلې چې د شيرشاه سورى مخبران دهغه د درک د څرګندولو څخه عاجز پاته شوي دي. هغه دا خبر هم خپور کړ چې اوس مهارت د شيرشاه سوري په لښکر باندې د ناڅاپي يرغل په فکر کې دې او غواړي شيرشاه سوري ته ماتې ورکړي. کله چې شيرشاه سوري، خواص خان او دهغه نورو سالارانو دا خبره عامه خپره کړه نو دشيرشاه سوري خپل لښکر هم په دې خبره باندې باور پيدا کړ.

اوس نو شيرشاه سورى ته دا يو ورځنې کار ګرزيدلې و چې هره ورځ د خپل لښکر څو ډلګۍ دمهارت تر ولکې لاندې سيمو په لور تر درې څلور ميلو واټن پورې واستوي، او دا به يې هم ډاګيزه کوله چې هغه دخپلو عسکرو سره يو ځاې دمهارت د لټون له پاره ورځي. خو هر ماښام به دوې بيرته خپلو ځايو ته راستنيدل او ويل به يې چې تر اوسه پورې دمهارت په اړه معلومات ورته نه دې تر لاسه شوې.

تر پنځو وروځو پورې شيرشاه سورى دغه ډول تمرينات کول، خو دې کار په مغلو باندې دومره ژور اغيز وکړ چې نور يې نو خپل ځآنونه د شيرشاه سوري د حملو څخه خوندي ګڼل، هغوې ډاډمن شوي و چې د شيرشاه سورى د فوځ دغه حرکت او خوزښت دهغوې پر خلاف نه بلکه د مهارت د نيولو اوځپلو له پاره تر سره کيږي نو په دې اساس دشيرشاه سورى د حملې څخه مغل خوندي دي.

۴۴

يوه ورځ سهار وختي شيرشاه سوري خواص خان ته دخپل لښکر نيمايي برخه ورکړه او د خپل پړاو نه يې رخصت کړ، خو هيچا هم په دې خبره سر و نه ګراوه، هرچا دا ګمان کاوه چې د خواص خان لښکر د مهارت د ځپلو له پاره ور ځي، خو شيخ خليل ته لږ څه شک پيدا شوې و، هغه سمدستې ددې کار په اړه همايون ته خبر ورکړ، خو همايون دخواص خان دې عسکري خوزښت ته کوم اهميت ورنه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري ورځې وروسته د نيمې شپې څخه لږ مخته شيرشاه سوري دخپلو عسکري سالارانو يوه غونډه را وبلله او د معمول په مطابق يې دهغوې تر مخه دهمايون پرخلاف يوه تنده او تيزه وينا وکړه. هغه دې غونډې ته وويل چې زمونږ وعده ماتونکي دښمن په خپل مخکې د سولې ټولې دروازې تړلې دي، کله چې د شيرشاه سوری دغه جنګې شورا دهغه سره په ټولو خبرو کې اتفاق وکړ نوبيا شيرشاه سوری پر همايون باندې دحملې کولو اراده رامخته کړه.

ددې غونډې د پاې ته درسيدو نه مخکې، شيرشاه سوری خپلو ټولو سالارانو ته حکم وکړ چې هغوې دې ژر تر ژره خپل ټول عسکر د جنګ له پاره په ليکو کې منظم کړي. کله چې دشپې يوه برخه پاته شوه نو د شيرشاه سوری د حکم په مطابق ټول لښکر دمهارت د سيمې په لور ډير نژدې ورغلې و.

د همايون څخه دفوځ د دغه نقل وحرکت د پټ ساتلو په خاطر ،شيرشاه سوري د شپې د خپل پړاو څخه نژدې پنځه ميله واټن جنوب اړخ ته تللې و ، دلته ورته خواص خان هم دکرم ناسه ددرياب په غربي غاړه دخپل لښکر سره يو ځاې منتظر و. خو شيرشاه سوري هم په ناڅاپي توګه خپل تګلورې بدل کړ او دکرم ناسه ددرياب څخه تير شو او دهغې په شرقي برخو کې د خواص خان سره يو ځاې شو. اوس نو دغه متحده لښکر د کرم ناسه د درياب څخه تير شوې و او ددې درياب شرقي خوا و ته ور رسيدلې و. دهغه ځايه چې دوې ددې درياب څخه تيرشوې و ، هغه مقام دوشاخه نوميږی چې دهمايون د فوځونو د پړاو څخه په پنځه ميله واټن کې پروت دې. تر اوسه پورې شيرشاه سوری اوخواص خان د همايون پر خلاف د جنګ ټوله نقشه دخپلو ځانو سره پټه ساتلې وه. دکرم ناسه ددرياب څخه د تيريدو وروسته شيرشاه سوري يوځل بيا خپل جنګې شورا را وبلله ، چې په کې دخواص خان تر څنګ نورو جنګې سالارانو هم ګډون درلود ، شيرشاه سوری په همدې جنګې شورا کې دخپل جنګ ټوله نقشه د سالارانو تر مخ کيښوده اوبيا يې خواص خان ته مخ کړ او ورته يې وويل چې:

خواص خانه زويه ! مونږ به همدا نن شپه د همايون په فوځ باندې حمله کوو ، خو ګوره زويه ! مونږ لښکر په دوو برخو باندې ويشو ، يوه برخه به يې ستا تر قومندې لاندې کار کوي ،خو د لښکر دغه بله برخه به يې زما سره وي. هيبت خان نيازی ، جلال خان جالو ، او سرمست خان سرواني به ستا تر لاس لاندې کار کوي ، خو حاجې خان بټني اوبرهم جيت به زما تر څنګ وي.

ګوره خواص خانه زويه ! دجنګ پلان به داسې وي ، چې ته به د خپل لښکر سره يو ځاې دشپې په تياره کې مخته ورځې او دمغلو په لښکر به شپيني خونړې ګذار کوې. ستا ددې يرغل څخه به دښمن داسې وګڼي چې شيرشاه کوم لرې ځاې کې دې ، هغوې يوازې دمهارت سره د جنګ نه د ناکامه راګرزيدو وروسته دخواص خان په لاسو زمونږ په فوځ بريد کړې دې ، په دې توګه به دمغلو ټول لښکر ستا تر مخ ودريږي تر څو تا مات کړی ، کله چې حالات دې ځاې ته را ورسيږی نو زه به دشا له اړخه دمغلو په فوځ باندې را پريوزم، زه هيله لرم چې دشپې په دې تياره کې به مونږ دواړه وتوانيږو دمغلو فوځ په خپل مخکې بې وسې کړو.

تر دې ځايه دخبرو وروسته شيرشاه سوری لږ څه تم شو اوبيا د لږ څه فکر او غور وروسته خواص خان ته وکتل او ورته يې وويل چې:

خواص خانه زويه !ددې پلان په اړه ته څه ډول انګيرې ؟خواص خان په پوره ډاډ او خوښۍ سره ځواب ورکړ او ورته يې وويل چې:

زما محترمه ، شيرشاه سوري ! هغه پلان چې ستا دې هغه دخواص خان هم دې ، ته هيڅ فکر مه کوه ، زه به د شپې په تياره کې ددې ځايه حرکت کوم اودمغلو دلښکرو په يوه اړخ باندې به داسې وينه تويونکې ګذار کوم چې دهغوې ټول لښکر سره په لړزه کې راشي. زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلمن یم چې نن شپه به دمغلو د لښکرو له پاره د ماتې اخري شپه ثابته شي . دخواص خان دځواب په اوریدو سره د شیرشاه سوري په مخ کې دخوشحالیو رڼا را وځلیده ، تر یوه وخته پورې خاموشه ناست و او بیا یې وویل چې :

ګوره خواص خانه زویه !لکه څنګه چې تا ته څرګنده ده چې دهمایون لښکر دد ې ځایه په پنځه مایله واټن کې پروت دې ،مونږهم لږ څه وروسته دد ې ځایه خو زیږو اودهمایون د لښکر څخه به درې مایله لرې واټن کې پړاو کوو. ته خواص خانه ، دهغه ځایه حرکت وکړه اودهمایون په لښکر باندې ناڅاپي شپیني یرغل یوسه ، تر دې وخته پورې به زه هم هلته په سنګر کې یم او د همایون لښکر ته به د ورنژدې کیدو هڅې وکړم. که دشپې په تیاره کې مې وکتل چې دهمایون ټول لښکر ستا پر خلاف ولاړ دې نو بیا به زه پرې د شا له خوا حمله وکړم او دهغوې ټول زور به مات کړم.

ګوره زویه ! داسې یې وګڼه چې نن شپه زما اوستا د ازمیښت شپه ده ،که چیرې په همدې نن شپه مونږ دهمایون فوځ مات کړ او خپل مقصد مو حاصل کړ نو بیا خو زه هیلمن یم چې دمغلو ټول ځواک به ډیر ژر زمونږ په مخ کې په ګونډو شي .

دشیرشاه سوري ددې خبرو په ځواب کې خواص خان وویلې چې :

زما محترمه ، زما مهربانه ، شیرشاه !ته ډاډمن اوسه ، ته به ووینې چې زما دغه ناڅاپي یرغل به د مغلو دلشکرو د لمړیو لیکو څخه تر اخري لیکو پورې ټول په لړزه کې واچوي ، زه هیلمن یم چې د شپې په همدې تیارو کې به زه دمغلو لښکر د ویرې او دهشت په بوګنونکې حالت کې ورواچوم.

شیرشاه سوري د خواص خان ددې ځواب په اوریدو سره د ډاډ او اطمینان ساه واخسته ،بیا یې خپله جنګې غونډه پاې ته ورسوله او د لږ ځنډ وروسته یې خپل لښکر ته د کوچ کولو حکم وکړ. هغوې د کرم ناسه ددریاب تر څنګ کوچ وکړ او دمغلو دلښکر درې میله واټن کې یې دوباره پړاو وکړ.

ددې نقل وحرکت تر څنګ شیرشاه سوری خپل مخبران او جاسوسان تر پنځه میله پورې لرې لرې خپاره کړي و او هغوې ته یې حکم کړې و چې هر چیرې چې دمغلو کوم جاسوس یا مخبر ووینې سمدستي دی یې ووژنې ، تر څو دشیرشاه سوری دلښکر ددغه وړاندې تګ او د خواص خان له اړخه د شپیني ناڅاپي یرغل دپلان څخه خبر نه شي ، دشیرشاه سوری مخبرانو او جاسوسانو خپله دنده په ډیره ښه توګه تر سره کړه ، همدا علت و چې هغه وخت چې شیرشاه سوری د مغلو سره نژدې درې میله واټن کې پړاو وکړ تر هغه وخته پورې مغلو ته دشیرشاه سوری او خواص خان دپلانونو په اړه هیڅ ډول معلومات نه و تر لاسه شوي.

ددې نه وروسته خواص خان د خپلو لښکرو سره یو ځای دشپې په تیاره کې نوم ورکې ځپې په توګه مخته ولاړ او د همایون لښکر ته یې په سینه خویدو باندې ځان را نژدې کړ او بیا یې د همایون په لښکرو باندې دتیزو تندو ځپو په څیر حمله وکړه.

دشپې په تیارو کې خواص خان دهمایون د لښکر په اړخ باندې داسې سخته یرغل یوړ چې دهمایون د لښکر ټول نظام یې د ټولو وسایلو سره خاموشه کړ. خواص خان په دغه شپینۍ ناڅاپی یرغل سره دهمایون دلښکرو مخکنۍ لیکې له منځه یوړې او د همایون دلښکر څخه یې دهغوې د ځواک ولکه به خپلو لاسو کې واخسته . هغه د مغلو دلشکر ددې برخې د له منځه وړلو وروسته هڅه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مغلو د لښکر په منځ کې ور ننوځي. د خواص خان د دې میړانې په کتلو سره د هغه لښکر هم ډېر ګړندي شوې و په دې خاطر هغوې د شپې په دې تیاره کې د خواص خان تر څنګ پوره بهادري و ښودله او د مغلو په لښکر کې یې عامه وژنه پیل کړه.

تر لږه وخته بورې همایون او د هغه سالاران هم ګوته په خوله پاته و. ځکه همایون ته خبر ورکړل شوې و چې د شیرشاه سوري ستر سالار خواص خان د مغلو په لشکرو باندې حمله کړې ده، د دې خبر سره سم همایون په خپله هم خپله وسله را واخسته او د خواص خان سره د مقابلې له پاره تیار شو، تر څنګ یې خپلو ټولو سالارانو ته حکم وکړ چې د خپلو خپلو لښکرو سره یو ځای د خواص خان مقابلې ته تیار شي. هغه دا حکم هم وکړ چې خواص خان ژوندې یا مړ باید و نیول شي، د همایون د حکم سره سم د هغه ټول سالاران متحرک شول او د خپلو برخو د لښکرو سره یو ځای یې د خواص خان پر خلاف یرغل پیل کړ.

خو خواص خان په ډېر تدبیر سره خپل کار مخته بوته. اوس نو هغه لږ لږ شاته روان و. ځکه هغه په دې پوهیده چې لږه شیبه وروسته شیرشاه سوري د مغلو په خلاف د شا له لورې حمله کونکې دې. نو په دې خاطر د هغوې حوصلې لوړې وې.

د بله اړخه مغلو دا فکر کاوه چې شیرشاه سوري چیرې لرې کوم ځای کې دې او خواص خان د هغه د وینا او حکم په اساس پر دوې حمله کړې ده، تر څو د دوې تر منځ ویره او دهشت را پیدا کړي. خو دا د هغوې غلطی او بې عقلي وه، ځکه چې شیرشاه سوري هم د چیچونکې مار په څیر په سنګر کې ناست و او په مناسبه موقع کې یې د خپلې حملې په واسطه په مغلو قیامت جوړولای شو.

لږه شیبه وروسته، کله چې د همایون لښکرو دا و انګیرله چې اوس نو هغوې په پوره توګه د خواص خان په لښکر را خپاره شوي دي نو د شپې په تیاره کې د چوسې څخه بیرون د جنګ په میدان کې یو وینه تویونکې انقلاب را پیدا شو. شیرشاه سوري د خپلو لښکرو سره د خپلو پټنځایو څخه بیرون را ووت او د همایون په لښکر یې لکه د توري تیارې د توپان په څیر یرغل راوست، د کومې لورې چې هغه د همایون په لښکر باندې حمله کړې وه د هغه لورې د همایون لښکر د پوره له منځه تلو سره مخ شوې و. تر څنګ یې د شیرشاه سوری او خواص خان د دې ناڅاپي یرغلونو په اساس د همایون لښکر د پوره زړه بدوالي سره مخامخ شوې و. ډاګیزه وه چې د دې څخه لږ مخته همایون او د هغه سالاران د خواص خان د نیولو او د هغه د له منځه وړلو په هڅو کې و خو کله چې پرې شیرشاه سوری د شاه له اړخه یرغل راوست نو د مغلو لښکر یې د پوره وار خطایی سره مخ کړ. په دې خاطر هغوې د خواص خان د نیولو ټول پلان په خپل ځای پرېښود او د همایون د وینا په اساس د هغه سالارانو خپل لشکر په دوو برخو وویشه، یوه برخه یې د خواص خان په لور او بله یې د شیرشاه سوري سره د مقابلې له پاره وټاکله.

کله چې په خواص خان باندې فشار کم شو نو هغه په خپلو حملو کې نور هم ډېر ښت او تیزوالي راوړ او دد ښمن فوځ یې شاته تللو ته مجبور کړ. تر څنګ یې شیرشاه سوري هم د مغلو لښکر ته د تم کیدو اجازه نه ورکوله او هغوې یې په وینو کې لمبیدلې شاته پورې وهل
.

د چوسې نه بیرون په میدانو کې د جنګ ټول الات په پوره ځواک سره استعمالیدل، د وینې لښتې روان و، مړګونې جسدونو نخاوې کولې، ژوند د تباهیو سره مخ و، مرګ د وینه تویونکې خوب په څیر یو شمیر خلک د ستونې تیرول، بلکل دا سې لکه د ماښام په تعقیب چې د سبا سهر د انتظار د پای ته رسیدو لمحې شمیري. د جنګ په میدان کې د چغو او سورو یو توپان را پورته کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چوسې په میدانوکې دسهارد لمر دراختو پورې دشیرشاه سوری اودمغلو تر منځه سخت جنګ روان و خو د سهار په وختو کې د مغلو ماتې او شکست نښې نښانې را څرګندې شوې وې. همایون په ډیره میړانه ، بهادرۍ او ځان ځارنې سره په دې جنګ کې و جنګید ، خو دهغه دغه میړانې ، بهادرۍ او ځان ځارنې دهغه لښکر د ماتې او تیښتې څخه نه شو راستنولې. په دې جنګ کې د همایون ښې مټ هم زخمي شوې و ، عسکرو دخپل زخمي شاهنشاه په کتلو سره نور هم خپل جرأت له لاسه ورکاوه او تیښتې ته یې بېړې را وهلې .

کله چې د ۱۵۳۹ ز کال د جون په ۲۲مه د چوسه په سیمه باندې لمر خپلې وړانګې را غځولې نو تر دې وخته پورې د شیرشاه سوري لښکر دهمایون لښکرې د پوره ماتې سره مخامخ کړې وې ، اودهمایون لښکرو دخپلو ځانو دخوندی ساتلو په خاطر اخوا د یخوا ځآیو کې پناه اخسته. خو همایون تر دې وخته پورې هم په پوره میړانه او بهادرۍ سره دخپل لښکر دیوې برخې سره دجنګ په میدان کې جنګیده ، خو شیرشاه سوري اوخواص خان هڅه کوله چې هغه کلابند کړي او ژوندی یې ونیسي.

دهمایون د ژوندي نیولو د ویرې دهغه ساتونکو دهغه آس د قیضې څخه ونیوه او دجنګ د میدان څخه یې وویست اود ګنګا ددریاب په لور یې بوت. کله چې همایون و کتل چې دهغه لشکر ډیره بده ماتې وخوړه او لښکر ټول خور اور شوې دې اوپاته یې هم دخپلو ځآنو دخوندي ساتلو په خاطر اخوا دیخوا ځایو ته تښتي اودا چې شیرشاه سوری او خواص خان دهغه د نیولو له پاره په پوره تیزۍ سره دهغه تر شا را روان دي ،نو په همدې وخت کې همایون له ځانه سره یو ستره پریکړه وکړه.

همایون دخپل ځآن دخوندي ساتلو په خاطر خپل آس د ګنګا په دریاب کې و روغورځاوه خو د آس نه د راپریوتو په اساس نژدې و هغه خپل ژوند له لاسه ورکړي او همدلته په دریاب کې ډوب شي ،مګر یوحبشي چې نظام نومیده اوپه دغه وخت کې یې د مشکونو په واسطه ددریاب څخه د تیریدو هڅه کوله ، پر همایون ورپیښ شو او همایون یې د ډوبیدو څخه و ژغوره او د ګنګا هغه بلې لورې ته یې ورساوه.

خو دا د همایون بدقسمتي وه چې د هغه دحرم ټولې ښځې او دپړاو په ټولو سامانو باندې دشیرشاه سوری ولکه کلکه شوې وه ، په تاریخ کې داسې نا څاپي یرغل دومره بریالیتوب نه و تر لاسه کړې لکه دشیرشاه سوری اوخواص خان دې یرغل چې تر لاسه کړ. اوس نو دشیرشاه سوري په ولکه کې دهمایون د شاهي کورنۍ ټولې ښځې او د نورو سالارانو او سترو کورنیو ښځې ټولې د شیرشاه سوری په لاسو کې وې. په دې جنګ کې شیرشاه سوري او خواص خان دواړو د همایون دلښکر په زرګونو وګړي له تیغه تیر کړل ، تر څنګ یې په زرګونو نور دګنګا ددریاب په څپو کې لاهو شول.

شیرشاه سوري دهمایون اودهغه د سالارانو د مستوراتو او کوچنیانو سره چې ددې په ولکې کې راغلي وو ډیر زیات ښه سلوک وکړ. د شهنشاه همایون ملکه ،چې حاجي بیګم نومیده ، اود نورو سردارانو مستورات چې کله د شیرشاه سوري تر مخ را حاضر کړل شول نو شیرشاه سوري دهغوې د عزت اودرنښت په خاطر دخپله آسه را ښکته شو ،هغوې ته یې ډاډ ورکړ او دهر ډول بسپنې کولو ژمنه یې ورسره وکړه ،هغه دخپل لښکر منادي کونکې را وغوښت او ورته یې حکم وکړ چې په ټول لشکر کې اعلان وکړي چې هیڅ لښکری دې د مغلو کومه ښځه او یا کوچني له ځانه سره نه بندي کوي بلکه دوې ټول هلته خیمه ځاې ته را ورسوئ ، مونږ ددوې له پاره همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناسب انتظام کړې دې. دد ې سره سم هغه د خيمه ځاې په لور ولاړ هلته يې دد ې ښځو او کوچنيانو له پاره خاص ځاې جوړ کړ او بيا يې دهمايون د کورنۍ په ګډون د ټولو سالارنو بيبيانې او کوچنيان هملته سره راټول او په ډ ير عزت او درنښت سره ځاې په ځاې کړل.

۴۵

د چوسې جنګ او دشيرشاه سوري په لاسو د همايون دلښکرو ماتې دمغلو په سلطنت باندې ډ ير زيات بد اغيز وکړ، دد ې جنګ اغيز همدومره و لکه د سورج ګړ جنګ چې د بنګال په رياست باندې کړې و. اوس نو دشيرشاه سوري د غوښتنو افق هم ډ ير پراخه شوې و ، که څه هم هغه نژدې دولس مياشتې مخته غوښتل په بنګال کې د مغلو دباج ورکونکي په څير ارام ژوند وکړي خو اوس هغه دخپل برخليک په يوه ټوپ سره دبنګال او بهار د سيمو څخه اخوا د جونپور د مسلمان رياست خپلوا کې حکمران هم ګرځيدلې و. اوس نو هغه د دهلي دشهنشاه سره دهمعصرۍ اوبرابرۍ دعوا کولې شوه ، تر څنګ يې دشيرشاه سورى په څير زړه ور اوښه تدبيرکونکي له پاره دهلي هم ډ ير لرې نه و.

دګنګا په درياب کې د ډوبيدو څخه دخوندي را وتلو وروسته همايون دخپل ماتې خوړلې فوځ څخه لمړۍ د غازي پور او بيا د بنارس او چنار په لور و تښتيد. ځکه چنار تر اوسه هم د همايون د فوځونو په ولکه کې و . همايون دخپل همدې ماتې خوړلي لښکر سره يوځاې د چنار کلا ته ور ننوت. او هلته يې درې ورځې قيام وکړ.

همايون دا انګيرلې وه چې دشيرشاه سوري دلښکرو په لاسو د ماتې وروسته به دشيرشاه سورى دلښکرو حوصلې ډ يرې پورته وي نو په دې خاطر به د چوسې د سوبې وروسته اوس هغوې د چنار کلا باندې د حملې کولو هڅې کوي. ځکه چې چنار دهغه ډ يره خوښيده ، همايون دا انګيرله چې شيرشاه به په هرصورت باندې د چنار کلا په خپله ولکه کې اخلي. هغه دهمدې حالاتو د مطالعې وروسته خپل هغه پاته لښکر هم د چنار کلا څخه را وويست ، اودګنګا په جنوبي غاړو باندې يې قدم کيښود ، هغه د ګنګا په غاړه په سفر کولو سره د ګنګا او جمنا ترمنځ د دې دواړو دريابونو د رايوځاې کيدو ځاې ته راورسيد. خو هغه هلته د رارسيدو سره سم ډ ير حيران شو او په د ې نه پوهيده چې په څه ډول ددرياب څخه تير شي. په دې وخت کې ورسره کيشتۍ هم نه وې او دکشتيو پرته نه پخپله اونه يې لښکر په دې توانيده چې ددرياب دې غاړې ته را واوړي.

هغه وخت چې همايون د ګنګا او جمنا د يو ځاې کيدو په سيمه کې په ډ يره بده ورځ کې پروت و نو په همدې وخت کې د اريل راجه ، بيربهان ، دهمايون دکومک له پاره را وځغاستل ، بيربهان د اريل راجه و ، دا سيمه داله باد سره نښتې ده ، څرنګه چې په تيرو وختو کې همايون دهغه سره ډ ير احسانات کړي و نو په دې خاطر هغه هم ورته د مصيبت په وخت کې را ورسيد. په دې وخت کې دهمايون لښکرې د څلورو پنځوورځو راهيسې په پوره لوږه او تنده کې پرتې وې. راجه هغوې دخبله ځانه سره خبلې سيمې ته يوړل ، هلته يو بازار پرانست اودهمايون اودهغه دلښکرو له پاره يې دخوراک څښاک انتظام وکړ ، ددې نه اخوا يې هغوې ته د اوسيدو ځايونه برابر کړل اودهغوې اسونو او نورو حيواناتو ته يې ګياه او وابښه برابر کړل. په دې توګه د شيرشاه سوري په لاسو د ماتې خوړلو وروسته ، دلږ څه وخت د ارام کولو له پاره همايون د خپل دغه لښکر سره هملته د اريل د راجه بيربهان په ځاې کې پناه واخسته.

۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

همایون او دهغه لښکر ته د چوسې په سیمه کې د شیرشاه سوري لخوا د ماتې ورکولو وروسته ، شیرشاه سوری د هغه د لښکر په ټول پړاو باندې ولکه کړې وه او د هغه ټول وسایل او سامانونه یې په خپله ولکه کې اخستې و او بیا یې هغه ټول په خپل فوځ باندې ویشلي و ، په دې اساس د هغه د فوځ حوصلې چې د همایون د لښکرو د ماتې وروسته لوړې شوې وې د دې مالونو په ویش باندې نورې هم تازه او غښتلې شوې.

د جنګ نه وروسته هغه وخت چې شیرشاه سوری په خپله خیمه کې ځانته ناست و نو د خیمې دروازې ته خواص خان راغې او ودرید او د شیرشاه څخه یې پوښتنه وکړه او ورته یې وویل چې : تاسې زه د کوم کار په خاطر را بللې وم. شیرشاه سوري پر خپل څنګ کې خالي ناست ځاې ته اشاره وکړه او ورته یې وویل چې :

خواص خانه زویه ! را شه او دلته زما تر څنګ کینه. ما ته د څو مهمو کارونو د کولو په خاطر را بللې یې. د هغه په دې خبره خواص خان مخته راغې او د شیرشاه سوري تر څنګ کیناست. هغه وخت چې خواص خان د شیرشاه سوري خیمې ته ورغې نو په همدې وخت کې اوما هم د ګنګا خیمې ته ور ننوتې وه. په دې وخت کې د ګنګا تر څنګ نیرمل هم ناسته وه ، د خپلې خیمې په دروازې کې یې د اوما په کتلو سره شهزادګۍ ګنګا ډیره خوشحاله شوه ، د خپله ځایه راپورته شوه ،او په یوه منډه مخته ورغله او د اوما سره ورغاړې وتله. بیا یې هغه د خیمې منځته راوړه او نیرمل ته یې ور وپیژندله. بیا درې واړه یو د بل تر څنګ کیناستې ، په دې وخت کې اوما په ډیرې اندیښنې سره ګنګا ته وکتل او ورته یې وویل چې : ګوره ګنګا ! هغه وخت چې د برسات په موسم کې هغه زړې ښځې ته را وبللې او بیا ته ټوله شپه رانه غلې او ما په انتظار کې هغه ټوله شپه لکه د اور په سکروټو تیره کړه. که څه هم ما ته ډاډ پیدا شوې و چې ته به د خواص خان په لور ورغلې یې خو کله چې بله ورځ هم را نغلې نو زه د خواص خان حویلۍ ته ورغلم هغلته را ته ساتونکو وویل چې د ګنګا په نوم هیڅ یوه نجلۍ د یخوا نه ده راغلې ، نو دې خبرې زه نوره هم په اور کې ودرولم. خو هیڅ مې هم د لاسه نه کیدل. ما ټول رهتاس په تاپسې ولټوه خو هیڅ درک دې راته معلوم نه شو. په ځواب کې ورته ګنګا بې چاره د زیارت د لنګرځاې څخه د راتښتولکیدو او بیا د مهارت د هستونګنځي پورې د راوستلو او بیا د خواص خان په واسطه د مهارت څخه د خلاصون ټوله قصه په تفصیل سره وویله.

اوما د دې ټولې قصې په اوریدو سره مسکۍ شوه ، بیا یې د خپل فکر په ځرګندولو سره وویل چې : ګنګا ! زه خوشحاله یم چې پر تا باندې په پرلپسې توګه احسان کونکې بل څوک نه بلکه پخپله ستا خواص خان دې. خو اوس راته دا وواېه چې ستا او د خواص خان اړیکې څه ډول دي. ګنګا په خندا ځواب ورکړ او ورته یې وویل چې ګوره اوما ! خواص خان خو ډیر نیک او د ښه خویې خاوند انسان دې ، ډیر مینه ناکه او محبت کونکې شخص دې ، اوس یې ته داسې و انګیره چې هغه له ما سره ډیره زیاته مینه او محبت کوي. اوما ورته وویل چې :

ګوره ګنګا ! زه تا ته ستا په دې بریالیتوبونو مبارکې وایم ، اوس زما په فکر چې ته باید د خپل مخ څخه نقاب لرې کړې او د پوره اصلیت سره د خواص خان مخې ته راشې. او هغه ته دا حقیقت روښانه کړې چې ته ګیتا نه بلکه شهزادګۍ ګنګا یې. د هغې په دې خبره ګنګا اندیښنه وښووله او ورته یې وویل چې:

نه اوما خورې ! هیڅکله هم نه ! داسې نه دې په کار. که زه داسې وکړم نو ویریږم چې خواص خان به دا کار یوه دوکه او فریب و ګڼی ، هغه به دا و انګیرې چې ما د هغه محبت په فریب او چل ول سره خپل کړې دې. یعنې هغه کار چې ما د ګنګا په حیثیت سره و نه شو کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

، هغه مې دګیتا په حیثیت سره تر سره کړ. اوما خورې ! زه غواړم چې دګنګا له پاره هم دخواص خان په زړه کې ځای پیدا کړم. دهغې وروسته به بیا زه خپل نقاب لرې کړم او دخواص خان مخې ته به راشم. بیا به هغه وخت ماته کومه اندیښنه نه وي ، ځکه چې هغه وخت به خواص خان دګنګا او ګیتا دواړو سره یو شان مینه کوي. او زه چې ورته په هره بڼه را مخته شم نو له ما سره به مینه کوي ، اوما ترې وپوښتل چې: خورجانې !دا به څه ډول شوني وي ؟ګنګا ورته په ځواب کې وویل چې:

ګوره اوما خورې ! ما ته دلته دهمدې له پاره را غوښتې یې او تا ته مې دا خبر هم درکاوه چې زه اوس دخواص خان په لشکرو کې خوندي ژوند کوم ، په دې اساس ته زما په اړه کومه اندیښنه او فکر مه کوه. اوما !دګنګا له پاره چې دخواص خان په زړه کې دمحبت د راپیدا کولو له پاره ما کوم پلان تر تیب کړې دې نو دهغې په اړه ما ته دشیرشاه سوري له اړخه پوره ملاتړ تر لاسه دې. بلکه دهغه دکورنۍ غړې هم زما سره په دې پلان کې را ګډ شوې دی او ټول زما ملاتړي او رازداره دي. اوس چې زه درته څه وایم هغه ته په پوره غور اودقت سره واوره. هغه وسله وال عسکر چې ستا درا وستلو له پاره درغلي و هغوی هم ما دشیرشاه سوری دحکم په مطابق در استولي وو. اوس به د لږې دمې وروسته ته دخواص خان په لور ور ځې. اوهغه ته به دا وایې چې ګنګا د لیونتوب تر پولو پورې له تاسره مینه اومحبت کوي، نن سبا هغه په خوارۍ او ذلت کې شپې او ورځې تیروي ، ته به دګنګا په اړه نورې قصې او داستانونه هم له ځانه سره جوړ کړې او ورته به یې ووایې. هغه ته به دا هم ووایې چې اوس خو هغه بیچاره دخلکو د ازار ورسولو نه تنګه شوې اوستا په حویلۍ کې یې پناه اخستې ده. زاړه او شکیدلی کالي یې په ځان دي او .... په اخر کې به ورته دا هم ووایې چې ګنګا سوګند یاد کړې دې چې په ژوند کې به یوا ځې اویوا ځې خواص خان دخپل ژوند ملګري ګرځوي او که نه مړینه او په قبر کې ښخیدل ځانته غوره ګڼي. هو ! ته به دخپله ځانه څخه دګنګا په اړه دخوارۍ ، ذلت ، لوږې ، تندې ، زړو کالیو ... او .. داستانونه جوړ او خواص خان ته به یې واوروې

کله چې ته زما د مظلومیت دغه ډول داستانونه خواص خان ته واوروې نو خواص خان به ګنګا درهتاس څخه دلته را وړولو ته تیار شي ،ګنګا تر دې ځایه خبره کړې وه چې اوما یې خبره ورغوڅه کړه او ورته یې وویل چې:

ګوره ګنګاجانې !کله چې زه خواص خان ته ستا دمظلومیت دا ټولې قصې وکړم او ورته ووایم چې هغه په رهتاس کې اوسیږي او اوس هغه دخلکو د ظلمونو څخه تنګه شوې اوستا حویلۍ کې یې پناه اخستې ده اوبیا خواص خان دې ته تیار شي چې ګنګا د رهتاس څخه راوړي او ما هلته ورولیږي نوبیا به ترې څه جوړ شي ؟دهغې په دې خبره ګنګا وویل چې: تا خو زما خبره وانه وریده ، په اصل کې ما درته همدا خبره کوله چې:

ګوره اوما !کله چې خواص خان دې ته تیار شي چې ګنګا درهتاس څخه دلته را وړي نو هغه ته وایه چې د ګنګا د را وستلو په خاطر به ته هم دخواص خان سره هلته ورځې. دخیمې څخه د راوتلو وروسته به ته سمد ستي دلته زما خوا ته راشې اوما ته به ټوله قصه وکړې ، ما تاته مخته هم ویلي و چې مونږ دا ټول پلان د شیرشاه سوری په ملاتړ پلې کوو. بیا به شیرشاه سوري له ما سره څه ساتونکې ولیږي ، اوهغوی به ما ډیره ژرپه رهتاس کې دخواص خان حویلۍ ته ور ورسوي ، ستا کار به دا وي چې زما د تللو وروسته به ته دخواص خان سره په ډیره ارامه توګه هغه لورې ته راځې. ځکه چې که زه هلته رهتاس ته سهار سهار ورسیږم نو ته او خواص خان هلته ماسپښین یا ماښام را ورسیږئ. په دې لړ کې شیرشاه سوري ددې احتیاط څخه کار اخلي چې ددې ځایه د شیرشاه سوری دحویلۍ له پاره نوي ساتونکې ور استول کیږي اوهغوی ته زما په اړه ځانګړې لارښوونې ورکول شوي دي ، نو که چیرې خواص خان دهغوی څخه زما په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپوښتې نو هغه ته به څه شک او شبه نه پیدا کیږي. ګوره اوما ! اوس خو ته په ټوله خبره ښه وپوهیدې. اوس له ماسره راشه تر څو ساتونکې د رسره کړم هغه به دې د شیرشاه سوری دخیمې په لور بوځي.

څرنګه چې اوما په ټوله خبره ښه پوه شوې وه، په خندا راپورته شوه، ګنګا له ځانه سره د خپلې خیمې دروازې ته راوسته، هلته چې کوم ساتونکې و هغه ته وویل شول چې اوما دخپله ځانه سره دشیرشاه سوري دخیمې په لور بوځي، ساتونکې هم په پټه خوله د اوما سره د شیرشاه سوری دخیمې په لور روان شو، ګنګا دخندا نه شنه، بیرته په خپله خیمه کې د نیرمل په لور را و ګرزیده اودهغې تر څنګ کیناسته.

دبله اړخه کله چې خواص خان د شیرشاه سوري تر څنګ کیناست نو شیرشاه سوري هغه ته مخ کړ او ورته یې وویل چې:

خواص خانه زویه ! ما ته ددوو کارونو له پاره دلته راغوښتې یې. لمړی دا چې ماته زما مخبرانو خبر راکړې دې چې په چوسه کې دماتې خوړلو وروسته همایون اوس د اریل دراجه بیربهان په ځای کې پناه اخستې ده. ویل کیږي چې بیربهان په تیرو وختو کې د همایون د احسانونو د بوج لاندې دې. په هر صورت د اریل راجه بیربهان ته باید همایون ته دپناه د ورکولو په خاطر سخته سزا ورکړل شي، خو ګوره خواص خانه ! ما خپل مخبران خپاره کړي دي تر څو دهمایون د هغه دورونو اودهغه د لښکر په اړه سهي معلومات راټول کړي ،ددې وروسته به بیا زه دهمایون او دهغه د ورونو پر خلاف خپل لښکر متحرک کوم ترڅو په هیڅ ځای کې دهغوی قدم ټینګښت و نه مومي.

خواص خانه ! دا خو یو کار و، بل کار ستا د ذات او شخصیت په اړه دې. دهغه په دې خبره خواص خان یو دم دشیرشاه سوري په لور وکتل او ورته یې وویل چې: زما دذات په اړه به څه کار وي ؟شیرشاه سوری ورته وویل چې: خواص خانه زویه ! ته خو پوهیږې چې لکه څنګه چې زه دخپلو زامنو اولوښو سره مینه او محبت کوم همغسې محبت او مینه له تا سره هم کوم. ګوره زویه ! زه غواړم ستا کور هم اباد شي. او ستا اولادونه او بچیان پیدا شي، خواص خانه ! ما خو د رهتاس شهزادګۍ ګنګا تاته حواله کړې وه، که څه هم ما هغه د یوې وینځې په توګه تاته درکړې وه خو ما غوښتل چې ته به ګنګا دخپل ژوند ریښتوني ملګرې وګرځوې، ځکه چې پخوا تا هغه دخپل ځآن له پاره غوښتله.او هیله دې درلوده چې هغه دخپل ژوند ملګرې کړې، ګوره زویه ! ما خو ګنګا دهمدې آند له مخې تا ته درکړه تر څو دهغې سره د ډاډ اوسکون ژوند تر سره کړې.

ګوره زویه ! ما خو تر اوسه پورې ستا په ذاتیاتو کې هیڅ نه دې ویلي، خو اوس به زه خاموشه نه پاته کیږم. ګنګا دا سې یوه نجلۍ ده چې زه پوهیږم چې ما تر اوسه پورې په خپل ژوند کې داسې ښایسته اوښکلې نجلۍ نه ده کتلې. که چیرې ته هغه دخپل ژوند ملګرې کړې نو زه په ډاډ سره ویلې شم چې تاسې دواړه به ډیر دښه برخلیک خاوندان وګڼل شئ، دهغه په دې خبره خواص خان وویل چې:

زما مشره او اقا شیرشاه سوري ! ستا وینا بلکل سهي ده، خو ته به په دې هم خبر شوې یې چې په تیرو وختو کې ګنګا زما ډیره بې عزتي کړې ده. اودهمغې بې عزتۍ په اساس ما دهغه مینه اومحبت دخپل زړه څخه ویستلې دې. اوس دهغې سره مینه ماته نفرت ښکاري. دهغه په دې خبره شیرشاه سوری وویل چې:

ګوره خواص خانه زویه ! په ژوند کې سړې تودې، ښکته پورته.. هرڅه شته، خو زویه، دداسې کارونو په واسطه هغه څه چې انسان غواړي هغه ته په زړه کې نفرت نه راټوکوي. خواص خان تر یوه وخته پورې خاموشه و اوبیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شايد چي ته به خبر شوې يې چي ما ګيتا دخپل ژوند دملګرتوب له پاره غوره کړې ده ،زه د هغې سره ډيره مينه لرم اوهغه هم له ماسره همدا سې مينه لري. خو هغې د يوه کار دپوره کيدو له پاره سوګند خوړلي دې او تر څو يې چي هغه سوګند نه وي پوره شوې تر هغې دخپل مخ نه نقاب نه لري کوي او نه له ماسره واده کولو ته تياريږي ، زما په آند ،کله چي هم دهغې دا سوګند پوره شي نو هغه به دخپل مخ نه نقاب هم لرې کړي او زما د ژوند ملګرتوب ته به هم غاړه کيږدي. دروند ه شيرشاه !که څه هم ما تر اوسه د ګيتا مخ نه دې کتلې خو زړه مې وايي چي هغه به ډيره ښايسته او نازنينه نجلۍ وي ،په تيروختو کې پر هغې ډير ظلم او تيرې شوې دې او زه غواړم چې دهغې سره واده وکړم تر څو پر هغې دپخوانيو تيريو او ظلمونو ازاله وکړاې شم. دهغه په دې خبره شيرشاه سوري وويل چې:

ګوره زويه !دا خو ډيره ښه خبره ده چي ته ګيتا خوښوې او غواړې چي دهغې دپخوانيو ترخو بدله ورکړې نوبيا ته دګنګا د پخوانيو ترخو اذاله ولې نه کوې. ګوره زويه !دا سهي ده چي په پخوا وختو کې د ګنګا څخه څه تيرې شوې دې خوبيا هغې دخپلو دغو تيريو په اړه ستا څخه ښښنه غوښتې ده ، ما ته خو تر دې ځآيه هم معلومات شته چي هغه دښښنې له پاره ستا پښو کې پريوتې وه ، يعنې په يوه ډول سره يې ستا په محبت او مينه کې ځان ډير خوار او ذليل و ګرځاوه .دا ځکه چي هغې په هر صورت غوښتل تا دخپل ځان کړي ، غوښتل يې په هر صورت چي وي ستا محبت په خپله لمن کې راټول کړی خو ما اوريدلي دی چي تا هغه نوره هم ذليله او سپکه کړې ده اوهغه دې په ټيل وهلو سره دخپلې خيمې نه بيرون را ويستلې ده . زويه !دا ښه خبره نه ده ، زه انديښمن يم چي هغه نجلۍ به اوس ،معلوم نه ده ، چي چيرې به اوپه کومو ځايو کې به د ستونزو نه ډکې شپې او ورځې تيروي . خواص خان غوښتل څه ووايي چي يو ساتونکې را ننوت او ورته يې وويل چي اقا ، اوما نومې يوه نجلۍ غواړي د خواص خان سره ووينې. ددې خبرې د اوريدو سره سم خواص خان دخپله ځايه راپورته شو او ويې ويل چې: شيرشاه سوری ، زما اقا !زه به ددې نجلۍ سره دکتلو وروسته بيرته ستا دربار ته راحاضر شم ، دا اوما هغه نجلۍ ده چي يو وخت هلته په رهتاس کې د شهزادګۍ ګنګا وينځه وه ، دا بيا دګنګا سره يو ځاې زما دحويلۍ څخه ووتله اوبيا را ته څرګنده نه شوه چي دواړه کومې لورې ته تللې وې. زه به دهغې څخه وپوښتم چي نن سبا چيرې او سې او په څه حال کې دي. شيرشاه سوری ورته ووېل چې: نه خواص خانه !ته همدلته په خپل ځاې کينه ،زه به اوما دلته را وغواړم او ترې به معلومه کړم چي هغه او ګنګا ستا دحويلۍ نه دووتلو وروسته چيرې تللې وې او دا چي نن سبا ګنګا په څه حال کې او چيرې ده .

دشيرشاه سورې دوينا سره خواص خان بيرته په خپل ځاې کې کيناست ، بيا شيرشاه سوري هغه راغلي ساتونکې ته مخ کړ او ورته يې وويل چې: د اوما نومې نجلۍ نوم چې تا واخست ،هغه سمد ستې زما خيمې ته را وړه. هغه ساتونکې بيرون ولاړ او د لږځنډ نه وروسته بيرته د اوما سره يو ځاې راغې. شيرشاه سوري اوما ته حکم وکړ تر څو دهغه تر مخه کيني ، اوما چپ چاپ په ډيره کراره توګه مخته ورغله او دشيرشاه سوري تر مخ کيناسته ، خواص خان ورته وکتل اوبيا يې تر ې وپوښتل ، زما خورجانې !ته څنګه يې ، اوما بې چاره ورته د شکونو او شکايت په توګه په ژړغونې اواز سره وويل چې:

خواص خانه !تا خو ماته خور ويلې و ، نوبيا ته څه ډول ورور يې چي دخپلې خور خبر هم نه شې اخستلې. خواص خان ورته مخ کړ چې: ګوره !ګيلې قصې به وروسته کوو ، خو دار ا ته ووايه چي ته او ګنګا چي زما دحويلۍ څخه ووتلئ نو بيا تاسې دواړه چيرې ولاړئ. په ځواب کې ورته اوما د ډير فکر او سوچ وروسته وويل چې: ګوره خواص خانه ! زما اود ګنګا د مظلوميت داستانونه ډير اوږده او دعبرته ډک دي ، هغه وخت چي اقا شيرشاه سوری ګنګا تاته د يوې وينځې په توګه در وسپارله نو هغه وخت زه ډيره خوشحاله وم ، ما فکر کاوه چي اوس به ته ګنګا دخپل ژوند ملګرې و ګرځوې. او زه به هم ستاسې ددواړو تر څنګ دلته اوسيږم او ارام ژوند به ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم. ځکه چې تا ماته خپله خور ویلي و. خو ستا په خاطر زماد ټولو هیلو غوټۍ مړاوې شوې ، تا ګنګا د نظره وغورځوله حال دا چې ددې نه مخته تا ګنګا د خپل ځان له پاره خوښوله او د هغې سره دې ډیره زیاته مینه او محبت کاوه . هغه بیچاره بیا بیا ستا ځاې ته راغله او منت او زاري یې درته وکړې او ښینه یې درنه وغوښتله ، ان تر دې چې ستا پښو ته درو غورزیده ، لاسونه یې درته جوړ کړل ، منتونه یې درته وکړل او د خپلو غلطیو په اړه یې در څخه عفوه و غوښته ، خو تا هر ځل د هغې دغه عذر او زاري په ډیره سپکه توګه مسترد کړه ، په دې اساس هغه ستا د حویلۍ څخه ووتله او زه یې هم د خپله ځانه سره را وویستلم.

ګوره خواص خانه وروره ! ما خو د ګنګا سره د یوې وینځې په څیر د خپل عمر زیاته برخه تیره کړې ده ، د هغه کړچار ، خوې او عادت مې ډیر خوښیږي ، او بیا د خپل مور او پلار د مړینې وروسته خو د هغې ځآنته پرېښول په کار نه و . هغه د خپل ښایست ، او ځوانۍ له اړخه هم د ټولنې د اوباشو ځوانانو له خوا تر تهدید لاندې ده نو په دې خاطر زه هم د هغې سره یو ځاې ولاړم.

خواص خانه وروره ! مونږ ځکه ته په دې مسئله باندې خبر نه کړې چې تا د ګنګا سره نه کومه مینه درلوده او نه کومه همدردي. زه او ګنګا هملته په رهتاس کې ستا د حویلۍ څخه د تللو وروسته د ګنګا د یوه خپلوان کور ته ولاړو .مونږ هلته په یوه ډول پناه واخسته . د ګنګا او زما اراده دا وه چې مونږ به هملته د ژوندانه تر اخري ورځو پورې خپلې شپې سبا کوو . ما ګنګا ته دا هم وویلې چې څرنګه چې هغه ډیره ښکلې ده ، ښایسته نو هر څوک غواړي چې هغه د خپل ژوند ملګرې کړي خو هغې ویل چې هغه سوګند کړې چې هغې په خپل ژوند کې یواځې او یوا ځې د یوه کس سره د زړه له کومې مینه کړې او هغه کس خواص خان دي. نو په دې خاطر اوس هغه د خواص خان نه پرته بل څوک د خپل میړه په بڼه لیدو ته تیاره نه ده . ګوره خواص خانه ! زه به تاته دا هم ډاګیزه کړم چې ګنګا بېچاره ستا په یاد کې او ستا په بیلتون کې ټوله شپه بې خوبه وی او ژاړي. که څه هم ما هغې ته ډیره تسلي او ډاډ ورکړې خو د هغې په حال باندې رحم کول په کار دي. ستا د حویلۍ نه د وتلو وروسته چې مونږ د ګنګا د کوم خپلوا ن کره پناه اخستې وه نو هلته خو مونږ یو څو ورځې په ارامۍ سره تیرې کړې خو د هغې وروسته مونږ د ستونزو او مسکلاتو لاري پرانستل شوې او بدنامیو او بدبختیو یو توپان زمونږ تر مخ را پورته شو ، د هغې په دې خبره خواص خان ترې سمد ستې وپوښتل چې :

ستا او د ګنګا له پاره څه ډول توپانونه را مخته شول ؟ په ځواب کې یې ورته او ما وویلې چې:

خواص خانه وروره ! ګنګا زما سره یو ځاې د خپل دوست په کور کې پناه اخستې وه ، خو هغوې یو ځوان زوې درلود ، کله چې هغه د ګنګا ښایست او ښکلتیا وکتله نو هغه په دوو پښو و درید. حال دا چې هغه ددې نه مخته هم ګنګا د شهزادګۍ په بڼه کې کتلې وه خو به هغه وخت کې هغه د ګنګا په لور د سترګو دپورته کولو جرأت هم نه شو کولې. هغه په دې پوهیده چې که چیرې د شهزادګۍ په لور سترګې پورته کړي نو د سختې سزا سره به مخ شي. خو کله چې ګنګا د یوې بې اسرې ، مجبورې ، او بې کوره پیغلې په څیر د هغوې کره پناه واخسته نو بیا دغه ځوان هم خپل ځان جوړ اوه او په ګنګا کې به یې سترګې ور ټومبلې وې. هغه خپل مور او پلار ته هم ویل چې غواړي ګنګا خپله کړي.

خو خواص خانه وروره ! ګنګا د هغه ځوان مور و پلار ته دا ډاګیزه کړې ده چې د هغې د سویمبر مقابلې تر سره شوي دي او کوم چا چې د هغې د سویمبر مقابلې ګټلې دی اوس هغه د همغه کس سره ډیره زیاته مینه او محبت کوي او د هغه کس نوم خواص خان دي. ګنګا په خپلو خبرو کې دا هم ډاګیزه کړې ده چې د څو نا ببره حالاتو په خاطر هغه د خواص خان څخه لرې او سیږي او که نه هغه د خواص خان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوخواص خان دهغې سره ډېره زياته مينه لري او ډير ژر به هغه دخواص خان سره د واده كولو له پاره دهغه ځاې ته ور ستنه شي. هغې دهمدې ډول خبرو په څرګندولو سره غوښتل دهغوې د لاسو څخه ځان خوندي و ساتي او هم يې دهغوې زوې ته دا څرګندوله تر څو په زور باندې دهغې دخپلولو هڅې و نه كړي. ګنګا بې چاره ستا نوم په دې خاطر اخلي چې هلته د رهتاس په خلكو كې ستا دنامه سره ويره او دهشت خپور شوې دې ، او رهتاس خلک تا د شيرشاه سوری د ستر سالار په څير پيژني نو ګنګا په همدې خاطر چې دخلكو د شرنه يې ځان ساتلې وي ستا نوم بيا بيا استعمالوي، او خلكو ته دا ډاګيزه كوي چې كه چيرې هر څوک په ګنګا باندې زور زياتې وكړی نو د خواص خان دلاسو څخه خوندی نه شي پاته كيدې. دهغه وخته چې ګنګا هغوې ته ستا نوم اخستې نو هغوې بيچاره ګان هم غلي شوې دي ، خو هغه هلک چې د ګنګا سره بې حده مينه او محبت كوي او د ګنګا د ښكلا اوښايست څخه ډير زيات اغيزمن شوې دي په هر صورت غواړي دګنګا نژديكت ځانته پيدا كړي ، هغه دا اراده هم كړې وه چې كه چيرې ګنګا هغه ته په دوديزه توګه ورنكړل شي نوبيا به هغه د ګنګا په بې ابرو او بې عزته كولو هم تم نه شي.

ګوره خواص خانه ! ددې ځوان د ارادو اونيت په كتلو سره ګنګا ډيره انديښمنه شوې ده. په دې اساس مونږ بيا د ګنګا د دې خپلوان دكوره را ووتلو او يوې بلې حويلۍ ته منتقل شوو. ددې حويلۍ او سيدونكې هم دګنګا پخوانې خپلوان دي خو بيا ګنګا ته هلته هم ډيرپاته كيدل په برخه نه شول ، ځكه هغه ځوان خبر شو چې ګنګا دلته پناه اخستې ده نو هغه د خپلو څو كسو اوباشو ملګرو سره يو ځاې دګنګا د تر لاسه كولو له پاره دې حويلۍ ته راغې او ګنګا ته يې هر ډول ګواښونه كول پيل كړل. هغوې ورته وويل چې ګنګا بايد په هر صورت چې كيدې شي ددې ځوان سره دې واده وكړی او كه نه په زوريې ددې ځايه اخلو اويا يې دې دخپلو وژلو انتظار وكړي. مونږدلته په دې حويلۍ كې هم يوڅو شپې په ديرې بې خوندۍ سره تيرې كړې ، ان تر دې چې ګنګا اراده وكړه چې خپل ځان ووژني او په دې ترتيب د ژوند د ستونزو څخه ځان خلاص كړي.

تر دې ځايه دخبرو پورې د اوما اواز نور كيناست. دهغې په ستر ګو كې اوښكې راغلې ، تر لږه وخته پورې يې ځان سنبال كړې و ، دهغې ددې حال په كتلو سره خواص خان هم ډير عمګين شوې و ، دلږ څه خاموشۍ او سكوت نه وروسته اوما يو ځل بيا وويل چې:

زما خواص خانه وروره ! هغه وخت چې شهزادګۍ ګنګا د ځان وژلو اراده وكړه نو ما ورته وويل چې ته به په هيڅ توګه ځان نه وژني.ما هغې ته مشوره وركړه چې ددې ټولو ستونزو اومشكلاتو د حل لاره داده چې زه اوهغه بيرته ولاړې شو او هلته دخواص خان حويلۍ كې و اوسيږو. ځكه چې په دې حويلۍ كې ساتونكې شته ، او بيا مو هلته اوباشان نه شي تنګولې. ګنګا هلته ستا حويلۍ ته د ورتللو له پاره تياره نه وه ، هغې ويل چې څرنګه چې خواص خان له ما سره د زړه له كومې نفرت كوي نو كه چيرې هغه خبر شي چې زه بيرته دهغه حويلۍ ته را ستنه شوې يم نو ما به ډيره بې عزته اوذليله كړي اوبيرته به مې دخپلې حويلۍ څخه را وكاږي. خو ما ورته ضمانت وركړ چې له ما سره ولاړه شه اوهملته اوسه ، اودا چې خواص خان ته به زه ووايم تر څو له تاسره بد سلوک و نه كړي. ګوره خواص خانه وروره ! اوس يې نو كه ته ښه ګڼې اويا بده. ما ستا څخه د اجازې اخستلو پرته ګنګا ستا حويلۍ ته راوستې ده ، زه دهغې سره څو ورځې هملته پاته شوم.او هغې ته مې ډاډ او اطمينان وركړ ، اوس ما هغې ته ويلې دې چې زه ځم او دخواص خان سره وينم تر څو ددې ستونزې له پاره د حل لاره پيدا كړم. خواص خانه وروه ! تا خو ماته خور ويلې دي نو دخور په ښه چې زه تاته كومه خبره كوم هغه په حقيت ولاړه او ستا په خير ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خانه وروره ! د ګنګا په خير ښکلې او ښايسته پيغله به تا ته په بل ځاې کې تر لاسه نه شي . په دې کې شک نه شته چې په پيلامه کې هغې له تا سره ناروا سلوک کړې و خو دهغې په ځواب کې تا هم د هغې سره يو ځل نه بيابيا ناروا سلوک کړې دې او بيا د ټولو ستره خبره دا چې هغه ستا په پښو کې پريوته. هغه د شهزادګۍ په خير ځو ځلې له تا څخه بښنه وغوښتله. زما وروره ! زما هيله داده ، داسې وګڼه چې يوه خور ستا تر مخه لاسونه غوځوي چې ګنګا ته بښنه وکړه ، ځکه چې هغه د زړه له کومې تا دخپل ژوند ملګرې کول غواړي ، هغې اراده کړې ده چې د خواص خان په انتظار کې به د ژوند ټولې شپې سبا کوي ، په دې خاطر ، زما وروره ! زه يو ځل بيا له تا غواړم چې د ګنګا خطاوې وبښې اودهغې سره پخلا شې ، يو وخت داسې و چې تا د زړه له کومې هغه دخپل ځان له پاره غوښتله ،هغه دې خوښوله ، ليکن اوس هغه بيچاره ، در په در ټکرې خوري ، که چيرې ته کله هم دهغې دا حالت ووينې نو زړه به دې پرې وسوځي. دهغې وجود په پيوندي اوشکيدلو کاليو کې را پټ شوې دې. خواص خانه وروه ! ددې نه مخته چې هر چا شهزادګۍ ګنګا د شهزادګۍ په کاليو کې کتلې وه ،نو که چيرې هغوې هغه په اوسني حال کې ووينې نو د اغيز پرته به پاته نه شي. نو په دې اساس يو ځل بيا له تا هيله لرم چې ته دهغې سره خپل خفګان ختم کړه ، په خپله رهتاس ته ولاړ شه او هغه له ځانه سره پخلا کړه او بيا يې له ځانه سره همد لته لښکر ته راوړه اوکه نه ياد ساته چې دهغې بيچاره عزت او ناموس په رهتاس کې خوندي نه پاته کيږي ، دلته له تا سره به په لشکر کې د اوسيدو په وخت کې لږ تر لږه خپل ځان خوندي احساسوي. او بيا هر وخت چې ته وغواړې دخپل ژوند ملګرې يې ګرځولې شې.

اوما تر دې ځايه دخبرو کولو وروسته خاموشه شوه ، خواص خان هم دڅه ويلو پرته په پوره سوچ او فکر کې ډوب ناست و ، په همدې وخت کې شيرشاه سوری په ډير غور سره د خواص خان په لورې وکتل او بيا يې ورته وويل چې :

خواص خان زويه ! هغه څه چې اوما وويل ټول سهي دي. ګوره زويه ! په مينه او محبت کې ښکته پورته خامخا راپيدا کيږي ، که چيرې يو وخت ګنګا له تا سره ناروا سلوک کړې و نو بيا خو هغې بيچارګۍ دبښنې له پاره ستا پښې ونيولې. په دې خاطر زه تا ته د يوه زوې په څير مشوره درکوم چې: هر هغه څه چې اوما درته وويل پر همغې عمل وکړه ، ګوره زويه ! اوس چې ګنګا ستا په خاطر ټول عمر د واده د نه کولو کوم هوډ کړې دې او ستا يادونه يې د سينې سره نيولې او خپلې شپې پرې سبا کوي نو زه پوهيږم ، زويه ، چې که په دې وخت کې ته دهغې سره پخلا نه شې نو دا خو به ستا له لورې ډير تيرې وي. زه غواړم چې ته همدا نن دد ې ځايه درهتاس په لور ولاړ شې او دهغه ځايه ګنګا دخپله ځآنه سره دلته راوړې. ترڅو هغه همدلته په لشکر کې د ښځو په خيمو کې قيام وکړي نو بيا دا تا پورې ده چې څه وخت چې غواړې دهغې سره واده وکړې او خپله دژوند ملګرې يې و ګرځوې او خپلې خيمې ته يې راوړې. اوکله چې د جنګونو دا لړۍ پاې ته ورسيږي نو ته دهغې سره په تل پاتې توګه په يوه ښه محل کې ژوند وکړې ، زويه ، ايا زما په خبرو باندې کومه نيوکه لرې ؟

خواص خان غوښتل په ځواب کې څه وواې چې اوما پرې خوله را خلاصه کړه او ورته يې وويل چې : خواص خانه وروره ! له ما څخه يو خبره چې بايد درته مې کړې وې ، هيره شوې وه ،حال دا چې هغه ډيره با ارزښته خبره ده او هغه دا چې ګنګا اوس اسلام قبول کړې دې او مسلمانه ده. هغه د هندوانو درم پريښې د ې. اوما ددې څرګندونو په اساس خواص خان ټکان شانته وخوړ دا اوما لورې ته يې وکتل او بيا يې په پريکنده توګه وويل چې :

ګوره اوما ! زه ستا خبرې منم او رهتاس ته دتللو له پاره تيار يم او دې ته هم تيار يم چې ګنګا دهغه ځآيه له ځانه سره دلته لښکر ته راوړم خو زه تاسې ته د هر څه د مخه دا خبره کول غواړم چې ما دخپل ځان له پاره يوه بله پيغله انتخاب کړې ده چې ګيتا نوميږي ، هغه به ډيروخت هلته په رهتاس کې زما حويلۍ ته دخير غوښتلو په خاطر را تلله ، ما هغه دهمدې خيرغوښتلو په وخت کې وپيژندله ، اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ما خوښوي او زه يې هم د زړه له کومې خوښوم ،بيا کله چې زه د خپل لښکر سره دی لورې ته راغلم نو دا دهغه بدقسمتي وه چې دمهارت عسکرو هغه د زيارت دلنګرځای څخه راوتښوله او دمهارت هستونګنځي ته يې له ځانه سره راوړه. خويو ځل بيا دا دهغې خوش قسمتي وه چې په همدې ورځو کې ما مهارت په دې هستونګنځې باندې حمله وکړه اوهغه مې دهغوې د لاسو څخه ازاده کړه. اوس دغه ګيتانو مې نجلۍ همدلته په لشکر کې له ما سره اوسيږي اوما هوډ کړي چې هغه به دخپل ژوند ملګرې ګرځوم. خو ګيتا دخپل کوم کار په لړ کې سوګند ياد کړې دې چې تر څو چې هغه کار يې و نه شي نو هغه به زما تر مخه دخپله مخه نقاب نه لرې کوي. ګوره اوما خورې ! ما تر ننه پورې د ګيتا مخ او څيره نه ده کتلې خودهغې جسماني جوړښت وايي چې هغه تازه پيغله اودښه ښکلا اوښايست خاونده ده. خوکه چيرې هغه ښکلتيا و نه لری نوبيا هم ما دهغې سره د واده کولو له پاره هوډ کړې دې.

ګوره اوما ! زه خوبه د ګنګا سره خپل خفګان ختم کړم اودخپل ژوند ملګرې به يې هم وګرځوم ، خو ايا هغه به ما سره دګيتا موجوديت ومني .ګوره اوما !که چيرې ګنګا ، ګيتا زما د ښځې په څير له ما سره ونه مني نو زه تاته دا خبره د همدا اوسه ډاګيزه کوم چې بيا به زه دګنګا سره واده نه کوم. ځکه چې زه ګيتا ته په ګنګا باندې غوره والې ورکوم. دهغه په دې خبره اوما ځواب ورکړ او ورته يې وويل چې :

خواص خانه وروره ! زه تاته ډاډ درکوم چې ګنګا به ستا دغه دويمه ښځه په هرصورت مني ، هغې ته به ستا په دويم واده باندې هيڅ ډول اعتراض نه وي.خو ايا زه دا پوښتلې شم چې که چيرې ګيتا ستا دا کار خوښ نه کړي چې ته دې دګنګا سره هم واده وکړې نوبيا ؟ خواص خان ورته د لږ څه فکر کولو وروسته وويل چې:

ګوره اوما ! زه به په دې لړ کې د ګيتا سره خبرې وکړم او هغه به دې ته تياره کړم چې هغه دې ګنګا هم زما دښځې په توګه له ما سره قبوله کړي ،اوزه هيلمن يم چې ګيتا به زما په دې خبره باندې کومه نيوکه ونه کړي ځکه چې هغه ډير غمځپلې پيغله ده اوزه دهغې څخه همدا سې هيله کوم چې هغه به زما په هيڅ دا ډول اقدام باندې اعتراض و نه کړي.

د خواص خان په دې خبرو باندې شيرشاه سوری او اوما دواړه ډير خوشحاله شول ، بيا ورته شيرشاه سوری وويل چې: خواص خانه زويه !تا په خپله دې خبره زه ډير خوشحاله کړم ، اوس ته ډير ژر څوکسه وسلوال کسان له ځانه سره واخله اورهتاس ته ولاړ شه ،اوما لورې !ته هم غواړې چې دهغه سره يوځاې ولاړه شې؟ اوما په تيزۍ سره ځواب ورکړ او ورته يې وويل چې: هو !اقا ! زه هم غواړم دخواص خان سره ملګرتوب وکړم ، او دګنګا په را خستلو سره به بيرته دې لورې ته راشم او دلته به د ګنګا سره يو ځاې و اوسيږم .دهغې په دې خبره شيرشاه سوري ورته وويل چې: ګوره اوما لوري ، کله چې ته ګنګا له ځانه سره دلته راوړې نو بيا به ستا واده هم دخپل لښکر دکوم سالار سره وکړم ، تر څو ته هم دخپل ژوند باته ورځې په خوشحالۍ سره تيرې کړې . په دې وخت کې اوما نوې موضوع ته مخه کړه او ويې ويل چې:

خواص خانه وروره ! زه مخته د لښکرو دښځو ځاې ته تللې وم ، هلته مې لږه دمه وکړه او ډوډۍ مې هم وخوړه ، ما هلته د ګيتانو مې نجلۍ سره هم وکتل ،هغه هر وخت خپل مخ په نقاب کې پټ ساتي ، ما د هغې سره خبرې هم وکړې ، ما ته خودا سې بريښې چې هغه ډيره دپراخې سينې خاونده او د ښه کرچار مالکه ده . ښايسته هم ده . زه هيلمنه يم چې هغه به ګنګا د خپلې بنې په څير قبوله کړي ، داوما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې خبره خواص خان په حیرانتیا سره دهغې لورې ته وکتل اوترې وېې وپوښتل چې: ایا دهغې سره دې د ګنګا په اړه هم خبرې وکړې ؟ هغې ورته وویل چې زه به د دې ځایه د بیرته ستنیدو په وخت کې دهغې سره دګنګا په اړه تفصیلي خبرې کوم.

هلته په خیمه کې تر یوه وخته پورې چپه چپتیا وه ،خو د لږ ځنډ وروسته خواص خان په خوشحاله طبعه وویل چې: ګوره اوما خورې !د ګیتا سره دتفصیلي خبرو وروسته ،هغې ته وو ایه چې هغه دې زما خیمې ته یوځل راشي ترڅو زه هم ورسره په همدې لړ کې خبرې وکړم. دهغې سره د خبرو وروسته به بیا زه له تاسره یو ځاې د ګنګا درا وستلو په خاطر رهتاس ته ولاړشم ، اوما سمد ستي دخپله ځایه پورته شوه او ویې ویل چې: زه به اوس د لښکر د ښځو تمځاې ته ورشم، هلته به زه د ګیتا سره تفصیلي خبرې وکړم، دهغې وروسته به ،خواص خانه وروره ، زه ګیتا ستا دخیمې په لور درولیږم. دد ې خبرې سره سم اوما دخپله ځایه پورته شوه او د شیرشاه سورې د خیمې څخه بیرون ووتله

داوما د تللو وروسته شیرشاه سوری خواص خان ته مخ کړ او ورته یې وویل چې: خواص خانه زویه !ته اوس خپلې خیمې ته ولاړشه او د رهتاس په لور د خپل کوچ له پاره ځان تیار کړه خو زما دا خبره په یاد ساته چې د رهتاس څخه به ژر بیرته راستنیږې ، ځکه چې مونږ باید دهمایون پر خلاف اخري ځپونکې وار له پاره ځان تیار کړو ، خواص خان دخپله ځایه پورته شو او ویې ویل چې: ته اند یښنه مه کوه ، زه به دګیتا سره دتفصیلي خبرو وروسته ددې ځایه رهتاس ته ځم او بیرته به ډیر ژر خپل لشکر ته راستنیږم. شیرشاه سوری ورته وویل چې: خواص خانه ، رهتاس د تللو تر مخه له ما سره یو ځل ووینه. ځکه زه غواړم د ګنګا له پاره څه شیان ورولیږم. خو ګوره ، اوس چې د ې د ګنګا سره خپله ناخوښې پاې ته رسولې ده او دهغې سره د واده له پاره هم تیار شوې یې ، نو دد ې له مخې ګنګا زما لور ده ، په دې خاطر زه څه شیان ور لیږم چې هغه پرې خوشحاله شي. د شیرشاه سوری په دې خبرو خواص خان هم ډیر خوښ شو ،مسکې شو اوبیا هغه هم دشیرشاه سوری دخیمې څخه بیرون ووت.

اوما د لږڅه درنګ نه وروسته د ګنګا خیمې ته ورغله ، ګنګا دهغې په کتلو سره دخپله ځایه را پورته شوه ،تر څنګ یې نیرمل هم را پورته شوې وه. دا سې څرګندیده چې ګنګا او نیرمل دواړه د ډیره وخته په ډیره ناارامۍ سره د اوما د بیرته ورتللو انتظار کاوه.ګنګا مخته ورغله او اوما یې له لاسه ونیوله ، په خپل څنګ کې یې کینوله اوبیا یې ترې و پوښتل چې: اوما خورې !دخواص خان سره د ې په څه اړه خبرې وکړې که لږڅه احوال راکړې. په ځواب کې ورته ټول هغه څه چې دشیرشاه سوری په خیمه کې تیر شوې په تفصیل سره وویل ، په دې خبرو باندې ګنګا دومره خوشحاله شوه چې هغې لکه د لیونیو په څیر اوما په خپله غیږه کې را ونغاړله. هغه یې په خوله او مخ باندې ښکل کړه اوبیا یې ورته وویل چې اوما خورې !تا خو زما ټولې ستونزې اسانه کړې ، نو که چیرې د ګنګا په بڼه له ما څخه خواص خان خوشحاله شي او را سره پخلا شي اوما دخپل ژوند ملګرې کړي نوبیا به ، اوما خورې ! زه و پوهیږم چې ما په خپل ژوند کې هیڅ هم دلاسه نه دي ورکړي. ما ته به ډاګیزه شي چې زما د ارام او ډاډمن ژوند ورځې په پیلید و دي او زما دهجر ، بیلتون او فراقت شپې او ورځې په ختمید و دي.

د ګنګا د خوشحالیو او بیا دهغې دخبرو دخلاصیدو وروسته اوما دخبرو لړۍ پیل کړه او ویې ویل چې: ګوره ګنګا خورې ! په دې لړ کې پخپله شیرشاه سوری ډیر زیات ښه کړچار تر سره کړې دې ، شیرشاه سوری زما په شتون کې خواص خان ته د ګنګا دومره ستاینه کړې چې زما په آن کې هم نه راتله او خواص خان ته یې وویل چې دګنګا سره خپله ناخوښې پاې ته ورسوي او دهغه دخپل ژوند ملګرې کړي ، دا سې څرګندیږي ، ګنګا خورې !لکه چې ستا او دشیرشاه سوری تر منځه په دې اړه پخوا هم څه پریکنده خبرې شوې وې. دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خبرو باندې ګنګا وويل چې: ګوره اوما خورې ! په دې لړ کې چن نن شيرشاه سوري خواص خان خپلې خيمې ته ورغوښتې و، دا ټوله خبره مونږ مخته پخه کړې وه. هغه ساتونکې چې ته يې له ځانه سره را وړې وې دهغوې د ډلې څخه يې يو کس ته دلته د ښځو تمځاې ته راوستې اوبل يې نيغ ولاړ او شيرشاه سوري ته يې ستا د راتلو خبر ورکړ. نوپه دې اساس شيرشاه سوری هم سمدستې خواص خان خپلې خيمې ته را وباله. اوما خورجانې ! زه خو ستا ډيره ډيره مننه کوم چې دخواص خان تر مخه دې زما دمظلوميت داستان په ډيره ښه توګه بيان کړې دې. دهغې په دې خبره اوما لږ څه انديښمنه غوندې شوه او ورته يې وويل چې:

ګوره ګنګا ! ايا څه شکيدلې اوپيوندي کالې له ځانه سره لرې ؟ ګنګا په زوره زوره وخندل او ورته يې وويل چې: که نه وي هم، نو څه کالي به و شکوو او له ځانه سره به يې يوسو. څه خبره ده، ته څه ويل غواړې؟ اوما ورته وويل چې: ما دخبرو په دوران کې خواص خان ته وويل چې: ګنګا هلته ستا په حويلۍ کې تم شوې ده، خو دومره بې وسې اومظلومه ده چې پخوانۍ پيوندي او شکيدلې کالی يې په ځان کې دی، دهغې په دې خبره ګنګا په خندا شوه او ويې ويل چې: ته انديښنه مه کوه، زه به دداسې کاليو د تر لاسه کولو له پاره هم انتظام وکړم. بيا يې ورته وويل چې: که چيرې همداسې ده، نوبيا خو ورځه اودخواص خيمې ته ولاړه شه.ځکه کله چې زه د شيرشاه سوری دخيمې څخه بيرون را وتلم نو خواص خان راته وويل چې ګيتا دهغه خيمې ته ور وليږم، تر څو هغه له تاسره خبرې اترې وکړې.

ګنګا سمدستې دخپله ځايه پورته شوه اوخپل وجود يې په سپين څادر کې را وپوښه، مخ يې هم په نقاب کې را ونغاړه بيا يې نيرمل ته مخ کړ او ورته يې وويل چې: نيرمل، زما ډيرې ښې مورجانې ! زما دکاليو څخه کومه زړه جوړه وګوره او هغه وشکوه اوبيا ورته پيوندونه ولګوه، خودا کار بايد دخواص خان دخيمې څخه زما دراستنيدو پورې تر سره شوې وي. ددې خبرې سره سم ګنګا دخواص خان دخيمې په لور روان شوه.

په سپين لباس کې را پوښل شوې او په نقاب کې را نغاړل شوې ګنګا چې کله د خواص خان دخيمې دروازې ته روسيده نوپه ډيره نرمه او خوږه ژبه يې خواص خان ته وويل چې: تا زه دلته رابللې يم. خواص خان ورته په خندا کې وويل چې هو ! ګيتا ! ماته دلته رابللې يې. راځه دلته نژدې راشه او زما تر څنګ کينه. ګنګا پرته له ځنډه ورمخته شوه او د خواص خان مخې ته کيناسته. خو پخوا تر دې چې خواص خان په خبرو پيل وکړي ګنګا ورته وويل چې:

لږه شيبه وړاندې لښکرته يوه نجلۍ راغلې وه چې اوما نوميده، هغې هلته دښځو په تمځاې کې ستا په اړه پوښتل، نو په دې خاطر ما ورسره اړيکه ونيوله اوبيا مې خپلې خيمې ته يوړه، هغې ماته دخبرو په دوران کې وويل چې تا هغه دخپلې خور په څير منلې ده. نو په دې خاطر ما هغه له تاسره د کتلو له پاره د يوه ساتونکې په لارښوونه ستا خيمې ته دروا ستوله، زما په آند چې ته هغه وخت په خيمه کې نه وې، او دشيرشاه سوری خيمې ته ورغلې وې. اوبيا هغې هملته له تاسره کتلې دي. کله چې هغه بيرته زما خيمې ته راستنه شوه نو ماته يې پيغام راکړ چې تا له ما سره څه خبره لرې. ددې تر څنګ هغې ماته د رهتاس د شهزادګۍ ګنګا په اړه هم يو لوې داستان بيان کړ. اوس راته ووايه چې ته ماته څه ويل غواړې ؟ په ځواب کې ورته خواص خان د لږ څه فکر او غور وروسته وويل چې:

ګوره ګيتا ! په دې کې هيڅ شک نه شته چې ته زما ډيره زياته خوښيږې، زه له تاسره مينه کوم، اوغواړم تا د خپل راتلونکې ژوند ملګرې کړم. په دې اړه ته څه فکر کوئ؟ دهغه په دې خبره ګنګا ورټوپ کړ اوورته يې وويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې لړ کې خو زما خواب همدا دې چې زه له تاسره مینه لرم ، تا خوښوم او غواړم همته زما د ژوند ملګرې اوسې ، دا چې په دې لړ کې به ستا آند څه ډول وي ، زه نه یم خبره . دګنګا په دې بې باکانه خبرو باندې خواص خان د زړه له کومي وخندل و بیا یې ورته وویل چې :

ګوره ګیتا جانې ! اوما به تاته ویلي وي چې د ګنګا سره زما لیدنه په کومو حالاتو کې شوې وه ، ګیتا یې خبره پرې کړه او ورته یې وویل چې هو ! اوما ماته ټوله خبره په پوره تفصیل سره کړې ده . دا چې په لښکر کې د شاملید و تر مخه تا دګنګا سره مینه کوله خو هغې ناپوهه نجلۍ ته ونه منلې . خو وروسته چې تا دهغې د سویمبر مقابلې وګټلې نو بیا هغې ته دخپلې غلطۍ احساس پیدا شو اود زړه له کومي یې له تاسره مینه پیدا کړه خو تا خو ځله تیرې کړې او هغه دې دخپله ځایه په عزتۍ سره شړلې ده او د مینې په ځای ورڅخه کرکه څرګنده کړې ده . خو اوس هغه ګنګا چې یو وخت شهزادګۍ وه ، اوس په رهتاس کې د ذلت او خوارۍ شپې او ورځې سبا کوي ، زما په خیال چې اوما به له تاسره همدا خبرې کړې وی او له تا څخه به یې غوښتې وي چې ته ګنګا را خپله کړه ، تا غوښتل همدا خبره ماته وکړې که نه ؟ خواص خان ورته په ډیر غور سره وکتل او ورته یې وویل چې : هو ! ما له تاسره همدا ډول خبرې کول غوښتل اوتر څنګ مې یې دا هم ویل چې که چیرې زه ګنګا له تاسره یو ځای خپله ښځه وګرځوم نو ایا ته به په دې لړ کې کوم اعتراض ولرې؟ خو په دې لړ کې زه یو شرط ږدم او هغه دا چې زه به لمړۍ له تاسره واده کوم او بیا به دګنګا سره .

دخواص خان په دې خبرو باندې ګنګا په مصنوعي توګه خپل سر زوړند کړ او تر لږه څنډه پورې په فکر کې ډوبه شوه اوبیا یې وویل چې : ګوره خواص خان ! زما محبوبه ! زه په دې لړ کې د ډیر پراخه زړه اوسینې خاونده یم . زه خو هسې هم ستا ممنونه او مشکوره یم چې تا ماته دلته پناه راکړې ده ، زه خو هغه بې وسه اومجبوره پیغله وم چې دخپل تریخ ژوند هره ګړۍ مې د رهتاس په لنګرځای کې تیروله . دا خو زما بخت و چې دخیر غوښتلو په وخت کې مې له تاسره اشنایي پیدا شوه ، تا له ماسره ډیره نیکه رویه وکړه ، پر ما دې رحم وکړ . خواص خانه ! زه هغه نجلۍ یم چې په خپل ژوند کې مې له تا پرته د بل چا سره مینه او محبت نه دې کړې ، زه په دې ویاړم چې زه دخواص خان په څیر د یوه ځوان ښځه کیږم . تر هغوې چې دګنګا پورې اړه لري نو زما په آند چې ګنګا له ما څخه زیاته ستا دمینې وړتیا لری ، ځکه چې ما خپل ژوند د زیارت په لنګرځای کې دخیر خیرات په غوښتلو تیراوه او په دې ترتیب مې له تاسره اړیکې پیدا شول خو دګنګا معامله بلکل بدله ده . تا دهغې د سویمبر مقابلې ګټلې دي نو په دې خاطر ګنګا زما څخه زیاته حقداره ده . نو په دې خاطر ، خواص خانه ، که ته زما سره یو ځای ګنګا هم دخپل ژوند ملګرې وګرځوې نو په خدای سوګند ، چې ماته به هیڅ ډول خفګان را پیدا نه شي . بلکه زه به ډیره خوشحاله شم او زه به په دې هم ویاړم چې زما د میړه خواص خان یوه ښځه یو وخت د رهتاس شهزادګۍ وه .

دګیتا ددې خبرو په اوریدو سره خواص خان دومره خوشحاله شو چې تر یوه وخته پورې یې اواز دخولې نه راووت .بیا یې خپل ځان کنترول کړ اوویې ویل چې :

په خدای سوګند ګیتا ! چې زما له تاڅخه په دې اړه دهمدا اسې ځواب راکولو هیله وه . ته په رښتیا هم ډیره پراخ زړه او د پراخې سینې خاوند وختلې ، ګیتا واوره ! زه همدا نن دخپلو څو کسو ساتونکو سره یو ځای د رهتاس په لور ورځم ترڅو ګنګا هغه ځایه راوکاږم او دلته یې لشکر ته له ځانه سره راوړم. په دې خبره ورته ګیتا وویل چې : تاسې ضرور ولاړشئ خو زما یوه خبره په یاد لره ، خواص خان ورته سمدستي وویل چې هغه څه ؟ ګنګا ورته وویل چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړۍ دا چې ته به هلته په رهتاس کې اوړود نه پاته کیږې. زه به په ډیره ناارامه توګه ستا د بیرته راستنیدو له پاره انتظار کوم ،بله دا چې ګنګا به دلته د راوستلو نه وروسته په خپله خیمه کې نه ساتې بلکه هلته به یې زما خیمې ته رالیږۍ. تر څو له تاسره د واده کولو نه مخته مونږ دواړه خویندې په خپلو منځو کې په خوې بوې بلدې شو. دهغې په دې خبرو باندې خواص خان په خندا شو او ویې ویل چې : ته په دې اړه اندیښنه مه کوه ، ګوره ګیتا ! زه او ما هم د خپله ځانه سره بوځم ، کله چې ګنګا دلته راوړم نو هغه به دا وما سره یو ځاې نیغه ستا خیمې ته در شي. زه به ګنګا ته هم دا ډاګیزه کړم چې :تر یوه وخته پورې به ته او ګیتا دواړه یو ځاې و اوسیږئ، او کله چې دګیتا د مخ څخه دهغې د سوګند دپوره کیدو وروسته نقاب لرې کړل شي نو تر ټولو لمړۍ به زه دګیتا سره واده کوم اوبیا د ګنګا سره . نور وو ایه ، که څه ویل غواړې ؟ګنګا ورته په ډیره خوشحالۍ سره وویل چې ، اوس نو نور څه ویل نه غواړم. بس ، اوس به زه ستا د تللو نه وروسته ستا د بیرته راستنیدو په انتظار کې ساعتونه او ورځې شمارم.ددې خبرې سره سم ګنګا دخپله ځایه راپورته شوه او ویې ویل چې : ماته اجازه ده چې زه ولاړه شم. خواص خان ورته وویل چې هو ! ګیتا ، ته تللې شې. خو اوما را ته را ولیږه تر څو زه دهغې سره یو ځاې د هتاس په لور د سفر کولو له پاره ځان تیار کړم. ددې خبرې سره سم ګنګا دخواص خان د خیمې څخه ووتله.

شیرشاه سوري په لوړ غږ سره دخپلې خیمې څخه بیرون یو ساتونکې را وباله ، دشیرشاه سوري په غږ باندې دا ساتونکې په منډه خیمې ته راننوت. دهغه په کتلو سره ورته شیرشاه حکم وکړ چې سمدستې ولاړه شه او برهم جیت زما خیمې ته راولیږه. د برهم جیت نه وروسته دښځو تمځاې ته ولاړ شه او دهغه ځاېه ګیتا نومې نجلۍ ماته را ولیږه. شونې ده چې هغه به دا وخت دخواص خان په خیمه کې وي. ځکه خواص خان دهغې سره په یوه ډیره مهمه موضوع باندې خبرې کول غوښتل.اوس ته ولاړ شه ، لمړۍ ورشئ او برهم جیت را ته را ولیږئ ، ددې خبرې سره سم دوه کسه ساتونکې زوړند سرونه دشیرشاه سوري دخیمې څخه بیرون را ووتل.

لږه شیبه وروسته دشیرشاه سوري د فوځ سالار برهم جیت دهغه خیمې ته ورننوت. شیرشاه سوري خپل څنګ ته راوغوښت او په ډیره خوږه لهجه یې ورته وویل چې:

برهم جیته !د جنګ په دوران کې چې کومو لښکرو ستا تر قومندې لاندې کار کاوه ، هغوې همدا اوس له ځانه سره واخله او د همایون په تعقیب پسې ووځه ، او دد ې څارنه وکړه چې همایون د اریل دراجه بیربهان په ځاې کې دپناه اخستو وروسته څه کوي ؟ خو ګوره برهم جیته ، ته به نه د چاسره جنګ کوې او نه به د چاسره په کومه لانجه کې ځان را لتاړوې. کله چې همایون د اریل دراجه بیربهان له ځایه را ووځي اوبلې لورې ته وخوزیږي،نو بیا به ته بیرته دلته راځې او ماته به په دې اړه معلومات راکوې.تر هغه وخت پورې به زه او خواص خان هم د مخکې تګ له پاره تیار شوي یو. خواص خان نن د یوه ډیر مهم کار د تر سره کولو له پاره روان دې او ستا دبیر ته را ستنیدو تر وخته پورې به خواص خان هم بیرته را ستون شوې وي ،د هغې وروسته به بیا زه په پوره ډاډ او اطمینان سره د همایون دلښکرو ترشا ولاړ شم.

زما به آند ، ته به په هغه څه پوه شوې یې چې ما درته وویل ، اوس ته ورشه او دخپل کوچ له پاره ځان تیار کړه. ددې خبرې سره سم برهم جیت د شیرشاه سوري دخیمې څخه بیرون را ووت.

په همدې وخت کې ګنګا هم د شیرشاه سوری دخیمې دروازې ته را ورسیده. هغې سر ټیټ کړې و او ویې ویل چې : اقا ، تاسې زه دلته رابللې یم. دګنګا په کتلو سره شیرشاه سوری دخپله ځایه راپورته شو او ویې ویل چې هو ! ګنګا ! ته ما را بللې یې. را ځه دلته زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښنګ ته راشه ، له ما سره یو ځاې کینه . ګنګا هم مخته ورغله او د شیرشاه سوري مخې ته کیناسته . شیرشاه سوری ورته په ډیره مینه او شفقت سره وویل چې :

ګوره ګنګا ! زما په آند چې ته خواص خان ورغوښتې وې او تا به ورسره خبرې هم کړې وي، ګنګا ورته په خندا کې وویل چې هو ، زه خواص خان ورغوښتې وم او ما ورسره په پوره تفصیل سره ټولې خبرې کړې دي، دهغې د خیمې نه دوتلو وروسته زه خپلې خیمې ته روانه وم چې ستا له لورې خبر راغې تر څو ستا خیمې ته راستنه شم . په هر صورت ما دخپل کوچ له پاره ځان تیار کړې دې. په ځواب کې ورته شیرشاه سوری وویل چې ګوره لورې ! که چیرې تا خپل د تګ او سفر له پاره ځان تیار کړې وي نو د ښځو د تمځاې هغه عسکري ډله چې له تا سره په دې سفر کې هلته کوچ کوي هغوې هم تیار دي ، دد ې خبرې سره سم شیرشاه سوري دخپله ځایه راپورته شو او دخیمې څخه راووت ، ګنګا هم دهغه تر شا راووتله .

شیرشاه سوري او ګنګا دواړه د ښځو دتمځاې په لور راغلل. ګنګا خپلې خیمې ته ورننوتله او خپل ټول سامان یې تیار او له ځانه سره یې واخیست ، دهغې وروسته شیرشاه سوري دهغې سره یوځاې وسلوالو عسکرو ته ورغې . او بیا ګنګا پرته له ځنډه ددې وسلوالو ځوانانو سره یوځاې د رهتاس په لور وخوزیده.

دګنګا د تللو وروسته شیرشاه سوری بیرته خپلې خیمې ته راستون شو. دهغه دراستنیدو سره سم خواص خان او اوما هم دشیرشاه سوري خیمې ته را ننوتل. او هلته دشیرشاه سوري تر څنګ کیناستل . بیا خواص خان د شیرشاه سوري په لور وکتل او ورته یې وویل چې: اقا ! زه درهتاس په لور کوچ کولو ته تیار یم ، اوما هم له ما سره په دې سفر کې ملګرتیا کوي. شیرشاه سوری تر لږه وخته پورې غلې ناست و ، دهمدې وقفې په دوران کې یې خواص خان دسترګو لاندې ښاره. بیا یې د نصیحت په توګه ورته وویل چې :

ګوره خواص خانه زویه ! ددې ځایه د رهتاس په لور د کوچ کولو نه مخته زه تا ته یوه خبره کوم چې: هلته به دګنګا سره تیرې او زیاتې نه کوې. ګوره زویه ! هغه اوس ډیره بې وسې ، او په غمونو کې ډوبه نجلۍ ده . ترڅو به هغه بیچاره دحالاتو د غم په دې بهیر کې لاهو اوسي. ګوره زویه ! هغې ستا د تر لاسه کولو له پاره خپل ځان په اخری ذلت او خوارۍ کې ور غورځولې دې ، نو په دې اساس زویه ، ته به اوس دهغې قدر او درنښت کوې. که چیرې ته د هغې درنښت وکړې نو هغه به ټول عمر ستا په خدمت کې تیروي او هغه به دخپل ځان له پاره ویاړ ګڼي. په ځواب کې ورته خواص خان وخندل او ورته یې وویل چې: ته اندیښنه مه کوه ، زه به هیڅکله هم تا ناهیلې نه کړم. زه به دګنګا سره د پخوا په څیر سلوک و نه کړم که چیرې هغې زما په خاطر دومره ستونزې ګاللې دی نو ز ه به دهغې ددې ځان ځاریو درنښت کوم ، اوس ما ته اجازه راکړئ چې د اوما سره یوځاې دهتاس په لور وخوزیږم

شیرشاه سوري ورته وویل چې: ما ستا د راتلو نه څو لحظې مخته برهم جیت د خپل لشکر سره یو ځاې ولیږه تر څو دهمایون او دهغه دلښکر ښارنه وکړې ، ما هغه ته دا هم ویلې دی چې هر کله چې همایون د اریل د راجه بیربهان دځایه بلې کومې لورې ته کوچ وکړي نو سمدستی دې راشي او ما ته دې په دې اړه معلومات راکړي ، زه هیلمن یم چې تر هغې وخته پورې به تا هم د ګنګا معامله یوې لورې ته کړې وي او بیرته به درهتاس څخه راستون شوې یې. دهغې وروسته به مونږ د متحده لښکر سره یوځاې ددې ځایه کوچ وکړو . او دهمایون په تعقیب پسې به ولاړ شو .خواص خان ورته په ځواب کې وویل چې : ته اندیښنه مه کوه زه هلته په رهتاس کې ډیر نه ځنډیږم ، هره وخت چې زه هلته ورسیږم نو ګنګا له ځانه سره را خلم او سمدستې بیرته دې لورې ته راستنیږم . اوس اجازه راکړئ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ځايه کوچ وکړم . شيرشاه سوري دخپله ځايه راپورته شو دخواص خان اواوما سره يو ځاې دخپلې خيمې څخه بيرون راووت ، دخيمې نه بيرون هغه وسلوالهډله چې خواص خان او اوما يې تر رهتاسه پورې بدرګه کوله تياره ولاړه وه . بيا خواص خان او اوما دواړه دهمدې عسکرې قشلې سره يوځاې درهتاس په لور روان شول .

۴۷

يوه ورځ خواص خان د اوما او د خپلو ساتونکو سره يوځاې د رهتاس په ښار کې خپلې حويلۍ ته ور ننوت . کله چې هغه دحويلۍ مرکزي دروازې ته ور ننوت نو دهغه ځاې ساتونکو د هغه ښه راغلاست وکړ او ور منډه يې کړه او د خواص خان دآس واګې يې په لاسو کې واخستې . خواص خان هم دخپله آسه راکيوت ، اوما هم د آسه راکيوته . خواص خان ددروازې ساتونکو ته وويل چې دواړه آسونه تبيلې ته يوسې او هغوې ته خوراک ښه ښاک ورکړي ،ددې وروسته خواص خان دخپلو ساتونکو ملګرو په لور وکتل او ورته يې وويل چې :

تاسې ټول هم خپل آسونه هلته په تبيلې کې و تړئ . هغوې ته ښه خوراک ښباک برابر کړئ اوپريږدئ چې ښه دمه شي ،ځکه کيدې شي چې همدا نن مونږ د لښکر په لور بيرته ستانه شو . دخواص خان ددې لارښوونو په اساس هغوې ټولو خپل آسونه د تبيلې په لور يوړل . دهغوې د تللو وروسته خواص خان د اوما په لور وکتل او ورته يې وويل چې :

اوما خورې ! اوس نو ما د ګنګا ځاې ته ورسوه ، ورځه چې زه ووينم چې هغه ځانته دلته په حويلۍ کې څه مصروفيت لري . اوما چپ چاپ دحويلۍ ددننه برخې په لور ورغله او خواص خان يې هم ترشا شا روان و . څرنګه چې د حويلۍ په پخلنځاې کې د خيرنو او ناولو لوښو يو امبار لګيدلي و نو اوما تر هر څه لمړۍ خواص خان پخلنځاې ته يوړ ، کله چې هغه پخلنځاې ته ورغې نو خواص خان حيران پاته شو . هغه وکتل چې ګنګا بيچاره چې زاړه او شکيدلي کالي يې په غاړه کې و او په کاليو کې يې څو څو پيوندونه لګيدلي و او هلته په پخلنځاې کې ناسته وه او ناولي لوښي يې پريمنځل . څرنګه يې چې خواص خان هلته راتلونکې وکوت ، ټوپ يې کړ اودخپله ځايه راپورته شوه او دخټو هغه لوښي چې هغې د پريمنځلو له پاره په خپلو لاسو کې نيولي و هغه ترې لاندې پريوت او څو ټوټې شو . خواص خان تر يوه وخته پورې په ډير غور سره ګنګا ته کتل ،په دې وخت کې د ګنګا بيچاره حالت ډير ماښيجن ګرزيدلې و . تر لږه وخته پورې پوره خاموشي خپره شوه ، اوبيا ګنګا خواص خان ته مخ کړ او ورته يې وويلې چې :

زما محترمه ، خواص خانه ! زه ستا د اجازې پرته دلته ستا په حويلۍ کې د قيام کولو په خاطر مجرمه يم . خو دا کار ما د اوما د وينا په مطابق ترسره کړې دې . زه له تانه هيله لرم چې ما به ددې ټولو خلکو په مخکې بې عزته نه کړې اوبيا به مې ددې ځايه و نه شړې . ما يو څو ورځې همدلته پريږده . ترڅو زه دهغو ځناورو څخه يوڅو شپې دلته ارامې تيرې کړم ،خو که چيرې ته ما له دې ځايه ويستل غواړې نو بيا خو يو څو ورځې مهلت راکړه ترڅو زه دلته په رهتاس کې دخپل ځان له پاره د هستوګنې بل کوم امن ځاې پيدا کړم .

زما دروندہ خواص خانه ! دلته په رهتاس کې د اوسيدو په وخت کې زما حالت دهغو لمدو شوو مرغيو په څير شوې دې چې د الوت څخه وتلي دي ، ددې رهتاس دخير وشر هر کس زما له پاره يو څيرونکې حيوان ګرزيدلې دې، هر څوک ماد خپل انګړ د سروزرو غوا ګڼي او غواړې ما دخپلې ابرو اوعزت څخه بې برخې کړي. اوس خو زما حال د هغه وچ شاخ د زيړو پاڼو په څير دې چې هر وخت دتباهۍ کندې ته د لويدو په لور روانې وي . خواص خانه ! يو وخت زه په دې رهتاس کې شهزادګۍ وم. او هيچاته هم زما په لور د بد نظر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کیدو جرءت نه و ور په برخه. خو اوس ما ډیر در په دره ژوند تر سره کړ، هر څوک زما په لور په ډیره بې عزتۍ سره وینې، هر څوک ددې هڅه کوي چې له ځانه سره مې پورته کړې او په څو لمحو کې مې بې ابرو کړي، په دې خاطر زه له تاغواړم چې دیو څو ورځو له پاره ما دلته په دې حویلۍ کې پرېږدې چې واوسېږم نو شونې ده چې زه به په دې وختو کې د ځان له پاره بل کوم مناسب د اوسیدو ځای پیدا کړم.

دګنګا د حالت په کتلو سره خواص خان لا دمخه د ډیر زیات اغیز لاندې راغلې و، خو اوس چې ګنګا کومې خبرې وکړې نو هغې خبرو خواص خان بلکل بې حاله کړ.دهغه په تندي باندې د خولو څاڅکي راپیدا شول، تر لږه وخته پورې هغه خاموشه ولاړ و. بیا یې د ګنګا په لور وکتل او ورته یې وویل چې: ګوره ګنګا ! ته اندېښنه مه کوه. ته چې تر څو وغواړې په همدې حویلۍ کې ژوند کولې شې. داسې یې وګڼه چې اوس دا حویلۍ همستا ده. خو ګوره ګنګا ! که چیرې زه تا له دې ځایه و کاږم اولښکر ته دې د ځانه سره یوسم نو ستا ځواب به څه وي؟ که چیرې زه پخوانۍ ترخې خاطرې هیرې کړم او د نفرتونو مرۍ ورماته کړم نو ستا عکس العمل به څه وي؟

ګنګا چې ددې مخته ډیره اندېښمنه او عمژنه ولاړه وه د خواص خان په دې خبرو باندې داسې را وغوړیده لکه دشبنم څاڅکې چې د ګل په شونډو باندې ور پریوځي. هغه دومره په خوشحالیو کې ډوبه شوه چې تر ډیره ځنډه یې خواص خان سره خبرې نه شوې کولې. بیا یې په لړزیدلې اواز سره وویل چې:

خواص خانه، زما محترما ! زما په خپلو غوږونو باندې باور نه شته چې زه څه اورم. ایا زما په اوریدو کې څه ستونزه راپیدا شوې ده اویا په ریښتیانۍ توګه تا داخبرې وکړې چې ما واوریدې. دګنګا په دې انداز باندې خواص خان مسکې ولاړ و اوبیا یې وویل چې:

ګوره ګنګا ! ستا د اوریدو په سیستم کې کومه غلطي نه ده راپیدا شوې، زه د اوما تر مخه تاته دا ډاګیزه کوم چې زه له تا څخه کرکه نه کوم، او زه تاته دا هم ویل غواړم چې زه د اوما سره یو ځای دلته ستا له ځانه سره د بوتلو په خاطر راغلې یم. ایا ته ما سره هلته په لښکر کې اوسیدې شې؟ هلته زمونږ په لښکر کې دښځو یو تمځای دې، ته به هلته دیوې بلې نجلۍ سره یو ځای اوسیږې. په دې وخت کې به زما او ستا تر منځ ټولې ترخې خاطرې له منځه ولاړې شي. اوبیا به ګنګا ته همزما یې. ته به زما د ژوندانه ملګرې یې. د خواص خان په دې خبرو باندې د ګنګا په مخ باندې ډیره زیاته خوشحالي راپید ا شوه، دهغې دشونډو څخه دهغې د موتیو په څیر سپین غاښونه د ورایه را څرګند شوي و، هغې په وا زه خوله خندا وویل چې: خواص خانه ! له ما سره داسې ټکې نه شته چې زه یې ستا ددې پریکړې له پاره د شکریې په توګه ادا کړم. خو داسې یې وګڼه چې تا زه د ټول عمر له پاره د یوې وینځې په څیر دخپل خدمت له پاره واخستم. ته پوهیږې چې ستا دې خبرو زما د ټول عمر غمونه او ستونزې په یوه وار له منځه یوړې. زه په ډیره خوشحالۍ سره له تا سره تللو ته تیاره یم. او زه په خوشحالۍ سره هلته د لښکرو د ښځو په تمځای کې قیام کولو ته تیاره یم. او دا چې ته ما دخپل ژوند ملګرې کوې نو زه به و ګڼم چې ما په خپل ژوند کې هیڅ هم له لاسه نه دې ورکړي. او داسې به وګڼم چې زما منزل چې زما د سترګو څخه غیب شوې و ماته بیرته تر لاسه شو.

ګنګا چپ شوه نو خواص خان ورته وویل چې: خو ګوره ګنګا ! ستا سره د ناخوښۍ په وخت کې ما د یوې بلې نجلۍ سره مینه پیل کړې ده ،هغه بیچاره کونډه او ډیره بې وسه ده. دا سې وګڼه چې ماته لمړۍ دهغې سره همدردي پیدا شوه خو وروسته مې ورسره مینه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپیدا شوه ،هغه یووخت دلته د رهتاس دښار د زیارت په لنګرځای کې اوسیده ، ددې نه وروسته خواص خان ګنګا ته دګیتا په اړه ټول معلومات ورکړل ،اوپه اخر کې یې ګنګا ته دوینا په حال کې وویل چې :

ګوره ګنګا ! که له تاسره یو ځاې زه ګیتا هم دخپل ژوند ملګرې کړم نوتاته خو به کوم اعتراض نه وي . په ځواب کې ورته ګنګا سمدستي وویل چې: خواص خانه ، زما محترما ! په کومو حالاتو کې چې ته اوګیتا یوبل ته سره را نژدې شوي یاست اوتا هغه په خپله مینه باندې لمانځلې ده ،نو زه پوهیږم چې ګیتا به په ریښتیانی. توګه ستا دمینې وړ وي ، زه به په هیڅ صورت کې په دې خبره باندې اعتراض ونه کړم چې ته هغه هم دخپل ژوند ملګرې کړې. که چیرې زما سره یو ځاې ته ګیتا هم دخپل ژوند ملګرې کړې نوزه تاته ډاډ درکوم چې ستا داپریکړه به ماته دخوشحالی. سبب وګرځي. په دې توګه به زه او ګتیا دواړه یوځاې په ښه توګه ستا خدمت وکولاې شو. زه به دګیتا سره ستا په واده باندې ډاډمنه اوخوشحاله اوسم. دګنګا په دې ځواب باندې خواص خان ډیر زیات خوشحاله شو اوبیا یې ګنګا ته وویلې چې :

ګنګا ! ستا دې ځواب خو زما په خوشحالیو کې نور هم ډیرښت راوست اوس نو ته هم ځان تیار کړه . خواص خان د اوما په لور وکتل او ورته یې وویل چې خورې ! ته همدلته اوسه ، زه به دهغو ساتونکو په لورورشم ځکه شیرشاه سوری د دغو ساتونکو په لاسو ګنګا ته څه شیان را لیږلي دي،هغه په یوې ټوکرۍ کې ایښي و ،کیدې شي چې په هغې کې د ګنګا له پاره داغوستن کالي وې ، زه به ورشم او هغه به له ځانه سره راوړم. ددې خبرې سره سم خواص خان دهغه ځایه راووت.

بیا نورډیر په پټه توګه اوما د ګنګا په غوږو کې وویل چې: ګنګا خورې ! څومره په مهارت سره دې خواص خان خپلې لورې ته رامات کړ. زما خورجانې ! زه تا ته مبارکي وایم ،ځکه چې ته به اوس د ګیتا ترڅنګ د ګنګا په ښه کې هم دخواص خان دمحبت مرکز یې. ګوره ګنګا ! هومره ستونزې چې تا تیرې کړې دی ، نو اوس به دهغې نه زیات راحتونه او اسانتیاوې ستا ترمخ نڅا کوي،اوس نو ستا منزل ستا په موټی کې دې.

ګنګا او اوما په خپلو منځو کې په خبرو کې وې چې خواص خان بیرته راستون شو ، دهغه په لاسو کې یوه ټوکرۍ وه ، هغه یې ګنګا ته ورکړه اوورته یې وویل چې :

ګنګا ! په دې ټوکرۍ کې څه داغوستن کالي دي چې شیرشاه سوری تاته رالیږلي دي ،ګنګا ! ته خپل داشکیدلې اوپیوندي کالی لرې کړه اوددې ټوکرۍ څخه کومه جوړه ښه اوښایسته کالي را واخله او وای غونده. او دا راته هم ووایه چې لږه شیبه وروسته ته زمونږ سره د لښکر په لور د تګ له پاره تیاریدې شې. ګنګا ورته سمدستي وویل چې :

لږه شیبه نه ، بلکه زه خو همدا اوس اوهمدا ګړۍ له تاسی سره دنړۍ تر اخری کنج پورې هم تللو ته تیاره یم. دهغې په ځواب کې خواص خان ورته وویل چې:ګوره ګنګا ! ددې ځایه دتللو وروسته به هلته په لشکر کې ته د لښکر دښځو په تمځای کې د ګیتا او نیرمل نومې زړې ښځې سره اوسیږې.اوما به هم له تاسره هملته اوسیږي، په دې توګه به تاسې څلور واړه په یوې خیمې کې اوسئ. ګیتا د خپل یوه کار په لړ کې خپل مخ په نقاب کې پټ کړې دې ،خو کله چې دهغه کار ترسره شي اودهغه سوګند پوره شي نو دهغه به دخپله مخه دغه نقاب لرې کوي نوبیا به همغه وخت زه تا او ګیتا دواړه دخپل ژوند په ملګرتوب کې راوړم، ګنګا ! ژر خپل کالي بدل کړه او نوې لباس واغونده اوزما مخې ته راشه. ګنګا د کالیو هغه ټوکرۍ راواخسته اودیوې بلې خونې په لور ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږه شیبه وروسته ګنګا هغه زوړ لباس وویست او نوې د زرق وبرق لباس یې واغوست او بیرون را ووتله. خواص خان یې په کتلو ویلی ویلې شو. اوس نو په ریښتیا سره هغه د رهتاس شهزادګۍ وه ، دهغې په کتلو باندې خواص خان د ویاړ اوفخر احساس کاوه ، ورته یې وویل چې: ګنګا ! ته لږ څه همدلته ارام وکړه ، وروسته به بیا ددې ځایه کوچ وکړو . په دې خبره ترې ګنګا وپوښتل چې ته نو چیرې ځې ؟ خواص خان ورته وویل چې زه به دخپل ساتونکو په لور ولاړشم. تاسې دواړه خویندې یوځاې په کومې خونه کې ارام وکړئ، دهغه په دې خبره ګنګا وویل چې ایا داسې شوني نه ده چې : زه ، ته او اوما درې واړه په یوې خونه کې کینو او خپل منځې خبرې وکړو. اوبیا ددې ځایه کوچ وکړو . خواص خان ورته په خوشحالۍ سره وویل چې که چیرې ته همداسې غواړې نو دا خو به ماته د نورې خوشحالۍ سبب وګرځي ،دهغه په دې خبره ګنګا د لږ څه بې باکۍ څرګندونه وکړه ،هغه ور مخته شوه او دخواص خان لاس یې په خپل نازکه لاس کې ونیو ،بیا یې خواص خان او اوما له ځانه سره یوځاې خونې ته یوړل.

تر لږه وخته پورې درې واړه په یوه خونه کې سره ناست و اودمینې اومحبت نه ډکې خبرې یې کولې ، اوبیا خواص خان له ځانه سره ګنګا او اوما دواړه را واخستې او دخپلو ساتونکو سره یوځاې درهتاس څخه دخپل لښکر په لور را وګوچید.

دخواص خان بیرته لښکر ته د رارسیدو څو ورځې وروسته ، برهم جیت هم د خپلو لښکرو سره دلښکرو تمځاې ته را ستون شوې و . هغه شیرشاه سوری ته خبر ورکړ چې همایون دخپل پاته لښکر سره یو ځاې داریل دراجه بیربهان په ځاې کې د څو ورځو د تیرولو وروسته داګرې په لور خوزیدلې دې . ددې خبر د اوریدو سره سم شیرشاه سوری خپل لښکر متحرک کړ او د همایون تر شا ور وخوزید. همایون هم د اریل دراجه بیربهان دځاې څخه د وتلو وروسته دخپل پاته لشکر سره یو ځاې د ګنګا د دریاب په غاړه غاړه د کالسي په لور روان و. هغه تر اوسه پورې دا سیمه خپله ګنله. خوشیرشاه سوری په ډیره بیړه او تیزۍ سره دهغه تر شا ور خوشې شوې و.

دخپلې کورنۍ څخه بې برخې او حالاتو اوشرایطو وهلې همایون دخپل لښکر سره یوځاې نژدې دوه اونۍ دشیرشاه سورې مخکې په تیلو تیلو روان و. شیرشاه سوري همایون ان تر اله باده پورې تعقیب کړ ،بیا شیرشاه سوري دا وانګیرله چې اوس نو همایون دهغه له پاره خطرناک نه دې. نوپه دې خاطر یې دهغه د تعقیبولو څخه لاس واخست ، دشیرشاه سوري ددې پریکړې په اساس همایون دډاډ او اطمینان ساه واخسته. اوداګرې په لور یې مخه کړه او دوه اونۍ وروسته اګرې ته ورسید.

دلته د شاهي کورنۍ دښځو سړو اوسیلیو ، او تودو ژړاګانو دهغه ښه راغلاست وکړ. په دغسې ناڅاپی راتګ سره دهغه دورونو خوبونه له منځه ولاړل. ځکه دهغه ورونو دا انګیرله چې همایون به دشیرشاه سوری په مقابل کې مات شي او همایون به له منځه ولاړ شي نو دوې به دهندوستان پادشاهان وګرځي . خو کله چې همایون سهی اوسلامت اګرې ته ورسید نو دهغوې ټول خوبونه بې تعبیره شول ، خو ددې سره سره یې یو ځل بیا دهمایون دخوشحالولو په خاطر دهغه غوړه مالي پیل کړه .

دپرلپسې ذهني ستونزو ، جسمې ورانو ویجاړو ،او دخپل حرم د ښځو څخه بیلتون اودهغه یادولو دهمایون په روغتیا یې حالت باندې ډیر منفي اغیز وکړ، ددې حتمې پایلې داشوې چې همایون په پرلپسې توګه په تبګۍ باندې اخته شو ، خو دبله اړخه شیرشاه سوری دهغه د تعاقب څخه لاس واخست او خپله ټوله توجه یې د بنګال په لور ور وګرځوله.

۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اله اباده پورې دهمايون د تعقيب اودهغې وروسته د تعقيب دپرېښولو په خاطر شيرشاه سورى دهمايون په اړه يو ډول بې غمه شوې معلوميده ، په دې خاطر يې دهمايون پر خلاف داخري ګذار دکولو د مخه يې دبنګال دحالاتو په لور توجه وکړه . هغه دا انګيرله چې ځرنګه چې دبهارولايت د پخوا ځخه د هغه په ولکه کې دې نو اوس به بنګال هم په مکمله توګه په خپله ولکه کې راوړي. هغه غوښتل په دې دواړو ولايتونو کې دخپل ځان له پاره دحالاتو د جوړولو وروسته ، دبنګال ځخه رابيرون شي او پر همايون يوځيلې ګذار وکړي.خو په دې وخت کې په بنګال باندې ولکه کول ځه اسانه کار نه و. ځکه هلته په بنګال کې دهمايون له اړخه يو ډير پوه ،مدبر او ميړنې سالار حاکم ټاکل شوې و . هغه جهانګير قلي خان نوميده. بيا د بنګال او بهار په پولو د مونګير نومې کلاکې او هم د هغه ځاې ښارکې د همايون اعلې سالار خان خانان حاکم و ، دهغه اصلي نوم دلاورخان و چې ديوه ستر لښکر سره يوځاې هلته د مونګير په کلا کې ځاې په ځاې شوې و . هغه وخت چې همايون د بنګال ځخه د اګرې په لور حرکت وکړ، نو هغه دخپل لښکر يوه ډيره ستره برخه د خان خانان يعنې دلاورخان په واک کې ورکړه. اوهغه ته يې حکم کړې و چې هلته مونګير ته ولاړشي اوهملته دې قيام وکړي.تر څو د بنګال ځخه د اګرې په لور د تللو په وخت کې که شيرشاه سورى پرې کوم يرغل وکړي نو دلاورخان خان خانان دې دهغه مقابلې ته راودانګي . خو د اګرې په لور د تللو په وخت کې همايون د مونګير لاره بدله کړه او د يوې بلې لارې دګنګا درياب ځخه پوريوت، په داسې حال کې چې دخپلې لارې دبدلون په اړه يې خان خانان ته هيڅ ډول خبر نه و ورکړې نو په دې خاطر دلاورخان تر دې وخته پورې هملته د مونګير په کلا کې دخپل لښکر سره يو ځاې پړاو کړې و .

شيرشاه سورى د بنګال د نيولو له پاره بايد ددوو ځواکونو سره ټکر کړې وې ، لمړى دلاورخان خان خانان چې هملته په مونګير کې دخپل يو ستر لښکر سره ځاې په ځاې شوې و او دبل د بنګال حاکم جهانګير قلي خان اودهغه د لښکرسره . په داسې حال کې چې د جهانګير قلي خان ميړانه او بهادرى مغلو او افغانانو ټولو ته ډاګيزه شوې وه .

ددې حالاتو سره د مقابلې له پاره شيرشاه سورى خپل لښکر په درې برخو وويشه ، يوه برخه يې په خپله دخپل ځآن سره وساتله او هملته د ګنګا د درياب په غاړه يې پړاو وکړ . بله برخه يې خپل سالار خواص خان ته ورکړه اوهغه ته يې حکم وکړ چې هغه دې دمونګير د مضوبطې کلا په لور ورشي . اوهلته دې په خان خانان باندې يرغل وکړي . هغه ته دې ماتې ورکړي او د مونګير کلا دې په خپل واک کې واخلي . مونګير هغه کلا وه چې يو ځل مخته پرې هم خواص خان حمله کړې وه اوپه خپله ولکه کې يې اخستې وه . شيرشاه سورى د لښکر دريمه برخه خپل بل سالار حاجې خان بټني او جلال خان جالو ته ورکړه اوهغوې دواړو ته يې حکم وکړ چې هغوې دې بنګال ته ورشي اوهلته دې په جهانګير قلي خان باندې حمله وکړي . اوبنګال دې ترې ولکه کړي . خو شيرشاه سورى همدلته دګنګا د درياب په غاړه قيام وکړ ، هغه غوښتل چې که په دې وختو کې دهمايون له ا ړخه کوم حرکت ووينې نو هغه و ځپوي ، خو د لښکر نورې برخې دخپلو خپلو دندو د اجرا کولو په خاطر هغو لورو ته روانې شوې.

خواص خان د خپلې برخې دلښکر سره يو ځاې په ډيره چټکۍ سره دمونګير دکلا اوښار په لور وروان و. دخواص خان ددې وړاندې تګ په اړه د مونګير حکمرانان خان خانان دلاورخان ته هم خبر ورکړل شوې و . هغه ته دا خبر هم رسيدلې و چې د چوسې په سيمه کې شيرشاه سورى همايون ته ډيره سپکه ماتې ورکړې اوهمايون ددې ماتې خوړلووروسته د اګرې په لور تللې دې. ددې نه علاوه خان خانان ته دهغه مخبرانو دا خبر هم ورکړې و چې خواص خان د لښکر ديوې برخې سره دهغه په لور وروان دې. ددې ترځنګ دشيرشاه دلښکر بله برخه د حاجې خان بټني او جلال خان جالو په مشرۍ د بنګال د حکمران جهانګير قلي خان د ځپلو له پاره هغه لورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلي دي. ددې حالاتو په رڼا کې خان خانان د مونګير په کلا کې د کلابند کيدو په ځاې په خلاص ميدان کې د خواص خان سره د مقابلې ټېرو واهه. هغه دا وانګيرله چې که چيرې په خلاص ميدان کې دخواص په لاسو دماتې سره مخ شو نو په جنګ جنګ کې به داګرې په لور ولاړ شي اوهمايون ته به ځان ور ورسوی. خو که چيرې په دې ميدانو کې يې خواص خان ته ماتې ورکړه نو بيا به داګرې په ځاې دګوډ په لور ورځي اوهلته به د جهانګير قلي خان په ملاتړ دشيرشاه سوری د سالارانو حاجي خان بټني او جلال خان جالو مقابلې ته وردانګي. خان خانان دهمدې فکرونو په اساس د مونګير د مضوطی اومستحکمې کلا څخه را ووت اودکلا دغرنيو لمنو په ميدانوکې يې دخپل لښکر سره پړاو وکړ. ځکه په هغه لاره چې خواص خان دخپل لښکر سره سفر کاوه هغه لاره دهمدې غرنيو سيمو دلمنو څخه تيريدله چيرې چې خان خانان د خپل ستر لښکر سره يو ځاې پړاو کړې و.

کله چې خواص خان دخپل لښکر سره يوځاې په ډيره چټکۍ سره مخته راغې او دغو سيمو ته را ورسيد نو ويې کتل چې خان خانان دلاور خان دخپل لښکر سره يوځاې دخواص خان لاره نيولې ده ،په دې اساس خواص خان هم مجبور شو چې هملته په همدې کوهستاني سيمو په لمنو کې دخان خانان دلاور خان دلښکرو تر مخه پړاو وکړی.

دخواص خان د لښکرو په کتلو سره د خان خانان اودهغه د لښکرو مورال نور هم پورته شو، هغوې وکتل چې دهغوې لښکر دخواص خان دلښکر دوه هومره زيات دې. خان خانان هيلمن شو چې هغه به خواص خان ته غرنيو سيمو په دې ژورو لمنو کې ډيره بده ماتې ورکوی اودهغې په بيرته ځغلولو به بريمند يږي. نژدې دوه ورځې دواړه لښکرې يو دبل مخې ته پرتې وې او ارام يې کاوه. بله ورځ سهار وختې دخان خانان په لښکرو کې دجنګ ډول ووهل شو، او دا ددې څرګندونه کوله چې خان خانان د جنګ پيلونکې دې. کله چې دجنګ د ډول اواز خپور شو نو خواص خان هم دخپل فوځ ليکې سره جوړې کړې.

د خان خانان دلاور خان په لښکرو کې د جنګ ډول تر يوه وخته پورې و دربول شو. خو وروسته بيا چوپه چوپتيا شوه. خواص خان داسې وانګيرله چې خان خانان دجنګ پيلونکې دې اودخواص خان دا انګيرنه سهي ثابته شوه ځکه چې د لږځنډ وروسته د خان خانان لښکرو خپله لمړنۍ حمله پيل کړه او د خواص خان په لښکرو باندې لکه د اسماني کاڼو په څير را پريوتل.

خواص خان هم د خان خانان ددې حملې ځواب همغسې ورکړ، هغه دفاع ونه کړه بلکه په همغه پيل کې يې په جاريحيت لاس پورې کړ. او د خان خانان په لښکر باندې لکه د سرو مچيو په څير ور وغورزيد.

دمونګير دکلا او ښار نه بيرون دغرنيو لمنو دغه لوړې ژورې او ډاګونه د دواړو لښکرو دټکر په اساس د جنګ ميدان او دنړۍ د امن دنفرتونو مرکز وګرزيد. دمرګ او ژوند لوبې روانې وې، د وينو سيلابونه اود زخميانو چغې اوسورې او د نيم ژونده جسدونو نڅاوې هرې لورې ته تر سترګو کيدې

په لمړيو کې خان خانان به ډيره بې حمۍ سره او په ډيره تيزۍ سره هڅه کوله چې خواص خان اودهغه لښکر په شا تلو ته و هڅوې خو خواص خان د خان خانان په وړاندې د اوسپنې غر ثابت شوې و، داسې غر چې جرړې يې ترلرې پورې خپرې شوې وې.دلاور خان خپل ټول کوشش وکړ، خپلې ټولې حربې يې استعمال کړې خو ونه توانيد خواص خان شاتګ ته مجبور کړې.

دبله اړخه خواص خان هم په دومره چټکۍ او هوډ سره خپلو حملو ته دوام ورکړ چې دخان خانان د لښکرو ليکې يې يو په بل پسې ګډې وډې کړې. کله چې خواص خان په دې پوه شو چې دخان خانان د لښکرو لمړۍ ليکو کې درز راغلې دې نو بيا يې په خپل يرغل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور هم جوش او خروش راپیدا کړ او په داسې بې باکۍ سره يې خپلې حملې پیل کړې چې دهغوی د لښکرو لیکې یې په مکمله توګه له منځه یوړې. او سمد ستې یې په اخري لیکو باندې حملې ته دوام ورکړ. د خواص خان ددې بې باکانه او شجاعانه حملو په واسطه د هغه دلښکرو مورال هم ډېر راپورته شوې و او هغوې هم دخواص خان په څېر د خان خانان په لښکرو کې ورخپاره شول. د لړې شیبې د روند جنګ نه وروسته د خان خانان لښکر دخواص خان په لاسو مات شوې و ، او دهغوې دلښکرو ډیره برخه دخواص خان په لاسو د مرګ سره مخ شوې وه. پاته یې بندیان کړل ، او خان خانان پخپله هم دخواص خان په لاسو ژوندې ونیول شو.

د بله اړخه دخواص خان په څېر حاجې خان بټني او جلال الدین جالو دخپلو لښکرو سره یو ځاې د بنګال دګوډ د مرکزي ښار په لور تللي وو ، تر څو هلته دهغه ځاې په حاکم جهانګیر قلي خان باندې حمله وکړي او هغه له منځه یوسي. لکه څنګه چې وویل شول جهانګیر قلي خان ډېر زړه ور او میړنی حاکم و او د پوهې او تدبر ور شخصیت ګڼل کیده. هغه ته هم خبر ورسید چې د شیرشاه سوری سالاران حاجې خان بیټني او جلال الدین جالو د خپلو لښکرو سره یوځاې د بنګال مرکزی ښار ګوډ ته را روان شوي دي او هر وخت چې وغواړي په دوې ناڅاپي یرغل کولاې شي.

په دې نازکه وخت کې جهانګیرقلي خان د ډیر تدبر څخه کار واخست ، هغه د ګوډ ښار پریښود ، دخپل لښکر سره یو ځاې دهغه ځایه ووت او د بنګال او بهار د پولې په لور د مونګیر خواته روان شو ، هغه دا فکر کاوه چې هغه به هلته د خان خانان دلاور خان خواته د مونګیر په کلا کې ځاې په ځاې شي ،نو هغه وخت چې جلال الدین جالو او حاجې خان بیټني د خواص خان سره یوځاې د مونګیر په پخې کلا باندې برید وکړي نو هغه به پخپله هم د خان خانان سره یو ځاې شی او د مونګیر د کلا او ښار څخه به دفاع وکړي ، دا جهانګیر قلي خان له اړخه ډیره ښه پریکړه وه ، خو داسې بریښیده چې قدرت دهغوې په خلاف پریکړه کړې وه .

کله چې حاجي خان بیټني او جلال الدین جالو ته خبر ور رسید چې د بنګال حاکم جهانګیر قلی خان ښار پریښې او دخپل لښکر سره یو ځاې دمونګیر دکلا په لور خوزیدلې دې نو هغوې په ډیره بیړه دجهانګیر قلي خان په تعقیب پسې را ستانه شول او جهانګیر قلي خان یې د مونګیر او ګوډ تر منځ سیمې کې راګیر کړ.

کله چې جهانګیر قلي خان وکتل چې حاجی خان بیټني او جلال الدین جالو دهغه په تعقیب پسې را روان دي او اوس ورته ډیر نژدې راغلي دي نو هغه خپل لښکر ته په ډاګ میدان کې د تم کید او همدلته د جنګي لیکو د جوړولو حکم وکړ. دهمایون د ماتې خوړولو وروسته دحاجي خان بیټني او جلال الدین جالو حوصلې ډیرې سترې او ځواکمنې وې ،هغوې پریکړه کړې وه چې جهانګیر قلي ته په ورنزدې کیدو سره به دهغه په لشکرو باندې یرغل کوي.

د بله اړخه جهانګیر قلي خان هم همداسې پریکړه کړې وه . هغه وخت چې د جلال الدین جالو او حاجې خان بیټني ځواکونه د جهانګیر قلي خان لښکرو ته را نژدې شول نو جهانګیر قلي خان پرې د یوه ستر عذاب په توګه را نازل شو او وینې تویونکي حمله یې پرې وکړه.

حاجې خان بیټني او جلال الدین جالو په پوره میړانه او جرءت سره د جهانګیر قلي خان مقابله وکړه خود جنګ د اوږدیدو سره سم هغوې دا و انګیرله چې جهانګیر قلي خان دهغوې څخه ډیر تجربه لرونکې او میړنی عسکر دې ، ځکه چې د هغه په حملو کې داسې زور ، داسې میړانه او د اسې جذبه وه چې د جلال الدین جالو او حاجی خان بیټني لښکر یې د ټولو خوا و څخه تر سخت خونړې برید لاندې راوستې و . د جهانګیر قلي خان حملې دومره سختې وې چې جلال الدین جالو او حاجې خا بیټني یې په مخ کې ددریدو وړتیا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه ورکړې وه ، ددې پایلې دا شوې چې د لږ څه جنګ څخه وروسته جهانګیر قلي خان د جلال الدین جالو او حاجې خان بیټنی دلښکرو حالت د ډیرې بدحالی سره مخ کړې و . خو جلال الدین جالو او حاجی خان بیټني هم په خپلو منځو کې پریکړه و کړه او د جنګ اړخ یې په خپل لورې د بدلیدو له پاره په خپلو حملو کې نور زیادښت راوست. خو بیا هم جهانګیر قلي خان د هغوې د واړو ټولې حملې او پلانونه د ناکامی سره مخ کول او د دواړو دلښکر پښې یې د جنګ د ډګر څخه وویستلې ، د جهانګیر قلی خان د همدې حکمت په واسطه و چې جلال الدین جالو او حاجی خان بیټنی دواړو د جنګ په ډګر کې ماتې وخوړله او د خپل پاته لښکر سره یو ځای و تښتیدل .

د ماتې خوړلو وروسته جلال الدین جالو او حاجې خان بیټنې د جنګ د ډګر څخه څو میله لرې ولاړل ، خو بیا یې هم په خپلو منځو کې سلا وکړه تر څو د جهانګیر قلي خان پر خلاف د بله اړخه نوې حمله پیل کړي، په دې وخت کې جهانګیر قلي خان د خپل لشکر سره یو ځا ېد یوه فاتح په څیر د مونګیر په لور روان شو . په همدې وخت کې خواص خان چې د مونګیر د سوبې څخه را خلاص شوې د جهانګیر قلي خان په لاره کې و درید .

د مونګیر په چاپیریال کې دخان خانا ن لښکرو ته د ماتې ورکولو او د خان خانان د ژوندې نیولو وروسته خواص خان د خپل لښکر سره یو ځای د بنګال د ګوډ دښار په لور مخه کړې وه ، تر څو د حاجې خان بیټني او جلال الدین جالو مرسته وکړې شي خو هغه ته په لاره کې د جهانګیر قلي خان په لاسو ددې دواړو د ماتې خوړلو خبر ور ورسید. د دې تر څنګ هلته د ګنګا د دریاب په غاړه پروت شیرشاه سوری ته هم د حاجی خان بیټني او جلال الدین جالو د ماتې خوړلو خبر ورسیدلې و په دې خاطر هغه هم په ډیره بیړه د بنګال په لور کوچ کړې و.

په خپل مخکې دخواص خان په کتلو سره جهانګیر قلي خان همغه لمړنۍ طریقه استعمال کړه. لکه څنګه یې چې په حاجی خان بیټني او جلال الدین جالو باندې ناڅاپې یرغل کړې و په همدې توګه یې نه وخت وکوت او نه حالات او د خواص خان پر خلاف یې ناڅاپې خونړې یرغل پیل کړ . خو خواص خان دجلال الدین جالو او حاجی خان بیټني څخه بدل شخصیت و . هغه په ډیره مدبرانه توګه د جهانګیر قلي خان لمړۍ حمله په شاو تمبوله اوبیا یې خپله ځوابي حمله وکړه. جهانګیر قلی خان سل ځله هڅې وکړې چې د خواص خان حملې تم کړي خو و نه توانید ، ځکه دخواص خان سره دا ډول کړچار شوني نه و. که څه هم د جهانګیر قلي خان حوصله جلال الدین جالو او حاجی خان بیټني ته د ماتې ورکولو وروسته ډیره ځواکمنه شوې وه خو د بله اړخه همدا ډول حوصله د خواص خان لښکرو ته هم ور په برخه شوې وه . ځکه هغې لښکرو هم د مونګیر نه بیرون خانه خانان دلاورخان ته ماتې ورکړې وه او هغه یې له ځانه ژوندې نیولې و. نو په دې اساس دخواص خان لښکر هم د پخوا څخه زیات په مستۍ کې جنګید ه . د جنګ ډګر د دواړو فوځونو تر منځ د وینو په رنګ تک سور ګرزیدلې و . څو ساعته پرلپسې جنګ نه وروسته کله چې خواص خان وکتل چې د جهانګیر قلي خان لښکر ې په شا روانې دې نو نوریې هم په خپلو حملو کې ډیرښت اوتیزوالې راوست ، دخواص خان ددې حملو څخه د جهانګیر قلي خان ځواکونه نور د لیونتوب تر محلې پورې رسیدلې و په همدې اساس جهانګیر خان دخواص خان په مقابل کې ډیر تم نه شو او د خپلو پاته لشکرو سره یو ځای یې د تیښتې لاره خپله کړه.

خواص خان په ډیره بیړه د تښتیدونکو ځواکونو په تعقیب پسې ووت ، ددې تعقیب په دوران کې نه یوا ځې دا چې د جهانګیر قلي خان ټولې لشکرې له منځه ولاړې بلکه پخپله جهانګیر قلي خان په کې هم ووژل شو. خواص خان د جهانګیر قلي خان دلښکرو په ټولو وسایلو باندې ولکه وکړه او بیا یې همله ته دخپل فوځ سره یو ځای پړاو وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې جلال الدين جالو او حاجی خان بيټنې ته هم خبر ورغلې و چې خواص خان د مونګير د کلا څخه بيرون خان خانان دلاور خان ته ماتې ورکړې او اوس د مونګير څخه را وتلې او د جهانګير قلي خان لاره يې نيولې ده. په دې خاطر هغوې هم په ډيره بيړه بيرته د جنګ د ډګر په لور ور وخوزيدل. خو د هغوې تر راتلو پورې خواص خان د جهانګير قلي خان لښکر په مکمله توګه ځپلې و او همله په خپل پړاو کې پروت و. کله چې جلال الدين جالو او حاجی خان بيټنې دخپلو لشکرو سره يو ځاې هلته ور ورسيدل، نو همله يې خپل لښکر ته د پړاو حکم وکړ او بيا دوې دواړه دخواص خان خيمې ته ورغلل او دهغه سره يې وکتل. او هغه ته يې دجهانګير قلي خان او خان خانان دلاور خان په مقابل کې دبرى او سوبې مبارکي ورکړه.

په همدې ورځ ماښام شيرشاه سوري هم دخپل لښکر سره هغه ځاې ته ورسيد چيرې چې خواص خان دخپل لښکر سره يو ځاې پړاو کړې و، خواص خان د شيرشاه سوري د راتلو دخبر سره سم دخپل پړاو څخه را ووت او د هغه ښه راغلاست يې وکړ. دخواص خان دکتلو سره سم شيرشاه سورى دخپله آسه را ښکته شو، او ورمنډه يې کړه او خواص خان يې په غيږ کې و نيوه، هغه يې په تندي باندې ښکل کړ او بيا يې ورته د ډيرې زياتې خوشحالۍ په حال کې وويل چې:

خواص خانه زويه ! ستا د ميړانې، بهادرۍ او جرءت نه ډک خبرونه ماته همله د ګنګا په غاړه رارسيدل، زه تا ته د مونګير د ښار او کلا نه بيرون د خان خانان په ماتې ورکولو او دهغه په ژوندي نيولو باندې د زړه له کومې مبارکي وايم، او تر څنګ يې زه تا ته د بنګال دحاکم جهانګير قلي خان په ماتولو او دهغه او دهغه د لښکر په له منځه وړلو باندې هم مبارکی وايم. خواص خانه ! ته په يقين سره ماته دهغو ځوانانو څخه يې چې دشګو په غونډيو ،د غرنيزو ديوالو په ځګرونو، دتندو توپانې هواګانو په وزرونو، په غوريدلې وريځو او کړکيدونکو بريښناګانو باندې هم دخپلې سوبې نښې پرېښودې شی.

خواص خانه ! ته په يقين سره دهغو اتلو بچيانو څخه يې چې زما په دښمنانو د وريځو د تور سمندر او د سور انتقامي اور په څير را پريوتې. خواص خانه ! زويه، ستا په ميړانه، ستا په جرءت او ستا په زړه ورتيا وياړم او ستا دې پاک احساس ته سلام او درنښت وړاندې کوم. ددې خبرو وروسته شيرشاه سورى د خواص خان سره ځانته شو ،هغه خپل لښکر ته همله د پړاو کولو حکم وکړ، بيا يې خواص خان ته يو ځل بيا مخ کړ او ورته يې وويل چې: زويه ! متحده لښکر به نن شپه همدلته قيام او ارام وکړي، بيا به په بله ورځ ماسپښين له دې ځايه د بنګال د ګوډ دښار په لور روانيږو، خواص خان ورته په ځواب کې وويل چې: محترما ! ما ته د خان خانان دلارو خان دلښکر دماتې وروسته د مونګير دکلا څخه ډير زيات د خوراک څښاک په ګډون فوځي سامان تر لاسه شوې دې، همداراز دجهانګير قلي خان دلښکرو دماتې وروسته هم زمونږ لاسته ډير څه راغلي دي.دخواص خان دخبرې نه وروسته شيرشاه سورى ورته په ديره مينه وويل چې: خواص خانه زويه، دا ټول سامان او وسايل په خپله خوندي کړه، سبا به د تللو په وخت کې دهغو په اړه تصميم و نيسو. اوس ته ولاړ شه او په خپله خيمه کې ارام وکړه، دهمدې خبرې وروسته دواړه شيرشاه سورى او خواص خان خپلو خيمې ته د ارام کولو له پاره ولاړل.

خواص خان په خپله خيمه کې ځانته ناست و چې د خيمې په دروازه کې ګنګا را ښکاره شوه، هغې د زرق وبرق په څير لباس په ځان کړې وې او بلکل لکه د ښاپيريو په څير په نظر راتله. دروازې ته د راتللو وروسته ګنګا همله تم شوه او بيا يې په خيمې کې ناست خواص خان ته ور غږ کړ او ورته يې وويل چې: زه دننه راتللې شم؟ دګنګا په غږ سره او از خان يو ټکان وخوړ. دهغه په شونډو باندې زړه وړنکې خندا راپيدا شوې وه. بيا يې په لوړ اواز وويلې چې ګوره ګنګا ! اوس خو تا ته زما خيمې ته د راتللو او را ننوتلو د اجازې ضرورت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته. تر پرته له پښه نیولو زما خیمې ته را ننوځه ، اوس خو دا خیمه همستا ده. دخواص خان دې خبرو دګنګا زړه ډېر خوشحاله کړ ،په ډیره خوشحالۍ سره خیمې ته را ننوتله او نیغه ولاړه او دخواص خان تر څنګ کیناسته . تر لږه وخته پورې دواړه چپه خوله و خو وروسته پرې ګنګا خوله راپرانسته او ورته یې وویل چې:

ګرانه او زړه ته را نژدې خواص خانه ! که دیوې خبرې په اړه و پوښتم نو بد به خو به یې نه ګڼې ؟ په ځواب کې ورته خواص خان وویل چې ګوره ګنګا ! اوس خو تا ته زما د خفګان په اړه باید هیڅ ډول اندیښنه را پیدا نه شي. ځکه چې ته خو اوس زما دذات یوه برخه یې. زه به تا هیڅکله هم او په هیڅ خبره هم خفه نه کړم. ګنګا ترې په ډیره زړه ورتیا او بې باکۍ سره وپوښتل چې: ایا اوس هم ستا په زړه کې زما له پاره لږ څه کرکه شته او که ټول محبت او محبت ګرزیدلې دې ؟

د ګنګا په دې پوښتنې باندې خواص خان تر یوه وخته پورې په خندا و او بیا یې ورته وویل چې: ګوره ګنګا ! یو وخت تا هم زما څخه د کرکې څرګندونه کړې وه. خو وروسته ستا محبت او ستا مینه او ستا غوښتنې زه را ونغاړلم، نو که چیرې همدا پوښتنه زه له تا څخه وکړم نو ته به څه ځواب راکړې ؟ ګنګا تر یوه وخته پورې سر ښکته کړې و او په څه فکر کې ډوبه وه. بیا یې د خوب د راویښ شوو لمحو او په ډیره یخه ټنډه د مینې نه ډک اواز کې وویل چې: زما څخه ولې پوښتنه کوې ،زما د وجود هر بند ستا په محبت او مینه کې را ښکیل شوې دې. ما خو دهغې شهزادګۍ غاړه ورماته کړې ده چې له تا څخه یې یو وخت د کرکې غږ کړې و . اوس خو ستا تر مخه ستا ګنګا ناسته ده. که چیرې ته په ډاګیزه توګه زما څخه اوریدل غواړې نو زه تا ته تر دې ځایه ویلې شم چې:

ته ما ته زما د سر ستورې ، زما د وجود ځواک ، زما د نژدیکت ښایست او جمال ، زما دذات رڼا او زما شپې د تیارو سهار ، ستا محبت زما په وجود کې نوې خوش بویي او نوې احساس را پیدا کړې دي.

دګنګا د دې خبرو په اوریدو سره خواص خان ډېر زیات خوشحاله شوې و. او ویې ویل چې ګوره ګنګا ! تا زما څخه د شکریې د اداکولو اړتیا نه شته. اوس خو ته زما مینه او زما محبت یې. مونږ دواړو یو ځای هغه وخت دفن کړ چې زمونږ د دواړو تر منځ یې نفرت او کرکه را ټوکولې وه او زمونږ تر منځه یې د بیلتون د یوالونه درولي و. اوس خو مونږ دواړه یو وجود یو او د نړۍ هیڅ ځواک به موهم یو د بل څخه بیل نه کړي. په ډېر نژدې وخت کې به زه له تا او ګیتا دواړو سره دواده په پاکه لومه کې را ونښلم. او خپله دشوق او مینې ژوند به له تاسې دواړو سره پیل کړم. تر دې ځایه دخبرو کولو وروسته خواص خان تم شو نو ګنګا ورته په ویلو پیل وکړ.

هو ! ماخو په خبرو خبرو کې اصل موضوع له یاده وویسته. ما غوښتل تا ته دخان خانان دلاور خان او جهانګیر قلي خان د لښکرو د ماتولو په اړه د زړه له کومې مبارکي ووایم ، ګنګا ورته په تیزو سترګو وکتل او ورته یې وویل چې: یو اځې مبارکي نه وه بلکه ستا سره کتلو او له تا سره دخبرو له پاره دلته راغلې وم. دګنګا په دې خبرو خواص خان نور هم دخوشحالۍ نه راوغوړید ، بیا کیدې شې چې هغه ته کومه د یاده وتلې خبره را په زړه شوې وي نو په دې خاطر یې ګنګا ته وکتل او ورته یې وویل چې:

ګنګا ! ته ولې ځانته راغلې یې ، ګیتا به دې هم له ځانه سره راوړې وې. ګنګا تر یوه وخته پورې په ډېر غور سره دخواص خان په لور وکتل ، بیا یې په ځواب کې ورته وویل چې: درونده او ګرانه خواص خانه ! د شیرشاه سوري دحرم د ښځو څخه د یوې روغتیاې حالت ښه نه و نو په دې خاطر ګیتا دهغې سره دهغې دخدمت له پاره هملته پاته شوه . نو که چیرې هغه راتلاې نو زه باید هملته پاته شوې واې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې زمونږ د دواړو څخه به یوه دلته تاته ، ستا د کتلو په خاطر راتلله. په دې خاطر ګیتا هملته پاته شوه او زه یې ستا د کتلو له پاره دلته را واستلوم. هغې هم تا ته ستا د دې سترو فتوحاتو په اړه مبارکي را لیږلې ده.

د ګنګا د دې خبرو وروسته خواص خان لږ څه خاموشه شو ، او په څه فکر کې ډوب شو ، نو ګنګا ورته یو ځل بیا وویل چې:

خواص خانه ! زما محبوبه ، زه له تا څخه یوه بله پوښتنه هم کول غواړم. زه هیلمنه یم چې ماته یې ریښتونې او په حقیقت ولاړ ځواب راکړې. خواص خان ورته وویل چې: وایه ، څه پوښتل غواړې. ګنګا ورته وویل چې:

خواص خانه ! اوس چې زه او ګیتا ستا د ژوند دوه اړخونه یو نو که زه له تا و پوښتم چې د ګنګا او ګیتا دواړو څخه کومه یوه درته ډیره نژدې ده نو ستا ځواب به څه وي ؟ د ځواب ورکولو د مخه خواص خان لږ څه فکر وکړ او بیا یې ګنګا ته و کتل او ورته یې وویل چې: ګوره ګنګا ! د خپلو دواړو لاسونو ورغوي دې ماته را نژدې کړه . د خواص خان د خبرې د منلو سره سم ګنګا خپل دواړه نازک او ښایسته ښکلي لاسونه د خواص خان په لور ور وغځول ، بیا خواص خان د خپل څنګ ایښې کڅوړې څخه دوه هم وزنه سیکې را وویستلې او د ګنګا د لاسو په دواړو ورغیو کې یې کیښودې او بیا ورته وویل چې: ووایه ګنګا ! د دې دواړو سیکو څخه کومه یوه درته وزنې ښکارې. ګنګا ورته په همغه درنګ وویل چې دواړه یو شان دي. خواص خان ورته هم بې له ځنډه وویل چې بیا خو تاسو دواړه ماته همداسې یو شاه یاست. زه له تاسو دواړو سره مینه کوم ، د خواص خان د دې ځواب په اوریدو سره ګنګا یو ناڅاپه ور کړه شوه او د خواص خان سره ورغاړې وتله . خواص خان د مینې او محبت په فضا کې د هغې په شا باندې لاس راښکود ، د هغې وروسته ترې ګنګا جدا شوه او ورته یې وویل چې: زما ګرانه خواص خانه ! په پاک خداې سوګند چې ماته ستا د خولې څخه د همدا ډول ځواب هیله وه.

خواص خان غوښتل په ځواب کې څه ووایې چې د خیمې د دروازې ته یو ساتونکې راغې او خواص خان ته یې وویل چې: امیر ! شیرشاه سوری خپلې خیمې ته ور بللې یې. کیدې شي چې هغه له تا سره د سبا ورځې د کوچ په اړه سلا مشوره وکړي. د هغې په دې خبره خواص خان د خپله ځایه پورته شو او ګنګا ته یې وویل چې ته همدلته اوسه. زه شیرشاه سوری سره د خبرو کولو وروسته بیرته همدلته راځم ، د ماښام ډوډۍ به مونږ دواړه همدلته په خیمه کې یو ځاې وخورو . ګنګا د خواص خان د دې وړاندیز سره اتفاق وکړ او بیا خواص خان د شیرشاه سوری د خیمې په لور رهي شو.

د لږ څه ځنډه وروسته خواص خان بیرته راستون شو او ګنګا ته یې وویل چې ګوره ګنګا ! سبا به دا متحده لښکر د بنګال د مرکزی ښار ګوډ په لور حرکت کوي ، شیرشاه سوری به یو ځل بیا هلته په ګوډ کې د خپل تخت د کیناستو جشن لمانځې ، د هغه په اند چې تیر ځل د ګوډ د لاسه د وتلو وروسته به د هغه ځاې د خلکو په فکرونو کې بدلون راغلې وي، نو په دې خاطر د بیا ولکې نه وروسته هلته یو ځل بیا د تخت د کیناستو مراسم باید و نمانځل شي ،ما هم د هغه د دې وړاندیز سره موافقه کړې ده ، اوس به لښکر سبا سهار وختې له دې ځایه کوچ کوي ،د دې خبرې وروسته خواص خان بیرون را ووت ، او خپل ساتونکې ته یې د ډوډۍ د راوړلو حکم وکړ. لږه شیبه وروسته هغه ساتونکې ډوډۍ راوړه. دواړو یو ځاې ډوډۍ وخوړه. بیا ګنګا د شپې تر ډیره ناوخته پورې د خواص خان تر څنګ ناسته وه او د خپل راتلونکې په اړه یې ورسره خبرې کولې ،بیا پورته شوه او د ښځو د تمځاې په لور ورغله ،بله ورځ متحده لښکر هم د دې ځایه خپل پړاو ختم کړ او د بنګال د مرکزی ښار ګوډ په لور یې کوچ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبنګال مرکزي ښار ګوړ ته د رسیدو سمدستي وروسته شیرشاه سوری ددویم ځل له پاره د خپل تخت ناستې مراسم په پوره جوش او ولولې سره تر سره کړل. دشیرشاه سوري د لمړي ځل د تخت ناستې مراسم همدلته د ګوړ په ښار کې نژدې یو کال دمخه هغه وخت تر سره شوي و چې دهمایون توپونو یې تر شا ګولۍ ویشتلې. هغه د تخت ناستې مراسم په ډیره بیړه او عجلې سره تر سره شوي و ،په دې اساس یې د بنګال خلک د سیاسي او ټولنیزو پایلو څخه بې برخې پاتې شوي و او د شیرشاه سوري دتللو وروسته او دمغلو دراتلو سره سم یې همغه مغل خپل اصلي حکمرانان وګڼل.

په دې خاطر شیرشاه سوری ته ددې اړتیا احساسیده چې دخپل تخت ناستې مراسم یوځل بیا په پوره شان و شوکت او دبدبې سره و نمانځي اوپه دې توګه دخپل نظام د حاکمیت او مشروعیت له پاره په تبلیغاتي توګه هم کار وکړي.

ویل کیږي چې د تخت ناستې د مراسمو د پیلولو دمخه ، دخپلو دغو مراسو د اجرا په خاطر د بنګال د مشورو ستورو پیژندونکو او نجومیانو څخه یو مشهور نجومي د ساعت سعد نه د مراسمو د پیلیدو په اړه مشوره واخسته. دا چې شیرشاه سوری په نجوم باندې باور درلود او که نه ، خو هغه په دې پوهیده چې کله کله د یوه حکمران له پاره د خپلو خلکو د توهمپرستۍ او دهغوې دبې عقلې کولو په خاطر دغسې یو کار اړین ګڼل کیږي. په هر صورت هغه وخت چې د تخت د کیناستو مراسم پیل شول ، شیرشاه سورې د پراخ زړه او فیاضۍ څخه کار واخست.

د ګوړ په ښار کې نژدې اوه ورځې د تخت ناستې د جشن د مراسمو ډولونه او نغارې درزیدې. دهر افغان قبیلې څخه به د ځوانانو ډلې ډلې دشیرشاه دربار ته راتللې او دافغاني رسم ورواج په مطابق به یې نڅاوی اوخوشحالۍ کولې . شیرشاه سوري هم ډمانو او سندرغاړو ته د زړه داخلاصه تحفې او انعامونه ورکړل اودهغه درباریانو د نڅونکو په سرونو باندې د مشکو ، عنبرو ، زعفرانو او د ګلابو داوبو په شیندلو باندې ددې خوشحالیو مجلسونه نور هم خوشبویه کړي و. په دسترخوانو باندې به ډول ډول غذا ګانې پرتې وې ، هر ډول هضم راوړنکې شربتونه هرې لورې ته ایښوول شوی و ، چې د شراب طهور (پاکوشرابو ) په نامه یې یادول. نه یوازې دلته بلکه هر هغه کور ته چې د شیرشاه سوري د فتحې لیک ور رسیدلې و همدغه ډول جشونه نیول.

په بنګال کې دخپل حکومت د مستحکم کیدو نه وروسته شیرشاه سوری هلته ډیره موده پاتې نه شو او نه یې هلته په بنګال کې د ضرورت نه زیات فوځ پریښود . خو د غربي بنګال په چټاکانګ اونورو بندرونو باندې یې خپله ولکه ډیره کلکه کړه ، تر څو د پرتګالیانو د حملو څخه یې خوندي وساتي. دهغه اصول دا و چې هغه به د ځای حکومتونو له پاره دهمغه ځایو خپل خلک ټاکل ، او ځاې مسلمانانو او هندوانو ته به یې په خپل حکومت کې کار ورکاوه. تر څو د نیول شوو سیمو خلکو ته د خپل حکومت د بدلون په اړه معلومات ور په برخه وي.

شیرشاه سوری نه غوښتل هلته په بنګال کې اوږود پاتې شي. هغه په دې اندیښنه کې و چې هسې نه چې دهغه په غیاب کې همایون یو ځل بیا خپل ځواکونه راټول او دهغه په کلاګانو او ولکه شوو سیمو باندې دیرغل کولو هڅه وکړي. نو په دې اساس هغه غوښتل ژر تر ژره دبنګاله را ووځي او دهمایون حرکات دخپلې څارنې لاندې ونیسي. دهمدې فکرونو په بنسټ شیرشاه سوری دخپل لښکر سره یو ځاې دبنګاله را ووت، خو د راوتلو تر مخه یې هلته په بنګال کې یو کس خضرخان دخپله اړخه د بنګال حکمران وټاکه. ویل کیږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خضرخان ترکي نژاد و او پلار او نیکونه یې دیوه وخته راهیسي هلته په بنګال کې میشت شوي و. په دې اساس شیرشاه سوري دخضرخان د ټاکلو وروسته دخپل لښکر سره یو ځای دهغه ځایه کوچ وکړ.

تر اوسه پورې شیرشاه سوري په مکمله توګه د بنګال څخه نه و تللې چې خبر ورته ورسید چې پرتګالیانو دهغه په ولکه شوو سیمو باندې دیرغل اودهغو سیمو د ولکه کولو له پاره پلان جوړ کړې دې. پرتګالیانو دمهارت د پاته شونو فوځیانو سره یو ځای، چې د خواص خان د حملې څخه اخوا دیخوا تښتیدلي و ، له ځانه سره را یو ځای کړي و او پخپله دمهارت یو سالار یېددې متحده لښکر مشر ټاکلې و چې پالامو نومیده. پالامو د مهارت د پاته شونو اوپرتګالیانو څخه یو ستر لښکر جوړ کړ او د بنګال دمرکزي ښار ګوړ په لور یې حرکت پیل کړی و.

کله چې شیرشاه سوری ته دا خبر ورسید نو هغه خپل کوچ هملته تم کړ ، بیا یې خواص خان را وغوښت ، هغه وخت چې خواص خان د شیرشاه سوری خیمې ته را ننوت ،نو ویې کتل چې هلته دشیرشاه سوري د کورنۍ دغړو نه علاوه ګنګا هم ناسته ده. شیرشاه سوری خواص خان له ځانه سره کیناوه ، او ورته یې وویل چې:

خواص خانه زویه ! ما غوښتل دلته زما د تخت ناستې د جشن د مراسمو په ترڅ کې ستا او دګنګا تر منځ دواده مراسم هم ادا کړم. ما په دې اړه دګنګا سره هم خبرې کړې وې او هغه مې په دې راضي کړې وه خو زما د کورنۍ غړي وایي چې دخواص خان د واده مراسم باید ددې تخت ناستې د مراسمو څخه نور هم په ډیره خوشحالۍ او جوش سره و لمانځل شي. په دې خاطر هغوې ته د لږ څه وخت اړتیا وه ، په دې خاطر ما دلته په بنګال کې ستا د واده مراسم و ځنډول. ګوره زویه ! ددوې نه علاوه ګنګا هم دلته ناسته ده خو هغه وایي چې لمړۍ دې خواص خان د ګیتا سره واده وکړي دهغې وروسته دې له ما سره. ووایه په دې اړه ستا آند څه ډول دې ؟

دشیرشاه سوري دخبرو وروسته خواص خان خواړه ګنګا ته وکتل بیا یې په مړاوې شانته اواز وویل چې: دروند شیرشاه ! دا خو دګنګا دسینې پراخوالې دې ، د هغې اخلاقي لوړ مقام دې چې دخپله ځانه ګیتا ته زیات اهمیت او درنښت ورکوي. د شهزادګۍ په بڼه چې هغې خپل ځان دومره بدل کړې دې ، نو زما مهربانه ! زه پوهیږم چې ګنګا په سهي معنا باندې ددې وړ ده چې زما د ژوند ملګرې و ګرځي. او زه پوهیږم چې کله چې ګنګا زما د ژوند ملګرې و ګرځي نو زما د ژوند انه ټول کمښتونه به پخپله له منځه ولاړ شي.

دخواص خان دخاموشه کیدو وروسته شیرشاه سوری یوځل بیا په خبر و پیل وکړ او ویې ویل چې: ګوره خواص خانه زویه ! زما ټوله کورنۍ ستا او د ګیتا ، او ترڅنګ یې دګنګا د واده دمراسمو په برابرولو کې شپه او ورځ کار کوي ، هغوې ستا نه علاوه د ګنګا اوګیتا له پاره هم پریمانه کالي او نور ضروري شیان تیار کړي دي ، زما دکورنۍ غړي په دې آند دی چې څرنګه چې ماتاته خپل زوې ویلي دي اودخپلې کورنۍ غړې مې ګرزولې یې نو په دې خاطر به له تا او ستا ددواړو ښځو سره د لوڼو او زامنو په څیر سلوک کیږي. اوتاسو ته به ټول هغه څه تیاریږی چې ما دخپلو زامنو او لوڼو له پاره دهغوې په ودنو کې تیارکړي و ، ګوره خواص خانه ! زه اراده لرم چې څه وخت چې دا ټول کارونه تکمیل شي نو لمړۍ به ستا واده د ګیتا سره اوبیا د ګنګا سره وکړم. ګوره زویه دا خو یوه موضوع وه ، اوس دبلې موضوع په لور راځم.

بله خبره داده چې تاته ډاګیزه ده چې دمهارت یو ملګرې چې پالامو نومیږي، دپرتګالیانو سره یوځای شوې او ډیر ستر لښکر یې جوړ کړې دې او اوس دغه لښکر د ګوړ په لور را روان دې او غواړي په ګوړ باندې حمله وکړي، زویه ! ما خپل لښکر په دوو برخو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویشلې دي ،یوه برخه به همستا تر قومندې لاندې وي، هغه به له تاسره یو ځاې وي ، او ته به دپالامو د مقابلې له پاره مخته ورځې . اوهغه به دګوډ په لور دپرمختګ څخه منه کوي. زه هیلمن یم چې ته به پهډیره اسانه توګه پالامو ته ماتې ورکړې. خو دلښکر بله برخه به زه له ځانه سره واخلم او د ګنګا ددریاب غاړې غاړې ته به مخته ولاړشم اودهمایون په حرکتونو اوخوزښتونو باندې څارنه کوم. او دا به ځانتهډاګیزه کړم چې هغه اوس زما په اړه څهفکر کوي ، وو ایه چې په دې اړه ته څه ویل غواړې ؟

خواص خان تر لږه وخته پورې څه فکر کې ډوب و اوبیا یې وویل چې: زما محترما شیرشاه ! دغه پریکړه چې تا کړې ډیره مناسبه او برابره پریکړهده. زما په آند چې مونږ باید همدا نن حرکت وکړو او ته هم دخپل نیمایي برخې لښکر سره یو ځاې د ګنګا د دریاب په لور ولاړشه. زه به دخپل لښکر سره یو ځاې د ګوډ په لور ولاړشم اودپالامو د لارې د بندولو هڅه به وکړم. شیرشاه سوری ورته وویل چې په دې اړه ته دخضر خان څخه هم مرسته تر لاسه کولې شې. خو خواص خان ورته وویلې چې:

نه ، درونده شیرشاه ! زه دا سې کول نه غواړم. زه غوره ګڼم چې خضرخان دخپل لښکر سره یو ځاې هملته په ګوډ کې و اوسیږي ،او زه به په یواځې ځان دخپل لښکر سره یو ځاې د پالامو مقابلې ته ور ودانګم، دا په دې خاطر چې که زه د پالامو سره و نښلم اوپالامو دخپل لښکر کومه برخه په ګوډ د حملې له پاره را ولیږي نوپه هغه صورت کې به خضرخان دهغوې په مقابل کې موجود وي. خو که چیرې زه خضرخان دخپله ځانه سره یو ځاې د پالامو مقابلې ته یوسم نوبیا به د ګوډ څخه دفاع کول شوني نه وي. که چیرې دښمن په ګوډ باندې ولکه وکړي نوبیا به ماته ستونزې اومشکلات نور هم زیات شي، زه به مجبور یم چې هغوې کلا بند کړم اودا کلابندي کیدې شي چې میاشتې میاشتې دوام وکړي،نو په خاطر غواړم چې خضر خان هملته په ګوډ کې واوسیږي، او زه په یواځې ځان دپالامو کارورختم کړم .هغه او د هغه لښکر ته دا سې سزا ورکړم چې بیا د بنګال په لور د راتلو هڅه هم ونه شي کولاې.

کله چې خواص خان خبرې بندې کړې نو شیرشاه سوری ورته وویل چې: خواص خانه زویه ! زهډیر خوښ یم چې ستا اراده ډیره ځواکمنه او ډیره پېښخهده. البته پهدې اړه زه لهتاسره یوه بله خبره هم شریکوم. اوهغه دا چې دلته ستا د راتلو تر مخه ګنګا له ماسره خبرې کولې ،هغې ویل چې دا ځل هغه هم غواړی د خواص خان سره یو ځاې جنګ کې ګډون وکړی. خواص خان ورته په خندا کې وویل چې:

که چیرې هغه له ماسره دلته په لښکر کې ژوند کول غواړی ،نومحترم شیرشاه ! زه به یې په خوښۍ سره ومنم. اودا به دخپل ځان له پاره نیکبختي وګڼم ، خو زه نه غواړم چې په دې جنګ ګنګا له ماسره و اوسي ، ځکه ماته معلومه نه ده چې زه به دپالامو په خلاف کومو کومو ځایو کې مورچې اوسنګرونه نیسم اویا به دکومو سختو حالاتو سره مخ کیږم. په دې خاطر زه نه غواړم چې دپالامو سره د جنګ په وخت کې ګنګا هم له ماسره یو ځاې په ورانو ویجاړو او ګړنګونو کې د ستونزو اوتکلیف وخت تیر کړې ، درونده شیرشاه ، دپالامو سره د ټکر وروسته ، زه غواړم چې ډیر ژر هلته د ګنګا د دریاب په غاړه له تاسره یو ځاې شم . تر دې ځایه دخبروکولو وروسته خواص خان خاموشه شو بیا یې دګنګا په لوروکتل او هغې ته یې نیغ په نیغه وویل چې:

ګوره ګنګا ! زه هیلمن یم چې ته به زما ددې وړاندیز مخالفت ونه کړې، ګوره ګنګا ! زه پوهیږم چې دهغې وخت حالاتو مونږ دواړه یوبل ته حواله کړي یو ،که څه هم په تیرو وختو کې زما اوستا ترمنځه د بیلتون ترخې لمحې تیر شوې دي خو قدرت ته دا منظوروه چې زه اوته بیرته سره یوځاې او دیوه ژوند ملګری شو. ګوره ګنګا ! ته زما په دې پریکړه باندې مه خفه کیږه . زه دا ټول هر څه ستا دا ارام او اسانتیاو په خاطر کوم، ځکه چې دپالامو په مقابل کې ماته ډیرې منډې ترړې او ستونزمن حالات په مخ کی دي. ددې ترڅنګ زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکر کې بله کومه ښځه هم نه شته نو ځانته زوند به خوند درنه کړي او د ويرې احساس به کوې نو په دې اساس زه تاته وړاندیز کوم چې اوس زما سره په تللو باندې اصرار مه کوه. ګنګا ورته په ډیره نرمه او د مینې ډکه ژبه وویل چې:

زه ګنګا د دې جرءت نه لرم چې ستا وړاندیز ټال کړم ،که چیرې ته دا مناسبه ګڼې چې زما تګ له تا سره مناسب نه دې نو زه له تا سره د تللو له پاره اصرار نه کوم. او څنګه چې ته وايې همغسې به وکړم. ځکه چې ستا هره پریکړه ماته د حکم معنې لري. د ګنګا د ځواب په اوریدو سره خواص خان خوشحاله او ډاډمن شو ، د دې نه وروسته شیرشاه سوری او خواص خان دواړه د خیمې څخه را ووتل ، لښکریې په دوو برخو باندې وویشه ، خواص خان دخپلې برخې دلښکر سره دپالامو د ځپلو له پاره روان شو ،په داسې حال کې چې شیرشاه سورې دخپلې برخې دلښکر سره یو ځای د ګنګا د دریاب غاړې ته کوچ وکړ.

**۵۰**

د بله اړخه دهمایون حالات چې په چوسې کې دماتې خوړلو وروسته دیر خراب شوي وا و لښکریې خپل مورال له لاسه ورکړې و بیرته ښه کیدوته را نژدې شوی و. همایون د څلو ښت شپیني ناروغتیا څخه هم روغ رمټ راوتلې و او ترڅنګ یې اندېښمنو زړونو ته د امید او هیلو یوه روښنایې تر سترګو کیده. همایون د چوسې ماتې په غټ زړه او پوره حوصلې سره وزغمله ، دهغه ورونو چې دهغه په غیاب کې کوم ناوړه سلوک کړې و هغوې پرې اوس ډیر زیات پښیمانه وو ،همایون هم د زړه له کومې دخپلو ورونو دغه غلطې ور وبښله ، او بیرته دخپلې مینې په غیږ کې را ټول کړل ، خو د شیرشاه سورې په لاس د چوسا په سیمه کې دمغلو ماتې دتیموری کورنۍ د یو والې جذبه پوره ګډه وډه کړې وه.

مغلو د افغانانو څخه د زړه له کومې کرکه کوله. هغوې په دې آند و چې د دې نه مخته هغوې افغانان په سلونو ځله د جنګ په میدان کې ماتې کړي او تیښتې ته یې اړ کړي دي. هغوې ته دا آند چې اوس به افغانان پر هغوې غالبیږي د منلو او زغم وړ نه و . پایلې یې دا شوې چې د سخت نه سخت باغي مغل هم د همایون څنګ ته راغې او دهغه سره یو ځای شو ، د مغلو ستر ستر سرداران چې د دې نه مخته د همایون سره په ټکر کې و هغوې هم خپلې بسپنې د همایون په واک کې ورکړې او د خپلو وفاداریو په اړه یې ژمنه وکړه. په همدې وختو کې هلته په اګره کې د همایون په شاوخوا کې یو لک فوځ را ټول شوې و ، د د ې نه علاوه دهغوې سره یو ډیره ستره او ځواکمنه توپخانه هم ملګرې وه چې قوماندانې یې د رومې خان زوې کوله.

په دې ورځو کې چې همایون د شیرشاه سورې پر خلاف په اګره کې خپل ځواکونه سره را ټولول او لښکرو جنګې تمرینات کول دهمایون په ژوند کې یوه بله غمناکه پیښه را منځته شوه ، همایون ډیر شریف او منلې حکمران و ، نور مغروره او متکبر پادشاهان دهغه دخوې پر خلاف و ، خو هغه دهغو خلکو څخه نه و چې د نا ادنا خلکو دخدمتونو اعتراف کوي او د نورو خلکو غلطۍ او ګناهونه وربښي.

هغه لوبه چې د همایون په دربار کې پیښ شوې وه ،هغه څه داسې بیا ن شوې ده چې: د چوسا په جنګ کې دماتې خوړلو نه وروسته ، هغه وخت چې همایون په ګنګا کې ډوبید و ته ورنژدې شوې و نو هغه وخت یو حبشي چې نظام نومیده دخپلو مشکونو په واسطه دهغه ځان او ژوند و ساته. هغه وخت چې نظام همایون د ګنګا څخه را وویست او د دریاب غاړې ته یې را وست نو هغه وخت همایون د نظام سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژمنه کړې وه ، چې ځرنګه چې هغه ورته په اوبو کې د غرقیدو څخه نجات ورکړې دې ، نوپه دې خاطر به ورته درې ورځې پادشاهي ورکوي.

اوس چې همايون روغ رمټ شوې و ، او د ناروغتيا څخه خلاص شوې و ، نوپه دې خاطر يې غوښتل چې خپلې ژمنې ته عملي بڼه ورکړي ، هغه نظام هلته اګرې ته را وباله او په خپل موجوديت کې يې په تخت کيناوه او ټولو اميرانو ته يې د هغه د ادب کولو حکم وکړ. کله چې نظام شهنشاه شو نو تر درې ورځو پورې هغه چې څوک غوښتل مالا مال کړ او انعامونه يې ورکړل ، تر درې ورځو پورې د شاهي نظام ټوله واکمني د همغه سره وه ، د همايون ورور مرزا پهنډال په دې وخت کې دلته موجود نه و. د هغه نه علاوه پاتې ټول وزيران او رئيسان او سلاکاران هملته په اګره کې موجود وو. د هغوې هر يوه د نظام اطاعت او فرمانبرداري کوله.

په اګره کې له يوه اړخه د مغلو په دربار کې د خوشحالۍ جشنونه وو او د بل اړخه د سازشونو جالونه هم خپريدل. او د دې کار له پاره دا اخري ورځ وه ، ځکه چې نظام ته يې د پادشاهۍ په ورکولو سره خوشحالي ګانې کولې.

همايون د خپلې خوش مزاجۍ په اساس د خپلې کورنۍ ټول غړي خوشحالول خو د همايون خپل ورور کامران په خپله د همايون پر خلاف د سازشونو دغه جال خپراوه. همايون کامران ته د دهلي د تخت نه علاوه نور هر څه ورکړي و او په اخر کې د خپلې پيرزوينې له مخې هغه ته د جاګير کاغذونه هم ورکړل خو د همايون دغې ټولو نيکيو او پيرزوينو د هغه زړه و نه نيو.

هغه په ځرګنده توګه د همايون وفاداره و او ډيرې لافې به يې هم وهلې او ويل به يې چې هغه په يواځې ځان د شيرشاه سوري د وهلو له پاره بسنه کوي ، خو په حقيقت کې د هغې په ويناو کې هيڅ ريښتونولي نه ليدل کيده. په دې ورځو کې کامران مرزا په ناڅاپي توګه ناروغه شو او هغه ته دا شک پيدا شو چې د هغه مشر ورور همايون ورته زهر ورکړې دي. د همايون په څير د نيک سيرت خاوند ورور په اړه دا سې شک پيدا کول په خپله د کامران مرزا ذلالت او جهالت باندې دلالت کاوه.

هغه وخت چې د اګرې په دربار کې دا ډول پيښې روانې وې نو په همدې ورځو کې همايون ته خبر راغې چې شيرشاه سوري د خپل لښکر سره د ګنګا د درياب غربي څنډې ته را رسيدلی دې او د جنګ له پاره تيار دې. کله چې د شيرشاه سوري د مقابلې له پاره همايون د خپل هر ورور څخه د فوځ د را استولو غوښتنه وکړه نو کامران مرزا ورسره د هر ډول تعاون او کومک څخه ډډه وکړه.

په دې وختو کې همايون د کامران مرزا پورې ډيرې هيلې تړلې وې ، ځکه کامران د کابل حکمران و. په همدې وخت کې همايون کامران مرزا ته په برګه وويل چې خپل يوشمير فوځونه او سرداران له ما سره کومک ته پريږدي ، خو کامران د هغه پر خلاف سلوک خپل کړ او تر اخري حده پورې يې هڅې وکړې چې خپل ټول خلک له ځانه سره بيرته يوسي. هغه په پوره ظالمانه توګه د همايون غوښتنه رد کړه او خپل ټول فوځ يې له ځانه سره واخست. په دې وخت کې چې همايون د هغه تعاون ته سخته اړتيا درلوده کامران په ډيره بې حيايي سره د اګرې څخه کوچ وکړ او د لاهور په لور رهي شو.

د يو شمير تاريخپوهانو وينا ده چې د لاهور په لور د کامران مرزا کوچ کول د ډيرې ناپوهۍ او غلطيو سره ملګري و ، د هغوې په آند چې کامران مرزا دا عمل د چغتايي دورپاې ته رسيدل او د شيرشاه سوري د عروج له پاره بنسټ وګرزيد. يوشمير په دې آند هم دي چې که چيرې کامران مرزا دا سې نا پوهه قدم نه وې پورته کړې نو شيرشاه سوري به هيڅکله هم د تخت او تاج خاوند شوې نه و. خو دا ټول د خيالاتو الوت دې ، حقيقت دا دې چې يو کامران نه و چې د شيرشاه سوري مخه يې نيولې وې ، بلکه که د هغه په څير څو درجنه کامرانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم را پیدا شوي وې نو بیا به یې هم دشیرشاه سوری مخه نه وې نیولې او نه به یې هغه دخپلو مخو څخه را ګرځولې وې. که چیرې کامران د اګرې څخه لاهور ته نه وې تللې نو توپیر به یوائې همدومره و چې جنګ به لږ څه نور هم اوږود شوې و.

د اګرې څخه دلاهور په لور د کامران مرازکوچ او بیا دهغه ځایه کابل او قندهار ته دهغه ورتګ پخپله د مغلو له پاره ډیره ګټور وګرزیدل ،ځکه هغه وخت چې کامران مرزا د لاهور څخه کابل ته وخوزید نو په همغه ورځو کې دایران شهنشاه طهنماسب هم په حرکت راغې اوغوښتل یې په قندهار او کابل باندې ولکه وکړي نو که چیرې همداسې شوي وې نوبیا خو به دکامران مرزا حالت د دوبې دسپې په څیر ګرزیدل چې نه به چا په کور کې پریښوده اونه به یې په بیدیا کې شپه تیریده. ددې خبر په اوریدو سره کامران مرزا په ډیره بیړه د لاهور څخه کابل ته ولاړ ، هلته یې خپل فوځونه منظم کړل اوبیا یې دقندهار په لور حرکت وکړ ،کله چې د ایران پادشاه ته خبر ورسید چې دهمایون ورور کامران لکه د توپان اوسیلۍ په څیر دکابل څخه د قندهار ددفاع له پاره را روان دې نو هغه د جنګ کولو څخه شاته شو ، په دې توګه دکامران مراز لاهور ته اوبیا دهغه ځآیه کابل ته راتګ اوبیا د خپل فوځ سره دقندهار په لور کوچ کولو په اساس قندهار دایرانیانو د ولکې څخه په امن کې پاته شو .

دکابل او قندهار په لور دکامران مرزا د تللو وروسته همایون خپل زړه نه و تش کړې ، هغه تر ۱۵۴۰ کاله پورې خپل ځان تیار کړې و ، دډیرو ستر و سترو ستونزو سره سره بیاهم همایون دشیرشاه په مقابل کې دیر ستر فوځ برابر کړې و ، دهغه دتوپ خانې ځواک د شیرشاه سورې د توپخانې څخه څو برابره قوي و ، هغه خپل تجربه لرونکې افسران را مخته کړل ، بیا همایون دخپل همدغې ستر ځواکمن لښکر سره یو ځاې د تلوج په لور کوچ وکړ ، شیرشاه سوری هم په همدې سیمه کې پړاو کړې و .

داګرې څخه د کوچ کولو وروسته دهمایون لښکر ګنګا ته د ورسیدو له پاره تر ټولو نژدې لاره خپله کړې وه ، دغه لاره اوس د فرخ اباد او شمس اباد د سیمو څخه تیریږی اودبوجپور سیمې ته رسیږي. چې شیرشاه سورې د خپل لشکر سره همدلته پروت و.

شیرشاه سوری هم ډیر محتاط انسان و ، هغه هم دجنګ پیلامه کول نه غوښتل ، هغه په دې آند و چې تر هغو چې دهغه سالار خواص خان د بنګال څخه راستون نه شي نو د همایون سره باید ټکر ونه کړي . هغو غوښتل چې دهمایون په خوزښتونو باندې څارنه وکړي. خوکله چې همایون دخپل لشکر سره یو ځاې بوجپور ته را ورسید نوبیا شیرشاه سوری خپل شاته تګ بیغرتي و انګیرله نو په دې خاطر د جنګ کولو له پاره تیار شو .

دبوجپور په سیمه کې دواړه لښکرې یو بل ته مخ په مخ و دریدې ، د شپاړسمې پیړۍ د غیږې دا ډاګ دګنګا د دریاب په غربي برخه کې پروت و ، خو اوس ددریاب د بهید و دبهیر دبدلیدو په اساس شرقی غاړې ته راغلې دې. په هغه وخت کې به ددې ګودر څخه ډیرې قافلې تیریدې ،دا ځاې د اوسنې فرخ اباد څخه اته میله لرې جنوب شرق او د قنوج دښاره دیرش میله لرې شمال غرب کې پروت دې.

شیرشاه سوری د پخوا څخه خپل فوځ د ګنګا ددې غاړې څخه لرې کړې و ، دهغه پلان داو چې هغه به د قنوج په سیمه کې تر هغو همایون ددریاب څخه تیرید و ته نه پریږدي ترڅو چې په ستراتیژیکې توګه حرب دده په ګټه نه وي تمام شوې. هغه ددې مقصد له پاره په دریاب کې شته ټولې کشتۍ و نیولې او ټولې یې د ګنګا په شرقی برخه کې سره را ټولې کړې ، دبله اړخه هلته په ګنګا کې به دشیرشاه سوری د کشتیو بیړۍ په پرلپسې توګه تلې راتلې او په غربې څنډو کې پرتو افغان فوځونو سره به یې اړیکې جوړول. همدې بیړۍ د بهوجپور څخه تر هانګر بورې د ټولو ګودرونو څارنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو حالات داسې شوې وچې ددریاب په یوې غاړه باندې همایون دخپلو لښکرو سره پړاو کړې و ،په داسې حال کې چې ددریاب په بله غاړه باندې شیرشاه سوری په همدې ګودر دخپلو لښکرو سره پړاو کړې و. همایون د شیرشاه سوری د ځواک دمعلومولو له پاره دخپل لښکر یوه برخه د شپینی عملیاتو له پاره هلته ور ولیږله. دهمایون دعسکرو دغې ډلې دشپې له اړخه دګنګا دریاب په پورتنۍ برخه کې تر پښو لاندې کړاو بیا یې د شپې په تیاره کې د شیرشاه سوری په لښکر باندې عملیات وکړل. خوشیرشاه سوری هم بیدار و ، هغه دا عملیات په شا وتمبول او دهمایون دغه ډله چې د شیرشاه سوری د ځواک دمعلومولو له پاره راغلې وه په تیښته و تښتیدل.

دبهوجپور په سیمه کې د شیرشاه سوری په لاس د همایون ددې چریکې ډلې دناکامۍ نه وروسته ، همایون خپل جنګي پلان بدل کړ ، اوس نو دهغه په لښکرو کې دشیرشاه سوري څخه ویره او دهشت را پیدا شوې و ، په دې خاطر دهغه لښکر کرار کرار د دریاب دغاړې څخه په تللو پیل وکړ. هغوی اراده درلوده چې منزل په منزل تر قنوج پورې ځانونه ورسوي.

دقنوج په لور د تللو په وخت کې د دریاب په غاړه همایون ته دشیرشاه سوری څو کیشتۍ تر سترګو شوې ، همایون په هغو باندې د ډزو کولو حکم وکړ ، ددې ډزو په پایلو کې د شیرشاه سوری یوه ډیره ستره کیشتۍ په اوبو کې غرقه شوه . اوپه دې توګه همایون دخپلو لښکرو سره یو ځای ددریاب په غاړه غاړه تر قنوج پورې ورسید.

د بله اړخه شیرشاه سوری هم د مغلو دلښکرو سره یوځای د دریاب په بله غاړه باندې په کرار کرار روان و. قنوج ته د رسیدو سره سم ددواړو خواو لښکرې یو دبل په مقابل کې سره و دریدې. دهمایون د لښکر تر مخه چې دګنګا ددریاب کومه برخه وه نو دهغې شاته د قنوج ښار ګوتې پروت و. دهمدې ځآیه همایون ته د خوراک څښاک او جنګ وسایل را رسیدل. دقنوج ښار چې څه موده دګنګا په غاړه اباد شوې و اوس د دریاب څخه پنځه میله لرې په غربي برخه کې پاته و .

په داسې حال کې چې ددریاب په هغه بله غاړه د شیرشاه سوری لښکرو پړاو کړې و ، دا سیمه دبلګران سره نژدې پرته وه اوشیرشاه سوری غوښتل د بلګران سیمه دخپل ځواک او قوت مرکز وګرځوي. په دغه سیمه کې چې شیرشاه سوری پړاو کړې و د جونپور څخه تر شمال شرق پورې شپږ میله واټن لري او د قنوج څخه یې هم واټن همدومره ویل کیږي.

همایون د خپل لښکر سره یو ځای د ګنګا په غربي سیمه کې پړاو کړې و په داسې حال کې چې شیرشاه سوري دهمدې ګنګا په شرقي برخه کې پروت و. په دې توګه دواړو لښکرو په خپل منځ کې دریاب پوله ټاکلې وه او ارام پراته و . نه همایون او نه شیرشاه ، یوهم ددریاب څخه تیریدو ته تیار نه و. او تر څنګ یې هیڅ اړخ نه غوښتل چې د جنګ په وخت کې یې دریاب شاته وي. په دې خاطر دواړه ددې منتظر وو چې کوم یو به لمړی ددریاب څخه د راتیریدو هڅې کوي.

دمیاشتو میاشتو انتظار نه وروسته همایون د دریاب څخه د راتیریدو هڅې پیل کړې هغه غوښتل چې دجنګ پیلامه پخپله وکړي ترڅو څه پایلې تر لاسه کړي خو دبله اړخه به شیرشاه سوری ددریاب څخه د همایون د فوځونو د راتیریدو هره هڅه شنډوله.

په حقیقت کې شیرشاه سوري نه غوښتل دهمایون سره په دې وخت کې لاس وپنجه شي ، هغه ته دخواص خان له اړخه دکوم خبر د راتلو اوپخپله دخواص خان دراتګ هیله وه . هغه غوښتل چې خواص خان دخپل لښکر سره یو ځای دلته را ورسیږي نوبیا به دهمایون پر خلاف پریکنده جنګ ته ملاتړي. په همدې خاطر دواړو لښکرو د ګنګا ددریاب په دواړو غاړو باندې پړاو کړې و اومیاشتې میاشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته پراته و. همایون به چې کله هم د دریاب څخه د تیرید و هڅه کوله نو شیرشاه سوری به د هغه وړاندی تګ شنډاوه ،تر څو خواص خان ورسره را یوځای شي.

**۵۱**

دشیرشاه سوری څخه د جدا کیدو وروسته لمړی خواص خان د ګوډ ښار ته ولاړ، هلته د ګوډ په ښار کې یې د هغه ځای دحاکم حضرخان سره خبرې وکړې او هغه ته یې دا ډاګیزه کړه چې دښمن پرې دحملې پلان لري ، نو په دې خاطر دې دخپل لښکر سره یو ځای تیار و اوسي ، بیا یې خپله برخه لښکر له ځانه سره واخست او د جنوب په لور ولاړ. په هغه لاره چې پالامو د مهارت او پربتګالیانو مشترک لښکر له ځانه سره را خیستې و او د ګوډ په لور را روان و نو خواص خان ورته دشپې په تیارو کې همله په لاره کې کمین و نیوه تر څو په پالامو باندې ناڅاپي یرغل وکړي او هغه دخپل لشکر سره د نابودی کندې ته وسپاری. خواص خان په دې خاطر د دې پلان څخه کار واخست چې د خواص خان مخبرانو هغه ته خبر ورکړې و چې خونړې او ظالم پالامو د خپلو لښکرو سره یو ځای د ګوډ د ښار په لور را روان دې ، اودهغه د لشکرو شمیره د خواص خا ن د لشکر څخه نژدې پنځه هومره زیاده ده . نو په دې اساس خواص خان ددښمن دلشکرو د شمیرې د په نظر کې نیولو په اساس همله د ګوډ په لور په تلونکې لاره باندې کیناست، هغه غوښتل په پالامو باندې شبخون وکړي او په دې توګه خپله غلبه او فتحه حتمي وګرځوي.

دبله اړخه د پالامو مخبرانو هم هغه ته خبر ورکړې و چې شیرشاه سوری د ګنګا په لور تللې دې او دبنګال د ساتنې له پاره یې خواص خان دخپل نیمایي لښکر سره یو ځای پری ایښې دې. خو خواص خان د پالامو مخبرانو ته د دې موقع ورنه کړه چې پالامو ته دهغه په لاره کې دخواص خان دکمین د نیولو په اړه خبر ورکړي ، او ددې نه یې خبر کړي چې خواص خان دخپل لشکر سره یو ځای د ګوډ په لاره کې ورته ناست دې. هغه دکمین نیولو د مخه تر څو میلو واټن پورې خپل نظامي مخبران خپاره کړي و او هغوې په خپل نوبت سره دپالامو د ټولو مخبرانو د له منځه وړلو کار تر سره کړې و. په دې اساس پالامو ته دخواص خان کمین د کیناستو په اړه کوم معلومات تر لاسه شوې نه و.

دشپې په تیارو کې ، هغه وخت چې پالامو په ډیره بې احتیاطی سره دخپل لښکر تر څنګ د ګوډ په لور په لاره رهي و، نو د شپې د تیارو نه په ګټې اخستو سره پرې خواص خان توپانې سیلیو او د اور دبځرکو په څیر حمله وکړه. پالامودخواص خان له لورې دداسې ناڅاپي حملې اویرغل انتظار نه درلود. هغه خو په دې آند و چې شیرشاه سوری د ګنګا د ګودر په لور ورغلې دې اوخواص خان دخپلې برخې دلښکر سره یو ځای دګوډ په شار کې دهغه دحملې انتظار باسي ،نو په دې اساس پالامو دا فکر هم نه کاوه چې دا حمله دې خواص خان په خپله کړې وي.

دپالامو په لښکر باندې په بې خبری کې خواص خان ددې ناڅاپي حملې څخه پوره پوره ګټه پورته کړه ، هغه په هغه ځواک ، هغه قوت ، هغه میړانې او هغه جرءت سره د پالامو په لښکر باندې حمله وکړه چې دپالامو لشکر یې په خپل منځ کې سره پرې کړ اودهغوې دمنځ او اړخونو څخه په کې تیر را تیر شو . اوپه دې ترتیب یې دپالامو د لښکرو زرګونه کسان د تیغه تیر کړل.

دپالامو د لښکرو په منځ کې د ورګډیدو او دهغوې دمنځنیو لیکو دماتولو وروسته خواص خان ، دهغه د لښکرو په شاتنی برخې باندې یرغل وروست. په دې یرغل کې هم خواص خان هغه میړانه و ښووله چې د پالامو د لښکر وروستنی لیکی یې د فنا سره مخ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې پالامو د خپل لښکر د مخکنيو ليکو څخه شاتنيو ليکو ته راته ، تر هغه وخته پورې خواص خان د هغه شاتنۍ ليکې په پوره ځواک سره ځپلې وې.

پالامو دخپل لښکر ددې حالت په کتلو سره ډير وارخطا شو خو سمدستې يې هڅه وکړه خپل ځان را سنبال کړي ، هغه بې له ځنډه د لښکر پاتې برخه را واخسته او دخواص خان پر خلاف يې خپله وينه تويونکې حمله پيل کړه. خو تر دې وخته پورې خواص خان پالامو ته پوره زيان وررسولې و ، دپالامو لښکرو ته دهمدې زيان په واسطه د خواص خان لشکرې په ډيرې قوې حوصلې سره مخکې تللې ، په دې اساس کله چې پالامو په خواص خان باندې ځوابي يرغل وکړ نو دخواص خان په لښکرو يې کوم خاص اغيز و نه کړ. په همدې وخت کې دواړو لښکرو دبنګال په دې دښتو کې يو دبل پر خلاف خپلو وينه تويونکو حملو او جنګ ته دوام ورکړ. دشپې په همدې تيارو کې د بنګال زمکې دمړو او وينو دبهير نمونې وګرزيدې

دشپې په تيارو کې د پيل شوې دغه جنګ په پايلو کې خواص خان پالامو ته ډيره بده ماتې ورکړه ،اودهغه لښکر يې په عامه توګه د تيغه تير کړ. دسهار د لمر د راختلو تر مخه خواص خان د پالامو د ټول لښکر څخه بيغمه شوې و ، پالامو هم په دې جنګ کې له منځه تللې و اودهغه د فوځ په ټولو شيانو او وسايلو باندې د خواص خان لشکرو ولکه کړې وه ، بيا خواص خان دخپلو ټولو شتو سره يو ځاې ، دجنګ ټول لاسته راغلي آسونه او دسپرلۍ نور حيوانات له ځانه سره بار کړل او د ګنګا ددرياب هغه لورې ته يې دخبل فوځ سره يو ځاې کوچ وکړ. او هغه ځاې ته ولاړ چيرې چې ورته شيرشاه سوری انتظار کاوه

**۵۲**

کله چې شيرشاه سوری ته خبر ورسيد چې دهغه ستر سالار خواص خان دخپلې برخې دلښکر سره يو ځاې دهغه پړاو ته رانژدې شوې دې ،نوهغه سمدستي همايون ته خپل قاصد ور واستوه ، هغه قاصد د همايون سره ددرياب په هغه غاړه يو ځاې شو او همايون ته يې د شيرشاه سور ي داپيغام ور ورساوه چې : اوس نو ستا خوښې پورې اړه لرې چې ايا ته ددرياب دې غاړې ته راپوريوځې او که زه ددرياب هغه غاړې ته در پوريوزم او له تا سره و جنګيږم او که ستا دفوځ د راتلو له پاره ګودر پريږدم تر څو ستا لښکر د جنګ له پاره دی لورې ته را واوړي. همايون بيرته دهمدې قاصد په خوله شيرشاه سوری ته ځواب را وليږه چې شيرشاه سوری بايد د درياب څخه د تيريدو په خاطر ګودرونه خالي کړي تر څو زه دخپل لښکر سره يو ځاې ددرياب څخه تير او د جنګ نغاره همله و ټنګوم. شيرشاه سوري د همايون ددې وړانديز سره موافقه وکړه او خپل لښکر يې د ګنګا ددرياب دغاړې څخه درې څلور ميله واټن لرې تر بلګران پورې نژدې ور ورساوه اوهملته يې پړاو وکړ.

بلګران ته په ور رسيد و سره شيرشاه دخپل لښکر د دفاع له پاره خند قونه وويستل او هغه يې هملته کلابند کړ ، ددې خند قونو شاته يې خپله توپخانه نصب کړه او په هغې يې تجربه لرونکې ماهرين و ټاکل او ورته يې حکم وکړ چې د جنګ په وخت کې ملاتړلې ولاړ وي.

هغه وخت چې شيرشاه سوری د درياب ګودر پريښود او شاته تر بلګرامه پورې ولاړ نو بيا دهمايون دحکم له مخې ددرياب څخه دتيريدو له پاره يو پول جوړ کړل شو اوهمايون پرې دخپلو لښکرو سره يو را تيرشو . ددرياب څخه د راتيريدو وروسته چې همايون دخپل لښکر سره يو ځاې په کومه سيمه کې پړاو کړې و ، دهغه ځاې ښې اړخ ته يوه ناله وه. دا ناله به د برسات په موسم کې د اوبو ډکيده او اوبه به يې د ګنګا په درياب کې ور پريوتې. همايون هم دپړاو د ځاې څخه دشيرشاه سوری په څير يو ستر خندق وويست ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپونه یې د هغې شاته نصب کړل او نوې مورچې یې جوړې کړې. همایون د شیرشاه سوری په مقابله کې د جنګ له پاره همغه طریقه خپله کړه چې څه موده مخته د پاني پت په میدان کې بابر د ابراهیم لودهي په مقابل کې استعمال کړې وه.

دګنګا د دریاب څخه د تیرید و وروسته، پر هغه ځای چې همایون د خپل لښکر سره یو ځای پړاو کړې هغه یو پاک ډاګ او پراخه میدان و. هلته به په بارانو کې او به راتللې. دې ځای د بلګرانه نژدې درې میله واټن درلود. څرنګه چې همایون د اپریل په میاشت کې دګنګا د دریاب څخه تیر شوې و او هملته یې پړاو کړې و تر څو دشیرشاه سوری سره و جنګیږي. هغه په دې ډاډمن و چې د بارانونو موسم لرې دې او په ګنګا کې هم د کلنې سیلاب د راتلو شونتیاوې کمې دې.

نژدې یوه میاشته شیرشاه او همایون یو بل ته مخامخ پراته و. هیڅ لورې د جنګ د پیلامې له پاره لمړیتوب نه کاوه. تر دې وخته خواص خان هم دشیرشاه سوري سره را یو ځای شوې و، اوس نو شیرشاه سوري هم ډاډمن شوې و ځکه چې د هغه متحده لښکر د جنګ کولو له پاره هره ګړی تیار و لاړ و.

د بارانونو موسم لا تر اوسه پورې ډیر لرې و. خو داسې ښکاری ده چې د همایون ستورې په ځرخید و وې، ځکه د ۱۵۴۰ ز کال د مئ په میاشت کې دبادونو، ګرمیو او توپانو له کبله دوخته مخته بارانونه پیل شول. او دګنګا په دریاب کې د سیلاب د راتلو په اساس د مغلو دلښکرو پړاو د اوبو لاندې راغې. په دې خاطر همایون خپل پړاو د مخکنی ځای څخه پورته کړ او لږ څه پورته ځای ته یې یوړ.

د پړاو ددې انتقال نه وروسته همایون د شیرشاه سوری سره د ټکر کولو له پاره هوډ وکړ. ددې هوډ سره سم یې په خپلو لښکرو کې د جنګ نغاره و ټنګوله، دشیرشاه سوری لښکر هم ددې نغارې په مقابل کې خپل ډول وواهه. په دې توګه دواړه لښکرې د جنګ له پاره په لیکو کې تیارې شوې.

همایون خپل لښکر په پنځو برخو وویشه، د لښکر منځنی برخه یې د خپلې قومندې لاندې پریښوده، ښې اړخ له پاره یې خپل یو باوری سالار و ټاکه او د چپ اړخ له پاره یې هم خپل ورور مرزا عسکري قومندان و ټاکه، دلښکرو په لمړنی ډله باندې یې خپل بل ورور مرزا بهندال قومندان و ټاکه، او دلښکرو پنځمه برخه یې دخپل کاکا زوې ناصر مرزا تر قومندې لاندې ورکړه. ددې پنځمې برخې عسکرو ته یې دا دنده هم ور وسپارله چې هغوې به دلښکرو د شا له اړخه دوه کارونه تر سره کوي، لمړی دا چې هغوې به دلښکرو د پړاو ساتنه کوي اودویم دا چې د شا له اړخه به څارنه کوي چې دښمن پرې د شا له اړخه حمله ونه کړي او په دې ترتیب لښکر ته زیان و نه رسیږي.

دبله اړخه شیرشاه سوری خپل لشکر د پنځو په ځای په څلورو برخو وویشه. منځنی برخه شیرشاه سوري دخپله ځانه سر و ساتله تر څنګ یې هیبت خان هم له ځانه سره ملګرې کړ. دښې اړخ قومنده یې جلال الدین جالو ته ورکړه او دهغه سره یې یو شمیر نور سرداران او سالاران دمعاونینو په توګه و ټاکل. دچپ اړخ قومنده یې دخپل مشر زوې عادل خان ته ورکړه او برهم جیت او څو نور سالاران یې ورسره معاونین وټاکل، خو دلښکرو لمړنی ډله یې دخواص خان دقومندې لاندې ورکړه، په دې ډله کې د شیرشاه سوری د جنګ د ډګر ډیرغښتلې او تکړه زړه ور عسکر او سالاران ور ګډ شوې و.

همایون د جنګ پیلامه وکړه. دهغه ورور مرزا بهندال لمړنې کس و چې جنګ یې پیل کړ. هغه دهمایون دلښکرو دلمړنی مخکښې ډلې قومندان و، مرزا بهندال یو اوږود چکر و خوړ او بیا یې د شیرشاه سوری د فوځ په چپ اړخ باندې ګذار وکړ، دشیرشاه سوری د فوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې برخې قومنده د جلال الدين جالو په لاسو کې وه . د مرزا بهندال د حملې نه وروسته دهغه وروړ مرزا عسکری هم په فعالیت پیل وکړ ، هغه هم د جلال خان جالو په لښکرو ور پریوت. دواړو مرزا عسکری او مرزا بهندال دا انګیرله چې که چیرې دواړه په یوه وارد شیرشاه سوري د عسکرو په دې برخه چې د جلال خان جالو تر قومندې لاندې دې حمله وکړي او هغوې له منځه یوسي نو سوبه به یې ډاډمنه شي.

خودا دمرزا عسکري او مرزا بهندال بې عقلي ثابته شوه ، ځکه هغه وخت چې مرزا عسکری او مرزا بهندال د جلال الدین جالو د قومندې لاندې عسکرو باندې ور پریوتل نو په همدې وخت کې خواص خان هم د یوه توپانې حرکت په اساس دهمایون د فوځ په اخري برخې باندې یرغل ور وست او دمغلو د لښکرو په اخري برخه چې قومنداني یې د همایون د کاکا زوې ناصر خان مرزا کوله تر خپل خونړی او ناڅاپي برید لاندې راوست. خواص خان په ډېره کمه موده کې د ناصر مرزا برخه لښکر و ځپاوه ، دهغه لښکر یې دتیغه تیر کړ او پخپله ناصر مرزا و تښتید اودهمایون په زړه کې ورننوت. د ناصر مرزا د لښکرو د تباهۍ وروسته خواص خان د مغلو دلښکر ښې لورې ته چې د مرزا عسکري د قومندې لاندې یې حملې کولې ورغې ، خو لمړی یې د مرزا بهندال دلمړنیو جنګیدونکو ډلو تر شا حمله وکړه ، دهغه دا حمله دومره سخته او خونړۍ وه چې دهمد ې حملې له مخې دشیرشاه سوری دغه ستر قومند ان خپل ځانته د فتحې ټولې دروازې پرانستلې

مرزا بهندال د جنګ په پیلامه کې ډیره ستره غلطی کړې وه ، هغه ته په کار و چې دخپلو لمړنیو مخکښو جنګي کسانو سره یې دخواص خان حرکات تر څارنې لاندې نیولې وې،هغه یې دخپل ځان سره مشغول کړې وې او پری ایښې یې واې چې د لشکر و نورې ډلې یو دبل سره ټکر وکړی اودهر څوک دخپل برخه لیک څخه په ښه توګه خبر شي.

خو داسې و نه شول ، هغه وخت چې مرزا بهندال چکر وخوړ او بیا یې د جلال الدین جالو په لشکرو باندې را کیښودل نو مرزا عسکري هم دهغه سره ملګرې شوې و او دشیرشاه سوری دمیمنې اړخ په ریښتنې توګه ددې دواړو دمقابلې کولو توان نه درلود او وروسته تللو ته اړ شوې و ، خو د مرزا بهندال ددې غلطیو څخه خواص خان ډېره ګټه پورته کړه اودهمایون په ډیرې کمزورې برخې باندې یې حمله وکړه او دا کمزورې برخه د لښکرو شاتنۍ برخه وه چې قومنده یې دمرزا ناصر په لاسو کې وه ،خواص خان دمغلو دلښکرو دا برخه دسترګو په رپ کې له منځه یوړه.

د مغلو دلښکرو د شاتنۍ برخې د له منځه وړلو وروسته کله چې خواص خان د مغلو دلښکر په لمړنۍ مخکښې برخې او دهغوې په میسره باندې یرغل وروست نو دهمایون د لښکر زړه هم دهغې ددې ناڅاپي حملو څخه اغیز من شوې و ،ددې حتمي پایلې دا شوې چې ددې برخې لښکر هم د خواص خان حملو د هیبت څخه د تیښتې لارې خپلې کړې او د پناه په خاطر یې دخپل لشکر منځنۍ برخې ته ځانونه وررسول.ددې برخې قومنده پخپله دهمایون په لاسو کې وه. په دې توګه د همایون دلښکر هغه برخه چې په منځ کې پرته وه هغه ددې را تښتیدلو عناصرو دبیروبار په اساس نه مخته تللې شوه او نه یې چپ او ښې لورې ته قدم اخستلې شو ، اونه د هغوې له وجې توپخانې خپل کار پیلولې شو ،که څه هم دهغوې په مقابل کې دښمن پروت و خو هغوې د خپلو راتښتیدلو دهجوم په واسطه مات رامات شوې و.

۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشیرشاه سوری څخه د جدا کیدو وروسته لمړی خواص خان د ګوډ ښار ته ولاړ ، هلته د ګوډ په ښار کې یی د هغه ځای د حاکم حضرخان سره خبرې وکړی او هغه ته یی دا ډاګیزه کړه چې د ښمن پرې د حملې پلان لري ، نو په دې خاطر دې د خپل لښکر سره یو ځای تیار و اوسي ، بیا یی خپله برخه لښکر له ځانه سره واخست او د جنوب په لور ولاړ . په هغه لاره چې پالامو د مهارت او پربتګالیانو مشترک لښکر له ځانه سره را خیستې و او د ګوډ په لور را روان و نو خواص خان ورته د شپې په تیارو کې هملته په لاره کې کمین و نیوه تر څو په پالامو باندې ناڅاپی یرغل وکړي او هغه د خپل لشکر سره د نابودۍ کندې ته وسپاری. خواص خان په دې خاطر د دې پلان څخه کار واخست چې د خواص خان مخبرانو هغه ته خبر ورکړې و چې خونړې او ظالم پالامو د خپلو لښکرو سره یو ځای د ګوډ د ښار په لور را روان دې ، او د هغه د لشکرو شمیره د خواص خا ن د لشکر څخه نږدې پنځه هومره زیاده ده . نو په دې اساس خواص خان د دښمن دلشکرو د شمیرې د په نظر کې نیولو په اساس هملته د ګوډ په لور په تلونکې لاره باندې کیناست ، هغه غوښتل په پالامو باندې شبخون وکړي او په دې توګه خپله غلبه او فتحه حتمې وګرځوي.

دبله اړخه د پالامو مخبرانو هم هغه ته خبر ورکړې و چې شیرشاه سوری د ګنګا په لور تللې دې او دبنګال د ساتنې له پاره یی خواص خان د خپل نیمایی لښکر سره یو ځای پری ایښې دې. خو خواص خان د پالامو مخبرانو ته د دې موقع ورنه کړه چې پالامو ته د هغه په لاره کې دخواص خان د کمین د نیولو په اړه خبر ورکړي ، او د دې نه یی خبر کړي چې خواص خان د خپل لشکر سره یو ځای د ګوډ په لاره کې ورته ناست دې. هغه د کمین نیولو د مخه تر څو میلو واټن پورې خپل نظامي مخبران خپاره کړي و او هغوی په خپل نوبت سره د پالامو د ټولو مخبرانو د له منځه وړلو کار تر سره کړې و. په دې اساس پالامو ته د خواص خان کمین د کیناستو په اړه کوم معلومات تر لاسه شوې نه و.

دشپې په تیارو کې ، هغه وخت چې پالامو په ډیره بې احتیاطۍ سره د خپل لښکر تر څنګ د ګوډ په لور په لاره رهي و ، نو د شپې د تیارو نه په ګټې اخستو سره پرې خواص خان توپانې سیلیو او د اور د بڅرکو په څیر حمله وکړه . پالامو د خواص خان له لورې د دا سې ناڅاپي حملې او یرغل انتظار نه درلود . هغه خو په دې آند و چې شیرشاه سوری د ګنګا د ګودر په لور ورغلې دې او خواص خان د خپلې برخې د لښکر سره یو ځای د ګوډ په شا رکې د هغه د حملې انتظار باسي ،نو په دې اساس پالامو دا فکر هم نه کاوه چې دا حمله دې خواص خان په خپله کړې وي.

دپالامو په لښکر باندې په بې خبرۍ کې خواص خان د دې ناڅاپې حملې څخه پوره پوره ګټه پورته کړه ، هغه په هغه ځواک ، هغه قوت ، هغه میړانې او هغه جرءت سره د پالامو په لښکر باندې حمله وکړه چې د پالامو لشکر یی په خپل منځ کې سره پرې کړ او د هغوی منځ او اړخونو څخه په کې تیر را تیر شو . او په دې ترتیب یی د پالامو د لښکرو زرګونه کسان د تیغه تیر کړل.

دپالامو د لښکرو په منځ کې د ورګډیدو او د هغوی د منځنیو لیکو د ماتولو وروسته خواص خان ، د هغه د لښکرو په شاتنۍ برخې باندې یرغل وروست. په دې یرغل کې هم خواص خان هغه میړانه و ښووله چې د پالامو د لښکر وروستنۍ لیکی یی د فنا سره مخ کړې. هغه وخت چې پالامو د خپل لښکر د مخکنیو لیکو څخه شاتنیو لیکو ته راته ، تر هغه وخته پورې خواص خان د هغه شاتنۍ لیکې په پوره ځواک سره ځپلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پالامو دخپل لښکر ددې حالت په کتلو سره ډېر وارخطا شو خو سمدستې يې هڅه وکړه خپل ځان را سنبال کړي ، هغه بې له ځنډه د لښکر پاتې برخه را واخسته او دخواص خان پر خلاف يې خپله وينه تويونکې حمله پيل کړه. خو تر دې وخته پورې خواص خان پالامو ته پوره زيان ور رسولې و ، دپالامو لښکرو ته دهمدې زيان په واسطه د خواص خان لشکرې په ډېرې قوې حوصلې سره مخکې تللې ، په دې اساس کله چې پالامو په خواص خان باندې ځوابي يرغل وکړ نو دخواص خان په لښکرو يې کوم خاص اغيز و نه کړ. په همدې وخت کې دواړو لښکرو دبنګال په دې دښتو کې يو دبل پر خلاف خپلو وينه تويونکو حملو او جنګ ته دوام ورکړ. دشپې په همدې تيارو کې د بنګال زمکې دمړو او وينو دبهير نمونې وګرزيدې

دشپې په تيارو کې دپيل شوې دغه جنګ په پايلو کې خواص خان پالامو ته ډېره بده ماتې ورکړه ،اودهغه لښکر يې په عامه توګه د تيغه تير کړ. دسهار د لمر د راختلو تر مخه خواص خان د پالامو د ټول لښکر څخه بيغمه شوې و ، پالامو هم په دې جنګ کې له منځه تللې و اودهغه د فوځ په ټولو شيانو او وسايلو باندې د خواص خان لشکرو ولکه کړې وه ، بيا خواص خان دخپلو ټولو شتو سره يو ځاې ، دجنګ ټول لاسته راغلی آسونه او دسپرلۍ نور حيوانات له ځانه سره بار کړل او د ګنګا ددرياب هغه لورې ته يې دخبل فوځ سره يو ځاې کوچ وکړ. او هغه ځاې ته ولاړ چيرې چې ورته شيرشاه سوری انتظار کاوه

د غم او مصيبت په دغه ډک ساعت کې ، يعنې هغه وخت چې خواص خان دهمايون فوځ په ډېره بده ورځ اخته کړې و نو شيرشاه سوری هم دمغلو دلښکرو په ميسره باندې حمله وکړه ، دمغلو ددې ځاې لورې قومندان مرزا عسکری و. د شيرشاه سوری دا چال ډېر پريکنده و ځليد ،ځکه د مغلو لښکر په ميسره کې د شيرشاه سوری تر مخ ټينګ نه شو اوهغوې هم د لښکرو زړه ته ور وتښتيدل. په دې توګه ،کله چې ددرې واړو خواو څخه د مغلو د لښکرو ماتې خوړلې د لښکر زړه ته را ټوليدل نو دهمايون دغه منځنې لښکر په خپله بې کاره وګرزيد. دهمايون په لښکرو کې دهمدې را تښتيدلو عناصرو په واسطه يو ډول بې نظمې راپيدا شوه ، دبله اړخه خواص خان د ښخوا څخه د همايون د لشکر شاتنۍ برخه له منځه وړې وه اودهغې د له منځه وړلو وروسته خواص خان دهمايون د لښکر په زړه او ميسره دواړو باندې يرغل وروستې و ، په همدې خاطر هغه خپله ټوله توجه د همايون دلښکر هغه مخکښې ډلې لورې ته را وګرځوله چې قومنده يې د مرزا بهنډال په لاس کې وه. شيرشاه سوري هم د همايون دلشکر منځنۍ برخه په دې خاطر د نظر و غورځوله چې د نورو ځايو څخه د ماتې خوړلو عسکرو د راتښتيدو په اساس دهغوې حرکت محدود شوې و ،شيرشاه سوري د همدې وخت نه په ګتې اخستو سره دميسرې په لور مخه کړه ، اوس خو حالات داسې شوي و چې دهمايون دلښکر منځنۍ برخه د حرکت نه وتلې وه ، تر څنګ يې دخواص خان په حملې دهغوې شاتنۍ برخه هم دمرګ او تيښتې سره مخ شوي واو جلال الدين جالو اوشيرشاه سوري دواړو د ميسرې د لښکرو د له منځه وړلو له پاره خپلې تورې کارولې. همدا راز د همايون دلشکرو ميمنه کې دشيرشاه سوري مشر زوې عادل خان په پوره ميړانه جنګيده او غوښتل يې چې دهمايون د لښکرو دميمنې لورې ته هم ماتې ورکړي.

د لړې شيبې دروند وينه تويونکې جنګ نه وروسته همايون ډېره بده ماتې وخوړه اودخپل لښکر سره يو ځاې و تښتيد ، دهمايون ټول لښکر دګنګا دهغه پول په لور و تښتيد چې همايون ددرياب څخه د تيريدو په خاطر څه موده مخکې جوړ کړې و . په دې وخت کې درياب د جنګ د ميدان څخه په پنځه ميله واټن کې پروت و. دماتې خوړلو وروسته دهمايون په لښکر کې منډې ترړې پيل شوې وې. ددې پايلې دا شوې چې په پول باندې دخلکو د ډيرښت په واسطه ، پول په منځ کې دوه ځايه شو ، او په هغه باندې تيريدونکې ډېر خلک يا هملته تر پښو لاندې شول او يا دګنګا په درياب کې ژوندي ډوب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې پول مات شو نو همايون هم دخپل فيل سره يو ځاې دپول د پاسه تيريده . په دې اساس همايون هم دخپل فيل سره يو ځاې په ګنګا کې ور ولويد ، خو په درياب کې د لويدلو وروسته فيل په مکمله توګه همايون خوندي و ساته او په لامبو يې دهغه ځايه بلې غاړې ته يوړ.

کله چې دهمايون فيل غاړې ته ورسيد نو دهمايون يوه سالار همايون ته آس را وړاندې کړ ، په دې وخت کې همايون لوڅ سر او لوڅې پښې و . هغه خلک چې د جنګ څخه را تښتيدلي و اودهغه خوا ته را رسيدلي و دهغوې سره يو ځاې د ليونې په څير د اګرې په لور روان شو . کله چې دهمايون قافله د اګرې او قنوج تر منځ د بهوګاو ته نژدې ور ورسيده ، نو دشاوخوا وسله و الوجټانو بد معاشو دهقانانو چې ډيره کې يې غله او داړه ماران و د همايون سره ډيره بده وضعه وکړه او هغه ته يې د ډوډۍ او خوراک د ورکولو څخه انکار وکړ. دد ې نه علاوه يې دهمايون هغه عسکر چې اخوا ديخوا را تښتيدلي و او همايون غوښتل هغوې بيرته له ځانه سره را يو ځاې کړي ، له منځه يوړل.

کله چې همايون ته خبر ورسيد چې د ې بدمعاشو جټانو دهغه د لښکرو په وژلو پيل کړې دې نو هغه خپل ورور مرزا بهنډال ، مرزا عسکرى او دکاکا زوې مرزا ناصر ته حکم وکړ چې د ې ګستاخو او سرکشو جټانو ته سزا ورکړي. مرزا عسکرى نه غوښتل د همايون دا حکم و مني. پايلې يې داشوې چې دمرزا عسکري او مرزا ناصر تر منځ بحث ګرم شو او خبره تريخوالي ته ورسيده. ناصر مرزا عسکري د اس په قمچينه وواهه. مرزا عسکري ولاړ او همايون ته يې دخپل کاکا د زوې ناصر ميرزا څخه ګيله وکړه خو کله چې همايون دخپل کاکا د زوې څخه په دې اړه پوښتنه ګرويزنه و نه کړه نو بيا مرزا عسکري ناراضه شو اودخپل جاګير په لور سنبل او مراد اباد ته ولاړ.

د مرزا عسکري د تللو وروسته مرزا بهنډال او ناصر مرزا دواړه ددې جټانو دځپلو له پاره ولاړل. خو دا جټ غله او داړه ماران پوره وسلوال و او شميره يې هم کمه نه وه . په د ې خاطر هغوې دهمايون ددې پاته تښتيدلى لشکر سره دجنګ له پاره تيار شول. ددواړو خواو تر منځ ښه جنګ وشو خو په اخر کې دهمايون لښکرو دې غلو جټانو ته ماتې ورکړه اوهغوې هم د تيښتې لار و نيوله. دجټانو عادت دا و چې تل به د مصيبت وهلو په مخ کې د وحشي حيواناتو په څير دريدل خو کله به چې دکوم ځواکمن سره مخ کيدل نو بيا به د امن شامتولي ګرزيدې.

د جټانو سره د جنګ او جدل وروسته همايون دخپل پاته عسکرو سره د بهوګاو څخه دغرب په لورې روان شو . او دريمه ورځ د لمر پريوتو د مخه اګرې ته نزدې ور ورسيد. دګنګا سره نزدې دشيرشاه سورى د لاسو څخه دماتې خوړلو وروسته همايون دومره زړه بدې او ستومانه شوې و چې داګرې کلا ته د ننوتلو څخه يې هم ډه ډه وکړه . بلکه ديوه کس شيخ رفيع الدين په کور کې يې ديره جوړه کړه. دلته د اوسيدو په وخت کې شيخ رفيع الدين ورته مشوره ورکړه چې لاهور ته ولاړ شي او دشيرشاه سورى په مقابل کې دې يو ځل بيا د خپل برخليک له پاره و جنګيږي.

په اګرې کې داوسيدو په وخت کې همايون په فکري اړخه ډير خپور وور معلوميده . په دې وختو کې يې هيڅ ډول پريکړه نه شواې کولې. دلته د اوسيدو په وخت کې يې خپل ورور مرزا بهنډال ته حکم وکړ چې هغه دې دشاهي حرم پورې اړونده ښځې د کلا څخه را وکاږي.په دې ښځو کې دهغه خور ګلبد ن هم شامله وه. همايون غوښتل دغه ټولې ښځې په خپلو لاسو ووژني تر څو دهغوې برخليک د شيرشاه سورى لاسو کې و نه لويږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دمرزا بهنډا ل دهمايون په دې حکم باندې نيوکه وکړه او ژمنه يې وکړه چې هغه به تر لاهوره پورې ددې ټولو ښځو د خوندي وړلو دنده په غاړه اخلی. همايون هم ځو ورځې په اګره کې پاته شو او بيا يې اګره پخپله خپل برخليک ته پريښوده او ترې ولاړ. هغه دفتح پور سيکري سيمې ته چې د اګرې څخه شل ميله واټن کې وه ولاړ. دا د هندوستان څخه د مغلو د هجرت پيلامه وه. هر لورې دحشر دورځې په څير غم خپور و. داسې څرګنديده چې داسرافيل شپيلۍ پوکې کړې وي ځکه هرې لورې ته چغې، سورې، ژړاوې او واويلاوې وې. خو دهغه رذيل خوې هغه تر اخره پورې نه پريښود. دهمايون په خپلو ملګرو کې تر اوسه پورې غداري موجوده وه، د فتح پورسيکر کې يو ناڅرګنده کس همايون په غشي وويشت، خو همايون خوندي پاته شو خو يو ملګرې يې زخمې شو.

همايون دخپلو ملګرو سره هلته په فتح پور سيکر کې يو اځې يوه ورځ تم شو او بيا د اوسني بهرت پور شمالي برخې ته دکاما نومی غرنۍ لړۍ څخه تيرا و دريواړي سيمی ته ورسيد.

دبله اړخه شيرشاه سوری هم عجيب اوغريب حالت درلود. ځکه هغه ته د هغه دخوب اوخيال نه بيرون بې شميره مال او دولت په لاس ورغلي و. يو اځې په يوه څرک کې هغه ته دومره آسونه، فيلان، جنګي سامانونه او مالي غنيمتونه تر لاسه شوي چې دهندوستان د سوبې له پاره يې هيڅ کمې نه کاوه. هغه د چنګيزخاني مغلو په څير د انسانانو دکپريو څخه منار جوړ نه کړ او نه يې پرې دخوشحاليو جشن و لمانځه، بلکه د ستر خداې تر مخه يې دخپلو دغو فتحو له پاره دشکرانې عبادت وکړ.

د جنګ په دويمه ورځ شيرشاه سوری د خپل فوځ سره يو ځاې د ګنګا ددرياب څخه پورې ووت. هلته په قنوج کې تم شو، دهغه ځايه يې خپل سالار برهم جيت ته د لشکر يوه برخه ورکړه اوهغه يې وليږه تر څو دجنګ دميدان څخه د تښتيدونکي همايون په تعقيب پسې ولاړشي. دخپل لښکر يوه بله برخه يې دخپل يوه بل سالار ناصر خان په قومنده کې ورکړه تر څو سنبل او مراد اباد ته ولاړ شی اوپه دې ځايو باندې حمله وکړي او په خپله ولکه کې يې واخلي. او پخپله شيرشاه سوری د اګرې په لور ولاړ.

همايون دخپل پاته شوې لښکر سره يو ځاې د جنګ د ميدان څخه تښتيدلې و او د اګرې په لور تللې و. په دې خاطر همايون په هيڅ ځاې کې دشيرشاه سوری د تعقيبونکي لښکر سره مخ نه شو، مغل چې په هره سيمه کې و، د سختې ويرې او دهشت سره مخ شوې و. هغوې ټول د اګرې او ډهلي په لور په تيښته کې و، دهمايون او مغلو د تعقيبولو له پاره دخپلو عسکرو د ليږلو څخه د شيرشاه سوری مقصد دا و چې هغوې يو ځل بيا د جنګ له پاره په کوم ځاې کې سره د را ټوليدو جوګه نه شي. خو ددې څخه يو بل مقصد هم و او هغه دا چې دشا تلو په وخت کې همايون دخپلو پاته لښکرو سره يو ځاې دهندوستان درالسلطنت دتباهيو سره مخ نه کړی.

دګنګا د غاړې څخه د روانيدو وروسته شيرشاه سوری کرار کرار د اګرې په لور مخته روان و اودخپل عادت له مخې به يې هره سيمه چې سوبه کوله نو دهغې سيمې نظام به يې هم خپلو کسانو ته ورسپاره، په دې وخت کې دشيرشاه سوری سره دهغه سالاران خواص خان اوهيبت خان نيازی هم وو. په داسې حال کې چې برهم جيت يو ورځ مخته دهمايون په تعقيب پسې ر وان شوې و او اګرې ته نژدې ور رسيدلې و. هغه د همايون څخه يومنزل لرې و، په همدې خاطر همايون هم په بيړه د جنوب په لور د فتح پورسيکري سيمې ته وتښتيد، حقيقت دا و چې همايون نه غوښتل چې شيرشاه سوری اودهغه لښکر دهغه په درک خرک باندی وپوهيږي.

هغه وخت چې برهم جيت دخپلو عسکرو سره يو ځاې اګرې ته نژدې ور ورسيد نو هغه هغه بې وسلې کسان چې دهمايون د فوځ څخه شاته پاته اوجدا شوي و بې دريغه ووژل، دا اګرې په لور د تللو په وخت کې دمختلفو سيمو د انتظام د جوړولو تر څنګ شيرشاه سوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر زیات احتیاطی تدابیر دا هم نیول چې که په راتلونکې کې کله هم د همایون سره جنګ کیږي نو هغه د خپلو ولکه شوو سیمو حالات مستحکم کړي ، قنوج ته د ور رسیدو وروسته هغه د کلا بند ښار د جوړولو بنسټ کیښود ، چې د شیدګړ په نامه یی و نوماوه . په همدې توګه کله چې هغه د بهوجپور څخه پورته د شمس اباد په لور راغې نو دلته یی هم یو نوې ستر کلې اباد کړ او تر څنګ یی یوه کلا هم جوړه کړه چې د رسول پور په نامه یی ونوموله.

کله چې هغه د خپل لشکر سره یوځاې او دخپلو سالارانو خواص خان او هیبت خان نیازی په ملتیا اګرې ته را ورسید او په دې خبر کړل شو چې برهم جیت ډیر بې ګناه وګړی وژلي دي نو شیرشاه سوري په دیره کلکه توګه برهم جیت د لعنت او ملامتیا وړ وګرځاوه او اراده یی وکړه چې په راتلونکې کې به هیڅ وخت هم برهم جیت په یواځې ځان قومندان نه ټاکې او نه به یی د نورو لشکرو د تعقیب پسې ځانته ور استوی.

**۵۲**

په اګرې کې د اوسیدو په وخت کې یورځ د ماښام څخه لږ دمخه د شیرشاه سوری تمځاې ته راغې . په دې وخت کې شیرشاه سوری ځانته ناست و ، دخواص خان دکتلو سره سم یی هغه ته مخ کړ او ورته یی وویل چې: خواص خانه زویه ! دلته راشه او له ما سره څنګ کې کینه. خواص خان ورته وویل چې: تاسې زه را بللې وم ، خیریت خو دې ؟ شیرشاه سوری ورته مسکې شو او ورته یی وویل چې خیریت دې، فکر مه کوه . یوځل خو دلته زما خواته کینه ، په دې وخت کې په خونه کې هیڅوک نه و . د خواص خان دکیناستو وروسته ورته شیرشاه سوري په پلرني شفقت او مینه وویل چې:

خواص خان زویه ماته د یوه دیر مهم کار د ترسره کولو له پاره رابللې یی ، داسې کار چې هغه د زما د فرایضو څخه شمیرل کیږي ، دا ډیره مهمه او اړینه دنده ده او زه غواړم چې همدا نن یی تر سره کړم. ځکه زه ددوو اونیو څخه زیات دلته په اګره کې نه تم کیږیم او غواړم چې ددهلي په لور ولاړ شم.

ګوره خواص خانه زویه ! لکه څنګه چې ته پوهیږې چې ما هوډ کړې دې چې په راتلونکې نژدې وختو کې به برهم جیت د سالار په توګه هیڅ ځاې ته و نه لیږم. ځکه چې هغه ډیر وخت غیر مسؤلانه کارونه تر سره کوي ، زه غواړم چې له دې وروسته تا د مغلو د ځواکونو د تعقیب کولو پسې ولیږم. برهم جیت به له تا سره ستا د معاون په څیر درومي . خواص خان تر یوه وخته پورې دشیرشاه سوری خبرې په ډیر غور او دقت سره اوریدلې ،بیا یی شیرشاه سوري لورې ته وکتل او ورته یی وویل چې: ته د کومې دندې د اجرا کولو په لور اشاره کوې ؟د شیرشاه سورې په شونډو باندې نرۍ شانته خندا را پیدا شوه او بیا یی خواص خان ته وویل چې:

ګوره خواص خانه ! ته دلته زما سره زما د زوې په څیر یی ، په داسې ګنګا او ګیتا زما د لونړو په څیر دي. خواص خانه زه همدا نن بلکه داسې یی وګڼه چې همدا اوس ستا د واده کولو غوښتونکې یم ، ستا د واده د مسؤلیت نه دخلاصون څخه وروسته به زه وپوهیږم چې ما خپله دنده تر سره کړې ده . ګوره زویه ! زه غواړم چې په یوه وخت کې د ګنګا او ګیتا دواړو سره ستا واده جوړ کړم ، ما دد ې مقصد له پاره ګنګا او ګیتا دواړه را بللي دي ، فکر کوم چې تر لږې شیبې پورې به هغوې دواړه را ورسیږي دهغوې سره به دلښکرو قاضی هم ملګرې وي او ستا د نکاح اهتمام به وکړي وو ایه چې ایا په دې اړه تاته کوم اعتراض شته ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خان تر لږه ځنډه پورې خاموشه ناست و بیا یې په خندانه خوله وویل چې: زما د رونده شیرشاه ! ماته به ولې په دې باره کې کوم اعتراض پیدا کیږي. زه خو بې دهغې هم د ګنګا او ګیتا دواړو سره واده کوم. نو که چیرې ته ماته دا واده همدا اوس او په همدې شیبه کې کول غواړې نو ماته په دې اړه هیڅ اعتراض نه شته. دخواص خان له اړخه د ځواب په اوریدو سره شیرشاه سوری ډیر زیات خوشحاله شو غوښتل یې نور څه هم ووایی چې په همدې ګړۍ کې دلښکرو قاضي او ترڅنګ یې ګنګا، اوما، دشیرشاه زوې، او یو بل ځوان کمرې ته را ننوتل. ټول راغلل او دشیرشاه سوری تر مخه کیناستل. ګنګا د ګیتا په څیر خپل ټول وجود رانغاړلې و. په دې وخت کې د لږ څه وخت له پاره خاموشی خپره وه. بیا شیرشاه سوري د خواص خان په لور مخ کړ او ورته یې وویل چې: واوره خواص خانه زویه ! زه غواړم ستا د واده سره یو ځاې د اوما واده هم وکړم. څرنګه چې تا اوما ته خور ویلي دی نو ددې اړخه دا هم زما لور ده. دغه ځوان چې زما د بچیانو سره یو ځاې دلته راغلې دې غواړم د اوما سره یې واده وکړم، نو په دې توګه به زه خپل هغه فرایض چې زما په اوږو پراته دي ترسره کړم. د شیرشاه سوري ددې پریکړې څخه خواص خان ډیر زیات خوشحاله شو غوښتل یې نور څه هم ووایی چې خواص خان پرې را مخته شو او ویې ویل چې:

زما د رونده شیرشاه ! ګنګا چیرې ده، دا خو یوازې ګیتا دلته ناسته ده. د خواص خان ددې پوښتنې په اساس دشیرشاه سوری نه پرته نورو ټولو وخندل. بیا شیر شاه سوری ځواب ورکړ چې:

خواص خانه زویه ! په اصل کې ستا سترګې دوکه خوري، ته نه ګورې چې ستا تر مخه ګنګا او ګیتا دواړه ناستې دي، خواص خان لږ څه اندیښمن شانته شو او ویې ویل چې تاسې څه ډول خبرې کوئ؟ زه خو په خپل مخکې یوازې ګیتا وینم. دهغه په دې خبره شیرشاه سورې په خپله مخکې ناستې ګنګا ته وویل چې: ګنګا لورې تا خو بلکل خپل ځان را نغاړلې دې، اوس نو دخپله مخه نقاب لرې کړه، ګنګا د حکم سره سم په حرکت راغله، په خپل لاسونو یې لمړۍ مخ او بیا نور بدن را ښکاره کړ، خواص خان حیران پاته شو، هغه د ګیتا په شکل کې په خپله ګنګا وه. خواص خان تر یوه وخته پورې په ډیر تعجب سره ګنګا ته کتل او بیا یې وپوښتل چې که چیرې دا ګنګا وي نو بیا ګیتا چیرې ده؟ شیرشاه اوما ته وکتل او ورته یې وویل چې: اوما لورې ! خواص خان ته ټوله قصه وکړه تر څو د ګیتا په اړه دهغه غلطه انګیرنه له منځه ولاړه شي، دشیرشاه سوري دحکم سره سم اوما ټوله قصه په پوره تفصیل سره ژر ژر بیان کړه او ورته یې وویل چې په څه ډول هغوې د حویلۍ څخه ووتلې او بیا د ګنګا سره یو ځاې د زیارت لنګر ځاې ته ورغلو، بیا ګنګا خپل لباس تبدیل کړ او د خیر غوښتونکې په کالیو کې یې خپل ځان د ګیتا په نامه واړاوه. بیا یې د مهارت په لاس د راتښتولو او ان تر خواص خان پورې د رارسیدو ټولې پیښې ورته په تفصیل سره وویلې.

دټولې قصې په اوریدو سره خواص خان هم دخندا نه شین و، دهغه ددې حالت په کتلو سره د ګنګا په مخ باندې هم خوشحالیو څپې وهلې، بیا یې په همدې خونه کې دخواص خان او ګنګا تر منځ د واده رشته وتړله، په داسې حال کې چې اوما هم په همدې ورخ واده کړله شوه.

## ۵۳

نیرمل په لښکر ځاې کې ځانته ناسته وه چې یوه نجلۍ دهغې خیمې ته ور ننوته. دغه ډیره دښایسته‌صورت لرونکې، دګلونو په حیر دښکلې شکل لرونکې په څیر زړه راښکونکې وه. کله چې نیرمل هغه په خیمې کې وکتله نو دهغې دکتلو سره سم د خپله ځآیه راپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه ، هغه نجلۍ مخته راغله او د نيرمل څخه يې وپوښتل چې ايا زه دې و پيژندلم ، نيرمل په دې وخت کې ډيره خوشحاله معلوميده بيا يې وويل چې هو ! ماته و پيژندلې ، ته د مهارت ملګرې او د عزيز پالامو خور کملاوتي يې. راځه او له ما سره نژدې کينه. زه تاته زما خيمې ته په راتلو سره ښه راغلاست وايم . هغه نجلۍ چې نوم يې نيرمل کملاوتي و وايه مخته راغله ، نيرمل له ځانه سره يو ځاې کينوله او پخپله هم کيناسته . بيا مخته له دې چې نيرمل د کملاوتي څخه څه وپوښتي ، پخپله کملاوتي په خبرو پيل وکړ او ويې ويل چې : ګوره نيرمل ! زه نه غواړم پر تاباندې کوم احسان بار کړم خو له تا څخه پوښتنه کوم چې ايا زما کورنۍ پر تاباندې داسې کوم احسان کړې دې چې تا ته د يارګار په توګه په ذهن کې پاته وي . دهغې په دې خبره نيرمل تر يوه وخته پورې غور وکړ او بيا يې د کملاوتي په لور د کتلو وروسته وويل چې :

کملاوتي زما خبره واوره ! زه په ريښتوني توګه ستا د کورنۍ ممنونه يم ، هغه وخت چې زه يې را وتښتولم او د مهارت د اوسيدو ځاې ته يې راوړم ، نو هلته به په ريښتيا توګه زما عصمت او عزت لوټيدونکې و خو ستا مور زما له پاره مددګاره وګرزيده او هغې زه د يوې وينځې په څير د خپل ځان سره وساتلم ، دهمدې کار له مخې هلته د مهارت په هستونګځاې کې زما عزت او عصمت خوندي باته شو نو په دې خاطر کملاوتي ! زه ستا د کورنۍ ډيره احسان منده يم.

د نيرمل په دې خبرو سره د کملاوتي په مخ باندې د خوشحالۍ نښې رابربنډې شوې ، تر لږه وخته پورې په فکر کې ډوبه وه ، او بيا يې په خبرو پيل وکړ او وويې ويل چې :

نيرمل ! واوره ! چې په ډيره ستونزمنه توګه مې ستا درک پيدا کړې دې او په دې خيمه کې مې له تا سره د غه ځانته ليدنه د ډير صبر او زغم نه وروسته تر لاسه شوې ده ، اوس خو د شيرشاه سورى په خيمه کې د ګنګا او خواص خان تر منځه د نکاح کولو پروګرام روان دې، ما هم د همدې وخت څخه ګټه پورته کړه او ستا خيمې ته راغلم ، او په هغه موضوع چې ما له تا سره خبرې کول غوښتل هغه د ځانتّه والې غوښتنه کوي ،ګوره نيرمل ! که زه تاته د کوم کار له پاره ووايم نو ايا ته به هغه کار زما له پاره وکړې ؟ نيرمل ورته وويل چې : کملاوتي ! زه به تر خپله وسه پورې دهغې کار په کولو کې بيړه وکړم ځکه چې ستا کورنۍ پر ماډير زيات احسان کړې دې او د زه د هغې څخه انکار نه شم کولې ، ووايه چې ته له ما څخه د څه ډول کار د کولو غوښتنه کوې؟ کملاوتي د څه ويلو د مخه لږ څه فکر وکړ او بيا يې وويل چې :

ګوره نيرمل ! تا ته به ياد وى چې په بنګال کې زما ورور پالامو د پرتګاليانو سره يو ځاې يو ګډ لښکر تيار کړې و ، هغه غوښتل د خپل دوست مهارت بدله واخلي او غوښتل يې د شيرشاه سوري لښکر ته ماتې ورکړي ، شيرشاه سوري د هغه د مقابلې له پاره خواص خان ور واستوه ، دا زما د ورور پالامو بدقسمتي وه چې د هغه ګډ لښکر ماتې وخوړه ، دهغې لښکر هر هر سپاهي د مرګ کومې ته ورغې او زما ورور پالامو پخپله د خواص خان په تورو باندې پرې پرې کړل شو . واوره نيرملې ! زه غواړم د خواص خان څخه خپله بدله واخلم. ايا ته په دې لړ کې له ما سره کومک کولې شې ؟

نيرمل تر يوه وخته پورې خاموشه او په فکر کې ډوبه شوې وه ، بيا يې ترې و پوښتل چې څنګه ملګرتيا ؟ کملاوتي ورته وويل چې :

واوره نيرملې ! دې خواص خان زما د ورور پالامو تر څنګ مهارت هم وژلې دې ، په دې خاطر زه غواړم د خواص خان څخه د دې دواړو د وژلو بدله واخلم او هغه ووژنم . دلته د شيرشاه سوري تر لښکره پورې له ما سره دوه کسه ساتونکې راغلي و ، خو ما هغوې بيرته و

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیږل ، ما په دې باور درلود چې ته به زما د خبرې څخه مخ نه اړوې. ګوره ! زه غواړم چې همدلته په لښکر کې له تا سره یو ځای و اوسم ، کرار کرار د خواص خان نژدیکت تر لاسه کړم ، هغه د خپلې مینې په جال کې را ونغاړم، او کله چې ما ته داسې فرصت تر لاسه شو نو بیا به زه د وخت او ځای په کتلو سره هغه له منځه یوسم او له دې ځایه به و تښتم. واوره نیرمل ! ایا د دې کار په اړه به له ما سره بسپنه وکړای شې. زه غواړم چې همدلته ستا په خیمه کې پاته شم ، د واده څخه وروسته به ګنګا د خواص خان خیمې ته ورځي ، ستا د هغې بلې ملګرې او ما هم واده تر سره شوې دې نو په دې اساس به هغه هم د خپل خاوند خیمې ته ورځي. ته به ځانته پاته کیږې نو په دې خاطر زه غواړم له تا سره واوسیږم. او دا چې کله شیرشاه سوری خپل لښکر اخوا دیخوا وړي او ته هم د هغوې سره ځې نو زه به هم له تا سره اوسم او ستا د خیمې ملګرې به یم. او په دې توګه به زه خواص خان ته خپل ښایست او خپل جسم را بربنډوم او د خپلې مینې په لومو کې به یې را نغاړم او کله چې زه پر هغې بریالۍ شم نو هغه به له منځه یوسم او بیا به د دې ځایه خپلې پښې سپکې کړم. اوس راته ووایه چې ستا ځواب څه ډول دې ؟

که چې کملاوتي خبرې بس کړې نو نیرمل سر ټیټ کړ او تر ډیره وخته پورې په فکر کې ډوبه وه ، بیا یې کملاوتي ته مخ کړ او ورته یې وویل چې:

واوره کملاوتي لورې ! ایا داسې به شوني نه وي چې د اخري پریکړې له مخه ته ما ته د فکر کولو له پاره یو څو ورځې مهلت راکړې ؟تر څو زه په دې اړه فکر وکړم ، که چیرې زه ستا د کار به کولو باندې تیاره شوم نو په مکمله توګه به له تا سره و دریږم او که چیرې خپل ځان مې د دې کار له پاره تیار و نه کوت نو په ښرګنده توګه به درته ځواب ووایم چې دا کار زما په وس کې نه دی. په دې وخت کې تر ې کملاوتي وپوښتل چې: په دې ورځو کې به زه چیرې اوسیږم ؟ زه به په ډیره بې صبرۍ سره ستا د ځواب انتظار کوم. نیرمل ورته وویل چې: ته په دې اړه اندیښنه مه کوه. ته به همدلته زما په خیمې کې اوسیږې. زه به ستا د ټولو اړتیاو په اړه قدم اخلم او ستا له پاره به د کالیو او خوراک ډیرښه انتظام کوم. او کله چې ګنګا او خواص له ما څخه ستا په اړه و پوښتي نوزه به ورته وایم چې دا زما دیوه دوست لور ده چې زما د کتلو له پاره راغلې ده او غواړې څو ورځې دلته زما تر څنګ واوسیږي.

د نیرمل د ځواب په اوریدو سره کملاوتي خوښمنه شوه ، مخته ورغله او نیرمل یې په غیږ کې و نیوله او په تندي یې ښکل کړه. ګوره نیرمل ! زه ستا ډیره زیاته مننه کوم چې تا ماته په خپله خیمه کې د اوسیدو ځای راکړ. په همدې توګه زه هیله لرم چې د هغه کار له پاره چې زه راغلې یم په هغې کې هم له ما سره بسپنه او مدد وکړې او د فکر کولو نه وروسته به زما په حق کې پریکړه وکړې. نیرمل غوښتل په ځواب کې ورته څه ووایې چې په همدې وخت کې ګنګا او اوما هم خیمې ته را ننوتلې.د هغوې تر شا خواص خان او د اوما خاوند هم را روان و و. ګنګا ورته مخته شوه او غوښتل یې نیرمل ته څه ووایې چې نیرمل ورته په خبرو پیل وکړ.

دغه نجلۍ چې دلته یې تاسې له ما سره وینئ د دې نوم کملاوتي دې ، دا زما د یوه دوست لور ده چې په ډیره ستونزمنه توګه یې زما ځای پیدا کړې او دلته راغلې ، دا غواړي دلته څو ورځې له ما سره و اوسیږي، د هغې په دې خبره ګنګا وویل چې: دا خو نوره هم ډیره ښه خبره شوه ، ګوره نیرمل ! ما او خواص خان پخپلو کې واده وکړ او او اوما هم واده شوه ، اوس نو تر هغې چې لښکر دلته په اګره کې وي نو زه به د خپل میړه خواص خان سره په خیمه کې یو ځای اوسم ، شیرشاه سوری زمونږ د اوسیدو له پاره یو تعمیر ځانګړې کړې دې ، اوما به هم د خپل میړه سره یو ځای وي خو ته به همدلته په دې خیمه کې اوسیږې ، پخوا مو ستا په اړه اندیښنه درلوده خو د دې پیغلې کملاوتي په راتلو سره داسې وګڼه چې زمونږ هغه ستونزه حل شوه. اوس به ته یوازې والې نه احساسوي او کله چې خواص خان د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکر سره یو ځاې کومې لورې ته کوچ کوی نو زه به هم ورسره یم او ته به هم زمونږ سره یو ځاې کوچ کوې ، ستا له پاره د ځانته خیمې له پاره انتظام کیږی. که چیرې ته غواړې نو کملاوتي پیغله هم له ځانه سره بوتللاې شې تر ځانته والې دې له منځه ولاړ شي.

په ځواب کې کملاوتي ګنګا ته په نیغه توګه وویل چې: ستاسې د راتللو څخه دمخه نیرمل له ما سره همستاسې په اړه خبرې کولې ،ګوره ګنګا ! ستاسره په لیدلو باندې زه ډیره زیاته خوشحاله شوم او ماته نیرمل ویلي و چې ته د رهتاس دراجه شهزادګی یې، زه تا ته ستا په واده باندې مبارکي وایم، بیا کملاوتي دخواص خان په لور وکتل او ورته یې وویل چې: ستا د راتلو تر مخه نیرمل ماته ستا ډیره ستاینه کړې ده. هسې خو هم ما ستا په اړه ډیرې زیاتې قصې اوریدلې دي ، د شیرشاه سوری د سپه سالار په څیر خلک ستا ډیره ستاینه کوي ددې نه اخوا د هندوستان په زمکه باندې ستا د میړانې او بهادرۍ ډیرې خبرې خپرې شوې دي، مهارت چې دهیچا له لاسه یې ماتې نه خوړه ، همتا ماتې ورکړه او له منځه دې یوړ ، د مهارت ملګرې اوخپلوان پالامو چې دپرتګالیانو سره یې ګډ فوځ جوړ کړې هم ستا په لاسو مات او ووژل شو ددې نه علاوه ، تا د شیرشاه سوری په مشرۍ کې ډیرو سترو سترو لښکرو ته ماتې ورکړې او له منځه دې وړی دي. زه به په دې خبره کې هیڅ ډول شرم احساس نه کړم چې ووایم چې زه ستا د زړه ورتیا ، جنګي پوهې او بهادرۍ ډیره ستاینه کونکې یم. کله چې کملاوتي خاموشه شوه نو خواص خان ورته په نرې شانته اواز سره وویل چې:

ګوره کملاوتي ! ستا ډیره مننه کوم چې تا په داسې ټکو کې زما ستاینه وکړه او زما د بهادریو او میړانو صفت دې وکړ ، ددې اړخه زه یو ځل بیا ستا ممنون یم ، دخواص خان ددې خبرو څخه داسې معلومیده چې دکملاوتی حوصله او عزم نور هم ستر شوې وي ، هغې سمدستي په خبرو پیل وکړ او وېې پوښتل چې: د شیرشاه سوری ستر جرنیله ، محترمه او پیاوړې خواص خانه !که اجازه راکړئ چې کله کله ستا او د ګنګا سره د کتلو له پاره درشم. ایا زما درتګ خو به بد نه ګڼئ ؟دخواص خان څخه ګنګا را مخته شوه او وېې ویل چې: په دې کې د بدو منلو څه خبره ده !ته چې کله هم وغواړې زمونږ ځاې ته راتللې شې. ستا تر مخه به هیڅ ډول خنډ اوځنډ نه وي. دګنګا په دې خبرو کملاوتي نوره هم وغوړیده ، اوپه ځواب کې یې هیڅ هم ونه ویل ، ګنګا یو ځل بیا د نیرپه لور وکتل او ورته یې وویل چې:

نیرملې ! زه او اوما خپل څه ضروري شیان ستا دخیمې څخه اخلو ،که چیرې تاته دکوم څیز اړتیا وي نو وواېه. نیرمل ورته وویل چې په خیمې کې هر څه شته. ما ته هیڅ نه دې په کار. تاسې دواړه خویندې خپل شیان را ټول کړئ اودخپلو نوو ځایو په لور ولاړې شئ ، زه دعا کوم چې الله ستا سې د دواړو ژوندونونه کامیاب اوبریالې وګرځوي .ددې وروسته ګنګا خپل ټول ضروري شیان راټول کړل اودخواص خان سره یو ځاې دهغه ځایه ووتله. اوما هم خپل سامان راټول کړ اود خپل میړه سره یو ځاې روانه شوه.

## ۵۴

شیرشاه سوری د خپل لښکر سره هلته په اګره نژدې دوه اونۍ قیام وکړ ، دهغې وروسته یې خواص خان ته دخپل لښکر برخه ورکړه اوهغه یې دهمایون اودهغې ددوستانو دتعقیبولو پسې واستوه. د خواص خان سره یې یوځاې برهم جیت دهغه د نایب په څیر ورولیږه. تر دې وخته پورې شیرشاه سوري ته دخپل سالار ناصر خان په اړه هم پوره معلومات تر لاسه شوې و .ناصر خان سنبل او مراد اباد فتحه کړې و او د دهلي په لور خوزیدلې و ، په دهلي یې هم ولکه کړې وه. شیرشاه سوری ددې خبرې د اوریدو نه سمدستي وروسته د دهلي په لور روان شو خو دهلي ته د تللو مخکې یې د اګرې له پاره ډیره ښه انتظام وکړ، ددې انتظام وروسته هغه داګرې څخه ولاړ. هغه د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانۍ لارې ځخه چې د جمنا د شرقي برخې څخه د فیروز اباد تر څنګ تیریږي سفر و نه کړ. بلکه هغه دا سفر د مترا له لارې چې ګڼ ځنګلونه لری اودبدمعاشو او مجرمو خلکو ځای دی ، تر سره کړ.

هغه لاره چې د مترا څخه تیریده هغه د اګرې او دهلي ترمنځه ډیره نژدې او ګړندۍ لاره وه. دد ې لارې د سفر کولو څخه د شیرشاه سوری مقصد داو چې خلکو ته وښیې چې اوس نو دا لاره د اګرې اودهلي تر منځه خطرناکه نه ده. همدا لاره بیا وروسته یوستره شاهراه وګرزیده. او دګرندو ټرانک نوم ورکړل شو.

دبرسات دموسم د پیلیدو دمخه شیرشاه سوری دهلی ته ورسید اود برسات ټول موسم یې هملته تیر کړ ،خو پنجاب ته د تللو دمخه شیرشاه سوری غوښتل په دې اړه لږ څه سوچ اوفکر وکړي ، شاید چې هغه د هندوستان هغه پخوانې سیاست کوت چې په هغه کې ویل شوي چې انسان ته هغه وخت قدم اخستل په کار دي چې دخپل بل قدم د اخستو له پار د پښو لاندې زمکه وتلي ، په دې اساس شیرشاه ته هم دبرسات په موسم کې د پنجاب په لور دتللو دمخه یوځل نه شاید څو ځله فکر کړې وي. ځکه چې هغه ته د پنځه دریابونو څخه اخوا تلل وچې لږه ترلږه ددوو لکو مغلو د اوسیدو ځای و . او هغوې هلته یو ځل بیا د خپلې وروړګلوۍ ریښې را تازه کولې.

ددې نه اخوا هغه ته د ستلج ددریاب تر څنګ هم د نورو دښمنانو سره ټکر کول تر مخه وو . ځکه هغه ویریده چې دهغې دغه دښمنان هر وخت چې وغواړي په دې باندې حمله کولی شی. دهغو په لمړي سر کې د مالوې ملوخان و چې اوس ورته د قادرشاه لقب ورکړل شوې و ، ددې نه علاوه د جودپور راجه مادیو و ، هغه ته د ګجرات څخه هم ویره وه ،خو په دې ورځو کې په ګجرات کې یوډول کورنې جنګ پیل شوې و نو په دې خاطر ورته د ګجراته سمدستې کوم ګواښ نه و متوجه.

شیرشاه نه غوښتل چې د ستلج دریاب څخه تیر شي او په پنجاب کې پښنه کیږدي ،ځکه که شیرشاه سمدستي د ستلج څخه تیرشوې وې نو مغلو به دخپلو ځانو دخوندي ساتلو په غرض یو بل ته لاس ورکړې وې اود شیرشاه سوری پر خلاف به یې دا سې جنګ پیل کړې وې لکه چیتا چې مجبور شي او په جنګ پیل وکړي. شیرشاه سوري ډیرصبر او زغم څخه کار اخست ،هغه په دې پوهیده چې په مغلو کې صبر او زغم تر ډیره نه پاته کیږي اودهغې وروسته هغوې یوځل بیا دنفاق او اختلاف ښکار ګرځي.

د هندوستان دحکمران په څیر دهلي ته دهغه ورننوتل شیرشاه سوری د کوچینوالي دخوبونو تعبیر و. دهلي چې په سهسرام کې دهغه د ذاتي شتمنۍ او ملکیت څخه ډیر لرې و اوس دهغه د قدمونو لاندې و ، دا د شیرشاه سوري د زاړه عمر اخري پسرلې و . حال دا چې دهغه د سیاسي ژوند له پاره دکمال وخت و . هغه وخت چې شیرشاه سوری دهلي ته را ننوت نو په دارالسلطنت کې دهغه په ویاړ ستر جشن جوړ کړل شو .

هغه وخت چې شیرشاه سوری دخپل لښکر سره یو ځای دهلې ته را ننوت نو د دهلي یوې کمزورې ښځې ددې خبرې په ویلو سره دد هلي دهر وګړي ترجمانی وکړه: «بالاخره دهلي ته خپل (میړه) خاوند پیدا شو»

دغې زړې ښځې د شیرشاه سوری په اړه دا خبرې دهغه تر شا کړې وې ، د شپاړسمې پیړۍ د دغې زړې په ذهن کې د میړه «خاوند» انځور دکوم نمایشي خاوند (میړه) په څیر نه و بلکه دمنځنیو پیړیو د ډیر ځواکمن میړه په څیر و ، داسې میړه چې دخپلې ښځې ساتنه وکړاې شي ، دهغې پالنه وکړي او تر څنګ یې دځواک له مخې مرمت هم وکړي. دا د داسې یوه میړه انځور و ، دا چې هغه ځوان وی یا عمر تیری ، دښه صورت او شکل خاوند وي اویا بدشکله ،خو منصف مزاجه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که چيرې د هلي د شيرشاه سوری په راتلو سره جشن جوړ کړې و ، د شيرشاه سورې ستاينه يې کوله نو دا کوم د حيرانتيا وړ خبره نه وه . په دې خاطر چې د دهلی خلک د شيرشاه سوري د سيرت څخه پوره پوره خبر و و . هغوې هيلمن و چې شيرشاه سوری به د دهلی د بيا رغونې او ښايست او تر څنګ يې د دې ښار د او سيدونکو د رفاه او ښيګڼې له پاره کار کوي.

دهلي ښار ته دشيرشاه سوری د ورننوتلو په وخت کې د دهلي ستر شاعر اعظم جائيسي هم شيرشاه په خپلې هندې شاعرۍ کې ډيرستايلې دې ، که څه هم اعظم جائيسي د شيرشاه سوري د دربار شاعر نه و او د دنياوې مسايلو څخه بې نيازه و خو هغه شيرشاه سوری د منصف مزاج خاوند سخت جليل القدره حکمران يادې کړې دې ، دا سې معلوميږي چې د جائيسې په شاعرۍ کې د هندوستان روح ور پوه کړل شوې دې ، هغه شيرشاه سوري ته په خطاب کې وايي چې: ( پادشاه توجګت ګـځ ، جګت تمارا محتاج )

دشيرشاه سورې له پاره جايسي دا سې ستر او اعلې شاعر وګرزيد لکه څنګه چې په راتلونکې وختونو کې د اکبر له پاره دتلسي داس په څير بې مثاله شاعر تر لاسه شو . په هر حال شيرشاه سورې د اکبر له پاره د شهرت او عظمت بنسټ کيښود. په همدې توګه جايسي هم دتلسي داس له پاره په( اودي ژبه کې ) د شاعرۍ لاره پرانسته. پايلې يې دا شوې چې په راتلونکې وختو کې په هندې ژبه باندې د اودي ژبې غلبه وکړه.

د بله اړخه خواص خان هم دبرهم جيت سره يو ځاې دمغلو په تعقيب کې روان و ، دخواص خان او برهم جيت تر مخه د مغلو يوشميرکورنيو دوابه ، دهلي او اګره پريښودل اودخپلو ځانو دخوندې ساتلو په خاطر د تيښتې په لور روانې وې. دا مغل بې چارګان چيرې د پټيدو هم نه و.ځکه چې هغوې په هندوستان کې بيګانه و ، تر څنګ يې دهغوې شکل او شباهت هم ډير حيرانونکې و . هغوې دخپلو خاصو ږيرو او ننوتو سترګو له مخې هر چيرې پيژندل کيده . په همدې خاطر هغوې ته ګواښ و چې و به نيول شي او له منځه به ولاړ شي.

ډلې ډلې مغل د مختلفو ښارونو او کليو څخه راوتل او تښتيدل. ددوې ډيره کو د راجپوتانه په لور ولاړل. اويو شمير نور بې د همايون د ورور هندال د قافلې سره يو ځاې شول ، هغوې دمغلو ښځې او کوچنيان د الور له لارې لاهور ته رسول.

لاهور ته د تللو لاه پاره مرزا هندال هغه لاره خپله کړه چې د اګرې او الور تر منځه د جټانو د سيمې څخه تيريده ، دا سيمه د ځنګلونو څخه ډکه وه ، په دې لاره کې وحشي او بدمعاشو جټانو په مرزا هندال باندې حمله وکړه، مرزا هندال دهغوې سره دا سې مقابله وکړه اودا سې سخته يرغل يې پرې وروست چې هغوې د يوې مخې د نشت سره مخ کړل. ددې راجپوتانو او جټانو د له منځه وړلو وروسته هغه په تيزۍ سره د لاهور په لور وخوزيد.

دبله اړخه همايون هم دخپل لښکر سره يوځاې ريواړي ته ورسيد. هلته ريواړې ته د وررسيدو سره سم هلته تم شو او فکر يې و کړ او بيا يې پريکړه وکړه چې دخپل وروور مرزا هندال پسې وروسته دلاهور په لور ولاړشي، د ريواړي څخه د لاهور په لور دتللو په وخت کې همايون د رهتک په لور وخوزيد ، رهتک د دهلي څخه دغرب په لور څلويښت ميله واټن لري، همايون هلته د مئ په مياشت کې ور ورسيد. رهتک دهمايون په ولکه کې نه و بلکه دهريانه د ولايت يوه برخه وه چې همايون د شهنشاه په توګه ديوې قصيدې د انعام په بدل کې خپل وروور مرزا کامران ته وربښلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همايون رهتک ته د ورسيدو سره دا هيله درلوده چې څرنګه چې دا سيمه دهغه د ورور مرزا کامران پورې اړونده ده نوپه دې خاطر به خلک دهغه دروند استقبال وکړي. خو هغه هغه وخت حيران شو چې درهتک خلکو ښار ته دهغه د راننوتلو څخه مخنيوي وکړ او دهغه تر مخه يې د شهرپناه دروازه وتړله. همايون د خپل لښکر سره يو ځاى د رهتک د ښاره نه بيرون پړاو وکړ ،په همدې وخت کې دهمايون ورور مرزا هندال هم د الور څخه رهتک ته را ورسيد. درهتک دخلکو د عکس العمل په کتلو سره همايون په رهتک دحملې کولو حکم وکړ او دښار ساتونکې ډلې يې و نيولې او ښار يې په خپله ولکه کې واخست ، ددې حملې څخه دا هدف نه و چې همايون غوښتل په دې ښار کې تم شي بلکه هغه دا کار دخپل عزت او ابرو د خوندي ساتلو په خاطر وکړ .

په رهتک کې دڅو ورځو د تمکيدو وروسته همايون ددې ځايه کوچ وکړ او د سرهند په لور روان شو ،همايون به هره ورځ شل يا پنځه ويشت ميله واټن سفرکاوه . په دې لړ کې سرهند ته ورسيد ، سرهند ته د ورسيدو له پاره هغه هغه لاره خپله کړه چې د سمانې او پټيالې څخه تيريده .همايون د خپل لښکر سره يو ځاى څو ورځې هلته په سرهند کې تم شو ،اوبيا يې ددې ځايه هم کوچ وکړ ،خپل ورور مرزا هندال يې د خپل لښکر سره هلته د ستلج ددرياب په غاړه و ټاکه ترڅو خواص خان پرې دهغه لورې حمله ونه کړي. ځکه همايون ته خبر ورغلې و چې شيرشاه سوری خواص خان ته حکم کړې دې چې هغه دې يو اځې او يو اځې همايون تعقيب کړي خو حمله دې پرې نه کوي.

دخپل ورور مرزا هندال د ټاکلو وروسته همايون په ډيره ارامۍ سره د ستلج ددرياب څخه تير شو او جالندهر ته ورسيد .دلته يې قيام وکړ او د بياس ددرياب په غاړه يې دخپل ورور مرزا هندال انتظار پيل کړ .

اوس نو شيرشاه سوری هم دخپل لښکر سره دپرلپسې سفرونو وروسته لاهور ته را رسيدلې و ، هلته دلاهور ښار هم په دې ورځو کې په ډير عجيبه کيفيت کې پروت و . مغل د هرې لورې دې ښار ته را روان وو ، د لاهور ښار دهمدې ليږد کونکو له پاره يو ډول کيمپ ګر زيدلې و. ځکه هر مغل ، دوست ، دښمن ، ليونې او سپلنې ټول د لاهور په لور را تښتيدل. مرزا عسکری او مرزا کامران چې په تيرو وختو کې دهمايون څخه خفه شوي و هغوې هم دخپلو خپلو لښکرو سره يو ځاى د همايون سره د کتلو له پاره لاهور ته راغلی وو.

دهمايون اودهغه د لښکر د رارسيدو سره يوځاى د لاهور دښار فضا هم ډيره بدله معلوميده. همايون او دهغه ورونه چې پخوا له دې يو دبل څخه خفه معلوميدل ، نوو حالاتو دهغوې تر منځه يووالې او اتحاد را پيدا کړې و. لاهور ته په را رسيدو سره هر چا سولې او مصالحت خبرې کولې. لاهور ته د همايون د رارسيدو نه يوه اونۍ وروسته ، دمغلو د را يوځاى کيدو او ددوې تر منځ د اتحاد اويووالې له پاره د همايون تر مشرۍ لاندې يوه ستره غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې همايون خپل شاهی اختيارات همدې غونډې ته ورحواله کړل.

ددې غونډې جريان هم ډير عجيب اوغريب و ، دمغلو دا غونډه د پښتنو د جرګې په څير نه وه چې پريکړه يې په هر خاص و عام باندې لازمه وي ، که څه هم هغوې ددې پريکړې سره موافق وی اويا مخالف. ددې غونډې دپيل دمخه يوه اعلاميه د اتفاق او اتحاد تر نامه لاندې وليکل شوه ،په دې اعلاميه باندې د ټولو مغلو سردارانو ، دهمايون اودهمايون د ورونو لاسليکونه شوي وو. ددې نه وروسته همايون دغې غونډې ته خپل وينا وکړه . ددې وينا لنډيز دا سې دې چې مغلو ته د شيرشاه سوری په لاسو د ماتې ورکولو وروسته خپل منځې اتحاد او اتفاق بايد له لاسه ورنکړل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې همايون خپله وينا پای ته ورسوله نو د همايون د ورونو او نورو سالارانو تر منځه هماغه پخوانۍ بې اتفاقي بيرته را وګرزيده. دهغوی ژبې خلاصې شوې او هريوه هڅه کوله چې په غونډه کې دې دهغوی وړانديزونو باندې بحث وشي ، اوهمغوی ته دې اهميت ورکړل‌شي اودهمدوی خبرې دې ومنل شي. کله چې د همايون ورور مرزا کامران دا وړانديز وکړ چې هغه به دکورنۍ ټولې ښځې هلته په کابل کې پرېږدی او بيرته تر به د يوه لښکر سره يو ځای راستونيږي ،نو تر هغې دې همايون او دټولو مغلو سرداران دخپلو لښکرو سره يو ځای دغرونو په پناه ځايو کې دهغه د بيرته راستنيدو پورې انتظار وکړي. ټولو دمرزا کامران ددې وړانديز مخالفت وکړ ،هيڅا نه غوښتل چې ښځې دې يې د نارينه و څخه جدا و اوسي. په دې وخت کې مرزا هنډال د هندوستان د بيرته سوبې کولو له پاره يو ډير ښه وړانديز وکړ ، هغه وويل چې شيرشاه سوری د جنګيدو اراده شاته کړې ده. تر ټولو دمخه د سيند يو شمير سيمې دې و نيول شی اوځه لښکرې دې په ګجرات باندې ولکه وکړي ،همدلته انتظار وکړئ تر څو د حملې کولو له پاره کومه ښه موقع تر لاسه نه شي.

د همايون يو بل ښې لاسې دوست مرزا حيدرا وړانديز وکړ چې هغه خلک چې په کشمير کې ددوی سره ديو ځای کيدو له پاره تيار دي او پخپله کشميريان يې غداران ګڼي دهغوی په واسطه هم کشمير فتحه کيداې شي ترڅو د اړتياو په وخت کې د مغلو ټول وګړي هملته پناه يوسي. هغه وويل چې د مغلو ټولو سردارانو د سارنګ څخه نيولې تر سرهنده پورې په ټولو دروازو اوغرنيو سيمو باندې ولکه کول په کار دي.او هملته سکونت بايد اختيار کړل شي. شيرشاه سوري ته به ددې غرنيو سيمو په لور د راتلو له پاره څلور مياشتې وخت په کار وي. هغه به و نه توانيږي چې دې سيمې ته خپل توپونه راوړي، اودا توپونه دهغه ځانګړې وسله ده ، په دې توګه به مغلو ته د شيرشاه سوري په مقابله کې دځان دتيارولو له پاره څه د سکون او ډاډ وخت تر لاسه شي.

دهمايون ورور مرزا کامران دهغه دا وړانديز ناکاره و ګڼه او ويې ويل چې په دې توګه به دوه لکه کورنۍ د تباهۍ سره مخ شی. دبله اړخه مرزا هنډال د سيند د سوبې کولو خوبونه کتل. تر څنګ يې مرزا عسکري دخپل ورور مرزا کامران دآند سره موافقت و ښود ، په دا سې حال کې چې همايون د خپل ښې لاسې مشاور سالار مرزا حيدري وړانديز ډير خوښ شوې و. بلاخره د ډيرو خبرو اترو وروسته دا غونډه پای ته ورسيده. دغونډې وروسته دمغلو اودهغوی د سردارانو تر منځ کشمکش د پخوا څخه زياد ښت وموند او هر چا دخپلې لارې دپيدا کولو هڅې پيل کړې. په همدې دوران کې د همايون رعب او دبدبه دخپلو ورونو او سردارانو په مقابل کې د نشت سره برابره شوه ، په دې اساس هغه نور هم ډيرغمژن او ناښاده وګرزيد.

په همدې حالاتو کې همايون د شيرشاه سوری داخري ځل له پاره د سولې د رامنځته کيدو هلې ځلې کولې. هغه ددې کار د تعقيبولو له پاره مظفربيګ ترکمان او قاضی عبدالله و ټاکل ، همايون دوې دواړه د شيرشاه سوری په لور ور واستول ، او هغه ته يې دا پيغام ور وليږه چې شيرشاه سوري دې د همايون له پاره لږ تر لږه د سرهند اخوا د پنجاب سيمه پريږدي.

شيرشاه سوری د دهمايون د راليږونکو خبرې په ډير غور او درنښت سره واوريدې ، او تر يوه وخته پورې يې دهغوی سره خبرې اترې وکړې او په اخر کې يې خپله پريکړه همايون ته دا سې و ليږله.

« ما ستا له پاره کابل پرې اينبې دې هملته ولاړ شه.»

د شيرشاه سوري له اړخه دې ځواب همايون ډير زيات ناهيلې کړ نو په دې خاطر يې د لاهور څخه د کوچ کولو هوډ وکړ ، کله چې همايون دا پريکړه وکړه نو دهرې لورې يو توپان را پورته شو او دقيامت ورځ جوړه شوه. خلکو خپل کورونه او ملکيتونه چيرې چې و هملته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودل او څه ډول يې چې کولې شو خپله نغدي پيسې او زيورات يې له ځانو سره را واخستل ، بلاخره د اکتوبر په مياشت کې د مغلو ددوولکو کسانو يوه ستره قافله په توپاني توګه د راوي ددرياب څخه تيره شوه او د غرب په لور په پوره نامعلومه حالاتو کې روانه شوه .

دا دردونو او کړاونو ډک حال و . خو د همايون ناسکه ورور مرزا کامران بيا هم دخپلو بدکاريو او ناروان کړچار څخه وانه ونښت . هغه ددې ټولو هرڅه د بايليدو وروسته هم دخپل حماقتونو ښرګندونه کوله . دچناب ددرياب غاړې ته د ورسيدو وروسته هغه دخپلو عسکرو او دوستانو سره يو ځای د همايون څخه جدا شو او په ډيره بيړه د بهيرې په لور وخوزيد.

بهيره په دې ورځو کې ډير مهم ښار ګڼل کيده ، ددې ځايه درې سړکونه مختلفو لوريو ته تلل. يو د پيښور څخه تيريده او کابل ته رسيده . بل يې د جنوب له لارې د کوهاټ څخه تيريده ، او دريم يې د کشمير جنوبي پولو ته وررسيده .

ددې سفر په دوران کې همايون لا تراوسه پورې خپله اخري پريکړه نه وه کړې ، که څه هم هغه يو ځل نيم ويلي و چې هغه دلاهور څخه د تللو وروسته د بدخشان په لور ورځي ،کامران په دې شک چې هسې نه چې همايون دهغه ځايه په کابل باندې ولکه وکړي دهغه ددې وړانديز سخت مخالفت وکړ. همايون دخپل ورور په شک باندې و پوهيده . بيا هغه هيڅکله هم دخپلې دغې خبرې يادونه ونه کړه . هغه د بابر د اسې يو نيک طبيعته اولاد و چې هغه ته دا د زغم وړ نه وو چې هغه څه چې دهغه پلار دهغه دغه کوچنی ورور ته ورکړي و و دهغه څخه بيرته واخلي . هغه دومره ايمانداره انسان و چې هر هغه څه يې چې يو ځل په ښې لاس چاته ورکول نو دهغې دبيا بيرته اخستلو په اړه يې فکر هم نه کاوه . خو دهمايون په مقابل کې کامران په ډيره غلطه توګه شک کاوه .

کامران د همايون څخه څو ورځې مخته بهيرې ته ورسيد ، همايون هم بهيرې ته د ورسيدو سره سم د کشمير په لور د تللو اراده وکړه ، هغه ددې مقصد په خاطر خپل څو کسان کشمير ته وليږل ترڅو دهغه ځای حالات و څيړي او ددې له پاره يې مناسب وګرځوي .هغوی ته يې دا هم وويل چې هغوی دې د پونچهـ په درې کې دهغه له پاره انتظار وکړي. دهمايون ورور کامران مرزا د همايون دا دوا ړه قاصدان ووژل او په دې توګه يې د کشمير په لور د همايون د ورتللو هڅې هم شنډې کړې . کله چې همايون ته دخپلو ملګرو د وژل کيدو خبر ور ورسيد نو هغه نور هم غمژن شو اودا کار يې خپل سپکاوی و ګڼلو . په دې وخت کې دهمايون څو ملګري په قهر او غضب شول او د کامران د وژلو اراده يې وکړه . نو که چيرې همايون د خپل دغه ناسکه ورور سره د وروررګلوۍ بلکه د پلارولۍ په څير د شفقت نه ډک کړچار نه وای کړې نو په دې نازکه وخت کې به دهمايون حالات دغسې ناوړه نه ګرزيدل

د ورونو دهمدې کړچار او دخپل منځې جګړو په اساس دهمايون همت نور ځواب وايه . دهغه دماغ تراوسه پورې د تذبذب په حال کې و . دکامران په اړه دهمايون نرمې رويې او په دې اړه دمخکې وروسته والې په خاطر دهمايون بل ورور مرزا هندال او کاکا ناصر مرزا صبر تر پوزې راغلې و ، بلاخره همايون دهغوی وړانديز په مات زړه و مانه او د سيند په لور د تللو له پاره تيار شو .

ددې مقصد له پاره همايون د جهلم دشرقي څنډو څخه د تيريدو او ملتان ته د ورسيدو په خاطر د جنوب لاره خپله کړه ، ناصر مرزا او مرزا هندال هم تر يوه واټنه پور ې دهغه دسفر ملګري وو خو وروسته دواړو د بې وفايي ښرګندونه وکړه اودهغه څخه بيل شول. په همدې وخت کې همايون ته خبر را ورسيد چې د شيرشاه سوری يو لښکر دهغوی په تعقيب پسې را روان دې ،په دې حالاتو کې دهمايون سره ددې پرته بله لاره نه وه چې د غرب په لورو تښتي او دجهلم ددرياب څخه تيرشي او دې لورې ته راشي، دخپلو ورونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا د بې وفايي څخه د په تنګيدو وروسته هغه د خوشاب په لور په ډېره ګړندۍ توګه سفر وکړ. خوشاب د بهيرې غربي لورې ته پروت او ددې ځايه يې نژدې څلويښت ميله لرې واټن درلود. همايون غوښتل خوشاب ته په رسيدو باندې د امن او سکون ساه واخلي خو دهغه ورور مرزا کامران هم په ډېره بيړه خوشاب ته ور روان و. کامران د همايون څخه يو يا دوه ورځې مخته خوشاب ته ور رسيدلې و او دلته يې په ناڅاپې توګه د همايون سره ليدنه وشوه. خودهغوې تر منځه د اختلافاتو واټن نور هم زياتيده اودکامران بدنيتۍ نوره هم مخته راغله.

د سيند په لور د نه تللو وروسته کله چې همايون د غرب په لور را وګرزيد نودهغه په دې کار باندې دکامران په زړه کې دا خبره را وڅرخيده چې هسې نه چې همايون د سيند په ځاې د کابل په لور مخه و نه کړی او دکابل او قندهار د ولکې کولو اراده ونه کړي.ځکه چې کابل او قندهار دکامران په حاکميت کې وو.

دهمدې فکر په واسطه کامران غوښتل همايون نور هم د ذلت سره مخ کړي ، په دې وخت کې هغه شاهي لقب خپل کړ او په خوشاب کې يې په خپل نوم باندې خطبه هم ولوستله. په همدې وخت کې هغه ته خبر ورسيد چې شيرشاه سوری دهغه پسې را روان دې ، په دې خاطر دواړه د خوشاب څخه ووتل او د سيند په لور و تښتيدل ، ان تر دې چې يوې تنګې درې ته ورسيدل ، چې په خوشاب کې د مالګې د کانونو ترمنځ پرته وه.

ددې درې څخه دوو لورو ته سرکونه تلل، يو جنوب لورې دملتان په لور او بل دکوهاټ لورې ته د کابل په لور. اوس نو کامران ته دا انديښنه راپيدا شوه چې که چيرې د همايون فوځونه ددې نه مخته دغې درې ته ورسيږی نو دوې به هلته تم شي اوبيا شونې ده چې همايون به دکابل په لور د تللو اراده وکړي اوکوهاټ د سيمې څخه دتيريد و سمدستي وروسته به په کابل باندې ولکه وکړي. خو دهمايون په وهم اوګمان کې هم دا ډول فکر نه راته. بيا هم ددې پريکړې له پاره چې څوک دې لمړۍ درې ته ورسيږي اوترې تير دې شي ، ددواړو تر منځه بايد پريکړه وشي. خو کله چې پريکړه ونه شوه نو ددواړو خوا او له خوا تورې د تيکو څخه راوويستل شوې ، همايون ته د هره اړخه سبقت ور په برخه و ، ځکه چې هغه د کامران څخه په عمر کې زيات و اوبيا پادشاه هم و اودايي غوښتل چې درې ته دکامران تر مخه ور ننوځي.

همايون هسې هم ډير ځان باندې انسان و ،او په خپلو مصيبتونو کې يې دپوره زغم څخه کار اخست ،هغه وخت چې هغه دا ګرې څخه په تيښته و ، نو په اتفاقي توګه د هغه يوه وفادار ملګري فخرالدين خپل آس د همايون څخه مخته کړ ، ددې ډول بې ادبۍ سزا قتل و.خو همايون د ضبط نه کار واخست. همايون په ډيرو کوچنيو معاملو کې دومره باخبره او ضدی و خو د قسمت د ګردش په اساس هغه ته دا ورځ په برخه شوې وه.

بلاخره ددې غمناکې پيښې پريکړه د لښکرو په يوه مشر ور واچول شوه. دې دواړو فقيرانو ددې معاملې حل همدې بزرګ ته ور پريښود. خودې فقير انسان دهمايون په اړه پريکړه وکړه. خو دا يې په څرګنده توګه وويل چې دا ترجيح په دې خاطر نه و چې همايون پادشاه دې بلکه په دې خاطر چې هغه دکامران مشر ورور دې. په هر حال د همايون په مشرۍ کې د مغلو دې قافلو دا دره ووهله. اودڅو ميله واټن وهلو وروسته هغه ځاې ته چې سړک په کې په دوو برخو ويشل کيږی،هلته دواړه ورونه يو دبل څخه جدا شول. کامران دکابل په لور ولاړ اوهمايون د جهلم ددرياب په غربی څنډ و باندې سفر کاوه.هغه دملتان هغې برخې ته ورسيد چېرې چې جهلم اوچناب

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه سره یوځاې کیږي ،هغه به دلته په کوم ځاې کې ددریاب څخه دملتان په لور دورتللو له پاره تیر شوی وی،هغه په ارادي توګه غوښتل د ملتان څخه په ځنګ ولاړ شی ، ځکه هغه اندیښمن و چې هسې نه چې شیرشاه سوري دهغه دنقل وحرکت څخه خبر شي او مداخله وکړي. په دې توګه د ستومانه سفر کولو نه وروسته همایون روغ رمټ د شعبان په میاشت کې (اچ ) ته ورسید.

شیرشاه سوری د همایون د تعقیبولو له پاره خواص خان ګمارلی و. هغه ان تر سرهنده پورې دهمایون لښکرې تعقیب کړې ، خواص خان ته شیرشاه سوری دا حکم کړی و چې دهمایون په تعقیب پسې دې ولاړ شي خو پر هغې دې حمله نه کوي. شیرشاه سوری غوښتل په دې ترتیب همایون د سلطنت څخه بیرون کړي تر څو په راتلونکې کې هغه ته کوم مصیبت جوړ نه کړی ، تر سرهنده پورې د تعقیبولو وروسته خواص خان هملته په سرهند کې دخپلو فوځونو سره یوځاې پړاو وکړ.او دشیرشاه سوری دبل حکم انتظار ته کیناست.

په دا بل اړخ کې (په ۱۵۴۰ زیږدیز کال د برسات په موسم کې ) شیرشاه سوری ته دلاهور څخه خپلو مخبرانو په پرلپسې توګه دهغه ځاې دحالاتو په اړه تفصیلی خبرونه ور لیږل. دهمدې خبرونو په اساس شیرشاه سوری دبیاس ددریاب په غاړه دمغلو په نظامي ځایو باندې یرغلونه پیل کړل ، تر ځنګ یی یو ګړندې قاصد سرهند ته د خواص خان په لور واستاوه او هغه ته یی حکم وکړ چې د سرهند څخه ووځې او دهمایون په تعقیب پسې ولاړ شي. دهمدې قاصدانو په خوله یی خواص خان ته د سرهند او دهغې شاوخوا سیمې د تحفې په ډول ور وبښلې. خواص خان هلته دخپل ځان له اړخه یو ناظم و ټاکه. او پخپله د خپل لښکر سره یو ځاې دهمایون په تعقیب پسې ووت. خواص خان سرهند کې خپل یو ډیر نږدې ملګرې او دوست دهغه ځاې د ناظم په توګه ټاکلی و.

په حقیقت کې شیرشاه سوری نه غوښتل دهمایون سره ټکر وکړي ، هغه دا غوښتل چې د سیند په لور د تللو په وخت کې همایون دهغه د لښکر او ملګرو په لاره کې کوم خنډ را پیدا نه کړي ، هغه ددې نه هم ویریده چې هسې نه چې همایون سیند یا کشمیر ته ځان ورسوي ، ځکه دا دمرزا هنډال او مرزا حیدر خان غوښتنه وه . هماغه و چې شیرشاه سوری دتعقیبولو له پاره داسې لارې چارې ولټولې چې دهغوې له مخې مغلو ته په سیند یا کشمیر کې دتم کیدو ټول امکانات له منځه تلل.

شیرشاه د همدې اندیښنو په لړ کې د اکتوبر په دریمه اونۍ کې دستلج ددریاب څخه تیر او د لاهور په لور وخوزید. دبله اړخه خواص خان دسرهند څخه دکوچ کولو وروسته جالندهر او امرتسر له لارې د لاهور په لور را روان وو.

شیرشاه سوری او خواص خان دواړه دخپلو لښکرو سره یو ځاې په لاهورکې یو ځاې شول ، هغوې دلته خپل وخت ضایع نه کړ بلکه سمدستي یی د تیښتې په حال کې د همایون اودهغه دملګرو تعقیب پیل کړ. په دې خاطر دواړو دخپلو متحده لښکرو سره یو ځاې د مغلو دتعقیبولو پسې دغرب په لور روان شول ،کله چې هغوې د چناب ددریاب غاړې ته ورسیدل نو هغو ته څرګنده شوه چې همایون دخپلوورونو څخه جدا شوي دي ،شیرشاه سوری دخپل لښکر یوه برخه د ملتان په لور دمرزا هنډال اوناصر مرزا د تعقیبولو له پاره واستوله او په خپله یی د بهیرې په لور مخه کړه.

د بهیرې په لور شیرشاه سورې ډیر په احتیاط سره قدم واخست ، هغه ویریده چې هسې نه چې همایون د مالګې دغرونو څخه تیر او دکشمیر په لور مخه کړي ، شیرشاه سوری د بهیرې څخه خوشاب ته ورسید ،خواص خان هم ورسره ملګرې و.دلته شیرشاه ته معلومه شوه چې همایون اوکامران یو دبله څخه جدا شوي دی او په مختلفو لارو باندې روان شوي دي. په خپله شیرشاه سوری هملته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشاب کې پاته شو خو خواص خان ته یې حکم وکړ چې دخپلې برخې دلښکرسره دې یوځای د جهلم ددریاب په غربی برخه کې د همایون د لښکرو تعقیب پسې ولاړ شي.

د شیرشاه سوری د حکم سره سم خواص خان په ډیره بیړه د همایون او دهغه د لښکرو پسې ووت ، یوشمیر تاریخپوهان دا هم لیکي چې خواص خان په همایون باندې دحملې کولو جرءت نه کاوه خودا دهغوی خام خیالي ده ، دا دهغو تاریخپوهانو آند دی چې دشیرشاه سوری خلاف اودهمایون په حق کی یی لیکنې کړې دي، هغوی دهمایون په خاطر د تورونه سپین او د سپینو څخه تور جوړول. اوکه نه خواص خان دشیرشاه سوري هغه بهادر او میړنی قوماندان و چې دوه ځلې یی په چوسه او لګرام کې دهمایون د فوځونو جرړې راویستلې وې ، اودا هماغه خواص خان و چې په واسطه یی دوه ځلې شیرشاه سوري ته په همایون باندې سوبه ور په برخه شوې وه.

دهمایون سره تصادم نه کول د خواص خان کمزورتیا نه وه بلکه دا دشیرشاه سوری د اوسپنیز نظم اونظام یو ډول ثبوت و. شیرشاه سوری په لرې کیناستو سره هم ددې وړتیا درلوده چې دخپل فوځ نظم و نسق سنبال کړي او هغوی ته لارښوونه وکړي. اودخواص خان په څیر زړه ور ، نومیالي او جنګیدلي قوماندان هم دهغه د نظم وظبط مخالفت و نه شی کولی.

همایون تر یوه وخته پورې دخپل ورور مرزا هندال اوکاکا ناصر مرزا سره یوځای هملته په (اچ ) کې پاته شو ، په دې وختو کې د اچ او ملتان تر منځه سیمه دیوه نوي مسلمان شوي وګړي په لاس کې وه چې بخشولنګاه نومیده ، دا دلنګا دقبیلې څخه و اودمرزا کامران باج ګذاره و. کله چې همایون دې سیمې ته راورسید نو بخشو لنګاه دهمایون سره ډیر ښه سلوک وکړ اوهمایون هم ورته د خان صاحب لقب ورکړ. دهمایون دا کار داسې وه لکه چې اوس هم هغه دډهلي په تخت باندې ناست وی اوخلکو ته اعزازونه او لقبونه ورښښي.

بخشولنګا په دې خاطر دهمایون سره مرسته نه وه کړې چې همایون د هندوستان شاهنشاه دی بلکه هغه د سیند د ارغون حکمران څخه بدل اخستل غوښتل . اوهغه غوښتل چې همایون څو ورځې دلته قیام وکړي اودهغې وروسته سیند ته ور ننوځي او د سیند ارغون حکمران ته زیان ور واړوي. د بخشو لنګا په سیمه کې د څو ورځو د قیام نه وروسته همایون د سیند شګلوړې زمکې ته ور ننوت . خواص خان دهمایون په تعقیب پسې روان و او ان د سیند تر غاړو پورې رسیدلی و . او د اچ څخه درویشت میله جنوب لورې ته ، په کوم ځای کې چې د ستلیج دریاب د پنجاب د نورو دریابونو سره یو ځای کیږي ، دخپل لښکر سره یو ځای تم شو ، ددې ځایه وروسته خواص خان ته دهمایون د تګ لاره نه وه معلوم. د بلې لورې همایون د خپل لښکر سره یو ځای نیغ سرک پری ایښې و او د جنوب شرق په لور ګرزیدلی و ،همایون د ۱۵۴۱ کال د جنوري په ۲۲ مه دخپل ورور مرزا هندال او کاکا مراز ناصر سره یو ځای (روړي) ته ورسید ، هلته ورته د بهګر د کلا والي ښه او دمینې ډک ښه راغلاست ووایه . مګر مغرور همایون د والي دغه ګرم ښه راغلاست دهغه په کمزورتیا باندې حساب کړ اوسمدستي یې حکم وکړ چې والي دې دحکم اطاعت وکړی او کلا دې هغه ته تسلیم کړي.

په دې توګه بهګر ته د ورننوتلو وروسته اوهملته په پاته کیدو سره همایون د خپل ورور مرزا هندال اوکاکا ناصر مرزا سره یو ځای د سکون اوډاډ ساه واخستله. کله چې خواص خان ته خبر ورسید چې همایون دخپلو پاته شونو لښکرو سره یو ځای (روهړي) ته رسیدلی دی نو هغه په ملتان کې پړاو وکړ ، دا خبرونه شیرشاه سوری ته هم ور رسیدلي و ، په دې اساس شیرشاه سوری هم دخپلو لښکرو سره یو ځای ملتان کې دخواص خان سره یو ځای شو اودواړو متحده لښکرو هملته په ملتان کې قیام وکړ.

۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ملتان کې او سیدو په وخت کې یوه ورځ نیرمل او کملاوتي دواړه په خپلې خیمه کې خاموشه ناستې وې . په دې وخت کې کملاوتي نیرمل ته مخ کړ او ورته یې وویل چې:

ګوره نیرمل ! زه په ډیره بې صبرۍ سره تر اوسه پورې ستا د ځواب انتظار کوم، زه تا ته دا خبره په دې خاطر نه یادوم چې په څو تیرو ورځو کې لښکر په جنګ جګړه کې بوخت و او دیوه ځایه بل ته او دهغه نه بل ته روان و . او زه په دې ډاډمنه یم چې تا ته به دد ې پرلپسې سفر او ستړتیا له وجې دفکر کولو وخت هم نه وي تر لاسه شوې . اوس چې د څو ورځو راهیسې لښکر دلته په ملتان کې پړاو کړې دې نو زه له تا پوښتم چې هغه هیله مې چې له تا کړې وه دهغې په اړه ستا پریکړه څه ډول شوه ؟

نیرمل تر لږه وخته پورې خاموشه ناسته وه ،بیا یې په ډیر غور سره د کملاوتي په لور وکتل او ورته په ډیره پټه توګه وویل چې:

ګوره کملاوتي لورجانې ! هغه کار چې ته یې له مانه کول غواړې زه دهغې دکولو له پاره تیاره یم ،که چیرې خواص خان ستا ورور پالامو وژلې دې نو دا ستا حق دې چې ته دخواص خان څخه دخپل ورور د وژلو بدله واخلې او هغه ووژنې. په دې لړ کې ما اراده کړې ده بلکه دا سې یې وګڼه چې هوډ مې کړې دې چې په پوره توګه به له تا سره ملګرې کیږم. تر څو ته د خواص خان څخه انتقام واخلې او هغه ته کلکه سزا ورکړې ، خو ګوره چې ستا ددې کار سره ما ته ډیر ستر خطر او ګواښ متوجه کیږي. دنیرمل ددې خبرو سره کملاوتي ټکان وخوړ او ورته یې وویل چې څه ډول ګواښ او خطرات؟ نیرمل ورته یوځل بیا په ډیره پټه او را ز سره وویل چې:

ګوره کملاوتي ! که ته په بې خبرۍ کې په خواص خان باندې لاس پورته کړې او هغه ووژنې نو یاد ساته چې ، څرنګه چې تا دلته له ما سره وخت تیر کړې دې او کله چې پرتا باندې د قتل او وژلو شک وکړل شي نو ستا سره به زه هم له منځه ولاړه شم. خو زه نه غواړم په دې عمر کې خپل انجام خراب کړم. ګوره کملاوتي ! ما ستا سره دملګرتوب هوډ کړې دې خو ددې کار د تر سره کیدو دمخه باید ته خپل دا سې یو پلان جوړ کړې چې زه په اسانۍ سره و توانیږم له دې ځایه ووځم او خوندي پاته شم او ته هم ددې کار د کولو نه وروسته خپل ځان خوندي ځای ته ورسوی.

دنیرمل د چوپتیا وروسته کملاوتي په زوره وخندل او ویې ویل چې: نیرمل !تا خو زه ډیره وویرلم خو دهغې خطراتو څرګند ونه چې تا وکړه هغه بلکل دا همیت وړ نه د ي. ګوره نیرمل ! زه به په خواص خان باندې په یوې مناسبه موقع کې لاس پورته کوم، په هغې باندې هسې د لاس په پورته کولو سره نه خپل ځان او نه تا په خطر کې اچول غواړم. زه چې کله هم خواص خان وژنم نو هغه به دهند په منځنۍ سیمو کې اویا ددې سیمو په شاوخوا کې وژنم. اودهغې د وژلو ترمخه به زه خپل باوري خلک هم هلته راغواړم. اوبیا به دهمغوې په کومک باندی خواص خان ته سزا ورکوم.بیا به تا هم له ځانه سره یو خوندي ځای ته یوسم. دا سې ځای ته چې هلته دشیرشاه سوری هیڅ جاسوس او یو بل کوم وګړې زمونږ له پاره دخطر سبب و نه ګرځي. دکملاوتي په دې خبرو باندې نیرمل خوشحاله شوه او ویې ویل چې: که چیرې ته همدا سې کار وکړي نو زه به دا وګڼم چې تا پر ما باندې ډیر احسان کړې دې . دنیرمل په خوشحالۍ باندې کملاوتی هم خوشحاله شوه او ویې ویل چې:

ګوره نیرمل !اوس چې تا پر ماباندې باور وکړ او زما په کار کې دې زما د ملګرتوب له پاره هوډ کړې دې نو اوس به زه تا دخپلې یوې بلې دا سې ارادې څخه هم خبره کړم چې تر اوسه مې په خپل زړه کې ساتلې وه. د کملاوتي ددې خبرې سره نیرمل هغې ته په ډیر غور سره وکتل او بیا یې ترې و پوښتل چې: څه ډول اراده ؟ کملاوتي په ځواب کې ورته وویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره نیرمل ! زه په دې خبره باندې ډیره زیاته غمژنه او خفه یم چې ګنګا اسلام قبول کړې او دیوې مسلمانې پیغلې په څیر یې د خواص خان سره واده کړې دې ، ته پوهیږې چې ګنګا یو وخت د رهتاس د راجه شهزادګۍ وه ، او د شهزادګۍ په څیر هغه زما د روند مهارت ته ډیره په زړه پورې وه . مهارت په نوم ورکې توګه د ګنګا په سویمبر کې هم ګډون کړې و خو د مهارت بدقسمتي په دې کې وه چې هغه سویمبر خواص خان و ګټه. بیا مهارت د زیارت دلنګر ځاې څخه ګنګا په دې خاطر پورته کړه چې هغه د لیونتوب تر پولو د هغې سره مینه کوله. بیا بدې دا راپیدا شوه چې خواص خان هلته هم ور ورسید ،ګنګا یې تر لاسه کړه او د مهارت کار یې پاې ته ورساوه. زما ورور پالامو د څو ملګرو سره په تیښته بریالې شو او بیا د پرتګالیانو سره یوځاې یې یو متحده لښکر جوړ کړ خو خواص خان پرې یرغل وروړ او د هغوې هغه متحده لښکر یې هم د نشت سره مخ کړ. او زما ورور یې هم له منځه یوړ. زه خو خواص خان د مهارت او پالامو د وژلو په ګناه باندې له منځه وړل غواړم خو غواړم ګنګا هم له منځه یوسم. په دې خاطر چې هغې خپل د هرم پرې ایښې او اسلام یې قبول کړې دې ، ایا ته زما د دې وړاندیز سره کوم اختلاف لرې ؟ نیرمل ورته په یوه درز سره وویل چې:

نه ! ماته ستا د دې وړاندیز سره هیڅ اختلاف نه شته. کملاوتي تر یوه وخته پورې خاموشه وه بیا یې په ډیره عجیبه توګه د نیرمل په لور وکتل او ورڅخه یې وپوښتل چې: نیرمل ! ما اوریدلي دي چې تا هم اسلام قبول کړې دې. او ستا د خبرو څخه هم همدا سې ډاګیزیږي نیرمل ورته وویل چې: ته سهي خبره کوې. خو کملاوتي ! دا ټول هر څه ما په ظاهري توګه منلي دي. خو زه په خپله همغسې کلکه هندوه یم. او په همدې باندې عمل کوم. د نیرمل د ځواب په اوریدو باندې کملاوتي خوشحاله شوه، د خپله ځایه راپورته شوه او وویې وویل چې:

واوره نیرمل ! اوس چې تا له ما سره د یوځاې کیدو هوکړه کړې ده ،نو زه خپل کار پیلوم. د همدې نن ورځې څخه به زه نوره هره ورځ د خواص خان او ګنګا خیمې ته ورځم. د هغوې خیمه به پاکوم او د هغوې د کالیو د پاکوالي خیال به ساتم. تر څنګ به یې د خیمې د هر څه په اړه خیال کوم. دا ټول کارونه به په خپلو لاسونو سره تر سره کوم. په دې توګه به زه د خواص خان او ګنګا د باور د تر لاسه کولو هڅې کوم. کله چې دا خلک بیرته د دهلي په لور کوچ کوي نو زه به خپل باوري وګړي هملته را وبولم او د همغوې په کومک سره به د ګنګا او خواص خان کار پاې ته ورسوم. د دې خبرې سره سم کملاوتي د خیمې څخه ووتله.

خواص خان او ګنګا دواړه میړه او ښځه په خپله خیمه کې ارام ناست و او په کومه موضوع یې خبرې کولې. په همدې وخت کې د خیمې دروازې ته کملاوتي راغله. د هغې په کتلو سره ګنګا د خپل میړه د څنګ څخه لږ څه اخوا شوه ،ځان یې را ټول کړ او بیا یې په لوړ اواز وویل چې: کملاوتي څه خبره ده ؟ ته ولې د دروازې تر څنګ ولاړه یې ؟ د ننه راځه ! کملاوتي کرار کرار د ننه راغله او د ګنګا تر مخه ودریده. ګنګا په خپل څنګ کې ورته د کیناستو اشاره وکړه او ورته یې وویل چې ته ولې ولاړه یې ؟ را ځه دلته کینه. ایا کومه ستونزه او تکلیف در رسیدلې دې او یا بله کومه خبره ده چې دا سې خفه خفه یې ؟ کملاوتي د ګنګا تر څنګ کیناسته او بیا یې په ډیر ادب سره وویل چې:

زه ستاسو د دواړو څخه د یوې هیلې او امید له پاره راغلې یم ، او زه هیلمنه یم چې تاسې دواړه به ما ناهیلې نه کړئ. خواص خان په ډیر غور سره د کملاوتي په لور وکتل او ورڅخه یې وپوښتل چې: څه ډول هیله او امید ؟ ما غوښتل تاسې ته دا وو ایم چې زه هلته د نیرمل سره په خیمه کې هسې خوشې پرته یم. او بې کارۍ څخه نوره تنګ ته راغلې یم. په ما وخت نه تیریږي ، زه غواړم چې ستاسې د خیمې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو خونو پاکې او نظافت په خپله په خپلو لاسونو سره وکړم. ددې نه علاوه ستاسې نور خدمت هم په خپله غاړه واخلم. په دې توګه به زما وخت هم ښه تیر شي. کملاوتي دا خبرې په ډیره نرمه توګه او نرۍ نرۍ خندا سره دخولې راویستلې

خواص خان غوښتل څه ووایې چې ګنګا پرې را مخته شوه او ویې ویل چې: ګوره کملاوتي ! ته ولې ددې کار زحمت په غاړه اخلې زه په خپله دخپلې خیمې ټول کار تر سره کوم اوکله کله نیرمل هم له ماسره په دې کار کې مرسته کوي ،کملاوتي ورته بې له ځنډه وویلې چې: ګوره شهزادګۍ ګنګا ! ستا او ستا دمیړه خیمه ډیره پراخه او ستره ده. چې څو خونې لري ، نیرمل اوس زړه شوې ده او ډیر کار نه شي کولې ، زه غواړم چې دهغې په ځاې ستاسې د دواړو دخیمې دپاکوالې مسؤلیت په غاړه واخلم. داسې یې وګڼئ چې په دې کار کولو کې ماته سکون او ډاډ را په برخه کیږي او پر ما به وخت په خوشحالۍ سره تیریږي. اوس خو دنیرمل سره په خیمه کې بې کاره پرته یم اودهمدې بې کارۍ څخه نوره تنګ ته راغلې یم. ددې خبرو په اوریدو سره ګنګا مسکۍ شوه او ورته یې وویل چې:

ګوره کملاوتي ! که ته همدا ډول اراده ولرې نوبیا خو ماته پرې هیڅ ډول اعتراض نه شته. ته چې په خپله خوښه څه غواړې ویې کړه. زه به ستا ترمخه خنډ نه شم ، دهغې په دې خبرو باندې کملاوتي پورته شوه اوویې ویل چې که چیرې داسې وي نوزه ستاسو د دواړو ممنونه یم. او زه به دهمدا اوس شیبې څخه خپل کار پیل کړم. خواص خان هم راپورته شو او ګنګا ته یې وویل چې: ګنګا ! زه د دڅه کارونو په لړ کې د شیرشاه سوری دربار ته ورځم تاسو دواړه یوځاې د خیمې نظافت جوړ کړئ. خواص خان ولاړ شو او کملاوتي دخیمې په پاکوالي کې و نښته. ګنګا ورته هر کار ښوده او ورسره یې ملګرتیا کوله. په دې توګه به کملاوتي هره ورځ دخواص خان اوګنګا خیمې ته راتله او دخیمې دپاکوالي خیال به یې ساته. هغه و توانیده چې د خپل دغه کار په واسطه خپل ځان د ګنګا او خواص خان د باور وړ وګرځوي.

۵۲

په ملتان کې د یوې میاشتې دقیام نه وروسته شیرشاه سوری په ډیرو کشمکشونو او شکوکو کې را ګیر و. هغه له یوه اړخه دهمایون ، دهغه دورونو اودهغه د نورو ملګرو څخه په اندیښنه کې و. هغه دهمایون په اړه چې په دې وخت کې په سیند کې و ،کامران چې په کابل کې و اودهمایون سالار مرزا حیدر چې په کشمیر کې یې دخپل لښکر د یوې برخې سره قیام کړې و ډیر زیات اندیښمن و. هغه له دې ویریده چې هسې نه چې ددوې څخه کوم یو په کوم مناسب وخت کې بیرته راستون شي اوپه پنجاب او یا دهلی باندې یرغل راوړي. د ډیر فکر او دقت نه وروسته شیرشاه سوری دې پایلو ته ورسید چې دهغوې څخه دهر یو د شاته کولو له پاره به د وراندې تګ پالیسې خپلول عملي نه وي. په دې خاطر یې همدا مناسب وګڼل چې ددوې څخه هر یو چې هر چیرې د ې همله یې مصروف و ساتي اوپرې یې نږدې چې بیرته په خپلو منځو کې سره یو شي. تر څو د پنجاب د بیرته خپلولو له پاره کوم پلان جوړ نه کړاې شي.

شیرشاه سوري په دې لړ کې ډیر محتاط قدم اخست. هغه نه غوښتل چې دهمایون د تعقیبولو له پاره سیند ته لاس ور اوږود کړي ځکه په دې توګه به په سیند کې ارغوان حکمران هم په ویره کې ولویږي اوبیا به دشیرشاه سوری سره دمقابلې له پاره د یوه چا سره اتحاد وکړي. په دې وخت کې هغه دسیند د ارغون حکمران اوپه ځانګړې توګه د راجپوتانه اوګجرات دحکمرانانو سره اتحاد کولې شي. په داس حال کې چې د راجپوتانه او ګجرات حکمرانان دپخوا څخه د شیرشاه سوری څخه بدګمانه وو. اود سیند د ارغونونو اتحاد د شیرشاه سوري له پاره ملاماتې ثابتیداې شو ځکه چې دا دواړه سیمې د سیند سره نښتې وې. په همدې توګه کامران او حیدر هم کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي په ډېره اسانۍ سره پېښور ته راشي او دخپل متحده لښکر سره يوځای شي . ددې نه علاوه څرنګه چې قندهار هم د مرزا کامران ترولکې لاندې دې نو د سيند ارغوان حکمران کولې شي قندهار ته ولاړشي او کامران هم له ځانه سره د شيرشاه سوری پر خلاف دخپل ځان سره را يوځای کړي.

په دې خاطر د وخت اوحالاتو غوښتنه داوه چې شيرشاه سوري د سيند د درياب دې غاړه په درې محاذونو کې دغليم سره دمقابلې له پاره ځان تيار کړي ، اوددې کار له پاره بايد بلوچان اوپښتانه هم له ځانه سره يو ځای کړي اوپه دې توګه سياسي او حربي ګټې تر لاسه کړي . شيرشاه سوری ددې څخه هم ويريده چې کيدې شی مرزا حيدر هم د خپل لښکر سره يوځای د کشمير څخه را ووځي او دپنجاب ميدانو ته را ننوځي اودهغه له پاره يو نوې محاذ پرانځی . نو په دې خاطر دهغه مخنيوی هم اړين دې . ددې مقصد د تر لاسه کولو له پاره بايد هغه مالګې دکانونو تر څنګ خپل يو قوې ځواک ځای په ځای کړي تر څو د مرزا حيدر د راتلو څخه مخنيوي وکړای شی .

په ملتان کې دقيام په وخت کې شيرشاه سوری په همدې خيالاتو کې اوښت را اوښت چې دملتان څخه ورته يو ډېر بد خبر راورسيد او هغه دا چې خضرخان ، چې شيرشاه سوری د بنګال حاکم ټاکلې و ،دبنګال دپخواني حاکم سلطان محمود د لور سره واده کړې دې . دې خبرې شير شاه سوری په ډېره ويره کې واچاوه . هغه ددې ويره احساسوله چې هسې نه چې د سلطان محمود د لور سره د واده کولو وروسته خضرخان دشيرشاه سوری ملګرتيا پريږدي او بيرته د سلطان محمود سره يو ځای شی . اوپه دې توګه په بنګال کې ورته يو ځل بيا کړاونه را پيدا کړي. دهمدې خيالاتو په ډنډ کې شيرشاه سوری دملتان څخه خپل ځواکونه وخوځول اولاهور ته راغې او همدلته يې خيمې ووهلې .

لاهور ته د رارسيدو سره سم شيرشاه سوری لمړی دا کار وکړ چې دلته يې ديوه ستر سړک د ( ګرنډ ټرانک شاهراه ) په نامه د جوړولو کار پيل کړ. تر څنګ يې د لاهور څخه تر ملتانه پورې هم د يوې سترې شاهراه د جوړولو حکم وکړ. ترڅو دا سړک هم د ملتان څخه لاهور ته راشي اودلته د ګرنډ ټرانک د سړک سره يو ځای شی . ددې کار د ترسره کولو وروسته شيرشاه سوری د کشمير په لور توجه وکړه . ځکه چې د کشمير مرزا حيدر د بنګال په لور د شيرشاه سوری د تګ په وخت کې خطرناک ثابتيدای شو . په دې خاطر شيرشاه سوري غوښتل بنګال ته د تللو څخه دمخه په پنجاب کې خپل نظام مستحکم کړي.

که څه هم شيرشاه سوری ته د پنجاب په لړ کې د کابل څخه دکامران او د سيند څخه د همايون له لورې ګواښونه وو خو هغه تر ټولو زيات دکشمير حيدر خان ګواښ ته متوجه و . ځکه د کابل له لورې د ګومل مومن ، او خيبر درو په بندولو سره دکامران دحملې څخه خلاصون تر لاسه کيده خو دکشمير په اړه دا کار مثبت نه ثابتيده . ځکه چې د کشمير په غربي وادیو کې اباد قومونه افغانان نه و . په هغوې کې ډيرکې يې جنجوعه ، ګکړ ، جاټ او ګجر پراته وو . او شيرشاه سوري دهغوې سره د ورور ولۍ اړيکې نه درلودل . ددې نه علاوه د کشمير څخه لاهور او هندوستان ته شپږويشت لارې موجودې وې. او ددې ټولو لارو څارنه څه اسانه کار نه و ، لکه څنګه چې د ګومل مومن، اوخيبر درې و . په دې خاطر د کابل او سيند په نسبت شيرشاه سوري ته په کشمير کې د مرزا حيدر له اړخه ډير ګواښ متوجه و . په دې خاطر شيرشاه سوري تر هر څه لمړی د حيدر بيګ له اړخه د پنجاب د دفاع کولو له پاره قدم واخيست.

دکشمير له اړخه دکومې ممکنه حملې د تم کيدو په خاطر ، شيرشاه سوری تر هر څه دمخه د مالګې دکانونو په غرنيو سيمو باندې ولکه کلکه کړه . دا د مالګې دکانونو غرنۍ لړۍ هماغه ده چې د جهلم ، شاپور ، ميانوالي او... سيمو د شمال څخه تيريږي . د مالګې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې غرنۍ لړۍ کې ډېر ستر قومونه اباد شوي دي او هغوي کولې شو چې د کشمير له لورې دحمله کونکو سره ملګرتيا وکړي اودشيرشاه سوری له پاره کړاونه را پيدا کړي. نو په دې خاطر دکشمير له لورې د خپل ځان دخوندی کولو په خاطر شيرشاه سوري د مالګې دکانونو غرنۍ لړۍ په خپل واک کې داخستو پريکړه وکړه.

په دهلي کې د مسلمانانو دحکومت دپيلامې سره سم د مالګې د غرنو دا لړۍ د (اندو اړين ) قوم لکه چاټ ، ګجر ، او کوکهر قومونو له پاره چې د غربي پنجاب دميدانو څخه د مسلمانانو دحملې په وخت کې دې لورې ته دپناه له پاره رغلي و ، داوسيدو ځاې و. د مالګې دغرونو دا لړۍ دا برخه په حقيقت کې د شورش نه ډک يو نيم واکه مسلط حکومت و ،چې ددهلي حکومت يې په لور هيڅ توجه نه کوله. په دې لړۍ کې چې دکوکهرو کوم قوم اباد شوې و هغوي پخوا د خوشاب په سيمه کې د سيند دبلې غاړې اوسيدونکې و. چې دوې دپخوانيو داړه مارانو څخه ګڼل کيدل. دوې د خپله نسلي لړۍ د مالګې دغرونو د مشهور روايتي مشر (راې سال) سره تړله، وروسته بيا د کوکهرانو يوه ډله راجپوتانه ته راغلل او دلته په ناګور کې اباد شول ، هغوې دهمدې ځايه دکوکهرو او نورو راجپوتي قبايلو سره د ازدواج دکولو لړۍ پيل کړې اوخپل ځانونه يې مستحکم کړل.

دهمدې کوکهرانو بله ډله چې دمالګې په غرنيو سيمو کې پاته شوي ود جنجوعه په نامه ياد کړل شول. همدا جنجوعه دشرق په لور وخوځيدل او د ککهرو سيمه چې د مالګې دغرونو اصلي خاوندان وو په هغوې او هلته په ابادو نورو قبايلو باندې خپله ولکه وغځوله . خو يو شمير راجپوتان د قبايلو په څير په ککهر باندې هم مشهور وو ، دوې د يوچې او سهينن قبايلو پورې اړوند وو. توپير يې يوائې په دې کې و چې په جدا جدا غرنيو سيمو کې د اوسيدو په اساس په هغوې کې دبرهمني تهذيب تبليغ و نه کړاې شو ، بلکه په هغوې کې همغه پخواني نامانوسه وحشيانه سلوک او عجيب رسم و رواج او جنګي خصلتونه لکه څنګه چې وو همغسې پاته شول .ځکه چې دوې د هندوستان د نورو قبايلو څخه جدا او ځانته پاته شوي وو.

د ديارلسمې پيړۍ څخه مخته په دې سيمه کې د ککهرو او جنجوعه قبيلو تر منځه ډير وينه تويونکې جنګونه شوي و چې موخې يې په دې سيمې باندې د خپلو ولکو قايمول وو. کله کله به ددهلي پادشاهانو هم خپل فوځونه دې سيمو ته ور ليږل خو هغوې نه غوښتل چې په دې سيمو باندې ولکه وکړي بلکه غوښتل يې ددې خلکو په وړاندې دخپل شان وشوکت څرګندونه وکړي.

کله به چې په دې سيموکې سياسي بدلون راته. بيا به هغوې دې لورې ته خپل لاس را اوږداوه. او د ماتې خوړلې ډلې سره به يې کومک کاوه اودهغه ځاې حکمران به يې دتخته څخه پورته کاوه. هندوستان ته د بابر د راتلو په وخت کې هم دغه ککهر او جنجوعه قومونه په خپلو منځو کې په جنګو کې را نغښتې وو. بابر لمړۍ د ککهرو پر خلاف د جنجوعه سره مرسته وکړه خو کله چې دککهرو سردار ( راې سارنګ ) په پوره توګه دمغلو فرمانبردار و ګرزيدنو بابر خپله پاليسي بدله کړه. دشيرشاه سوری تر وخته پورې ککهر په يوه ډول د مغلو سره را نښتې وو. په دې خاطر شيرشاه سوری د خپل سياسې دريځ په خاطر د ککهرو په خلاف د جنجوعه سره د مرستې دپيليد و عزم وکړ.

د جنګې فنونو له اړخه هم د مالګې د غرونو لړۍ دومره اهميت درلود چې د يونانيانو ، يوچي ، غزنی ، او غورې حمله کونکو څخه نيولې تر بابر اوشيرشاه سورې پورې هيڅ حکمران دا ځاې له نظره نه شو پريوستلې. ددې ځانګړې علت دا دې چې دشمال څخه حمله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونکې هر یو لښکر ددې سیمې څخه خپل لښکر د پنجاب مرکز ته دا سې را وړلای شي چې د هغې په نقل و حرکت باندې د چا غوږ هم ږریږي. همدا علت و چې شیرشاه سوری د پنجاب د خوندي ساتلو په خاطر تر هر څه لمړی دې غرنیو لړیو ته توجه وکړه.

شیرشاه سوري د خپل لښکر سره یو ځاې دلاهور څخه مخته ولاړ او مالګې دې غرنیو لړیو لوري ته یې خپل لښکر و غځاوه. خو دې غرنیو لړی ته د ورسیدو مخکې یې خپل فوځ ته پړاو ورکړ ،بیا یې د ککهر سردارانو ته قاصد ور ولیږه او هغوې یې خپل ځان ته را وبلل. د ککهر سرداران ډیر سر کشه ، ډیر جنګجویه ، او ډیر زړه ور وو . هغوې د شیرشاه دربار ته د راتلو څخه ډه ډه وکړه. او هغه قاصد چې شیرشاه سوري د هغوې درابللو په خاطر ور استولې و د همغې په لاسو یې شیرشاه سوری ته ځو غشي ، او زمري دوه بچیان ور ولیږل.

د ککهرود د ې ځواب څخه شیرشاه سوري دا و پتیبیله چې ککهر د بسپني له پاره اماده نه دي او ددې پر خلاف د سرکشی او بغاوت له پاره یې ملا تړلې ده . شیرشاه سوري جنجوعه پری اینبي وو او تر ټولو لمړی یې د ککهرو سره اړیکي ټینګ کړې و ځکه هغه پوهیده چې جنجوعه د پخوا څخه د مغلو پر خلاف دي . ککهر په بنستیزه توګه د مغلو طرفداره او د هغوې ملاتړي وو. شیر شاه سوری غوښتل دوې له ځانه سره را یو ځاې کړي ، تر څو د ککهرو او مغلو تر منځ اړیکې پریکړل شي خو کله چې ککهرو په بغاوت باندې لاس پو ر ي کړ نو شیرشاه سوري د هغوې پر خلاف باندې د فوځی یرغل له پاره ځان تیار کړ.

شیرشاه سوری ددې موخې د تر لاسه کولو له پاره د جنجوعه د قوم سره مرسته وکړه . د هغوې سرداران یې خپل ځآن ته را وبلل . هغوې هم په پوره خوشحالی سره د شیرشاه دربار ته راغلل. او د ککهرو په خلاف یې د شیرشاه سوری سره د خپل هر ډول تعاون له پاره ملاتړ و ښود. د جنجوعو ددې ملاتړ په واسطه شیرشاه سوری یو لښکر تیار کړ اوددې لښکر قوماندان یې هیبت خان نیازې و ټاکه . بیا شیرشاه سوري هیبت خان نیازي د جنجوعه د قوم د همدې مشرانو سره یو ځاې د مالګې دغې غرنیو لړیو ته ولیږه تر څو د هغه ځایه په ککهرو باندې یرغل یوسي او هغوې وځپوي ، ترڅو په راتلونکو ورځو کې هغوې په پنجاب کې د شیرشاه سوری له پاره د سر درد را پیدا نه کړي.

کله چې هیبت خان نیازی د خپل لښکرسره یو ځاې د مالګې د غرونو دې لړی ته د ککهرو د ځپولو له پاره ور ننوت او مخته ولاړ نو دا سې ورته معلومه شوه چې ککهر پټځایو ته تللې دي . او په کوم مناسب وخت کې به یرغل کوي . هیبت خان نیازی د هغوې په دې چال باندې و نه پوهیده او مخته ولاړ. کله چې هغه په یوې پراخه وادی کې ورننوت نو د غرنیو لړیو څخه پرې وینه تویونکو او جنګی ککهرو دا سې یرغل راوست چې د هغې څخه یې شپه او ورځ هیره کړه.

اوس نو هیبت خان نیازې د عجیبو حالاتو سره مخ و. ځکه ککهر د غرنیو سیمو څخه پرې د مرداري خوړونکې حیواناتو او ټپوسانو په څیر را توې شوي و او د هیبت خان فوځ یې د یرغل لاندې را وستې و.

حمله کونکي ککهر د سیلاب د توپان په څیر د هرې لورې د ځواکمنو جسمونو او قوي څهرو سره د هیبت خان په لښکرو را پریوتل او دوې یې په وینو کې لړل. د هغوې په دې حملو کې هیبت ، جلال او په منظمه توګه جبر پټ و . هیبت خان هم د شیرشاه سوري یو تجربه لرونکې او میړنې سالار و. هغه د ککهرو ددې حملې په مخکې دا سې وبریښید لکه په تیارو کې چې د رڼا څرک را څرګندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر لږه وخته پورې هيبت خان د ككهرو دا حملې په شا وتمبولې او خپله دفاع يې كوله او بيا يې په جارحيت باندې لاس پورې كړ. هيبت خان نيازي ته ډېر ژر دا روښانه شوه چې د ككهرو سره د هغوې په دغه پراخه ميدانو كې مقابله كول څه اسانه كار نه دې ځكه چې ككهر په ډېره بيړه د هيبت خان نيازى د فوځ حالت د بې وسئ په لور راكاږي.

هيبت خان د ككهرو په مقابل كې بدترينه ماتې وخوړله. اود جنګ ميدان يې پرى ښود او و تښتيد. كله چې هيبت خان نيازي د خپلو پاته شوو لښكرو سره د شيرشاه سورى دربار ته ورسيد نو شير شاه سوري د هغه په دې ماتې باندې ډېر زيات خواشيني شو ، د پوره فكر او تدبر نه وروسته يې پريكړه وكړه چې اوس به خواص خان د ككهرو د مقابلې له پاره ور استوي ، دخواص خان سره د سلا مشورې وروسته شيرشاه سورى خواص خان ته ډېر ستر لښكر وركړ. په دې لښكر كې يې هيبت خان نيازي هم شامل كړې و ترڅو د ككهرو تر سيمو پورې دخواص خان لارښوونه وكړي. ددې نه علاوه شيرشاه سورى خپل يوبل سالار جلال الدين جالو هم دخواص خان تر قومندې لاندې وليږه اوپه دې توګه خواص خان ، هيبت خان نيازى ، اوجلال الدين جالو ټول د ككهرو د ځپولو له پاره د مالګې دغرنيو سيمو په لور ولاړل.

۵۷

د خپل پړاو نه يو ميل واټن مخته خواص خان خپل فوځونه په دوو برخو باندې وويشل. يوه برخه يې هيبت خان نيازي او جلال الدين جالو ته وركړه او هغوې دواړو ته يې حكم وكړ چې همغه ځاې ته ولاړ شي چې څو ورځې تر مخه د ككهرو او هيبت خان نيازي تر منځ په كې جنګ شوې و ، خواص خان هغوې ته دا هم ويلي و چې د ورځې له مخې د ې سفر وكړي اودشپې له مخې دې په يوه ځاې كې په ډاډمنه توګه ارام وكړي ،او د خپل پړاو دخوندي ساتلو په خاطر دې خپل ځوانان هرې خوا ته خپاره كړى. خواص خان دهغوې پسې وروسته روان شو هغه به يواځې دشپې سفر كاوه او د ورځې به په پټنځاې كې كيناسته. په دې توګه هغه د هيبت خان نيازي سره يو ځاې د جنګ هغه ډګر ته ور نژدې شوچې څور ورځې مخته په كې جنګ شوې و.

كله چې هيبت خان نيازى او جلال الدين جالو هغه ميدان ته ورسيدل چې څور ورځې تر مخه په كې د ككهرو د قبيلې سره جنګيدلې و ،نو ككهر يو ځل بيا د خپلو غرنيو پټنځايو څخه راووتل اود هيبت خان نيازى او جلال الدين جالو په لښكرو باندې لكه دوږو ليوانو په ځير را پريوتل.

د ككهرو دا حمله هم ډېره خطرناكه او وينه تويونكې وه. خو بيا هم هيبت خان نيازي او جلال الدين جالو د خواص خان دلارښوونې په مطابق خپل ځانونه تر دفاع پورې محدود كړي و ، تر ډېره وخته پورې هغوې د ككهرو حملې تمبولې په همدې وخت كې خواص خان دخپل غرنې پټنځاې څخه لكه د زمرې په ځير په ككهرو باندې راپريوت او د تورتوپا ن او سختې سيلۍ په ځير د ككهرو جنګيالي تر حملې لاندې راوستل.

دخپلې حملې په همغه لمړيو شيبو كې يې د ككهرو د جنګياليو حالت دخرابيدو سره مخ كړ. كله چې هيبت خان نيازي او جلال الدين جالو وكتل چې خواص خان د ككهرو په خلاف دشا له اړخه حمله راوړې ده نو هغوې دواړو هم دفاعى حالت پريښود او په جارحيت باندې يې پيل وكړ. اودخواص خان په ځير دككهرو په مخكينو ليكو باندې ځپوونكې ګذارونه پيل كړل. ددې دوه اړخيزو حملو په مقابل كې دككهرو ځوانانو همت له لاسه وركړ او فوځونه يې په ميدان كې تيت و پرك شول. اوس نو ككهرو ځوانانو ښې او چپ لورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په تيښته پيل وکړ او هر يوه هڅه کوله چې خپل ځان خوندي ځايو ته ورسوي. تر لږ ه وخته پورې د ککهرو عامه وژنه روانه وه ، دهغوی د لښکرو ډېره برخه د شا له اړخه دخواص خان او د مخې له لورې د هيبت خان نيازي او جلال الدين جالو په لاسو د تيغه تير شوي وو . په دې توګه په دغه غرنۍ لړۍ کې نه يواځې دککهرو فوځ د ماتې سره مخ شو بلکه دهغوی لښکر يو ډول له منځه ولاړ او اصلي ځواک يې تر پښو لاندې شو. کله چې ککهرو ماتې وخوړه او وتښتيدل بيا خواص خان بيرته دخپل پړاو په لور روان شو ،پړاو ته د خواص خان د ورتګ نه مخته شيرشاه سوري ته د دې سوبې خبر ور رسيدلې و ،نو کله چې خواص خان د خپل لښکر سره يو ځاې پړاو ته ورسيد نو په پړاو کې د خوشحالۍ ډولونه غږيدل. شيرشاه سورې دخواص خان څخه په ډېره ګرمه توګه استقبال وکړ.

کله چې د شيرشاه سوري سره د کتلو وروسته خواص خان خپلې خيمې ته ولاړ نو ويې کتل چې هلته ښکلې اوښايسته کملاوتي د خيمې په پاکولو کې مصروفه ده او ګنګا هم دخيمې په پاکوالي کې د کملاوتي سره لاس کوي. دواړو چې کله خواص خان وکوت نو خپل کار يې پريښود او په يوه منډه د خواص خان مخې ته راغلې. بيا ورته ګنګا په ډېره خندانه خوله او خوشحاله انداز کې وويل چې خواص خانه ، زما د سر تاجه ! زه تاته د مالګې دغرنيو لړيو د ککهريو سره دمقابلې دبرياليتوب په اړه مبارکي وايم. دغو غرنيو ککهرو خپل ځآنونه نه تسخيريدونکې ګڼل او په ځانګړې توګه يې کله چې هيبت خان نيازي ته ماتې ورکړه نو حوصلې يې نورې هم لوړې شوې. خو تا هغوې ته په ماتې ورکولو سره دا ډاګيزه کړه چې دخواص خان سره مقابله کول دومره اسانه کار نه دې.

د ګنګا د مينې نه ډکو دغو خبرو خواص خان نور هم خوشحاله کړ ، هغه غوښتل په ځواب کې ورته څه ووايي چې په دې وخت کې کملاوتي هم په خپلو نرمو خبرو سره خواص خان مخاطب کړ او ورته يې وويل چې: زما درونده خواص خانه ! زه هم تاته د دې سوبې په اړه مبارکي وايم. ته يقينا دهغو ځوانانو څخه يې چې په تيارو کې د رڼا راوستونکې او په دشتو او صحرا کې د ګلونو د ښوولو فن باندې پوهيږې. خواص خان په ډېر دقت سره د کملاوتي په لور وکتل اوبيا يې ځواب ورکړ چې: ګوره کملاوتي ! زه پخپله هيڅ نه يم ، دغه زما ټولې برياوې د الله تعالې له اړخه دي هغه زما پروردګار ، زما مالک ، نصرت کونکې اوملاتړې دې. بيا هم تا چې زما له پاره د ستاينې کوم الفاظ را ټول کړي و دهغې په خاطر زه ستا مننه کوم. په دې وخت کې ګنګا يو ځل بيا وويل چې:

ماته ستا دراتلو خبر رارسيدلې و خو زه پوهيدم چې ته به د لږ وخت له پاره دشيرشاه سوري سره کينې. دخيمې د پاکوالي کار پاې ته رسيدلې دې ما ستا له پاره د مخکې څخه ډوډۍ راغوښتې او ايښې ده، لمړۍ ډوډۍ وخوره بيا به په تفصيل سره نورې خبرې کوو. خواص خان ورته وويل چې ماته منظورده. څرنګه چې کملاوتي زمونږه خدمت کوي نو دا دهغې حق دې چې له مونږه سره يو ځاې کيني او ډوډۍ وخوري. دخواص خان په دې وړانديز کملاوتي دومره خوشحاله شوه لکه څنګه چې يو انسان دپښو څخه تر سره پورې په خوشحالۍ کې را ونغاړل شي. بيا دواړو يو ځاې د ډوډۍ سامان خپور کړ او په ډېره خوشحاله ماحول کې يې سره يو ځاې ډوډۍ وخوړه .

دمالګې دکانونو په غرنيو سيمو کې دککهرو د ماتې وروسته شيرشاه سوری د جنجوعه قبيلې خلک ښه و نا زول ،دهغوې په قوت اوځواک کې يې ډېرښت راوست تر څو هغوې په راتلونکې ورځو کې د شيرشاه سوری ملاتړي واوسي اودمالګې د غرنيو لړيو په لمنو کې ککهرو ته يو ځل بيا د مغلو د ملاتړ فرصت تر لاسه نه کړي. دد ې کار د تر سره کولو وروسته شيرشاه سوری دخوشاب او بهيرې په لور متوجه شو تر څو دا سيمې هم په خپل خواکې و دروي. اوپه راتلونکو ورځو کې دد ې دلښکرو له پاره خوندي ځايونه وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ورځو کې په خوشاب او بهیرې کې ډوډي بلوچان اباد وو. او همدا بلوچ دهغې سیمې حکمرانان وو. شیرشاه سوری نه غوښتل د بلوچو په معاملو کې لاس ووهي ، ځکه چې ددې ویره وه چې هغه خلک به بیا دهغه مخالفت کې ودریږي اویو ستر لښکر به جوړ او د شیرشاه سوری په مقابل کې به و جنګیږي. ددې نه علاوه د بلوچو سردار فتح خان ، اسماعیل خان او غازي خان دهمایون د تعقیبولو په لاره کې نه یواځې دخواص خان سره کومک کړې و بلکه هغه وخت چې شیرشاه سوری د خوشاب سیمې ته راغې نو هغوي د شیرشاه سوري خدمت ته هم حاضر شول او دخپل تعاون او ملاتړ ډاډ یې ورته ورکړ.

دا بلوچ د باجوړ څخه نیولې ان د بهیرې د غرنیو سیمو پورې خپاره پراته و. چې سردار یې اسماعیل خان بلوچ نومیده. شیرشاه سوری په دې پوهیده چې ددوې پرته په دې سیمې باندې ولکه کول شوني نه دي. په دې اساس شیرشاه سوری اسماعیل خان بلوچ هم دخپل فوځ په نوم لیک کې شامل کړ. او هغه ته یې هم د شاهي فوځ په څیر د خزانې څخه تنخوا و ټاکله.

دې بلوچانو پخوا کوچیانې ژوند درلود. بیا وروسته په دې سیمه کې اباد شول ، په هغو ورځو کې چې تیمور لنګ په هندوستان باندې یرغل راوست نو دهغه د بیرته ستنیدو تر وخته پورې بلکه ټوله پنځلسمه پیړۍ د بلوچو ډوډا او هوت قبایل دشمال څخه د سنید ددریاب په غاړه غاړه د کوچیانو په څیر ګرزیدل را ګرزیدل. دهغې وروسته بیا داخلک د ګومل په دره کې اباد شول چې د سلیمان دغرونو دلړۍ جنوبې لورې ته پرته ده. ددې کوچې ډوله بلوچو د ابادیو په کتلوسره نور بلوچان هم په حرکت راغلل او هغوې هم په پنجاب کې اباد شول. دنمونې په توګه د بلوچو د رند قبیله د ملتان د لنګا راجپوتانو د ویرې څخه د چناب راوي او ستیج په درو کې اباد شول ، ددې رند قبیلې دخلکو دنده په کرایه عسکري کول و ، تر څنګ یې په ازادانه توګه غلا او لوټمار هم کاوه. په همدې ورځو کې څه نور بلوچان چې دډوډا او هوت د قبیلو پورې تړلي وو ، هم د وطن او ځاې ځیګې د لټون په خاطر دجهلم او سیند دوادیانو پورته غاړو ته ولاړل او هملته میشته شول. دلته په دې سیمو کې مخته پښتانه هم اباد وو. په دې خاطر د بلوچو او پښتنو تر منځ ټکر لازمې ګرزیده .د بابر نه وروسته شیرشاه سوری او دهغه نه مخته همایون او دهغه ورور کامران مرزا په دې سیمو باندې څوارلس کاله حکومت کړې دې. هغوې به د پښتنو او بلوچو د خپل منځې تربګنیو څخه ګټه پورته کوله اوپه خپله به یې ارام حکومت کاوه. په دې سیمې کې د کامران بریالیتوب په همدې کې و چې دا قومونه تل تر تله په جنګ جګړو کې مصروف و ساتي.

خو شیرشاه سوری دا پالیسې ترک کړه او د پښتنو او بلوچو تر منځ یې یووالې او اتحاد راوست. هغه بلوچو چې په تیرو وختو کې یې د پښتنو په زمکو باندې ولکه کړې وه هغه سیمې شیرشاه سوري دبلوچو څخه بیرته واخستې او پښتنو ته یې تسلیم کړې ،خو بلوچانو ته یې دهغې په بدل کې د مالګې د کانونو د غرنیو لړیو د نندنا او ګرجهک په نامه سیمې ورکړې. د جهلم په شمالې پولو کې دغه دواړه سیمې د جنګې موقعیت له نظره ډیرې مهمې دي. په غالب ګمان چې شیرشاه سوري دا سیمې د بلوچو سردار اسماعیل خان ته ورحواله کړې وې. په دې توګه د بهیرې او خوشاب نه علاوه بلوچان په نورو سیمو کې هم اباد شول. شیرشاه سوری هم هڅه وکړه چې هغوې ټول په خپل ملاتړ کې و دروي. په دې توګه په پنجاب کې د امن د ټینګښت له پاره شیرشاه سوری دا دویمه حربه استعمال کړه. اوس نو هغه په پنجاب کې دخپل حکومت د ټینګښت له پاره دریمه مرحله پیلوله.

دشیرشاه سوری دریمه مرحله په کشمیر پورې تړلې وه. څرنګه چې هلته په کشمیر کې د همایون سپه سالار مرزا حیدر د خپل لښکر سره ځاې په ځاې شوې و او هغه ددې توان درلود چې په یوه مناسب وخت کې دهغه ځایه را ووځې او په پنجاب باندې حمله وکړي. او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې توګه شيرشاه سورى د نوو ستونزو سره مخ کړي. ځکه چې مرزا حيدر بيګ يو تکړه ، ميړنې جنګجو او تجربه لرونکې جرنيل او سپه سالار و.

شيرشاه سوري د کشمير دحالاتو د جوړولو په خاطر دخپل لښکر سره يو ځاې د لاهوره راووت او د بمهبر په لور وخوزيد ، په بمهبر باندې يې يرغل يوړ او هغه سيمه يې و نيوله. دلته په دې سيمې کې دقيام په وخت کې شيرشاه سورى د کشمير د جګ د قبايلو سره اړيکې ونيول. هغه د چک قبايلو سره ډيره دميني اوخلوص نه ډکه رويه وکړه . هغوې ته يې مالې کومک هم ورکړ اوهغوې ته يې دا هم وويل چې هغوې دې د همايون د سپه سالار مرزا بيګ په خلاف را پورته شي .

دشيرشاه سورى دا سياسې حکمت ډير ګټور ثابت شو ـځکه د چک قبايل د مرزا حيدر بيګ په خلاف راپورته شول اودهغه سره يې د جنګونو لړۍ پيل کړه . کله چې د چک قبايل اومرزا حيدر بيګ په خپلو منځو کې په جنګونو کې را ونغښتل نو شيرشاه سورى ته يو ډول سکون په برخه شو ځکه چې اوس نو مرزا حيدر بيګ د چکانو سره په پوره ستونزو کې را ګير شوې و . ترڅو کالو پورې چکانو په مرزا حيدر بيګ باندې يرغلونه کول ، ان تر دې چې هغوې مرزا حيدر بيګ وواژه او يو چک سردار غازى خان د کشمير سردار وګرزيد.

په پنجاب کې دخپل نظام د ټينګښت وروسته شيرشاه سوري دبنګال په لور د کوچ کولو اراده وکړه ، خو د بنګال په لور د کوچ کولو دمخه شيرشاه سورى خپل لښکر په دوو برخو باندې وويشه ،يوه برخه يې خواص خان ته ورکړه او هغه يې همدلته په لاهور کې پريښود . هيبت خان نيازى يې دخواص خان معاون و ټاکه. شيرشاه سورى خواص خان ته دا لار ښوونه کړې وه چې هغه دې زما تر بله حکمه همدلته په پنجاب کې پاته شي . په داسې حال کې چې شيرشاه به د بنګال په لور روانيږي.ځکه د بنګال دحاکم خضر خان له لورې شيرشاه ته ښه خبرونه نه راتلل.

شيرشاه سوري خواص خان په دې خاطر په لاهور کې پرى ايښې و چې هغه به د پنجاب په حالاتو پوره پوره څارنه کوي ، ځکه خواص خان يو اځنې سالار اودشيرشاه سورى ښې لاس و چې دغمونو او مصيبتونو په وخت کې يې په پوره باور سره خپل ورسپارل شوې کار تر سره کاوه . شيرشاه سورى ته تر اوسه پورې د کشمير څخه علاوه دکابل دحکمران کامران مرزا او حتې د سيند په لور د تللي همايون څخه ګواښ احساسيده نوپه دې خاطر يې خواص خان په پنجاب کې پريښود. ترڅو په پنجاب باندې دکومې لورې حمله کونکې په مقابل کې خواص خان دهغه مقابله وکړي اوهغه بيرته شاته تللو ته اړ کړي . په دې توګه په پنجاب کې خواص خان د اعلې حاکم په توګه د ټاکلو وروسته شيرشاه سورى دبنګال په لور کوچ وکړ.

**۵۸**

يوه ورځ په داسې حال کې چې کملاوتي دخواص خان دخيمې دپاکولو څخه لاس څنډه نو ګنګا خپل ځان ته را وبلله . کملاوتي خپل لاسونه پاک کړل اوبيا د ګنګا لورې ته راغله او دهغې تر څنګ کيناسته. ګنګا تر يوه وخته پورې هغې ته په ډير غور اودقت سره وکتل اوبيا يې په ډيره نرمه لهجه ورته وويل چې:

ګوره کملاوتي ! زه غواړم له تا څخه د يوې خبرې پوښتنه وکړم خو درواغ به راته نه وايې. ته د تيرو څو مياشتو راهيسې دلته زما په خيمه کې کار کوې اوپه دې موده کې زه ستا د ذات او شخصيت په اړه مطالعه کوم ، زه غواړم دهمدې مطالعې په رڼا کې له تا څخه څه وپوښتم. خو دهر څه دمخه به له ما سره ژمنه کوې چې درواغ به راته نه وايې. ګوره ! رينښتونې خبره ډيره ښه وي او ګټوره هم. او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروا غ دې راته وويلې نوله يوه اړخه به دخپل ضمير او ا ز تر پښو لاندې کړې او دبله اړخه به په دروا غو کې تاته کومه گټه هم نه وي. او ستا درواغ به تاته زيان ورسوي. د گنگا د پوښتنې څخه کملاوتي لږ څه اند يښمنه شانته شوه ، خو ډير ژر يې ځان سنبال کړ او بيا يې په لوړ اواز وويل چې: گنگا خورې ! وپوښته ، ته له ما څخه څه پوښتل غواړې ؟ گنگا ورته وويلې چې:

گوره کملاوتي ! ما چې تر او سه پورې ستا دشخصيت ځارنه کړې ده دهغې څخه ماته دا ډاگيزه شوې ده چې ته زما د ميړه سره مينه لرې . کملاوتي ماتاته مخته هم ويلي دي چې درواغ به نه وايې نوکه چيرې ته رښتيا ووايې نو شونې ده چې زه به داسې يو قدم واخلم چې ستا له پاره به ډير گټور ثابت شي. کملاوتي خپل سر ښکته کړ او بيا يې د لږ څه فکر کولو وروسته وويل چې: گنگا خورې ! ښه دې و نه کړل چې له ما څخه دې دا پوښتنه وکړه ، اوس که چيرې زه ددې پوښتنې ځواب په نفې کې ووايم نو خپل ضمير به تر پښو لاندې کوم او که چيرې هو ووايم نو بيا به ستا گنهگاره وگرځم.

دکملاوتي ددې ځواب څخه گنگا ډيره خوشحاله شوه، بيا يې کملاوتي ته وويل چې کملاوتي ! رښتيا رښتيا ووايه ، چې په رښتيا مې زړه خوشحاليږي ، گنگا غوښتل لږ نور څه هم ووايي چې کملاوتي په خبرو پيل وکړ او ويې ويل چې: گنگا خورې ! څرنگه چې تا له ما څخه په سخته وغوښتل تر څو زه رښتيا ووايم نو به دې خاطر ما هم رښتيا وويل اوس نو ددې رښتيا ويلو له پاره چې ماته هره سزا ټاکې زه يې منلوته تياره يم. گوره گنگا خورې ! ما درواغ هم ويلې شول ، اودخپل زړه راز مې پټولې شو ، خو ماتاته رښتيا وويل ، ځکه دخواص خان شخصيت داسې دې چې هره ښځه دهغه لورې ته راغب کيدو پرته نه پاته کيږي او ما هم همداسې وگڼه چې د مينې په دې سيلاب کې لاهو شوې يم.

گنگا خورې ! ما هيڅکله هم د خپلې مينې دغه احساسات د خواص خان تر مخه نه دي ډاگيزه کړي ، ځکه زه پوهيږم چې په خواص خان باندې يوا ځې اويوا ځې ته حق لرې او له تا سره په دې حق کې هيڅوک نه شې را شريکيدې .

کله چې کملاوتي خاموشه شوه نو گنگا ترې يو ځل بيا و پوښتل:

گوره کملاوتي يوه خبره بله هم راته وکړه اودا به هم را ته په رښتيا سره کوې چې اوهغه دا چې ايا زما خاوند ( ميړه ) هم تاته کله په مينه کتلي دي ؟ چې دهغې له مخې ته داسې وپوهيږې چې هغه هم تاته رغبت لري اويا ستا له پاره څه داسې کوم کشش احساسوي. ددې خبرې په ځواب کې کملاوتي په يوه ټکان سره وويل چې ، نه ، هيڅکله هم نه ، هيڅکله هم داسې نه دي پيښ شوي ، هغه هيڅکله هم په داسې توگه زما په لور نه دي کتلي ، گنگا ورته يو ځل بيا وويل چې:

گوره کملاوتي ! که زه ستا دمحبت د يو اړخيزه عکس العمل په اړه کوم قدم واخلم نو هغه به ستا له پاره د منلو وړ وي ، زه به تاته دا ووايم چې دا قدم به ستا په حق کې وي ، کملاوتي ورته وويل چې: زه دهغې وخته راهيسې چې له تا سره کار کوم ماته ستا شخصيت د ډير زيات قدر اودرنښت وړ دي. نو په دې خاطر هره پريکړه چې ته زما په حق کړې وکړې ماته به دمنلو وړ وى. گنگا ورته وويل چې:که چيرې خبره همداسې وى ، نوبيا واوره چې: زه به ستا په اړه داسې پريکړه کوم چې زه به پخپله تا دخواص خان سره واده کړم. اولکه څنگه چې زه دخواص خان ښځه يم همداسې به ته هم دخواص خان ښځه وگرځې. گوره کملاوتي ! اوس خو زما خاوند خواص خان د لاهور د ښار د اوسيدونکو دحال احوال د پوښتنې له پاره ورغلې دې ، کله چې بيرته راستون شي نو زه به ستا خبره ورسره وکړم. اوبيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

به سبا تا دخپلې اخري پريکړې څخه خبره کړم. دګنګا ددې خبرو په اساس کملاوتي د تصنوعي شرم او حجاب څرګندونه وکړه اود خيمې څخه بيرون ووتله او وتښتيده.

کملاوتي به يوه منډه خپلې خيمې ته ساه نيولې ورسيده، په دې وخت کې هلته په خيمه کې نيرمل ځانته ناسته وه. دکملاوتي ساه لاتر او سه پورې ځاې ته نه وه راغلې. تر لږه وخته پورې ساه نيولې ودريده او په خندا نه او خوشحاله خوله يې نيرمل ته کتل. نيرمل هم تر څو لمحو پورې کملاوتی ته په غور سره کتله، بيا يې ترې وپوښتل چې ګوره کملاوتی! ته ډيره ساه نيولې راغلې يې او مخ دې د خوشحاليو نه ډک دي، را ته ووايه چې څه دريپيښ شوې دي. کملاوتي په خندا خندا کې دنيرمل تر څنګ کيناسته او بيا يې ورته وويل چې:

ګوره نيرمل! ستا خبره سهی ده. نن ربښتيا هم زه ډيره خوشحاله يم. ساه مې په دې خاطر نيولې ده چې په يوه منډه مې ځان تر تا پورې را ورساوه. ترڅو هغه ښه خبر چې ما تر لاسه کړې دې هغه تا ته هم سمد ستي ووايم. نيرمل په ډير غور سره کملاوتی ته وکتل او بيا يې ترې وپوښتل چې څه ډول ښه خبر؟ کملاوتي په خندا کې ډوبه وه او بيا يې په ډيره پټه توګه نيرمل ته وويل چې:

ګوره نيرمل! دکوم کار له پاره چې زه د شيرشاه سوری لښکر ته راغلې يم او ستا لمن مې ونيوله هغه کار اوس په ډيره بيړه خپل انجام ته رسيدونکې دې، ګوره نيرمل! نن په خبرو خبرو کې ګنګا له ما څخه وپوښتل چې ايا زه خواص خان خوښوم. خو کله چې ما په مثبته توګه ځواب ورکړ نو پوهيږې چې ګنګا څومره مهمه او ستره پريکړه وکړه. نيرمل په ډيره انديښنه کې ترې وپوښتل چې هغه څنګه؟

کملاوتي ورته دخوشحالی نه په ډک اواز سره وويل چې:

ګوره نيرمل: ګنګا پريکړه کړې ده چې ما هم دخپل ځان په څير د خواص خان سره واده کړي، نن به هغه په دې لړ کې دخواص خان سره خبرې کوي او سبا به ما ته خپله اخري پريکړه اعلانوي، هغې ما ته وويل چې د تيرو څو اونيو راهيسې هغه زما حالت تر ځارنې لاندې لري اودهمدې له لورې هغه دې پايلو ته رسيدلې چې زه دخواص خان سره مينه لرم. کله چې ما ورته هو وويلې نوبيا هغې دا ډول پريکړه وکړه. ګوره نيرمل: زه پوهيږم چې که چيرې زما واده دخواص خان سره تر سره شي نو بيا چې دکوم مشن له پاره زه راوتلې يم هغه به په ډيره اسانه توګه تر سره شي.

نيرمل ورته په حيرانتيا سره وويل چې: ګوره کملاوتي، زه ستا ددې پريکړې په اړه و نه پوهيدم ،ته له يوه اړخه غواړې خواص خان ووژنې اود بله اړخه غواړې دهغه سره واده وکړې. کملاوتي ورته وويل چې: واوره نيرمل! خواص خان خو به زه ووژنم، اودا کار به په هره توګه چې وي تر سره کوم خو اوس مې پريکړه کړې ده چې دخواص خان سره يوځاې دغه ګنګا هم له منځه يوسم، ګوره نيرمل! ما ته ددې نه مخته هم څو ځلې داسې فرصت تر لاسه شوې و چې زه ګنګا او خواص خان دواړه له منځه يوسم خو دهغو ملګرو سره يوځاې چې زه بايد دا کار انجام کړم لاتر اوسه د لته نه دې را رسيدلې ،ګوره نيرمل! په تيرو ورځوکې څو داسې فرصتونه تر لاسه شول چې کله کله به زه او ګنګا دواړه په خيمه کې ځانته ناست و او کله زه او خواص خان. ځکه چې دخواص خان خيمه په څو خونو باندې مشتمله ده. داسې فرصتونه هم راغلی چې زه به د خيمې په پاکوالي کې مصروفه وم او خواص خان به په بله خونه کې ځانته ويده و .اوکله به ګنګا هم ورسره ويده وه. که چيرې ما غوښتلې نو په داسې حالاتو کې مې دواړه له منځه وړلاې شول. خو ما نه غوښتل دا کار په ځانته ځان انجام کړم. ځکه په دې توګه ما ته ستونزې را ولاړيداې شوې، که چيرې په خوب کې مې په خواص خان حمله کړې واې نو شونې وه چې هغه به را بيدارشوې واې او برعکس به يې زه له منځه وړې واې ،ځکه چې هغه خو يوځوان نارينه دې. د زور او ځواک خاوند دې او زه دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه څپېره هم نه شم زغملې ، هو ! كه چيرې په دې وخت كې زما ملګرې دلته موجود واى نو تر اوسه به مې هغوې دواړه په رېښتونې توګه له منځه وړي واى.

ګوره نيرمل: داسې برېښي چې زما كار د اسان څخه اسانتر شوې دې ، كه چيرې ګنګا خواص خان له ماسره د واده كولو له پاره تيار كړي او خواص خان ما خپله ښځه او خپله ماندينه وګرځوي نو ددې څخه داخرګند ه شوه چې زه به شپه او ورځ دخواص او ګنګا په خيمه كې او سيږم. او كله چې ګنګا او خواص خان ددهلي په لور كوچ وكړي نو زه به ددې ځايه د تللو په وخت كې خپلو ملګرو ته هم خبر وركړم چې هغوې دې هم دخواص خان لښكر ته راشي ،دهغې وروسته به نيرمل ته ووينې چې زه څه ډول دا دواړه له منځه وړم. نيرمل ورته وويل چې: ګوره كملاوتي !كله چې ته غواړې خواص خان او ګنګا له منځه يوسې نو بيا د خواص خان سره واده ولې كوې ، دهغې سره د واده كولو په خاطر ولې خپل ځانګړتوب له منځه وړې ، خپل عصمت او عفت په داو كې بږدې ، كملاوتى د لږ څه فكر وروسته ورته وويل چې:

ګوره نيرمل !په دې كې د دوا د لږولو كومه خبره نه شته.اونه به ددې لارې زما ځانګړتيا له منځه ولاړه شي، خواص خان ډير ځواكمن او تكړه ځوان دې او زه پوهيږم چې دهغه سره واده كول به په خپل ذات كې يوه ځانګړې تجربه وي،بيا به دخواص خان سره د واده كولو وروسته زه دخپلو ملګرو په كومک سره ددې دواړوژوند پاې ته ورسوم. نو كه چيرې خواص خان د ګنګا د وړانديز ملاتړ وكړ نو زه به خامخا دخواص خان سره واده كوم ،دهمغې خيمې ته به منتقل شم ، نيرمل غوښتل په ځواب كې څه ووايي چې په دې وخت كې ساتونكې دوې دواړو ته خوراک راوړ ،په دې خاطر دواړو چپ چاپ خپله ډوډۍ وخوړله.

بله ورځ ، كله چې كملاوتي دكار له پاره دخواص خان خيمې ته ورغل نو ويې كتل چې په خيمه كې خواص خان او ګنګا دواړه ميړه اوښځه ناست دې او په خپلو منځو كې خبرې اترې كوې ، دكملاوتي دكتلو سره سم ګنګا دخپله ځآيه پورته شوه او په خندانه خوله يې وويل چې: راځه كملاوتي زما څنګ ته راشه ، مونږدواړو به ډيره بې صبرۍ سره ستا د راتلو انتظار كاوه. اوس به ته ځانته د خيمې پاكې او نظافت نه سنبالوې بلكه مونږ دواړه به دا كار يو ځاې تر سره كوو . ځكه چې د نن څخه وروسته ته هم ددې خيمې مالكه ګرزيدلې يې. مخكې مې چې له تاسې كومې خبرې كړې وې ، نو تيره شپه اونن سهار مې دخواص خان سره هغه تكرار كړې او هغه مې له تاسره په واده كولو باندې راضي كړې دې. اوس به ته همدلته او سيږې او دمابنام دمخه مه ستا دخواص خان سره د واده ټولې چارې تر سره شي. اوله دې وروسته به ته هم زما په څير دخواص خان دښځې په څير دلته او په همدې خيمې كې او سيږې.

دګنګا په دغو ښو خبرو ښايسته اوښكلې پيغله كملاوتي دخوشحاليو اورفاقتونو يوه نوې غوټۍ وګرزيده. په دې وخت كې هغه د خواص خان په خيمه كې د محبت پيغام ليكونكې او د اسمانونو په لوړو كې د وريځو په څير د عروج په خيالاتو كې ډوبه وه. معلومه نه ده چې هغه به تر كومه وخته پورې په دې خيالاتو كې ډوبه ولاړه وه چې ګنګا رامخته شوه او هغه يې د لاسه ونيوله او په خيمه كې يې دخپل ځان سره كينوله ،بيا ترمابنامه د ګنګا هڅو رنګ راوست او كملاوتى يې د خواص خان په نكاح كې وركړه.

۵۹

دپنجاب دپريښودلو وروسته شيرشاه سورى د غرنيو لړيو يوه سيمه غوره كړه. او هلته يې د يوې كلا په جوړولو پيل وكړ ، دا كلا د بهار درهتاس د كلا دويم انځور و .دا يې دومره قوې او نه تسخيريدونكې جوړه كړه چې نوم يې ورته همغه د رهتاس د كلا وركړ. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجاب کې د اوسیدو اوسیدو په وخت کې شیرشاه سوری د مالي امورو له پاره ډېر غوره کسان ټاکلي وو. په دې وګړو کې یو کس (کتهري ډوډر مل ) هم شامل و . شیرشاه سوری هغه د خپل ځانه سره نوکر کړ او د رهتاس د کلا جوړښت یې د هغه په څارنه کې پرېښود.

د رهتاس نومې دغه کلا اوس هم په جهلم کې تر سترګو کیږي ، دا کلا د جهلم ښخه لس میله واټن کې د شمال غرب په لور په هغه ځای کې پرته ده د کومه ځایه چې دغرنو لړۍ دکشمیر په لور ورځي . ددې کلا محیط دوه نیم میله واټن لري او دیوالونه یې دیرش فټه پلنوالي او اته دیرش فټه ستروالي لري ، دهغې ستره دروازه دشیرشاه سوری دوخت د فن او هنر ستر شاهکار دی.

د پنجاب څخه دکوچ کولو په وخت کې شیرشاه سوری دخپلې برخې د لښکرسره یو ځای د بنګال په لور وخوزید ، دهندوستا د تاریخ دپیلامې څخه بنګال په سیاست ، تمدن او ژبې له اړخه یوه جړه مشوره ګرزیدلې ده . ددې د پیچیدګیو چې څومره دهندوانو د وختو څخه کیږي په هماغه اندازه د منځنیو پیړیو د تاریخ څخه هم ډاګیزه کیږي .

دا کشمکش د اریایانو د راتګ سره سم پیل شوې و ، بنګال تر هر څه لمړۍ د اریایانو دتهذیب او تمدن سره ټکر وکړ خو په خپل دې هڅو کې ناکامه شول ، د راجه هرشن څخه نیولې ان د اکبر پادشاه تر وختو پورې بنګال دخپلې سیاسې ازادۍ دساتلو په خاطر هڅې کړې دی که څه هم دا جنګ دهندوانو پر خلاف و او که د مسلمانو حکمرانانو پر خلاف. بیا یې هم حمله راوړونکې ځواکونه په خپلو وینو کې را نغاړلي او خپل برلاسې یې پرې ساتلې دې .

دا کومه جادو زمه کرشمه نه وه چې بنګال پرې بدنام شوې دې بلکه دا دهغې د تهذیب ، د ژوندانه د ځواک او نعمتونو برکت دې چې بلې هیڅ سیمې ته نه د ې ور په برخه شوې. په دا سې حال کې چې دبنګال اب و هوا خرابه ، اوبه یې ناپاکه ، خود ماهیانو ځالې، او ددولت بې شمیره خزانو یې ، د جنوب ځان ځارونکي او د قسمت ازمیښت کونکې تل دخپل ځآن په لور را کش کړي دي .

ریښتیا خبره دا وه چې هر چا به چې یو ځل دلته قدم کیښود نو هغه به دهمدې ځای کیده . دهغوې له انده ددې ځای په خاورو کې په ریښتوني توګه جادو وو. هر څوک به چې یو ځل دلته راغې نو بیا به یې ددې خبری د کولو څخه کرکه کوله چې بیرته دې ولاړشی اوپه بله کومه سیمه کې د ې په دا سې حال کې میشت شي چې قدرت پرې هم مهربانه نه وی او دګرمیو اویخنیو په تیرولو سره دې هره ورځ د نه زغم وړ مشقت او مزدوري وکړي

ددې ټولو خبرو سره سره بیا به هم ډېر وخت په بنګال کې سرکشي اوبغاوت جوړیده ،ددې ستر علت داو چې دا ولایت د هندوستا ن دمرکز دهلي څخه نژدې زر میله واټن کې پروت دې ، دا دومره ستر ولایت دې چې د ډیرو پراخو سرچینو مرکز دې ، دلته به هر وخت حکمرانانو بغاوت او سرکشی کوله. ددې ځای حکمرانانو ته هیڅکله هم د دهلي تر ولکې لاندې او سیدل نه خوښیدل. اوتل به یې هڅه کوله چې ددهلي دغلامۍ کړۍ دخپل څټ څخه وکاږي. دبله اړخه دهندوستان مسلمانو پادشاهانو ته هم ددې پرته بله لاره نه وه چې ددومره لرې ولایت انتظام دې کوم عسکري سالارته وسپاري ترڅو دهغه ځآې د نظام خاوند اوسي. په هغه وخت کې یا خو د مرکز سره داسې وسایل نه و اوکه وو هم ډیر کم و چې ددهلي څخه ددومره لرې سیمې انتظام او څارنه دې وکړي.

په بنګال کې دګوډ ښار ستر مرکز و او دهغه ځاې اوسیدونکو به دګوډ دښار حکمران خپل سلطان ګاڼه. دهمغې د حکم تعمیل به یې کاوه ، هغوې ددې خبرې سره هیڅ سرو کار نه درلود چې دګوډ سلطان په دهلی کې دخپل پادشاه خبره مني او که نه. یا هغه وژل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اویا دخپلې دندې څخه ګوښه کیږي . خوکله به چې کوم نیک صوبدار دبنګال څخه لرې کړل شو نویوائې دومره به احساسیده چې دیوې کورنۍ حکومت پای ته ورسید اودبلې کورنۍ حکومت پیل شو .

دشیرشاه سوری تر وخته پورې دبنګال همدا حال و. خو د بنګال سیاسي نظام د شیرشاه سوری د مزاج سره سر نه خوړ . ځکه شیرشاه سوري د یوه مستحکم مرکزي حکومت ملاتړی و. هغه نه غوښتل ولایتونو ته ډیره زیاته خپلواکي ورکړل شي.

هغه وخت چې د ۱۵۴۰ کال د جنوري په میاشت کې شیرشاه سوري د مغلو سره دجنګ له پاره قنوج ته روان شو نو په بنګال کې یې خضر خان د والی په څیر و ټاکه. اوبیا شیرشاه سوري څو میاشتې د بنګاله لرې پاته شو ، په دې وخت کې د هغه هغه لښکر چې تل به بهار کې موجود ونو په هندوستان کې دجنګونو په خاطر یې هغه هم له ځآنه سره را خستې و . پایلې داشوې چې دبنګال حکمران هلته په بنګال کې د خپلواکۍ په خوبونو کې ډوب شوې و .

دهمدې مقصد د تر لاسه کولو له پاره هغې د بنګال دپخواني سلطان ، سلطان محمود د لور سره واده کړې و ، خضرخان ته دهغې یوه ګټه داشوه چې د بنګال رعیت اوپخوانیو مسلمانانو هغه د بنګال د تخت ریښتوني وارث ګاڼه. خو خضر خان لا تر اوسه پورې شاهي لقب نه و خپل کړې. خو دبنګال د رسم ورواج په اساس یې په تخت ( ټوکي ) کیناستل پیل کړې و . په بنګال کې ټوکې محل چت ته هم ویل کیږي ، خضرخان به دپخوانیو پادشاهانو په څیر د محل په چت کیناسته او پریکړې به یې کولې ، خو تر اوسه یې شاهانه لقب نه وخپل کړې . کله چې خبر ور ورسید چې شیرشاه سوری دخپل لشکر سره یو ځاې په ډیره بیړه دهغه د ځپولو له پاره را روان دې نو دخضرخان د پښو څخه زمکه ووتله. ځکه هغه پوهیده چې په هغې کې دومره توان او همت نه شته چې د شیرشاه سوری مقابله وکړي.

کله چې شیرشاه سوري دخپل لښکر سره یو ځاې ګوډ ته ورسید نو خضر خان دګوډ د ښار څخه بیرون رااووت او شیرشاه سوري ته یې ډیر ګرم ښه راغلاست ووایه . که څه هم خضرخان دا ټول هر څه په مجبوریت سره تر سره کول خو خپل باطن یې نه را څرګند اوه. خوشیرشاه سوری ته دهغه جاسوسانو د هرې لمحې خبرونه ورکول ،په دې اساس ګوډ ته درسیدو سره سم شیرشاه سوري خضرخان و نیوه او بندي یې کړ او خپلو ټولو هغو سردارانو اوسالارانو ته چې په دې وخت کې دهغه سره ملګری وو وویل چې ستاسو څخه هر یو چې زما دحکم خلاف کار وکړي پایلې به یې داسې وي لکه دخضرخان.

دخضرخان د نیولو اوبندي کولو وروسته شیرشاه سوری هملته په بنګال کې قیام وکړ ،هلته یې د پرمختګ له پاره څه کارونه پیل کړل ، هغه لمړۍ کار چې هغه تر سره کړ هغه د بنګال د داخلي سیمو څخه کتنه وه او هلته یې په خپل نامه د شیرګړ او شیرپور دوه ښارونه اباد کړل ، تر څنګ یې د بنګال د زمکو اندازه ګیري وکړه. همدا راز یې دپخواني رواج په اساس څومره زمکې چې د جاګیردارانو سره وې هغه یې همغوې ته ورپریښودې اوپه هغې کې یې هیڅ ډول لاس وهنه ونه کړه.

په بنګال کې دشیرشاه سوری څلورم کار داو چې په بنګال ې یې د زمکو نوې څښتنان راپیدا کړل ،پایلې یې داشوې چې بنګال دپښتون دویم ټاټوبې وګرزید. ددې نه علاوه هغه دهند د شمال څخه راجپوتان راوړل اودلته یې اباد کړل تر څو هندوان ترې سر راپورته نه کړاې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تر ټولو مهم کار چې شیرشاه سوری په بنګال کې وکړ هغه دا و چې دخپل ځان له پاره یې یوه ډیره قوي بحري بیړۍ تیاره کړه. ترڅنګ یې هلته په بنګال کې د نظامي حکومت په ځای سیاسي حکومت جوړ کړ ،او تر ټولو مهم کار یې دا وکړ چې په بنګال کې یې د سړکونو په جوړولو لاس پورې کړ.

بنګال ته د ګودریا د لارې څخه هم دتللو راتللو لارې جوړې شوې وې خو هلته د سړکونو نظام بلکل د نشت سره مخ و. دهمدې نظام د نشتوالي په اساس نه یوازې په بنګال کې سیمه ایز عصبیت ځواکمن کیده بلکه دبغاوتونو له پاره هم لاره پرانستې وه. هغه سړکونه به چې د فوځ د انتقال په وخت کې جوړیدل نو د امن په وختو کې به د هغه ساتنه نه کیده او د باران په وختو کې به هغه بلکل د تګ راتګ له پاره بندیدل.

هغه لارې چې د مسافرینو له پاره جوړې شوې وې هغه هم د غلو او داړه مارانو دزیاد ښت په خاطر د تګ نه لویدلې وې اودا حال د شیرشاه سوري له پاره د زغم وړ نه و.

شیرشاه سوري په همغه لمړي ځل د اټک څخه تر دهلي پورې یوه لویه شاهراه جوړه کړه اوحکم یې وکړ چې ددهلی څخه تر د بنګال د سونار د کلي بورې دا شاهراه و غځول شي. سونار کلې د بنګال دکورني تجارت له پاره ډیره مهمه بندرګاه وه.

که څه هم سونار ګاو په اوسني وخت کې خپل هغه اهمیت له لاسه ورکړې دې خو هغه وخت یې ډیر زیات اهمیت درلود. دغه ځای د شیرشاه سوری په وخت کې د هغه د حکومت مرکز هم نه وې خو ددې سره سره دا ځای د حربي فنونو له اړخه ډیر مهم ګڼل کیده.

سونارګاو د لکهیا او میګنا ددریابونو تر منځه د اوسني ډ کې څخه نیغ په نیغه شپاړس میله واټن درلود. همدا علت و چې یو وخت دا ځای د بحری جهازونو له پاره یوه ښه بندرګاه وه.

ابن بطوطه دهمدې بندرګاه څخه د چین په لور تللې و. شیرشاه سوری چې د اټک څخه نیولې تر بنګاله پورې ستره شاهراه جوړه کړه نو سونارګاو ددې شاهراه اخري تم ځآې و. د شاهراه ګانو تر څنګ شیرشاه سوري د سرایونو په جوړولو او د کوهیانو په کندلو هم لاس پورې کړ تر څو په لاره کې د مسافرینو له پاره د تګ راتګ اسانتیاوې پیدا شي. همدا راز یې په لویو لویو ښارونو کې د زمکې سترې سترې ټوټې دخپل لښکرو د پړاونو له پاره ځانګړې کړې.

په بنګال کې د اوسیدو په وخت کې شیرشاه سوری د بنګال د ولایت پولې هم و ټاکلې. د بنګال د ولایت غربي پوله د کوسي ددریاب د غاړې په هغه ځای پورې رسیده په کوم ځای کې چې هغه د ګنګا ددریاب سره یو ځای کیده ، بیا دا لیکه د ګنګا څخه تیریده او د ګړهي د غربي څنډې څخه را تاویده او دجنوب په لور د راج محل دغرونو او بهارکنډ دځنګلونو تر منځ تیریده او دبیربهوم او شیرګړه پورې رسیدله.

شمالي پوله یې د شیرشاه سوری له خوا د اباد کړل شوي نوې ښار ګوټې شیرګړه پورې رسیدله ، شرق او جنوب شرق یې دکوسي دویالې په غاړه چې د بهار پورې خپره شوې وه. د جنوب شرق په لور دا ولایت په چنګاوو کې پروت دماتاموري ددریاب پورې خپور شوې و. په دې توګه د بنګال په ولایت کې د اوسیدو په وخت کې د ترقۍ دکارونو تر څنګ شیرشاه سورې ددې ولایت څلور خواوې هم و ټاکلې. ددې ټولو کارونو د تر سره کولو وروسته یې دخپله اړخه یو باوري شخصیت د قاضي فضیلت تر نامه لاندې ددې ولایت والي

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ټاکه. بیا دخپل لښکر سره یو ځای دهلي ته راغې ،دهلی ته بې درا رسیدو سره سم خپل یو ګړندي قاصد دخواص خان په لور لاهور ته ولیږه او خواص خان یې دخپل لښکر سره یو ځای دهلي ته را وباله. ترڅو ټول هغه مقاومتونه چې دهندوستان په داخل کې یې سرونه راپورته کړي دخواص خان سره یو ځای وځپوي او هغوی ټول دخپل ځان تابع او فرمانبرداره کړي.

۲۰

نیرمل په خپله خیمه کې ځانته ناسته وه ،چې کملاوتي درنه درنه او په پټو پښو خیمې ته ور ننوتله . او د نیرمل تر څنګ کیناسته .نیرمل ورته وکتل چې دهغې غومبرې دخوشحالۍ نه سره شوې دي. دهغې په سترګو کې دخوشحالۍ نڅا او په شونډو باندې ښایسته اوزږه وړونکې خندا ده. دکملاوتي ددې حالاتو په کتلو سره نیرمل ورته وویل چې:

کملاوتي څه خبره شوې ؟ نن خو ته د معمول پر خلاف ډیره زیاته خوشحاله معلومیږې. کملاوتي ورته په خندا شوه او ورته یې وویل چې:

نیرمل ! زما درنې مشرې ! ستا اندازه بلکل سهي ده ، بس داسې یې وګڼه چې حالات پخپله زما په لور را ماتیږي او دغه ټول کارو او کارونه به دخپل اصلي منزل په لور رسیږي. ګوره نیرمل !لږ څه دمخه د دهلي څخه د شیرشاه سوری یو قاصد راغې او د خواص خان په نوم یې د شیرشاه سوري پیغام راوړې تر څو خواص خان دخپلې برخې د لښکر سره یو ځای ددهلي په لور روان شي. پخپله شیرشاه سوری د بنګال د حالاتو د سهي کولو څخه وروسته بیرته دهلي ته را رسیدلې دي. زما په آند چې اوس شیرشاه سوری غواړي خواص خان له ځانه سره یو ځای کړي او د بل کوم دښمن په لور حرکت وکړي.

ګوره نیرمل ! ما همدا امید کاوه چې کله به خواص خان دخپل لښکر سره یو ځای د دهلي په لور روانیږي ترڅو هملته زه هغه په خپلې سزا باندې ورسوم. نیرمل دهغې په خبرو باندې تر یوه وخته پورې خاموشه ناسته وه او بیا یې وویل چې: ګوره کملاوتي !ته دهلي ته په ور رسیدو سره به څه ډول خواص خان دخپلې ولکې لاندې ر اوړې . کملاوتي ورته وویل چې : هلته په دهلي کې زما څو کسه پیژندونکې شته ، دهغوی څخه یو چې دهغه ځای د مشرانو څخه دي اونرود سنګهه نومیږي اوددهلي ډیر ستر تاجر دی ، دهمدې تاجر په واسطه به زه یو شمیر وسله وال ځوانان را وغواړم او خواص خان به پرې له منځه یوسم .نیرمل دهغې په خبرو کې دلچسپې وښوده او بیا یې ترې وپوښتل چې:

ګوره کملاوتي ! ته به خپل وسله وال کسان دکومه ځایه څخه را وغواړې. کملاوتي ورته په خندا کې وویل چې : واوره نیرمل: زما دکاکا یو زوې دې چې مهاکوي نومیږي. زما د ورور دمړینې وروسته هغه دګنګا ددریاب په غاړه په یوه خوندي ځای کې میشت دې دهغه سره هلته دهغه څوکسه وسلوال ځوانان هم اوسیږي ،دهمدې ځوانانو په لاسو به زه د خواص خان ژوند ته دپای ټکې کیږدم.

زه دهمغوی په اشاره دلته دخواص خان سره داړیکو د ټینګولو له پاره راغلې یم. هغه مهاکوي چې ما یې پخوا تاته یادونه وکړه هغه زما دکاکا د زوې والي څخه علاوه زما منګیتر هم دي. مونږ دواړو وعده کړې وه چې مونږ به دخواص خان د وژلو وروسته یو د بل سره واده کوو. دهغې په دې خبره نیرمل اعتراض وکړ او ویې ویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره کملاوتي ! کله چې ستا د کاکا زوې مهاکوي ته دا خبر ورسیږي چې ته دخواص خان ښځه ګر زیدلې یې نو ایا هغه به ستا پر خلاف دبدلې اخستلو له پاره قدم وانخلي ؟ دهغې په دې خبره کملاوتي یو ځل بیا وخندل او ورته یې وویل چې :

ګوره نیرمل ! هیڅکله به هم داسې و نه شي . هغه وخت چې مهاکوی زه د خواص خان ښځه د بدلې د اخستلو له پاره دې لورې ته رالیږلم نو ماته یې نصیحت کړې و چې که چیرې د ځو ورځو له پاره ته دخواص خان ښځه هم وګرځې نو پروانه کوي خو هغه به ضرور له منځه وړې. نو کله چې هغه ته دا خبر ور سیږي چې زه د خواص خان ښځه ګرزیدلې یم نو هغه ته به په د ې کار هیڅ اعتراض نه وي . تر لږه وخته پورې په خیمه کې خاموشي خپره شوه بیا نیرمل په ډیره راز دانه توګه ورته وویل چې:

ګوره کملاوتي ! دهلي ته د رسیدو سره به ته ماته ستا د پیژندګلوې نرود سنګهـ دکور ادرس راکړې ،نو که چیرې هلته په لښکر کې زما او ستا له پاره حالات خراب شي نو زه به دلښکر څخه و تښتیږم او د نرود سنګهـ کور ته به ولاړه شم. کملاوتي په پراخه سینه ورته وویل چې : دهلي ته د ورسیدو سره سم به زه تاته د هغه دکور ادرس درکړم. ته اندیښنه مه کوه ، په دې ټول کړچار کې به پر تا باندې هیڅ ګوته کینښوول شي . اوکه چیرې کله هم داسې وخت راشي نو بیا به هرو مرو ددې ځایه وځي او د نرود سنګهـ کور ته به ځان رسوې. ګوره زه اوس ورځم ، ددې پاره راغلې وم چې تاته دا ښه خبر در ورسوم، ددې خبرې سره سم کملاوتي دخیمې څخه ووتله اوپه بله ورځ سهار وختي خواص خان دخپل لښکر سره یوځای ددهلي په لور روان شو.

۲۱

دهلي ته د رارسیدو سره سم شیرشاه سوری سلا مشورې پیل کړې ، او بیا دې پایلو ته ورسید چې اوس باید ددهلي څخه ووځې او دباغي ځواکونو پر خلاف تصفیوي عملیات پیل کړي. هغه تر ټولو دمخه د مالوه د تصفیې په لور دتللو هوډ وکړ .

مالوه هغه سیمه ده چې په غربي برخو کې یې ګجرات او راجپوتانه او په شرق کې یې بندیل کنډ او ګوډ انه ، شمال ته یې د چنبل دریاب او جنوب ته یې د نرباد سیمه پرته د ه . دمالوه منځنې میدانونه د شمال او جنوب له اړخه دڅلورو دریابونو په واسطه په برابره توګه سره ویشلې دي . ددې دریابونو نومونه دادي : ماهی ، چنبل ، باوروتي ، او دیدوا . ددې څلورو دریابونو ددې سیمې نوم مالوه دې . په پخوانیو وختونوکې دا زمکه په دوو برخو باندې ویشل شوې وه ، غربي مالوه چې اونتي ور ته ویل کیده او شرقي مالوه چې د اماره کهـ په نومو یادیدلې.

دپخوانیـ زمانې څخه تر ننه پورې مالوه دهندوستان په تاریخ اوتمدن باندې ډیر ستر اغیز لري .ځکه د جغرافې له نظره ددې ځای مرکزی برخه د شمال ، جنوب ، غرب اوشرق تر منځه د یوې کړۍ کار ورکوي .که چیرې دتاریخ په عامو دورو کې مالوه د شمالي هند دسلطنت یوه برخه نه وې ګرزیدلې نو دپخوانیو او منځنیو پیړیوپه تاریخي کې به د تنوع په ځای یو شانته والي راپیدا کیده . اودا یوه تاریخي پیښه ده چې هغه وخت چې پایلې پتر ، قنوج اویا مالوه د هندوستان په حکومت کې شامله نه وه نوهغه حکومت ته یې هندوستاني حکومت نه وایه.

دمګهـ دسلطنت د زوال نه وروسته چې په هندوستان کې د علومو ،فنونو ،تهذیب او تمدن په ډګر کې کوم امتیاز ور په برخه شوې و نو په هغې کې مالوه لمړۍ درجه درلوده. دا هغه سیمه ده چې د تاریخ ستر ستر ویاړلي یې زیږولې دي ، دنمونې په توګه بکرمادتیه ، اودهغه نورتن ، ددهارا نګري راجه بهوج او ...داسې نور . په دې سیمه کې سنسکرت،علم و ادب خپل عروج ته رسیدلې و ، دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبرهمني مذهب ولکه وه ، ددې ځای راجپوتانو تر دوو پيړيو پورې دغير ملکې حمله کونکو په ډيره ميړانه مقابله کړې او په زړه ورتيا سره يې خپله ازادي ساتلې وه.

د ترکانو د حملې په وخت کې هم په دې سيمه کې هندوان حاکم پاته شول . وروسته بيا مجبور شول او د جنوب په لور ولاړل.دا سيمه چې اوس ورته مالوه ويل کيږي دملو دقوم سکونت ځای و . ملو قوم په دوو برخو ويشل شوې يوه ته يې ملو و ايه او بل ته يې مانجو. ويل کيږي چې د سکندر اعظم د يرغل په وخت کې د مالو او مانجو دواړه قبيلې د راوي ددرياب په لاندې برخه کې ابادې شوې وې. تاريخپوهان دا هم وايي چې دا خلک د سيند ددرياب دهغې غاړې څخه د سهوستان په سيمه کې د ديدک د قبايلو سره يو ځای او سيدل . په ځرګنده توګه مالو يو قوم و چې د زيات شمير قبيلو او قبايلو څخه جوړ شوې و ، دا خلک پخوا په سترو سترو غرونو باندې او سيدل نو په دې اساس يې نوم د سنسکرت په ژبه مالو ياد کړل شو او دا سيمه د مالوهي په نامه ياده کړل شوه.

په پيل کې دا خلک په پنجاب کې او سيدل اوس هم د ستلج ددرياب په جنوبې برخو کې دجټانو دوه ډلې پيدا کيږي . مالو او ماج د ستلج په شمالي برخو کې او سيږي . نن سبا په مالوه کې د مالو د قوم لټون دا سې دې لکه د مختلفو شيانو څخه جوړ شوې خوراک کې مختلف شيان ولټول شي . په دې خاطر د هند په زمکه چې هر قوم قدم ايښې دې نو هغه د هندوستانې قوم په دغه ګډ خوراک کې جذب شوې دې ، که هغه ارين دې ، يا يونانيان ، برهمن دې يا ترکان ، منګوليان دې يا تاتاريان ، ټولو هندوستان ته په راتلو سره خپل انفراديت له لاسه ورکړې دې،اودخپلې ژبې ، قوم او نسل د ساتلو هر څومره هڅې يې چې کړې دی خو بيا هم په هندوستانې تهذيب کې مدغم شوې دي ، دشپږمې پيړۍ په شاوخوا کې د مالو او مانجو دواړه قبيلې د پنجاب څخه ولاړې او مالوه او ميواړ کې ابادې شوې ،په دا سې حال کې چې بيا وروسته دوی د مانجهه راولي د غرونو په لور ولاړې. هلته يې په ميواړ کې ځانته خپل يو ښار ګوټې اباد کړ ، دهغوې دواړو قبيلو تر منځه خپل منځ اړيکې دا سې جوړ کړل شوي لکه دتاريخ په عامو دورو کې چې د مالوه او راجپوتانو ترمنځه موجود وو . هغوې ډير ژر دملو دخلکو او نورو قومونو سره چې دپخوا څخه په دې سيمه کې اباد شوي يو ځای شول او خپل ځانته والې يې له منځه يوړ . په دې اساس دا ټوله سيمه دهغوې په نامه مشهوره شوه.

دمالو او مانجهه څخه علاوه څه نور قومونه هم وخت په وخت دمالوه دې زمکو ته راتلل ، دنمونې په توګه د بنديل کهنډ له لارې د کچواها خلک دې سيمې ته را ننوتل او تر يوه وخته پورې به دلته او سيدل ، په دې خاطر دغو سيمو ته يې بيا د کچوار نوم ورکړ . ددې دغه اوسنې نوم د کچهوراو اسې د ورانيدو څخه جوړ شوې دې. ددوې جوړونکې راجه نرود نوميده چې يو وخت يې په ګواليار کې حکومت کاوه.

ددې کچواهانو څخه علاوه چوهان هم په مالوه کې اباد شوي وو . دې چوهانو به يو ډول شربت جوړاوه چې د مرګ شربت به يې ورته وايه . هغوې به دا شربت خپلو دښمنانو ته ورکاوه او په دی توګه به يې هغوې له منځه وړل . دې شربت ته يې په راجپوتې ژبه کې ( کهينچ څکول ) ويل ،په دې خاطر دارا جپوتان بيا د کهينچ په نامه ياديدل . دا راجپوتان بيا شرقي مالوه ته راغلل او هلته يې د هغه ځآی د پخوانيو او سيدونکو سره ننښتې پيل کړې او هغوې يې د جنګونو په واسطه د خپلو ځايو څخه وشړل او دهغوې په ملکيتونو يې ولکې وکړې ، دای راجپوتانو ان د اکبر تر وخته پورې مسلمانانو حکمرانانو ته هم ستونزې راولاړولې . همدا علت چې ددوې په مقابل کې مسلمانو پادشاهانو دا پاليسي خپله کړه چې د راټهور راجپوتانو ته دهغوې دخدمت په مقابل کې مالوه د جاګير په ډول ورېږدې ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لارې د مالوه پخواني راجپوتان تر اغيز لاندې و نيسي. ددې پايلې دا شوې چې په لږه موده کې دغو نوو راغليو خلکو کهينچې راجپوتان په اقتصادي ، سياسي او نورو ساحو کې په ډيره زياته اندازه لاندې وغورزول.

ددې نه علاوه تور قبائل هم مالوه ته ور ننوتي و چې په سنسکرت يې دې خلکو ته (مرکهه) ويلې. په پنځلسمه پيړۍ کې دا خلک د ګواليار څخه را پورته شول او په مالوه کې اباد شول او بيا يې د سلطان ابراهيم لودي د واکمنۍ په وخت کې د مالوه د خلجي سلطان او ددهلي د فرمانروا په خلاف خپله ازادي په خپل ځاې و ساتله. بيا د تور قوم خلک د جنوب په لور وخوزيدل او د راې سين د راجه پورن مل پلار سلهاري تر قومندې لاندې يې په چندريري او راې سين باندې ولکه وکړه او هلته يې خپل حکومت جوړ کړ. د مالوې په اړه تاريخي معلومات په لنډه توګه په لاندې ډول وړاندې کيږي. د ۱۴۰۱ څخه تر ۱۴۰۲ پورې مالوه د هغې دوالی دلاورخان غوری له اړخه ازاده اعلان شوه او همدغه والي د مالوه د سلطنت بنسټ کيښود. دهغې وروسته دهغه زوې سلطان هوتک غوري دخپلو فتوحاتو په لړ کې د سلطنت پولې تر ګواليار او کالتي پورې و غځولې.

ددې نه وروسته په ۱۴۳۵ څخه تر ۱۴۷۱ پورې د سلطان محمود تر نامه لاندې يو کس د مالوه د حکمران په څير پاته شو ، هغه يو منصف المزاجه او عادل حکمران و ، دهغه د حکومت په څلور دير ش کلنۍ دوره کې د مالوه تاريخ د منځنيو پيړيو د تاريخ يو طلاې باب ګڼل کيږي. دهغه وروسته دهغه زوې عياث الدين د مالوه حکمران شو ،هغه تر يوه وخته پورې د خپل پلار په څير حکومت کاوه خو وروسته بيا په عياشۍ کې ورډوب شو ، په عياشۍ کې د ورپريوتو وروسته هغه ته يو اځې يو شوق را پيدا شوې و او هغه دا و چې د راجه ګانو او سترو زمکوالو ښايسته لوڼې به يې په زور خپل حرم ته راوړې . هغه خپلې شاهي دندې پريښودې وې او شپه او ورځ په حسن او ښايست کې ډوب و.

دهغې وروسته د ۱۵۰۰ او ۱۵۱۲ کلنو تر منځ ناصر الدين په تخت کيناست ، دا هم يو شرابي او ظالم حکمران و. خو د خپل سلطنت چارې يې په ډيره ښه توګه تر سره کولې. خو ددې وورسته دهغه د زامنو تر منځ د تخت د تر لاسه کولو له پاره شخړې راپيدا شوې چې دهغوې څخه يې يوه زوې (محمود ) د راجپوتانو د سردار په مرسته په تخت د کيناستو بريالېتوب تر لاسه کړ.

هغه دغې راجپوت سردار ته د ميګني راې لقب ورکړ. ميګني راې ډير پوه ، عاقل او تکړه سپاهي و. که څه هم په خپله په سلطان محمود کې د جسماني ځواک کمښت نه و خو د مصلحت او سپاهيت له اړخه ډير کم تجربه و. په داسې حال کې چې ديوه رهبر له پاره داسې صفتونه ډير اړين ګڼل کيږي. پايلې يې دا شوې چې ميګني راې دهغه څخه مسلمانان سرداران يو يو لرې کړ او له منځه يې يوړل او د خپل ځان څخه يې يو مطلق العنان حکمران جوړ کړ. سلطان محمود ددې حالاتو په کتلو سره د ګجرات د پادشاه څخه کومک و غوښت. دبله اړخه ميګني راې د ميواړ د راجه رانا سانکا څخه دبسپنې غوښتنه وکړه. په پايلو کې يې سلطان ته سخته ماتې ورکړه او د تل له پاره يې بندي وساته ، وروسته راناسانګا سلطان بيرته ازاد کړ او هغه ته يې د سلطنت په يوې خاصې سيمې کې د حکومت کولو اجازه ورکړه. خو د مالوې پاته ټوله سيمه يې په خپل سلطنت کې را شامله کړه.

د مالوې د سلطنت دغه ډول له منځه تلل او د رانا سانګا په ځواک کې د حد نه زيات ډيرښت په هندوستاني سياست کې ډير خلل راپيدا کړ. تر لرې مودې مخته پورې د مالوې ، ميواړ او ګجرات درې واړه رياستونه په خپل ځواک او پراختيا کې يو دبله سره برابر وو. او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې توګه دهغوې تر منځ يو ډول توازن اوبرابري موجوده وه اودخپل منځې شخړو په وخت کې به يې هم ددهلي کمزورې نظام د راحت سره مخ کوو.

خو د ګجرات او مالوه په ګډه و ځواکونو د رانا سانګا فتحې د راجپوتانو هغه جارحانه پاليسي بيرته را ژوندۍ کړه او د راجپوتانو دځواکونو دا يووالې د دهلي دکمزورې حکومت له پاره ډير زيات خطرناک ثابتيده. ځکه چې دداسې يوه با اختياره رياست دومره پراخوالې او په بل رياست باندې دهغوې ولکه کول په طبيعې توګه دمرکز سره د ټکر کولو له پاره لاره هواروله.

په دې خاطر راناسانګا د ميواړ د واکمنۍ په لوړتيا وکې د سلطان لودهي د زماني لودهيانو ته پرلپسې ګواښ حسابيده. اودا ګواښ دبابر له پاره هم تر هغه وخته پورې په خپل ځاې پاته وه تر هغې چې بابر د کنواه په جنګ کې راناسانګا ته ډيره بده ماتې نه وه ورکړې. هغه په دې جنګ کې د راجپوتانو ځواک په پوره توګه له منځه يوړ.

خو ميواړ هم دمالوه د زوال نه وروسته په سيمه کې توازن و نه شو ساتلې، دد ې ماتې څخه وروسته د ګجرات د عروج او زوال له پاره لاره پرانستل شوه، دګجرات حکمران بهادرشاه په مالوه باندې يرغل وکړ او په دې توګه يې مالوه په ګجرات کې راشامله کړه. بهادرشاه د ځواکمنکيدو سره سم د مغلو په خلاف د بغض او کينې لاره خپله کړه، بلکل همغسې لکه دد ې نه مخته چې راناسانګا خپله کړې وه. خو دا ګواښ هغه وخت له منځه ولاړ چې همايون په ګجرات باندې حمله وکړه او بهادرشاه يې له منځه يوړ.

دبهادرشاه د مړينې وروسته مالوه بې وارثه پاته شوه. ځکه چې دې سيمې ته دپخوانيو حکمرانانو د وراثينو څخه هيڅوک په لاس ورنغې اوپه دې توګه دمالوه ميدان بلکل صاف پاته شو، هيڅ نوې ځواک دلته دپښو دکلکولو توان نه درلود. په دې وخت کې يو کس ملوخان د حالاتو څخه سياسي ګټې پورته کړه، نوموړې په لمړيو کې د مالوه د خلجې حکمران غلام و اوبيا د سيمې امير وګرزيد. هغه وخت چې د لړې مودې له پاره مالوه د بهادرخان په ولکه کې راغله نو ملوخان د بهادرشاه له اړخه غوره وګڼل شو، دګجرات دحکمران بهادرشاه دمړينې وروسته ملوخان د قادرشاه په لقب دمالوه په ډيرې برخې باندې حکمران وګرزيد.

په مالوه کې وروسته بيا يو بل ځواک هم راپيدا شو او هغه د راجپوتانو سردار پورن مل و. همدغه پورن مل په لمړيو کې په راې سين او چندريرې باندې ولکه وکړه اوددې وروسته يې ورځ په ورځ خپل توان زيات کړ او په دې توګه راجپوتانو يو ځل بيا خپلې جارحانه حملې يو ځل بيا پيل کړې او په ډيره لږه موده کې پورن مل دومره ځواکمن شو چې دمالوه هيڅ حکمران دهغه واکمنې له سترګو نه شوه غورزولې.

هغه وخت چې شيرشاه سورى په دهلى کې قيام کاوه اوبيا يې په مالوه باندې د بريد کولو تکل وکړ نو هغه وخت په مالوه کې دوه ستر ستر ځواکونه وو. او دا دواړه د شيرشاه سورې له پاره ګواښ ګڼل کيده. دهغوې څخه يو ملوخان و چې د قادرخان لقب يې ځانته خپل کړې و او بل راجپوت حکمران پورن مل و. اوس ددې دواړو د ځپلو له پاره شيرشاه سورى د دهلي څخه روان شوې و. هغه دخپل سفر په لمړې پړاو کې اګرې ته ورسيد. هلته په اګره کې دقيام په وخت کې ورته دخپل والى بهار شجاعت له اړخه يو ليک ورورسيد چې په هغې کې يې ليکلې و چې د ګواليار د کلا والي ابو القاسم چې دهمايون له اړخه ټاکل شوې و، دده سره سوله کړې ده. او دابوالقاسم په مطابق کله چې شيرشاه سورى په خپله ګواليار ته را ورسيږې نو دا کلا به شيرشاه سورى ته ورحواله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددهلي څخه د اګرې په لور دتللو په وخت کې شیرشاه سوری دخواص خان په نامه یو قاصد لیږلی و او هغه ته یې حکم کړی و چې هغه دې د هلي په ځای د اګرې په لور راشي ، خو اوس چې د شجاعت خان له لورې شیرشاه سوري ته لیک ور رسیدلی و نو هغه خواص خان ته د انتظار پرته داګرې څخه روان شو . لاهور ته یې بل قاصد ور ولیږه تر څو خواص خان ته ووایي چې هغه دې ته د انتظار کولو پرته د اګرې څخه روان شوې دې نو په دې خاطر دې هغه دهغه پسې مالوې ته ځان ورسوي.

شیرشاه سوری د شجاعت خان د پیغام د تر لاسه کولو سمدستي وروسته داګرې څخه روان شو اوخپل فوځ ته یې حکم وکړ چې دګوالیار دلارې دې دمالوې مرکزي ښار ماندو په لور ولاړ شي. داګرې څخه دګوالیار په لور دتللو په وخت کې شیرشاه سوری د اناوه او بهینډ په لور کوچ کړی و . کابي ته د رسید و سره سم د سمبل عسکري قومندان د بلګران څخه راتښتید ونکې اخري مغل سردار بیرم خان هم شیرشاه سوری ته ورحواله کړ . بیرم خان یې د شیرشاه سوری په وړاندې راوست . خوشیرشاه یې په اړه کومه پریکړه و نه کړه . او هغه هم د یوه بندي په څیر دشیرشاه سوری په لښکر کې سفر کاوه .

په هر حال شیرشاه سوری د اګرې څخه ګوالیار ته ورسید او د ګوالیار مغل والي ابو القاسم د خپلې وعدې مطابق دکلا ولکه دشیرشاه سوری په لاسو کې ورکړه . ابو القاسم چې دهمایون له اړخه د ګوالیار والی ټاکل شوی و ، دیوه کال د واټن په اندازه د خوارکې وسایلو د کمښت په اساس د شیرشاه سوری د سپه سالار او حاکم بهار شجاعت خان سره په سولې کولو مجبور شوی و . شیرشاه سوري ابو القاسم هم له ځانه سره بندي کړ او په خپل فوځ کې یې وساته . دهغه راتلونکې هم د بیرم خان په څیر تیاره معلومیده . دشیرشاه سوري لښکر د ګوالیار څخه روان شو او د مالوې شمالي پولو ته ورسید . په همدې وخت کې شیرشاه سوری په ناڅاپي توګه خپل مخ بدل کړ او دشمال له لورې یې په مالوه باندې دحملې په ځای د جنوب غرب په لور د ګاکرو په خوا ور وګرزید. کله چې دا خبر د مالوه حکمرانانو ته ور ورسید نو هغوې دخوشحالۍ نه جشن جوړ کړ ،هغوې دا فکر کاوه چې شیرشاه سوری دمالوه څخه په شا ولاړ . او اوس بلې کومې لورې ته روان دې.

شیرشاه سوري په جنګونو کې ډیره پراخه تجربه درلوده اوبیا هغه دا ټولې سیمې پخوا هم لیدلې کتلې وې. ګاکرو د مکندره نومې غرنیو لړیو اخري شرقي پوله باندې پرته سیمه ده . ددې غرنو څخه نیولې دمالوه تر شرقی راجپوتانه سیمو پورې لاره سمیږي په مالوه باندې دیرغل کولو له پاره چې شیرشاه سوری کومه لاره خپله کړې وه دهغې په اړه تر اوسه پورې شجاعت خان ته هم معلومات نه و . شجاعت خان هم په دې نه پوهیده چې دلښکرو اخري منزل به کومې لورې ته وي ځکه چې دهغه اقا شیرشاه سوري دخپلو جنګې پلانونو په پټ ساتلو کې ډیر میړنی و .

په دې توګه د ګاکرو په غرنیو سیمو کې د ورننوتلو وروسته ، شیرشاه سوری تر هر څه دمخه په دې دره باندې ولکه وکړه ، ځکه دا دره دمالوه څخه د شرقي راجپوتانه په لور په لاره کې پرته وه . ددې درې دولکې کولو څخه د شیرشاه سوری مقصد دا و چې دمالوه د ډیرې برخې حکمران قادرشاه ته دراجپوتانه یا بلې کومې لورې څخه کومک را ونه رسیږي. اوکه څوک د اړتیاو په وخت کې د قادرشاه سره کومک کول غواړي نو هغه به په همدې درې کې تم کړل شي.

بیا شیرشاه سوری په ناڅاپي توګه د جنوب لورې ته سارنګ پور ته ور وګرزید . دا سیمه د ګاکرو څخه یو سلو شل میله واټن کې پرته ده . په دې وخت کې قادرشاه په اجین کې و چې د سارنګ پور څخه یې جنوب غرب لورې نژدې سل میله واټن درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا تر او سه قادرشاه د اجین څخه ور راوتلې چې شیرشاه سوری په سارنګ باندې د جنګ پرته ولکه وکړه. قادرشاه سخت په ویره کې شو اود خپل مرکز شهر ماندو به لور ولاړ. دابنار دا جین څخه نژدې سل میله جنوب ته پروت دې. دشیرشاه سوری ددې ناڅاپی یرغل څخه هغه په ویره کې لویدلې و او له دې ځایه په تیښته وتلې و. که څه هم د قادرشاه سره د جنګ او جنګیدو پوره سازو سامان شتون درلود خو هغه ته دشیرشاه سوري په څیر ددښمن دغلولو اویادښمن ته ددوکې ورکولو ځواک نه و موجود. هغه ددې جوګه هم نه وې چې په ځانته ځان جنګ وکړي او خپل ځآن په زوره د اور په لمبو کې ورو غورزوي.

که چیرې په دې وخت کې قادرشاه دهمیت او میړانې څخه کار اخستې واې او په خپلې مستحکمې کلا کې محاصره شوې واې او ددښمن مقابله یې کړې واې نو ممکن وه چې هغه ته به دلږه مقاومته وروسته دمالوه د کوچنیو او سترو سردارانو او حاکمانو ملاتړ تر لاسه شوې واې ،او هم به دهغه ځاې سرداران او حاکمان یو لاس شوې او د یوه بیرغ ترسیوري لاندې به یې د شیرشاه سوري مقابله کړې واې ، نو که چیرې دا سې یې کړې وای نو د شیرشاه سوری په شاتګ هم شونې و او ددوې ددفاع له پاره هم پوره وخت ورته په لاس ورته.

دبله اړخه شیرشاه سوری همهلته په سارنګ پور کې په دا سې توګه قیام وکړ چې هلته یې د یوه حمله کونکې په څیرنه بلکه د یوه قانوني حکمران په څیر حیثیت خپل کړ ، تر سارنګ پور پورې د ورسیدو له پاره شیرشاه سوری نه د وینې یو څاڅکې توې کړ او نه یې خپل لښکر ته د لوټمارئ او چور وچپاول اجازه ورکړه. او نه یې د رعایاو څخه د چا دغلام کولو هڅه وکړه ، اونه یې کوم ډول تباهي او بربادي منځته راوړه. دې ټولو خبرو دشیرشاه سوری په انسانیت او انصاف باندې دلالت کوي.

هغه وخت چې شیرشاه سوري په سارنګ پور کې قیام کاوه او د مالوه حکمران د اجین څخه خپل مرکز ماندو ته تښتیدلې و. په ماندو کې د اوسیدو په وخت کې دقادرشاه سفیر سیف خان ورته سلا ورکړه چې هغه دې سمدستي سارنګ پور ته ولاړشي او دشیرشاه سوري په خدمت کې دې حاضر شي او دهغه سره دې سوله وکړي. قادرشاه ته دخپل سفیر سیف خان دا مشوره ډیره غوره ښکاره شوه په دې خاطر یې څو ساتونکې ډلې له ځانه سره واخستې او دخپل مرکزي ښار ماندو څخه ووت او دبیرته اجین ته ورسید. دهمدې ځایه هغه سارنګ پور ته خپل یو سفیر و استاوه اود هغه په لاس یې خپل داطاعت اوفرمانبرداری پیغام ولیږه. اوبیا دخپل همدې سفیر تر شاشا پخپله هم ددوو سوو آس سپورو سره یو ځاې سارنګ پورته ته روان شو.

هغه وخت چې قادرشاه دخپلو ساتونکو سره یو ځاې سارنګ پورته ورسید نوشیرشاه سوري یې ډیر ګرم استقبال وکړ ، قادرشاه په ډیره ښه توګه د شیرشاه سوري سره خبرې وکړې او دکوم شرط پرته یې دمالوه ریاست دشیرشاه سوری په وړاندې کیښود. شیرشاه سوری د قادرشاه ددې رویې په مقابل کې دهغه د شاهانه شان په مطابق ګلنار خیمه او نور قیمتي او ارزښتناک لوازمات ور وبښل .سارنګ پورته د قادرشاه د ور رسید و سره سم شیرشاه سوری حکم کړې و چې د سارنګ پور څخه دې پړاو پورته کړل شی او د اجین په لور دې کوچ وکړل شی. دشیرشاه سوری دحکم د اوریدو سره سم دهغه لښکر د سارنګ پور څخه د اجین په لور وخوزید ، دا ډیر اوږود سفر و او نژدې پنځه منزله یې درلودل. په دې سفر کې دشیر شاه سوری او قادرشاه تر منځ اړیکې د ډیرو ښو دوستانو په څیر شوې وې.

ددې سفر په وخت کې دواړه په آسونو سپاره یود بل په څنګ څنګ کې د اجین په لور روان وو. هغوې د خپلو لمړنیو انقلابي ژوندونو راز یو بل ته سره ووایه. ملوخان چې په قادرشاه باندې یې شهرت موندلې و ددې نه اخوا چې د سلطان په خدمت کې پاته شوې و ، څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلې يې دداسې فوځونو قومندانې کړې وه چې دشيرشاه سوری ددې او سنې لښکر څخه، چې د اجين په لور روان و ، ډېر زيات و . نو په دې خاطر هغه هم په ډېر خوند خوند سره دشيرشاه سوری سره خپلې پخوانۍ قصې کولې اودخپلو پخوانيو تجربو په اړه يې ورته معلومات ورکاوه.

په هر صورت د سارنګ پور څخه د اجين په لور د سفر په دوران کې شيرشاه سوری او قادرشاه يو دبل ډېر ښه ملګري او دوستان و ګرزيدل. ددې سفر په دوران کې قادرشاه دشيرشاه سوري دفوځ د نظم و د سپلين څخه ډېر اغيزمن شو ، هغه په خپل ژوند کې داسې ستر فوځ دداسې ښه نظم او نسق په حال کې نه و کتلې. هغه دا هم وکتل چې د شيرشاه سوری لښکر د ساعت په شميرلو سره سفر کوي ، بيا مابنام د پړاو په وخت کې لښکر خپلو ځلورو اړخونو ته کندنې کوي لکه څنګه يې چې د دښمن دحملې څخه ويره وي . او بيا لوښمار او چور وچپاول په ځاې په خپلو خيمو کې ارام پاته کيږي .

د سارنګ پور څخه د اجين په لور د سفر په وخت کې ،کله چې شيرشاه سوري دخپل لښکر سره يو ځاې پړاو وکړ نو قادرشاه په پړاو کې ګرزيده را ګرزيده ، هغه وکتل چې ځو کسه افغان عسکر بيلچې په لاس زمکه کنې او مورچې کاږي. په دې وخت کې هغه يو سپاهي ته وويل چې ددې افغان عسکرو څخه اقا شيرشاه سوری ډېر زيات کار اخلي او ددوې حالت ډېر خراب شوې دې ، دشيرشاه سوری عسکرو د قادرشاه دا خبرې واوريدې او دهغه خبرې يې په کرکجنه توګه په ټوکو واخستلې . په همدې وخت کې دشيرشاه يو عسکر ورته داسې ځواب ورکړ:

« مونږ ددې کار د کولو څخه ډېر خوند اخلو . ځکه چې زمونږ اقا هم زمونږ په څير ډېر محنت کوی.»

قادرشاه ددې ځواب په اوريدو سره ډېر حيران شو . چې دشيرشاه سپاهيان ولې دهغه سره دومره زياته مينه کوي. په داسې حال کې چې هغه له دوې څخه ډېر سخت کار اخلي.

دلښکر سره د سفر کولو او د لښکر په منځ کې د پړاو کولو په وخت کې قادرشاه دا هم وکتل چې دعسکرو د تفريح له پاره هيڅ ډول سازو سامان نه شته . ددې لښکر سره نه باندې او نه نورڅه . نه ورسره د نڅاکونکو ښځو کومه ډله وه چې دهغوې په ژوندونو کې رنګينې را پيدا کړې. په هر صورت ، ددې ټولو حالاتو په کتلو سره قادرشاه دشيرشاه سوری اودهغه دلښکر څخه ډېر اغيزمن شو. دمالوه حکمران شيرشاه ته په تسليميدو سره سياسي زهر څکلې و . ځکه شيرشاه سوري ته اوس حالات ډېر نازکه تر سترګو کيدل . دمانډو په رياست باندې ولکه کول او قادرشاه د خپله ځانه سره بندی کول دهغه په سترګو کې يو کرکجنه او ذليله کار معلوميده . خو ددې برعکس د قادرشاه د پخوانې کړچار په کتلو سره هغه ته بيرته د مالوه درياست واګې سپارل او هغه دخپل ځان باج ورکونکې ګرځول هم د مصلحت نه لرې کار تر سترګو کيده ، ځکه په تيرو وختو کې همدا قادرشاه ډېر زيات خطرناک ثابتيدای شو .

شيرشاه سوری ته دقادرشاه سره داوسيدو په وخت کې دا احساس را پيدا شوې و چې بې له شکه ، قادرشاه يو عقلمند حکمران دې او د شاهي رتبې وړتيا لري نو په دې خاطر هغه بايد لږ تر لږه د يوه ولايت والی و ټاکل شي . اجين ته د رسيدو سره سمدستي شيرشاه سوری تر ټولو لمړۍ دا کار وکړ چې د قادرشاه په نامه يې يو فرمان وليکه . اوددې فرمان له مخې قادرشاه د شيرشاه سوری له اړخه دمالوه په ځاې د لکنهوتي حاکم و ټاکل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د مالوه نورو حکمرانانو وکتل چې قادرشاه چې د دوی څخه ډیر ځواکمن دی او هغه د شیرشاه سوری اطاعت ومانه ، نو هغوی هم د شیرشاه سوری په لور راغلل. د نربدا د دریاب د جنوبي برخې حاکم معین خان پخپله هملته په اجین کې دشیرشاه سوری په خدمت کې حاضر شو او خپل اطاعت یې وړاندې کړ او دشیرشاه سوری ماموریت یې ومانه. شیرشاه سوري د هغه اطاعت قبول کړ او هغه ته یې د هغه جاگیر بیرته ورکړ.

دګجرات څخه هم عالم خالوري او دریا خان چې دګجرات د نابالغه پادشاه ولیعهد او سرپرست و ، دواړه دشیرشاه سوری په خدمت کې حاضر شول ،شیرشاه سوری هغوی دسیاسي مهاجرینو په څیر و منل اودخپل ځان سره یې ورته پناه ورکړه او هغوی یې د اجین او سارنګ پور حاکمان وګرزول او د هغوی د وخت د تیرولو له پاره یې معقوله تنخوا وټاکله. هغه وخت چې شیرشاه سوری په اجین کې اوسیده نو په همدې ورځو کې خواص خان هم د لاهور څخه اجین ته ور ورسید.

هغه وخت چې په اجین کې د اوسیدو په دوران کې د مالوه کوچني او ستر حکمرانان د شیرشاه سوری دربار ته ورتلل او خپل اطاعت او فرمانبرداری له پاره یې هڅې کولې او شیرشاه سوری هم هغوی ته د هغوی ریاستونه بیرته ور سپارل ، قادرشاه ته ډیر تکلیف او درد ور ورسید ،هغه هم دا هیله کوله چې شیرشاه سوري به د مالوه د نیولو وروسته د مالوه حکمراني بیرته همغه ته ور سپاري خو کله چې شیرشاه سوری هغه د مالوه په ځای د لکنهوتي حکمران و ټاکه نو قادرشاه ته دشیرشاه سوری د دې فرمان څخه ډیره ناهیلي را پیدا شوه . خو هغه د څلورو خوا و څخه د شیرشاه سوري په پنجو کې را نښتي و ، د هغه سره د شیرشاه سوری دحکم د منلو پرته بله لاره هم نه وه ، خو بیا یې هم دشیرشاه سوری څخه دخلاصو ن له پاره په پټه توګه پلانونه جوړول. قادرشاه هملته په اجین کې د اوسیدو په وخت کې خپلې ښځې ، کوچنیان او نور خپلوان دوستان سره را ټول کړل او په یوه داسې ځای کې یې ورته خیمې و درولې چې د اجین دښار او دشیرشاه سوری دلښکرو ترمنځ سیمه ګڼل کیده . په دې وخت کې شیرشاه سوری قادرشاه خپلې خیمې ته را وباله . او حکم یې ورته وکړ چې خپل کوچینان ، ښځې او نور خپلوان دوستان ټول د لکنهوتي په لور واستوي او د هغوی د تللو څو ورځې وروسته پخپله هم د لکنهوتي په لور ولاړ شي. قادرشاه څه نور فکر کاوه ، نو په دې خاطر یې د دې معاملې د ځنډولو له پاره شیر شاه ته وویل چې:

زه خو ستا د حکم او پریکړې په اساس لکنهوتي ته ورځم خو له ما سره د بار وړلو له پاره حیوانات نه شته. شیرشاه سوری سمد ستي حکم وکړ چې قادرشاه ته سل اوښان او سل قچرې تیارې کړئ ، کله چې د بار وړلو دا حیوانات قادرشاه تر لاسه کړل نو قادرشاه پرې خپل ټول سامان بار کړ او خپله کورنۍ او خپل خپلوان یې ټول د کوچ له پاره تیار کړل ، خو بله ورځ شیرشاه سوری ته خبر ورسید چې قادرشاه د لکنهوتي په لور د تللو پر ځای د ګجرات په لور تښتیدلی دی. او باغي شوی دی.

شیرشاه سوري د هغه د تعقیبولو په خاطر خپل سالار شجاعت ور ولیږه او هغه ته یې حکم وکړ چې په هره توګه چې شوني وي قادرشاه لاس ته ړلې دلته راولئ ، خو شجاعت خان په خپلې ورسپارل شوې دنده کې ناکام پاته شو . دګجرات پولې د اجین څخه نژدې سل میله واټن کې وې ، په داسې حال کې چې قادرشاه د شجاعت خان څخه څو ورځې مخته تښتیدلی و . شجاعت خان د قادرشاه د نیولو پرته بیرته راستون شو ، شیرشاه سوری د شجاعت خان په دې بې پروایی باندې ډیر په غضب شو ، خو اوس کار له لاسه وتلې و . او شوني وه چې هغه به په راتلونکې کې دشیرشاه سوری له پاره ستر ګواښ ګرزیدلې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو حالات دا ډول و چې په مالوه کې د راي سین راجه پورن مل څخه علاوه نورو ټولو کوچنیو اوغټو حکمرانانو د شیرشاه سوری ملاتړ اعلان کړی و او دهغه اطاعت یی منلي و. خو د راي سن راجه پورن مل لا تر اوسه په خپل ځاي کې د روند ناست و. دهغه له آنده دا دراجپوتانو ستر خیالي وه ،هغه ته په خپل فوځ ، خپل ځواک او خپل ځان باندې پوره باور و، ددې نه علاوه هغه تر اوسه پورې دشیرشاه سوری میړانه ، شجاعت ، او غیض و غضب نه وکتلې. نو په دې خاطر هغه په دې هیله ناست و چې هغه به په ځانته ځان د شیرشاه سوری مقابله وکړي او خپلې سیمې به دهغه دولکې څخه خوندي وساتي.

خو کله چې دمالوه حکمرانان یو په بل پسې دشیرشاه سوری دربار ته راغلل اوخپل اطاعت یی څرګند کړ او دراي سن راجه پورن مل ته هم دا خبرونه وررسیدل چې اوس نو شیرشاه سوری غواړي خپل ټول لښکر ته حرکت ورکړي او دمالوه دمرکزي ښار ماندو څخه را ووزی اودراي سین په لور را روانیږي تر څو په پورن مل باندې یرغل وکړي. ددې خبرونو په اوریدو سره د پورن مل پښې په لړزیدو راغلې ،ځکه چې دهغه هر مشیر هغه ته دا مشوره ورکوله چې دشیرشاه سوري سره دې د مقابلې څخه ځان وساتي. اوکه چیرې مقابله وکړي نوماتې به یی په برخه کیږي، غوره داده چې دمالوه دنورو حکمرانانو په څیر هغه هم دشیرشاه سوری خدمت ته ورشی او دخپل اطاعت سر ورته ټیټ کړي.

ددې حالاتو په رڼا کې د راي سین دراجه پورن مل سره ددې نه پرته بله لاره نه وه چې هغه دخپلو مشاورینو د مشوروپه اساس دشیرشاه سوري په دربار کې حاضر شي اودمالوه د نورو حکمرانانو په څیر دهغه د اطاعت له پاره سر ټیټ کړي. ددې پریکړې سره سم د راي سن راجه پورن مل د شپږ زره اسونو سره یو ځاي دشیرشاه سوری دربار ته راغې ،شیرشاه سوری په ډیره ښه توګه هغه ته ښه راغلاست ووایه. او ډیر قیتمي انعامونه او ارزښتناکه تحفې یی ورکړې. پورن مل د ضمانت په توګه خپل وړور چتربوج

دشیرشاه سوري سره دیرغمل په توګه کیناوه. شیرشاه سورې هغه ته دهغه سیمه بیرته ورکړه او د پورن مل څخه یی دا ژمنه واخسته چې تل به دشیرشاه سوری اطاعت کونکي اوسي.

اوس نو دشیرشاه سوري تر مخه د هندوستان تر ټولو ستر ځواک د راجپوتانه د راجه ملادیو ځواک و. دراجه مالدیو ځواک د شیرشاه سوري د ځواکونو څخه څو هومره زیات و. په دې خاطر دمالوه څخه د فارغیدو وروسته شیرشاه سوری نه غوښتل چې د راجه ملادیو پر خلاف کوم قدم واخلي. هغه غوښتل د هغه له پاره په پوره توګه خپل ځان تیار کړي. خوبیا یی هم په راجپوتانه باندې دخپل رعب اودبدبې د ساتولو په خاطر یی دمالوه حالات منظم کړل او هلته یی دخپل فوځ یوه برخه پریښوده او پخپله یی د راجپوتانه په لور مخه کړه. شیرشاه سوری غوښتل چې دخپل دغې حرکت په واسطه ځانته د راجه ملادیو داخلي ځواک معلوم کړي ، په دې خاطر یی د مالوه څخه د وتلو وروسته دراجپوتانه درنتهمبور د کلا په لور مخه کړه.

د رنهتمبور په دې کلا باندې راجپوتانو ډیر نازکاوه. دا کلا د بوندې په پولو د جیپور دریاست سره پرته ده. د چتوړ تر ځنګ دهمایون د واکمنۍ په وخت کې دګجرات حاکم بهادرشاه په دې کلا باندې هم ولکه کړې وه. هلته یی یو ګجراتي لښکر جوړ کړې و چې قومندان یی عثمان خان نومیده او همایون ورته دخان خانان لقب ورکړې و.

د بهادرشاه دمړینې وروسته درنهتمبور حاکم عثمان خان دمالوه د حاکم قادرشاه ملګرتوب خپل کړې و ، دا کلا دخپل ځآن د خوندي ساتلو له پاره اوس هم همغومره قوي وه لکه څومره چې پخوا وه. خو اوس دهغې حاکم عثمان خان زوړ شوې و او دکمزورتیا په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی خپل ځان ددې ور نه ګاڼه چې دشیرشاه سوری مقابلې ته را مخته شي. په دې خاطر دشیرشاه سوری سره دمقابلې نه د خوندی پاته کیدو له پاره یی خپل عافیت په دې کې وکوت چې درنهتمبور کلا شیرشاه سوری ته ورحواله کړي.هغه همدا اسې وکړل عثمان خان دا کلا د جنګ وجدل پرته شیرشاه سوري ته ورحواله کړه ،شیرشاه سوري دغه مستحکمه کلا خپل زوې عادل خان ته وسپارله. او پخپله دخپل فوځ سره بیرته د اګرې په لور ولاړ. درنهتمبور دکلا ولکه کول دراجپوتانو په خوله باندې یو سخت ګذار و. هغوې ته دا ډاګیزه شوه چې لکه څنګه چې شیرشاه سوری د رنهتمبور کلا ولکه کولې شي نو په همدې توګه به نورې سیمې اوکلا ګانې هم د راجپوتانو څخه په خپله ولکه کې راولي.

شیرشاه سوري څلورمه برخه

۲۲

په اګره کې شیرشاه سوری خواص خان ته داوسیدو له پاره دخپل ځان تر څنګ ډیره ښه حویلۍ ورکړه. دا همغسې یو ه مانۍ وه لکه څنګه یی چې په رهتاس کې درولوده. یوه ورځ ، هغه وخت چې خواص خان او ګنګا دواړه بازار ته د څه سامان داخستلو له پاره تللې وو نو کملاوتي دخپل خوب په ځاې کې ځانته ناسته پاته شوې وه ، په همدې وخت کې یو ساتونکې دهغې دخیمې دروازې ته راغې او ورته یی وویل چې: درنې میرمنې ! دوه کسه ځوانان غواړي له تاسره ووینې. هغه دواړه وایی چې دوې ستا د ورور مهاکوي له اړخه ستا سره د کتلو له پاره راغلی دي ددې ساتونکې په دې خبرو باندې کملاوتي ټکان وخوړ او سمد ستی یی هغه ساتونکې ته وویل چې :که چیرې همدا اسې وي نو هغوې دواړه زما خیمې ته را ولیږئ.تر څو زه ووینم چې هغوې د څه له پاره دلته راغلي دي ، هغه ساتونکې دکملاوتي دخبرو سره سم بیرته ستون شو.

لږه شیبه وروسته دوه کسه ځوانان دکملاوتي خیمې ته را ننوتل. دهغوې د کتلو سره سم کملاوتي د خپله ځایه راپورته شوه اوهغوې دواړو ته یی په خالې ځایو د کیناستو اشاره وکړه. او پخپله هم هملته کیناسته. بیا کملاوتي هغوې ته مخ کړ او ورته یی وویل چې : تاسې څوک یاست او څه پیغام مو له ځانه سره راوړې دې ؟دهغو دواړو څخه یوه یی وویل چې :

کملاوتي ! زما نوم ملوک چند او زما دملګري نوم منوهرداس دې. مونږ دلته ستا ورور مهاکوي را استولي یو. هغه مونږ ته ویلی دی چې مونږ ولاړ شو اود هغه دخور کملاوتي سره ووینو. دهغې وروسته چې کومه خبره هغه وکړي په همغې عمل وکړو.

کملاوتي لږ څه په غور سره هغوې دواړو ته وکتل اوبیا ی ورته وویل چې: زما ورور مهاکویی په دې اړه تاسو ته څه نه دې ویلي چې د کوم کار له پاره یی تاسو را استولي یاست ؟په دې وخت کې د ملوک چند په ځاې منوهرداس وویلې چې:

ګوره کملاوتي ! ستا ورور مهاکویی مونږ ته دا ویلي وو چې ، [تر دې ځایه دخبرې کولو وروسته هغه ناڅاپه چپ شو اوبیا یی په ډیره پټه توګه کملاوتي ته وویل چې] : کملاوتي کومه خبره چې زه کول غواړم ،هغه دلته کولې شم. کوم خطر خو به نه وي ،کملاوتي لمړۍ ددروازې په لور وکتل اوبیا یی ورته وویل چې هر څه چې وایی په پوره راز سره یی ووایه ، دهغې په دې خبره منوهرداس په ډیر ټیټ غږ سره وویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کملاوتي ! په اصل کې ستا ورور مهاکويی مونږ په دې خاطر دلته را ستولی يو ترڅو مونږ له تاسره ووینو او دخواص خان په وژلو کې له تاسره مرسته وکړو ، د منوهرداس ددې خبرې سره کملاوتي ډېره زياته خوشحاله شوه او بيا يې په همدې خوشحالۍ کې وويل چې:

ګوره منوهر داسه ! ستا خبره سهي ده ، ريښتيا هم زما د کاکا زوې تاسې دهمدې کار له پاره راليږلي ياست ،خو واورئ چې په دې وخت کې دغسې کار کول شوني نه دي. ګورئ ! زه غواړم د خواص خان ترڅنګ دهغه ښځه ګنګا اودهغه يوه باوري دوسته نيرما هم له منځه يوسم. په داسې حال کې چې نيرمل له ماسره د خواص خان په وژلو کې ملګرتيا ښوولې ده. خو زه به هغه هم ژوندۍ پرې نږدم ، ځکه چې هغه کولې شي بيا زما له راز ، هر وخت چې وغواړي ، پرده پورته کړي. او دا کار به بيا زما له پاره ډېر خطرناک وي.

ګورئ ورونو ! اوس تاسې ولاړشئ او د اګرې په کوم سراې کې قيام وکړئ ، دهغې ټول مصارف به زه درکړم ، خو زما سره به د بيا بيا کتلو له پاره زحمت نه باسئ ، دهغې په دې خبره ملوک چند وويل چې: مونږ خو د څو ورځو راهيسې همدلته په اګره کې اوسيږو ، او کله چې مونږ خبر شو چې خواص خان او ګنګا دواړه د اګرې بازار ته د څه اخستلو له پاره ورغلي دي نو بيا مونږ ددغه وخت څخه ګټه پورته کړه او ستا ليدلو ته راغلو.

کملاوتي ددې خبرې په اوريدو سره نوره هم خوشحاله شوه او بيا يې وويل چې: تاسو ډېر ښه کار کړې دې او په ډېر ښه وخت کې دلته راغلي ياست. خو واورئ چې اوس به په ګنګا ، نيرما اوخواص خان يوه هم غرض نه کوئ ، ځکه هغه حالات چې تر اوسه پورې مخته راځي دهغې له مخې شيرشاه سوري به ډېر ژر د خپل لښکر سره يو ځاې دراجپوتانه په لور کوچ کوي ، دهغه ددې ځايه د کوچ کولو وروسته به مونږ خپل اصل کار ته متوجه کيږو. واورئ ورونو ! هغه وخت چې خواص خان ددې ځآيه کوچ وکړي نو زه به هم ورسره د هغه د ښځې په څير د راجپوتانه په لور ورځم خو ګنګا به دخواص خان سره نه وي ملګرې. ځکه چې هغه اميدواره ده او ژر ده چې کوچنې يې پيدا شي. په دې خاطر به خواص خان هغه همدلته په اګره کې پريږدي اودهغې د خدمت له پاره به نيرمل هم ورسره تم کيږي ، هغه وخت چې زه د خواص خان سره يو ځاې د راجپوتانه په لور ولاړه شم ،نو زما په غياب کې به تاسې دواړه متحرک شئ اوپه نيرمل او ګنګا دواړو باندې به حمله وکړئ او له منځّه به يې يوسئ ، خو دا کار به هغه وخت کوئ چې دګنګا کوچنې راپيدا شوې وي ،ځکه چې زه اوس د خواص خان ښځه يم اودهغې د ښځېتوب حق ادا کوم. په دې خاطر زه نه غواړم چې دهغې د نسب شجره خرابه کړم. غواړم چې دخواص خان او ګنګا د مړينې وروسته لږترلږه دهغوې زوې ژوندې پاته شي. ترڅو دخواص نوم اخستونکې يوڅوک بايد شتون ولري .کملاوتي نور څه ويل غوښتل چې ملوکچند پرې را مخته شو او ورته يې وويل چې:

کملاوتي ! ته څنګه په وثوق سره دا خبره کوې چې دګنګا به زوې پيدا کيږي او هغه به لور نه وي. دهغه په دې خبره کملاوتي و خندل او ورته يې وويل چې:

زوې وي که لور. زما مقصد دا دې چې يو څوک خو بايد پاته شي چې دخواص خان نوم ژوند ي وساتي. په هر حال د کوچنې د پيدا کيدو درې مياشتې وروسته تاسې ګنګا او نيرمل له منځه يوسئ ، که چيرې ددې درې مياشتو څخه مخته شيرشاه سوري د راجپوتانه د سوبې څخه را ستون شو نو بيا به تاسې دهغه د راتګ تر مخه دا کار ترسره کړئ خو کوچنې ته به څّه نه وايا ست ، زه به دخواص خان سره يو ځاې هلته په راجپوتانه کې يم نو په دې خاطر به هيڅوک پر ما شک نه کوي ، دګنګا او نيرمل دواړو د له منځه وړلو وروسته تاسې دواړه هملته په همغه سراې کې اوسيږئ ، اوس که چيرې تاسې دواړو ته نور کوم وضاحت اړين وی نو پوښتلې يې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منوهر داس ورته وویلې چې: مونږ دواړو ته هیڅ شک و شبه نه شته. اوس نو ټوله خبره زمونږ تر مخه ډاګیزه ده. دهغه ددې خبرې سره سم کملاوتي دخپله ځایه پورته شوه ، د اوسپنې یو صندوق یې پرانست ،په هغې کې دنقدو پیسو یوه کڅوړه وه ، را وایې خستله او ملوک چند ته یې ورکړه او ورته یې وویل چې: ددې کڅوړې څخه تر ډېره وخته پورې تاسې خپل مصرف کولې شئ ، اوس ولاړشئ اود اګرې په سراې کې و اوسیږئ. ددې خبرې سره سم منوهرداس او ملوکچند دواړه دخواص خان دحویلۍ څخه ووتل او ولاړل.

۲۳

دشیرشاه سوری په لاسو دماتې خوړلو وروسته همایون سیند ته راغې او بیا روهړي ته ورسید ، د روهړي حاکم د سیند د حکمران شاه حسین تر لاس لاندې و ، همایون دهغه څخه کومک وغوښت او ورته یې وویل چې د روهړي کلا هغه ته په واک کې ورکړي ،د شاه حسین دغه سالار په همایون باندې مهربانه شو اودهمایون د پیغام په ځواب کې یې د همدردۍ له لارې دهمایون فوځ ته په کشتیو کې بار غله او نور خوراکي توکي ور ورسول ، ددې وروسته کله چې همایون وکتل چې هغه سالار ده ته دکلا په ورکولو کې وړاندې وروسته کیږي نو هغه خپل قاصد د سیند حاکم شاه حسین ته ولیږه او هغه ته یې حکم ولیږه چې سمدستي دې دهمایون په خدمت کې حاضر شي.

همایون هغه ته دا ګوابښ هم کړې و چې که چیرې شاه حسین ځنډ وکړي نو هغه به په ټهټه باندې یرغل وکړي ، دسیند حاکم د لرې څخه همایون ته خپل سلام را ولیږه او په څو ورځو کې یې د روهړي څخه راتلونکې هغه خوراکي توکي چې دهمایون د لښکر له پاره راتلل ، له منځه یوړل. پایلې یې داشوې چې دهمایون اودسیند د حکمران شاحسین تر منځ جنګ و نښت.

دهمایون سره نه توپخانه وه او نه بحری بیړۍ اوکشتۍ ، خوبیایې هم په خپل ځان د سیند دحکمران سره دټکر کولو هوډ وکړ ، دهمایون ورور مرزا هنډال او کاکا ناصر مرزا ددریاب څخه تیرشوې و او د سیند غربي برخې لاړکانې ته رسیدلي واو هلته یې د پاتر په سیمه کې قیام کړې و ، هغوې ته دهمایون له اړخه حکم وشو چې دخپلو برخو د لښکرو سره دې مختنه ولاړ شی اوپه سیهون دې حمله وکړي . خو دهمایون بدقسمتي وه چې دهغه ورور مرزا هنډال او کاکایې ناصر مرزا دواړه په خپلمنځي اختلافاتو کې را ونښتل اودهمایون ملګرتیایې پریښوده او د تښتیدو په فکر کې شول. کله چې همایون ددې حالاتو څخه خبرشو نو په خپله د روهړي څخه پاتر ته راغې تر څو د مرزا هنډال او کاکا ناصر مرزا تر منځه سوله وکړي اوبیا سیند فتحه کړي او په خپله ولکه کې یې راوړي. خو حالات دبد نه بدتر لورې ته ولاړل اود ناصر مرزا او مرزا هنډال تر منځ شکونه نور هم زیات شول.

دلته دنورې بدقسمتې خبره هم راپیدا شوه اوهغه دا چې همایون د هنډال مرزا د استاد بابا دوست په یوې څوارلس کلنې لور حمیدې باندې زړه بایلود. ددې پیښې له مخې دهمایون ټوله کورنۍ په یوه توپان کې راګیرشوه خو همایون د ډیر صبر او سکون نه کار وا خست او د حمیده بانوسره یې نکاح وکړه اوهغه یې له ځانه سره روهړي ته راوړه ،دهمایون په دې کار باندې دهغه ورور مرزا هنډال ډیر خفه شو ، په دې خاطر یې همایون پریښود اودخپلې برخې د لښکر سره یوځاې د قندهار په لور روان شو . په همدې وخت کې د همایون کاکا ناصر مرزا هم دهغه څخه وګرزید خو همایون په ډیره ستونزمنه توګه هغه له ځانه سره په دې شرط را یوځاې کړ چې دهندوستان په سلطنت به دبیا ولکې کولو وروسته دهغې دریمه برخه خپل کاکا ناصر مرزا ته ورسپاري. همایون ډیره کلکه هیله درلوده چې ډیر ژر به

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په دې کار کې بریالیتوب تر لاسه کړي ، د ناصر مرزا سره د دې ژمنې وروسته پخپله همایون د خپلې برخې د لښکرسر ه یو ځای سیهون ته ولاړ خو د بهکر د کلابندۍ قومنده یې خپل کاکا ناصر مرزا ته وسپارله.

په همدې وخت کې د سیند حکمران شاه حسین هم په حرکت راغي ،هغه خپل اړخ بدل کړ او د همایون کاکا ناصرمرزا ته یې لالچ ورکړ چې که چیرې ناصر مرزا د خپل وراره سره لاره جدا کړي. نو نه یوا زې د پادشاه په څیر به یې ومنې بلکه د هغه په نوم به خطبه هم وو ایي. تر څنګ به یې خپله لور هم د هغه په نکاح کې ورکړي. په دې توګه به شاه حسین د ټهټه د ریاست او د دې ځای د ټولو شتمنیو مالک او وارث وګرځیږي.

د دې خبرې په اوریدو سره د همایون کاکا ناصر مرزا د خوشحالۍ څخه په هوا کې خیزونه ووهل. هغه په ټولو کشتیو باندې ولکه کړه تر څو همایون د دریابه تیر نه شي. هغه نه یوا ځې دا قدم واخست بلکه د دې نه اخوا یې د همایون د نیولو هڅې هم پیل کړې. د دې نه اخوا شاه حسین هم یوه ستره بحري بیړه واخسته او په سیند کې کیوت ، او د همایون ټولې کشتۍ یې چې په سیهون کې یې لنګر اچولي وو په خپلې ولکې کې واخستې. په دې کشتیو کې د هغې ټوله خزانه بار وه او د هغه د ملګرو ښځې او کوچنیان هم په کې سپاره وو. په دې توګه هغه څه چې د شیرشاه سوري د لاسو څخه خوندي پاته شوي و هغه اوس د همایون د لاسو څخه ووتل. د دې پیښې وروسته همایون د دوه کسو زمکې لرونکو په بسپنه خپل کوچنیان او نور پاته شوې شیان واخستل او روهړۍ ته ورسید.

دې لورې ته د همایون کاکا ناصر مرزا ډیر زړه سختې او ذلیله وخوت ، هغه د خپل کیدونکې خسر او د سیند د حاکم شاه حسین د خوشحالولو له پاره ان په همایون د حملې کولو او د هغه د وژلو له پاره هم تیار ناست و. د هغه د دې رویې څخه مغل دومره په غضب شوي و چې د هغوې زیات شمیر وګړو پریکړه وکړه چې هغوې به په راتلونکې کې په هر قیمت چې وې د بابر د دغه بد قسمت زوې همایون تر څنګ د ریږي ، همایون هم د خپل شکې کاکا ناصرمرزا د ګاونډیتوب څخه لرې ولاړ او د شمال په لور یې د اچ سیمې ته کوچ وکړ.

۲۴

په همدې وخت کې په راجپوتانه کې د مارواړ راجه مالدیو همایون ته خپل قاصد ورولیږه او د هغه څخه یې وغوښتل چې همایون دې د خپلو په څنګ شویو لښکرو او کوچنیانو سره یو ځای مارواړا ته راشي. مالدیو دا ژمنه هم وکړه چې که چیرې همایون مارواړا ته را ننوځي نو د هغه سره به یو ځای هغه سیمې چې شیرشاه سوری ولکه کړي دي بیرته په خپله ولکه کې راوړي. خو همایون ترا وسه پورې په تذبذب کې را ښتې و ،په دې کرغیړنو حالاتو کې همایون هم غوښتل خپل ځان تقدیر ته حواله کړي ، کله کله به یې د مدینة الاسلام په لور د هجرت خبرې کولې ، په دې توګه هغه د ټولو انساني جذبو څخه رابیرون شوې و او ډیرې بې وسۍ شپې او ورځې یې تیرولې. خو حمیده بانو چې د هغه نوې نوې ناوې وه همایون پوهاوه ، څرنګه چې همایون د هغې سره ډیره زیاته مینه درلوده نو د همغې محبت په اساس حمیده بانو هغه په سمه لاره روان کړ او هغه ته یې د هغه د ندې ور وښودې ،هغه ته یې دا وښوول چې د یوه میړه اویوه پادشاه په توګه همایون باید خپلو هڅو ته دوام ورکړي،ستونزې وګالي بلاخره به کامیابي هم هغه ته په لاس ورشي.

د خپلې محبوبې حمیده بانو په خبرو باندې همایون یو ځل بیا ځان را جوړ کړ. هغه په دې فکر کې شو چې قندهار ته ولاړ شی او د خپلو ورونو مرزا هنډال او مرا زعسکري سره سوله وکړي،ځکه چې هغه ته د هغه د ورونو د بې وفایی سره سره بیا هم کومه شکوه نه وه اونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې دهغوي په خلاف ددښمنۍ کومه اراده په فکر کې ځرخيده ،خوهمايون ډېره ژر خپله دغه اراده بدله کړه اودهغې وروسته يې د شرق په لور مارواړ ته د راجه مالديو سيمې ته د سفر کولو پريکړه وکړه.

دروهړي ځخه د وتلو وروسته همايون دخپلو ملګرو سره يو ځاې د جيسلمير په لور وخوزيد ، په دشتو اوبيابانو کې د سفر په وخت کې دهغه سره دخوراکي توکو ذخيره پاې ته ورسيده، هغه بيچاره تر دې حده پورې ورسيد چې هم يې په خپله اوهم يې ملګرو د بير اوبيرو د ورغښتلو ځخه ډوډۍ جوړولې اوخوړلې به يې.

په راجپوتانه کې دهند و راجاګانو ځخه راجه مالديو تر ټولو ځواکمن و. خوکله چې همايون د ډېرو ستونزو ګاللو وروسته جيسلمير ته ورسيد نو د مارواړ راجه مالديو ورسره بې وفايي وکړه او ديوه لښکر په راليږلو سره يې دهمايون مخه ونيوله. خو همايون په هغه لښکر باندې حمله وکړه اوهغه يې په تيښته مجبور کړ. په دې توګه همايون دمالديو پولو ته ورسيد.

کله چې همايون د مالديو راليږل شوي لښکر ته ماتې ورکړه نو راجه مالديو انديښمن شو ،هغه خپل اړخ بدل کړ او فکر يې وکړ چې اوس خو شيرشاه سوري په هندوستان کې ډير ځواکمن قوت ګرزيدلې دې اوداسې يو وخت هم راتلونکې دې چې شيرشاه سوری به په راجپوتانه باندې ولکه کوي اوبيا به مالديو باندې هم ګذار ته ځان جوړوي اودا به هم مغلوبوي او ددې سيمه به هم په خپل سلطنت کې را شاملوي.

په دې اساس دمارواړ راجه مالديو دهمايون له ويرې دشيرشاه سوری سره د اړيکو د ټينګولو اودهغه دهمدردۍ د تر لاسه کولو په فکر کې شو ،هغه اراد ه وکړه چې همايون به ژوندې نيسي اوشيرشاه سوری ته به يې حواله کوي ترڅو ددې لارې دشيرشاه سوری باور تر لاسه کړی.او بيا په راتلونکې کې شيرشاه سوری پر هغې باندې د حملې کولو ځخه لاس په سر شي.

ددې پريکړې وروسته دمارواړ راجه يو ستر لښکر ترتيب کړ تر ځو په همايون باندې حمله وکړې او هغه ژوندې ونيسي اوشيرشاه سوری ته يې ډالۍ کړي. خو د همايون خوش قسمتي داوه چې د راجه په ملا زمينو کې يوداسې هم و چې يو وخت دهمايون په دربار کې کاتب پاته شوې و ، هغه دهمايون په دغه بدحالۍ باندې ډيره خفه و نو په دې اساس يې د يوه ليک په ذريعه همايون ته پيغام وليږه اوهغه يې دمارواړ د راجه د بدنيتۍ ځخه خبر کړ .ددې خبرې دخبريدو سره سم همايون دجيسلمير ځخه کوچ وکړ او په ډير ه بيړه يې عمرکوټ ته ځان ورساوه.

د جيسلمير ځخه تر عمر کوټه پورې همايون په صحرا او دشتو کې په پرلپسې توګه سفرونه کول ، هغه اودهغه لښکر ټول لوږې او تندې زغملې او سفر ته يې دوام ورکاوه، هغه دشا له اړخه د مارواړ د راجه د لښکرو دتعقيب ځخه هم ويريده . هغه دهمدې خطر ځخه دمخنيوی په خاطر خپلو ځو سردارانو ته يو کوچنې لښکر ورکړ او تر شايی د راتلو حکم ورته وکړ.تر ځو د شا له اړخه د راجه مالديو لښکرې پرې حمله ونه کړاې شي. اوهمايون دخپل اهل وعيال او سامانونو سره يوځاې په خير و عافيت دخپل منزل په لور ورسيږي.

اتفاقا چې دهمايون دغه سردارانو دشپې په تياره کې خپله لاره هيره کړه اوبلې لورې ته ولاړل کله چې سهار لمر راوخوت نو ويې کتل چې يو لښکر هغوې تعقيبوي او ددوې تر شا را روان دې ،کيدې شی چې دا د مالديو دلښکر کومه برخه وي چې دهمايون د لښکرو پسې يې را استولې وي ، دهمايون دلښکر سردارانو په زور زور سره دتکبير اوازونه پورته کړل اوپه هغوې يې حمله وکړه ، هغوې لمړۍ غشې وورول چې لمړۍ غشي د مالديو دلښکر و په سالار کې ونښت اوهغه په زمکه راپريوت او له منځه ولاړ.دهغې اغيز داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چې دمالدیو دغه لښکر بیرته شاته وتښتید. هغوی ته داویره پیدا شوه چې دهمایون سره ډیر ستر لښکر دی اودهغه عسکرو پر هغوی باندې غشی ورولې دي اونور عسکر یې شاوخوا دلښکر په ساتنه بوخت دي په دې خاطر یې په دې صحرا کې بیرته په تیښته پیل وکړ.

ددې وروسته دا سرداران دخپلو لښکرو سره یوځای دهمایون سره یوځای شول اوهغه ته یې دا ټوله قصه وکړه. همایون دخدای شکر ادا کړ چې دمالدیو عسکر د ماتې خوړلو وروسته په تیښته تښتیدلي دي. ددې وروسته همایون دعمرکوټ په لور خپل سفر ته دوام ورکړ. ان تر دې چې دیوه کوهي تر څنګ یې خیمې ووهلې، په دې کوهي کې اوبه ډیرې کمې وې بیا هم همایون اودهغه ملګرو دلږو لږو اوبو په څکلو ګذاره وکړه اوشپه یې هملته تیره کړه.

بله ورځ یې بیا کوچ وکړ، تر درې منزلو پورې ورته اوبه پیدا نه شوې، دتندې له مخې دخلکو حالات نور خراب شوی و. خو په څلورمه ورځ قافله بیا یوه کوهي ته ورسیده، داکوهي ډیر ژور وه خو بیا هم دهمایون ملګري په حرکت راغلل اود کوهي څخه یې اوبه راویستلې خپل لښکریې پرې موړ کړ، په دې توګه همایون د ډیرو ستونزو سره مخ و. او په همدې ستونزو کې عمرکوټ ته ورسید. دعمر کوټ راجه دهمایون ډیر ښه استقبال وکړ، همایون دلته دخپلو پاته شوو ملګرو سره دڅو ورځو له پاره میشت شو، په همدې وخت کې دهمایون د نوې ناوې حمیده بیګم د ګیډې څخه داکبر په نامه یو کوچنې راپیدا شو، داکبر په پیدا کیدو باندې همایون ډیر زیات خوشحاله شو، ددې وروسته یې دعمر کوټ څخه کوچ وکړ اودهندوستان څخه را ووت او دسیستان سیمې ته ورداخل شو، په سیستان کې په دې ورځو کې دایران دپادشاه طهماسپ له اړخه یو وګړي حکمران و، هغه په ډیره ښه توګه دهمایون استقبال وکړ، بیا همایون دسیستان څخه هرات ته ورغې اوبیا یې د ایران د شهنشاه طهماسپ په لور کوچ وکړ اوهملته یې پناه واخسته.

**۲۵**

ماښام نژدې و چې خواص خان په خپل آس سپور حویلۍ ته را ننوت. هغه خپل آس تبیلې ته یوړ، یو ساتونکې را منډه کړه او دهغه اس یې ونیوه، خواص خان هم دآس واګې هغه ته ورکړې. په همدې وخت کې اوما په منډه منډه راغله، خواص خان ورته وکتل چې دهغې په مخ باندې خوشحالۍ خوشحالۍ منډې وهي، کله چې هغه دخواص خان خواته را ورسیده نو د ګیلو او شکوو نه ډک اواز سره یې وویل چې:

خواص خانه وروره ته چیرې تللې وې، زه خو د سهاره راهیسې ستا انتظار کوم. ته په هماغه تیاره کې له دې ځایه وتلې وې نه دې ډوډۍ خوړلې وه او نه بیرته حویلۍ ته را ستون شوې، نه دې خپل درک ښوولې و. زه خو تاته ډیر زیات دخوشحالۍ خبر درکوم. لمړۍ مې غوښتل هلته عسکرې مرکز ته درشم ځکه ما فکر کاوه چې ته به هملته دشیرشاه سورې تر څنګ اوسې، بیا مې فکر وکړ چې کله کورته راشې نو دخوښې دا خبره به درته وکړم. خواص خان اوما ته په ډیر غور سره کتل اوبیا یې ورته وویل چې څه ډول خوشخبري؟ اوما ورته په خندا کې وویل چې: خواص خانه وروره، الله درته زوې درکړې دې، ګنګا د زوې مور ګرزیدلې ده. اوهغه په ډیره بې صبرۍ ستا د راتلو انتظار کوي. هغې څو ځله ستا په اړه پوښتلې دی او ډیره په اندیښنه کې ده. د اوما ددې زیرې په اساس خواص خان هم ډیر زیات خوشحاله شوې و اوپه یوه منډه یې خپل ځان دخوب ځای ته ورساوه، اوما یې هم تر شا په منډه منډه روانه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې خواص خان دخوب خونې ته ورننوت نو ویې کتل چې ګنګا په خپله بستره باندې پرته ده او تر څنګ یې یو ډیر ښکلې اوښایسته کوچنې ماشوم پروت دې ، دګنګا د کټ تر څنګ کملاوتي او نیرما هم ناستې دي ، څنګه چې خواص خان دې خونې ته راننوت اودګنګا سترګې پرې و لګیدې نو دګنګا په مخ باندې خوشحالیو نڅا پیل کړه خپلې ښایسته شونډې یې په خندا پرانستې ،خواص خان په ډیره بیړه سره ور مخته شو ، ګنکا ته په ورنژدې کیدو سره یې لمړۍ ګنکا په تندی ښکل کړه اوبیا یې خپله خوله دهغې غوږ ته ور نژدې کړه اوپه ډیره راز دانه توګه یې ورته وویل چې : « ګنګا ، زه تاته ستا د زوې دپیدا کیدو په خاطر مبارکي وایم » ، کې خونه ،ولې ولاړ یې ، دګنګا دخبرې په اساس خواص خان دهغې تر څنګ کیناست اوبیا یې په کرار کرار دخپل نوی زوې تندې او مخ ښکلاوه.

ته چیرې تللې وې مونږ پوره انتظار وکړ ،کوچنې خو ستا د تللو څخه لږ څه وروسته راپیدا شوې و ، ماخو فکر کاوه چې ته به دلښکر ګاه څخه ژر بیرته راستنیږې ، خو تا ماښام کړ ، خپل درک خرک دې هم نه ورا ښوولې ، خواص خان ورته په ځواب کې په خندا شو.

ګوره کملاوتی ! ته سهي خبره کوې ، زه خوشیرشاه سوری هلته خپل ځان ته ورغوښتې وم، هلته ټول سالاران راټول شوې و او په راجپوتانه باندې دیرغل له پاره تیارې نیول کیده ،ځکه چې په راجپوتانه کې د مارواړ راجه مالدیو غواړې پر مونږ حمله وکړی هغه همدا اوس خپل زیات لښکر راټولوي ، نوپه دې خاطر شیرشاه سوری غواړې چې دهغه دحملې نه مخکې مونږپرې یرغل وکړو ،اوس خو دا پریکړه وشوه چې په یوه اونۍ کې به لښکر د دې ځایه دراجپوتانه په لور کوچ کوی. شیرشاه سوری خو لا دمخه هغه لورې ته کوچ کول غوښتل خو ما دګنګا په خاطر لږ څه مهلت ترې وغوښت. او ورته مې وویل چې اوس خو زما د کوچنې دپیدا کیدو هیله ده ، نو په دې خاطر زه غواړم چې دخپل کوچنی دپیدا کید و وروسته له دې ځایه کوچ وکړم. زه د الله تعالې ډیر زیات شکر اداکوم چې له دې ځایه زما دکوچ نه څو ورځې مخته یې ماته ښکلې زوې را په برخه کړ. تر دې ځایه دخبرو وروسته خواص خان خاموشه شو ،بیا یې دګنګا په لور وکتل اور څخه یې وپوښتل چې :

ګنګا !ته به تر څه وخته پورې زما سره د سفر کولو له پاره تیاره شې.ګنګا لږ څه فکر وکړ اوبیا یې په ډیره مینه ورته وویل چې :

ماخو اوس همدلته پریږده . له تا سره به کملاوتي ځانته وي ،زه به دا کوچنې په کومو کومو ځایو کې په خیمو کې له ځانه سره ګرځوم. کله چې کوچنې دڅو میاشتو شي نوبیا به له تا سره ګرزیدو ته جوړه شم . دګنګا دخبرو په اوریدو سره خواص خان هغې ته په عجیبه توګه وکتل ، دګنګا په مخ هم ډیر عجیبه ډول اغیز موجود و ،ددې وروسته خواص خان کملاوتي ته وکتل او ورڅخه یې وپوښتل چې :

ګوره کملاوتي ! ته په دې اړه څه فکر کوې ،کملا په یوه درنګ سره ور ته وویل چې : ګنګا سهي خبره کوي ، دکوچنې د پیدا کیدو نه سمدستی وروسته هغه په لښکر کې له ځانه سره اخستل اوپه خیمې کې سخت ژوند کول مناسب نه دي ، هغوې ته دارام او سکون اړتیا ده ،اودا ارام ورته همدلته په اګره کې په خپل کور کې تر لاسه کیدې شي ، ترڅو چې ماشوم د څو میاشتو نه شی نو هغه ته په خیمه کې اوسیدل نه دې په کار . زه دګنګا ددې خیالاتو سره پوره پوره موافقه یم. اوتا اوګنګا دواړو ته دا ډاډ ورکوم چې ستا په خدمت کې به یوه ګړی هم غفلت نه کوم .

د کملا ددې ځواب په اوریدو سره ګنګا خوشحاله شوه ،خواص خان هم دخندا نه ډوب و ،بیا یې وویل چې ګوره کملاوتي ! زه خو دپخوا څخه په دې پوهیږم چې ته به زما په خدمت کې هیڅ ډول غفلت نه کوې ،اوس چې دا پریکړه وشوه چې ګنګا به د کوچنې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوځاې همدلته اوسيږي نوته تر يوې اونۍ پورې زما سره دتللو له پاره ځان تيار کړه . اوس ولاړه شه او ډوډۍ راوړه . مونږ ټول به دلته يوځاې ډوډۍ خورو .ددې خبرې سره سم کملاوتي ، اوما اونيرمل درې واړه پورته شوې ، دخوراک سامان يې همدلته راوست اوټولو يوځاې همدلته ډوډۍ و خوړه ، يوه اونۍ وروسته شيرشاه سورى اوخواص خان دخپلو لښکروسره يوځاې داګرې څخه د راجپوتانه په لور روان شول.

۲۲

راجپوتانه او ريګستاني صحرا ،دکوم په لورې چې شيرشاه سورى اوخواص خان کوچ کړې و ،د خپل شکل او هيبت له اړخه يې ځانګړې ځاې درلود. دا صحرا د اراولي د لړۍ د غربي لمنو او د ګجرات اوسيند په منځ کې خپره ده. دپخوا زماني څخه په دې صحرا باندې به د شمالي هند څخه وخت وخت په سيورې را غوځيدل ، يا خو به ددې ځايه کوچي قبايل دهندوستان داخل او يا ددې ځايه خارج ته تلل اوپه دې توګه به يې د هندوستان سياست درهم وبرهم کاوه . او يا به يې ددې ځاې دغه ريګستان په اسانۍ سره تر پښو لاندې کاوه او بيګانه ځواکونو به به هندوستان باندې يرغلونه راوستل.

ددې ريګستان څخه تيريدل دومره اسانه وو لکه څنګه چې څوک د يوې وچې درې څخه تيريږي ، دهندوستان سلطنت به تل دا اړتيا درلوده چې اقتصادي ستونزې و مني او ډير زيات عسکر ددې سيمې د خوندي ساتلو په غرض هلته ور واستوي اوپه دې سيمې باندې خپله واکمني ټينګه کړي.

يو شمير وحشي قبايل به هم دهمدې ريګستاني سيمې څخه دهندوستان ډيرو زرخيزه سيمو ته را ننوتل او په مختلفو وختونو کې به حمله راوړنکي هم دهمدې لارې په هندوستان باندې را نازيليدل.

د راجپوتانه په ريګستان کې نه يواځې د شګو زرې خپرې وې بلکه هلته به غارت کونکې کوچی ډوله کورنيئ هم د بلوچستان د ريګستان څخه ، اويا د سليمان دغرونو د واديو څخه راتللې. همدا علت دې چې دهمدې ريګستان په لمنو کې دهندی اقوامو نسلي تنوع په متواتره توګه تغير موندونکې وه . دلته به په ځانګړې توګه د مختلفو قومونو يو ځايي ميلې جوړيدې تر څو دهغوې تر منځ اقتصادي او ټولنيزه هماهنګې را پيدا شي.

په منځنيو پيړيو کې دا سيمه لړه په زړه پورې خو د ډيرو ستونزو ډکه وه . ددې ريګستان د دايرې هره زره او هر انسان يو دبل سره په جنګونو کې اخته و. که څه هم ددې ځاې اوسيدونکې دمهذبو نسلونو څخه وو خو خپلو بدو قسمتونو هغوې کوچيان کړې و او يو دبله سره يې د نه مشابهت لورې ته راښکل.

په راجپوتانه کې نه خو پور ه باران کيږې او نه يې پيداوار دومره په زړه پورې دي . ددې برعکس پرې ډير وخت وچ کالي او نور توپانونه راځی ، خو ددې ټولو سره د اراولی د غرنيو لړيو په نسبت دا ريګستان د راجپوتانو د ازادۍ مسکن و. په پخوانيو پيړيو کې ددې ريګستان په داخل کې مارواړ، بيکانز ،جيسلمير ، بهاولپور او تهرپارکر شامل و. دا سيمې د لارلوټونکو له پاره د جنت په څير وې ، هغوې به کاروانونه لوټل اوخپل ژوند به يې پرې تيراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا هم دهندوستا ن په تاریخ کې د ې ریګستان ته ډیر زیات اهمیت ور په برخه شوې د ې. دا ددې هیواد د ډیرو ښو جانبازانو زانګو وه. ددې ځایه را پورته شوې تهذیب په راجپوتانو کې تر هغه وخته پورې رایج و تر څو پورې چې راجپوتان همغه راجپوتان وو.

دلسمې پیړۍ په شاو خوا کې منتخب کوچیانو او جنګیدونکې قبایلو راجپوتانه ته د رانوتلو هڅې وکړې په هغوې کې پرتي هار هم و ، چوهان ، پرمار او د جنګجو بهایي قبایل و. ددې نه علاوه د راجپوت او سیند په وادیو کې او سیدونکې کوکهر قبایل هم د راجپوتانه په لور راغلی وو.

ددې ټولو قبایلو څخه علاوه یوه ډیره ځواکمنه قبیله هم دراجپوتانه په لور راغلې وه ، چې راټهور نومیده. دغه قبیله د ګنګا ددریاب څخه غرب لورې ته د قنوج په سیمه کې اوسیدل ،بیا د ې خلکو دیوه ډیر خوندې ځا ې په تکل کې او سني مارواړ سیمې ته راغلل او په غالب ګمان سره چې دا دراجپوتانه د تاریخ اخري انقلاب و.

د راټهورانو دا لیږد د دیارلسمې پیړۍ په دریمه لسیزه کې یعنې د التمش د حکومت په وخت کې صورت نیولې و. دګنګا په میدانو کې اباد د راجپوتانو دا قوم خپله ازادی له لاسه ورکړې وه. ځکه راټهورانو د التمش سره ټکر کړې و خو التمش ورته په هر وخت کې ډیره بده ماتې ورکوله ، التمش ټول سیند او د راجپوتانو خاص خاص ریاستونه یو په بل پسې نیولې و اودخپل سلطنت برخې ګرزولې و. بیا دغو ماتې خوړلو راجپوتانو دخپلو کورونو څخه هجرت ته ملا وتړله او دخوندي ځایو په لور یې لیږد وکړ نو په دې خاطر دوې د ګنګا ددریاب څخه راپورته شول او په راجپوتانه کې اباد شول.

په هندوستان کې دلودهي سلطنت د پیلامې سره سم راټهورانو هم په راجپوتانه کې دخپلو ځانو له پاره دیوه مستحکم سلطنت بنسټ کیښود. د راټهورانو یو ځواکمن سردار جودها په راجپوتانه کې یوښار د جودهپور په نامه اباد کړ او بیا همدا ځای دراټهورانو له پاره دهغوې دلمړي سلطنت مقام وګرزید.

سردار جودها چې د راټهورانو یو ډیر غښتلې سردار و د جود پور د سلطنت بنسټ کیښود چې لمړۍ راجه یې پخپله همدا راوجود و.دراو جودها یو ورور چې راوبیکا نومیده هم دخپل ځان له پاره په راجپوتانه کې یو جدا سلطنت جوړول غوښتل ،په دې خاطر هغه دخپلې برخې دلښکر سره یو ځای ووت او په پراخو سیمو باندې یې ولکه وکړه او یو نوې ښار یې جوړ کړ چې دهغې نوم یې دخپل نوم سره وتاړه اود بیکانیر په نامه یې و نوماوه. په دې ترتیب سره په راجپوتانه کې راټهورانو دوه سلطنتونه جوړ کړل یو په جود پور کې او بل په بیکانیز کې.

د راوجودها د مړینې وروسته یو وکړې د راوګاګا په نامه د جودپور د سلطنت راجه و ګرزید ، دشیرشاه سوري په وخت کې د مارواړ ریاست چې کوم راجه و هغه مالدیو نومیده دا مالدیو دهمد غې راوګاګا زوې و. دراوګاګا زوې او دهغه ولیعهد مالدیو د چوهان د نسل څخه و چې د سروهي راجکماري پدما کماري له ګیډې څخه راپیدا شوې و. دهغه په مزاج کې همغه ډول تیزی اوپریکون و لکه څنګه چې دسروهي تورې پرې مشهورې دې. دایران او عربو په بازارونو کې هغې ته هندی تورې وایی. خو په لسمه پیړۍ کې د سوریې تورو دهندې دغو تورو شهرت له منځه یوړ.

ویل کیږې چې د کوچنې والي په وخت کې د مارواړ راجه مالدیو دخپل پلار راجه جودها سره په جنګونو او سیاست کې ملګرې شوې و. خو دهغه پلار به دهغه د حوصلې او ضد ی توب په اړه ډیر اندیښمن و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې د کنوا یا په جنګ کې رانا سنګا د بابر په لاسو د سختې ماتې سره مخ شو نو د راو جودها زوې مالدیو د رانا سنګا د خالي ځای د ډکولو له پاره نا قراره و ، هغه پوهیده چې د هغه کمزورې پلار د رانا سنګا د ځای د ډکولو توان او وړتیا نه لری په دې خاطر یی غوښتل دا کار په خپله ترسره کړي .

ویل کیږي چې یو وخت راو ګاګا په خپل محل کې په یوې کړکې کې ناست و او د شاوخوا د سیمو د کتلو څخه یی خوند اخیست نو یو ناڅاپه مالدیو خپل پلار د کړکی څخه لاندې را وغورځاوه . د دې کار سره راو ګاګا هملته و مړ . په دې توګه د خپل پلار د وژلو وروسته راجه مالدیو په **۱۵۱۳** کال د سلطنت واګې په لاس کې واخستې او په تخت کیناست .

د مالدیو د په تخت کیناستو څخه شپږ میاشتې مخته بابر هم مړ شوې وا و همایون د هندوستان شهنشاه ګرزیدلې و . په دې وخت کې مالدیو ته د خپل پلار له اړخه یو اځې دوه سیمې جودپور او سوجات په میراث پاته شوې وې ، د دې تر څنګ د راتهور د قبیلې ځواکمن سردار د دې د پلار باج ورکونکې او جاګیردار و . خودوې په خپلو خپلو جاګیرونو کې خپل واکې وو . مالدیو لمړی د همدې جاګیردارانو پر خلاف حرکت وکړ او د هغوې په سیمو یی ولکه وکړه او د خپل سلطنت پولې یی وغځولې . د دې جاګیردارانو په زمکو د ولکې کولو وروسته مالدیو د خپل سلطنت مرکز نور هم مستحکم کړ . خو د مالدیو په کړچار کې ډیرې کمزورتیاوې هم وې خو هغه د سیاسي مصلحتونو ، ذهانت او حکمت له مخې د خپلو همعصرو راجپوتانو څخه کم نه و . دا د مالدیو خوش قسمتې وه چې هغه وخت یی چې د خپل سلطنت د پولو په غځولو پیل وکړ نو هغه وخت همایون د ګجرات د حاکم بهادرشاه سره په مختلفو مسایلو کې را ښښتې و ، په دې خاطر هغه ته دا فرصت په لاس نه ورته چې د راجپوتانه د راجه مالدیو په لور فکر وکړي ، دا د مالدیو له پاره ډیره طلایې موقع وه . په دې اساس مالدیو هلته په راجپوتانه کې د رانا سانګا د کړچار د کولو له پاره ځان تیار کړ .

د واکمنو جاګیردارانو په زمکو د ولکې کولو وروسته هغه یو ستر پلان تیار کړ چې د هغې له مخې یی غوښتل چې په خپلو ګاونډی څلورو ریاستونو باندې ولکه وکړي ، په دې ډله کې جیسلمیر ، میواړ ، بیکانیز ، او کچهوا شامل وو .

خپل سلطنت ته د پراخوالي دورکولو په خاطر مالدیو تر هر څه لمړی د جیسلمیر په لور مخه کړه ، په دغه ریاست باندې په هغو وختو کې د بهایی قوم حکمران و او حاکم یی د بهایی قوم راجه لون کرن و . چې د مالدیو همعصره و .

د بهایی قوم دا حکومت په لمړیو کې په ریګستان کې د بهاولپور څخه تر عمرکوټه پورې او د پهلورې څخه تر بهکر پورې خپور و . او دوې په دې خبره باندې ویاړل چې هغوې د راجپوتانه د شرقي دروازو ځارونکې دي خو د وسایلو د کمښت او د خپلمنځې حسد او کینې په اساس د هغوې په شمالې او شرقي پولو باندې جودپور او بیکانیز غلبه پیدا کړې وه او د هغوې نظام یی تر خپل اغیز لاندې راوستې و .

په جیسلمیر باندې د ولکې کولو له پاره راجه مالدیو په ډیره ګړندی توګه د خپل لښکر سره راووت او د دې ریاست په ځینو سیمو یی ولکه وکړه . کله چې راجه لون کرن وکتل چې د راجه مالدیو مقابله نه شي کولې نه د خپل ځان او د خپل رعیت د خوندی ساتلو په خاطر یی شهزادګی امادې د مالدیو سره واده کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو مالديو داسې يو بد کړچاره اوعياش شخص و چې همغه د واده په شپه دشرابو په نشې کې مست ، دخپلې واده په بستره ديوې خادمې سره مباشرت وکړاو هغه يې ناپاکه کړه . پايلې يې داشوې چې دهغې نوې ناوې امادی په دې خبره دهغه سره اړيکې پرې کړل چې« هغه د همغې خادمې وړدې دکومې سره چې هغه په دې شپه په بستر کې ملاست و».

که څه هم د واده وروسته شهزدا ګې امادي دمالديو سره ولاړه خو د تل له پاره به دهغه څخه لرې اوسيده. حال دا چې هغې خپل ټول ژوند دخپل ميړه سره تير کړ ، په هرصورت مالديو په جيسلمير باندې ولکه وکړه اودغه سيمه يې په خپل سلطنت کې شامله کړه .

ددې وروسته مالديو دميواړ په لور مخه کړه ، په دې رياست يې حمله وکړه، تر هر څه لمړی يې ددې رياست دبهدارجن په سيمه ولکه وکړه اودهغې وروسته يې خپل دوه کسه تکړه سالارانو کوپا اوکهيم کرن ته سترې سترې لښکرې ورکړې اوهغوې يې د ميواړ په سلطنت کې خپاره کړل ،ترڅو هغوې په هر ځاې کې حملې وکړی او دميواړ سلطنت کمزورې کړي ترڅو ددې رياست په ولکه کولو کې ورته اسانتياوې را پيداشي . ددې تر څنګ هغه د ميواړ يو سردار راوجيت سينګ هم را مات کړ اودخپل ځان سره يې يو ځاې کړ ، دميواړ دهغې سيمې له پاره يې چې تر اوسه پورې هغه په خپله ولکه کې راوستې وه همغه راې جيت سنګ حاکم و ټاکه . هغه د راې جيت سنګ د لور « سروپ ديوي» سره واده هم وکړ.

خو لکه څرنګه چې مخکې مو وويل مالديو ډير بدکرداره او عياش انسان و . هغه په ۱۵۴۰ کې خپل خسرګنی ته ورغې اوهلته په خپلې کوچنۍ خينې ( دښځې په خور ) باندې مين شو ، اوخپل خسر راوجيت سنګ ته يې ګواښ وکړ چې يا لور ورته په خپله خوښه ورکړی اويا دا چې دکوره به يې په زور وکاږي.

راوې جيت سنګ د واده له پاره يو مياشت وخوت وغوښت ، په همدې وخت کې هغه خپله کورنۍ او ټول سازو سامان کمبهلير ته د راجه اودهی سنګ ځاې ته ورسول اودهغه سره يې دخپلې دغې لور واده وکړ.

هغه وخت چې راو جيت سنګ په دې توګه دمالديو د منګولو څخه ووت نو په دې وخت کې عياش مالديو د سرو سکروټو په څير و ګرزيد ،هغه د ځلورو خواو څخه په ميواړ باندې حمله وکړه او رياست يې تر پښو لاندې کړ ان تردې چې هغه د کمبهلير په راجه باندې هم يرغل وروست اود هغه څخه يې دهغه مظبوطه کلا رنتمبهور و نيوله. په دې توګه مالديو په ميواړ باندې خپله ولکه تکميله کړه

دميواړ نه وروسته مالديو د کچهوارد قبايلې رياست په لور مخه کړه، کچهوا ددوو قبيلو څخه جوړه شوې وه چې ديوه نوم يې ناروکا او دبل نوم يې خانګروټ و . ددې دواړو قبيلو شميره د راټهورانو څخه ډيره وه .د کچهورا خلک ددې نه مخته په اګرې اوددهلی په لويه برخه لکه سانبر اوشيخاوتي باندې مسلط وو. خو د کهچوا په راجپوتانو کې دوفاداری دومره حذبه نه وه موجود لکه څومره چې دراټهورانو تر منځ وه . ځکه چې د ګډو موخو د تر لاسه کولو له پاره هغوې په اسانۍ سره نه يوځاې کيدل .ددې نه علاوه د کچواها د سلطنت پولې د مسلمانانو د سلطنت سره دومره نژدې وې چې ددوې په سر باندې يې د تل له پاره ديوې زوړندې توري حيثيت درلود. دهمدې څخه دوې دا سبق تر لاسه کړې و چې دبهادری دمقابلې له پاره د عقل او پوهې څخه بايد کار واخستل شي .

په هغو ورځو کې چې شيرشاه سوری همايون ته ماته ورکړه اوبيا يې په پنجاب کې دحالاتو د منظمولو له پاره لاس وپښې وهلې نو راجه مالديو دشيرشاه سوری ددې مصروفيت او دهمايون ددې ماتې څخه ګټه پورته کړه او په کچواها باندې يې يرغل راوست اودا سيمه يې دخپل سلطنت برخه وګرځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکچواها د ریاست د الحاق وروسته مالدیو د سروهي په لور توجه وکړه. د مالدیو پلار راوګاګا د سروهي د راجه دلور سره واده کړې و اوبیا د همغې ښځې د ګېډې څخه مالدیو راپیدا شو ، په داسې حال کې چې د مالدیو پلار راو ګاګا خپله لور چمپابای د خپل خسر لمسي راو اودهي سنګ ته واده کړې وه.

د چمپابای د ګیډې څخه راو اوردهي سینګ راپیدا شو ، هغه د بیکانیز د کورنۍ د یوې نجلۍ سره واده وکړ خو دڅو ورځو دحکومت کولو نه وروسته هغه ومړ ، د هغه د مړینې په وخت کې د هغه رانۍ حامله وه.

د اودهي سینګ د ومړینې وروسته سروهي سردارانو د راوجګ مل لمسې مانسینګ ددې سیمه راجه و ټاکه ، د اودهی سینګ مور چې یوه عقلمنده او عمرخوړلې ښځه وه په سروهی کې د مانسینګ راجه توب و نه مانه. او اعلان یې وکړ چې ددې ځای ، ځای ناستې او اصلي وارث د هغه د رانۍ د ګیډې څخه را پیدا کیدونکي زوې دې.

د هغې ددې اعلان د څخه د سروهي نوې راجه مان سینګ ډیر په غضب شو او هغه په ډانګ پیپیلي توګه د اودهي سینګ ښځه د خپل اته میاشتني زوې سره یو ځای وو ژله. مان سنګ خو دوې وو ژل خو اوس دا اندیښنه را پیدا شوې وه چې ددې وژلو بدله به مالدیو اخلي. په دې خطر هغه هڅه کوله چې په یوه ډول د مالدیو سره سوله وکړي او د همغې تر سیورې لاندې خپله حکمروایی مخته یو سي. د ډیرو زیاتو منډو ترړو وروسته د مانسینګ هڅې بریالۍ شوې او مان سینګ خپله لور اونکاکنور د راجه مالدیو زوې چندرسین ته واده کړه . په دې توګه سروهي هم په یوه ډول د مالدیو تر اغیز لاندې راغې.

د سروهي نه وروسته مالدیو د بیکانیز په لور وخوزید او هڅه یې وکړه چې دا سیمه هم په خپل سلطنت کې را ګډه کړي، د راو مالدیو په نیکونو کې د راجه جوده ورور راو بیکا د بیکانیز د سلطنت بنسټ اینښودې و . په هغه وخت کې د بیکانیز کورنۍ د جودپور د ریاست له پاره ځواکمن متې ثابتیده . دوې به په هر جنګ کې د جودپور بسپنه کوله. خو ددې ټولو ښګڼو سره سره بیا هم مالدیو په بیکانیز باندې یرغل وروست. او دا سیمه یې هم په خپل سلطنت کې را شامله کړه . په دې توګه د شیرشاه سوری او همایون د خپل منځې نښتو څخه مالدیو پوره پوره ګټه پورته کړه او نه یواځې د خپل سلطنت پولې یې و غځولې بلکه په خپل عسکري ځواکې یې هم ډیرښت راوست. اوس نو هغه علي اعلان د شیرشاه سوری په مخ کې د دریدو او د هغه سره د ټکر له پاره تیار و.

په هغو ورځو کې چې شیرشاه سوری او خواص خان د مالدیو د راجه په خلاف د خپل لښکر سره یو ځای راوتلي وو ، نو په هغو ورځو کې د پنجاب حالت هم په بل مخ اوختې و ، شیرشاه سوری هیبت خان نیازی هلته په پنجاب کې والي ټاکلې و ، څه موده خو هلته امن او سکون و خو بیا شورشونه او بغاوتونه را پیدا شول ، ددې بغاوتونو سرپوړې فتح خان جټ و.

دغې فتح خان جټ د لکهي ځنګلونه او دهغې شاوخوا ټوله سیمه دتباهۍ سره مخ کړه ، هغه دلاهور څخه تر دهلي پورې په ټوله سیمه کې دومره تباهي خپره کړه چې د هغه د ظلم شکایتونه په پرلپسې توګه شیرشاه سوری ته ورسیدل.

شیرشاه سوری سمدستې هیبت خان نیازی ته حکم وکړ چې فتح خان جټ و ځپوي ، په دې وخت کې فتح خان جټ په خپل مرکز کوټ کابله کې اوسیده. دا سیمه د سرحد په شمال کې نژدې اته میله لرې واټن کې د ساهیوال د ضلعې دیبالپور په پخوانیو سرکاري لکهي ځنګلونو کې پروته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ځنګل دشمال له اړخه د قصور څخه څو میله لرې و، او په جنوب کې د بیکانیز د سیمې سره یو ځای کیده. په دې خاطر د لاهور اودهلي تر منځه ټولې تلونکې لارې غالبا چې دهمدې لکهي ځنګل څخه تیریدې چې د فتح خان جټ په لاسو کې وې.

فتح خان جټ ته د سید و بلوچو ملاتړ ور په برخه و. دغه بلوچان د جهنګ د ضلعې چینوټ بهیرې څخه ان تر شورکوټه او د راوي د دریاب تر غاړو پورې خپاره وو. هغه وخت چې دملتان ډوډانی بلوچو پر هغوې یرغل ور وړ نو دا سیده بلوچان لکهي جنګل ته ولاړل اود فتح خان سره یو ځای شول او په قتل او لوټمار کې دهغه سره ورګډ شول. وروسته بیا د رند بلوچو سردار چکران هم دهغوې سره یو ځای شو، په دې توګه دغه درې واړه ځواکونه یو ځای شول او په پنجاب کې یې شورش او تباهي خپره کړه.

د رند بلوچو مرکز په سات ګړه کې و، دا د اوو کلاګانو یو مرکز و. اود لاهوره څخه **۷۵** میله واټن کې د جنوب غرب لورې ته پروت و. دا سیمه د اوسنې چکران ددویمې پولې تر څنګ تر جنوب شرق پورې ان تر دیبالپور پورې خپره شوې ده. فتح خان ډوډاني چې د ملتان ناظم او د شیرشاه سوری باج ګذاره و او په خپله هم د بخشولنګاه په سیمه کې په لوټولو باندې مصروف و، سره هم لاس یو کړ اوبه دې توګه یی په پنجاب کې د لوټمارۍ او شورش بازار نور هم ګرم کړ.

ددې بغاوتونو د ځپلو له پاره هیبت خان نیا زي د لاهور څخه فوځ واخست او په ډیره بیړه د باغیانو د سیمو په لور ورغې، هغه دومره په بیړه د باغیانو سیمو ته ورورسید چې د دبلوچو سردار چکران یی هم په راتلو حیران پاته شوې و، هغه وخت چې چکران ته دهیبت خان نیازی د را رسیدو خبرور ورسید نو هغه دځپلو نورو بلوچو ملګرو سره یو ځای و تښتید. د سیند ددریاب څخه تیر شو او د سبي په لور و تیښتید. هیبت خان نیا زي دخپل لښکرسره مخته ولاړ او په پاکټین کې یی پړاو وکړ، اوس نو دهیبت خان تر مخه له یوه اړخه د ملتان والي فتح خان ډوډاني بلوچ و، اود بله اړخه فتح خان جټ و چې په غارت او لوټمارۍ کې مصروف و. هیبت خان به پاکټین کې ځکه پړاو وکړ چې د فتح خان ډوډاني بلوچ او فتح خان جټ تر منځ دخپل منځې یووالي څخه مخنیوی وکړي.

کله چې فتح خان جټ خبر شو چې هیبت خان نیا زی دخپل لښکر سره یو ځای په پاکټین کې پړاو کړې دې نو وتښتید اوپه یوه کلا کې یی ځان کلابند کړ. هیبت خان نیا زي ورمخته شو او کلا یی محاصره کړه، په دې وخت کې سیده بلوچان هم د فتح خان جټ سره یو ځای و و، هغوې هڅه وکړه چې دهیبت خان نیا زی دلاسو څخه یوې لورې ته وتښتي، خو دهیبت خان نیا زي په ولکه کې ولویدل.

هیبت خان نیا زی فتح خان جټ هملته له منځه یوړ اوپه همدې توګه د رند بلوچو سردار چکران، سیدو خان بلوچ او فتح خان په یوې حملې کې هیبت خان نیازي له منځه یوړل اوپه بنجاب کې یی امن و امان راوست، ددې وروسته هیبت خان نیازي دا احساس کړه چې فتح خان جټ، سیدو خان لوچ او درندبلوچو سردار چکران د ملتان دحاکم فتح خان ډوډاني په ملاتړ دې کار ته ملا تړلې وه نوپه دې خاطر یی په ملتان حمله راوړه. فتح خان ډوډانی ته یی سخته ماتې ورکړه او ملتان یی په خپله ولکه کې راوست.

هیبت خان نیازي دډیرې میړانې او بهادرۍ څرګندونه وکړه اوپه ډیره بیړه یی په ټول پنجاب کې سوله او امن حاکم کړ، بیا د پنجاب څخه ووت او په سیند یی حمله وکړه او شمالي سیند یی و نیوه اوهغه یی هم د پنجاب تر حاکمیت لاندې راوست.

۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راجپوتانه راجه مالديو ته خبر ورسيد چې شيرشاه سوری دخپل سالار خواص خان سره يو ځاې ديوه غښتلي لښکرسره دهغه په لور د حملي کولو له پاره را روان دي. نو هغه په دې خبره ډير زيات انديښمن شو خو هغه يوه ډول داډ هم درلود چې د هغه دخيال په مطابق به د راجستان په صحرا کې شيرشاه سوری دومره په ګړندۍ توګه دی لورې ته را ونه رسيږي، هغه به دخپل لښکرسره يو ځاې هلته ځاې په ځاې تم کيږی ترڅو ځانته خوراک او نورضروري سامانونه ترلاسه کړي، په دې وخت کې به مالديو په هغوې باندې شپينۍ حملې پيل کړي او په دې توګه به هغوې بيرته تيښتې ته اړ کړي.

بيا هم د حفظ ماتقدم په خاطر را جه مالديو يو ډير مهم قدم پورته کړ. هغه تر ټولو لمړۍ ملوخان ته يو ګړندې قاصد و استاوه چې د ملوه حکمران و او په دې وختو کې يې په ګجرات کې پناه اخستې وه. هغه ملوخان ته دا پيغام وليږه چې شيرشاه سوری غواړي په هغې باندې حمله وکړي نو که چيرې هغه خپل لښکر بيرته منظم کړي اود ګجراته را ووځي اوپه مالوه باندې حمله وکړي نو په دې توګه به دوه کاره تر سره کړل شی لمړۍ دا چې مالديو به د شيرشاه سوری دحملې څخه خوندي پاته شي اوبل دا چې په مالوه به ملوخان بيرته ولکه وکړي.

مالديو همدا ډول يو پيغام د راجپوتانه حاکم ناصرخان ته هم ورولېږه. دا سړې دشيرشاه سوري سره سخت مخالف و اودهغه د ډير ښه لښکر خاوند هم و. هغه هلته دمالوه س ره نژدې په سيوني کې دخپل لښکر سره يو ځاې اوسيده. او دشيرشاه سوری پر خلاف يې په يوه مناسب وخت کې دحملې کولو نيت درلود. را جه مالديو ناصر خان هم د شيرشاه سوري پر خلاف د راپورته کولو هڅې وکړې

مالديو خپل دريم ګړندې قاصد د اريل دراجه بيربهان په لور ور وليږه. د اريل راجه بيربهان همغه کس و چې په چوسه کې شيرشاه سوری همايون ته ماتې ورکړه اوبيا دهغه وروسته بيربهان همايون ته په خپل ځاې کې څو اونۍ ميلمستيا ورکړې وه. اوبيا يې همايون په ډير درنښت سره دهغه ځايه رخصت کړې و. کله چې مالديو دغو دريو لوريو ته خپل استازي ور واستول نو ددې استاذو له اړخه ډيرې ښې پايلې تر لاسه شوې.

ناصرخان هملته په سيوني کې د شيرشاه سوري پرخلاف بغاوت وکړ او د مالوې په لور وخوزيد. دبله اړخه ملوخان هم د ګجرات څخه وخوزيد او دخپل ځان سره يې يو ستر لښکر هم واخست. هغه هم د مالوه په لور وړاندې ولاړ او د دريمې لورې د اريل راجه بيربهان هم متحرک شو اودمالوه د راجه به وينا يې په خبل شاو خوا کې دشيرشاه سوری په سيمو کې لوټمار او بغاوتونه پيل کړل.

کوم وخت چې شيرشاه سوري د راجپوتانه دپولو سره نژدې د خپل لښکرسره يوځاې پړاو وکړ او لښکرو خپلې خيمې و درولې نو شيرشاه سوری يوه شپه او ورځ خپل لښکر ته د ارام کولو وخت ورکړ. په همدې وخت کې خواص خان په ډيره خوشحالۍ سره خپلې خيمې ته را ننوت.

کملاوتي چې کله خواص خان دومره خوشحاله وکوت نو په منډه مخته ورغله او ځان يې ډير زيات خوشحاله او خندانه کړ. اودخپل غږ به پوره خوږلني سره يې ترې وپوښتل چې: څه خبره ده ؟ته خو نن د نورو وختو پرعکس ډير زيات خوشحاله ښکارې. دهغې په دې خبره خواص خان وخندل او ويې ويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره کملاوتي ! ما ددې نه مخته هم ستا او نه د ګنګا تر مخه په خپل طبعت کې سختې را پیدا کړې ده ، زه خو ټول وخت همدا سې خوشحاله خوشحاله او سم. خو نن را ته ډیره خوشحالي تر لاسه شوې ده چې زه یې د ټول ژوند په خوږو ویاړلې یم. کملاوتي په ډیر غور سره د خواص خان په لور کتل او بیا یې ترې و پوښتل چې:

تا ته څه ډول خوشحالي تر لاسه شوې ده ایا زه هم په دې خوشحالۍ کې شریکیدې شم ؟ خواص خان تر یوه وخته پورې خندونې و او بیا یې کملاوتی ته وکتل او ورته یې وویل چې:

ګوره کملاوتي ! ته پوهیږې چې لږ وخته مخته قاصد راغلې و او ماته یې خبر راکړ چې ګنګا او کوچنې دواړه روغ او سلامت دي ، اوس ته ووایه چې ماته په ژوند کې ددې نه بله ستره خوشحالي تر لاسه کیدې شي ، د خواص خان په دې خبره باندې د کملاوتي په ومخ باندې هم ظاهري خوښې را څرګنده شوه ، بیا یې وویل چې ستا وینا سهي ده ، زه په فکر به ددې څخه ستره خوشحالی چیرې وي چې ګنګا او د هغې زوې روغ او سلامت وي. زه تا ته ددې ښه خبر په اړه مبارکي وایم. د هغې په دې خبره خواص خان ور غبرګ کړ چې: ګوره کملاوتي ! د ګنګا زوې خو همستا زوې دې. زه هم تا ته د هغه د روغتیا له امله مبارکي وایم. کملا یو واري خپل سر ته ټکان ورکړ او بیا یې په ډیره اسرار امیزه توګه د خواص خان په لور وکتل ، او ورته یې وویل چې ستا خبره سهی ده. ګنګا زما خور او د هغه زوې همزما زوې دې. او بیا خو زه او ګنګا دواړه ستا ښځې یو په دې خاطر د هر چا ماشوم چې پیدا کیږي نو هغه د هغې بلې هم ګڼل کیږي. او بیا خو زه هسې هم په خپل ټول ژوند کې د ګنګا ممنونه یم، که هغې نه غوښتلې نو زه به هیڅکله هم ستا ښځه نه وې جوړه شوې. تا خو د همغې په غوښتنه او اجازه زما سره واده وکړ او نن ستا د ښځې په څیر له تا سره یو ځاې یم. او ستا په څنګ کې د عزت او وقار نه ډک ژوند تیروم. او که نه خداې خبر ، چې اوس به مې چیرې او په کومو ځایو کې سر لګیده. او یا به مې وختې خپل ژوند پاې ته رسولې و .

تر لږه ځنډه پورې په خیمه کې خاموشي خپره وه . د هغې نه وروسته خواص خان په خپل لباس کې لاس ور ننویست او د خپل جیب څخه یې ډیر قیمتي هارونه چې د جواهرو او موتیو څخه جوړ شوې و را وویست. ددې هارونو په کتلو سره د کملا سترګې پړقی راووتې ، هغې غوښتل خواص خان ته څه ووایی چې خواص خان پرې ور مخکې شو او ورته یې وویل:

ګوره کملاوتي ! اوس چې ګنګا د زوې مور ګرزیدلې ده نو زه به دا یو هار هغې ته د زوې د پیدا کیدو په خاطر د تحفې په ډول ورکوم ، بیا هغې یو هار جدا کړ او کملا په غاړه کې یې په خپلو لاسو ور واچاوه. او ورته یې وویل چې: کملا ! ددې یوه هار مالکه ته یې. پخوا مې اراده کړې وه چې ستا په غاړه کې به هم دا هار هغه وخت دراچوم چې ستا هم زوې پیدا شي ، نو اوس چې زه ګنګا ته هار ورکوم نه دا راته د انصافه لرې ښکاره شول چې تا ترې بې برخې کړم. نو ګوره کملا ! یو هار ستا او بل د ګنګا.

په ځواب کې ورته کملا ، هغه هار چې خواص خان یې په غاړه کې ور اچولې و ، اړو را اړو او کاته یې ، بیا یې خپلې سترګې خواص خان ته ور واړولې ،په دې وخت کې د هغې په سترګو کې خواص خان ته ډیره زیاته مینه او تر څنګ یې ممنویت او شکر ادا کول وو. بیا کملا په خیمې کې په خپل خوږ اواز سره وویل چې:

خواص خانه ! زما حبیبه ، زه ستا ډیره زیاته ممنونه او شکر ګذاره یم چې تا دا هار تا په خپلو لاسو زما په غاړه کې را واچاوه. زه ددې اړخه هم له تا څخه ډیره مننه کوم چې تا زما او د ګنګا تر منځه د انصاف څخه کار واخست. زه به ستا په څیر خاوند باندې تل ویاړم او له تا سره به خپل ژوند نیکبخت ګڼم. ددې خبرو وروسته کملا مخته راغله او په خپلو نرمو لاسو یې د خواص خان څنګل ونیوله ، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخيمې منځته يې له ځانه سره يوړ او هلته يې له ځانه کيناوه . هغې غوښتل خواص خان ته څه ووايي چې خواص خان ددروازې په لور وکتل چې دشيرشاه سوری يو ساتونکې دهغه په لور را روان دې ،دهغه په کتلو سره خواص خان لږ څه څنګ ته شو او کملاته يې وويل چې:

ګوره کملا ! د شيرشاه سوری يو ساتونکې دخيمې ددروازې په لور را روان دې ، داسې معلوميږې چې شيرشاه سوری ورغوښتې يم . کملا ورته په ګيلې سره وويل چې: همدا اوس خو خيمې ته راغلې او اوس يې سمدستې بيرته ورغوښتې يې . دهغې په دې خبره خواص خان په خندا شو اوويې ويل چې: که چيرې دا ساتونکې رينښتای هم زما د ور غوښتلو له پاره راغلې وي نو بيا خو به کومه ډيره مهمه خبره وي. چې شيرشاه سوری ما ورغواړي ،ګوره کملا ، ته په دې خبرو باندې انديښنه مه کوه.

زه خو با انديښنه کوم. ځکه زه وينم چې ته تږوله ورځ د خيمې څخه بيرون يې . يو اځې دشپې له اړخه زما څنګ ته راځې په دې خاطر زه تږوله ورځ ځانته ناسته يم او ستا لارې څارم. کملا ورته داخبرې په ډيره مينه وکړې ، خواص خان غوښتل څه ورته ووايي چې په همدې وخت کې هغه ساتونکې دروازې ته را ورسيد اوخواص خان ته يې وويل چې: امير خواص خانه ! اقا شيرشاه سوري دکوم مهم کار له پاره ورغوښتې يې . خواص خان په خندا شو او دکملا په لور په کتلو سره يې وويل چې: ګوره کملا ! زما خبره سهي ثابته شوه ، ته همدلته اوسه ، زه د شيرشاه سوری په لور ورځم او ډير ژر به بيرته راستون شم. هغه دکملا دځواب د ترلاسه کولو پرته دهغه ځايه ووت اودشيرشاه سوري په لور ور روان شو .

کله چې خواص خان دشيرشاه سوری خيمې ته ورغې نو ويې کتل چې شيرشاه سوری په خيمه کې ځانته او په فکرونوکې ډوب ناست دې ، دخواص خان په کتلو سره هغه ته په خپل څنګ کې د کيناستو اشاره وکړه . ،خواص خا ن د شيرشاه سوری تر څنګ کيناست، تر لږه وخته پورې په خيمه کې چپه چپتياوه.ددې وروسته شيرشاه سوري په خبرو پيل وکړاو خواص خان ته يې وويل چې:

ګوره خواص خانه ! قدرت ته به دا منظور نه وي چې مونږ همدا اوس د راجپوتانه په راجه مالديو باندې حمله وکړو ، لږ څه مخته مخبر راغلې او ډير پريشانه کونکې خبر يې له ځانه سره راوړې دې . په دې وخت کې خواص خان دشيرشاه سوری لورې ته وکتل او ورته يې وويل چې: څه ډول خبر ؟ شيرشاه سوری ورته وويل چې:

ګوره خواص خانه ! د راجپوتانه راجه مالديو ته زمونږ دحملې په اړه خبر ورغلې دې. په دې خاطر هغه زمونږ د لښکر د ويشلو او بيا زمونږ د له منځه وړلو له پاره پروګرام جوړ کړې دې ، هغه يو ډيره خطرناکه لوبه لوبولې ده . ګوره خواص خانه زويه ! په دې وخت کې مونږ دمخلفو لوريو څخه تر ګواښ لاندې يو او هغه دا ډ ،ل چې ملوخان ( قادرخان ) چې ګجرات ته تښتيدلې و د يوه ستر لښکرسره يوځاې غواړي پر مالوه حمله وکړي ، يو بل وګړې ناصر خان نومې هم يو ستر لښکر تيار کړې او هڅه کوي چې په سيونې کې بغاوت ته لاره همواره کړي. ددوي تر څنګ د اريل راجه بيربهان ، چې يو وخت يې همايون ته زمونږ پر خلاف پناه ورکړې وه، هم دراجه مالديو په اشارې سره زمونږ په سيمو د حملو کولو هڅه کوي اوغواړې هلته تباهي او بربادي رامنځته کړي.

دشيرشاه سوری په دې خبرو باندې خواص خان تر يوه وخته پورې خپل سر ټيټ کړې و او په فکر کې ډوب و .بيايې سر را پورته کړ او دشيرشاه سوری څخه يې وپوښتل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې حالاتو څخه د خلاصون له پاره ته څه ډول فکر لرې ؟ شيرشاه سوری په ډير غور سره د خواص خان په لور وکتل او ورته يې وويل چې: لمړی ته ووايه چې ستا رايه څه ده ؟ خواص خان يوځل بيا فکر وکړاو بيا يې وويل چې:

شيرشاه ، زما مهربانه مشره !تر هغې چې ما پورې اړه لرې نو زما مشوره خوداده چې مونږ بايد اوس په راجپوتانه دحملې څخه ډډه وکړو. ځکه چې کيدې شي چې د راجپوتانه د راجه مالديو سره زمونږ جنګ اوږود شي او ددې شګلوړه صحرا په جنګ کې مونږ ته هر ډول ستونزې راپيدا کيدې شی نو که چيرې زمونږ داخلي حالات سهي نه وي نو د راجپوتانه په جنګ کې مونږ ته د خوراکې او نورو توکو په رسد کې ستونزې راپيدا کيدې شي . نو په دې خاطر زما مشوره داده چې لمړی خو د باغيانو دځپولو له پاره کار وکړل شی او بيا په پوره ډاډ او اطمينان سره په راجپوتانه باندې يرغل وروړل شي اود راجه مالديو کار هم ورختم کړل شی .

دخواص خان په دې ځواب شيرشاه سوری هم ډير خوښمن شو او وويې ويل چې :

خواص خانه زويه ! ستا خبره سهي ده ، په خداې سوګند چې ستا وړانديز بلکل زما د ارادې تمثيل کوي ، زه هم غواړم چې لمړی بايد د باغيانو کار و ختم کړو اودهغې وروسته بيا دراجپوتانه د راجه مالديو پر خلاف حرکت وکړو. خو ګوره زويه ! د باغيانو د ځپلو له پاره زما په ذهن کې يو وړانديز دې اوزه هيلمن يم چې ته به زما په دې مشوره کې له ما سره متفق و اوسې. خواص خان ورته سمدستې وويل چې: ووايه اقا . په دې وخت کې شيرشاه سوری غوښتل دخپل وړانديز په اړه خبره وکړي چې خواص خان پرې را مخته شو او ورته يې وويل چې:

زما مهربانه ، زما اقا ! زما په ذهن کې يو بل وړانديز هم راځې ،خو په هغه وړانديز چې تا پرې فکر کړې پر هغې د عمل کولو تر مخه ماته ديوې خبرې د ويلو اجازه راکړئ ، زما په فکر هغه مخبر چې تاته يې ددې بغاوتونو په اړه خبر راوړې هغه هم ددښمن يو قوت له ياده ويستلې دې ،او هغه به په راتلونکې کې زمونږ له پاره ډير خطرناک ثابتيږي ، دهغه په دې خبره شيرشاه سوری متوجه شو او ورته يې وويل چې: ته کومې لورې ته اشاره کوې ؟خواص خان ورته سمدستی وويل چې :

درونده شيرشاه ! زما اشاره د چندريري او راې سين د راجه پوران مل په لور ده. که څه هم دراجپوتانه راجه مالديو ناصرخان ، ملو خان او د اريل راجه بيربهان زمونږ پر خلاف راپورته کړې اودبغاوت او سرکشی له پاره يې تيار کړې دې نو ايا هغه به د چندريري او د راې سين د راجه پورن مل په لور پيغام نه وې ليږلې. خو زمونږ مخبرانو به تر اوسه پورې دهغوې له لورې کوم خبر نه وې تر لاسه کړې. زما محترمه شيرشاه ! د کومې اخري پريکړې تر مخه د ناصرخان ، ملوخان او داريل دراجه بيربهان په ځير په چندريري او د راې سين دراجه پورن مل باندې هم ځارنه په کار ده.

شيرشاه سوري تر يوه وخته پورې خاموشه ناست و ، بيا يې څه فکر وکړ اوخواص خان ته يې په ستايونکې سترګو وکتل او ورته يې وويل چې:

خواص خانه زويه ! ستا آند سهی دې. هغه انديښنې چې تا ډاګيزه کړې هغه د يوه حقيقت په ځير زمونږ مخته راتلاې شي. چندريرې اودراې سين راجه پورن مل د ناصر خان ، ملوخان او راجه بيربهان څخه هم ډير خطرناک ثابتيداې شي . نوپه دې خاطر تر هغوې چې مونږ دنورو باغي ځواکونو پر خلاف متحرک او سو بايد په چندريري او پورن مل باندې هم کلکه ځارنه وکړو . واوره خواص خانه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه پلان چې زه غواړم عملي یې کړم هغه دادې چې : هغه لښکر چې زمونږددواړو سره دې هغه په دوو برخو وویشئ، نیمایی به له تاسره وی اونیمایی به له ماسره. زه به دخپل لښکر سره په همدې ځاې کې تم شم چې اوس مو په کې پړاو کړې دې.او ته به دخپل لښکر سره د اریل دراجه بیربهان په لور کوچ وکړې او هغه به و ځپوې.

ددې نه علاوه ته پوهیږې چې حاجې خان بیټني او شجاعت خان دخپلو لښکرو سره هملته په مالوه کې پړاو کړې دې ، زه غواړم چې حاجي خان بیټني د ملوخان لاره تم کړي او شجاعت خان د ناصر خان د بغاوت د ځپلو له پاره مختهولاړ شي . په دې توګه به زه همدلته منتظر اوسم. که چیرې ددې بغاوتو د ځپلو په وخت کې د راجپوتانه راجه مالدیو د ناصرخان ، ملوخان اویا بل کوم راجه سره دکومک کولو له پاره هڅې وکړې نو زه به یې په لاره کې تم کړم.اودهغه سره به و جنګیږم او بیرته به یې په شاتلو ته مجبور کړم. ګوره خواص خانه !کهددې بغاوتو پهدوران کې چندریری او د راې سین راجه پورن مل هم ځان ورګډ کړ نوبیا به هم زه دمالوه په لور حرکت وکړم او په دې توګه به دټولو باغیانو د له منځه وړلو وروسته دخپل متحده لښکر سره یو ځاې د راجپوتانه د راجه مالدیو پر خلاف یوه ستره حمله کوو.

کله چې شیرشاه سوري خاموشهشو نو خواص خان ورته په ځواب کې وویل چې: دروندہ شیرشاه !هغه پلان چې تا جوړ کړې دې زه ور سره بلکل موافق یم. زه هیلمن یم چې مونږ به همدا نن خپل دغه پروا ګرام ته اخري شکل ورکړو . شیرشاه سوری دخواص خان ددې وړاندیز سره توافق وکړ. په همدې ورځ یې دمالوه په لور قاصد ولیږه.دهمدې قاصد په واسطه یې حاجي خان بیټنی ته د ملوخان په لاره کې د دریدو او شجاعت خان ته د ناصرخان د ځپلو حکم ورکړ. خواص خان دخپلې برخې دلښکر سره یو ځاې د راجه بیربهان د ځپلو لهپاره د اریل په لور کوچ وکړ.

دشیرشاه سوری دحکم سره سم حاجي خان بیټني او شجاعت خان دواړو دخپلو ځایو څخه کوچ وکړ او مخته ولاړل . ناصرخان دسیهوني څخه روان شو او د خپل لښکر سره یو ځاې یې د نیلګړ په سیمه کې پړاو وکړ ، شجاعت خان هم دخپل لښکر سره نیلګړ ته و ورسید او همدلته یې خیمې ووهلې ، دشجاعت خان د وررسیدو سره سم ددواړو لښکرو تر منځه ټکر پیل شو ،څرنګه چې ناصر خان لا دپخوا څخه د نیلګړ په سیمه کې ځاې په ځاې شوې و نوپه دې خاطر یې عسکرو پوره ارام کړې و . خو کله چې شجاعت خان هلته ور ورسید نو ناصرخان هغوې ارام ته پری نښول اود توپانې ملخانو په څیر یې پرې حمله راوړه.

څرنګه چې د ناصرخان د فوځ په مقابله کې د شجاعت خان د لښکرو شمیره کمه وه،نو دشمیر ددې زیاتوالي په اساس ناصرخان هره شیبه او هره ګړی په شجاعت خان باندې فشار زیاتوو. ان تردې چې د ماښام تیارې راخپرې شوې ، هغه غوښتل چې په خپلې همغې لمړنۍ حمله کې شجاعت خان اودهغه ملګرې لښکر له منځه یوسي او په دې توګه خپله بریا حتمي کړي ،

شجاعت خان دخپلو کمو ملګرو سره د ناصر خان ددې توپانې یرغل په مقابل کې کلک و درید او په پوره میړانه یې خپله دفاع کوله خو کله یې چې وکتل چې ناصرخان خپل ټول ځواک مصرف کړ او و نه توانید چې مونږ شاته و تمبوی نو بیا یې دخپلې دفاع کار پریښود او په جارحیت یې لاس پورې کړ او په دې توګه دهرې لورې یې د ناصرخان ځواکونه سره را ونغاړل ، دناصرخان ځواکونه یې داسې بې وسې کړل چې هغوې دځان دخلاصون له پاره هرې لورې ته په سرګردانه توګه منډې وهلې . دبله اړخه دشجاعت خان حوصله او عزم ګړی په ګړی ځواکمن کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شجاعت خان ددې حملو په واسطه د ناصرخان د فوځ حالت هره لمحه دخرابيد و سره مخکيده ، ناصرخان دخپل فوځ په دې حال باندې ډير انديښمن شو اوخپله ماتې يې په سترګو کتله. بيا دناصرخان د حکم په اساس دهغه په لښکر کې درې کسه داسې ځان ځارونکې تيار شول چې په خپل لښکر کې د زړه ورتيا له پلوه بې نمونې وو. هغوې د جنګ په وخت کې د ناصر خان سره سوګند وکړ چې هغوې به شجاعت خان هرو مرو له منځه وړي.

ناصرخان دې ځوانانو ته څه نور ساتونکې هم ورکړل ،بيا دغه درې واړه ځوانان د جنګ جنګ په کولو سره د شجاعت خان د ساتونکې ډلې سره په ټکر کې شول او ځانونه يې شجاعت خان ته ورسول. هغوې درې واړو په يوه وار سره په شجاعت خان باندې حمله وکړه. دهغوې څخه يوه يې شجاعت خان په خپله توره په ځښ کې وواهه ،بل عسکر هغه په خوله وواهه اودهغه غاښونه يې ورمات کړل. دريم عسکر هغه د ويښتانو څخه ونيوه ، درې واړو غوښتل شجاعت خان ژوندې دناصرخان مخې ته يوسي خوشجاعت خان هم په خپله ميړانه او بهادرۍ که بې مثاله شخصت و. سمدستې يې حرکت وکړ اوپه يوه ګذار سره يې ديوه لاس ور پرې کړ اوخپل ځان يې ترې خلاص کړ ،په همدې وخت کې دهغه شاوخوا جنګيدونکې عسکر هم دې لورې ته متوجه شوی و هغوې دغه نور دواړه حمله کونکې هم له منځه يوړل ، په دې توګه شجاعت خان دهغوې د لاسو څخه خلاصو ن وموند اودخپل فوځ هغه بيرغ چې دده د لاسو څخه پريوتې و بيرته راپورته کړ اوپه لاس کې يې ونيو. اودهغه لښکر يوځل بيا په همغه ولولې سره د ناصر خان په ځواکونو باندې خپلې حملې پيل کړې.

د جنګ د لړې شيبې ددوام وروسته ناصر خان د شجاعت خان په مخکې ډيره بده ماتې وخوړه او دميدانه وتښتيد. په حقيقت کې ناصر خان اوملوخان يو دبل سره اتحاد کړې و ، او ددواړو تر منځه دا پريکړه شوې وه چې لمړې به ملوخان د حاجې خان بيټنې په مقابل کې جنګيږي اوهغه ته دماتې ورکولو وروسته به هغه د نريدا د جنوب څخه راځي اودناصرخان سره به يو ځای کيږي بيا به دواړه يو ځای د شجاعت خان په مقابل کې جنګيږ ي او هغه ته به ماتې ورکوي. بيا به په مالوه باندې ولکه کوي ، ددواړو تر منځه دا هم ويل شوي و چې که چيرې د ناصرخان په مقابل کې شجاعت خان په خپلې حملې کې بيره وکړي نو ناصرخان دی يی تر هغه پورې په جنګ کې مصروف وساتي تر څو چې ملوخان ( قادرشاه ) ورسره بيرته نه وی رايوځای شوی.خو معامله سرچپه شوه ، شجاعت خان دناصرخان مخې ته راغې ،خو ناصرخان بيړه وکړه او سمدستي يې پرې حمله وکړه او بيا يې ډيره بده ماتې وخوړه او د ميدانه وتښتيد.

دشجاعت خان دغې زړه ورتيا او بهادرۍ د ناصرخان اوملوخان دواړو له پاره ستونزې زياتې کړې وې،که څه هم په دې جنګ کې د شجاعت خان دخولې پورته جامله ماته شوې وه خوبيا يې هم دناصرخان په مقابل کې سوبه تر لاسه کړه ، او دهغه دغې سوبې په مالوه باندې ډير زيات اغيز وکړ.

ددې فتحې نه څو ورځې وروسته ، په داسې حال کې چې شجاعت خان لا دخپلو زخمونو له لاسه په کټ کې پروت و ، د حاجی خان بيټنې پيغام ورته تر لاسه شو چې ملوخان( قادرخان ) د ګجراته را روان شوې او په دې يې حمله کړې ده. او کلابند کړې يې دې. په دې خاطر سمدستې د ملوخان پر خلاف د حاجې خان بيټنې مرستې ته راو رسيږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حاجي خان بيټني دپيغام د تر لاسه کولو سره سم شجاعت خان د کټ نه راپورته شو ، او په داسې حال کې چې د خولې او څټ زخمونه يې د وينو نه ډک و ، بيا يې هم د ميړانې اوبهادرۍ څخه کار واخست او په يوه کجاوه کې سپور شو او سمدستي دخپل لښکر سره يو ځاې د حاجي خان بيټني مرستې ته ورورسيد.

د بله اړخه دمالوه پخوانې حکمران ملوخان ( قادرشاه ) د ګجرات څخه راوتلې و د بنسواړه په لور راروان شوې و. بنسواړه د ډانګرپور په جنوب کې پرته سيمه ده ، ددې ځايه د ماهي ندي په څنډو څنډو ان تر راجين پورې لاره تللې ده. دا لاره دعامې لارې څخه يوې خواته د ګجرات څخه د دوهدر ترڅنګ مالوه ته رسيږي. ډيره اوږده لاره ده . خو په دې لاره کې خطره ډيره کمه وه . ملوخان په مالوه باندې د حملې کولو له پاره تر هر څه دمخه د بنسواړه ښار دخپل لښکر له پاره مرکزي قرارګاه ټاکلې وه.

دلته هغه په خپل لښکر کې د نوو خلکو د راشاملولو کار پيل کړ اوپوره نوي ځوانان يې په خپل لښکر کې را يو ځاې کړل. تر څنګ يې د مشرانو په نومونو باندې د پيغامونو او ليکونو په ليږلو سره هغوې هم دخپل ځان ملګري کړل او په دې توګه يې په خپل ځواک کې پوره ډيرښت راوست.

بنسواړه کې د اوسيدو په وخت کې دملوخان څخه يوه غلطي وشوه ، که په همغه وخت کې ملوخان د بنسواړه څخه وتلې وې او به اجين يې ولکه کړې وې اوبيا د جنوب له اړخه د نربدا پورې رسيدلې وې نو بيا به هغه د مالوه مرکزي ښار ماندوا او دهار په مکمله توګه د خپلې ولکې لاندې راوستي وې او حاجي خان بټني او شجاعت خان تر منځ به يې د اړيکو په پريکولو هم ولکه تر لاسه کړې واې. خو داسې بريښي چې ملوخان داسې کوم قدم نه اخسته. همدا علت و چې شجاعت خان په ډيره ګړندۍ توګه دمالوه جنوب شرقي لورې ته د حاجي خان بيټني کومک ته ورورسيد.

په بنسواړه کې دخپلې طبعي په مطابق د لښکر د جوړولو وروسته ،ملوخان دهغه ځآيه کوچ وکړ او دبهوپال د سيمې څخه په تيريدو سره يې په خپل مخ کې هر راتلونکې ځواک له نابودۍ سره مخ کړ اوبيا د جيګړ په لور شمال ته وخوزيد.

دبله اړخه دشيرشاه سوري سالار حاجی خان بيټني هم دجيګړ په لور د نربدا د درياب په غاړه کې دخپل لښکر سره يو ځاې پړاو کړې و. ملوخان هم په پوره بيړه په خپله مخکې هر څه تر پښو لاندې مروړل او د نربدا د درياب په غاړه د جيګړ په سيمه کې د حاجي خان بيټني د ځواکونو مخې ته ورورسيد .

کله چې ملوخان وکتل چې حاجي خان بيټني دهغه په مقابله کې ځانته ولاړ دې ، اوهلته دشيرشاه سوري اوخواص خان درک خرک نه شته ، تر څنګ يې د حاجي خان بيټني سره لښکر د ملوخان د لښکر څخه څو برابره کم هم دې ، نو د ملوخان حوصله نوره هم زياته شوه ، او د حاجي خان بيټني دلښکرو ترمخه د رسيدو سره سم يې پرته له ځنډه په حاجي خان بيټني باندې يرغل وروست.

حاجي خان بيټني هم دشيرشاه سوري د قومندې لاندې د جنګ له پاره پوره تجربه درلوده ، هغه د حرب اوضرب دټولو هنرونو څخه پوره پوره خبر و . په دې خاطر يې دملوخان په خير هم خپله حمله وکړه اوپه پوره ځواک سره يې د ملوخان په فوځونو باندې دهرې لورې ګذارونه پيل کړل. خو دملوخان حمله دومره خطرناکه او ځان وړونکې وه چې د جاجي خان بيټني هره هڅه او هره منډه يې دناکامۍ سره مخ کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي خان بتني دخپله اړخه ډيره هڅه کوله چې د ملوخان د لښکرو مخکينی ليکې ماتې کړي او پرې نږدې چې هغوې مخته راشی. خو دملوخان حملې هم په خپل وار ډيرې حيرانونکې وې ، هغه دخپل اخري اجل پورې په پوره او غوڅه توګه د حاجي خان بيټني په لښکرو ددرې اړخونو څخه را پريوتې و.

د نربدا د درياب او جاجيکړ تر منځه د حاجي خان بيټني او ملوخان تر منځه وينه تويونکې جنګ روان و ، د اسمان د پراخيو لاندې او زمکې په خاورو موجود هر مصلحت او آند دمرګ په پيغامونو کې ډوب شوي و. تر ډيره وخته پورې دحاجي خان بيټني او ملوخان د لښکرو تر منځه د وينو سيلابونه روان وو. خو کله چې حاجي خان بيټني ته ډاګيزه شوه چې که چيرې په همدې توګه جنګ ته دوام ورکړي نو نه يوازې د ماتې سره به مخ شي بلکه لښکرې به يې هم قتل عام کړل شي. په دې خاطريې په همدې وخت کې دډيرې پوهې څخه کار واخست اوخپله ماتې يې ومنله .دجنګ د ميدان څخه وتښتيد ، بيرته راستون شو او په يوه مستحکمه کلا کې يې ځان کلابند کړ ،ملوخان يې هم په تعقيب راغې او دګهرګاو کلا يې محاصره کړه. حاجي خان دهمدې ګهرګاو دکلا څخه دشجاعت خان پسې د بسپنې له پاره پيغام استولې و.

په همدې وخت کې د ګهرګاو کلا ته يو آس سپور په ډيره بيړه راورسيد او دکلا شمالي دروازې ته راغې او دروازه يې ور وټکوله. ددروازې دټکولو سره سم د ساتونکو څخه يوه دروازه لږ څه پرانسته اود يوه روښانه مشال په واسطه يې هغه سپور ته وکتل ، سمدستي يې دروازه پرانسته او هغه سپور دخپل آس سره يو ځای دننه ورننوت. ددروازې ترڅنګ چې کوم نژدې ځاې و ، دهمدې ځايه حاجي خان بيټني په خندا سره بيرون راغې اودې سپور ته يې وويل چې : زما دوسته. ما د ډيره وخته راهيسې په همدې ځاې ستا د راتلو انتظار کاوه. ما هيله درلوده چې نن شپه به ته ماته د يوه ښه پيغام سره راځې ، راتلونکې سپور د حاجي خان بيټني هغه قاصد و چې هغه د شجاعت خان په لور د مرستې له پاره ور استولې و. هغه قاصد ورته په خوشحالۍ سره وويل چې :

زما محترمه حاجي خانه ! ما ستا له پاره ډير خوشحاله کونکې خبر له ځانه سره راوړې دې. تر لږه وخته پورې به شجاعت خان دلته را ورسيږي اود ملوخان د عسکرو تر شا به پرې حمله کوي ، شجاعت خان ستا له پاره ماته دا پيغام راکړې دې چې سمدستې دخپل لښکر سره يو ځاې دشمالي دروازې څخه را ووزه او د مخې له لورې د ملوخان په عسکرو حمله وکړه. په ځواب کې ورته حاجي خان بيټني وويل چې :

ګرانه دوسته ! ته ماته ويلې شې چې شجاعت خان به اوس په څومره واټن کې را روان وي. قاصد ورته وويل چې : شجاعت خان دومره لرې نه دې هغه له ما سره يوځاې د شپې په تياره کې تر دې ځايه سفر کړې دې او د ملوخان دلښکرو تر شا يې سنګر نيولې دې. په دې اساس غوره ده چې وخت له لاسه ورنکړو ځکه لږه شيبه وروسته لمر را خيژی او روښنايی خپريږي بيا به زمونږ کار ستونزمن شی. تر اوسه په فضا کې تياره ده او دهمدې تيارو څخه بايد ګټه واخستل شی ، سمدستې دخپل لښکر سره يو ځاې د ملوخان په لښکر د مخې له لورې حمله وکړئ ، شجاعت خان وايي چې که چيرې همداسې مو وکړل نو د لمر د راختو د مخه به مونږ د ملوخان ځواکونه د نابودۍ سره مخ کړو ، حاجي خان د قاصد سره نورې خبرې و نه کړې او په يوه منډه د کلا دننه ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړه شيبه کې حاجي خان بيټني دخپل لښکر سره يو ځاې د ګهرګاو دکلا دشمالي دروازې څخه راووت ،څرنګه چې ملوخان د دې کلا شمالي دروازه نه وه کلابند کړې نه پدې خاطر ترې حاجي خان بيټني دخپل لښکر سره يو ځاې په اسانۍ سره راووت. بيا يې دکلا د ديوالونو تر څنګ يو اوږود شانته سفر وکړ اوبيا يې دمخې له لورې دملوخان په لښکرو باندې يرغل ورووست.

کله چې د حاجي خان لښکرو د ملوخان په فوځ باندې دمخې له لورې يرغل وروستنو په همدې وخت کې د شجاعت لښکرې چې له پخوا څخه په سنګر کې ناستې وې ،د ملوخان په عسکرو باندې د شا له اړخه راپريوتل. که څه هم شجاعت خان زخمي و او په کجاوه کې يې سفرکاوه خو اوس د کجاوې څخه راکيوتې و اودخپل لښکر تر منځه يې هغوې ته د جنګ احکام صادرول.

د ګهرګاو د کلا نه بيرون د جنګ ميدان داسې شکل خپل کړې و لکه د رڼا او تيارو ، بهار او خزان او روښنايي اوتياره چې يو دبل سره په ټکر کې وي.

د حاجي خان بيټني او شجاعت خان دغه دوه اړخيزه حمله دملوخان له پاره غير متوقع او دومره ځواکمنه وه چې ، د شرق له لورې دلمر د راختو سره سم د ملوخان لښکرې د جنګ په ميدان کې خورې ورې شوې او دمړو لاشونه يې په هر ځآې کې پراته و . ملوخان دخپل لښکر دماتې وروسته په تيښته وتښتيد خو حاجي خان بيټني اوشجاعت خان دهغه په تعقيب پسې ولاړل ، او تر لرې لرې يې هغه تعقيب کړ خو ملوخان دهغوې څخه خپل ځان خوندي کړ او په تيښته بريالې شو. ملوخان بيرته د وجيګړ د لارې د خانديش سيمې ته روسيد او مالوه ته يې د تل له پاره خداې پاماني وويله. دمالوه په تاريخ کې بيا دملوخان يادونه نه ده شوې.

۲۸

د بله اړخه خواص خان دخپل لښکر سره يو ځآې د اريل دراجه بيربهان په لور روان و ، ددې سفر په دوران کې يوه ورځ کملاوتي چې د خواص خان تر څنګ يې په آس باندې سفر کاوه ، دمخکې تلو په وخت کې ډيره حيرانه شانته شوه ، ځکه ويې کتل چې دلښکر په منځ کې منوهر داس او ملوکچند په ډيره بې صبرۍ سره اخوا ديخوا روان دي. دا همغه دواړه وو چې کملاوتي د ګنګا او نيرمل د وژلو له پاره ګمارلي و. دهغوې اخوا ديخوا ګرزيدلو کملاوتي ته يو پيغام ورکاوه ، هغه سمدستي وپوهيده چې هغوې د کومې خبر ې دپوښتنې له پاره بې قراره دي. په دې خاطر يې دخپل اس په تګ کې سوړوالې راوست او دخواص خان شاته يې ځآن پريښود ، ملوک چند او منوهر داس د فرصت نه ګټه پورته کړه ،خپل آسونه يې ډير ژر دکملاوتي څنګ ته راورسول يوې يې ښې اړخ ته اوبل يې چپ اړخ ته روان شول ،بيا منوهرداس په ډير راز سره کملاوتي ته وويل چې:

ګوره کملاوتي ! مونږ خود رهتاس په ښار کې ګنګا او نيرمل دواړه له منځه وړي دي اوس ووايه چې څه حکم دې ؟ددې خبرې په اوريدو سره دکملاوتي مخ دخوشحالۍ نه وغوړيد. اوپه ډير راز سره يې ملوکچند ته وويل چې:

ګوره ملوکچنده او منوهرداسه: تاسې ډيره ستره دنده تر سره کړيده ، زه به دهغې له پاره تاسې ته په کوم مناسب وخت کې د زړه له کومې انعام درکړم. زما سره اړيکي ساتئ ، اخوا ديخوا ګرځئ بيا په کوم مناسب وخت کې خواص خان ته هم دګنګا او نيرمل په خير سزا ورکړو. زه بيرته خپل اس ګړندې کوم تر څو دخواص خان سره يو ځاې شم. دکملاوتي دحکم سره سم منوهرداس او ملوکچند سمدستي اخواديخوا شول او کملاوتي بيرته خپل اس ګړندې کړ اودخواص خان څنګ ته ورورسيده. د ورسيدو سره سم خواص خان خپله توره

(c) ketabton.com: The Digital Library

را بر بنډه کړه، توره يي په فضا کې پورته کړه اوخپل لښکر ته يي د تم کيدو حکم وکړ ، څکه خواص خان وکتل چې څو کسه سواره دهغه دلښکر مخې ته ولاړ دي اودهغوې لاره يي بنده کړې ده .

## ٦٩

ددې لارې نيونکو پر خلاف خواص خان دحملې کولو نيت درلود چې په همدې وخت کې دآس سپرو څخه دوه کسه په ګړندي توګه دخواص خان مخې ته راغلل . خواص خان دهغوې په کتلو خوشحاله شو . خپل ډال يي بيرته په آس را زوړند کړ او توره يي هم په تيکې که ننويسته ، دغه دواړه اس سپاره ، يو فدايي خان و او بل د فداې خان زوې اسماعيل و. دا همغه فدايي خان و چې د همغه په واسطه خواص خان د شيرشاه سوری په لښکر کې شامل شوې و . څکه دهغې تر مخه خواص خان دفدايي خان دغلام په څير د ګيدړو په ښکار کولو باندې ژوند تيراوه.

خواص خان دهغوې کتلو سره سم دآسه را ښکته شو ، هغه پلار اوزوې هم خواص خان ته په رانږديکيدو سره دخپلو اسونو څخه راښکته شول ،بيا فدايي خان نږدې په يوه منډه راغې اوخواص خان يي دخپله ځانه سره را ونغاړه او په تندي او مخ يي بيا ښکلاوه . دهغې وروسته اسماعيل هم دخواص خان سره ورغايوت . کله چې د اسماعيل سره هم روغبړ پاې ته ورسيد نو بيا خواص خان دواړه پلار او زوې له لاسو و نيول او دکملاوتي لورې ته يي يوړل. هغه کملاوتي ته وويل چې : کملا ، دا فدايي خان دې او ددې ترڅنګ دهغې زوې اسماعيل خان دې ،ما پخوا ددې سره ديوه غلام په څير ژوند کاوه خو وروسته بيا زه دشيرشاه سوری په لښکر کې ورګډ شوم . په دې وخت کې خواص خان سمدستي د فدايي خان خبرې غوږ کړې او ويي ويل چې:

خواص خانه زويه !د غلط بيانۍ څخه کار مه اخله. زويه ! هغه وخت چې ته دخپل پلار او ورور سره يوځاې له ماسره واستنو ما له تاسو سره هيڅکله هم دغلامانو په څير سلوک نه دې کړې. خواص خان ورته په خندا ځواب ورکړ او ورته يي وويل چې: فداى خانه ، ستا خبره سهي ده ، اوپه هغې کې هيڅ ډول شک اوشبه نه شي کيدې چې تا له ما او زما د ورور سره دخپلو زامنو په څير سلوک کړې دې .او زما دپلار سره دې هم د ورور په څير اړيکې درلودل . خو ددې سره سره دا يو حقيقت دې چې تا مونږ اخستي وو . په بنستيزه توګه خو مونږ غلامان وو. فدايي خان داځل په ډيره درنه توګه وويل چې: ګوره خواص خانه ! اوس هغه خبره مه کوه چې ته غلام وى ، په دې خبره ماته تکليف رسيږي. ددې خبرې سره سم خواص خان خبره بلې لورې ته يوړه او وويي ويل چې: بس فداې خان او اسماعيل خانه !دا زما ښځه کملاوتي نوميږي. په دې خبره فدايي خان ډير زيات خوشحاله شو او ويي ويل ،ګوره کملاوتي ، د خواص خان د ښځې په څير خو ته بيا زما لور شوې او زما د زوې اسماعيل خان خور و ګرزيدې ، څکه چې ما خواص خان دخپل زوې په څير را لوې کړې دې. په خداې سوګند ، چې تر هغې چې دا له ماسره و نو ما د خواص خان او اسماعيل ترمنځ توپير نه دې کړې. کملاوتي په نرمه اوډيره ښه توګه د فدايي خان مننه وکړه اوبيا دهغې وروسته فدايي خان وويل چې :

خواص خانه زويه !زه داصل موضوع په لور راځم. ګوره ،دلته چې دا سوار ولاړ دی دهغې شاته زما پړاو دې. زه خبر شوې وم چې ته داريل دراجه بيربهان پر خلاف اودهغه د ځپولو له پاره را روان شوې يې . خو ګوره زويه ! ماښا م کيدونکې دې ، نوراځه زمونږ دکوچيانو دقبيلې تر څنګ پړاو وکړه. دقبيلی هر وګړې تا ډير ښه پيژني ، نو ته به نن شپه دلته ډيره په خوشحالۍ تيره کړې. څکه ډيره موده وروسته مونږ اوتاسې سره يو ځل بيا يو ځاې کيږو . ددې وروسته به زويه ! زه هم سبا سهار وختې له تاسره يو ځاې د اريل په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړشم. اوس خو ما اراده کړې چې دخپلې قبيلې سره يو ځاى ، ترېوه وخته پورې ، ستا په لښکر کې شامل شم. او بيا بيرته همدې خپل ژوند ته راستون شم. ايا ته غواړې چې زمونږ د قبيلى تر څنګ پړاو وکړې ؟ په ځواب کې ورته خواص خان په خندا خندا وويل چې : ولې نه ، فدايي خانه ! زمونږ لښکر به همدلته ستا د قبيلې تر څنګ پړاو وکړي ،ددې خبرو وروسته خواص خان خپل لښکر ته د مخکې تللو حکم وکړ او همدلته يې د فدايي خان د قبيلې تر څنګ پړاو وکړ.

کوم وخت چې دخواص خان لښکر د خيمې په درولو کې مصروف و اوکملا يوې لورې ته ولاړه وه ، نو فدايي خان او اسماعيل خان خواص خان له لاسه ونيوه او لږ څه لرې يې يوړ. او بيا ورته په ډير راز سره څه وويل. خواص خان دهغوې په خبرو باندې مسکې مسکې کيده ، بيا خواص خان فدايي خان ته په ډيره پټه توګه وويل چې: دروند ه فدايي خانه ! ته او اسماعيل خان همدلته و دريږئ ، زه به کملا په خپله خيمه کې کينوم او بيرته به راستون شم. ددې خبرې سره سم خواص خان د هغوې څخه را جدا شو اود کملا لورې ته راغې او کملا ته يې وويل چې :

کملا ! له ما سره خيمې ته راځه. تا ته د خيمې د وربښوولو وروسته به زه يو ځل بيا دفدايي خان لورې ته ورځم ، که چيرې زه دشپې له اړخه ناوخته راغلم نو ته انديښنه مه کوه. کملا ! فدايي خان د کوچيانو د قبيلې سردار دې او يو وخت ما دهغه تر حکم لاندې ژوند کړې دې ، په دې خاطر زما د راتلو په خاطر هغه د يوه جشن د جوړولو له پاره تيارې نيسي ،کيدې شي چې دا جشن ټوله شپه دوام وکړي او دا خلک ما راپرې نږدې چې دلته ستا خواته راشم ، نو په دې خاطر که دشپې له اړخه زه رانغلم نو کملا جانې ته به انديښنمنه کيږې نه. دهغه په دې خبرو ورته کملاوتې په ډيرې بې وسۍ سره وکتل او ورته يې وويل چې: نو ايا ته به ټوله شپه بيرون او سيږې. خواص خان ورته وويل چې : نو څه فرق کوي ، ځکه چې ته خو به کملا په خپله خيمه کې. دخيمې نه بيرون دوه کسه ساتونکې ولاړ دى، زه خو ددې نه مخته هم ډير بيرون پاته شوې يم. بس فداې خان ضد کوي ، په دې خاطر ما ورته هو کړه وکړه. کملاوتې د ډيرې پراخې سينې څرګند ونه وکړه او ويې ويل چې: ماخو هسې په ټوکو کې داخبره وکړه او که نه زه پو هيږم چې ته به ما هيڅکله هم پرې نږدې او بيرون به پاته نه شې. په هر صورت که چيرې تا د هغوې څخه ځان راخلاصولې شو نو بيرته خپلې خيمې ته راځه ، زه به په ډيره بې قرارۍ سره ستا انتظار کوم ، ددې خبرې سره سم خواص خان کملاوتې د خپله ځآنه سره خيمې ته يوړه او همدلته يې پريښوده اوبيرته ترې د فدايي خان په لور راستون شو او هغوې ته يې په خندا کې وويل چې :

راځئ چې اوس ځو. ددې خبرې سره سم فدايي خان او اسماعيل خان دواړه پلار او زوې د خواص خان سره يو ځاى د کوچيانو د قبيلې په لور رولاړل.

هلته د وررسيدو سره سم دوې ټول د څرمنې څخه د يوې سترې خيمې تر مخ ودريدل. دا خيمه دڅو خونو څخه جوړه شوې وه. دخيمې نه بيرون فدايي خان تم شو او د دروازې په لور يې کتل ،بيا يې خواص خان ته وويل چې ،خواص خانه زويه لمړۍ ته دننه ولاړشه. ستا تر شا به زه او اسماعيل هم درننوځو. دفدايي خان په دې خبرو باندې خواص خان ډير زيات خوشحاله شو بيا په خندا خندا دغې خيمې ته ورننوت ، خيمې ته د ورننوتلو سره سم خواص خان وکتل چې هلته دخپرو قالينو باندې د څو توشکونو دپاسه ښايسته او حسينه ګنګا نيمه غوځيدلې پرته وه. اوتر څنګ يې د لرګې په ځانګو يوه کوچنې چې لاس وپښې وهي هم پروت دې ، ګنګا په ډير غور سره خپل کوچنې ته ګوره اودليدو څخه يې خوند اخلې. څرنګه چې ګنګا په خيمه کې خواص خان د راننوتلو غږ واوريد نو سمدستي دخپله ځآيه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپورته شوه او اوډیرو زیاتو خوشحالیو په څپو کې یې لوځې پښې رامنډې کړې اوپه پوره ځواک او زور سره یې خواص خان په غیږ کې و نیوه او ترې راتاوه شوه.

تر یوه وخته پورې خواص خان او ګنګا یو دبل سره په پوره سکون او ډاډ سره غاړه تر غاړه و . ګنګا خپل سر د خواص خان په غاړه ایښودې و اوبیا بیا یې دهغه غاړه ښکلوله. بیا یو دبله څخه جدا شول. په دې وخت کې ګنګا دخواص خان څخه وپوښتل چې: ته څنګه یې ؟ خواص خان خپل لاس دګنګا دملا څخه راتاو کړ او د ډیرې زیاتې مینې په څپو کې ترې وپوښتل چې: ګنګا ته وایه ، څنګه یې ؟ ګنګا ورته وویل چې زه بلکل روغه رمټه یم ، بس ستا د روغتیا اندیښنه راسره وه. او ستا د سلامتۍ په اړه مې فکر کاوه. په ځواب کې خواص خان دګنګا په غوږ کې پټ څه وویل ، چې ګنګا پرې ښه په زوره وخندل. بیا خواص خان مخته ورغې اودلرګې د زانګو تر څنګ یې ګونډې ووهلې او تر ډیره پورې یې خپل کوچې ښکلاوه او خبرې یې ورسره کولې. ددې وروسته هغه په بستره باندې ګنګا ته مخ په مخ کیناست ، خواص خان ورته وویل چې: فدایي خان او اسماعیل خان دواړه پلار او زوې بیرون ولاړ دي ، زما په فکر چې زه به هغوې دواړه هم دلته راوغواړم. ګنګا ورته وویلې چې هو ، دهغوې بیرون دریدل ښه نه بریښي ، فدایي خان زما دپلار په څیر او اسماعیل خان زما د ورور په څیر زما خدمت کړې دې. خواص خان دخپله ځایه پورته شو او فدایي خان او اسماعیل خان یې له ځانه سره دننه خیمې ته راوړل. په همدې وخت کې نیرمل هم خیمې ته را ننوتله. دهغې په کتلو سره خواص خان نور هم ډیره خوشحاله شو او ورڅخه یې وپوښتل چې نیرمل ته څنګه یې ؟ نیرمل مخته راغله اودخواص خان په سر یې خپل د شفقت او مینې ډک لاس راښکود او ویې ویل چې بس زویه ستا د دعاو او ستا د ملاتړ څخه نیرمل ډیره خوشحاله ده . بیا نیرمل دګنګا تر څنګ کیناسته . خواص خان دخیمې دروازې ته راغې اوس نو تاسو دواړه پلار اوزوې دننه راشئ ،تر څو به بیرون ولاړ یاست. ددې خبرې سره سم فدایي خان او اسماعیل خان د خواص خان تر شا شا خیمې ته ور ننوتل. بیا درې واړه په قالینو خپور یو توشک باندې کیناستل. تر لږه وخته پورې په خیمه کې خاموشي خپره وه خو د لږ ځنډ وروسته فدایي خان په خبرو پیل وکړ.

خواص خانه زویه ! زه خو دیوه کار څخه فارغه شوې یم یعنې ته او ګنګا مې یو دبل سره یو ځای کړئ ،خو اوس زه یوه ګیله هم لرم. زه غواړم چې ته به زما دا کار هرو مرو تر سره کړې. خواص خان فدایي خان ته په عجیبه توګه وکتل او ورته یې وویل چې څه ډول کار فدایي خانه ؟ په ځواب کې ورته فدایي خان وویل چې:

ګوره خواص خانه !لمړۍ مهارت په څو سیمو کې تباهي خپره کړې وه ، د مهارت نه وروسته دهغه خپلوانو او تر ټولو نژدې خپل پالامو را پورته شو ،هغه دپرتګالیانو سره یو ځای په بنګال کې شورش اوبغاوتونه راپیدا کړل خو پخوا تر دې چې هغه خپلو پایلو ته ورسیږي تا له منځه یوړ ،اوس یو ځوان مهاکویي راپورته شوې دې او د مهارت او پالامو خواره واره ملګري یې سره راټول کړي دي ،هغوې د بنګال د خلیج تر څنګ خپل یو مرکز جوړ کړې دې اودپرتګالیانو څخه یې هم کومک غوښتې دې . بلکه یو څو کسان پرتګالیان په لښکر کې هم شامل شوي دي ،اوس دوې د بنګال د خلیج څخه راوتلې او د کراکړ په ښارونو او کلیو یې حملې کړې دې اوهلته یې دلوټمار بازار ګرم کړې دې. ګوره خواص خانه !زه همدا اوس اوس درهتاس څخه راغلې یم خو د رهتاس څخه مخته زه بنګال ته تللې وم. کله چې زه دجنوبي بنګال د کلیو څخه د خپلې قبیلې دخلکو سره یو ځای راتیریدم نومهاکوي دخپل لښکر سره یو ځای پر مونږ حمله وکړه. مونږ په ډیره ستونزمنه توګه خپله دفاع وکړه خو ددې سره بیا هم مهاکوي زمونږ دقبیلې څو ځوانان ووژل او زمونږ د قبیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډير سامانونه يې لوټ کړل ،په دې توګه دې مهاکوي مونږ ته ډير زيات زيان را اړولې دې ،زه يې د ډيرو ښو ځوانانو څخه بې برخې کړ م او زمونږ سامانونه يې هم له مونږه واخستل.

خواص خانه ! زه غواړم چې که کله ته وخت ولرې نو دخپل لښکر سره يو ځاې دې دشيرشاه سوری څخه اجازه واخله او د مهاکوي د ځپولو له پاره هغه لورې ته ولاړشه او که نه هغه به په راتلونکو ورځو کې په بنګال کې د مسلمانانو بدترين دښمن ثابت شي. او مونږ ته به نه تلافي کيدونکې زيان ور رسوي. دهغه په دې خبره خواص خان خپله سينه و ټکوله او ويې ويل چې: ګوره فدای خانه ! زما محترمه !ته انديښنه مه کوه. زه به ډير ژر د بنګال په لور مخه کړم ، دخواص خان په دې ځواب فدايی خان او دهغه زوې اسماعيل خان دواړه ډير خوشحاله شو ،اسماعيل خان دخپله ځايه پورته شو او ويې ويل چې: خواص خانه وروره ! ته کينه. زه به تاسې ته دخوراک څښاک انتظام وکړم. فدايی خان هم و دريد او ويې ويل چې خواص خانه ! ته همدلته دګنګا تر څنګ اوسه ، خپلې خبرې کوئ ، زه به ستاسې د ټولو دخوراک څښاک غم وکړم.ددې خبرې سره سم فدايی خان او اسماعيل خان د خيمې څخه بيرون ووتل.

دفدايی خان او اسماعيل خان د تللو نه وروسته نيرمل هم په يوې بهانه دخيمې بلې خونې ته ولاړه ،دنيرمل دتللو وروسته ګنګا تر يوه وخته پورې خواص خان ته په ډيره مينه کتل او بيا يې ترې وپوښتل چې دشپې خو به ته همدلته زما او زما د زوې تر څنګ او سيږې او کنه ؟خواص خان ورته وويل چې: ضرور به زه نن شپه ستا او ستا د زوې تر څنګ اوسيږم. ګنګا انديښنه څرګنده کړه چې ايا کملا خو به په دې اړه له تا څخه کومه پوښتنه ګرويزنه نه کوي؟ خواص خان ورته وويل چې هغه به دڅه پوښتنه له ماوکړي ؟ما ورته دمخه ويلي دی چې شايد زه نن شپه دلته خيمې ته را نه شم. دخواص خان د ځواب په اوريدو سره ګنګا خوشحاله شوه ، تر ډيره وخته پورې دواړو ميړه اوښځې خپل منځې خبرې کولې اودخپل کوچني سره يې لوبې او مينه کوله. په همدې وخت کې دفدايی خان کسانو خوراک راوړ ،ګنګا نيرمل ته هم ورغږ کړ اورا ويې غوښتله. بيا درې واړو يو ځاې خوراک او څښاک وکړ. خواص خان هغه شپه په همد ې خيمه کې دګنګا سره يو ځاې تيره کړه ،بله ورځ خواص خان او فدايی خان دواړه دخپل لښکر او قبيلې سره يو ځاې د اريل د راجه بير بهان د ځپلو له پاره روان شول.

د اريل راجه بيربهان ته هم خبر رسيدلې و چې دشيرشاه سوري اعلې سپه سالار دهغه د وهلو له پاره هغې لورې ته په ډيره ګړندۍ توګه را روان دې نو دخواص خان د لښکر د لارې د بندولو په خاطر هغه خپل اخري سرحد ته را رسيدلې و. او هملته يې دخپل لښکر سره يو ځاې خيمه وهلې وه. ترڅو خواص خان هملته په پولو کې تم کړي.

خواص خان چې کله دخپل لښکر اود کوچينانو دقبيلې سره يو ځاې هغه سيمی ته ور ورسيد په کومه کې چې د اريل راجه بير بهان دخپلو لښکرو سره يو ځاې پړاو کړې و نو د اريل راجه بير بهان خواص خان او دهغه لښکر ته ددمې کولو فرصت هم ور نه کړ او په پوره جوش او خروش سره يې پرې يرغل راوست.

د اريل دراجه بيربهان داحمله ناڅاپې نه وه ،خو بيا هم ډيره ځواکمنه وه. د اريل راجه غوښتل چې په دې ترتيب سره دخواص خان په لښکر باندې ناڅاپې حمله وکړي دهغوې لمړۍ ليکې له کاره وباسي اوخواص خان بيرته په تيښته مجبور کړي ،خو خواص خان د شيرشاه سوری هغه جرنيل و چې د بدو نه په بدترينو حالاتو کې پرې هم باور کيداې شو. په دې اساس د اريل راجه بيربهان د خپلو هڅو په پوره کولو بريالې نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دراجه بیربهان د حملې کولو وروسته بیا هم خواص خان خپل عکس العمل و نه ښود او په پرلپسې توګه یې دخپلو عسکرو حوصلې ځواکمنې کولې. هغه په خپلو عسکرو کې د تکبیر نارې پورته کولې او هغوې یې دحملې څخه تمول.

تر لږه وخته پورې همداسې حال روان و ، بیربهان خپلې حملې نورې هم خونړۍ کړې خو خواص خان په ډیر صبر او زغم سره دهغې حملې تمبولې ، خو وروسته یوناڅاپه دجنګ په ډګر کې یو انقلاب راغې ،ځکه فدایی خان او خواص خان د پخوا څخه دبیربهان د له منځه وړلو له پاره یو پلان منظم کړې و ، په دې وخت کې دخواص خان دلښکرو ترشا د فدایی خان کوچیانۍ قبیله را روانه وه ، په دې خاطر فدایی خان او دهغه زوې اسماعیل خان دخپلې قبیلې سره یوځاې د شاله اړخه را ځرګند شول او بیا یې د خواص خان دلښکر تر څنګ حرکت کاوه او مخته ولاړل اوبیا دواړو پلار او زوې دخپلو میړنیو سرتیرو په کومک سره داریل دراجه بیربهان په لښکرو باندې حمله وکړه ، دفدایی خان او اسماعیل خان ددې اړخیزې حملې په اساس د بیربهان په فوځ کې یو ډول سراسیمګې راپیدا شوه، په همدې وخت کې یو بل انقلاب هم سر را پورته کړ ، ځکه خواص خان چې تر اوسه پورې په دفاع کې مصروف اوس یې دفاع پریښوده او په پوره جارحیت یې پیل وکړ. ددغو دوه اړخیزه حملو له مخې بیربهان خپل ځان په ستونزو او مشکلاتو کې ګیر ولید.

جنګ جاري و او خواص خان اوفدایی خان کرار کرار مخته ورتلل او د راجه بیربهان هر عسکر یې چې مخته راته له منځه یې یوړ.د راجه بیر بهان لښکرې یو په بل کې ور ننوتې او په دې توګه یې خپل ځآنونه یواځې او د مرګ په خوله کې کتل. خو دبله اړخه خواص خان اوفدایی خان دپخوا څخه زیات په ډیره قهرامیزه توګه خپل مخته تګ ته دوام ورکاوه.

تر لږه وخته پورې جنګ دوام وکړ ، خو راجه بیربهان ډیره بده ماتې وخوړه اود جنګ د میدان څخه په دوو پښو د تښتید. په دې وخت کې خواص خان فدایی خان ته مشوره ورکړه چې دخپلې قبیلې او دخواص خان د لښکر د ښځو سره یو ځاې او د ټولو سامانونو د راغونډولو وروسته داریل په لور ولاړ شي ، خو هغه پخپله د راجه بیربهان په تعقیب پسې ولاړ ، تر څو د اریل راجه په خپله کلا کې ځان کلابند نه کړي او دجنګ د اوږیدو هڅه و نه کړي . خواص خان په ډیره ګړندۍ توګه د بیربهان شاته و لاړ او د هغه شاتلونکې عسکر یې یو په بل پسې له منځه وړ ان تر دې چې دهغه د عسکرو شمیره نوره ډیره را ولویده اوپاته یې دده تر مخه لکه د وزو او میږو په څیر منډې وهلې.

بیربهان فکر کاوه چې کلا ته په ور رسیدو سره به خپل ځان هلته کلا بند کړي او دخواص خان سره به مقابله پیل کړي خو خواص خان دهغه دغه اراده د ناکامۍ سره مخ کړه ځکه چې دبیربهان تر شا خواص خان هم د اریل ښار ته ور ننوتې و ، هلته په ښار کې یو ځل بیا دخواص خان اوبیر بهان تر منځ نښته وشوه اویو ځل بیا بیربهان د سختې ماتې سره مخ شو ، خواص خان د ښار دننه ټول ساتونکې یو په بل پسې له منځه یوړل ، بیربهان د موقع نه په ګټې اخستو سره دخپلې کورنۍ او څو نورو کسانو سره یو ځاې د ښار دبلې دروازې څخه بیرون ووت او دخپل ځان دخوندې ساتلو په خاطر دبندیل کهنډ د کلیو په لور و تښتید. اما خواص خان د ښار د نظم و نسق د په لاس کې اخیستو وروسته دخپل فوځ سره یو ځاې د ښاره بیرون پړاو وکړ.

تر ماښامه پورې فداې خان هم دخپلې قبیلې ، دخواص خان دلښکرو دښځینه و او نورو سامانونو سره یوځاې د هلته بیرون دخواص خان د لښکر د پړاو سره یوځاې شو. هغه هم دخپلې قبیلې سره یوځاې هملته دخواص خان د لښکرو سره یو ځاې پړاو وکړ. کله چې پړاو جوړ کړل شو نو خواص خان خپلې خیمې ته ورغې ، ګورې چې کملاوتي په دیره بې صبرۍ سره دهغه انتظار کوي ، دخواص خان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتلو سره هغې یو ناځاپه رامنډه کړه او دخواص خان څخه یې غېږه را چاپیره کړه ، بیا یې په ډیره مینه او محبت خواص خان ته وویل چې : « زه تاته د بیربهان پر خلاف ددې غټې شانداره بریې په اړه مبارکي وایم ، او تر څنګ یې د اریل دښار په ولکه کولو هم تاته د زړه له کومې مبارکي وایم.» دکملاوتي په دې خبرو خواص خان ډیره خوشحالي وښوده ، بیا یې کملاوتي په شا و ټپوله او ورته یې وویل چې : ګوره کملاوتي ! ته همدلته خیمه کې اوسه ، زه به ولاړشم تر څو د لښکرو او تر څنګ یې د فدایي خان د قبیلې دخلکو له پاره د خوراک څښاک انتظام وکړم. ددې وروسته به زه د اریل ښار ته ورځم او هلته به د هغه ښار د نظم ونسق له پاره اخری انتظامات کوم. خو زه غواړم چې تاته هم یوه خبره وکړم ، کملاوتی ټکان وخوړ او ورته یې وویل چې هغه څنګه ؟ خواص خان ورته وویل چې :

ګوره کملاوتي ! زه دلته اریل دښاره بیرون دخپل لښکر تر منځ دڅو ورځو له پاره پاته کیږم، په همدې وخت کې به زه د اریل دښار نظم ونسق برابروم او په ښار کې به خپل حاکم ټاکم او دهغې وروسته به د مالوه په لور ورځم. ځکه هلته هغوې ماته ډیره اړتیا لري ، خو زه دلښکر هیڅه ښځینه له ځانه سره هغه لورې ته نه شم وړلاې. ځکه چې د مالوې حالات سهي نه دي ، هر هر ځاې بغاوتونه سر راپورته کوی ، په دې خاطر په هغه ورځ چې زه له دې ځآیه کوچ کوم نو زما ډیر دروند دوست فداې خان به دخپلې کوچې قبیلې سره یو ځاې د راجپوتانه د پولو په لور خوزیږي ، دلښکر ټولې ښځینه او ټول هغه سامان چې په اریل کې د راجه بیربهان د ماتې وروسته تر لاسه شوې دې، هغه به هم فدایي خان له ځانه سره هلته دراجپوتانه پولو ته نژدې له ځانه سره وړي او هلته به یې شیرشاه سوری ته ورحواله کوی ، تر څنګ یې ستا په ګډون ټولې ښځې به هم دفدایي خان سره ځي او هلته به دشیرشاه سوری په لښکر کې اوسیږي. ددې وروسته چې حالات څنګه مخته راغلل نو همغسې چلند به وکړل شي. کیدې شې چې زه د مالوه څخه دخلاصون وروسته د راجپوتانه په پولو کې د شیرشاه سوری سره هم ووینم. کله چې خواص خان خاموشه شو نو کملاوتي سر ټیټ کړ او په فکر کې ډوبه شوه او بیا یې سر راپورته کړ او ویې ویل چې :

ګوره خواص خانه ، زما حبیبه ! ستا هره خبره ماته دحکم معنې لري. که چیرې ته فکر کوې چې مالوه ته له تاسره د ښځو تګ ضروري نه دې نو بیا به زه هم د لښکر دنورو ښځو په څیر د فدایي خان د قبیلې سره یو ځاې دشیرشاه سوري په لور ولاړه شم او هلته به په ډیره بې صبرۍ سره ستا د راتلو انتظار کوم. خو ته به ژمنه کوې چې په مالوه کې به یوه ورځ هم زیاته نه اړوې. خواص خان ورته په خندا کې وویل چې : کملاوتي ! همداسې به کیږي لکه ته یې چې فکر کوې. هر وخت چې د مالوه دحالاتو د سمون څخه خلاص شوم نو په همغه ګړۍ کې به دراجپوتانه په لور در وخوزیږم او هملته به له تا سره یو ځاې شم ،ته اوس په خپله خیمه کې ارام وکړه ، زه ورځم چې دخپل لښکر او د فدایي خان دقبیلې د اړتیاو په اړه ځان پوه کړم. ددې خبرې سره سم خواص خان دخیمې څخه بیرون شو.

لږه شیبه وروسته خواص خان د فدایي خان دقبیلې په خیمو کې ور ننوت او په ډیره خوشحالۍ سره د خپلې محبوبې میرمنې ګنګا خیمې ته ورغې ، ګنګا په دې وخت کې خپل کوچني په غیږ کې نیولې و او په خیمې کې اخوا دیخوا ګرزیدله ،د کوچني دخوشحالۍ په خاطر یې دهغه سره ډیره مینه کوله او دهمغه په ژبه یې ورسره خبرې کولې. څنګه چې خواص خان خیمې ته ورننوت نو ګنګا دخپل کوچني سره یو ځاې ورمنډه کړه او دهغه استقبال یې وکړ. او خواص خان ته یې دهغه په دې فتوحاتو باندې مبارکي ورکړه ، خواص خان هم ورمخته شو او کوچنی یې دګنګا سره یوځاې په خپله غیږ کې و نیول.تر ډیره پورې یې هغوې ښکلول او مینه یې ورسره کوله ، بیا ګنګا هغه دلاسه و نیوه او د خیمې منځ ته یې یوړ ، کوچني یې په ځانګو کې واچاوه او پخپله دخواص خان سره کیناسته. په همدې وخت کې د خیمې دبلې خونې څخه نیرمل هم را بیرون شوه ، هغې هم د دغو بریاو په اړه خواص خان ته مبارکي وویله. خواص خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل د نیرمل ددې مبارکۍ په ځواب کې څه وو ایی چې دخیمې دروازې ته فدا ایی خان او دهغه زوی اسماعیل خان را ورسیدل. بیا فدا ایی خان هملته په دروازې کې ولاړ و یوښتل: خواص خانه زویه ! یا زه او اسماعیل خیمې ته درننوتلای شو.

خواص خان په ډېره بیړه را پورته شو او په یوه منډه دخیمې دروازې ته ورغی او فدا ایی خان یې له لاسه و نیوه او له ځانه سره یې دننه یوړ او ورته یې وویل چې: فدا ایی خانه ! زما درونده دوسته ! زما خیمې ته دراتلو په وخت کې تاته د اجازې دغوښتلو ضرورت نه شته. تا ته د دې اجازې غوښتلو اړتیا څه وخت راپیدا شوې ده. زه خو ستا دزوی په څیر یم او ګنګا دې د لور په څیر. دخواص خان د دې خبرو په واسطه فدا ایی خان او اسماعیل خان دواړه ډیر خوشحاله شول او بیا هلته دخیمې په منځ کې دخواص خان سره یوځای کیناستل.

په همدې وخت کې فدا ایی خان خواص خان ته وویل چې: ګوره خواص خانه زویه ! زه پوهیږم چې په دې خرابو حالاتو کې ته په دوو کشتیو کې سپور شوی یې. یه کملا او بله ګنګا. خو زه غواړم چې ته یو اځې دګنګا په کشتۍ کې سپور اوسې. ستا له پاره یو مصیبت دا دې چې ته هغوې دواړه یو له بله سره نه شې یو ځای کولې ،ځکه چې که چیرې ته د شپې له اړخه د ګنګا سره پاته کیږې نو کملاوتی په خفه کیږي او که چیرې ته د کملاوتی سره یو ځای کیږی نو زما لور ګنګا ته به شکوه او شکایت راپیدا کیږي. په دې وخت کې ګنګا په خندا سره وویل چې: فدا ایی خانه ، زما محترمه ! زما روح زه دمیړه په وجو کې ورننوتې دې ، حالات چې هر څو مره خراب او ستونزمن وي بیا به هم زه دخپل میړه څخه شکوه او شکایت ته لاره ورنکړم ، زه پوهیږم چې دا هر څه د خاصو مجبوریتونو په اساس تر سره کیږي او ډیر ژر ده چې حالات به زمونږ په ګټه را وڅرخیږي ، فدا ایی خان په ډیر غور سره دګنګا په لور وکتل او ورته یې وویل چې:

ګنګالوري ! ته یوه ډیره ستره ښځه یې. او ډیره دعزت او ویاړ خاونده ښځه یې. په خدای سوګند چې خواص خان ته همستا په څیر د یوې ښځې اړتیا وه ، ددې وروسته فدا ایی خان د خواص خان په لور وکتل او ورته یې وویل چې: خواص خانه زویه ! اوس چې تا د اریل د راجه بیربهان په خلاف دومره ستره سوبه تر لاسه کړه نو اوس دې پروګرام څه دې او کومې لورې ته ځې ؟

خواص خان ورته وویل چې: زما درونده فدا ایی خانه ! ما خپل پلان جوړ کړې دې او دهغې په اړه مې کملاوتي ته هم خبر ورکړې دې او هغې زما ددې پلان سره موافقه هم کړې ده. زما پلان دا دې چې دوه یا درې ورځې به زه دلته قیام کوم ،په دې وخت کې به زه د اریل دښار انتظامات هم سم په لاره کړم او خپل یو حاکم به پرې و ټاکم. ځکه چې اوس دا سیمه زمونږ په حکومت کې را شامله شوې ده ، دد ې وروسته به دخپل لښکر سره یوځا ې دمالوه په لور کوچ کوم. ګنګا او زما زوی به له ما سره ملګري وي، ګوره فدا ایی خانه ! زه اوس کملا له ځانه سره نه شم بوتللاې ،او بوتلل یې هم نه غواړم. اوس به ستا په غاړه وې چې د لښکر د نورو ښځو او د ټول هغه سامان چې د اریل دپړاو نه مونږ ته تر لاسه شوې ، سره یوځای ټول دراجپوتانه سرحد ته رسوې او هلته

به یې شیرشاه سوری ته ورتسلیموې. او هغه ښځې چې د کملاوتي سره یو ځاې هلته ورځي دوې به ټول هملته اوسیږي. ته به په خپله دخپلې قبیلې سره یوځاې هملته دشیرشاه سوري دلښکر تر څنګ پړاو کوې ، زه هیلمن یم چې زه به وتوانیږم دمالوه حالات ډیر ژر په خپله ګټه را وڅرخوم او بیا دخپل لښکر سره یو ځای دراجپوتانه په لور دروخو زیږم

دخواص خان ددې پلا ن په اوریدو سره ګنګا د سر نه تر پښو پورې خوشحاله شوه او فدا ایی خان هم پرې خوښ معلومیده خو سمد ستي یې خواص خان ته وویل چې: خواص خانه زویه ! دا خو یو ډیر ښه پلان دې او په دې باندې دعمل کولو په وخت کې ، او د کملاوتي په نه شتون کې ، ته یو څو ورځې ارامې تیرولې شې. خواص خان دخپله ځایه راپورته شو او دګنګا په لور یې ولیدل او ویې ویل چې: ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنګا ! زه دفدايي خان او اسماعيل خان سره يو ځاې وځم ، خپل لښکر او دهغوې د قبيلې داړتياو اندازه اخلم او دهغې د تياريدو له پاره انتظام کوم. ددې وروسته به بيا زه داريل دښاره کوچ کوم. خو واوره چې دماښام ډوډۍ به زه همدلته له تاسره يو ځاې خورم. دخواص خان په دې خبرو ګنګا دخوشحالۍ نه نه راټوليده. بياټول و دريدل او دخيمې څخه راووتل.

راې سين او دچندريري راجه پورن مل دخپلې ملکې پاروتي او خپل وراره پرتاب سره يوځاې په خپلې ماڼۍ کې ناست و ،په همدې وخت کې د هغه يو ساتونکې را ننوت او د راجپوتانه د راجه مالديو د سالار کوپا د راتلو خبر يې ورکړ. پورن مل دخپله ځآيه راپورته شو او ورته يې وويل چې: ته ښه نه دې کړې چې هغه دې هلته بيرون تم کړې دې. زه به دهغه دښه راغلاست له پاره پخپله تر دروازې پورې ورشم. هغه ساتونکې بيرته ووت ، هلته په دروازه کې د ډيرښه قد وقامت انسان راجپوت ولاړ و ، هغه د راجپوتانه د راجه مالديو سپه سالار و ، دغه ساتونکې کوپا ته وويل چې: چې مهاراج ستا د استقبال له پاره پخپله تر دروازې پورې راځي.ددې خبرې د اوريدو سره سم د مالديو دراجه سپه سالار ځان تيار کړ په همدې وخت کې پورن مل هم را ورسيد ،مخته ورغې اوکوپا ته يې غيږ ورکړه او بيا يې ورته وويل چې:

ګوره کوپا !ته د پرديو په خير ولې بيرون دريږې. زما وستا تر منځه خو پخوا هم ليدنې کتنې شوې دي ، ته ما پيژنې او زه هم تا له شکله ښه پيژنم. بيا ته ولې داسې د پرديو الي ځرګندونه کوې ، زما ساتونکې ته به دې ويلې واې اوپرته له ځنډه به دننه راتلې. کوپا د پورن مل ددې دمينې ډکو خبرو په مقابل کې څه و نه شو ويلاې ، خو پورن مل ته يې په ډيره مينه کتل ،بيا پورن مل کوپا د لاسه و نيوه او دماڼۍ همغې خونې ته يوړ او هلته يې په شاه نشين باندې کيناوه. دهغه ښې لورې ته دهغه لور پاروتي او چپ لورې ته يې په ترتيب سره کوپا او پرتاب کيناستل. تر لږه وخته پورې د ماڼۍ په دې خونه کې خاموشي خپره وه. بيا وروسته پورن مل په لوړ اواز سره وويل چې:

کوپا !وايه !چې دلته دې څنګه د راتللو زحمت ويستلې دې. کوپا ورته په ځواب کې وويل چې:

دچندريري او راې سين راجه پورن مل به خبر شوې وي چې په دې ورځو کې شيرشاه سورى خپله لمن خپره کړې ده،هغه دخپل شاوخوا رياستونه او سلطنتونه نيولې اوپه خپل سلطنت کې را ګډ کړي دي . شيرشاه سورى همدا اوس دخپل لښکر د يوې برخې سره د راجپوتانه په پولو پړاو کړې دې اوخپل ترټولو ستر سالار خواص خان يې د اريل د راجه بيربهان د ځپولو له پاره هغه لورې ته استولې دې. دهغه دوه نور سرداران حاجي خان بيټني او شجاعت خان همدا اوس په مالوه کې دخپل لښکرسره پراته دي.کيدې شې چې تر اوسه پورې دا خبر هم رارسيدلې وي چې شجاعت خان او حاجي خان بيټني هلته ناصر خان ته ماتې ورکړې اودهغه لښکر يې ټول له منځه وړې دې.

اوس خو حالات داډول دي چې دمالوه پخواني حکمران ملوخان چې په قادرشاه باندې مشهور شوې دې اودشيرشاه سوري دلمړۍ حملې په وخت کې دمالوه څخه د ګجرات په لور تښتيدلې و اوس د حاجي خان بيټني سره د جنګ له پاره دخپل يوه غښتلې لښکر سره يو ځاې د مالوه په لور خوزيدلې دې.نو که چيرې په دې حالاتو کې مونږ لاس تر زنې کينو ، نو بايد ياد وساتو چې بيا به دا حالات زمونږ له پاره دپيښمانۍ سبب وګرځي. په دې وخت کې سپه سالار کوپا خاموشه شو نو راجه پورن مل ورته وويل چې: کوپا ! ته څه ويل غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوپا ورته وویل چې: ګوره راجه ! زه غواړم تاته ډاګیزه کړم چې مونږ اوتاسې باید خپل ځواک استعمال کړو ،په مالوه کې په حاجي خان بیټني او شجاعت باندې یرغل وروړو او د ملوخان سره دهغه دبیرته راستنیدو په خاطر بسپنه وکړو .که چیرې مونږ همداسې وکړل نو حاجي خان بیټني او شجاعت خان به ماتې وخوري ،دمالوې څخه به وتښتي او ملوخان به بریمند را وګرځي. ملوخان زمونږسره پخوا هم نیک اړیکې درلودل او اوس خو به د مالوه د نیولو وروسته هغه یو ځل بیا دیوه ستر ځواک په څیر را څرګند شي ،او په دې توګه زه هیلمن یم چې هغه به په راتلونکې کې د شیرشاه سوری د لارې ډیر ستر خنډ وګرځي.

ګوره راجه ! ما دخپله ځانه سره یو لښکر هم راوړې دې، چې اوس یې ستاسې په شمالي پولې کې پړاو کړې دې. اوس چې زه ستا لورې ته راتللم نو خپل یو نائب مې دخپل لښکر له پاره قومندان و ټاکه . ما چې څومره کارونه کړې دې د راجه مالدیو په امر او دهغه په مشوره مې تر سره کړې دی. مونږ غواړو چې ته هم همداسې یو لښکر ترتیب کړې اودخپلو شمالي سیمو په لور یې ور ولیږې ، زما سره چې څومره لښکر شته هغه به هم ستا دلښکر سره یو ځای په کار پیل وکړي ، زمونږ دواړه لښکرې به ملوخان پیدا کړې اودهغه ملاتړ به وکړي اوبیا به ددرې واړو ځواکونو یو متحده لښکر د حاجی خان بیټني او شجاعت خان په خلاف عملیات پیل کړي او هغوې به دخپلولښکرو سره یو ځای دنابودۍ کندې ته ور واچوي. که مونږ همداسې وکړو نو راجه پورن مله ، زه تاته ډاډ درکوم چې نه یوازې ستا اوسنې حالت به دشیرشاه د لاسو څخه ازاد شي بلکه په راتلونکې کې به ته د یوه ازاد ریاست د راجه په څیر و اوسې . که چیرې په دې وخت کې مو سترګې پټې کړې نوزه باید تاته ډاګیزه کړم چې دشیرشاه سوری اودهغه دلښکر حوصلې دومره سترې شوې دې چې هغوې به زمونږ اوستالښکرې د غنمو ددانو په څیر تر پښو لاندې ورغستلې کړي

دکوپا په خاموش کیدو باندې په ټول راجمحل کې تر لږه وخته پورې خاموشي خپره وه ، په دې وخت کې راجه پورن مل مسکې شو او ویې ویل چې:

ګوره کوپا !لکه څنګه چې ته وایې همغسې به کیږي ، دخپل ځان تر څنګ دې ناست زما وراره پرتاب دې. نو موږې زما د لښکرو ستر سالار هم دې ، زما په ښې اړخ کې زما لور پاروتي ناسته ده ، دا نه یوازې زما لور ده بلکه زما د زوې په څیر ده. نو موږې د جنګ د زیاتې تجربې تر څنګ دحرب د فن ډیره ماهره هم ده ، یعنې په د ې وخت کې چې څومره لښکر زما سره شته،هغه زه په دوو برخو باندې ویشم ، یوه برخه یې د رای سین د خوندې ساتلو په خاطر به دلته زما سره اوسیږي ،ددې برخې قومنداني به زما لور پاروتي کوي اودبلې برخې قومنداني به زما وراره پرتاب کوي نو موږې به له تاسره یو ځای ولاړشي ،پرتاب به همغسې کوي لکه ته یې چې غواړې ، د راجه پورن مل د ځواب په اوریدو سره کوپا ډیره زیات خوښ شو ، بیا یې په ډیره عاجزۍ سره د پورن مل لورې ته وکتل او ورته یې وویل چې:

پورن مله !ایاداسې به شوني نه وی چې پرتاب همدا اوس دخپل لښکر سره یو ځای له ما سره ولاړشي. ځکه مونږ باید وخت له لاسه ورنه کړو. هسې نه چې زمونږد ور رسیدو نه مخته حاجي خان بیټني او شجاعت خان د ملوخان په خلاف یرغل وکړي او هغه ته بدترینه ماتې ورکړي. راجه پورن مل ورته وویل چې: ته همدا اوس را پورته شه ، له ما سره ولاړشه زه به پرتاب همدا ګړی له تاسره د کوچ کولو له پاره تیار کړم. دپورن مل د ځواب په اوریدو سره د راجپوتانه د راجه مالدیو سپه سالار کوپا ډیره خوښې څرګنده کړه ،بیا ټول راپورته شول اود ماڼۍ دهغه خونې څخه را ووتل او دخپل لښکر نیمایی برخه یې د خپل وراره پرتاب تر قومندې لاندې د کوپا سره روانه کړه ، دوې د پورن مل دریاست شمالي برخو ته په ډیره ګړندۍ توګه حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې کوپا د پورن مل د قوماندان پرتاب دلښکر سره یو ځای د پورن مل دریاست د شمالي پولو پورې ور رسیدل ، نو هلته ورته دکوپا نائب چې دکوپا په غیاب کې دهغه د لښکرو قوماندان و ، دهغوې ډیر ښه استقبال وکړ، بیا دکوپا د وینا سره سم پرتاب خپل لښکرته د کوپا د لښکر تر څنګ پړاو ورکړ. دکوپانائب تر یوه وخته پورې د کوپا پـه لور په حیرانتیا سره کتل او بیا یې ورته وویل چې :

زما درونده ! ایا زه تاسې ته داسې خبر درواوروم چې په یقیني توګه به تاسې ته ښه و نه برېښي. کوپا په ډیرې اندېښنې سره دخپل نائب په لور وکتل او ورته یې وویل چې څه ډول خبر ؟

کوپا !تیره ورځ زمونږ څو کسه مخبران لښکر ته بیرته راستانه شوي او هغوې له ځانه سره خبر راوړې دې چې دشیرشاه سوری سالارانو حاجې بیټنې خان او شجاعت خان یو ځای ملوخان ته ډیره بده ماتې ورکړې او ملوخان دماتې دخوړلو او دخپل لښکر د له منځه وړلو نه وروسته د خاندیش په لور تښتیدلې دې. هغه نائب دا خبره په ډیره اندېښمنه توګه کوله. د خپل نائب ددې خبرې په اوریدو سره کوپا تر یوه وخته پورې ټیټ سر ناست و ، او په فکرونو کې ډوب و . په دې وخت کې دپورن مل د فوځونو قوماندان پرتاب په ډیرې اندېښنې سره کوپا ته کتل ، کوپا هم دهغه په لور و کتل او ورته یې وویل چې: ګوره پرتابه ! هغه کار چې مونږ باید مخته کړې وې دهغې په کولو کې مونږ ځنډ وکړ. اوس خو ملوخان د حاجې خان بیټنې او شجاعت خان په لاسو دماتې سره مخ شوې دې ،که چیرې مونږ ددې جنګ په وخت کې د ملوخان کومک ته را رسیدلې واې نو اوس به حالات بل منګه وو . مونږ به حاجې خان او شجاعت خان ته ماتې ورکړې وې. خو ګوره پرتابه ! زما په ذهن کې ناهیلې نه شته. که چیرې ته له ما سره اتفاق وکړې نو اوس هم مونږ ډیر څه کولې شو. دهغه په دې خبره پرتاب ور وکتل او ورته یې وویل: کوپا په دې کې شک نه شته چې ستا جنګې تجربې له ما څخه زیاتې دې. په مالوه کې دملوخان په خاطر اود حاجې خان بیټنې او شجاعت خان په خلاف چې ته هر ډول قدم اخستل غواړې نو زه به دې تر څنګ ولاړ یم. وایه چې اوس ته څه ویل غواړې ؟په دې وخت کې کوپا پرتاب ته مخ کړ او ورته یې وویل چې:

هغو مخبرانو چې د حاجې خان بیټنې او شجاعت خان په لاسو دملو خان د ماتې خبر راوړې دې ،هغوې دا نه دي ویلی چې حاچې خان او شجاعت خان ملوخان ته د ماتې ورکولو وروسته کومې لورې ته تللې او یا یې چیرې پړاو کړې دې. دکوپا نائب په ځواب کې ورته وویل چې:

ګوره کوپا !هغوې ماته ټوله خبره په پوره تفصیل سره کړې ده . دملو خان دماتې وروسته حاجې خان او شجاعت خان دهغه لښکر ټول قتل عام کړې دې، هغه یې تعقیب کړې ، خو اوس خبر راغلې چې هغوې اوس دمالوه په جنوبې برخو کې دملوخان د تعقیبولو څخه لاس اخستې او پړاو یې کړې دې اوتر اوسه پورې هغوې هملته په پړاو کې دي. ددې ځواب په اوریدو سره کوپا خوشحاله شو اوبیا یې دپرتاب په لور وکتل او ویې ویل چې:

ګوره پرتابه ! دکوم مقصد له پاره چې مونږ او تاسې را یوځای شوي وو هغه خو پوره نه شو ،ځکه مونږ غوشتل چې د حاجې خان اوشجاعت خان په مقابل کې ملوخان سره کومک وکړو اوهغوې دواړو ته دماتې ورکولو وروسته هلته په مالوه کې دملوخان نظام حاکم کړو تر څو په راتلونکې وختو کې هغه زمونږ سره د شیرشاه په خلاف یوځای شي خو هغه موقع مونږ له لاسه ورکړه. اوس مونږ غواړو چې د حاجې خان بیټنې او شجاعت خان پر خلاف شپینې عملیات پیل کړو ،په کوم ځای کې چې اوس هغوې پړاو کړې دې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځايه به زمونږد لښکر مخبران زمونږه لارښونه وکړي ،بيا به دشپې په نيمايې کې مونږ پر هغوې باندې شبخون وکړو ، هغوې سره به تر اوسه هم دملوخان د پړاو ټول سامان او نور شيان موجود وي ،مونږ په دې سامانو باندې د ولکې کولو او دې دواړو ته دماتې ورکولو هڅه وکړو ، تر څو هغوې ددې ځايه وتښتي.

دکوپا په دې وړانديز باندې پرتاب مسکې شو بيا يې ورته وويل چې: ګوره کوپا ! زه له تاسره ستا په دې وړانديز کې متفق يم ،کوم وړانديز چې تا کړی دی دهغې په واسطه به مونږ نه يوازې حاجې خان او شجاعت خان ته نه تلافي کېدونکې زيان ورسوو بلکه دهغوې په ولکه کې دخوراک اوحرب په وسايلو به هم ولکه وکړو تر څنګ به يې هغه وسايل او سامانونه يې چې د ملوخان څخه په ولکه کې اخستې دي هغه به هم ترې بيرته راخپل کړو او په دې توګه به په خپل ځواک کې ډيرښت راوړو. کوپا ورته سمدستي وويل چې:

ګوره کوپا ! اوس دې چې له ماسره په دې خبره اتفاق وکړ نو اوس ووايه چې مونږ به څه وخت ددې ځآيه کوچ کوو ؟که مونږ پر هغوې دشپې حملې کوو نو بيا خو بايد همدا اوس او سمد ستي ددې ځايه کوچ وکړو . هسې نه چې زمونږد ور رسيدو دمخه هغوې خپل پړاو دهغه ځآيه پورته کړي او دخپل منزل په لور ولاړ شي. پرتاب دهغه دخبرې سره اتفاق وکړ او دواړو په همدې وخت کې خپلو فوځونو ته د پړاو د پورته کولو حکم وکړ. اوبيا دکوپا د مخبرانو په لارښوونه هغې لورې ته روان شول چيرې چې حاجې خان بيټنې او شجاعت خان پړاو کړی و.

شپه په ډيره منډه تښتيده ، حاجې خان بيټنې او شجاعت خان دملوخان تعقيب پرې ايښې و اوهملته يې دخپلو لښکرو سره پړاو کړې و ، کله چې د لښکر يوشمير مخبرانو هغوې ته خبر ورکړ چې د راجپوتانه د راجه مالديو دسپه سالار کوپا د پورن مل د لښکرو د قومندان پرتاب سره يو ځای پرې د شپې دحملې له پاره راروان دي ، نو د خبر د اوريدو سره سم حاجې خان بيټنې او شجاعت خان دواړه سمد ستي متحرک شول او ددې شبخون د مقابلې له پاره يې ځانونه تيار کړل.

حاجې خان بيټنې او شجاعت خان تر اوسه پورې په خپلوتياريو کې مصروف و چې کوپا او پرتاب دخپلولښکرو سره يو ځای دهغوې پړاو ته نژدې ور ورسيدل. بيا دشپې په تياره کې کوپا د پړاو ښې اړخ ته ولاړ هلته حاجې خان بيټنې دخپل لښکر سره پړاو کړې و . په داسې حال کې چې پرتاب چپ لورې ته ولاړ او دشجاعت خان پړاو ته يې ځان ور نژدې کړ. ددې شبخون پيل مالديو دراجه سالار کوپا وکړه او د قيامت راوړونکې سمندر په څير يې د حاجې خان بيټنې په لښکرو يرغل ورووست. په همدې وخت کې پرتاب هم د شجاعت خان دلښکرو سرته ور رسيدلی و . اودشجاعت خان په لښکر يې بدترينه حمله وکړه.

کوپا او پرتاب په داسې وخت کې په حاجې خان بيټنې او شجاعت خان باندې يرغل وروړ چې هغوې ددې يرغل پر خلاف په پوره بيړه په تياريو کې مصروف و و . په دې اساس ددې شبخون په واسطه حاجې خان بيټنې او شجاعت خان ته پوره زيان ور ورسيد. خو هغوې ډير ژر خپلې لښکرې بيرته را منظمې کړې ، ددې وروسته لمړی حاجې خان بيټنې خپله حمله پيل کړه اوکوپا د لښکر حملې يې لږ څه تم کړې ، په همدې وخت کې شجاعت خان هم د پرتاب پر خلاف ځوابي حمله پيل کړې وه . د وېرانو په سيمه کې دغه جنګ په پوره توګه د حاجې خان بيټنې او شجاعت خان په خلاف روان و . ځکه چې ، د يوې لورې هغوې ددې شبخون په مقابل کې پوره تياری نه و نيولی اود بله اړخه د کوپا او پرتاب د لښکرو شمير ددوې دواړو د لښکرو څخه څو برابره زيات و. په دې خاطر حاجې خان بيټنې او شجاعت خان د کوپا او پرتاب په مقابل کې تم نه شول. لږه شيبه جنګ دوام وکړ او بيا حاجې خان بيټنې او شجاعت خان دواړو د کوپا او پرتاب په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسو ډيره بده ماتې وخوړه. او دخپلو ځانو دخوندي کولو په خاطر دخپلو هغه پاته عسکرو سره يو ځاې د ميدانه وتښتيدل. کوپا اوپرتاب ترلږه وخته پوري دهغوې پسې شاته ولاړل اوبيا يې د حاجي خان بيټني او شجاعت خان دپړاو په هر څه باندې ولکه وکړه. په دې توګه کوپا او پرتاب دخپلو دغو عملياتو په واسطه حالات په خپله ګټه را واړول.

کوپا اوپرتاب د حاجي خان بيټني او شجاعت خان دپړاو په هرشي ولکمن شوي وو ،هغوې هر لاسته راغلې شې تر سترګو تيراوه. بيا کوپا په خوشحالۍ سره پرتاب ته وويل چې:

پرتابه ! هغه څه چې مونږ د حاجي خان بيټني او شجاعت خان دپړاو څخه تر لاسه کول دهغه زيات مونږ ته تر لاسه شوي دي. ډيرزيات د خوراک څښاک سامان ، د حرب ډير زيات وسايل او.. ، ددې ترځنګ مونږ هغوې دواړه بلکل لوڅ کړي دي او دهغوې لښکر مو له منځه وړې دې. زما په آند چې اوس به هغوې دلته په مالوه کې د اوسيدو جرءت و نه کړي. پرتاب ورڅخه وپوښتل چې: کوپا ! ته څه فکر کوئ چې اوس بايد مونږ څه وکړو؟

کوپا ورته وويل چې ! ګوره پرتابه ! اوس خو زمونږ په وړاندې بل کوم ځواک نه شته چې مونږ ورسره و جنګيږو .د حاجي خان بيټني او شجاعت خان نه وروسته اوس درې ستر ځواکونه زمونږ تر مخه دي چې مونږ راجپوتانو ته خطر ناکه ثابتيداې شي. يو د شيرشاه سوري ، بل د شيرشاه سورى د اعلي سالار خواص خان اودريم د هيبت خان نيازي ځواک دې. شيرشاه سوري همدا اوس د راجپوتانه په پول کې پروت دې او د هغه سپه سالار د راجه بير بهان د ټکولو پسې تللې دې ،تر هغې چې خواص خان د شيرشاه سوري سره نه وي يو ځاې شوې شيرشاه سوري به په راجپوتانه باندې يرغل ونه کړي خو تر هغې چې د هيبت خان نيازي پورې اړه لري هغه اوس په پنجاب کې مصروف دې غواړی په پنجاب باندې خپله ولکه کلکه کړي اوبيا د سيند سيمې هم د شيرشاه سوري د سلطنت برخې وګرځوي.

ګوره پرتابه ! مونږ بايد اوس يواځې اويواځې په شيرشاه سوري سترګې ورکلکې کړو او هغه د ځارنې لاندې و نيسو ،زما په آند چې مونږ بايد داټول شيان راټول کړو اوستاسې د مرکز راې سين په لور يې يوسو ،دخوراک او حرب کوم وسايل اوذخاير چې مونږ تر لاسه کړي دى هغه به ټول تاسې ته تسليم کړو ، زه دخپله ځانه سره راجپوتانه ته هيڅ هم نه وړم. ځکه هلته مونږ سره خوراکې توکې اوحربي سامان زمونږ داړيتاو څخه ډير پروت دې اودهمغې په واسطه مونږ ددې وړتيا لرو چې تر څو کالو پورې دحمله کونکو سره مقابله وکړو. پرتاب سمد ستې دهغه خبره ور پرې کړه او ورته يې وويل:

کوپا !دا خوستا ډيره مهرباني ده چې ته زمونږ په اړه داسې فکر کوې. کوپا ورته سمد ستي وويل:

ګوره پرتابه ! زه پر تا باندې احسان نه کوم ،مونږ ټول راجپوتان يو ،تاسې هم راجپوتان ياست. په دې اساس ستاسې مرسته او کومک زمونږ دنده ده. ګوره ، تر راې سين پورې به دواړه يوځاې ولاړ شو ، زه به هلته تر څه مودې پورې پاته شم او د راې سين دراجه پورن مل مننه به وکړم اوبيا به دراجپوتانه په لور حرکت وکړم.

هغه حالات چې زمونږ مخته راځی هغه به داسې وي چې د اريل دراجه بيربهان ته دماتې ورکولو وروسته به خواص خان بيرته دشيرشاه سوري سره يوځاې کيږي ، بيا به شيرشاه سوري په راجپوتانه يرغل کوي. پرتاب دکوپا خبره ورغوڅه کړه او ورته يې وويل چې: کوپا ! که شيرشاه سورى په راجپوتانه باندې دحملې له مخه پر مونږ حمله وکړي نوبيا ؟کوپا ورته په انديښنې سره وويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره پرتابه ! ستا دا خبره سهي ده . ځکه ستا سو عسکری ځواک زمونږ په نسبت ډیر کم دې . کیدې شي چې شیرشاه سوری لمړی د کوچني ځواک سره ټکر وکړي او هغوي له منځه یوسي او بیا دهغې وروسته په ستر قوت باندې د حملې له پاره ځان برابر کړي . خو پرتابه ! تاسې اندیښنه مه کوئ که چیرې شیرشاه سوري په راجپوتانه باندې حمله وکړي نو بیا تاسې په خپل ځاې باندې خوندی اوسئ . زمونږ دبسپنې له پاره هغه لورې ته مه راځئ ، ځکه مونږ ددې وړتیا لرو چې په خپله دشیرشاه سوری مقابله وکړاې شو . او هغه دراجپوتانه څخه بیرته وځغلوو . خو که چیرې شیرشاه سوري لمړی په تاسې باندې دحملې کولو تکل وکړ نو زه به دیوه لښکرسره یو ځاې ستاسې دکومک له پاره رامنډه کړم. او په هیڅ توګه به پری نه ږدم چې شیرشاه سوری په رای سن او چندریرې باندې ولکه وکړی. کوپا غلې شو نو پرتاب یو ځل بیا دلږ څه فکر وورسته وویل چې :

کوپا ! ته په ریښتونې توګه یو مهربانه او ستر شخصیت یې . کوپا ورته وویل چې : راځه چې شیان ټول راټول کړو او بیا دراې سین په لور روان و خوزیږو .

۷۰

کوپان او پرتاب دواړه دخپلو فوځونو سره یوځاې دبریاو او کامیابیو په خوشحالیو کې د بندیاچل د غرنیو لمنو څخه د تیرې شوې لارې په شاهراه باندې دراې سین په لور روان وو. شپه په ختمیدو وه او د شرق څخه د لمر دراختو نښې ډاګیزه شوې وې د افوقونو په تندی وینه را ښرګنده شوې وه ، هرې لورې ته هرشې په ښرګنده او واضحه توګه تر سترګو کیده .

کوپا او پرتاب دواړه د خپلو خپلو لښکرو سره یو ځاې په ډیره مستۍ او بې فکرۍ کې په دې لویه لاره باندې سفر کاوه ، کله چې دغه لویه لاره د غرنیو لړیو په یوې وادي کې ورننوته نو کوپا په ډیرې اندیښنې سره خپل فوځ ته د دریدو حکم وکړ ، هغه وکتل چې د کوهستان دبندیا چل په دې وادی کې یوه لښکر دهغوې مخه نیولې ده . دلښکرو دتم کیدو نهوروسته کوپا سمدستې خپل وسلوال کسان ور ولیږل ترڅو هغوې دا ډاګیزه کړې چې ددوې تر مخه ولاړ لښکر د چا دې . دکوپا د حکم سره سم دهغه څو کسان په خپلو اسونو باندې سپاره په ډیره ګړندۍ توګه هغه لورې ته ورغلل . د لږ ځنډ وروسته هغه سپاره بیرته سپره مخونه راستانه شول،هغوې ډیر اندیښمنه او غمژن ښکاریدل ،کوبا ترې وپوښتل چې ایا تاسې ښرګنده کړه چې په مخکې ولاړ لښکر د چا دې ؟ د کوپا په ځواب کې دهغه یوه وسلوال کس ورته وویل چې : لاره تم کونکې لښکر د شیرشاه سوری د سالار خواص خان لښکر دې .

د وسلوال ځوان دخبرې په کولو سره دکوپا حالات داسې شول لکه دماښام په څلور لارې دبې نوره اسمان لاندې په پروت منزل کونکې باندې دغه سفر په سترګو داسې درنیږي لکه چا یې چې سترګو ته کلف ور اچولې وي . دهغه په سترګو کې همداسې کلفونه او تیارې تیارې را ولاړې شوې ، دهغه حال داسې وګرزید لکه یو څوک چې د جنازې د میدان څخه راستنیږي. کوپا تر یوه وخته پورې همداسې سرګردانه و خو بیا یې په خپل څنګ کې ولاړ پرتاب ته وکتل او ورته یې وویل چې :

ګوره پرتابه ! دا دفطرت قانون دې چې دخباثت څخه خباثت ، دنا انصافۍ څخه نا انصافي او د جبر څخه جبر را پیدا کیږي. که چیرې د وندیاچل د کوهستان په دې وادیو کې دشیرشاه سوری سالار خواص خان پر مونږ باندې دحملې کولو هڅه وکړي نو و به ګورې چې مونږ به دهغه دحملې په مقابل کې پر هغه ددې نه هم سخته حمله وکړو او بیا په دې وادي کې هغه ته دځان خلاصون هم شونې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلږه وخته پورې خاموشي خپره وه . لږ وروسته یې بیا دخپلو وسله والو ځوانانو څخه وپوښتل : تاسې څه ډول معلومه کړه چې په لاره کې ولاړ د خواص خان لښکر دی . یوه وسلوال ځواب ورکړ چې :

ګوره محترم کوپا ! کله چې مونږ د هغوی لورې ته ورغلو نو د هغوی څو کسو مونږه و نیولو او خپل ستر سالار خواص خان ته یې یوړو ، په دې اساس مونږ و پوهیدو چې دا لښکر د خواص خان لښکر دی . مونږ هغه ته وویلې چې مونږ خپلو سالارانو کوپا او پرتاب را استولي یو . تر څو مونږ وپوهیږو چې زمونږ په لاره کې ولاړ لښکر د چا دی ؟ هغه زمونږ د ریښتیا ویلو څخه ډیره زیات خوشحاله شو او مونږ ته یې د بیرته تللو اجازه راکړه . خو د بیرته را ستنیدو په وخت کې یې چې کومې خبرې مونږ ته کړې دي د هغې څخه د هغه خونخوارۍ ډاګیزیږي . کوپا ترې په لږ زید لپې او از و پوښتل چې : هغه تاسو ته څه ویلي دي ؟ وسلوال ورته وویل چې :

دشیرشاه سوري دغه سالار مونږ ته وویل چې مونږ ولاړ شو او کوپا او پرتاب ته ووایو چې زما نوم خواص خان دی ، زه د خپلو له پاره د ځپانده تیز لمر څخه د خلاصون سیورې او د دښمنانو له پاره دیخو سیورو ګرم او سوزیدونکې لمر ګرځم . هغه وویل چې کوپا او پرتاب ته دا ډاګیزه کړه چې په دې کوهستاني وادی کې به د هغوی دواړه وجودونه ټوټې ټوټې کړم .

پرتاب د دې ویریدونکي خبرو په اوریدو سره په لړزه راغې خو کوپا په ډیرې حوصلې سره وویل چې : خواص خان هسې چټیات وایی . زه به په دې جنګ کې په یقیني توګه د هغه حرمتونه له منځه یوسم . هغه تر او سه پورې زما سره د ټکر کولو اندازه نه ده اخستې . زما نوم کوپا دی د شمال څخه تر جنوبه پورې او شرق څخه تر غربه پورې ټول راجپوتان زما د نامه سره ښه اشنا دي . ټول پوهیږي چې کوپا ناقابل تسخیر دی . تراوسه هیچا ورته ماتې نه ده ورکړې . واورئ زما ملګرو ! دکوهستان د بندیاچل په وادي کې به دشیرشاه سوری دغه سپه سالار په خپلو وینو کې لمبیږي او مرګ به یې په برخه کیږي .

کوپا تر یوه وخته پورې خاموشه پاته شو . او وروسته یې یو ځل بیا د خواص خان دلښکر موندونکې وسلوالو څخه وپوښتل چې : ایا ته ویلې شې چې د خواص خان سره به څومره لښکر موجود وي ، او زمونږ د متحده لښکر سره به یې تناسب څه ډول وي ؟ د هغه په خبره هغه وسلوالو ځوانانو په خپلو منځو کې مشوره وکړه او بیا یې ځواب کې وویل چې :

دشمیرې له اړخه به مونږه په ډاډ سره د خواص خان په لښکر پورته والې ولرو . که چیرې زمونږ لښکر د خواص خان څخه دري هومره زیات نه وی نو دوه هومره خو هرو مرو زیات دی . د دې وسلوالو ځوانانو د ځواب په اوریدو سره د کوپا حوصله را پورته شوه او په مخ یې خوښې راپیدا شوه ، کوپا د حالاتو څخه ډاډمن شوې و نو په دې خاطر یې د پرتاب په لور وکتل او ورته یې وویل چې : ګوره پرتابه ! اوس مونږ ته په کار دي چې په دې خواص خان باندې د حملې کولو له پاره یو پلان ترتیب کړو . هغه پلان چې په دې اړه زما په ذهن کې را ګرځې هغه به ستا تر مخه کیږدم . که چیرته پر هغې باندې کوم اعتراض لرې او یا په کې کومه خامې وینې نو راته یې ووایه تر څو د همغې مطابق خپل پرواګرام مخته یوسو . پرتاب په پوره غور سره دکوپا په لور وکتل . کوپا یو ځل بیا ورته یې وویل چې : ګوره پرتابه ! د همدې ځایه به دخپلو لښکرو د لیکو د منظمولو څخه وروسته مونږ مخته ورځو . په کوم ځای چې مونږ ولاړ یو د همدې ځای شاته به دفوځ پړاو کوو . ځکه چې د شا له اړخه کوهستاني سیمه ده . په دې خاطر په پړاو باندې به د شا له اړخه د حملې کولو کوم خطر نه احساسیږي . هغه مال چې د مخه له مونږه سره دی اویا مو د حاجې خان بیټنې او شجاعت خان څخه تر لاسه کړې دي هغه به هم په همدې پړاو کې پریږدو . اوس به مونږ دواړه دخپلو فوځونو لیکې سمې کړو . او بیا به یوځای او په متحده توګه مخته ورځو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به د خواص خان د لښکر په لور د ورتللو په وخت کې خپل پلان ته اخري شکل ورکړو. ګوره پرتابه! په هغه ځاې کې چې خواص خان دخپل فوځ سره یو ځاې پړاو کړې دې ،نو ته خو وینې چې دهغې چپ اړخ ته روانه کوهستاني ویاله هم شته. چې دجنوب شرق لورې ته بهیږې اوراې سین ته رسیږي. دخواص خان لښکر ته په ور رسیدو سره ته سمد ستې دخپلو فوځونو سره یوځاې د هغه چپ لورې ته ځان ورسوه او دخواص خان په لښکر د چپ لورې څخه حمله وکړه.

زه به دخپل لښکر سره یو ځاې ښې لورې ته ولاړشم اودخواص خان لښکر به دهغې لورې تر خپلې ضربې لاندې و نیسم . په او سنې حالت کې به مونږ د خواص خان دلښکر منځنۍ برخه بلکل له نظره وکاږو . په دې توګه کله چې ته د چپ لورې او زه هم د ښې لورې د خواص خان په لښکرو باندې حمله وکړم نو خواص خان به هم خپل لښکر په دوو برخو باندې ویشي. یوه برخه به یې زما لورې ته اوبله برخه به یې ستا لورې ته متوجه کوی. په دې توګه دهغه لښکر به په دوو برخو وویشل شی او دخواص خان توجه به هم په دوو برخو وویشل شی ، نو زه هیلمن یم چې مونږ به په څو لمحو کې هغه د پښو څخه وغورزو ، اوکله چې هغه یو ځل زمونږ تر مخه د میدان څخه وتښتې نو تر هغه وخته پورې به یې تر شا ځو ترڅو چې هغه اودهغه لښکر په مکمله توګه له منځه نه وي تللې.

بې له شکه چې کوپا په راجپوتانو کې ډیر زیرکه ، چالاکه او د فکر خاوند تصور کیده. د راجپوتانه راجه مالدیو پرې ډیر زیات باور او اعتماد کاوه. هغه یې د دشمن په مقابل کې اخري سپر ګاڼه. خو خواص خان د کوپا څخه څو څو ځله زیات د تجربو خاوند و. باران کتلې اوازمویل شوې جرنیل و. دبدو نه بدترو حالاتو کې هم هغه خپل سینه سپر کړې اودضرب دوهلو همت اوجرءت یې کړې دې. هغه په دې پوهیده چې ددښمن لښکر په دوو برخو ویشل شوې دې، دیوه سالار کوپا اودبل پرتاب دې ،په دې خاطر هغه هم خپل لښکر په دوو برخو باندې وویشه. یوه برخه یې په خپله قومنده کې واخسته اوبله یې د خپل نائب جلال خان جالو په قومندې کې ورکړه او بیا یې په ډیره بې صبرۍ سره دکوپا اوپرتاب له اړخه دحملې کولو انتظار پیل کړ.

کوپا اوپرتاب هم د سترګو په رپ کې خپل لښکر دحملې له پاره ور مخته کړ ، په دې وخت کې د خپل فوځ تر مخه ولاړ په آس سپور خواص خان خپل سر د آس تر زینه پورې ټیت کړې و اوپه دیره عاجزۍ سره یې دخپل خداې نه دبرې اوموفقیت له پاره دعاوې کولې.

ددعایه کلماتو دخلاصون وروسته ، خواص خان خپل سر را پورته کړ، ویې کتل چې دښمن نور را نزدې شوې دې ،دهغوې په کتلو سره دخواص خان ټټره و غوړیده ،په خپلو لاسو کې یې توره او ډال ټینګ و نیول. بیا یې په لوړ اواز سره د تکبیر غږ وکړ ،دهغه د تکبیر دغږ سره سم ، دهغه په څنګ کې ولاړ جلال خان جالو هم دتکبیر غږ پورته کړ ، د خواص خان او جلال خان تکبیرونه ددې خبرې ننښه وه چې هغوې د دشمن د مقابلې له پاره تیار دي.

کوپا اوپرتاب هم د ډیرې کینې اوحسد په لمبو کې دخپلو لښکرو سره رامخته شول اوحمله یې پیل کړه. دحملې پیلامه پخپله کوپا وکړه. هغه د جلال خان جالو په لښکرو باندې د خپل ټول توان سره را پریوت. جلال خان جالو په لمړیو کې د کوپا حمله و تمبوله اوبیا یې دکوپا پر خلاف په ځوابی حملې لاس پورې کړ.

دکوپا تر څنګ پرتاب هم دخواص خان دلښکرو پر خلاف حمله پیل کړه ، په دې وخت کې خواص خان لکه د غره په څیر ثابت و درید او یواځې د پرتاب دحملې د تم کولو په اړه یې فکر کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا نو خواص خان هم په وحشت اودهشت کې راغې ،ددفاع څخه یې ځان وویست اودپرتاب په فوځ یې خونړۍ حملې پیل کړې ، دپرتاب لښکرو د خواص خان دحملې مقابله و نه شوه کولې ، په لړه شیبه کې پرې د جنګ میدان د محشرډګر وګرځید او په دې ترتیب پرتاب د ماتې سره مخ شو او کوپا په لور و تښتید. خواص خان دهغه تیښته د خپل ځان له پاره ډیره ښه موقع وګڼله اودهغه دلښکر تر شا ولاړ او د شا له لورې یې دهغوې لښکر یو په بل پسې له منځه یوړ.

کله چې پرتاب د تیښتې وروسته د کوپا دلښکرو شاته ور سید په دې توګه د لښکرو د یوځاې کیدو سره سم د کوپا لښکرو دجلال خان جالو په لښکرو باندې فشار ور زیات کړ ،خو کله چې خواص خان د پرتاب تر شا هلته ور ورسید نو هغه د کوپا په لښکرو کې د شا له اړخه مرګونې توپان راکیو ست او دهغوې حالت یې دبدو نه بدترو په لور یوړ.

دبله اړخه کله چې جلال خان جالو وکتل چې دهغه اعلې سالار خواص خان پرتاب اودهغه لښکر ته ډیره بدې ماتې ورکړې ده او اوس پرتاب دکوپا تر څنګ راغلې دې.او دا چې اوس کوپا دشا له اړخه خواص خان هم حمله کړې ده نوبیا جلال خان جالو د دفاع دحالت څخه ووت او دکوپا په لښکرو یې مرګونې ګذار پیل کړ ، په داسې حال کې چې د شا له اړخه خواص خان د کوپا دلښکرو بیخ اوبنسټ راویستلې و.

ددغې دوه اړخیزه حملې په واسطه کوپا اوپرتاب ډیر ټینګ نه شول او دماتې خوړلووروسته یې دراپسین په لویه لاره تیښته وکړه. په همدې وخت کې چې کوپا اوپرتاب د تیښتې له پاره ځانونه چمتوکول نو حاجې خان بیټنې او شجاعت خان هم دخپلو پاته شونو لښکرو سره یو ځاې همدې وادۍ ته را ننوتل.او دهغې لورې یې په کوپا او پرتاب باندې یرغل پیل کړ.

دحاجې خان بیټنې او شجاعت خان ناڅاپې راتګ خواص خان ته ډیر ستر قوت ورکړ هغه سمدستې حاجې خان بیټنې او شجاعت خان ته حکم وکړ چې هغوې دې ددښمن د پړاو نه علاوه دخپل پړاو شیان اودخپل پړاو ښځې له ځانه سره یو ځاې کړې اودراپ سین په لور دې حرکت وکړي. پخپله جالو خان او خواص خان د کوپا او پرتاب تر شا ولاړل.

حاجې خان بیټنې او شجاعت خان دواړو د هر څه دمخه د کوپا اوپرتاب د پړاو ټول شیان سره راټول کړل ،دهغې وروسته یې دخواص خان دپړاو شیان هم راټول کړل اوبیا دواړه یعنې حاجې خان بیټنې او شجاعت خان د خپلو ټولو شیانو سره یو ځاې دراپ سین په لور وخوزیدل.

ددې اړخه خواص خان او جلال خان جالو په ډیره بیړه د کوپا او پرتاب پسې روان وو اوپر هغوې یې دشا له لورې حملې کولې اودهغوې دلښکرو شمیره یې وار په وار را کموله.

د غرنیو لړیو څخه د وتلو وروسته کوپا اوپرتاب په خپلو کې سره سلا وکړه ، اوخپل خپل لښکر یې سره جدا کړل ، پرتاب دخپل لښکر سره یو ځاې په ډیره ګړندۍ توګه د راپ سین په لور ولاړ. په داسې حال کې چې کوپا بیرته د راجپوتانه په لور دحرکت له پاره بله لاره و نیوله. په دې وخت کې خواص خان جلال الدین جالو ته د پرتاب تر شا دتللو حکم وکړ اوپه خپله د کوپا د فوځونو تر شا ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خان تر ډيره ځايه پورې د کوپا تر شا ولاړ. تاريخپوهان چې دکوپا د ميړانې ، شجاعت ، جنګې تجربو او ...په اړه په ليکنو نه ستومانيږي ، همغه کوپا د خواص خان تر مخه لکه د ګوره خر په څير چې کوم غوښې خوړونکې حيوان مخکې کړې وي او ځغلې داسې ځغليده .

خواص خان تر ډيره پورې کوپا تعقيب کړ خو کله چې ورته څرګنده شوه چې کوپا بې ضرره شوې دې نو بيرته د راې سين په لور راستون شو ، تر دې وخته پورې جلال خان جالو هم د پرتاب تر شا په ډيره ګړندۍ توګه روان و ان تر دې چې پرتاب د راې سين ښار ته ورسيد او هلته يې ځان کلا بند کړ. خو جلال خان جالو د راې سين د ښاره لږ څه بيرون د خپل لښکر سره يوځاې پړاو وکړ.

تر دې وخته پورې حاجې خان بيټنې او شجاعت خان هم د پړاو د ټولو شيانو او د خواص خان د پړاو د ښځينه و سره يوځاې هلته را ورسيدل. خواص خان هم را ورسيد او هلته يې د راې سين څخه بيرون په غرنيو لمنو کې د خپل لښکر له پاره د خيمو يو کلې اباد کړ ،کيدې شې چې هغه په راې سين د حملې کولو او په هغه ښار باندې د ولکې کولو اراده درلوده.

هغه وخت چې حاجې خان بيټنې او شجاعت خان دواړه هلته را ورسيدل ،نو دواړه يوځاې د خواص خان خدمت کې حاضر شول. په دې وخت کې جلال خان جالو هم هلته موجود وو. تر ډيره وخته پورې حاجې خان بيټنې او شجاعت خان په ډير ستاينکې سترګو باندې د خواص خان په لور کتل. بيا شجاعت خان خواص خان ته مخ کړ او ورته يې وويل چې :

امير خواص خانه ! په خداې سوګند چې هغه څه چې زه يې وايم ستا صفت او ستاينه نه ده بلکه حقيقت او رېښتيا دي. اميره !حقيقت دا دې چې ته د هغو ځوانانو څخه يې چې مونږ ستا په شخصيت باندې وياړ کولې شو ، خداې شته چې ما دا کوپا او پرتاب دواړه د خپل ځان له پاره ډير خطرناک ګڼل . خو تا هغوې دواړو ته ډيره بده ماتې ورکړه اود هغوې لښکر دې ورختم کړ اودا دې ثابته کړه چې د شيرشاه سورى سالار خواص خان ناممکن ممکن ګرځوي او نا قابل تسخير تسخيروي.

شجاعت خان غوښتل نور څه هم ووايې چې خواص خان يې خوله ورټپه کړه او ورته يې وويل چې : ګوره شجاعت خانه ، زما دوسته. دداسې ستاينو اړتيا نه شته اونه زه داسې ستاينې اورم. زما وروره ! هغه څه چې ما کړې هغه زما په دندو کې شامل وو. زه د دښمن په مقابل کې د سر د ورکولو په فن پوهيږم. سوګند په واحد ذات چې داخو لا يو کوپا و چې داسې کوپا ګان هم راشي نو بيا به يې هم زه مرۍ ور پرېکړم.

په ځواب کې ورته شجاعت خان او يا بيټنې هيڅ يو هم څه و نه ويل ، بس په چپه خوله يې په ډيره مينه د خواص خان لورې ته کتل. بيا خواص خان جلال خان جالواو حاجې خان بيټنې او شجاعت خان درې واړو ته وويل چې ،تاسې درې واړه لښکر و ته ولاړ شئ او د لښکريانو د خوراک څښاک له پاره ښه انتظام وکړئ ، او هغوې ته د ارام او سهولتونو له پاره ځايونه برابر کړئ ، د لښکرو يوه برخه د تيارسئ په حال کې وساتئ ترڅو هغوې پهره وکړي ، هسې نه چې د شپې په تياره کې پرتاب او يا د هغه کاکا د راې سين څخه را ووځي او زمونږ پر خلاف د شبخون هڅه وکړي ، زه اوس د خپلې خيمې په لور ورځم او د خو به مخته شيرشاه سورى ته يو قاصد استوم ترڅو د ټولو حالاتو څخه يې خبر کړي. او هو ! زما خيمې ته هم ډيره ژر ډوډۍ را وليږئ. ځکه چې زه ډيره لوږه احساسوم. د دې خبرې سره سم جلال خان جالو ، حاجې خان بيټنې او شجاعت خان درې واړه د لښکر د خوراک څښاک له پاره د هغه ځايه را ووتل . خواص خان هم شيرشاه سورى ته د يوه قاصد د ليږلو له پاره يو کس را وغوښت او بيا د خپلې خيمې په لور ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې خواص خان خپلې خیمې ته ورسید نوګورې چې په خیمه کې قالینې خپرې دي او د قالینو دپاسه په توشک باندې ګنګا نیمه پرته ده او دخپل کوچني زوې سره په مینه لګیاده ساعت تیروي. دخواص خان دکتلو سره سم یې کوچنې په ځانګو کې واچاوه او بیا یې دخواص خان په لور رامنډه کړه او په پوره ځواک سره یې دخواص خان څخه غیږه چاپیره کړه او ورغاړې وتله. او په خپل ډیره خوږ غږ یې وویل چې:

زما حبیبه ! زه تاته د راجپوتانه دراجه مالدیو د سپه سالار کوپا او دراې سین دراجه پورن مل د قومندانانو او سالار پرتاب پر خلاف د بریا مبارکي درکوم ، دهغې په دې خبره خواص خان په خندا شو او وېې ویل چې ګوره ګنګا ! په داسې شکل دمبارکۍ د راکولو اړتیا نه شته.ځکه چې زما فتحه ستا فتحه ده په دې کې ستا کړچار هم شامل دې ،ځکه چې هغه کورنۍ ماحول چې تا زما له پاره جوړ کړې دې د همغې په اساس زما کړچار نور هم ډیر ښه شوې دې.

بیا خواص خان دګنګا څخه جدا شو اود ځانګو په لور ورغې ،په دواړو ګونډو کیناست ، او په خندا یې خپل کوچنې ته پیل وکړ ، دهغه سره یې مینه وکړه ، ښکل یې کړ او تر ډیره وخته پورې ورسره په خبرو کې بوخت و. بیا دوباره د کوچني څخه راپورته شو او دګنګا څنګ ته ولاړ. ګنګا ورته یو ځل بیا وویل :

دا دراجپوتانه دراجه مالدیو سالار چې ستا تر مخه لکه د ګوره خر په ځیر ځغلیده نو دهغې څخه به د راجپوتانه او دهندوستانو نورو راجپوتانو ته دا راڅرګنده شوې وي چې دکوپا په څیر ناقابل تسخیر او شجاع انسان هم دخواص خا ن تر مخه هیڅ نه دې ، هغوې ته به دا خبره څرګنده شوې وی چې دشیرشاه سوری اعلې سالار خواص خان سره مقابله کول دداسې سالارانو د وس کار نه دې.

دګنګا ددې خبرو په وخت کې خواص خان هغې ته کتل او خندل یې. بیا یې وویل چې:

ګوره ګنګا ! راجپوتان به یوآځې دا خبره نه کوی چې ګویادوې د شیرشاه سوری داعلې سالار خواص خان تر مخه نه شي دریدې بلکه خلک به دا هم وایې چې کوپا د راجه هرکشن دراج کماري (شهزادګۍ) ګنګا میړه خواص خان تر مخه ټینګ نه شو. ګنګا دخواص خان ددې خبرو څخه خوند اخسته. بیا یې دخواص خان دواړه لاسونه ونیول او په قالینو باندې په خپور توشک یې له ځانه سره کیناوه ، تر لږه وخته پورې میړه اوښځې په خپل منځ کې خبرې کولې ،بیا یې خوراک راغې اودواړو په ډیره مینه خپله ډوډۍ وخوړه.

۷۱

یوه ورځ ماښام ناوخته شیرشاه سوری دخپلو زامنو او دخپل سالار برهم جیت سره یوځاې، دراجپوتانې په پوله په خپل پړاو کې ، په خپله خیمه کې ناست و چې دخیمې دروازې ته د کوچیانو دقبیلې سردار فدایي خان اودهغه زوې اسماعیل خان دواړه رغ غلل. فدایي خان د راتلو سره د احترام او درنښت له پاره خپل سر راښکته کړ او ودرید اوشیرشاه سوري ته یې وویل چې:

تاسې زه را بللې وم، ایا زه دننه راتلاې شم . د فدایي خان اودهغه د زوې اسماعیل خان دکتلو سره سم شیرشاه سوری دخپله ځایه راپورته شو دهغه د پورته کیدو سره سم دهغه زوې او دهغه سالار هم راپورته شول ،بیا شیرشاه سوری په ډیر شفقت او مینې سره فدایي خان ته وویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فدای خانه ! رینبتیا هم چې ته مارا بللې یی. خو ته باید دپردیو په ځیر په دروا زه کې و نه دریږې ، سمد ستې دننه راشه څکه چې ته خو اوس په یوه ډول زمونږد لښکر ملګرې یی. او ددې نه علاوه ستا پر ما ډیر زیات احسانات دي چې زه یی بدله نه شم درکولې.

فدایی خان او دهغه زوې اسماعیل خان ډیر خوشحاله شول او خیمې ته دننه ورننوتل. شیرشاه سوری هغوې په خپل څنګ کې کینول ، بیا فدایی خان وویل چې:

درونده او مهربانه شیرشاه ! ته زما دکومو احساناتو خبره کوې. ما خو له تاسره هیڅ احسان نه دې کړې بلکه برعکس ستا پر ما ډیر زیات احسانات دي، ستا سالار خواص خان څو څو ځله له ما سره کومک کړې دې، له ما سره یی بسپنه کړې ده او دا بل ستر احسان دې چې زه اوس ستا په لښکر کې او سیږم او زما د ټولې کوچیانۍ قبیلې مصارف هم تاسې ته در په غاړه دی. دهغه په دې خبرو شیرشاه سوری مسکې شو او ورته یی وویل:

ګوره فدایی خانه ! زما په تا باندې هیڅ ډول احسان نه شته. بلکه ستا پر ما بې شمیره احسانات بار دي. ستا تر ټولو ستر او نه تلافی کیدونکې احسان پر ما دادې چې تا ماته خواص خان راکړې دې ، واوره فدایی خانه ! که ماته خواص خانه نه وې تر لاسه شوې نو زه تاته په ډاډمنه توګه ویلې شم چې هغه فتوحات چې تر ننه پورې مونږ ته په برخه شوې دې ، دهغه پرته په دومره زیاته شمیره بریاوې مونږته په دومره کمه موده کې شوني نه وې. په دې خاطر ستا له اړخه دخواص خان راکول مونږته تر ټولو لوې او ستر احسان دې. چې بدله یی نشم پوره کولې. فداې خان دخوشحالۍ نه وویل: اقا شیرشاه ! ستا وینا بلکل سهې ده ،خواص خان هغه نایابه ګوهر دې چې زما سره یی ارزښت د یوه کانې په څیر و. اقا شیرشاه ! که څه هم هغه ما دخپلو اولادونو په څیر روزلې و خو بیا د ګیدړو د نیولو او ښکار کولو په وخت کې چې کوم جوهر موجود و هغه په ښه توګه نه شو رابرسیره کیدې ، خو ستا په لښکر کې د ورګډیدو نه وروسته هغه ثابته کړه چې هغه څومره ارزښتناکه او نه پیداکیدونکې هیرا ده. د شیرشاه سوری په مخ باندې دخوشحالۍ نښې نورې هم را وځلیدې او بیا یی وویل چې:

فدایی خانه ستا خبره سهې ده. دجنګ په دوران کې فتح او بریا همدا سې خواص خان لټوي لکه څنګه چې قیس خپله لیلې لټوله.

خیمه کې تر لږه څنډه پورې خاموشي خپره وه. وروسته بیا شیرشاه سوری وویل:

ګوره فدایی خانه ! اوس په خیمه کې زما د زامنو څخه علاوه زما سالار برهمجیت هم ناست دې ، ما ته په دې خاطر را بللې یی چې ستا او ستا د قبیلې د اړتیاو په اړه ځانته معلومات تر لاسه کړم. ګوره فدایی خانه ! خواص خان د اریل دراجه بیربهان پر خلاف هم بریې تر لاسه کړې دې نو هغه سامان یی چې دهغوې څخه تر لاسه کړې دې دهغې نیمایی زه تاته او ستا قبیلې ته ورکوم تر څو ستاسو د ژوندانه حالت را ښه شي. خو ګوره فدایی خانه ! دا زه په تا باندې د احسان د بارولو په خاطر نه کوم اونه دا دهغه احسان بدله ده چې دخواص خان د راکړې په اړه یی درکوم. اوس ته زما دلښکر یوه برخه یی. په دې خاطر ستا سره اعانت کول زما دنده ده.

په ځواب کې ورته فدایی خان یواځې او یواځې دممنونیت په سترګو وکتل اوبیا یی ورته وویل چې: اقا دا خو ستا مهرباني ده چې ته زمونږ دومره غم خورې.شیرشاه سوری ورته یو ځل بیا وویل ، خو دا ځل یی دخپل زوې عادل په لور وکتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادله زویه ! اوس خو دا ټول ورونه ، برهم جیت ، فدایی خان او اسماعیل خان له ځانه سره کړه او ولاړ شه ،څومره سامان چې د اریل څخه راغلي دي دهغې نیمایی د فدایی خان قبیلې ته منتقل کړئ ،

دشیرشاه سوري دحکم سره سم دهغه زوي عادل ، برهم جیت ، فدایی خان او اسماعیل خان ټول دخپلو ځایو څخه د راپورته کیدو په حال کې وو چې خیمې ته یو ساتونکې راغې ، د تعظیم له پاره یی سر ښکته کړ او بیا یی په ډیر درنښت شیرشاه سوری ته وویل چې: د راجه پورن مل د راښسین د مرکز څخه د خواص خان یو قاصد راغلي او غواړي له تاسره ووینې. دهغه سره ستا په نامه یو ډیر مهم پیغام دي ،نو که ته یی حکم کوې زه به یی دننه را ولیږم.

د قاصد د غږ سره سم شیرشاه سوری سمدستي دخپله ځایه پورته شو ، دهغه سره دا نور خلک هم دخپلو ځایو څخه راپورته شول ، شیرشاه سوری هغه ساتونکې ته وویل چې دخواص خان قاصد سمدستي دننه راولیږه. هغه قهرجنې شو او ورته یی وویل چې هغه مو ولې ددروازې تر شا درولې دي ؟ هغه ساتونکې بیرون ووت او د لږه ځنډه وروسته یی هغه قاصد له ځانه سره یو ځای خیمې ته را ننویست ، شیرشاه سوري هغه قاصد له ځانه سره کیناوه او ترې ویی پوښتل چې: اوس را ته ووایه چې تا زما د زوې خواص خان څخه څه ډول پیغام راوړې دي اوهم دا راته ووایه چې اوس خواص خان چیرې دي او څه کوي ؟ قاصد لږ څه فکر وکړ او بیا یی شیرشاه سوری ته وویل:

اقا ! تاته به دا خبره رارسیدلي وی چې په مالوه کې حاجي خان بیټني او شجاعت خان دواړو یوځای د ناصرخان بغاوت او دملوخان سرکشئ و ځپلې ، ملوخان ماتې وخوړه او د خاندیش په لور و تښتید. تاسې ته به په دې هم خبر شوي یاست چې داریل راجه بیربهان ته دماتې د ورکولو وروسته خواص خان هم دمالوه په لور را روان و. خو مالوه ته دخواص خان د رارسیدو نه تر مخه په لاره کې یو انقلاب راپیدا شو . هغه وخت چې حاجي خان بیټني او شجاعت خان ملوخان او ناصر خان ته ماتې ورکړه اوپه مالوه کې یی په یوه ځای کې دخپلو متحده لښکرو سره یو ځای پړاو وکړ چې پر هغوې باندې شبخوني حمله وکړل شوه . شیرشاه سوري ترې په حیرانتیا سره وپوښتل چې ؟

په حاجي خان بیټني او شجاعت خان باندې شبخون چا کړي و؟ څکه چې هغوې دواړو د ناصرخان اوملوخان ته دماتې ورکولو نه وروسته هلته پړاو کړې و ، قاصد ورته په ځواب کې وویل چې:

اقا !د راجپوتانه د راجه مالدیو سالار کوپا د یوه لښکر سره یو ځای مالوه ته تللي و ،هغه هلته خپل لښکر ته پړاو ورکړ اوخپل یو نائب یی دهغه قومندان وټاکه ، اوپخپله د راې سین مرکز ته د پورن مل سره د کتلو له پاره ورغې ،هغه د پورن مل سره سازش وکړ او هغه ته یی لالچ ورکړ چې په مالوه باندې ولکه وکړي اوپه دې توګه په خپلو ځواکونو کې ډیرښت راوړي ،پورن مل د کوپا سره اتفاق وکړ او بیا یی خپل نیمایی فوځ دخپل وراره او سپه سالار پرتاب تر قومندې لاندې دهغه سره یو ځای راولیږه ،بیا همدغه متحده لښکر چې د کوپا او پرتاب تر ګډې قومندې لاندې را یوځای شوې و د شجاعت او حاجي خان پر خلاف شبخون وکړ . خو دهغوې شبخون ډیر وینه تویونکې و او حاجي خان بیټني او شجاعت خان ته یی ډیر تاوان ورساوه ، په دې اساس هغوې دواړو ماتې وخوړه او و تښتیدل. کوپا او پرتاب د فاتحینو په څیر په ډیره خوشحالۍ سره د راې سین لور ته روان وو چې په لاره کې د بندلکنډ په کوهستاني سیمه کې یی خواص خان لاره و نیوله. ددواړو لښکرو تر منځه سخت جنګ و شو چې په هغه کې خواص خان کوپا او پرتاب ته سخته ماتې ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

،هغه وخت چې کوپا او پرتاب تښتېدل نو حاجي خان او شجاعت خان هم هلته را ورسېدل ، د ماتې خوړلو وروسته کوپا د راجپوتانه په لور و تښتېد خو پرتاب دخپلو پاته شونو لښکرو سره یوځای په راې سین کې ځان کلا بند کړ . اوس خواص خان د حاجي خان ، شجاعت خان او جلال خان جالو سره یو ځای دپورن مل د مرکزي ښار څخه بیرون پړاو کړی دی او اراده لري چې راې سین ښار کلا بند کړي او بیا پرې حمله وکړي او په مالوه باندې دحملې نه مخته راجه پورن مل ته سبق ورکړي او دهغې ټولې سیمې د خپلې ولکې لاندې راوړي او بیا په راجپوتانه باندې دحملې له پاره ځان تیار کړي.

د قاصد ددې پیغام د اوریدو سره سم د شیرشاه سوری په مخ دخوشحالۍ څپې راښکاره شوې ،په سترګو کی یې دخوشحالۍ عجیبه شانته منظر ځلیده ،تر ډیره پورې خاموشه ناست و بیا یې د لږ څه فکر کولو وروسته وویل چې: خواص خانه زویه !څنګه چې ته غواړې همغسې به وشي. لمړی به مونږ پورن مل تر پښو لاندې کړو او دهغې وروسته به دراجپوتانه په لور رو رخوزیږو .

شیرشاه سوری یو ځل بیا خاموشه شو داسې څرګندیدل چې هغه د ویلو له پاره څه ښه الفاظ لټوي ،بیا یې په خیمه کې په لوړ غږ سره وویل چې: خواص خانه !ته زما هغه زوی یې چې د زمکه په لړزولو ، د غرونو په ټوټه ټوټه کولو ،او د اسمانه د دروازو د پرانستولو په فن باندې ښه پوهیږې.

خواص خانه ! زما د قوم ستر اتل ، د راجپوتانه د راجه مالدیو سالار کوپا داسې یو ستر جنګجو او نه ماتیدونکې تصور کیږي چې دهندوستان راجپوتان هغه نا قابل تسخیر ګڼي. خواص خانه !تا هغه په خپله مخه کې د تږو لیوانو په څیر وځغلاوه او ثابته دې کړه چې داسې جنګجو او ناقابل تسخیر ستا تر مخه د زمانې هسې څک ثابت شوی دی .

تر دې ځایه دخبرو وروسته شیرشاه سوری لږ څه خاموشه شو او بیا یې دخپل زوی عادل په لور وکتل او ورته یې وویل چې: عادله زویه ! د خواص خان ددې قاصد له پاره د خوراک څښاک او د ارام کولو دځای غم وخوره. بیا ددې قاصد په لور د کتلو په وخت کې شیرشاه سوری یو ځل بیا وویل:

نن شپه ته همدلته په پړاو کې قیام وکړه ،مونږ به یوځای ددې ځایه د راې سین د مرکز په لور حرکت کوو اودخواص خان دغوښتنې په مطابق به دراجپوتانه په ځای پورن مل ته سبق ورکړو ، ددې خبرې وروسته شیرشاه سوری یوځل بیا خپل زوی عادل ته وکتل او ورته یې وویل چې:

عادله زویه !اوس تاسې ټول ولاړشئ ، او همدا اوس خپل زیاتې سامانونه راټول کړئ،سبا به لښکر ددې ځایه د راې سین په لور کوچ کوي ، دشیرشاه دحکم سره سم دهغه زوی عادل ، سالار برهم جیت اودخواص خان له لورې راغلې قاصد درې واړه دخیمې څخه ووتل.

بله ورځ سهار وختې شیرشاه سوري دخپل لښکر سره یو ځای دراجپوتانه سرحد ته د راجه پورن مل د مرکز راې سین په لور وخوزید.

۷۲

دماخستن د لمانځه څخه لږه شیبه وروسته شیر شاه سوری د راې سین دښاره بیرون دخواص پړاو ته ورسید. کله چې خواص خان ته دشیرشاه سوری دراتلو په اړه خبر ورکړل شو چې شیرشاه د خپل لښکر سره یو ځای دلته را رسیدلی دی نو سمدستی یې حاجي خان بیټنې ، شجاعت خان او جلال خان جالو له ځانه سره یو ځای کړل او دشیرشاه سوری د ښه راغلاست له پاره دشپې په تیارو کې بیرون

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووتل. دشپې په تیاروکې دخواص خان دلښکر دخیمو تر مخه هر هر ځاې اورونه بل و، مشالونه را څوړند شوې و، شیرشاه سوری د خواص خان د کتلو سره سم دخپله آسه راکیوت، خواص خان ته ورغاړې وت او هغه یې په تندي باندې ښکل کړ او بیا یې ورته وویل چې: خواص خانه زویه تا هغه جنګ ګټلې دې،تا هغه کار کړې دې چې د عام انسان د وسه نه و پوره. تا ګوپا ته ماتې ورکړې او په یوه ډول دې ناممکن ممکن و ګرځاوه، خواص خان ورته په ځواب کې څه و نه ویل،بس د ممنونیت په سترګو یې شیرشاه سوری ته کتل، بیا خواص خان د شیرشاه سورې لاس و نیوه او د پړاو په لور ورسره روان شو. شیرشاه سوری خواص خان ته یو ځل بیا وویل چې:

خواص خانه زویه! ته کملاوتي خپلې خیمې ته یوسه، ګنګا او نیرما به د فدایي خان خیمې ته منتقل کړل شي،په همدې وخت کې فدایي خان هم را نژدې شو او دشیرشاه سوری په لور یې دکتلو په وخت کې وویل چې: اقا! زه به په دې لړ کې دخواص خان سره مرسته وکړم، شیرشاه سورې ورته یو ځل بیا وویل چې: تاسو دواړه ولاړ شئ زه به پخپله د لښکر د پړاو او دهغوې د خوراک څښاک له پاره تیارې وکړم.

دهغه په دې خبره خواص خان او فدای خان دواړه یوې لورې ته شول، فدایي خان ګنګا او نیرمل دواړه دخپله ځانه سره د قبیلې خیمو ته یوړې، په داسې حال کې چې خواص خان په ډیره مینه کملاوتي له ځانه سره کړ ه اودخپله ځانه سره یې خیمې ته یوړه. هغه یې دخپل ځان سره کینوله، ډوډۍ یې یوځاې ورسر ه وخوړل او بیا راووت او دشیرشاه سوری سره دراغلي لښکر له پاره یې د خوراک حښاک د تیارولو حکم وکړ.

بله ورځ شیرشاه سوری دخپلو نورو سالارانو او خواص خان سره یو ځاې د راې سین د ښار په لور ولاړ. دهغوې سره په دې وخت کې دهغوې ساتونکې ډلې هم وې. هغوې لمړۍ دښار د شاوخوا سیمې وکتلې. د راې سین ښار د اوسنۍ بهیلسه په جنوب کې څوارلس میله واټن کې او د اوسني بهوپال دښار څخه نژدې ۲۷ میله شرق لورې کې پروت دې. نن هم ددې کلا نښې نښانې شته چې د وندهیاچل د کوهستاني لړیو د په ډیره لوړه برخه کې تر سترګو کیږي.

دا کلا او ښار دبیتواندي په لور نژدې اوه میله سیمه کې پرته ده د وندهیاچل دکوهستان په کومه لوړه کې چې دا واقع شوې وه نو دهغې لورې شمال او جنوب څخه دوه غرنۍ ویالې د غرونو نورې لړۍ یو دبل څخه جدا کوي. په همدې خاطر د کلا ټینګښت او استحکام نور هم زیاتوي.

د راې سین دشاوخوا سیمو د جایزې د اخستلو وروسته شیرشاه سوری بیرته خپلې خیمې ته راغې اودخپلو زامنو څخه اخوا بې خواص خان، او نورو سالارانو سره په راې سین د حملې کولو په جنګي پلان باندې غور پیل کړ.

که څه هم خیمې ته د راننوتلو وروسته هغه تر لږه ځنډه پورې خاموشه و خو وروسته یې بیا خپلو زامنو، اونورو سالارانو ته وویل چې :تاسو ټولو زما سره یو ځاې دراې سین د کلا جایزه واخستله،اوس وواياست چې په دې ښار دحملې کولو له پاره به کوم تاکتیک استعمال کړل شی، خو واورئ، تر هغو چې زما د ذاتي راې پورې اړونده ده، هغه داده چې دراې سین دکلا په مقابل کې چې کومې غرنۍ سیمې دي په هغوې باندې ولکه کول اړین دي، په دې غرونو باندې تر ټولو لمړۍ توپونه نصب کړئ، څرنګه چې د راې سین د کلا دیوالونه د غرنیو لړیو په واسطه خوندي شوې دي، نو په دې خاطر ددې کلا د سوبې کولو اویا ورته د ننوتلو له پاره مونږ ته په کار دي چې دکوم لوړ ځاې څخه د کلا دیوالونه ترضربې لاندې و نیسو، په دې صورت کې به مونږ څه ګټه تر لاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې شیرشاه سوري غلې شو نو خواص خان ورته وویل چې:

درونده شیرشاه ! ستا وړاندیز په خپل ځای سهي دې او مناسب هم دې. مونږ ته په کار دې چې خپله توپخانه دښار په کوم ستر او پورته ځای کې نصب کړو، په دې توګه مونږ څه تر لاسه کولې شو خو تر څنګ یې زه یوه بله مشوره هم درکولې شم. دهغه په دې خبره شیرشاه سوری ټکان وخوړ او ویې ویل چې:

خواص خانه زویه، ته وو ایه چې له تا سره څه ډول وړاندیز شته. تر څو عملې کړل شي خواص خان ورته وویل چې:

شیرشاه سورې ! ته پوهیږې چې په اوسني وخت کې پورن مل په دوو ښارونو حکومت کوي، یو یې رای سین او بل یې چندریري دې. دپاته کوچنیو کوچنیو کلیو څخه نه پورن مل ته کومک رسیدې شي او نه هغوې ددې توان لري چې بسپنه ورسره وکړي، که مونږ یو اځې راې سین کلابند کړو نو هغه ته به د هغه د بل ښار ګوتې چندریري څخه په پرلپسې توګه کومک رار سیږي او په دې توګه به دا کلابندي ډیره اوږده شی، او په پورن مل باندې به زمونږ له پاره قابو پیدا کول که ممکن وي خو ستونزمن به هم وي.

زما وړاندیز دادې چې د لښکرو یوه برخه د چندریري په لور ولیږو تر څو هغه ښار هم کلابند کړي، نو که په دې توګه مونږ دواړه ښارونه په یوه وخت کې کلابند کړو نو بیا به ددې دواړو ښارونو څخه یوه ته هم کومک نه شی ور رسیدلې. په دې توګه به مونږ به اسانۍ سره وتوانیږو چې پورن مل تر پښو لاندې کړو.

خواص خان د لږ څه فکر کولو وروسته بیا دخبرو لړۍ پیل کړه اوویې ویل چې: دچندریري په لور د لښکرو د لیږلو وروسته باید مونږ خپله توپخانه په کوم ستر ځای کې نصب کړو او بیا دراې سین دکلا په بیروني دیوالونو باندې ګوله باري وکړو، ددې کار له پاره باید مونږ خپل پاته لښکر هم په درې برخو باندې وویشو ، یوه برخه یې د کوهستان لړۍ په لوړو ځایو باندې او پاته دوه برخې د ښار ددیوالو دهغو برخو سره نزدې پټ کیني کومه برخه چې زمونږ د توپخانې د ضربې لاندې راځي

دښار په دیوالونه به په پرلپسې توګه د توپ ګولۍ وریږي، کله چې د ښار کوم دیوال را پریوځې او یا پر هغې کې کوم سوری راپیدا شي او بیا دښار فوځونه دهغې دبیا رغولو له پاره رامخته کیږي نو په سنګرو کې ناست دواړه ډلې لښکرې به پر هغوې حمله کوي، هغوې به له منځه وړي او په دې توګه به دښار دننه د ننوتلو له پاره لاره همواره شي، ځکه چې ما اوریدلي دې چې دراې سین د کلا دیوالونه دوه پوړه لري.

کله چې خواص خان غلې شو نو شیرشاه سوری ورته وویل چې: خواص خانه ! کوم وړاندیز چې تا وکړ په خداې سوګند چې زما په زړه کې هم همداسې تیریدل ، ماته خو ددې نه غوره اوښه بل وړاندیز نه تر سترګو کیږي. اوس به همدغې ستا وړاندیز اوپلان ته اخري شکل ورکړو ، واورئ ! چې زه به دلږې شیبې وروسته لښکر په څلورو برخو وویشم. یوه برخه به زما زوې جلال خان له ځانه سره یوسې او د چندریري ښار به کلابند کړي ترڅنګ به یې جلال خان جالو هم دهغه سره دهغه د نائب په څیر ولاړ شي. دوې دواړه به د چندریرې د کلابندۍ اودهغې د فتحې کولو هڅې وکړي، دلښکر پاته درې واړه برخو څخه به یوه یې د خواص خان تر قومندې لاندې ، اوحاجې خان بیټنې به یې نائب وي ، دلښکرو دریمه برخه به زما د زوې عادل تر قومندې لاندې وي اوشجاعت خان به یې نائب وی او اخري برخه به یې له ما سره ځې چې برهم جیت به مې معاونت کوی. خواص خان او عادل خان دواړه به دخپلو لښکرو سره دکلا ددیوالونو خوا او ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغه ځايو کې سنګرونه نيسي چيرې چې مونږ ګوله باری کوو. زه به دخپل لښکر سره يوځاې د توپخانې څارنه کوم او د ښار د ديوالونو په هغو برخو به ګولۍ وروم چې خواص خان او عادل خان ورسره نژدې سنګرونه نيولې دي.

ددې خبرې سره سم شيرشاه سوری دخپلو جنرالانو دا غونډه پاې ته ورسوله ، بيا د شيرشاه سوری زوې جلال خان دخپلې برخې دلښکر سره يو ځاې د چند ريري په لور وخوزيد. جلال خان جالو ورسره دنا ئب په څير ولاړ.

پاته لښکر خپله توپخانه دراې سين سره نزدې يوه لوړ ځاې ته وخيژوله اوشيرشاه سوری يې تر څنګ پړاو وکړ. خواص خان اوعادل خان هم د ښار دديوالونو هغه برخې ته ولاړ کومې چې د ګوليو ورولو له پاره په نښه شوې وې.

٧٣

دراې سين راجه پورن مل د خپلې لور پاروتي او دخپل سالار او وراره پرتاب سره يوځاې د راى سين دکلا په يوه لوړ برج ولاړ و اوپه خپل مخکې يې په يوه لوړ غر دشيرشاه سوری د توپخانې د نصبولو څارنه کوله. په همدې وخت کې دهغه يو جاسوس په ډيره منډه ځان ور ورساوه ، دهغه دراتلو سره سم پورن مل هغه لورې ته متوجه شو اوغوښتل يې څه ترې وپوښتي چې هغه مخبر ورته وويل :

مهاراجه ! ما تاته د شيرشاه سوری دلښکر په اړوند ډير مهم خبرونه راوړې دي ، هغه د هغه مخامخ کوهستاني لړۍ په سر باندې خپله توپخانه نصب کړې ده . اوپخپله هم دخپل لښکر د يوې برخې سره همتله رسيدلې دې ، اوس د شيرشاه سورې د جنګ پلان دا دې چې : هغه به دهمغه ځايه دښار بيروني ديوالونه ترضربې لاندې نيسي او دديوالونو د له منځه وړلو هڅې به کوي، هغوې هغه ځاې د مخه په نښه کړې دې . دهمدې ديوال شاوخوا کې د شيرشاه سوری سالار خواص خان اودهغه زوې عادل خان پټ سنګرونه نيولې دي ، دهغوې آند دادې چې کله ګوله باري پيل شی اود راې سين دديوال دا برخه له منځه ولاړه شي نوبيا به د شيرشاه سوری سالار خواص خان اودهغه زوې عادل ددوو مختلفو سيمو څخه دکلاد دغه راپريوتې ديوال څخه را ننوځي او دوه کاره به کوي ، لمړی داچې هغوې به دديوال ددې برخې دبيا جوړولو کارنه پريږدې چې تر سره شي اودهغې په بيا جوړونکو به حمله کوي ،تر څنګ به يې هغوې د ښار دديوالونو هغه ډيره نازکه برخه هم ويني تر څو دهغې لارې شيرشاه را ننوځي.

تر دې ځايه دخبرو وروسته هغه مخبر خاموشه شو خو وروسته يې يوځل بيا په خبرو پيل وکړ: مهاراجه ! ددې نه اخوا يو بل مهم خبر دادې چې شيرشاه سوری خپل يو زوې جلال خان د چندريري په لور دخپل لښکر سره يو ځاې استولې دې. شيرشاه سوری دهغوې څخه غوښتي دې چې چندريري سوبه کړي او يا يې داسې کلک کلابند کړي چې دهغه ځايه راې سين ته کومک و نه رسيږي.

کله چې هغه جاسوس خاموشه شو نو راجه پورن مل تر يوه وخته پورې په فکر کې ډوب شو بيا يې دهغه جاسوس څخه وپوښتل چې ته خو نور څه ويل نه غواړې؟ هغه د نفي په توګه ورته خپل سره وخوځاوه . بيا پورن مل په ټيټ اواز سره وويل چې ، ته نور ور تلاې شې . دهغه په دې خبره هغه جاسوس دهغه ځايه ولاړ. دهغه دتللو وروسته راجه پورن مل دخپلې لور پاروتي او خپل وراره او د قواو سالار سره په خبرو پيل وکړ.

اوس تاسو دواړه ووايا ست چې څه کول په کار دي ؟ دهغې وروسته به زه تاسو دواړو ته خپله دجنګ نقشه وړاندې کړم . په ځواب کې پرتاب او پاروتی دواړه تر لږه وخته پورې خاموشه و او څه فکر يې کاوه . دلږ څه ځنډ وروسته يې په خپلو کې سره خبرې وکړې اوبيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتاب خپل کاکا پورن مل ته مخ کړ او ورته یې وویل چې : ستا د پوښتنې په اړه چې ما او پاروتي په خپلو منځوم کې مشوره وکړه، دهغې په مطابق زمونږ د دواړو اراده ده چې مونږ به خپل لښکر په درې برخو ویشو . دلښکرو یوه برخه ستا په قومنده کې او سې او د کلا د دیوال دهمدې برخې څخه چې مونږ په کې همدا اوس ولاړ یو څارنه کوي. خو دلښکر پاته دواړو برخو څخه به یې یوه زما او بله د پاروتي د قومندې لاندې وي. که چیرې د شیرشاه سوری د ګوله باریٔ څخه زمونږ دکلا دیوالونو ته کوم زیان ورسید او مسلمانان دهغې د کومې برخې په راپرځولو باندې بریې و موند نو زه او پاروتي به دواړه دخپلو لښکرو سره هڅه وکړو چې حمله راوړونکې راننوتلو ته پرې نږدو . ما پاروتي ته ویلي دي چې د شیرشاه سوري د زوې عادل خان مقابله وکړي خو هغه وایي چې هغه به دخواص خان په تمبولوا و دهغه دمخنیوي له پاره کار وکړي. په دې اساس پاروتي دا وړاندیز کړې دې چې څرنګه چې خواص خان پخوا ماته او کوپا ته ماتې راکړې ده نو په دې خاطر اوس به زه په خپله دهغه سره خپل قسمت ازمویم . نو که چیرې دښمن د دیوال په راپرزولو باندې بریالې شي نو مونږ دواړه به دخپلو لښکرو سره یو ځاې دخواص خان او عادل خان لاره و تړو . او پرې به یې نږدو چې د دیوال د لوېدلې برخې څخه دننه کلا ته را ننوځي او که را داخل هم شي نو مونږ دواړه به یې په بیرته ټیل وهلو باندې بریمنده شو . خو ته به هغه وخت د دیوال دپاسه په هغوې داسې غشي وروې چې هغوې د دیوال څخه د را ننوتلو جوګه نه شي او نه زما او پاروتي تعقیب وکولې شي .

راجه پورن مل دخپل وراره پرتاب او دخپلې لور پاروتي د وړاندیز څخه ډیر خوشحاله شو او بیا یې په خنداکې وویل چې :

ګوره پرتابه زویه ! زه ستا او دپاورتي ددې پریکړې ملاتړ کوم، همستاسو د وړاندیز له مخې به فوځ په درې برخو باندې وویشو ، تاسې دواړه دخپلو لښکرو سره یو ځاې د خواص خان او عادل دمقابلې له پاره ځانونه چمتو کړئ او زه به دخپلو لښکرو سره یو ځاې دهغو برجونو په سر و دریږم اودغشو ورولو په اساس به پرې نږدم چې خواص خان او عادل خان مخته راشي . ددې خبرې سره سم ، پاروتي ، پرتاب او پورن مل درې واړه د دیوال څخه را ښکته شول .

۷۴

د لږ وخت وروسته دشیرشاه سوری توپخانې ، د شیرشاه په حکم د راې سین په ښار باندې ګوله باري پیل کړې وه، لمړی څو ګولئ د دیوال څخه لږ څه اخوا و لګیدې . بیا کرار کرار توپچې خپله نښه سهي کړه او د راې سین دښار د دیوالونو بیروني لورې یې خپل هد ف وګرځآوه . که څه هم د کلا د دیوال دابرخه چې ګولی پرې په پرلپسې توګه لګیدې د غره په څیر کلکه ولاړه وه خو دپرلپسې او نه ماتیدونکې لړی په زور ددې کلا د دیوال په یوه برخه کې درزونه راپیدا شول ، ان تر دې چې دماښام څخه لږ څه د مخه شیرشاه سوری د راې سین دکلا د دیوال د یوې برخې په رانړولو باندې بریالې شو .

کله چې دښار دکلا د دیوال دا برخه را پریوته ، نو دپخوا څخه د جوړ شوې پلان په اساس شیرشاه سوری دګولیو ورول بند کړل ، او س نو دخواص خان او عادل خان کار پیل شوې و . هغوې تر اوسه هم په سنګرونو کې ناست و و . دواړه کرار کرار د خپلو سنګرونو څخه راووتل او د دیوال د راپریوتې برخې په لور ور اوږده شول. لمړی خواص خان دهمغې وراني برخې څخه کلا ته ورننوت. دخواص خان په ورننوتلو سره یو قیامت جوړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه باندې د مخې له اړخه د راجه پورن مل لور پاروتي د خپل لښکر سره د سوځونکې اور په ځير حمله راوړه. په همدې وخت کې عادل خان هم دخپل لښکر سره يو ځاې دهمدې مات ديوال څخه ورتير شو او کلا ته ورننوت. په عادل خان هم دپاروتي په ځير پرتاب دخپل لښکر سره يو ځاې يرغل راوست.

پاروتي د نارينه و په کاليو کې وه ، په دې خاطر هيچا نه پيژندله چې دا به د راجه پورن مل لور پاروتي وی. خو خواص خان د هغې حمله و تمبوله. تر څنګ يی دخپلو لښکريانو سره يو ځاې د «کن فيکون» دنغمو او د تکبير داوازونو سره يو ځاې دپاروتي په لښکرو باندې يرغل وروست او دپاروتي په لښکرکې يی داسې يو توپان جوړ کړ چې دهغوې حالت يی دبد نه د بدتر په لور يوړ. دخواص خان په لور دکتلو سره سم د شيرشاه سوری زوې عادل خان هم د پرتاب لښکر د همداسې قهر او غضب لاندې راوست او په هغوې داسې ګذارونه پيل کړل چې شين اسمان يی پرې تور وګرځاوه.

پرتاب او پاروتي تر ډيره پورې دخواص خان او عادل خان د حملو تر مخ و نه دريدل، هغوې دخپلو ځانو اودخپلو لښکرو د خوندی ساتلو په خاطر يو بل ته اشاره وکړه او وتښتيدل. کله چې خواص خان د پاروتی او عادل دپرتاب تر شا ولاړل نو د کلا دداخلې برجونو څخه پرې غشي لکه د باران په ځير را ووريدل. هلته پورن مل دخپل لښکر سره يو ځاې ولاړ و. دغې غشو دخواص خان اوعادل خان لښکرو ته پوره زيان واړاوه ، په دې خاطر خواص خان دخپل لښکر سره يو ځاې د مات ديوال دبرخې څخه بيرته بيرون ولاړ ، عادل خان هم دخواص په قدم ولاړ او خپل ځواکونه يی دهغه ځايه را وويستل.

پرتاب او پاروتي د خواص خان اوعادل خان څخه د تيښتې وروسته ،کله چې د ښار د مخالف لورې د شاه پنا ددروازې څخه دننه راغلل نو هلته يی وکتل چې پورن مل ولاړ دې. په دې وخت کې پاروتی اوپرتاب يو دبل سره مشوره وکړه اوخپلو فوځونو يی دديوال تر څنګ په پراخه ميدان کې دېرا و کولو حکم وکړ. خو هغوې دواړو خپل اسونه را وځغلولو اود پورن مل څنګ ته راغلل. دواړه د را رسيدو سره د پورن مل مخکې و دريدل. پاورتي غوښتل خپل پلار پورن مل ته څه ووايی خو پورن مل پرې رامخته شو او ورته يی وويل چې:

پاروتي اوپرتاب ! کله چې ما ستاسو دماتې په اړه واوريدل ډيره زيات خفه شوم. ما خو هيله درلوده چې دشيرشاه سوری هغه لښکر چې دلته په سنګر کې ناست دې هغه به تاسو دواړه له دې ځايه وځغلوئ اومونږ ته به دافرصت را په برخه کړئ چې د کلا د ديوال هغه لويدلې برخه به بيرته جوړه کړو. خو ستاسو ددواړو ماتې زه د انديښنو سره مخ کړې يم.

پلارجانه ! فتحه اوناکامي دواړه خو د يو چا نه يو چا په لمن کې راپريوځې. که نن موماتې وخوړه سبا به بيا بريمند شو ،دا خبرې پاروتي په ډيره مينه خپل پلار ته کولې. هغې يوځل بيا خپل پلار پورن مل ته په وينا کې وويل:

پلارجانه ! ما د شيرشاه سوری د سالار خواص خان مقابله وکړه په داسې حال کې چې پرتاب دشيرشاه د زوې عادل خان په مقابله کې ولاړو. په دې کې شک نه شته چې دهغې دواړو د جنګ تګلاره زمونږ له پاره نوې وه. خو دې سره بيا هم زه تاته ويلې شم چې په خپله شيرشاه اودهغې دا دواړه سالاران نه ماتې خوړونکې نه دي. مونږ بايد خپلو هڅو ته دوام ورکړو او زه هيلمنه يم چې که چيرې مونږ خپلو هڅو ته همداسې دوام ورکړو اودا کلابندې اوږده کړو نوشيرشاه سوری به دکلابندی څخه په تنګ شي او دې ځايه به د تللو په لور مجبور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره لورجانې ! ستا ژبه دې مبارکه وی ، خو ماته دا سې څه نه تر سترګو کیږي ، او س خو شیرشاه سوري زمونږ دا ښارونه کلابند کړي دي او هغه به دد ې ښارونو د نیولو پرته شاته ولاړ نه شي ،اوبیا لږ څه مخته دیوه قاصد په لاسو دا خبر هم راغلې دې چې د شیرشاه سوری زوې جلال خان د خپل لښکر د یوې برخې سره زمونږ دویم ښار چندریري هم کلابند کړې دې په دې خاطر دبیرون نه مونږ ته کومک رارسیدل هم بند شوي دي .نو که چیرې دا لړۍ همدا سې دوام وکړي نو ډیر ژر به د شیرشاه سوری زوې جلال خان چندریرې په خپله ولکه کې واخلي . اوس خو شیرشاه سوري پخپله دخپلو ستر و سالارانو سره یوځاې زمونږ ښار کلابند کړې دې او مونږ ته دهیڅ لورې دکومک د رارسیدو هیله نه شته . زمونږ سره خو یوآځې د چندریري ښار و چې د کومک د راتلو هیله ترې کیده ، دهغې د کلابندۍ وروسته خو ،زما زامنو ، مونږ بلکل بې یاره اومددګاره پاته شوي یو. دا خبرې پورن مل په ډیرې عاجزۍ او بیچارګۍ سره وکړې او بیا غلې شو.

په دې وخت کې پرتاب اوپاروتي په ډیره حیرانونکې توګه پورن مل ته کتل ،بیا پرتاب دپورن مل د اندیښنو د لرې کولو له پاره څه ویل غوښتل چې پورن مل ورته په خبرو پیل وکړ.

واورئ زما بچیانو ! هغه توپونه چې شیرشاه سوری د دې غره په څوکه ایښودې دي ،دهمغې په کومک سره یې دراې سین دکلا بیروني دیوالونه ورمات کړل ، اوس تاسو زما دا یوه خبره له ځانه سره ولیکئ چې ددې دیوال دماتولو وروسته به شیرشاه سوری همدا سې غلې کښیني. ددې دیوال دماتولو وروسته دهغه اودهغه د ځواکونو حوصلې ډیرې ستري شوې دي ، اوس به هغه په نورو دیوالونو باندې حمله کوي او په هغوې به هم په پرلپسې توګه ګولۍ وروری ، اودا دیوالونه دډیرو ګولیو دورولو زور نه لرې. رالویږي او بیا چې د ښار کوم حشر نشر وي هغه د وتلو څخه بیرون دې.

پلار جانه ! که چیرې ستا په ذهن کې همدا سې اندیښنې وي نو ایا ددې اندیښنو څخه د وتلو کومه لاره دې هم په ذهن کې شته ؟ پاروتي دخپل پلار ه دغه پوښتنه په ډیره نرمه او خوږه ژبه وکړه. پورن مل د ځواب په اړه لږ څه فکر وکړ او بیا یې وویل چې :

واورئ زامنو ! په دښمن باندې دسخت ګذار کولو له پاره له ماسره یو وړاندیز شته . اوهغه دا چې ، مونږ باید ددې خبرې انتظار و نه کړو چې شیرشاه سوري به کله زمونږ د ښار په نورو دیوالو باندې ګوله باري پیلوي ،زماپه آند چې مونږ باید په خپل اخري تدبیر باندې عمل وکړو . اوهغه دا چې : مونږ باید دخپل ټول لښکر سره یو ځاې په خواص خان اوعادل خان باندې حمله وکړو. که چیرې مونږ دهغوې دواړو په مقابل کې بریاوې تر لاسه کړې او هغوې ته مو ماتې ورکړه اوددې ځایه مو و شړل نو بیا خو به په همد ې کې زمونږ ګټې را نغښتې وي. ددې وروسته به مونږ د دیوال د رالویدلې برخې په جوړیدو هم پیل وکړ اې شو اوخپل توان او ځواک به نور هم مستحکم کړو.

خو که چیرې دخواص خان اوعادل خان په مقابل کې مونږ دناکامۍ سره مخ شو نوبیا به مونږ خپل ټول لښکر دخپلې کورنۍ سره یوځاې واخلو او د بیتواندی په لور به ولاړ شو. هلته به دبیتواندې په ځنګلونو کې پناه واخلو ، څرنګه چې دا ځنګلونه دکوهستانې لړیو په منځ کې پراته دي نوپه دې اساس به شیرشاه سوری زمونږ سره د بیتواندې څخه اخوا دګونډوانه په ځنګلونو کې دلاس اچولو اوټکر کولو هڅه ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردې ځایه دخبرو وروسته پورن مل خاموشه شو ، دهغه په دې وړاندیز باندې د تبصرې کولو دمخه پرتاب او پاروتي دواړو په خپلو منځوکې سلا مشوره وکړه ، بیا پاروتي څو قدمه مخته راغله او دخپل پلار پورن مل تر مخه ودریده اوويې ویل چې :

پلار جانه ! زه اوپرتاب دواړه دې پایلو ته ورسیدو چې ستا په دې وړاندیز باندې باید عمل وکړل شي، زمونږ له پاره اخري او تر ټول ښه لاره همدا ده. خواص خان او عادل خان همدا اوس د دیوال دهغه ماتې برخې تر څنګ په سنګر کې دي. زما په فکر چې مونږ باید دبیرون څخه دهغوې تر شا پر هغوې باندې یرغل راوړو ، په دې توګه به مونږ ته څه بریاوې راپه برخه شی.

دبګوان شکر دې چې تاسې دواړو زما په وړاندیز باندې اتفاق وکړ. پورن مل د خوشحالۍ نه ورته وویل. واورئ بچیانو ! اوس به زمونږ پلان داوي چې مونږ به خپل ټول لښکر دوه ځایه کړو . یوه برخه به یې زما تر قومندې لاندې وي تر څنګ به یې زمونږ ټول خپلوان اوکورنۍ هم زما د لښکر برخه وي. دلښکر بله برخه به ستاسو ددواړو تر قومندې لاندې وي ،تاسو دواړه به یو ځای د خواص خان پر خلاف حمله کوئ ، زه به دشیرشاه سوری په زوې عادل خان باندې ګذار کوم. که چیرې مونږ بریمنده شو نو زه به وپوهیږم چې تقدیر زمونږ ملګرې دې اوکه چیرې دناکامۍ سره مخ شو نو بیا به د پلان په مطابق دبیتواندي څخه تیریږو او دګونډانه ځنګلونو ته به پناه وړو . ددې سلا نه وروسته راجه پورن مل څو کسه سالاران راوبلل اودهغې وروسته یې دښار دننه ټول لښکر دهغه دروازې تر څنګ د راټولیدو حکم وکړ دکومې تر څنګ چې هغه ولاړ و .هغه پرتاب اوپاروتي دواړه و لیږل اوخپل ټول دوستان اوکورنۍ یې دې دروازې ته را وبلل. دپورن مل په حکم پرتاب اوپاروتي دهغه ځایه ولاړل ، لږه شیبه وروسته دپوره تیارۍ کولو سره سم پورن مل خپل ټول لښکر هلته ددروازې تر څنګ راټول کړ اوبیا یې په دوو برخو وویشه.

یوه برخه پورن مل په خپله قومنده کې واخسته. اوبله برخه یې د پرتاب او پاروتي په قومنده کې په ګډه توګه ورکړه. بیا د لښکر دا دواړه برخې د شهرپنا د دروازې څخه په پوره خاموشۍ سره د سمندر دریاب په څیر ووتلې ، هغوې په ډیره بیړه دخپل منزل په لور ور روانې وې ، پرتاب اوپاروتي دواړه د اور دعذاب په څیر د خواص خان په لښکرو د شا له خوا ور پریوتې. دا حمله په ځرګنده توګه ناڅاپي حمله وه خو لکه څنګه چې خواص خان اوعادل خان پخوا هم دغه ډول ناڅاپي یرغلونه په شاتمبولی ونو په دې اساس دوې دواړه هم دهمداسې حملې له پاره دمخکې نه تیار شوی و. خواص خان دخپلې برخې دلښکر سره یو ځا ې دپاروتي او پرتاب دلښکر په مقابل کې وجنګید ، هغه دخپلو تیزو حملو په واسطه په ډیره ګړندۍ توګه مخته ولاړ. دبله اړخه دخواص خان په څیر عادل خان هم د راجه پورن مل په لښکرو باندې لکه د توپان په څیر ورغلې و ، لږه شیبه سخت جنګ و شو خو دپرتاب ، پاروتي او پورن مل ځواکونه د ماتې اوتباهۍ سره مخ شوې و. د ماتې خوړلو وروسته پاروتي او پرتاب دواړه د پورن مل په لور و تښتیدل. خو په تیښته تیښته کې یې خپل فوځونه بیرته سره را یوځای کړل اودپخوانې پلان له مخې د بیتوندا له لارې ګونډوانه ځنګلونو په لور یې د تیښتې له پاره ځآنونه تیار کړل. خوکله چې دوې د راې سین څخه ووتل او د بیتواندی په لارې باندې سرشول نوپه همدې وخت کې پاروتي ، پرتاب او پورن مل درې واړو په منډو منډو باندې دغې لارې ته ځان راورساوه ، خو هلته دهغوې بدبختي داوه چې شیرشاه سوری یې دخپل توانمند لښکر سره یوځای په مخکې ولاړو ، کیدې شی چې شیرشاه سوری ، خواص خان اوعادل خان ته دپورن مل دتیښتې دپلان په اړه دمخه مخبرانو خبر ورکړې و. کله چې پورن مل د شیرشاه سوری د لښکر مخې ته راورسید نو دشیرشاه سوری لښکر پرې حمله وکړه ، تر دې وخته پورې خواص خان اوعادل خان هم دهغوې تر شا رارسیدلی و اودپورن مل لښکر یې تر شا د ضربې لاندې نیولې و. دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريو واړو د پورن مل عسکر يو په بل پسې ورختم کړل ، پخپله پورن مل او پرتاب دواړه په دې جنګ کې له منځه ولاړل او د پورن مل لور پاروتي ژوندۍ و نيول شوه.

هغه وخت چې پاروتي د شيرشاه سوری مخې ته راوړل شوه نو په هغه وخت کې هلته د شيرشاه سوري د زامنو څخه علاوه خواص خان او څو کسه نور سالاران هم ناست وو. په دې وخت کې خواص خان په ډيرغور سره د شهزادګۍ پاروتي په لور وکتل ، هغه ډيره حسينه ، او ډښه شکل او صورت خاونده وه . پاروتي ته په غور سره د کتلو وروسته خواص خان شيرشاه سوری ته په غوږ کې وويل :اقا ! که اجازه راکړئ نو زه د پورن مل د لور شهزادګۍ پاروتي په اړه لږ څه ويل غواړم. شيرشاه سوري ورته په خندا شو او ورته يې وويل چې وو ايه ته څه ويل غواړې ؟ په دې لړ کې تاته له ما څخه د اجازې د غوښتلو اړتيا نه شته. پرته له اجازې هر څه چې ويل غواړې ويې وايه.

زما د رونده شيرشاه ! زه د دې پاروتي په اړه يوه پريکړه کوم. زه هيله لرم چې ته به زما د پريکړې سره اتفاق وکړې. خواص خان دا خبره شيرشاه سوري ته په ډيرغور د کتلو په وخت کې وکړه. کله يې چې شيرشاه سوری غلې وکوت نو ويې ويل چې:

زه غواړم چې دا پاروتي د خپل مهربان فدايې خان کوچياني قبيلې ته وسپارم او هغه يې د خپل زوي اسماعيل سره واده کړي. ايا تاسې په دې لړ کې کومه نيوکه لرئ؟

په ځواب کې ورته شيرشاه سوری په خندا شو او ورته يې وويل:

خواص خانه زويه ! زه پرې هيڅ اعتراض نه لرم ، دغه نجلۍ چې اوس زما تر مخه ولاړه ده زه به يې همتاته وسپارم او ته پخپله پورته شه او خبرې ورسره وکړه. چې ايا دا هم غواړې چې همدا سې وشي ؟ زه غواړم چې هر قدم چې اخستل کيږي په هغې کې د دې پاروتي رضا او خوشحالي هم شامله وي. تر څو نوموړې د خپل ژوند پاته ورځې په خوشحالۍ سره تيرې کړي. د دې خبرې سره سم خواص خان راپورته شو او د پاروتي مخې ته و دريد.

پاروتي ! زه د شيرشاه سوری اعلې سپه سالار خواص خان يم. ګوره خورې ! ما د شيرشاه سوری سره د خبرو کولو وروسته ستا په اړه يوه پريکړه کړې ده خو اوس به د دې پريکړې په اړه له تا سره هم مشوره کوم. که چيرې ته په دې پريکړې باندې خوشحاله وې نو بيا به زه پرې د عمل کولو هڅې وکړم. خو دا ياد ساته چې هيڅ پريکړه به ستا د خوشحالۍ او رضا پرته نه کيږي.

خواص خان د دې خبرې وروسته خاموشه شو . پاروتي په خوله څه ونه ويل خو په ډيره حيرانتيا سره يې د خواص خان په لور کتل ، خواص خان ترې يو ځل بيا وپوښتل چې: ګوره پاروتي خورې ! ما خو کومه داسې خبره نه ده کړې چې ستا د مزاج خلاف وي ؟ په دې وخت کې پاروتي په ځواب کې وويل چې:ګوره خواص خانه ! زه د دې خبرې په اوريدو سره ډيره حيرانه او پريشانه يم چې د شيرشاه سوری داسې يو سالار چې د هندوستان په زمکو کې ناقابل تسخير ګڼل کيږي، هغه په ډيره نرمه لهجه او شفقت سره ما ته د خور خطاب کوي نو په دې فکر کې ډوبه يم چې زه دا د خپل ځان له پاره يو جال وګڼم او که حقيقت يې قبول کړم.

ګوره پاروتي ! کله چې ما د رته خور وويلې نو بيا به دې د ورور په څير د خوررولۍ حق هم ادا کوم. ته هغه فريب مه ګڼه هغه څه چې زه يې وايم په حقيقت ولاړ دي. ستا په اړه چې ما کومه پريکړه کړې ده د هغې په اړه ستا رضامندي غواړم. زما پريکړه دا ده پاروتي چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم چې تا د خپل يوه دوست او ملګري زوې ته واده کړم. په دې توګه به ته خپل پاته ژوند به خوشحاليو کې تير کړې ، وو ايه چې ته دې کار ته تياره يې ؟

دخواص خان په دې خبرو پاروتې په ژور فکر کې ډوبه شوه ،هغه خو دخپل ځان له پاره دکومې بدې او سختې سزا د حکم منتظره وه. خو کله چې ورته خواص خان دا خبره وکړه نو هغه دخوشحاليو نه په کاليو کې نه ځاييده ،دهغې د شکل څخه داسې راڅرګنديده چې هغه په خپلو خيالونو کې دفعتونو لوړو درجو کې الوت کوي. تر لږه وخته پورې خاموشه ناسته وه بيا يې وويل چې: خواص خانه ! هغه څه چې تا وويل ،که چيرې هغه له ماسره بدترينه ټوکه نه وي نو زه به درته ووايم چې زما دخوشحاليو اخرې حد به نه وي چې زه د يوه داسې چا چې د زړه ورتيا او شجاعت کيسې يې په ټوله نړۍ کې خپرې وې ماته خپله خور وويلې خبره شاته و غورزوم. ګوره خواص خانه ! هغه څه چې تا وويل سهي دې نو بيا به زه ووايم چې تا دخپلې رويې په اساس زما ددعاګانو ، ارزوګانو اوهيلو لمن د ستورو څخه ډکه کړې ده.تا زما څخه دغمونو اوښکې لرې کړې اوزما ذهن دې د خوشحاليو په رڼاو کې را ونغښت

خواص خانه ! هغه څه چې تا وويلې که چيرې هغه زما دقتل اوو ژلو دحکم څخه دمخه زما سره مذاقې نه وي نو دژوند دتيرولو له پاره چې هره لايحه زما مخې ته راشي نو زه به هغه په خوشحالۍ سره ومنم. دپاروتې دځواب په اوريدو سره خواص خان خوشحاله شو. خپل يوعسکر ته يې اشاره وکړه ، خواص خان ورته وويل چې : په منډه ولاړ شه او فدايي خان اودهغه زوې اسماعيل خان تر دې ځايه راورسوه. هغه عسکر په يوه منډه هغه لورې ته لاړ او لږه شيبه وروسته يې فدايي خان او اسماعيل خان دواړه هلته راورسول. هغوې دواړه د خواص خان تر څنګ کيناستل. خواص خان هغوې ته په کتلو سره وويل چې. زمادرونده فدايي خانه او زما درونده وروره اسماعيل خانه ! دې پيغلې ته ووينئ ، نوموړې د راجه پورن مل لور شهزادګۍ پاروتي ده. ما هغې ته دخور غږ کړې دې، ګوره اسماعيله وروره ! ما هغه ستا له پاره خوښه کړې ده. اياته زما ددې پريکړې سره موافق يې ؟ اسماعيل په ډير ممنونيت سره خواص خان ته وکتل.

خواص خانه وروره ! زه خو ستا دهيڅ پريکړې د ردولو صلاحيت اوو رتيا نه لرم. که چيرې تا شهزادګۍ پاروتي زما د ژوند دملګرې په څير زما له پاره انتخاب کړي وی نو زه به داسې وګڼم چې تا زما لمن ددنيا د ټولو خوشحاليو څخه ډکه کړې ده. د اسماعيل له اړخه د ډاډ وروسته خواص خان دپاروتي په لور وکتل او ورته يې وويل:

پاروتي ! دا فدايي خان زما ډير محترم او زما ډير زيات دوست دې.اودا دهغه زوې دې. اسماعيل خان نوميږي زه غواړم ته له همدې سره واده وکړې ، اياته په دې اړه کوم اعتراض لرې؟ دپاروتي څټ ښکته شو او ويې ويل چې نه. ماته هيڅ اعتراض نه شته. دپاروتي دځواب په اوريدو سره خواص خان ډير خوشحاله شو اوبيا يې په همدې ورځ د شيرشاه سوری سره دسلا مشورې وروسته پاروتي د اسماعيل سره واده کړه.( يو شمير تاريخ پوهان ليکي چې هغه دراې سين دراجه لور شهزاګۍ د کوچيانو دقبيلې دمشر په واک کې ورکړې وه ).

راجه پورن مل ته دماتې ورکولو اوپه راې سين باندې د ولکې کولو وروسته ،شيرشاه سوری هملته په راې سين کې قيام وکړ. دهمدې قيام په وخت کې د چندريرې څخه قاصد راغې اوشيرشاه سوری ته يې دا خبر ورکړ چې دهغه زوې جلال خان په چندريري باندې ولکه کړې ده، ددې خبر په اوريدو سره دشيرشاه سوري خوشحالۍ څو هومره زياتې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواص خان په ګړندۍ توګه خپلې خیمې ته ورننوت ، په خیمې کې کملاوتي د خندا او خوشحالیو نه ډکه راپورته شوه او د خواص خان په لور یې ور منډې کړې ، هغه یې په غېږ کې ونیوه او بیا یې د خیمې منځنۍ برخې ته د کیتاستو له پاره له ځانه سره یوړ. بیا یې په ډېره حیرانتیا سره ترې وپوښتل چې :

ماستا دراتلو تر مخه د خپلې خور ګنګا په اړه فکر کاوه ، تا ته خو د هغې د خیرخیریت په اړه د رهتاس څخه کوم خبر نه دې راغلې ، زه د هغې او د هغې د کوچنی د کتلو له پاره ډېره بې قراره یم. په دې وخت کې خواص خان په ډېره عجیبه توګه د کملاوتي په لور وکتل او بیا یې په مړاوې شانته اواز سره وویل چې : ګوره کملاوتي ! زه په خپله هم د ګنګا او د هغې د کوچني په اړه اندېښمن یم،تر اوسه پورې د دواړو د خیریت په اړه ماته کوم خبر نه دې تر لاسه شوې. بیا یو ناڅاپه خواص خان خپله خبره بدله کړه او وویې ویل :

ګوره کملاوتي ! زه د بهار په لور کوچ کوم ، زه همدا اوس د شیرشاه سوری له اړخه راغلم ، هلته په بهار کې څو سرکشو ځواکونو زمونږ پر خلاف په بغاوت لاس پورې کړې دې. خو د هغوې د ځپلو او له منځه وړلو له پاره شیرشاه سوری زه ټاکلې یم. نو په دې خاطر به زه د خپل لښکر سره یو ځاې سهار وختي له دې ځایه کوچ کوم. نو په دې خاطر زه افسوس کوم چې ته به زما د بیرته راستنیدو تر وخته پورې همد لته په لښکر کې اوسیږې. ته په دې اړه اندېښمنه کیږه مه ، ځکه زه په خپله ستا په اړه اندېښمن یم. او ډېر ژر به د بیرته راستنیدو هڅه وکړم.

دا چې ته هر وخت د باغیانو د له منځه وړلو له پاره هغه او دې لورې ته سفرونه کوې او ما له ځانه سره نه وړې ماته د ډېر تکلیف او اندېښنې وړ ګرځي ، لمړۍ چې تا زه د راجپوتانه په پولو کې پریښوم او پخپله د بنګال په لور ولاړې نو هغه ورځې هم ما په ډېر تکلیف او انتظار کې تیرې کړې ،اوس ته یو ځل بیا د بهار په لور خوزیږې نو زه نه پوهیږم چې ته به کله بیرته راستنیږې. کملاوتی دا خبرې خواص خان ته د ډېرې مینې نه ډک لهجې سره په ډېره اندېښنه کې کولې.

ګوره کملاوتي ! ته پوهیږې چې شیرشاه سوری پر ما ډېر زیات باور لرې او هر کله چې کوم ځواک د هغه پر خلاف بغاوت او سرکشي کوې نو بیا هغه دا کار ماته راسپارې. نو په دې خاطر زه د هغې باور او اعتماد ته د و که نه شم ورکولې ، او بیا شیرشاه سوری پر ما دومره احسان کړې دې چې که چیرې هغه زما مرۍ پرې کړې او د فلاح او بهبود له پاره یې استعمال کړې نو خواص خان به ترې انکار و نه کړې. ګوره کملاوتي ! زه له تا سره ژمنه کوم چې ډېر ژر به بیرته را ستونیږم. او زه هیلمن یم چې شیرشاه سوري به زما د راستنیدو پورې همدلته په راې سین کې تر هغو و اوسیږې چې په راجپوتانه کې حالات په مکمله توګه زمونږ پر خلاف نه وي ګرځیدلي . کله چې زه د بهار څخه بیرته راستون شم نو بیا به متحده لښکر د راجپوتانه د راجه مالدیو پر خلاف د ټکر له پاره تیاروو. ګوره کملا ! ته اندېښنه مه کوه. په ژوند کې داسې حالات راځي ، بلکه د داسې بیا بیا جدا والې څخه د مینې او ښځې تر منځ مینه نوره هم زیاتیږي. خواص خان یو ځل بیا په ډېره مینه خپل ښځې کملا ته وکتل :

کله چې خواص خان په دې پوه شو چې کملاوتي د هغه په خبرو باندې تر ډېره پوره مطمئنه شوې ده نو بیا د خپله ځایه راپورته شو او ور ته یې و ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره کملاوتي ! زه اوس ځم ، ترڅو خپلو لښکرو ته د تيارئ کولو حکم ورکړم. ځکه چې سبا سهار وختي زه له دې ځايه کوچ کوم .اودکوچ له پاره چې دکومو شيانو د را ټولولو اړتيا ده هغه به پوره کړم. همدارا ز به يوځل بيا دشيرشاه سوری سره مشوره کوم ،کيد ې شي چې پر ما نا وخته شي ، ته دماښام ډوډۍ وخوره ، نن دماسختن نه وروسته شيرشاه سوري خپل ټول سالاران را غوښتې دې او هملته په خپله خيمه کې يې ورته دعوت ورکړی. نوپه دې خاطربه زه هم نن ماښامې هملته دشيرشاه په خيمه کې کوم. بيا دکملاوتی له اړخه دځواب دا وريدو پرته خواص خان د خيمې څخه ووت. کملاوتي په خپل ځاې باندې ډاډمنه او مطمئنه کيناسته.

خواص خان دخيمې څخه دوتلو وروسته دخپل لښکر پړاو ته ورغې او هلته د فدايی خان دقبيلې په خيمو کې ور ننوت. اوبيا دهغې خيمې ترمخه و درېد چې دګنګا له پاره ځانګړې شوې وه.خواص خان کرار کرار خيمې ته ور ننوت ، ويې کتل چې ګنګا او نيرمل دواړه د کوچنی سره په لوبو بوختې دي. نيرمل دخپله ځايه راپورته شوه او خواص خان ته يې مخ کړ او و يې ويل :

خواص خانه ! ګنګا په ډيره بې قرارۍ سره ستا انتظار کاوه. زه ورسره کيناستم اودهغې زړه ته مې تسلي ورکوله ، تا دلته په راتلو کې لږڅه ځنډ وکړ په ځوا ب کې ورته خواص خان وويل چې :

نيرمل ته کينه ! هغه خبرې چې زه يې دګنګا سره کول غواړم ، زه پوهيږم چې په هغو کې ستا شتون هم اړين دي. دخواص خان دوينا سره سم نيرمل دګنګا تر څنګ بيرته کيناسته. خواص خان لمړۍ دخپل کوچنې سره مينه وکړه اوبيا د ګنګا تر څنګ کيناست ، ګنګا تر يوه وخته پورې په ډيره مينه خپل خاوند ته کتل اوبيا يې ورته وويل :

ستا کالي خيرن شوي دې او ما په خپلو لاسو تاته نور کالي جوړ کړې دي. زه غواړم چې ته لمړۍ غسل وکړې اوبيا نوي کالي واغوندې اوبيا له ما سره خبرې وکړې.

که چيرې زه دلته له تاسره نوې کالي واغوندم او بيا کملاته ورشم نو هغه به هرو مرو وپوښتې چې دا نوي کالي ما دکومه کړي دی؟ نوبيا به له ما سره هيڅ ځواب نه وي ، او که چيرې زه هغې ته کوم معقول ځواب ور نه کړم نو هغه به شک وکړي. ګنګا سمد ستې دخواص خان خبره پرې کړه او وويې ويل :

که چيرې هغه در څخه وپوښتې نو ته ورته وېلې شې چې دراې سين د فتحې په خوشحالۍ کې شيرشاه سوری ماته دا نوي کالی راکړې دي،نوبيا به کملاوتي څه ډول اعتراض وکولې شی. خواص خان د فکر کولو په توګه سر ښکته کړ.

ګوره ګنګا ! ستا خبره سهي ده ، زه به غسل وکړم او کالی به بدل کړم.خو لمړۍ هغه څه واوره چې زه يې درته وايم. ګنګا اونيرمل دواړو هغه ته غوږ کيښود ،بيا ورته ګنګا وويل چې : ډيره ښه. هغه څه چې ته وايې اوس يې ووايه.

ګوره ګنګا ! ما لږه شيبه مخته د شيرشاه سوري سره په تفصيل سره خبرې کړې دي ، سبا سهار به زه له دې ځايه د خپل لښکر سره يوځاې دبنګال په لور روانيږم.ترڅو مهاکوی ته د بغاوت سزا ورکړم. زه به هڅه وکړم چې هغه ژوندې تر لاسه کړم ،هغه فدايی خان ته هم زيان ور اړولې دي ، زه غواړم دهغه ټول ملګرې له منځه يوسم ،په دې خاطر سبا سهار زما سره يو ځاې دکوچ کولو له پاره تياره اوسه. فدايی خان به دخپلې ټولې قبيلې سره يو ځاې له مونږسره هغه لورې ته ځي. ګنګا په تيزو سترګو خواص خان ته وکتل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا په دې لړ کې دې د کملاوتي سره هم خبرې کړې دي ؟ په هر صورت ، هغه ته خو به دې دا ویلي واې چې هغه یو ائې په لښکر کې پرېږدې او ته کومې لورې ته کوچ کوې ؟

ګوره ګنګا ! د شیرشاه سوری سره د تفصیلی خبرو وروسته او د لته ستا څخه لورې ته درا تلو د مخه زه کملاوتي ته ورغلی وم . ما هغې ته ویلي دي چې زه د بهار په سیمه کې دخو باغیانو دله منځه وړلو له پاره هغه لورې ته ورځم په دې خاطر به زه سبا سهار د دې ځایه د خپل فوځ سره یو ځای کوچ کوم ، ما هغې ته عذر کړې چې زما په نه موجودیت کې به هغه خو ورځې د لته په لښکر کې ځانته او سیږي. اوس راته ووایه چې ته نور څه ویل غواړې؟

د خواص خان د ځواب به اوریدو سره ګنګا لږ څه د ډمنه شوه ،تر یوه وخته پورې په فکر کې ډوبه وه او بیا یې وویل :

زوې دې د رسره اموخت اخلي ، کله چې ته نه اوسې نو د درواز ې لورې ته ګورې . که چیرې لږه موده نوره هم همدا سې حال واوسی نو معلومه نه ده چې بیا به ده ته څه پیښیږي . خواص خان په ډیر غور سره د خپل زوې په لور وکتل ،ریښتیا هم هغه په پرانستو سترګو د خپل پلار مخ ته کتل ،خواص خان مخته ورغي او د خپل زوې سره یې د زړه د اخلاصه مینه وکړه او بیا یې وویل: واروه ګنګا ! دا حالت به ډیر ژر پای ته ورسیږي ،ته ګوره چې زما اوستا په ژوند کې یو شین انقلاب را روان دې . اودا انقلاب به زما د بنګال څخه د راستنیدو وروسته را مخته کیږي. واوره ګنګا ! زه به د ماښام ډوډۍ همد لته له تا سې سره خورم. او تر ډیره به همد لته واوسم. د خواص خان د دې خبرو څخه ګنګا ډیره زیاته خوشحاله شوه ، د خپله ځایه راپورته شوه او د خواص خان ګنډلې کالی یې ورته ورکړه ، د خواص خان د پورته کولو له پاره یې هغه له لاسه و نیوه ، بیا د هغې خوږ اواز د خواص خان په غوږونو کې انګازه شو .

ته خو راپورته شه ، هلته په غسل خانې کې مې ستا له پاره اوبه جوړې کړې دي ، غسل وکړه بیا دا نوې کالي واغونده ،بیا زما څنګ ته راشه او راسره کینه. خواص خان په پټه خوله پورته شو ، ګنګا ورسره یو ځای غسل خانې ته ولاړه ، خواص خان له ځانه سره نوې لباس راواخست او غسل ځای ته ورننوت. ځان یې پریمنځه او نوې کالي یې واغوستل بیرون راووت او ګمنځه یې راواخسته ، ویښتان یې پرې ګمنځ کړل ، خپل پخوانې کالی یې بیرته ګنګا ته ورکړل ،بیا راغې او د خیمې په منځنې برخه کې درې واړه کیناستل ، په خپلو منځو کې یې خبرې کولې ،بله ورځ خواص خان د فدا ې خان د قبیلی او خپل لښکر سره یو ځای د

بنګال په لور کوچ وکړ. ګنګا هم د خپل زوې او نیرمل سره یو ځای د هغوې سره په سفر کې روانه وه.

فدا یی خان او خواص خان د مهاکوې د مرکز څخه لا لرې وو چې فدا یی خان خپل اس ورمخته کړ او خواص خان ته ورنژدې شو . په دې وخت کې جلال خان جالو هم د خواص خان تر څنګ روان وو. جلال خان جالو د خواص خان د نائب په څیر د هغه په لښکر کې کار کاوه. فدا یی خان د خواص خان څنګ ته د رارسیدو سره سم هغه ته وویل :

خواص خانه زویه ! اوس خو دا دې مونږ د مهاکوې سیمې او مرکز ته ورنژدې کیدونکې یو ، خو اوس دا سې پلان جوړول په کار دي چې مونږ به په مهاکوې باندې څه ډول حمله کوو ؟خواص خان ورته په مسکا شو او ورته یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره فدایي خانه ! زما درونده دوسته ! ما هم غوښتل له تا څخه په دې اړه وپوښتم خو ښه شوه چې تا پخپله په خبرو پیل وکړ. ددې خبرې سره سم خواص خان خپله توره دتیکې را وویسته اوپه فضا کی یې پورته کړه ،خپل شاته لښکر یې و دراوه . دهغه د لښکر ددریدو سره سم د فدایي خان قبیله هم تم شوه.

ګوره فدایي خانه ! اوس را ته ته ووایه چې مونږ به تر څه وخته پورې د مهاکوي مرکز ته ور رسیږو. خواص خان ترې وپوښتل :

فدایي خان ورته وویل : ګوره خواص خانه زویه !په کومه توګه چې مونږ روان یو ، نو که همدا سې ولاړ شو نو تر سبا ماسپښینه پورې به دمهاکوي مرکز ته ور رسیږو.

دفدایي خان د ځواب داوریدو وروسته خواص خان خپل سرټیټ کړ او په فکر کې ډوب شو په دې وخت کې جلال خان جالو اوفدایي خان دواړو په ډیر غور سره د خواص خان په لور کتل. خواص خان دخپله ځانه سره اخری پریکړه وکړه اوبیا یې فدایي خان ته مخ کړ او ورته یې وویل:

فدایي خانه !پرمهاکویی چې ما دحملې له پاره کوم پلان تیار کړې دې هغه په غور سره واوره. زمونږ ښی لورې ته چې کوم ځنګل دې ته به دهغې ځنګل په لور دخپلې قبیلی سره یوځای ولاړشې ، داسیمې ما کتلې دی او زه هیلمن یم چې دا لاره به نیغه دمهاکوي مرکز ته رسیږي. په ځواب کې ورته فدایي خان وویل :

خواص خانه ! ستا خبره سهي ده. خواص خان ورته په خندا کې وویل چې : نو که زما خبره سهي وی نو فدایي خانه واوره !ځومره لښکر چې له ما سره دي هغه به زه په دوو برخو وویشم، یوه برخه به یې له ما سره پاته شي اوبله به یې دجلال خان جالو سره یوځای ولاړ شی. جلال خاه جالو به ستا دقبیلی سره یوځای اوسې ، مګر دوی به ستا دقبیلی ښې لورې ته مخکې تګ کوی.

واوره فدایي خانه !ته به زما ددې خبرې سره هم اتفاق وکړې چې کله چې مونږ مخته ورځو نو مهاکوي به دهمدې ګڼو ځنګلونو دښې لورې څخه راوزې اوپرمونږ به حمله کوي ،ځکه زما داندازې اوخیال په اساس دهغه مرکز په همدغې لاره چې مونږ پرې روان یو ،په همدې ګڼ ځنګل کې پروت دې. فدایي خان ورته وویل چې : زویه !ته بلکل سهی وایی.

که چیرې دا هم سهي وی ، نو زه به دخپلې برخې دلښکر سره یوځای دځنګل په چپ اړخه کې ور ننوځم اوپه همدې ځنګل کې به ځان تری تم کړم اوستا دقبیلې تر څنګ څنګ به په پټه روان اوسم. په دې توګه به زما اوزما دلښکرو په اړه څوک نه پوهیږي چې زه په سنګر کې یم اوستا د قبیلی تر څنګ څنګ روان یم.

زما دلښکر بله برخه به د جلالخان جالو تر قومندې لاندې ستا د قبیلې ښې لورې ته مخته ځي ، ځکه چې مهاکوي به دښې لورې دځنګلونو څخه حمله کوي. نو که چیرې هغه حمله وکړی نو جلال خان جالو به په ډاډ منه توګه دهغه حمله تم کړي. اوستا قبیلې ته به کوم زیان و نه رسیږي. تر دې وخته پورې به زه هم د ځنګل دچپ لورې څخه راوتلې یم او خپله حمله به مې پیل کړې وي په دې ترتیب به مونږ مهاکویی ته دتیښتې لاره بنده کړو ،زه هڅه کوم چې هغه ژوندې و نیسم.

تر دې ځایه دخبروکولو وروسته خواص خان خاموشه شو بیا یې خپل ښې لورې ته په آس سپور جلال خان جالو ته مخ کړ اوورته یې وویل: جلال خانه وروره !ایا ته زما ددې پلان سره موافق یې ؟جلال خان جالو سمدستې خپل سر ښکته کړ او ویې ویل: امیر خواص

(c) ketabton.com: The Digital Library

خانه ! زه په مکمله توګه ستا ددې پلان سره موافق یم ، زه هیلمن یم چې مونږ به په عملي توګه دا پلې کړو . نو که چیرې ددې مهاکوي په ځاې سل نور مهاکویان هم راشی نوبیا یې هم مونږ په دې ځنګلونو کې له پښو و غورزو. دجلال خان جالو دځواب څخه خواص خان ډیر خوشحاله شو . ددې وروسته هغه خپل لښکر په دوو برخو وویشه ، دیوې برخې سره خواص خان په خپله په چپ لورې ځنګل کې ور ننوت ،په داسې حال کې چې بله برخه دجلال خان تر قومندې لاندې دفدایی خان دقبیلي تر څنګ په ځنګله کې روان شوه . په دې توګه په هغه لویه لاره باندې فدایی خان او جلال خان دواړه دخپلو لښکرو سره روان و او خواص خان دځنګله په چپ لورې کې پټ دخپلو لښکرو سره مخته ورته.

بله ورځ ماسپښین نژدې ، هغه وخت چې خواص خان ، فدایی خان او جلال خان جالو دخپل جوړ شوي پلان په مطابق جنوب شرق لورې ته مخکې تګ کاوه چې په دې وخت کې دښې لورې دځنګله څخه مهاکوي دډیر ستر او ویریدونکي لښکر سره یوځاې د تورو تیارو او د اورد سکروټو په څیر دفدایی خان او جلال خان په لښکرو راپریوت.

جلال خان جالو دخپلو لښکرو په مټ او فدایی خان دخپلې قبیلی د ځوانانو په مټ د مهاکویی دا یرغل تم کړ اوتر ډیره پورې یې دمهاکویی د لښکر سره سخته مقابله وکړه .کوم وخت چې جلال خان او فدایی خان د مهاکوي دلښکرو سره په ډیره وینه تویونکې جګړه کې بوخت وو ،په همدې وخت کې دځنګله دچپ لورې څخه د تورو تیارو ماتونکې خواص خان بیرون راووت . او د مهاکویی دلښکرو تر شا یې پر هغوې تباه کونکې حمله راوسته.

د خواص خان دحملې سره سم جلال خان جالو اوفدای خان هم په خپلو حملو کې ډیرښت راوست ،په دې وخت کې په مهاکویی ددرې اړخو څخه حمله شوې وه.د مخې له لورې جلال خان اوفدایی خان په هغې باندې وژونکې ګذارونه کول او د جنوب او شرق له لورې پر ې خواص خان طلسم ماتونکې حمله کړې وه. ددې حملو په واسطه د مهاکویی دلښکرو حالات ډیر خراب شوی و . په دې خاطر مهاکویی د جنګ دمیدان څخه د تیښتې پریکړه وکړه خو په هغې کې هم ورته بریاوې په لاس ورنغلې. ځکه خواص خان خپل لښکر تر ډیره پورې خپور کړې و ،جنوبی اوشرقي ټولې لارې یې بندې کړې و ، بیا خواص خان د جلال خان په لور یو ګړندې قاصد ور ولیږه او ورته یې حکم وکړ چې دغرب په لور د مهاکویی د تیښتې لارې بندې کړې او دمهاکویی د ژوندې نیولو هڅه وکړې.

دخواص خان دحکم سره سم په شمال لورې کې فدایی خان په پرلپسې توګه په مهاکویی باندې حملې کولې په داسې حال کې چې جلال خان دخپل لښکر سره یو ځاې د غرب په لور ولاړ اودمهاکویی لاره یې و نیوله . اوس نو د څلورو خواو څخه دمهاکویی دلښکرو عامه وژنه پیل شوې وه ، بیا داسې یو وخت راغې چې دمهاکویی ټول لښکر له منځه تللې و . اومهاکویی دخواص خا ن په لاسو ژوندې نیول شوې و . ددې جنګ نه وروسته خواص خان همدلته د جنګ په میدان کې د فدایی خان قبیلې اوخپلو عسکروته د ارام کولو له پاره حکم وکړ اوبیا په بل سهار په تیارو تیارو کې د راې سین په لور بیرته کوچ وکړ.

کله چې خواص خان دفدایی خان دقبیلې سره یوځاې د راې سین سیمې ته را نژدې شو نو سمدستی یې خپل آس را مخته کړ او د ګنګا څنګ ته راغې. ګنګا په یوه ځواکمن آس سپره وه او خپل کوچنې یې تر شا پورې تړلې و . دخواص خان په کتلو سره ګنګا ډیره خوښه شوه ، کوچنې هم په ډیر غور سره د خواص خان په لور کتل او په ډیره بې قرارۍ سره یې دخپل پلار مینې ته انتظار ویست. کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواص خان را نزدې شو نوګنګا خپل آس کرار کړ، خواص خان ورمخته شو او د ګنګا په ملا پورې ترلې کوچنې ته یې مینه ورکړه او بیا یې ګنګا ته وویل چې:

ګوره ګنګا ! ته اوس اندېښنه مه کوه ، زما او ستا د جدا او سیدو لارې نورې پای ته ورسیدې ، ګنګا ورته په ډیره مینه وویل چې:

خواص خانه ! زما حبیبه ! زه د حالاتو څخه پوره پوره خبره یم. زه پوهیږم چې هغه جدای چې زمونږ د دواړو تر منځ په موقتي توګه را غلې وه هغه ډیره عارضي او ډیره ژر له منځه تلونکې ده. بیا به د تل له پاره مونږ یو ځان او دوه قالبه و اوسو. ګنګا دا خبرې په پوره مینه او محبت سره کولې

ګوره ګنګا ! ته د څه وخت له پاره د فدایي خان په همدې قبیلې کې اوسیږه. راې سین ته د رسید و سره سم به زه یو ځل هلته کملاوتي ته ورشم ، د هغې وروسته چې مونږ دواړو کوم پلان جوړ کړې دې د همغې مطابق به عمل کوم.

ګنګا ورته په خندا کې خپل سر را ښکته کړ، خواص خان هم پرې خوشحاله شو ، بیا یې خپل آس ته لښته ورکړه او د خپل لښکر په لور ولاړ. ګنګا د خواص خان د لارښوونې په مطابق هملته د فدایي خان په قبیلې کې پاتې شوه.

خواص خان د خپل لښکر او د فدایي خان د قبیلې سره یوځای راې سین ته ورسید ، شیرشاه سوری او د هغه سالارانو د خواص خان ،جلال خان او فدایي خان ټولو د زړه د اخلاصه استقبال وکړ. بیا د شیرشاه سوری په حکم فدایي خان د شیرشاه سوری د لښکر په منځنۍ برخه کې د خپلې قبیلې سره پړاو وکړ ، په داسې حال کې چې خواص خان هم د ګنګا او خپل زوې سره یو ځاې د فدایي خان د قبیلې په لور ورغلل. هغه خپل لښکر ته د شیرشاه سورې د برخې د لښکر سره یوځای د پړاو کولو حکم وکړ.

۷۲

کملاوتي په خپله خیمه کې ځانته ناسته وه چې د خیمې په دروازې کې ملوک چند او منوهر داس دواړه را څرګند شول. بیرون ولاړ ساتونکې هم هغوې دواړه منه نه کړل ، ځکه هغه پوهیده چې دوې دواړه د کملاوتي نزدې خپلوان دي او د هغې خیمې ته کله کله راځي ، کله چې هغوې خیمې ته راننوتل نو کملاوتي پورته شوه او هغوې ته یې ښه راغلاست ووایه. او بیا چې کله هغوې دواړه د کملاوتي څنګ ته ورغلل او کیناستل نو کملاوتي د احتیاط په خاطر د دروازې لورې ته وکتل او بیا یې په ډیره پټه توګه د دوې څخه وپوښتل:

ایا تاسو کوم ښه خبر راوړې دې؟

ګوره مالکې ! ما او منوهر داس په دې خاطر ستا خدمت ته راغلې یو چې تا ته ووایو چې په بهار کې د بغاوت د ټکولو وروسته دا دې ستا میړه خواص خان بیرته راې سین ته راستون شوې دې ،اوس هغه د خپل پړاو د عسکرو څخه لید نه کوي ، زما په آند چې تر لږه وخته پورې به هغه د لته ستا څنګ ته راشي. زه او منوهر داس په دې خاطر ستا خواته راغلو چې اوس ته مونږ ته د هغه د له منځه وړلو له پاره کومه اخري خبره وکړې. ملوک چند ورته دا خبرې په ډیره پټه توګه وکړې.

ګوره ملوک چنده ، ستا خبره سهی ده ، زما په آند چې اوس وخت را رسیدلې دې چې خواص خان له منځه یوړل شي ،ووایه چې ته په دې اړه څه فکر کوې ؟کملاوتي ورته په ډیره راز سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو منوهر داس دخپلو خیالاتو د څرګندولو په وخت کې وویل :

ګوره مالکې ! زه خو غواړم چې همدا نن شپه دخواص خان کار هم ورختم کړل شي او که نه دا معامله به نوره هم اوږده شي. او څومره چې اوږدیږي همغومره به زمونږ له پاره ستونزې را زیاتیږي. کملاوتي په ډیر غور سره د منوهر داس په لور وکتل او ورته یې وویل چې :

منوهرداسه او ملوکچنده. واورئ ! نن به نیمه شپه تاسو د خیمې د شا ددروازې څخه دننه راشئ ، هغه وخت به خواص خان په ژور خوب ویده شوې وي. دې لورې ته چې کوم ساتونکې ولاړ دې هغه به زه دګیډې ددرد په بهانه دډاکټر پسې واستوم تر څو ماته دهغه څخه دوایي راوړي او تر هغې چې هغه ماته د ډاکټر څخه دویي راوړي تر هغې به تاسو دخواص خان کار وختم کړي وی او دهمدې دروازې څخه به ووزئ او و به تښتئ ، او تر ټولو ښه خبره داده چې په کومه خیمه کې چې زه او سیږم او په کومه کې به چې اوس خواص خان راځي او قیام به په کې کوي دلښکر په منځ کې نه ده. بلکه یوې لورې ته ده ، نو په دې خاطر به دخواص خان د وژلو وروسته مونږ ته تیښته هم دومره اسانه وی ، زما په فکر چې ددې وروسته به خواص خان داخیمه د لښکرو منځته ور منتقلوي ، خو دا خبره هم یاد ساتئ چې که چیرې همدا نن شپه هغه دا خیمه دلښکرو منځته یوړه نو بیا به تاسو نه راځئ ، که چیر ې دا خیمه همدلته نصب وه نو تاسې د پلان په مطابق خپل کار ته دوام ورکړئ ، واورئ ! زماپه اند چې خواص خان به اوس دې لورې ته راځي ،څکه دهغه دبرخې لښکر به پړاو کړې وي ، نو په دې خاطر تاسې د شا ددروازې څخه بیرون شئ ،دکملاوتی دحکم د اوریدو سره سم منوهر داس او ملوکچند دواړه د خیمې د شا د دروازې څخه بیرون ووتل.

شپه ښه شوې وه ، اوخواص خان په خپله خیمه کې په ژور خوب ویده و ، شپه د نیمایی څخه اوښتې وه خو کملاوتي په ډیره بې قرارئ سره ویښه پاته وه . خوکله یې چې دخیمې د شا ددروازې څخه څه حرکت محسوس کړ نو په یوه منډه دخیمې هغه دروازې ته ورغله ، و یې کتل چې ددروازې څنګ ته ملوکچند او منوهر داس ولاړ دي. کملاوتي ورته په غوږ کې وویل چې :

ګورئ هغه لورې ته ساتونکې ما د ډاکټر پسې استولې دې او هغه به دلږڅه ځنډ وروسته را ستنیږي ، خواص خان په دې وخت کې په خواږه خوب ویده دې ، راننوځئ چې دهغې د له منځه وړلو له پاره ددې نه ښه وخت بل نه پیدا کیږي. ما د دې ځایه دتیښتې له پاره خپل ټول سامان را ټول کړې دې ، اوس تاسو دننه راشئ اوخواص خان ووژنئ. اودهغه د وژلو وروسته بیرته په دهمدغې شا د دروازې له لورې بیرون ته ولاړشئ.

دکملاوتي د وینا سره سم منوهرداس او ملوکچند خیمې ته را ننوتل ، کملاوتي ورته لاره وښوده ، دواړه یې د خیمې هغه خونی ته یوړل کومې کې چې خواص خان ویده شوې و ،بیا کملاوتي په خوله څه ونه ویل خو په اشارې سره یې دخواص خان لورې ور وښود ،پخپله په ډیره ګړندی توګه بلې خونې ته ولاړه .

لږه شیبه وروسته منوهر داس او ملوکچند هغه ځاې ته ورغلل چې کملاوتي په کې ولاړه وه . کملاوتي وکتل چې دهغوې په لاسو کې په وینو ککړې تورې وې. کملاوتي دا وانګیرله چې دوې دواړو خواص خان له منځه وړې دې. بیا ملوکچند کملاوتي ته وویل: ګوره مالکې ! مونږ خو ستا په وینا دادې خواص خان له منځه یوړ ، اوس ستا دکمرې تر څنګ دخواص خان لاش پروت دې کملاوتي اندیښنه څرګنده کړه . تاسې دواړه دا په وینو ککړې تورې همدلته په خیمه کې ښخې کړئ ، اوراځئ چې له دې ځایه و تښتو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکملاوتي د وينا سره سم منوهر داس اوملوکچند خپلې توري هملته په خيمه کې ښخې کړې اوبيا درې واړه دخيمې دشا ددروازې څخه ووتل اوپه تيښته شول.

کملاوتي لا تر اوسه دخيمې څخه څو قدمه لرې تللې نه وه چې د شاله اړخه پرې د توري ګذار وشو. داسې ګذار چې توره يې ملا څخه بيرون ووتله. اوکملاوتي يو ناڅاپه چغې او سوری جوړې کړې.

۷۷

کملاوتي د خوبه په بړبړو سره راپورته شوه ، ژر ژر يې په خپله ملا يې لاس وواهه. او بيا په عجيبو فکرونو کې ډوبه شوه. بيا يې خپل ځان ته وکتل او ويې ويل: زما په ملا خو چا توره نه ده را ننويستلې، ايا منوهرداس او ملوکچند به خواص خان وژلې نه وي ؟دا چې حقيقت څه دې ، زه نه پوهيږم خو ما خوب کوت. بيا کملاوتي خپل سر په دواړو لاسو و نيوه اوپه ډيره انديښنه کې خپل ځان ته وويل:

اه.دا څه ډول ظلم اوتيرې وشو ، ما خو داسې ګڼله چې منوهرداس او ملوکچند به خواص خان له منځه وړې وي ، خو دا خوب دحقيقت سره هيڅ ډول تړاو نه لري. نه زما په ملا کې چا توره را ننويستې اونه هغوې دواړه دخواص خان د وژلو له پاره زما خيمې ته را ننوتې دي . دا زما ويريدونکې خوب و. کملاوتي په همدې انديښنو کې پاته شوه ځکه چې دشپې له اړخه خواص خان دهغې تر څنګ ويده شوې و خو اوس خواص خان هلته نه و موجود. دخواص خان د نه موجوديت له امله کملاوتي نوره هم انديښمنه شوه.

کملاوتي غوښتل دخيمې په دروازه کې دولاړ ساتونکې څخه څه وپوښتې چې په همدې وخت کې څوکسه ښځې دهغې خيمې ته راننوتلې ، هغوې په وسلو سمبال وې ، هغوې کملاوتي و نيوله او په رسيو کې را تاوه کړه ، کملاوتي دهغوې څخه بيابيا پوښتل چې تاسې څوک ياست او ولې ما په دې رسيو کې را نغاړئ ؟ايا تاسو نه پوهيږئ چې زه دشيرشاه سوری داعلې سالار خواص خان ښځه يم ؟تاسې ولې زما سره داسې خراب سلوک کوئ ، داسې ښکاريده چې دا ښځې متحرکې مجسمې وي ،ځکه يوې هم کملاوتي ته دهغې دپوښتنو په اړه ځواب نه ورکاوه . بس په ډيره بيړه يې کملاوتي په رسيو کې و تړله اوبيا يې را ښکودله اودخيمې څخه يې بيرون وويستله.

هغوې کملاوتي يوې بلې خيمې ته يوړه ، په هغه خيمه کې دوه کوچني کوچني مشالونه روښانه و ، چې خيمه يې پوره پوره رڼا کړې وه. په خيمې کې يوه خالي بستره هم وه ، چې کملاوتي يې پرې ور وغورځوله.

بيا په تحکمانه توګه يوې ښځې کملاوتي ته وويل چې ستا اصل ځاې دا دې ، خو ګوره کملاوتي ! ددې ځايه به د تيښتې هڅه نه کوې او که نه څټ به دې در پرې کړل شي. ته خپل ښې لورې ته ووينه چې هلته څوک پروت دې. کملاوتي خپل ښې اړخ ته وکتل ، هلته دهغې کوژده شوې دکاکا زوې مهاکوې به ځنځيرونو کې تړلې پروت و . ددې ټولو حالاتو په کتلو سره کملاوتي ډيره حيرانه دريانه وه ، نه پوهيده چې څه وکړي ، په دې هم نه پوهيده چې دشپې په دې تياره کې دا انقلاب څه ډول راپيدا شو . هغې غوښتل ددې ښځو څخه پوښته وکړی ، خو هغه ښځې دهغې د پوښتنو د ځوابولو پرته د خيمې څخه بيرون ووتلې.

۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرشاه سوري څو ورځې نور هم هلته تم شو او د رای سین او چندریري نظم ونسق یې درست کړ او هلته یې خپل حاکمان و ټاکل او بیا د خپل لښکر سره یوځای د اګرې په لور روان شو. فدایي خان هم د خپلې قبیلې سره یوځای د هغه په لښکر کې روان و.

په اګرې کې شیرشاه سوری په پوره ځواک سره خپل ځان د راجه مالدیو پرخلاف د حملې له پاره تیاروو . بیا ددې تیارو په پایلو کې هغه اتیا زره فوځ له ځانه سره واخست او د راجه مالدیو پر خلاف د جنګ له پاره هغه لورې ته ورغې . هغه د راجپوتانه په پولو کې خپل فوځ ته د پړاو کولو حکم وکړ ، په دې وخت کې شیرشاه سوری خپل ټول سالاران یوې خیمې ته را ټول کړل ، دا د جنګ د پلان له پاره یوه کاری غونډه وه چې په کې فدایي خان او زوې اسماعیل خان هم ګډون درلود. کله چې ټول سالاران دشیرشاه سوری په خیمې کې سره راټول شول نو بیا شیرشاه سوری هغوې ته په وینا کې وویل چې:

زما دوستانو ،سالارانو او زامنو ! واورئ چې مونږ اوس د مارواړ د راجه مالدیو پر خلاف دادې دراجپوتانه پولو ته را رسیدلې یو اودلته مو پړاو کړې دې. نو زه تاسو ته ډاګیزه کوم چې د راجه مالدیو د پولو د ورننوتلو له پاره زمونږ تر مخه دوه سترې لارې شته. یوه د رنتمبور څخه تر اجمیره پورې ده اوبله د شیخاوټی او نارونو څخه تیریږي او د ناګور په لور ورځي . اوس به مونږ او تاسو ټول په ګډه دا پریکړه کوو چې مونږ ددې لارو څخه کومه یوه خپله کړو تر څو د راجه مالدیو پرخلاف یو پریکنده جګړې ته ځان ورسوو . ددې تر څنګ به زه تاسو ته دا هم ډاګیزه کړم چې اوس راجه مالدیو د خپلو اتیا زرو عسکرو سره یو ځای د دجودپور نه بیرون پړاو کړې دې. په داسې حال کې چې دهغه ډیر ښه جنرالان کوپا او جیتا دواړه د شل زرو دلښکر سره یو ځای ددیدوانه په سیمه کې پړاو کړې دې. د مالدیو په ملاتړ کې یو دریم لښکر هم شته چې هغه د راټورانو د ډلې څخه جوړ شوې دې او قوماندانې یې یو جرنیل کهیم کوي ، دوې د جی تارن او پیار تر منځه قیام کړې دې . اوس نو که مونږ د راجه مالدیو د سلطنت د ولکې کولو له پاره ورمخته کیږو نو دا اندیښنه شته چې هسې نه چې دا ټولې لښکرې زمونږ پر خلاف را ټولې شی او په متحده توګه پر مونږ باندې حمله وکړي.

تر هغې چې ماته ډاګیزه شوې ده چې راجه مالدیو به تر ټولو لمړۍ خپلو جنرالانو هر یو کوپا و جیتا ته حکم کوي چې هغوې زمونږ د لښکر سره مقابله پیل کړي. تر څنګ به یې خپل بل جنرال کهیم کرن ته حکم وکړی ترڅو هغه د راټورانو دلښکر سره یو ځای زمونږ تر شا را څرګند شي او مونږ ته د زیان د رسولو هڅه وکړي. او یا هغه وخت چې کوپا او جیتا زمونږ سره په جنګ کې ښکیل وي نو کهیم کرن هم د وینې تږیو نکې حیوان په څیر پر مونږ شبخون وکړي.

ددې حالاتو په رڼا کې ، زما دوستانو !تاسې ماته په راجه مالدیو باندې دحملې کولو له پاره څه سلا او مشوره راکوئ.شیرشاه سوری ددې پوښتنې دکولو وروسته خاموشه شو او د خپلو سالارانو څخه د ځواب دغوښتلو منتظر پاته شو . تر یوه وخته پورې ټولو سالارانو په خپلو منځو کې سره مشورې وکړې او بیا خواص خان دټولو په نماینده ګئ وویل :

زمونږ درونده اقا ، شیرشاه !دحرب دفنونو او سیاسي اړخه چې تا دکومو دوو لارو یادونه وکړه ،هغه دواړه ډیرې مهمې دي ، ددې نه علاوه دا چې زمونږ د ډلې څخه یو هم د راجپوتانه دسیمو څخه پوره اګاهي اوخبر تیا نه لري.اوبیا دا چې د مارواړ دراجه مالدیو عسکري توان هم له مونږه نه ډیر زیات دې. په دې حالاتو کې د راجپوتانه په صحرا کې په ورداخلیدو سره به مونږ ته ډیر احتیاط کول په کار وي او ترڅنګ به یې پوره ګړندي توب ته هم اړتیا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درونده شیرشاه ! لکه څنګه چې تا مخته یادونه وکړه په دې وخت کې په خپله مالدیو ، دهغه جنرالان کوپا اوجیتا او کهیم کرن په مختلفو سیمو کې دخپلو لښکرو سره پراته دي. هغوې ددې انتظار باسي چې مونږ د صحرا دکومې لارې څخه غواړو راجپوتانه ته ور ننوځو تر څو هغوې زمونږ تر مخ خپل ځآنونه منظم کړي او متحرک شي . نو په دې خاطر که مونږ غواړو د راجپوتانه د راجه ګانو پر خلاف موفقیت تر لاسه کړو نو زمونږ د حرکت څخه باید دشمن بلکل خبر نه شی . او زمونږ د جنګې پلان څخه هم خبر نه شي چې په راجپوتانه کې کوم ښار زمونږ لمړی هدف دې . ددې نه علاوه په راجه مالدیو باندې د حملې کولو په وخت کې څه احتیاطی تدابیر هم نیول په کار دي اوهغه دا چې د راجه مالدیو په چار چاپیر کې نور کوچنی کوچني راجه ګان هم شته ، اومونږ باید دهغوې د سیمو احترام او درنښت وکړو. اوکه نه هغوې به په غضب شي او مالدیو تر څنګ به زمونږ پر خلاف و دریږي.اودمالدیو ځواک به نور هم ځواکمن کړي.

درونده شیرشاه !تر هغې چې ماته ډاګیزه شوې ده ، راجه مالدیو او دهغه نور ټول جنرالان په دې وخت کې زمونږ څخه داهیله لري چې مونږ به د اجمیر په لور خوزیږو . او تر ټولو دمخه به اجمیر خپل هدف ټاکو. ځکه کوپا او جیتا چې په کوم ځای کې قیام کړې دي دهغې څخه دا سې ځرګندیږي چې هغوې په دې تمه دي چې مونږ به د اجمیر په لور کوچ کوو . او څه وخت چې مونږ دا سې وکړو نو کوپا اوجیتا به زمونږ په اړخونو باندې یرغل راوړي ،په دا سې حال کې چې دمالدیو بل جنرال کهیم کرن د راټورانو سره یو ځای زمونږ تر شا حمله کولې شی ، په دې اساس زما مشوره داده چې مونږ باید د ټولو تر مخه اجمیر خپل هدف ونه ګرځوو. ددې تر څنګ د اجمیر کلا هم ډیره ستره او ډیره مستحکمه ده اوددا سې مستحکمې کلا سوبه به زمونږ ډیر وخت خراب کړي. ددې سره یوځای به مالدیو ته کافی وخت تر لاسه شي تر څو هغه زمونږ پر خلاف بل کوم چال و چلوي. اوپه دې توګه زمونږ جنګي پلان د ناکامۍ سره مخ کړي اودا هم شونی ده چې که چیرې مونږ ډیره موده هلته په اجمیر کې په جنګونو کې را ونښلو نو راجه مالدیو دخپل فوځ یوه برخه جدا کړي اود هریانه له لارې د دهلي په لور ولاړ شی اوپه دهلی د ولکې کولو هڅه وکړي. که چیرې دا سې وشو نو دا به زمونږ له پاره ډیر زیانمن ثابت شي. په دې اساس صحراته د ورننوتلو نه وروسته دا سې احتیاط سره قدم اخستل په کار دي چې دهغې څخه راجه مالدیو اودهغې نور جنرالان بلکل خبر نه شی. اونه هغوې ددې اندازه واخلي چې مونږ لمړی کومې لورې ته ځو اوهدف مو څه دی؟

شیرشاه سوري دخواص خان دغه وړاندیز دومره خوښ کړ چې هغه د خیالونو په زانګو کې زنګیدونکې پاته شو. په دې خطر هغه په دې موضوع باندې د نورو خبرو کولو څخه ډډه وکړه. هغه سمد ستي دغه جنګې غونډه پای ته ورسوله او خپل فوځ ته یې دکوچ کولو حکم وکړ. اوپه دې توګه شیرشاه سوري د راجه مالدیو پر خلاف د حملې کولو له پاره دراجپوتانه دریګستان له لارې ور ننوت.

دلته د سترګو تر دید پورې شګې اوشګې خپرې دي، په دې شګو کې د سفرکولو په وخت کې داسونو سومان دننه په شګو کې ورننوځي. ددې نه علاوه د شیرشاه سورې سره چې دسامانونو ا وخوراکې توکو کومې ډکې ګاډۍ وې هغه هم په شګو کې د سفر وړ نه وې. شیرشاه سوری ددې ستونزې دحل له پاره یوه ډیره ښه لاره خپله کړه . هغه دشګو څخه بوجۍ ډکولې او په دې توګه یې سړک جوړ کړ اوبیا یې په همدې سړک باندې خپل لښکر او خوراک څښناک توکې په همدې ګاډیو کې په ډیره بیړه سره مخته وړل. په صحرا کې د ورننوتلو نه مخکې شیرشاه سوری د فوځ څو ډلې له ځانه جدا کړې وې ترڅو د جنګ په دوران کې ددهلی ، اګرې او نورو ښارونو څخه دهغه لښکر ته دخوراک څښاک وسایل را ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرشاه سوری په داسې حال کې چې په ډېره ګړندۍ توګه د صحرا څخه تیریده دخپل دښمن د دوکې له پاره هغه تر ټولو دمخه دبیکانیز لورې ته مخه کړه . په دې وخت کې راجه مالدیو هم متحرک شو ، هغه خپل پنځوس زره عسکر دتارن سیمې ته له ځانه سره راوړل تر څنګ یې خپل اعلې سالاران کوپا ، جیتا او اکهیراج ته هم حکم وکړ چې هغوې درې واړه هم خپل فوځونه د دیدانه څخه د تارن په لور راوړي . ددې نه علاوه د راټورانو یو لښکر هم د جنرال کهیم کرن په مشرۍ د مالدیو د کومک له پاره د تارن لورې ته روان شو .

جې تارن نومې دغه سیمه چې مالدیو په کې خپل ځواکونه راټول کړي و ،دجودپور څخه پنځوس میله شرق لورې ته او د اجمیر څخه څلوېښت میله غرب لورې ته پرته ده . مالدیو خپل ټول لښکر همدلته را ټول کړ تر څو په وخت شیرشاه ته ګذار ورکړی . که چیرې شیرشاه د جودپور په لور ولاړ شی نوهم به یې د ضربې لاندې و نیسي او که داجمیر په لور ولاړ شی نو هم به یې دحملې څخه خوندي پاته نه شی . خو هغه دبیکانیز سیمه حالاتو ته پری ایښې وه .

کله چې شیرشاه سوري وکتل چې د بیکانیز لورې ته د مالدیو هیڅ دفاعي ځواک نه شته .نو هغه هم بیکانیز له نظره و غورزاوه او په ناڅاپي توګه را وګرزید او دجې تارن په لورور وګرځید ، مالدیو هم همدلته دخپلو ټولو لښکرو سره یوځای پړاو کړی و . په دې توګه دواړه لښکرې په صحرا کې یود بل مخ په مخ دجنګ له پاره تیارې شوې .

په کوم ځای کې چې دمالدیو او شیرشاه سوری لښکرې یو بل ته مخ په مخ پریوتې وې هغه سیمه د شرق د اړخه پرته د نورو درې واړو اړخونو ته د لوني اودهغه دمعاون دریابونه بهیدل . خو دیخنۍ په موسم کې دا دریابونه وچیدل ،په دې سیمه کې ځنګلي ګیاه او وچې ویالې جوړې شوې دي چې دهمدې په واسطه د لښکرو ترمنځ کوچني کوچني جنګونه کول اسانه کارو . هغه وخت چې شیرشاه سوری د جې تارن او بیار تر منځه سیمه کې د خپل لښکرسره یو ځای پړاو وکړ نو کوپا ، جیتا او کهیراج چې هلته په دیدانه کې دخپلو لښکرو سره پراته وو هغوې هم دې سیمې کې د خپل اقا راجه مالدیو سره یو ځای شوي وو . دد ې نه علاوه د راټورانو قومندا کهیم کرن هم دخپلو لښکرو سره یو ځای دلته رارسیدلي و .

اوس نو حالات داسې وو چې را جه مالدیو اوشیرشاه سوری دواړه په دغه سوزنده صحرا کې دخپلو فوځونو سره یو ځای یودبل په مقابل کې پراته وو. راجه مالدیو غوښتل د جنګ پیلامه د شیرشاه له خوا وشی خو شیرشاه پخپله دجنګ دپیلامې څخه اندیښنه درلوده ، دبله اړخه شیرشاه سوری د جنګ پیلول نه غوښتل ،ځکه هغه دجنګ هغه ډلې چې د فوځونو د کومک درسولو له پاره یې په لارو کې درولې وې دهغوې سره یې تر اوسه پورې اړیکې نه و جوړ شوي .په دې خاطر هغه دحملې کولو څخه ځان ساته .

ان تر یوې میاشتې پورې دې دواړو فوځونو یوبل ته دجنګ دپیلولو انتظار کاوه . بلاخره شیرشاه سوري دخپلو هغو کسانو سره هم اړیکې استوار کړل چې دخوراک او نورو موادو دکومکونو د رالیږلو له پاره یې په لارو کې ټاکلي وو . او بیا یې په راجه مالدیو باندې دحملې کولو پریکړه وکړه .

دحملې کولو دمه شیرشاه سوري دخپلو جنګې قومندانانو غونډه را وبلله . دا غونډه دهغه په خیمه کې وشوه ، په دې خیمه کې خواص خان ، جلال خان ، برهم جیت اودشیر شاه سوري زامن هم راټول شوي و و . کله چې دا ټول په خیمه کې سره راټول شول نوبیا شیرشاه سوری ورته وویل چې : په دې صحرا کې دخیمې وهلو وروسته ما انتظار کاوه تر څو د کومک رسولو دګروپونو سره خپل اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټینګ کړم ،اوس دا اړیکې ټینګ کړل شوي دي ، اوس نو ددې نه زیات زه دلته په دې صحرا کې انتظار نه شم کولې. ځکه چې مونږ چې په دې صحرا کې څومره ځنډ کوو همغومره زمونږ په زیان تمامیږي. د رسد اوکومک لړۍ هم قطع کیدې شی په داسې حال کې چې د مالدیو تر شا دهغه ښارونه دهغه ټولې اړتیاوې پوره کوي،په دې اساس زه به سبا سهار وختي د جنګ نغاره وهم.اود راجه مالدیو پر خلاف حمله کوم په دې لړ کې تاسې ماته څه مشوره راکوئ

کله چې شیرشاه سوري خاموشه شو نو خواص خان ورته په ډیر غور سره وکتل او ورته یې وویل:

درونده شیرشاه ! زه خواص خان په دې وخت کې یو وړاندیز کول غواړم ،شیرشاه سوری ورته په ډیره مینه اوشفقت سره وویل: وو ایه زویه ! ستا آند څه دې ؟خواص خان ورته وویل چې زما محترمه !لکه څنګه چې لیدل کیږي د راجه مالدیو دلښکرو شمیره زمونږ څخه څو واري زیاته ده ، زما په آند چې هغه به دجنګ نه مخته خپل لښکر په څو برخو ویشي. یوه برخه به له ځانه سره پریږدي ،بله به کوپا اودریمه به جیتا ته ورکوی اوڅلورمه به کهیراج ته سپاري ، زما په آند چې پنځمه به جرنیل کهیمکرن ته ورکوي ، ددوې څخه به څو ډلې مخامخ پر مونږ حمله کوي ، اوپاته نورې برخې به یې د اوخونو له لورې زمونږ پر فوځونو باندې یرغل راوړي. ددې نه مخکې زه غواړم چې مونږ د راجه مالدیو سره د جنګ له پاره داسې یو تدبیر جوړ کړو تر څو راجه مالدیو دخپل لښکر ډیره برخه له ځانه سر ه واخلی اوددې ځایه تللو ته مجبور شي.

دخواص خان دې وړاندیز د شیرشاه سوری په سترګو کې ځلا راپیدا کړه. هغه وویل: خواص خانه زویه !دا به څه ډول شوني وي چې اوس چې مونږ غواړو جنګ پیل کړ و نو ددې پیلامې دمخه مالدیو دخپل لښکر یوه برخه له ځانه یوسی اوددې ځایه ولاړ شی. په ځواب کې ورته خواص خان په لوړ اواز وویل چې:

زما مشره !دا کار شونې دې. ته همدا نن عادل خان ته یو لښکر ورکړه او هغه د رنتمبور په لور ولیږه او دا څرګنده کړه چې هغه د رنتمبور له لارې غواړی په اجمیر باندې حمله وکړي. شیرشاه سوری سمدستي دخواص خان خبره ورغوځه کړه او ویې ویل:

خواص خانه زویه !دداسې کولو څخه به څه تر لاسه شي اودداسې کولو په اساس به ولې مالدیو دخپل لښکر یوه برخه له ځانه سره اخلی او ددې ځایه به ولاړ شی.

زما مهربانه! ما تر اوسه پورې دخپل پلان په اړه تاته پوره معلومات نه دې درکړې. ما داویل غوښتل چې عادل خان دې د رنتمبور په لور د تللو په وخت کې دا مشهوره کړي چې هغه په اجمیر باندې حمله کول غواړي. درونده شیرشاه !همدا اوس د اجمیر په ښار کې د راجه مالدیو راني (اوما دیوي ) اوسیږي ، کله چې مالدیو ته دا خبر ورسیږي چې عادل خان په اجمیر باندې حمله کوي نو هغه به دخپلې رانې اوما دیوي د راویستلو او داجمیر د دفاع له پاره پخپله دیوې برخې لښکر سره هلته ورځی. په داسې حالاتو کې به د راحه مالدیو د پاته لښکرو سره زمونږ جنګ څه آسانه وي ، دبله اړخه به عادل خان چې کومه کوچنۍ ډله عسکر له ځانه سره اخستې وي هغه به د رنتمبور څخه دمخه په کوم ښه ځاې کې پړاو کوي او هلته به په سنګر کې کیني. ترڅو بل ځوک پرې حمله ونه کړي ، اوکله چې ورته خبر ورسیږی چې راجه مالدیو د جنګ دمیدان څخه وتلې او د اجمیر په لور روان دې نو هغه دې هم بیرته دلته خپل لښکر ته را ستون شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې ځايه دپلان د وضاحت نه وروسته خواص خان خاموشه شو نو دشيرشاه سوری سر ښکته و ، څه فکر يې کاوه ، بيا يې سر راپورته کړ مسکې مسکې و بيا يې په زوره وخندل او په ډير شفقت سره يې خواص خان ته وکتل او بيا يې وويل:

خواص خانه ! ته په هر وخت او هر مصيبت کې زما په کار راغلې يې. اوس چې کوم پلان تا وړاندې کړ زه پوهيږم چې دد ې نه به ښه اوبهتر بل پلان نه وي ،که مونږ همدا اسې وکړو نو په يقين سره به راجه مالديو د اجمير په لور د تيښتې منډه وکړي. ګوره زويه ! زه به همدا اوس او همدا ګړۍ عادل خان د يوه کوچني لښکر سره وليږم تر څو د رنتمبور په لوررولاړ شي او دا ښرګنده کړي چې هغه د رنتمبور د لارې اجمير باندې حمله کوي. نو ددې خبر په اوريدو سره که راجه مالديو د خپل لښکر يوه برخه له ځانه سره کړي او هغه لورې ته ولاړ شي نو دا پاته لښکر به يې مونږ په همدې صحرا کې تر پښو لاندې کړو . که څه هم د مالديو سره د لښکر د تللو وروسته به بيا هم د هغه دومره لښکر دلته پاته وي چې زمونږ څخه به يې شميره ډيره وي خو د انديښنې کولو له پاره اړتيا نه شته ، مونږ به دې پاته لښکر ته داسې سبق ورکړو چې بابر رانا سانګا ته پدې دشتو کې ورکړی و. دشيرشاه سوري د ځواب په اوريدو سره خواص خان خوشحاله شو اوبيا يې په ويلو پيل وکړ.

زما درونده شيرشاه ! زه لږ څه نور هم ويل غواړم. شيرشاه ورته وکتل او ورته يې وويل چې ته څه غواړې؟ ته ولې انتظار کوې اوتا ته داجازې اخستو څه اړتيا ده ؟ خواص خان مسکې شو اوويې ويل:

سبا چې ته دجنګ د نغارو د وهلو حکم کوې نو که چيرې ددې نه مخته راجه مالديو د اجمير په لور روان شوې و نو بيا به د هغه په نشت کې چې د هغه کوم لښکر زمونږ سره ټکر کوي نو هغه به يقينا په څلورو برخو ويشل کيږي،يوه برخه به يې د راجه مالديو د سالار کوپا او بله به يې د جيتا او دريمه به يې د اکهيراج او څلورمه به يې کهيم کرن تر قومندو لاندې وي

دهغوې څلورو په مقابل کې ته خپل لښکر په پنځو برخو باندې وويشه. يوه برخه يې ماته راکړه او زه به همدا نن شپه ددې صحرا دشګو په غونډيو کې سنګر و نيسم. بله برخه يې دخپل ځان سره وساته ،دريمه يې جلال خان جالو ته او څلورمه يې برهم جيت ته او پنځمه يې خپل زوې جلال خان ته ورکړه . تاسې دخپلو څلورو برخو سره د دشمن په مقابل کې مقاومت وکړئ کله چې جنګ زور واخلي نو بيا به زه خپل کردار ادا کړم.د سنګر څخه به را ووځم او ددښمن هغه لورې ته چې پر تاسې يې فشار زيات وي د حملې کولو هڅه وکړم. او زه هيله لرم چې زما د سنګر څخه د راوتلو وروسته به ددښمن ليکې يو په بل پسې ماتې شي.

شيرشاه سوری په ډيره ستاينه کونکې توګه خواص خان ته وکتل او ورته يې وويل:

خواص خانه زويه ! زه ستا ددې وړانديز ډير قدر کوم ، ګوره زويه ! زه به ستا د وينا په اساس خپل لښکر په پنځو برخو وويشم او ته دهمدې نن شپې څخه هلته په سنګر کې ځان پټ کړه . عادل خان به هم د يوه کوچني لښکر سره يو ځای ددې ځايه روان شي. اوس تاسو ټول پورته شئ او ارام وکړئ ،ددې خبرې سره سم د جنګې شورا ټول غړی دخيمې څخه را ووتل ، دلږ ځنډ وروسته عادل خان د يو ټولې عسکرو سره د رنتمبور په لور رهي شو اوخواص خان دخپل لښکر سره يو ځای هلته په سنګرونو کې کيناست.

بيا يې څلورو خواو ته دا خبر خپور کړ چې دشيرشاه سوری زوې عادل خان د رنتمبور له لارې په اجمير باندې دحملې له پاره ولاړ.دا خبر ددښمن کمپ ته هم ورسيد. دخبر د اوريدو سره سم راجه مالديو په لړزه شو نو په نيمايی شپه کې يې دخپل لښکر يوه برخه له ځانه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخسته او د جنګ د میدانه څخه ووت او د اجمیر په لور ولاړ. په دې ترتیب هغه پلان چې خواص خان د شیرشاسوري تر مخه وړاندې کړې و هغه په پوره توګه عملي شو.

بله ورځ د جنګ د پیلامی له پاره شیرشاه سوری په خپل فوځ کې د جنګ ډول وواهه. او دخپل لښکر لیکې یې جوړه ولې، نو راجپوتانو چې کله وکتل چې شیرشاه سوری د جنګ پیلونکې دې نو هغوې هم په خپل متحده لښکر کې تورومونه و غړول. اوپه ډیره بیړه یې دخپلو لښکرو لیکې جوړې کړې.

دخواص خان اندازه سهي وخته، راجپوتانو خپل لښکر په څلورو برخو وویشه، یوه برخه یې کوپا، بله یې جیتا او دریمه یې اکهیراج او څلورمه یې کهیم کرن تر قومندې لاندې ورکړه. هغوې کهیم کرن په منځنۍ برخه کې وساته په داسې حال کې چې کوپا اوجیتا په ترتیب سره ښې او چپ اړخ ته شول، په دې توګه د راجه مالدیو جنرالان ښې اوچپ لورې ته شول تر څو په شیرشاه سوری باندې دحملې له پاره ځان جوړ کړی.

دبله اړخه شیرشاه سوری هم خپل لښکر په همغسې ترتیب سره منظم کړ، دلښکر په منځنۍ برخه کې پخپله پاته شو اوخپل زوې جلال خان یې دخپل ځان سره وساته پهداسې حال کې د لښکر په ښې اړخه کې یې جلال خان جالو او چپ لورې ته برهم جیت وساته. اوس نو د جنګ په میدان کې د اکهیراج او کهیم کر ن په مقابل کې شیرشاه سوری اودهغه زوې جلال خان ولاړ وو. د مالدیو دجنرال کوپا په مقابل کې جلال خان جالو ولاړ و او د سپه سالار جیتا په مقابل کې د شیرشاه سوری قومندان برهم جیت و درید.

جنګ شیرشاه سوری دخپل زوې جلال خان په متهو پیل کړ. هغه د مالدیو د لښکر په زړه باندې چیرې چې اکهیراج او کهیم کرن دهغه په مقابل کې ولاړ و، حمله وکړه. اکهیراج او کهیم کرن دواړو د شیرشاه سوری او دهغه د زوې مقابله وکړه، دهغه حمله یې وتمبوله اوبیا یې په خپله ځوابي حمله پیل کړه.

په همغه وخت کې چې شیرشاه سوری د راجپوتانو دلښکر په قلب باندې حمله وکړه نو د هغوې نور جنرالان لکه کوپا او جیتا هم په حرکت راغلل او هغوې هم په جلال خان جالو او برهم جیت باندې توپانې حمله وکړه.

کوپا چې په هندوستان کې دراجپوتانو یو مشهور او منلې قومندان و د جلال خان جالو په لښکرو حمله راوسته، اوپه لمړیو کې دهغه لښکرې د تر پښو لاندې کړې اوبیا په ډیره بیړه دجلال خان جالو په لښکر کې دننه ورننوت.

که څه جلال خان په پوره همت او میړانې سره د کوپا مقابله وکړه، په دې و توانید چې دهغه دا وینه تویونکې حمله په یوه ډول و تمبوي

.

په همدې وخت یو انقلاب راغې او خواص خان د خپل لښکر سره یو ځاې دخپلو پټنځایو څخه راووت، مخته راغې او تر ټولو لومړې یې کوپا اودهغه لښکرې تر برید لاندې راوستې. هغه په خپلې همغې لمړنۍ حمله کې کوپا او دهغه لښکرې بې وسه کړې اودماتې سره یې مخ کړې، دهغه هغه لښکر چې لږ تر مخه د جلال خان جالو په لیکو کې ور ننوتې وې او د هغوې لیکې یې له منځه وړې وې اودمخکې تللو هڅې یې کولې اوس یې د تیښتې لارې لټولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو دخواص خان په مقابل کې دکوپا دلښکرو حالت دا سې ګرزېدلې و لکه د جلال خان دلښکرو حالت چې د کوپا په مقابل کې ګرزېدلې و. کوپا هڅه وکړه چې خپل لښکر بيرته را منظم کړي او نيمايي د جلال خان جالو او نيمايي د خواص خان سره په جنګ کې را ونښلوي خو بری يې په برخه نه شو ، خو هغه ډېر وارخطا و ، ځکه هغه يوځل په مالوه کې د خواص خان په لاسو ماتې خوړلې وه او کله يې چې د خپل پاته نيمايي لښکر سره يو ځای دخواص خا ن دمخې د نيولو هڅې وکړې نو په هغې کې نو ر هم د ناکامۍ سره مخ شو.

کوپا او د هغه لښکرې د خواص خان په مقابل کې د تم کېدو نه وې ، ځکه په هغوې يو اځې خواص خان نه بلکه د مخې له لورې جلال خان جالو هم خپلې غضب ناکه حملې پيل کړې وې ، کوپا هڅه کوله چې خپل ځان کوم خوندي ځای ته وکاږي ، يو وخت هغه غوښتل شاته ولاړ شي خو خواص خان او جلال خان جالو د هغه د شاته تګ مخه بنده کړه او هغه يې کلابند کړ ، کوپا يو ځل بيا هڅه وکړه او اکهيراج او کهيم کرن دلښکر په لورو رغې تر څو خپل حالات سنبال کړي خو په هغې کې هم ورته څه په لاس ورنه غلل. ځکه چې د هغه د دې کار سره سم خواص خان د هغه پر خلاف په خپلو حمله کې ډېر ښت راوست او د هغه د پاته کسانو په وژلو يې لاس پورې کړ . اوس نو کوپا د خواص خان په مقابل کې ډېر بې وسه شوې و . خواص خان او جلال خان دواړو دکوپا لښکر يو په بل پسې له منځه يوړ او پخپله کوپا هم په دې جنګ کې دخواص خان په لاسو و مړ.

د کوپا د وژلو وروسته خواص خان د مالديو د دويم قومندان جيتا په لښکرو د شا له اړخه بريد وکړ او په ډېره بيړه مخته ولاړ او په خپل مخکې د دښمن لښکرې يې يو په بل پسې له منځه وړلې. خواص خان په ډېره ګړندۍ توګه د جيتا د لښکرو حالت هم د بدحالۍ سره مخ کړ. کله چې جيتا او د هغه لښکريانو ته ښرګند ه شوه چې خواص خان د هغوې د شا له اړخه حمله کړې ده نو د هغوې ساه ګانې و دريدې ، ځکه چې د هغوې د شاله اړخه خواص خان د هغوې د لښکرو د ليکو د له منځه وړلو او د هغوې د عسکرو د ترپښو لاندې کولو کار په پوره بيړه پر مخ بوته.

سالار جيتا په پوره توګه هڅه کوله چې خپل لښکر د خواص خان د حملو څخه خوندي ځايو ته کړي خو خواص خان د هغه هره هڅه د ناکامۍ سره مخامخ کوله. هغه د جيتا لښکر د ډېرو ناوړه حالاتو سره مخ کړې و . ځکه د مخې له لورې د جيتا په لښکرو باندې د برهم جيت حملې کولې او د شا او اړخونو له لارې پرې خواص خان د قهر او غضب په څېر را پرېوتې و . اوس نو د جيتا دلښکرو د جنګ ولوله نوره مړاوې شوې وه ،ځکه هغوې د دې څخه هم خبر شوي و چې خواص خان د کوپا لښکر او په خپله کوپا هم د جنګ په ميدان کې له منځه وړې دي ، په دې خاطر د جيتا هغه برخه لښکر چې د خواص خان په مقابل کې جنګيد ه هغوې کرار کرار د ميدانه په وتلو شول او د هغوې شاته تګ د جيتا د ټول لښکر له پاره د مرګ پيغام و و.

اوس نو د خواص خان دلښکرو حوصلې د پخوا څخه نورې هم زياتې لوړې شوې وې. هغوې هرې لورې ته د دښمن عامه وژنه پيل کړې وه . کله چې د جيتا مخکښې ليکې هم په شا ولاړې نو خواص خان د هغوې په ليکو کې ورننوت او د هغوې ډېره کې يې له منځه يوړل.

جيتا هڅه کوله تر خپل لښکر سره راټول کړي خو خواص خان د هغې هر قدم د ناکامۍ سره مخامخ کاوه او بيا دا سې وخت راغې چې خواص خان په جيتا باندې يرغل وروست او د هغه څټ يې په يوه ګذار د ګردنه پرې کړ.

دجيتا د مړينې وروسته د هغه دلښکرو حال ډېر خراب شو او ميږو وزو په څېر يې په تيښته پيل وکړ ، ټول يوې خوا بلې خوا ته خواره واره شول ، خواص خان او برهم جيت د هغوې دواړو لورو ته روان و او د هغوې عسکر يې په بيړه بيړه له منځه وړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بله اړخه شیرشاه سوري او دهغه زوې جلال خان هم د اکهیراج او کهیم کرن په لښکرو باندې ور روان و اوددښمن سره یې د وینې او اور وحشتناکه جنګ پیل کړې و .

په همدې وخت کې خواص خان هم داکهیراج او کهیم کرن په لښکرو باندې خپله قهرناکه حمله وروسته. بالاخره په دې جنګ کې د راجه مالدیو لښکرو ته سخته ماتې ورکړل شوه دهغه جنریلان کوپا ، اکهیراج ،او جیتا د جنګ په ډګر کې ووژل شول او کهیم کرن د جنګ د میدانه په تیښته بریالې شو.

۷۸

د راجه مالدیو په پړاو باندې د ولکې کولو نه وروسته ، شیرشاه سوری همدلته د جې تارن او پیار تر منځه د جګړې په میدان کې خپلو فوځونو ته د ارام کولو حکم وکړ. د سامیل دغه جګړې په یوه ډول د مالدیو دبرخلیک په اړه پریکړه کړې وه ، مالدیو ته دهغه د تیرو ګناهونو سزا د شیرشاه سوری اودهغه د سالار خواص خان په لاس ورکړل شوه. دهغه مشهور سالاران ، کوپا ، جیتا او اکهیراج له منځه تللي وو ، دهغو سالارانو پرته مالدیو هسې یوه نښه ځرګندیده . خلکو به ویل چې دماروړان راټور راجپوتان د سرد پرېکولو نه وروسته هم جنګیږي، خو په دې شپاړسمه پیړۍ کې شیرشاه سوری په دې صحرا کې دراجپوتانو عسکر په عامه توګه ووژل. او دا چې راجپوتان یوډول نا قابل تسخیر ګڼل کیده هغه عقیده او فکر له منځه ولاړ.

په سامیل کې دځو ورځو دقیام نه وروسته ، شیرشاه سوری خپل لښکر په دوو برخو وویشه ، یوه برخه یې خواص خان ته ورکړه او جلال خان جالو یې ورسره نایب وټاکه. اوهغه یې د جودپور په لور ولیږه. تر څو هغه د راجه مالدیو په هغه ښار ولکه وکړي، خو دلښکر بله برخه یې دخپل زوې جلال خان په واک کې ورکړه او برهم جیت یې ورسره نایب وټاکه تر څو ولاړ شي او د اجمیر په ښار باندې ولکه وکړي ، ددوې سره د شیرشاه سوری بل ځوې عادل خان هم په لاره کې ملګرې شو .

پخپله راجه مالدیو دجنګ د میدان څخه تښتیدلې و او د اجمیر په لور تللې و ځکه دهغې ملکه اومادیوی همدلته اوسیده.

ځرنګه چې د اومادیوی سره دواده په لمړۍ شپه ، مالدیو دخپلې یوې نوکرې سره زنا کړې وه ، نو په همغې اساس د اومادیوې زړه مات شوې و او د خپلې لمړۍ شپې دناویتوب په وخت کې یې سوګند کړې و چې هغه به خپل ټول ژوند د یوې پیغلې په څیر تیروې نوپه دې خاطر هغې د مالدیو د اوسیدو د جودپور دښاره لرې هلته په اجمیر کې ځانته د اوسیدو ځاې غوره کړې و .

د سامیل دمیدان څخه د تښتیدو وروسته راجه مالدیو اجمیر ته رسیدلې واودخپله رانې اومادیوې یې دهغه ځایه را وویسته او جودپور ته یې له ځانه سره یوړه . په همدې وخت کې مالدیو ته خبر ورسید چې دجنګ په ډګر کې دهغه درې واړه تکړه اومشهور جنرالان له منځه تللې دي. او اوس د شیرشاه سوری سالار خواص خان د جودپور د نیولو له پاره هغې لورې ته خوزیدلې دې. په داسې حال کې چې د شیرشاه سوری نیمایې لښکر د اجمیر د نیولو له پاره هغه لورې ته خوزیدلې دې . ددې خبر د رسید و سره سم مالدیو چې څومره سامانونه د جودپور څخه ویستلې شو وېې ویستل اود سیوان کلاته یې منتقل کړل. ددې ترځنګ هغه د راجپوتانو ټولې ښځې اوکوچنیان همدې کلا کې ځاې په ځاې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیوان کلا د جودپور په جنوبي غربي برخه کې نژدې شپیته میله واټن کې پرته ده ، دغره په لوړه څوکه کې پرته ده،دې کلا ته ورتګ ډیر ستونزمن دی ، نو په دې خاطر ددې کلا د کلابند کولو د مخه خواص خان د راجه مالدیو مرکزي ښار جودپور کلابند کړ.

که څه هم د جودپور کلا د خپل ټینګښت او کلکوالي له لوري ډیره مشهوره وه ، خو مالدیو یو چال څخه کار واخست ، او د خپل لښکر یوه برخه یې همدلته د جودپور د دفاع له پاره پریښوده او بله نیمایي برخه یې سیوان ته منتقل کړه.

په هر صورت خواص خان جودپور کلابند کړ ، په جودپور کې د مالدیو سالار د مخه دا پریکړه کړې وه چې هغه به هملته په کلا کې کلابند پاته کیږي او د خواص خان سره به مقابله کوي ، کله چې خواص خان د جودپور په کلا باندې یرغل راوړي نو هغه به د کلا څخه د ننه د خپله ځانه دفاع کوي. تر څنګ به یې په خپله راجه مالدیو د سیوان څخه بیرون راوځي او کله کله به په خواص خان باندې شبخون کوي په دې توګه به خواص خان په تنګ شي او خپله کلا بندي به پای ته ورسوي. خو خواص خان دا ټول تدبیرونه ناکاره کړي و ، ځکه په کومه ورځ چې خواص خان جودپور ته ورسید نو په همغه ورځ هغه د ښار د دیوالونو تر څنګ خپله توپخانه نصب کړه تر څو د ښار په دیوالونو ګولۍ وورو ي او دیوالونه یې را پرباسي تر څو په ښار باندې د حملې کولو له پاره لاره برابره شي.

په ښار کې د راجپوتانو لښکرو ، هغوې وکتل چې خواص خان په ښار باندې د ولکې کولو او د ښار د دیوالونو د راپرېوستلو له پاره خپله توپخانه د رولې ده ، نو ټولو یو ځای دا پریکړه وکړه چې پخوا له دې چې خواص خان د توپونو ګولۍ ووروي او د کلا دیوالونه مات کړي او کلا ته را ننوځي او بیا دلته ټول لښکر او عام وګړي قتل عام کړي نو ښه به دا وي چې د جودپور څخه ووزي او د ښاره بیرون مقابله وکړي. د دې پریکړې نه وروسته سبا ورځ د مالدیو کلابند لښکر د کلا څخه را ووت او د خواص خان تر مخه یې د جنګ له پاره ځانونه تیار کړل.

په جودپور کې د مالدیو درې تکړه قوماندانان وو. چې یو یې تلوکسي ، بل یې بیمل بهای او دریم یې برجنګ وو. د خواص خان په خلاف د جنګ له پاره دې درې واړو جنرالانو د خپلو فوځونو لیکې جوړې کړې ، خپل لښکر یې په درې برخو وویشه، تلوکسي خپله برخه لښکر په منځنۍ برخه کې وساته خو بیمل بهای او برجنګ د اړخونو لوروته شول. هغه وخت چې د جنګ له پاره دې قوماندانانو د خپلو عسکرو لیکې سمولې ، نو خواص خان هم د خپلو عسکرو مخې ته راغې او د جلال خان جالو تر څنګ ودرید. او په ډیر راز سره یې ورته وویل:

ګوره جلال خانه وروره ! ته خو خپلې مخې ته د دښمن لیکې ګورې. هغوې خپل لښکر په درې برخو ویشلې دې.

خو جلال خانه ! ته اندیښنه مه کوه ،زه وینم چې د دښمن د لښکرو شمیره هم زمونږ څخه ډیره ده او زمونږ د دواړو په مقابله کې د هغوې جنرلان هم درې کسان دي ، وروره ! ته خو پوهیږې چې د دې نه مخته مونږ د ډیرو بدو حالاتو مقابله کړې ده او که خدای کول نن ورځ به هم مونږ ته بریا او زیرې راکړي.

جلال خانه ! کله چې د دښمن په جنګ لاس پورې کړې نو ته هم ورسره ټکر وکړه او یوازې تلوکسي خپل هدف و نیسه ، زه به د برجنګ بیمل بهایي سره په خپله ټکر وکړم. خو فکر وکړه چې ته یوازې د تلوکسي سره د ټکر له پاره ځان جوړ کړې او د اړخونو له لارې د هغه دفوځ سره لاس په لاس شې تر څو بیمل بهای او برجنګ پر تا باندې ګذار و نه شي کولې. زه به تر هر څه لمړی د بیمل بهایي او برجنګ پر خلاف حمله وکړم. بیا به انتظار وکړم چې هغوې زما پر خلاف یرغل راوړي ، زه به تریوه وخته پورې دفا ع کوم بیا به په جارحیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې لاس پورې کوم، تر دې وخته پورې به ماته خپل ځواک هم معلومه شوي او ددښمن د ځواک اندازه به مې هم ځانته معلومه کړې وي.

جلال خان جالو ورته وویل: خواص خانه. زه هیڅ ډول اندیښنه نه کوم، او نه د اندیښنې کولو له پاره اړتیا شته ، زه خو غواړم چې دهغې لښکر قومندان چې خواص خان وي نو هغه ته ماتې ورکول که ناممکنه نه وي نو سخته خوده. خواص خانه ! لکه څنګه چې تا وویل انشاءالله نن ورځ به زمونږ له پاره د بریا او خوشحالۍ خبر راوړي.

په دې وخت کې ددښمن درې واړو جنرالانو دخپلو لیکو د سمولو وروسته د جنګ له پاره ځانونه وڅنډل. په دې خاطر خواص خان خپل اس را وګرځاوه او په ډېره بېړه یې ځان د خپل فوځ مخې ته ورساوه.

دټولو د مخه جنګ تلوکسی پیل کړ. او د جالو خان جالو په لښکرو یې حمله وکړه. بیمل بهای او برجنګ هم د خواص خان په خلاف په جنګ را ګیر شول.

دخواص خان د وینا له مخې دهغه له لورې تر ټولو د مخه جلال خان جالو جوابی حمله پیل کړه او خپل همت او میړانه یې وښوده ، هغه د تکبیر د غږ په پورته کولو سره په خپلو فوځونو کې نوې عزم او نوې ولوله را پیدا کړه او د تند توپان په څیر یې د تلوکسې په لښکرو کې وینه تویونکې حملې پیل کړې.

د له اړخه خواص خان په ډېر مهارت ، جرائتندئ ، او زړه ورتیا سره دخپلو جنګې تجربو څخه دکار اخستلو په اساس د بیمل بهای او برجنګ حملې و تمبولې. هغه دخپل لښکر یوه برخه د برجنګ دحملې د تمبولو له پاره ځانګړې کړې وه. هغه وروسته په جارحیت باندې لاس پورې کړ او دتکبیر د غږ د پورته کولو سره سم یې ټول لښکر د الله اکبر او ازونه پورته کړل او دهمدې تکبیرونو په اورېدو سره دبیمل بهایی د لښکرو زور کیناست، هغه د تدبیرنه په کار اخستو سره خپلې لښکرې سره را ټولې کړې او بیا یې د اور د ګولیو په څیر د برجنګ په فوځونو باندې یرغل وروست.

د خواص خان داحمله دومره تیره اوتنده وه چې برجنګ یې تاب را نه وست او په تیښته یې ځان بیمل بهای ته ورساوه. په دې توګه خواص خان په دې بریالې شوې و چې دواړه جنرالان سره را یوځای کړی او دهغوې په مقابل کې ودریږی.

خواص خان ددواړو جنرالانو په خلاف حمله پیل کړه ، جنرالانو د ډیرو هڅو سره سره و نه شو کړای د خواص خان په مقابل کې ټم شي ، خواص خان په پرلپسې توګه دهغوې په فوځونو ګذارونه کول او هغوې یې یو په بل پسې له منځه وړل.

د جودپور په دې هموراه میدانې سیمه کې دغه وینه تویونکې جنګ تر ډېره پورې دوام وکړ د راجه مالدیو جنرالانو ، تلوکسي ، برجنګ او بیمل بهایی ، دخپلو اړخو څخه ډیرې هڅې وکړې تر څو دخواص خان لښکرې شاته و تمبوی خو هغوې د ناکامۍ سره مخ شوې اوس نو جلال خان جالو هم په پوره توګه په تلوکسي باندې لاس برې شوې و او په هره لمحه کې دهغه د په شا تمبولو په موډ کې و . په داسې حال کې چې خواص خان بیمل بهایی او برجنګ دواړو حالت دومره خراب کړ چې دواړو د میدانه دتیښتې پریکړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا چې کله تلوکسي ،بیمل بهایی او برجنګ د جنګ په ډګر کې خپله ماتې ومنله او دخپل منځې مشورې وروسته یې غوښتل خپل ځانونه په کلا کې کلابند کړي نو خواص خان او جلال خان جالو هغوی تر شا تعقیب کړل ، ددې تعقیب په وخت کې تلوکسی دجلال خان جالو په لاسو وژل شو ، په دې توګه خواص خان او جلال خان جالو دهغوی درې واړو دلښکروعامه وژنه پیل کړه .

د جودپور ټول ساتونکې فوځ چې د جنګ میدا ن ته راغلې و ، له منځه ولاړ ، تر څنګ یې دهغوی دفوځ درې واړه جنرالان هم د جنګ په ډګر کې له منځه ولاړل ، نوپه دې خاطر اوس په جودپور کې داسې لښکر نه و چې دخواص خان او جلال خان جالو تر مخه و دریږي اودښارنه دفاع وکړي. په دې اساس دښار خلکو دپوره بې وسۍ په اساس داپریکړه وکړه چې دخواص خان او جلال خان جالو تر مخه د ښار دروازې پرانزي. په دې توګه خواص خان او جلال خان جالو ښار ته ورننوتل اوپه ښار یې ولکه وکړه

۷۹

خواص خان څوورځې هلته د جودپور په ښار کې تم شو ، دهغه ځای نظم ونسق یې جوړ کړ اودهلته یې دخپله اړخه یو حاکم و ټاکه. بیا د جودپور څخه دسیوان په لور وخوزید ، هلته راجه مالدیو ځان کلابند کړې و .

دجودپور دلښکرو دا آند و چې کله چې دوی دخواص خان پر خلاف جنګ پیل کړي نو راجه مالدیو به دسیوان څخه دهغوی سره دکومک له پاره را ودانګي اوپه دې توګه به دخواص خان پر خلاف دوه اړخیزه حمله وشي اوخواص خان به تیښتې ته اړ کړل شي، خو هغوی هغه وخت ناهیلي شول چې مالدیو په سیوان کې تم شو اودهغوی کومک ته را نغې ، اوپه دې تو ګه دجودپور لښکرو ماتې وخوړه او جودپور د خواص خان په لاسو کې پریوت.

راجه مالدیو دخواص خان د میړانې څخه ښه خبر و . په دې خاطر یې د جودپور څخه بیرون د خواص خان سره د ټکرکولو نیت و نه کړ. اوهملته په سیوان کې پاته شو ، دبله اړخه خواص خان څو ورځې هلته په جودپور کې د تم کیدو نه وروسته د سیوان په لور وخوزید ، سیوان ته د ورتلو د مخه هغه خپل جاسوسان خپاره کړی و ، تر څو هغوی د لرې لرې ځایو څخه ددشمن په اړه اطلاعات را ټول کړي.

خو کله چې را جه مالدیو ته خبر ورسید چې خواص خان د جودپور څخه را وتلې او د سیوان په لور راخوزیدلې نو هغه دخواص خان د تم کولو له پاره دیوه بل تدبیر څخه کارو اخست.

هغه د سیوان څخه یو لښکر را ولیږه ، ددې لښکر سپه سالاران یې رامداس دلپت او ګوګل وو . ددې ترڅنګ یې د ګوګهنډ په لور خپل قاصدان و استول اوپه ګوګهنډ کې یې خپل سالار روپسې بانټط ته حکم وکړ تر څو د ګوګهنډ څخه یو لښکر له ځانه

سره راوخلي اودخواص خان د تلو لاره خنډ کړي ، په پوکهرن کې د راجه مالدیو سالار روپسې بهایی هم د جنریل بینید اس سره یوځای شو او د سترلښکر سره یو ځای دخواص خان د لارې د بندولو پسې راووت.

راجه مالدیو خپلو ګاونډویو ښارونو ته هم خپل قاصدان و استول ، د پهلوې ښار کې د راجه مالدیو سالار دهنا بهایی و هغه هم د راجه مالدیو د ملاتړ له پاره یو لښکر تیار کړ او دخواص خان د لارې د بندولو له پاره راووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو دپهلوي حاکم دهغنا بهايي په پوکهرن کې د راټولو شوو پنځو جنرالانو سره سلا مشوره وکړه ، دا پنځه جنرالان هر يو روپسي بهايي ، بيني داس ، رام داس ، دلپت او ګوګل وو . د خپل منځي سلا مشورې وروسته پريکړه وشوه چې دهنابهايي دې د خپل لښکر سره يو ځاې د پهلووي ښاره بيرون قيام وکړي ، خو روپسي بهايي ، بيني داس ، رام داس او ګو ګل دې پوکرن د ښاره بيرون دخپلو لښکرو سره يو ځاې پړاو وکړي ، کله چې خواص خان دخپل لښکر سره يوځاې دهغه ځايه تيريږي نو دوې دې پرې د شپې له اړخه شبخون وکړي، دې جنرالانو د اجنګ له پاره دا ډير ښه پلان جوړ کړې و ،ځکه چې د جودپور څخه د سيوان په لار باندې د تللو په وخت کې چې خواص خان کومه لاره استعمالوله نو هغه د همدې پهلووي او ګوګهنډ دښارونو څخه تيريدله او دا هغه ځاې چې هغه پاته څلورو جنرالانو د خواص خان د ماتي او ځپلو له پاره غوره کړې و .

له يوه لورې د مالديو ټولو جنرالانو دخواص خان د را ځملولو او ځپلو له پاره د جنګ داسې پلان او جال تيار کړې و چې په رښتيا هم دخواص خان له پاره مرګونې تماميدې شو ، خو دبله اړخه خواص خان هم د ټولو خبرونو څخه خبريده ،دهغه مخبرانو هغه د مالديو د جنرالانو د ټولو پريکړو څخه خبراوه نو په دې خاطر خواص خان د پهلووي او ګوګهنډ په لور داسې سفر کاوه چې ورځ به وه ، کله چې يوه شپه ناوخته دې سيمو ته ورسيد نو يو ستروينه تويونکې انقلاب را منځته شو .

هغه داسې چې يوه ورځ ، د نيمې شپې نه مخته په داسې حال کې چې دراجه مالديو جنريل دهنابهايي دپهلووي ښاره بيرون دخپلو لښکرو سره پړاو کړې و نوخواص خان هم دخپل لښکر سره همله تهو ورسيد. دهنابهايي ګمان هم نه کاوه چې خواص خان به داسې لاره بدلوي اودده په لور به راځي او دده په لښکر باندې به ناڅاپي يرغل کوي. په دې خاطر هغه اودهغه لښکر ټول په ژور خواږه خوب ويده شوي وو . خواص خان دهغوې دهمدې غفلت نه ګټه پورته کړه او په هغوې يو توپانې ملاماتونکې مرګونې حمله وکړه.

د شپې په تيارو کې د دهنابهايي په ويدو ځواکونو د خواص خان دا وينه تويونکې حمله ډيره بريالۍ وه . دهنابهايي دخواص خان له لاسه ډيره بده ماتې وخوړه اود خپل پاته تښتيدلې لښکر سره يو دپلودې دښار په لورې وتښتيد. خو خواص خان دهغه د تيښتې لاره و تړله او دښار په لور په تللې لاره يې خپل عسکر ځاې په ځاې کړل په دې اساس دهنا بهايي مجبور شو چې د پوکهرن په لور منډه کړي تر څو دخپلو پاتو پنځه کسو نورو جنرالانو ملګرو سره يو ځاې شي.

خو داسې څرګنده شوه چې په دې اړه هم دهنا بهايي ته تقدير برې نه و ليکلې . ځکه خواص خان او لښکرو يې هغه تعقيب کړ ، دهغه لښکر يې په ځاې ځاې کې له منځه يوړ او پخپله دهنابهايي يې هم له منځه يوړ. په دې توګه خواص خان په پهلووي ښار باندې پرته له دې چې څوک پرې خبر شي د شپې شپې ولکه وکړه .

د دهنابهايي د وژلو او د پهلووي ښار د ولکې کولو وروسته خواص خان دخپل نايب جلال خان جالو سره يو ځاې دپوکهرن په لور وخوزيد. دپوکهرن به بيرون د مالديو پنځه واړه جنرالان هغه ته په سنګر کې منتظر ناست وو . هغوې تمه دلوده چې هغوې به خواص خان د پوکهرن او پهلووي تر منځه په لاره کې له منځه يوسي ، خو هغوې په دې نه پوهيدل چې خواص خان به ناڅآپي لاره بدلوي او دهنابهايي به دخپل ټول لښکر سره يو ځاې له منځه وړي.

پوکهرن ته په رسيدو سره هم خواص خان د دښمن په لښکرو باندې شبخون وکړ . اوبيا د پوکهرن به بيرون دشپې په تيارو کې سخت جنګ ونښت. په دې جنګ کې هم د مالديو پنځه واړه جنرالان د خواص خان او جلال خان جالو په لاسو د مرګ سره مخ شول او دهغوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه واړو سالارانو لښکرې هم دتیغه تیرې کړل شوې. اوس نو خواص خان او جلال خان دواړه د سیوان په لور په ګړندی توګه ور روان وو.

کله چې راجه مالدیو ته خبر ورسید چې خواص خان دخپلو شبخون حملو په واسطه دهغه ټول جنرالان ، سالاران او لښکرې له منځه وړی دي نو هغه ډیر وارخطا شو ، په هغه باندې دومره ویره راغله چې دخواص خان د مقابلې له پاره د سیوان څخه د راوتلو په ځای یی د تیښتې لاره ونیوله. دهغه د تښتیدو وروسته خواص خان د سیوان کلا دکوم مزاحمت نړ پرته تر لاسه کړه.

دبله اړخه شیرشاه سوري دخپل لښکر سره یو ځای د سامیل څخه د اجمیر په لور روان شوې و . په لاره کې یی د سوجت او پالي ښار ګوتې دکوم مقاومت پرته تر لاسه کړل او په دې توګه اجمیر ته ورسید.

د اجمیر کلا هم ډیره پښه او مستحکمه وه. ددې کلا د خوندي ساتلو په خاطر هلته زیات شمیر عسکر او خوراکې توکې موجود وو. دکلا قومندان شنکر بهایی نومیده چې یو راجپوت وو ، او په راجپوتانو کې د خپلې میړانې په خاطر ډیر مشهور شوې هم و. شیرشاه سوری ته د خواص خان د فتوحاتو په اړه اودا چې هغه په سیوان باندې ولکه کړې ده او راجه مالدیو یی دهغه ځآیه تیښتې ته اړ کړې دې. دبله اړخه مالدیو ته هم د سیوان څخه د تیښتې په وخت کې دا خبر ورغلې و چې شیرشاه سوري د اجمیر دنیولو له پاره هغه لورې ته ورخوزیدلې دې نوپریکړه یی وکړه چې دشپې له اړخه به په شیرشاه سوری باندې شبخون کوي.تر څو د اجمیر دښار څخه د هغه کلابندې پای ته ورسوي او په خپله د اجمیر ښار ته ور ننوځي او همهلته په کلا کې ځان کلابند کړي او د شیرشاه مقابله وکړي.

دشیرشاه سوری مخبرانو هم شیرشاه د راجه مالدیو ددې ارادو څخه خبر کړې و ، په دې خاطر شیرشاه سوری خپل موجود لښکر هم په دوو برخو باندې وویشه ، دهغې یوه برخه یی خپل زوې عادل خان ته ورکړه او هغه ته یی د اجمیر دښار کلابندۍ ته ددوام ورکولو په اړه حکم وکړ. خو دلښکر بله برخه یی د راجه مالدیو د ځپلو له پاره هغه لورې ته واستوله. دا د راجه مالدیو خوش قمستي وه چې هغه وچې شیرشاه سوری دهغه په لور دخپلو لښکرو سره وخوزید نو د مالدیو ماما دیوارچوهان هم دخپل ستر لښکر سره یوځا ې د مالدیو د ملاتړ له پاره هغه لورې ته ورسید. دواړه ماما او خورین په خپلو منځو کې سلا وکړه ،اوبیا دهغه لارې څخه چې شیرشاه سوری پرې را روان وڅلور څلور میله لرې شاته ولاړشي، او کله چې شیرشاه سوری دهغې لارې څخه تیریږي نو مالدیو او ماما یی ددواړو خوا و څخه پرې ډیره ځواکمه حمله وکړي. د بله اړخه راجه مالدیو به هڅه وکړي ترڅو شیرشاه سوری و نیسي او ژوندې ترې ولاړ نه شي.

خو شیرشاه سوری هم ډیر پوه او محتاطه حکمران و. دهغه جاسوسانو هرې لورې ته خپاره شوي و ، دهغه جاسوسانو هغه ته خبر ورکړې و چې دکومې لارې څخه چې هغه تیریږي دهغې څخه څو میله واټن کې راجه مالدیو او ماما یی دیوار چوهان په سنګرونو کې ناست دي ، شیرشاه سوری د خپل احتیاط سره خپل سفر داسې برابر کړ چې هغه دشپې له اړخه هغه ځآې ته راورسید چې ماما اوخورین دواړه په کې پټ شوي وو ،بیا دشپې په همدې تیارو کې شیرشاه سوری د خپل لښکر یوه برخه همهلته په سنګر کې کینوله او په خپل د بلې برخې لښکر سره یوځاې یی د راجه مالدیو د ماما په لښکر باندې حمله راوړه. چوهان هم په خپل وار د شیرشاه سوری په لښکر باندې د غضب نه ډکه حمله وکړه خو دشیرشاه سوری سره مقابله څه اسانه کار نه و . په دې خاطر د لږ څه جنګ وروسته د دیوار چوهان لښکرې بد حاله شوی او په لیکو کې یی زړه بداوې خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترځنګ يې راجه مالديو هم خبر شوې و چې شيرشاه سوری يې په ماما ديوار چوهان باندې يرغل کړې دې ، نو هوډ يې وکړ چې دشاله مخه په شيرشاه سوری باندې حمله وکړي ،خو کله چې هغه شاهراه ته راورسيد نو هغه کوچنۍ ډله چې شيرشاه سوری دلته په سنګر کې کينولې وه هغوې په توپانې توګه د مالديو په فوځونو باندې شبخون راوست.

څرنګه چې د شيرشاه سوری دالښکر د شميرې له اړخه ډير کم و په دې اساس هغوې د راجه مالديو سره د مخ په مخ د مقابلې څخه ځان ساته ،بلکه د هغه او دغې لورې يې پرې حملې کولې اوپه دې توګه يې د مالديو دلښکرو مخه ونيوله او هغه يې په يوه ډول په جنګ کې مصروف و ساته . دهغوې مقصد هم همدا و ځکه هغوې غوښتل چې راجه مالديو و نه توانيږې دخپل ماما کومک ته ور ورسيږي اودشيرشاه سوري په لښکرو باندې شا له اړخه حمله وکړي.

تر دې وخته پورې شيرشاه سوري د راجه مالديو د ماما لښکر په پوره توګه ځپلې و. خو کله چې سهار شو د شيرشاه سوری لکه دمار خوړلې په توګه د مالديو په لښکر هغه وخت د شا له اړخه حمله وکړه کوم وخت چې راجه مالديو دشيرشاه سوري دهغه کوچنۍ ډلې لښکرو ترشا روان و.

کله چې د شيرشاه سوری دغه کوچنې لښکر د مالديو تر مخه په منډو و ، په دې خبر شول چې شيرشاه سوری په مالديو باندې دشا له اړخه يرغل راوړې دې او ترځنګ يې هغه د مالديو د ماما ديوار چوهان لښکر ټول له منځه وړې دې نوبيا دهغوې زړونه هم ډير ستر شول ، بيرته راستانه شول او دمالديو په لښکرو يې دمخې له اړخه حمله وکړه . راجه مالديو تر ډيره پورې دغه دوه اړخيزه حمله ونه شوه زغملاې ، نوپه دې خاطر دميدانه وتښتيد او د ابوګې په غرونو کې يې پناه واخسته.

شيرشاه سوری د مالديو دماما چوهان په پړاو ولکه وکړه او دهغې وروسته يې د ابوګې دغرونو په لور مخته ولاړ. خو دلته هم راجه مالديو پرې ډيرې خطرناکه حملې پيل کړې. خوشيرشاه سورې دهغه حملې دفعه کړې او مخته ولاړ. کله چې مالديو ته ډاګيزه شوه چې په دې غرونو کې هم دشيرشاه سوری حملې دهغه له خطرناکې ثابتيږي نو دخپل دغه سنګر څخه هم و تښتيد او د سانچور په لور ولاړ. د سانچور کلا د جودپور به جنوب غرب کې يو سل اوشل ميله واټن کې پرته ده ، دا کلا د ايوان څخه اويا ميله واټن لري. د ابو دغرونو څخه د وتلو وروسته د سانچور په لور د تللو په ځاې شيرشاه سوري د مالديو ښار جالورته ولاړ ، دا ښار د جودپور څخه پنځه اويا ميله جنوب لورې ته پروت دې ، تر ځنګ يې خواص خان ته هم خپل قاصد وليږه او ورته يې حکم وکړ چې دخپل لښکر سره يو ځاې دې سيوان څخه را ووزي او د مالديو پر خلاف دې د سانچور په لور ولاړ شي . دشيرشاه سوری دپيغام د وررسيدو سره سم خواص خان د سيوان څخه راووت او د مالديو د ځپلو له پاره د سانچور په لور رهي شو.

دشيرشاه سوری په غير حاضرۍ کې هم دهغه زوې عادل خان د اجمير دښار کلابندي جاري ساتلې وه . هغه وخت چې شيرشاه سوری د راجه مالديو اودهغه دماما ديوار چوهان دځپلو له پاره د اجمير څخه را ووت ،نو هلته د راجه مالديو بهترين سالار شنګربهايي په عادل خان باندې حمله راوسته.

شنګربهايي دا فکر کاوه چې دشيرشاه سوری زوې عادل خان دجنګ پوره تجربه نه لری نو دشيرشاه سوری په غياب کې به په اسانۍ سره هغه ته ماتې ورکړي او په دې توګه به د مالديو هغه ماتې خوړلې لښکرې چې د ې لورې ته راتښتې حوصلې لوړې شي اوپه يوه ځاې کې به راټول او د شيرشاه سوری مقابلې ته به چمتو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په همدې آند سره په عادل خان باندې حمله وکړه. عادل خان هم يو زړه ور او باتوره قومندان و ،هغه هم هره لمحه د شنګربهايي د حملې انتظار درلوده. په دې اساس هغه د شنګربهايي دغه ناڅاپي يرغل هملته تم کړ او بيا يې پرې ځوابې حمله وکړه.

تر لږه وخته پورې د اجمير دښاره بيرون دد دې جنګ لمبې بلې وې. د جنګ زور و شور په عامو خلکو کې هم احساسيده ، ان تر دې چې عادل خان شنګربهايي ته ډيره بده ماتې ورکړه. دې ماتې خوړلو وروسته شنګربهايي غوښتل بيرته و تښتي او د اجمير په کلا کې يو ځل بيا ځان کلابند کړي خو عادل خان پرې نه ښود هغه يې پسې واخست ، ان تر دې چې هغه يې له تيغه تير کړ او د هغه لښکر يې هم يو په بل پسې له منځه يوړ. او د شيرشاه سوري په غياب کې يې د اجمير کلا د خپلې ولکې لاندې راوړه.

پخپله شيرشاه سوري د مالديو د ځپلو له پاره خواص خان ته دحکم کولو اود سانچور په لور دهغه د وراستولو وروسته د جالور په لور رولاړ. په جالور کې راجه مالديو ښايسته ستر فوځ درلود. کله چې هغوې ته خبر ورسيد چې شيرشاه سوري پرې حمله کوي نو هغوې د خپله اړخه د ډيرې بهادرۍ څرګندونه وکړه او د جالور دښاره بيرون راووتل اود شيرشاه سوري مقابله يې وکړه. خو په هغوې کې دشيرشاه سوري او دهغه دلښکر په څير ميړانه نه تر ستر ګو کيده. دجالور دښاره بيرون شيرشاه سوري پر هغوې يوه سخته حمله وکړه ،او د لږې شيبې جنګ وروسته يې هغوې دنشت سره مخ کړل او پخپله يې د جالور په ښار باندې ولکه وکړه. تر دې وخته پورې خواص خان هم دخپلو لښکرو سره يوځاې سانچوته رسيدلې و. راجه مالديو هم دخپل مرکزي لښکر سره همدلته قيام کړې و . کله چې راجه مالديو ته خبر ورکړل شو چې خواص خان دهغه د تعقيب پسې دلته سانچور ته را روان دي نو هغه د سانچور څخه هم دتيښتې اراده وکړه او په بل کوم ځاې کې يې دپنا اخستو لټون پيل کړ. خو د سانچور مشرانو او پخپله دهغه د فوځ سالارانو هغه ته مشوره ورکړه چې تر څو به هغه دخواص خان اوشيرشاه سوري تر مخه ځغلي ،هغه ته خپلو سالارانو دامشوره هم ورکړه چې هغه دې يو ځل په ډاګه د شيرشاه دسالار خواص خان په مقابله کې و جنګيږي ،نو که چيرې په دې جنګ کې مالديو دماتې سره مخ شي نو دمالديو د لاسه هيڅ هم نه ځي ځکه چې پخوا هم هغې ځلې ماتې خوړلې ده. خو که چيرې په دې جنګ کې خواص خان ماتې وخوري نو دهغې ګټې به ډيرې زياتې وي.

په دې توګه به دخلکو په فکرونو کې دا خبره له منځه ولاړه شي چې دشيرشاه سوري سالار خواص خان ماتې خوړونکې نه دې. اودې فتحې بله ګټه به داوې چې دپرلپسې ماتې خوړلو په اساس چې دمالديو د فوځونو حوصلې څومره خرابې شوي دي هغه به بيرته ځواکمنې شي. راجه مالديو د خپلو سالارانو دغه وړانديزو مانه اود سانچور دښاره بيرون يې د خواص خان د مقابلې له پاره هوډ وکړ.

کله چې مالديو خبر شو چې خواص خان د سانچور ښار ته را نژدې شوې دې نو بيا هغه د سانچور دکلا څخه بيرون راووت اودخواص خان دلښکرو په مخه کې و دريد. خواص خان په خپل ژوند کې دداسې پيښو سره ډير ډير مخ شوې و ، په دې خاطر کله چې مالديو دښاره راووت اودهغه لاره يې و نيوله نو هغه ته په دې اړه کومه حيرانتيا پيدا نه شوه ، مالديو دخواص عسکرو ته د دمې اوارام کولو مهلت هم ورنه کړ اوپه ډير ځواک سره يې دخواص خان په عسکرو باندې حمله وکړه. مالديو فکر کاوه چې څرنګه چې دخواص خان عسکرو په پرلپسې توګه مزل کړې دې او لرې لرې واټونه يې وهلي دي نو د هغوې د ستومانتيا په اساس به هغوې دد دې مقابلې توان و نه لري او ان په همغه لمړۍ حمله کې به له منځه ولاړ شي. خو دخواص خان په جنرالانو کې دا نه وه چې ددښمن په مقابل کې دې غاړه ښکته کړي. دمالديو دحملې په مقابل کې د خواص خان عسکرو هم بلمقابل يرغل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخواص خان دا حمله هم ډېره عجیبه وه . هغه د تکبیر او ازونه کول او لښکریې هم ورسره دا غږ را غبرګاوه . د لږې شیبې وروسته د ګړندي جنګ وروسته دمالدیو لښکر د خواص خان په لاسو مات شوې و او زیات شمیر یې له منځه تللي وو . پخپله مالدیو د راجپوتانه په بې نومه سیمو کې پناه واخسته ،اوس نو هغه دشیرشاه سوری له پاره یو ډول بې ضرره ګرزیدلې و ، په دې توګه خواص خان د سانچور په کلا باندې ولکه وکړه.

شیرشاه سوری هم د جالور ښار په خپلې ولکې کې واخست اودهغې د ولکې وروسته یې د سانبهر او کچاون شارونو ته مخه کړه . دا دواړه ریاستونه دجودپور د کوچنیو ښارګوټو څخه ګڼل کیږي ، کچاون د جودپور په شمال شرق کې په ۱۲۸ میله واټن کې پروت دې او د اجمیر د ښار څخه میله شرق کې واقع دي . او سانبهر هغه ته ورنژدې دې

دا دواړه ښارونه د عسکري اړخه ډېره مهم او ستراتیژیک اهمیت لري ځکه چې دا د اجمیر ، امبر او شیخاواپي د ماروړان سره یو ځای کوي. اوس نو شیرشاه سوري د مالدیو د سلطنت په ډېرو برخو باندې ولکه کړې وه ، د کچاون او سانبهر په لور د تللو په وخت کې دد ې ځآیو خلکود شیرشاه سوري دلښکرو تر مخه لږ څه مقاومت وکړ خو شیرشاه سوری هغه مقاومت له منځه یوړ او په د ې دواړو ښارونو یې هم ولکه وکړه .

ددې دواړو ښارونو دولکې نه وروسته شیرشاه سوری دخواص خان سره بیرته یو ځای شو ، اوس نو دهغوې تر مخه دري ښارونه هر یو چتوړ ، کالنجر او بهانه پراته وو . شیرشاه سوري د ټولو تر مخه د مشهور ښار د چتوړ د کلا د نیولو په لور مخه کړه .

په هغووختوکې د چتوړ راجه اودهي سین و ،کله چې هغه ته خبر ورسید چې شیرشاه سوري دخپل متحده لښکرسره یو ځای د چتوړ دنیولو په لور په ډېره ګړندۍ توګه را روان دي ، نو هغه ډېر اندیښمن شو ، دخپلو سالارانو غونډه یې راوبلله. ټوله سلا وکړه چې د شیرشاه سوری سره جنګ کول خپل مرګ ته بلنه ورکول دي نوپه دې اساس هغوې باید دشیرشاه سوری اطاعت او فرمانبرداری ته غاړه کیږدي.

راجه اودهي سینګهـ دا وړاندیز و مانه ، په دې اساس کله چې شیرشاه سوری دچتوړ ته دولس میله واټن پورې ورنژدې شو نو اودهي سینګهـ دهغه په خدمت کې را حاضر شو او دښار کونجي یې دشیرشاه سوری تر مخه ډالۍ کړه . په دې توګه چتوړ د جنګ پرته دشیرشاه سوری په ولکه کې پریوت.

۸۰

د راجپوتانه دنیولو له پاره د شیرشاه سوري تر مخه اوس یوازې دبندیل کهنډ سیمه پرته وه. په بندیل کهنډ کې دوه ستر ښارونه پراته وو چې یو یې کالنجر نومیده او بل یې بهانه ،اوس نو شیرشاه سوری ددې دواړو ښارونو د سوبه کولو هوډ کړې و.

دبندیل کهنډ دنیولو له پاره لمړۍ شیرشاه سوري دخپل متحده لښکر سره یو ځای د سانچور نه مخته کچوراهه ته راغې او هملته یې قیام وکړ . او کچوراهه یې د خپل فوځ مرکز و ګرځاوه . همدلته یې دخوراک ذخایر را ټول کړل تر څو په کالنجر باندې دحملې په وخت کې یې لښکر ته دهمدې ځایه خوراک او نور د اړتیاوړ شیان برابر کړي. ددې وروسته بیا شیرشاه سوری د کالنجر په ښارونو باندې د حملې له پاره ورمخته کیدل پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندیل کهنډ داسې سیمه ده چې اورښت په کې کم کېږي ، حاصلات یې هم ډېر کم دي ، زراعتي سیستم یې هم خراب و ، دهقانانو ته په اسانۍ سره روزي نه رسیدله . او نه یې خپل فصلونه په ارامۍ او ډاډ سره تر لاسه کولاې شول. په دې سیمه کې به چې د چاسره د غلو اوداړه مارانو مرسته نه وه هغه په کې ژوند نه شو کولاې. ستر ستر غرونه او د نه تیریدو وړ ځنګلونه یې درلودل ،دغه ټول ماحول پخپله یو ایمانداره وګړې هم غلا او ډاکې ته اړکاوه.

هماغه و چې شیرشاه سوری تر ټولو دمخه دخپل لښکر سره یو ځاې د کالنجر په لور مخه کړه ، دکالنجر یوه کلا دغره په څوکه پرته ده او د سمندر څخه یې ۱۲۰۳ فټه هسکوالې درلود. محیط یې په څلورو یا پنځه میلو شاوخوا کې و . شاوخوا ته یې هم ټول غرونه پراته وو ، ددې غرونو تر منځه ۱۲۰۰ ګزه ستر خندق کینل شوې و چې دتیریدو وړ نه ګڼل کیده . ترڅنګ یې ددې کلا دیوالونه هم ډېره ستر او عمودې شکله و چې پورته والې یې ۱۵۰ فټو څخه تر ۱۸۰ فټو پورې رسیده. دکلا څلورو خوا و ته دیوالونه و.

دکالنجر داکلا د اله اباد څخه شمال غرب ته دکچور راهه څخه سل میله او شمال شرق لورې ته ۳۸ میله د پنې څخه شمال شرق او ۲۵ میله د ریوړا دښار په لور پرته ده.

شیرشاه سورې دې کلا ته د رارسیدو سره سم په یو لوړ ځاې کې دخپل لښکر سره یو ځاې پړاو وکړ او بیا یې دکالنجر دکلا په کتلو پیل وکړ. هغه د کالنجر د کلا دنیولو له پاره دهمغه پلان څخه کار واخست چې د راې سین او چندریرې دکلاګانو د نیولو له پاره یې عملې کړې و .

شیرشاه سوری دخواص خان سره یو ځاې د کالنجر کلا کلابنده کړه خو خپل ځوې جلال خان یې د بهانه د نیولو په لور ولیږه. هغه ته یې حکم وکړ چې بهانه کلابنده کړی او د ولکه کولو هڅه یې وکړي. تر څو د بهانه څخه دلته د کالنجر کلا ته دراجپوتانو بسپنه را ونه رسیږي. په دې توګه به دهغوې هیلې له منځه ولاړې شي او کالنجر به په اسانۍ سره سوبه کړل شي.جلال خان هم هلته د ورتلو سره بهانه کلابند کړه او د څو ورځو کلابندۍ نه وروسته یې هغه په مکمله توګه په خپله ولکه کې واخستله.

د کالنجر دکلابندۍ نه سمدستي وروسته شیرشاه سورې ته دا ډاګیزه شوه چې دکالنجر ددیوالونو جوړښت داسې دې چې دتوپ ګولۍ پرې اغیز نه شی شیندلې ،په دې خاطر هغه د کالنجر د ولکه کولو له پاره بله لاره خپله کړه.

شیرشاه سوری د پښو ختو لوښې جوړ کړل ، هغه یې دبارودو نه ډک کړل او په هغې کی یې پټاکۍ کیښودې بیا یې خپلو عسکرو ته حکم وکړ چې دې لوښو کې اینښوول شوو پټاکیو ته اور ورته کړي او د کلا دننه یې ور ګذار کړي،څه وخت چې دکلا په اوسیدونکو باندې د بارودو نه ډک دغه لوښې د اور دسکروټو په څیر ور پریوځي نو په ښار کې به اور ولګیږي ،په دې توګه به دښار خلک خپله وسله په زمکه کیږدي او تسلیم به شي.

د شیرشاه د حکم سره سم دهغه لښکر دبارودو دغه ډک لوښې د اور دبڅرکو په څیر کلا ته ور غورځول چې په پایلو کې یې د کلا په ډېره برخه کې اور ولګید ، دبدقسمتۍ څخه ، دباروتو یو ډک لوښې هغه وخت بیرته په باروتو کې را پریوت چې ددیوال سره ولګید او د دیوال څخه د تیرید و په ځاې بیرته راستون شو. دهغې په واسطه د باروتو په امبار کې اور ولګید اوشیرشاه سوری چې په خپله هملته ولاړ و هم د باروتو په دې اور کې وسځید. هغه سپاهیان چې دا کار یې تر سره کاوه هغوې هم ټول په دې اور کې لو لو په شول، دشیرشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوری نیمایی وجود بلکل سوزیدلې و ، هغه یې په همدې حال کې خپلې خیمې ته راوست خو دهغه حالت هره لمحه دخرابیدو په لور روان وو.

شیرشاه سوري ته دخپلې مړینې په اړه یقین پیدا شو نو سمدستي یې خواص خان راوباله ، خواص خان په منډه منډه دشیرشاه سوری خیمې ته راغې ،شیرشاه سوری ورته په ډیر شفقت سره وویل چې:

خواص خانه زویه !تا زما له پاره هغه څه وکړل چې له تا څخه یې د کولو هیله کیده . دا سې وګڼه چې تا زما د هیلو او امیدونو نه پورته زما سره په ټولو فتوحاتو کې برخه واخسته. خو اوس چې دکومې پیښې زه ښکار شوې یم داسې بریښې چې دا به زما په مړینه باندې منتج شي. دا هم شوني ده چې زه به د څو لمحو میلمه و اوسم. ځکه چې مرګ همدا اوس زما سره پټوني کوي. خو ګوره زویه !ددې نړۍ څخه دکوچ کولو دمخه زما اخري هیله داده چې زه غواړم چې د کالنجر د سوبې خبر د خپلې مړینې څخه مخته واورم. او له تا څخه غواړم چې دخپلې میړانې اوبهادرۍ له مخې دا کار سمدستي تر سره کړې او دا خبر ماته راکړې

دشیرشاه سوری دې خبرو خواص خان د اور په سکروټو کینوه. څرنګه چې د باروتو په واسطه دښار په یوې برخې کې اور لګیدلې و او دښار ساتونکې د اور په مړه کولو مصروف و . خواص خان دهمدې موقع نه په ګټې اخستلو سره د کلا په دیوالونو باندې د رسیو پاتخې جوړې کړې او د په دیوالو د ورختولو کار یې په ډیره بیړه باندې تر سره کړ. په دیوالو دخواص خان د ورختلو سره سم هلته په ښار کې یو قیامت راغې ، هغه ټول هغه ساتونکې چې ددېوالو سره تر څنګ یې دنده تر سره کوله له منځه یوړل. اود کالنجر په دیوالو یې ولکه وکړه.

دکالنجر په دیوالونو باندې د ولکې کولو سمدستې وروسته خواص خان لاندې ښکته شو او د شهرپناه دروازه یې پرانسته خپل لښکریې ښار ته را ننویست. د لږ څه مزاحمت اومقاومت وروسته یې په ټوله کلا باندې ولکه وکړه ، هغه وخت چې د کالنجر د کلا د سوبې خبر شیرشاه سوری ته راورسیدو نو هغه د ځنکندن په اخري پړاو کې و او کلیمه طیبه یې لوستله. هغه په سجده پریوت اودخپل خداې شکر یې ادا کړ اوپه همدې وخت کې یې روح د جسم څخه پرواز وکړ. ( انا لله وانا الیه راجعون )

۸۱

کملاوتي او مهاکوي دواړه د فدایي خان د قبیلې په یوې خیمې کې ناست وو. هغوې بې په زنځیرونو کې داسې را نغاړلي وو چې د تیښتې لارې پیدا نه کړي . دواړو په خپلو منځو کې خبرې اترې کولې . په همدې وخت کې خیمې ته خواص خان ، ګنګا ، نیرمل ، اوفدایي خان یوځاې ور ننوتل.دهغوې څلورو واړو په یو ځاې کتلو سره کملاوتي ډیره خفه اوحیرانه شوه . هغې وکتل چې ګنګا دخپل ښکلې زوې سره ولاړه ده . دګنګا او نیرمل په کتلو سره د کملاوتي دخولې څخه په ناڅاپې توګه را ووتل چې ایا تاسو دواړه ژوندي یاست ؟ په ځواب کې ورته ګنګا تر یوه وخته پورې په ډیره عجیبه توګه کتل . په دې وخت کې د کملاوتي حالات ډیره خراب شوي و. ګنګا ورته د لږ څه په غور سره دکتلو نه وروسته وویل:

ګوره کملاوتي !ددنیا په دې ژوند کې نرمي هم شته او سختي هم. نیکي هم شته او بدي هم. خوشحالي هم شته او خفګان هم. محبت هم شته او نفرت هم. خو تا دا ټول جذبات له منځه وړي دي او له ځانه دې یو شیطاني قوت جوړ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې کله د لمړي ځل له پاره دلته راغلې او تیرمل ته دې دا ټول حقیقت وو ایه او هغه دې د خپل ځان سره د ملګرې کولو هڅه وکړه نو دا فکر کاوه چې د نیرمل د باوری کیدو وروسته به ته زما خاوند خواص خان ووژنی. خو په هماغه ورځ چې تا د نیرمل سره خبرې وکړې نو نیرمل زه او زما خاوند خواص خان دواړو ته دا ټوله پیښه وویله. او د همغې ورځې وروسته زه اوزما میړه به دورځې له اړخه ویده کیدو او د شپې له اړخه به موپهره کوله. ما خوته خپل میړه ته راواده کړې او دهغې ښځه مې کړې او په دې توګه مې غوښتل پر تا احسان وکړم او ستا په زړه کې راپاریدونکې دغه توپان په یوه ډول په مینه بدل کړم ، زما آند داو چې ته به زما دمیړه دښځې کیدو وروسته دهغه د وژلو د پلان څخه لاس واخلې او دهغې دښځې په څیر دهغه خدمت وکړې. او په دې توګه به ستا انتقام په محبت او مینه باندې بدل شي،

خو تا تل زما او زما د میړه دمړینې پروګرام تر لاس لاندې نیولی و. زما د میړه پر خلاف دې د بدلې داخستلو پلان جوړ کړ. کملاوتي واوره !تا زما په سر کې د کونډتون ایرې ، او زما په غوږونو کې د ګولونو په ځای د خاورو د اچولو هڅې وکړې. تا زه د کونډتوب ښه ګرځولم.

ګنګا ورته بیا وویل:

ګوره کملاوتي ! ته به خامخا غمژنه شوې یې. چې ستا دواړو ملګرو زه او نیرمل دواړه وژلې یو اودهغې قتل په اړه یې تاته خبر هم درکړې و. خو ستا د معلوماتو په خاطر باید ووایم چې زما او دخواص خان نه علاوه چې دنیرمل د وژلو له پاره کوم دوه کسه قاتلان دمهاکویي له اړخه را استول شوي و هغه زمونږ د ساتونکو له اړخه ووژل شول او دهغې پر ځای مو نږ خپل ساتونکي در ولیږل تر څو ستا ټول پلانونه کشف او تا د څارنې لاندې ونیسي. هغوې دواړه زمونږ خلک و او هغوې تاته په رواغو وویل چې ګنګا و نیرمل دواړه یې وژلی دي.

ګوره کملاوتي مونږ اوس د کالنجر ښار هم فتحه کړ، اوس به لښکر بیرته د سهسرام په لور کوچ کوی. ځکه په دې جنګ کې شیرشاه سوری شهید شوې دې اومونږ دهغه لاش سهسرام ته منتقلوو. ته او مهاکویي دواړه به خپل پاته ژوند په همدې زنځیرونو کې تیروئ ، اوپه همدې قبیلې کی به یې تیروئ.

ددې خبرو وروسته ګنګا خپل نازکه لاسونه د خواص خان د ملا څخه را چاپیره کړل اوپه ډیره مینه یې ورته وویل چې: راځه چې نور ددې ځایه ځو. په دې وخت کې کملاوتي چغې کړې او ګنګا ته یې وویل چې:

ګنګا خورې لږه شیبه صبر وکړئ ، زه تاسو ته څه ویل غواړم. دهغې وروسته چې تاسو کومه سزا ماته راکوئ زه به یې و منم

خواص خان اوګنګا د کملاوتي په لور وکتل او رته یې وویل چې:څه ویل غواړې همدا اوس یې ووایه.

ګوره ګنګا ! ته یوه ډیره ستره ښځه یې. زه ستا په پرتله هیڅ هم نه یم. بیا هم چې کومه ګناه له ما څخه شوې ده زه دهغې په اړه ستاسو دواړو څخه ښښنه غواړم. او ژمنه کوم چې په راتلونکې کې به د یوه مخلصه ښځې په څیر دنده تر سره کوم.اودخواص خان په خدمت کې به یم. په دې اساس ماته ښښنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنګا ورته په ډېر غضب سره وويل چې: تاته په هيڅ صورت ښښنه نه شي کيدې . دښښنې مطلب به داوي چې ته هر وخت چې وغواړې ومومې په ما او زما په مېړه به حمله کوې.

کملاوتي ورته يو ځل بيا وويل چې: ګوره ګنګا خورې ! زه تاته دا ډاډګيزه کوم چې زه دخواص خان د زوې مور کيږم. په دې خاطر له ماسره ظلم اوتيرې مه کوئ. ګنګا ورته يوځل بيا په ډېره قهر سره وويل چې : کملا ! د ماربچې چې لوې شي نو دهغه څخه زهری چېچونکې مار جوړيږي . خو زه تاته دا هم ډاډګيزه کول غواړم چې خواص خان تاته طلاق درکړې دې ، اوس ته په خوشحالۍ سره دمهاکوي سره واده وکړه او د محترم فدايي خان په دې خيمه کې په زنځيرونو کې تړلې دخپل واده مراسم په ځاې کړه ، اوس نو ستا زما د مېړه خواص خان سره هيڅ ډول اړيکې نه شته. ته ازاده يې ، هرڅنګه چې غواړې همغسې ژوند کوه.

د ګنګا په دې خبرو باندې کملاوتي خپل سر ټيټ کړ او په زوره زوره يې په ژړا پيل وکړ ، خواص خان ،ګنګا او نيرمل ټول دهغې دخيمې څخه ووتل ، د لږ ځنډ وروسته فدايي خان د خپلې قبيلې سره يو ځاې د بنګال په لور کوچ و کړ، په داسې حال کې چې خواص خان دخپل لښکر سره يوځاې د سهسرام په لور دشيرشاه سوری مړي په ډېره درښښت سره روان کړ.

( دشيرشاه سوری وروسته دهغه زوې جلال خان ، خواص خان د خپل ځان له پاره خطر وګاڼه او په چل ول سره يې په داسې حال کې شهيد کړچې د قران کريم تلاوت يې کاوه . د وژلو وروسته يې هغه د دهلي دلال دروازې تر څنګ خاورو ته وسپاره. خو په دې وخت کې داسې توره سيلۍ راغله چې ورځ په شپه بدله کړه ،ددې سيلۍ سره سم سخته زلزله هم راغله او ددهلی زيات شمير کورونه يې له منځه يوړل. دخواص خان د تقوې ، اخلاص او نيکو اخلاقو په اساس خلکو هغه د « خان ولي» په نامه ياد کړ. (انا لله و انا اليه راجعون )

پاې.

نېټه:۴ /۱۱/ ۱۳۸۹ | 24-01-2011

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د استاد قریب الرحمن سعید نورې پښتو ژباړې :

1. اسلامي سیاست.(مولانا گوهر الرحمن«رح» )(چاپ شوی)
2. اسلامي ریاست.( مولانا ابوالاعلی مودودي «رح» )(د چاپ لاندې)
3. خلافت او ملوکیت..( مولانا ابوالاعلی مودودي «رح» )(چاپ شوی)
4. پرده ..( مولانا ابوالاعلی مودودي «رح» )(چاپ شوی)
5. د حدیثو د انکار نه د قران تر انکاره پورې. (مولانا عبدالسلام رستمي «رح» )(چاپ شوی)
6. د نبوت پای. (مولانا عبدالسلام رستمي «رح» )(چاپ شوې دې )
7. دصلاح الدین یوبي ریښتنې پیښې (د ایمان پلورونکو داستان ) ( التمش ) (چاپ شوې دې )
8. د رسول الله(ص) د انقلاب حکمت.(سید اسعد گیلاني «رح» )(چاپ شوی)
9. یو شمیر نورې کوچنۍ رسالې (په اردو او پښتو ژبو ) چې نومونه یې زما په لیکنو کې کتلای شئ.
10. د بایزید یلدرم تاریخي په زړه پورې ناول. (چاپ شوې دې )
11. د سلطان علاو الدین خلجیي په زړه پورې ناول. (چاپ شوې دې )
12. د شیرشاه سورې مشهور ناول( همدا اوس د چاپ لاندې دې )
13. لاسوندونه او وثیقې: د رسول الله ص له وخته تر راشدینو خلفاؤ پورې(تر چاپ لاندې دې)
14. په هیواد کې د سولې د پایښت په اړه زمونږ آند (همدا اوس د کار لاندې دې )
15. مونږ او توحید د بشیر احمد لودهي لیکنه( د چاپ لاندې )
16. زیات شمیر پښتو مضامین او د انګلیسي او د اردو ژبو څخه ژباړل شوې او هم په انګلیسي ژبه سیاسي شننې ، مقالې او لیکنې چې په پښتو او نګلیسي ژبو ورځپاڼو او یو شمیر اونیزو او میاشتنیزو کې خپاره شوې دي( په خواشینۍ سره چې ریکارډ یې له ژباړن سره نشته ).

د کتاب پای

LARAWBAR

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library